# ثالث عمر

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریک او د اسلامي امارت مؤسس

عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله

مستند تاریخ

سرپرستي:

**مولوي محمد یعقوب مجاهد**

راټولونه او ترتیب: مؤظفه کمېټه

د متن لیکنه: قاري عبدالستار سعید

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَ اِذۡ یَمۡكُرُ بِكَ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا لِیُثۡبِتُوۡكَ اَوۡ یَقۡتُلُوۡكَ اَوۡ یُخۡرِجُوۡكَ ؕ وَ یَمۡكُرُوۡنَ وَ یَمۡكُرُ اللّٰهُ ؕ وَ اللّٰهُ خَیۡرُ الۡمٰكِرِیۡنَ﴾ [الانفال ۳۰]

ژباړه: او کله چې تا ته کفارو دسیسې جوړولې، چې بندي دې کړي، یا دې ووژني یا دې (له مکې) وباسي. او چلونه یې جوړول او الله تعالی هغوی ته تدبیر جوړاوه او الله تعالی تر ټولو ښه تدبیر جوړوونکی دی.

# ثالث عمر

د اسلامي امارت د مؤسس عالیقدر امیر المؤمنین

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله

مستند تاریخ

سیف الدین لودین کتابتون
د کتاب پر لوسي شمېره

لیکوال

قاري عبدالستار سعید

د کتاب مشخصات

نـــــوم: ثالث عمر

لیکـــوال: قاري عبدالستار سعید

خپرندوی : ثالث عمر بنسټ

ډیـــزایـــن: حافظ نخبت الله زاهد

د چاپ کال: ۱۴۴۳ هجري قمري/ ۱۴۰۰ هجري شمسي

د چــاپ وار: دوهم

تــبــراز : ۱۰۰۰۰



( د چاپ حقوق محفوظ دي)

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


**د دوهم چاپ سریزه** ........................................ ۱۱

**د پیل خبرې** ........................................ ۱۴

**موضوع ته ورتګ** ........................................ ۱۸

**له عمره تر عمره لنډ تاریخي سرګذشت** ........................................ ۱۸

**لومړی فصل** ........................................ ۲۷

**له زیږېدو تر ځوانۍ** ........................................ ۲۷

زیږېدنه ........................................ ۲۷

د زیږېدو سیمه ........................................ ۲۷

ټبر او کورنۍ ........................................ ۲۸

د خویندو، کشري ورور او پلار وفات ........................................ ۲۹

د تره لخوا تربیت ........................................ ۳۱

د ماشومتوب د ژوند چاپېریال ........................................ ۳۱

دیني زده کړې ........................................ ۳۳

**دوهم فصل** ........................................ ۳۶

**د کمونیزم پرخلاف جهاد** ........................................ ۳۶

افغانستان او د کمونیزم فتنه ........................................ ۳۶

له مدرسې د جهادي سنګر پر لور ........................................ ۳۸

د جهادي ژوند لومړني کلونه او ټپي کیدل ........................................ ۳۹

**کندهار ته راتګ** ........................................ ۴۲

د فیض الله آخندزاده جبهه ........................................ ۴۲

کندهار ته تګ ........................................ ۴۶

د شهید ملا نیک محمد نعم البدل ........................................ ۴۸

د سترګې شهادت ........................................ ۵۲

د شوروي یرغلګرو له تیښتې وروسته ........................................ ۵۵

د مستقلې جبهې د مشر په توګه ........................................ ۵۷

د تنظیمي هرج و مرج په دوران کې ........................................ ۵۹

یو معنی دار خوب ........................................ ۶۱

ملوک الطوائفي او هرج و مرج ........................ ۶۲
په کندهار کې څه تېرېدل؟ ........................ ۶۶
**دریم فصل** ........................ ۷۰
**د طالبانو د اسلامي تحریک بنسټ ایښودل** ........................ ۷۰
د پاڅون پیل ........................ ۷۰
شرعي فتوی ........................ ۷۲
د فساد په وړاندې د پیل شوې مبارزې شرعي حیثیت ........................ ۷۴
لومړنی عملي اقدام ........................ ۷۶
یو ځل بیا میوند ........................ ۸۰
له پاکستانیو سره د نرم او گرم چلند پیل ........................ ۸۱
کندهار او د نظام لومړی هسته ........................ ۹۰
طالبان له مدرسو د مبارزې د میدان پر لور ........................ ۹۲
د نظام پراختیا او فتوحات ........................ ۹۴
په لویدیځه حوزه کې معرکې او د هرات فتحه ........................ ۹۹
لومړني اصلاحات او اجراآت ........................ ۱۰۴
د فساد محو کول او د امنیت تأمین ........................ ۱۰۴
شرعي حدود جاري کول ........................ ۱۰۶
امر بالمعروف و نهی عن المنکر ........................ ۱۰۸
د شرعي حجاب ترویج او د اختلاط مخنیوی ........................ ۱۰۹
نور انتظامي او ودانیز اجراآت ........................ ۱۱۱
د مرکزي دارالافتاء جوړول ........................ ۱۱۲
اسلامي امارت او امیرالمؤمنین ........................ ۱۱۴
په کندهار کې د افغانستان د مذهبي علماوو تر ټولوستره غونډه ........................ ۱۱۷
د غونډې د پیل ورځې ........................ ۱۱۸
د غونډې وروستی ورځ او پریکړه لیک ........................ ۱۲۰
غونډې ته د ملا محمد عمر مجاهد تاریخي وینا: ........................ ۱۲۰
د ختیځو ولایاتو او کابل فتحه ........................ ۱۳۴
کابل څنگه ونیول شو؟ ........................ ۱۳۸
د شمالي او مرکزي ولایاتو فتحه ........................ ۱۴۴
**څلورم فصل** ........................ ۱۵۰

**د افغانستان اسلامي امارت** ........................ ۱۵۰
د اسلامي امارت جوړښت ........................ ۱۵۰
د امارت مقام او رياست الوزراء ........................ ۱۵۱
د اسلامي امارت د مقام ځيني خاص واکونه ........................ ۱۵۲
د رياسة الوزراء واکونه ........................ ۱۵۵
وزارتونه او ولايات ........................ ۱۵۶
د علماء کرامو شورى ګانې ........................ ۱۵۷
د اسلامي امارت لاسته راوړنې ........................ ۱۶۰
د شريعت نفاذ ........................ ۱۶۰
د اسلامي عدالت تطبيق ........................ ۱۶۲
اصلاحات او مصطلحات ........................ ۱۶۴
عمراني او انکشافي خدمتونه ........................ ۱۶۶
د اسلامي هيواد له ارزښتونو دفاع ........................ ۱۷۱
ځو تورونه او د هغو سپيناوى ........................ ۱۷۲
آيا اسلامي امارت د ولس ملاتړ درلود؟ ........................ ۱۷۲
آيا د طالبانو تحريک د پاکستان په کويټه کې جوړ شو؟ ........................ ۱۷۵
د نصير الله بابر کاروان ........................ ۱۷۶
آيا طالبان د مجاهدينو پر ضد راپورته شول؟ ........................ ۱۸۰
آيا اسلامي امارت يوازې د کوم خاص قوم خوځښت و؟ ........................ ۱۸۳
د سخت دريځى يا افراطيت اتهام ........................ ۱۸۶
د بتانو ماتولو موضوع ........................ ۱۸۹
**پنځم فصل** ........................ ۱۹۳
**د امارت مقام او د اميرالمؤمنين روزمره فعاليت** ........................ ۱۹۳
د اميرالمؤمنين دفتر او عامه مراجعين ........................ ۱۹۳
په اوني کې شپږ شبانه روزه مصروفيت ........................ ۱۹۷
له سهاره تر ماښامه ........................ ۱۹۸
هميشني پوځي قومندان ........................ ۱۹۹
د اميرالمؤمنين د نوي دفتر او ميشت ځاى تأسيس ........................ ۲۰۲
د کندهار ښار کې د ملا صاحب پر کور لويه چاودنه ........................ ۲۰۴
بيلابيل موضوعات او د اميرالمؤمنين مواقف ........................ ۲۰۶

د افغانستان قضیه ........................ ۲۰۶
له داخلي مخالفینو سره جوړ جاړی ........................ ۲۰۷
د شمال غمیزه او د مالک سره موافقه ........................ ۲۰۸
د مخدره موادو موضوع ........................ ۲۱۳
یو فرمان او یو بوټی ........................ ۲۱۵
د ښځو د حقوقو او تعلیم مسئله ........................ ۲۱۷
ګاونډیان او اسلامي نړۍ ........................ ۲۱۹
پاکستان ........................ ۲۲۰
ایران ........................ ۲۲۲
ترکمنستان او چین ........................ ۲۲۴
د اسلامي امت د قضایاوو په اړه دامیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد مواقف ........................ ۲۲۴
د فلسطین قضیه ........................ ۲۲۴
د چیچنیا خپلواک دولت په رسمیت پیژندل ........................ ۲۲۶
د ترکیې له اسلامپالو سره خواخوږي ........................ ۲۲۷
مهاجر مجاهدین او د شیخ اسامه موضوع ........................ ۲۲۹
د اسامه بن لادن په اړه د ملاصاحب موقف ........................ ۲۳۴
له امریکایي طاغوت سره مخامختیا ........................ ۲۳۶
**شپږم فصل** ........................ ۲۴۰
**په افغانستان د امریکا پوځي یرغل** ........................ ۲۴۰
د سپتمبر د یوولسمې حمله ........................ ۲۴۰
له پیښې وروسته ........................ ۲۴۱
د امریکا د دښمنۍ او یرغل په اړه یې ارزونه ........................ ۲۴۳
په کابل کې د علماء کرامو لویه غونډه ........................ ۲۴۶
د افغانستان په پاک حریم د تیري په اړه د جیدو علماء کرامو شرعي فتوی او پرېکړه لیک ........................ ۲۴۸
له یرغل نه وړاندې ........................ ۲۵۶
پوځي آمادګي ........................ ۲۵۹
د یرغل پیل ........................ ۲۶۱
لومړنی یرغل او بمبارونو دوام ........................ ۲۶۶
د ملا صاحب پر کور د امریکایانو چاپه ........................ ۲۶۸

ربانیه دینی لودین کتابتون
د کتابونو پر لیکو شمیره

د امریکایي یرغل ځمکني ملاتړي ........................ ۲۷۰
پنځه اونۍ سخته جګړه او سخت ترین مقاومت ........................ ۲۷٤
طالبانو ولې شاتګ وکړ؟ ........................ ۲۷۷
د کندز محاصره او د شمال دوهمه غمیزه ........................ ۲۷۹
ملا صاحب د جګړې مخامخ قومنده په غاړه واخیسته ........................ ۲۸۱
له کندهاره وتل ........................ ۲۸۵
**اووم فصل ........................ ۲۸۷**
**د صلیبي یرغل په مقابل کې د جهاد تداوم ........................ ۲۸۷**
له کندهار ښاره د سور غر تر لمنو ........................ ۲۹۰
د زابل په سیوري کې لومړنۍ مشورتي مجلس ........................ ۲۹۰
شینکۍ ته تګ ........................ ۲۹۱
سیوري ته راګرځیدل ........................ ۲۹۲
اولنی کور (میشت ځای) ........................ ۲۹۲
په خپل عقل مکلف یم ........................ ۲۹۵
په لومړني میشت ځای کې د امریکایانو تلاشۍ ........................ ۲۹۶
د مرستیالانو ټاکل او رهبري شورى تشکیل ........................ ۲۹۷
د میشت ځای بدلون ........................ ۲۹۹
دوهم میشت ځای ........................ ۳۰۲
په دوهم میشت ځای کې امنیتي خطرات ........................ ۳۰۳
د خاص استازو په واسطه د امارت اداره کول ........................ ۳۰٤
د اشغال پر وړاندې جهادي بهیر ته لنډه کتنه ........................ ۳۰۶
په نوې جهادي مرحله کې د اسلامي امارت اداري جوړښت ........................ ۳۱۱
د سیاسي چارو رهبري او د قطر دفتر ........................ ۳۱۱
د مخفي ژوند په مرحله کې د ملا صاحب ورځنۍ مصروفیت ........................ ۳۱٤
د کورنۍ سرپرستي یې ........................ ۳۱۶
ځینې عجیب خصوصیات ........................ ۳۱۷
په دې مرحله کې د ملاصاحب صحي حالت ........................ ۳۱۹
وروستی مرض او وفات ........................ ۳۱۹
د امارت مسؤلین او کورنۍ یې څنګه خبره شوه؟ ........................ ۳۲۰
**اتم فصل ........................ ۳۲۵**

**تأثرات او خاطرې**

تأثرات او خاطرې ............................................... ۳۲۵
د اسلامي امارت د يو شمير مشرانو او رهبري شورى د اعضاوو تأثرات ........ ۳۲۹
د اسلامي امارت د زعيم امير المؤمنين شيخ هبة الله اخندزاده صاحب تأثرات ........ ۳۲۹
د اسلامي امارت د رياسة الوزراء پخوانى مرستيال او د رهبري شورى غړى الحاج ملا محمدحسن آخند ........................................ ۳۳۱
د اسلامي امارت سياسي مرستيال الحاج ملا عبدالغني برادر تأثرات ........ ۳۳۶
د اسلامي امارت د مرستيال الحاج خليفه صاحب سراج الدين حقاني تأثرات ........ ۳۳۸
د ملا صاحب د ځانګړي محرر ملا عبدالسلام كاتب صاحب تأثرات ........ ۳۴۴
د اسلامي امارت قاضي القضاة شيخ الحديث مولوي نور محمد ثاقب صاحب ........ ۳۴۸
د رياسة الوزراء پخوانى مرستيال او د رهبري شورى غړى مولوي عبدالكبير صاحب ...... ۳۵۰
د رهبري شورى غړى شيخ الحديث مولوي عبدالحكيم صاحب ........ ۳۵۲
د رهبري شورى غړى شيخ الحديث مولوي محمد شريف حقاني ........ ۳۵۴
د رهبري شورى غړى او د سياسى دفتر مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي ........ ۳۵۵
د هرات پخوانى والي ملا خير الله خير خواه صاحب ........ ۳۵۶
د رهبري شورى غړى او د دعوت او ارشاد كميسيون مشر مولوي اميرخان متقي ........ ۳۵۷
د رهبري شورى غړى قاري دين محمد حنيف ........ ۳۵۹
د اسلامي امارت د واكمنۍ په مهال لوى درستيز ملا محمد فاضل مظلوم صاحب تأثرات ۳۶۴
د رهبري شورى غړى ملا عبدالقيوم ذاكر صاحب ........ ۳۶۹
په سعودي كي داسلامي امارت پخوانى سفير شيخ الحديث مولوي شهاب الدين دلاور صاحب ........................................ ۳۷۰
د رهبري شورى غړى ملا نور الله نوري صاحب ........ ۳۷۲
د اسلامي امارت د واكمنۍ په مهال د استخباراتو د عمومي رياست مرستيال ملا عبدالحق وثيق صاحب ........................................ ۳۷۴
د رهبري شورى غړى شيخ الحديث مولوي محمد قاسم صاحب ........ ۳۷۷
د رهبري شورى غړى الحاج شير محمد عباس ستانكزى ........ ۳۷۸
د رهبري شورى غړى ملا عبداللطيف منصور ........ ۳۸۰
د رهبري شورى غړى او د اقتصادي كميسيون مسؤل الحاج ملا گل اغا بدري ........ ۳۸۰
د اسلامي امارت د واكمنۍ پر مهال د پكتيا والي مولوي شمس الدين پهلوان ........ ۳۸۲
د اسلامي امارت د كابينې غړى مولوي مخدوم عبدالسلام سعادت ........ ۳۸۸
مولوى عبدالفتاح بدخشى صاحب از منسوبين عالى رتبه امارت اسلامي افغانستان ........ ۳۸۹

د بدخشان ولایت د مجاهدینو یو تن مشر مخدوم عبدالحق صاحب ..................... ۳۹۲
حاجي خلیل الرحمن حقاني ..................... ۳۹۷
د رهبري شورى غړى شيخ الحديث مولوي عبدالرشيد صاحب ..................... ۳۹۸
درهبري شورى غړى او د نظامي كميسيون د جنوب لويديځې حوزې مسؤل ملا محمد ابراهيم صدر صاحب ..................... ۳۹۸
د رهبري شورى غړى الحاج ملا امير خان حقاني صاحب ..................... ۳۹۹
د رهبري شورى غړى ملا تاجمير جواد ..................... ۴۰۰
د امارت د مقام د مخابرې مسؤل نصرت حاجي لالا ..................... ۴۰۲
د رهبري شورى غړى ملا شيرين آخند ..................... ۴۰۳
د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير مولوي وكيل احمد متوكل ..................... ۴۰۵
د اسلامي امارت د لومړنۍ واكمنۍ پر مهال په پاكستان كې سفير ملا عبدالسلام ضعيف.. ۴۰۶
**د نړۍ د جهادي شخصيتونو، علماء كرامو او قلموالو تأثرات ..................... ۴۰۸**
د قاعدة الجهاد د مشر شيخ أيمن الظواهري د پيغام يوه برخه ..................... ۴۰۸
د دارالعلوم حقانيه مهتمم شيخ الحديث مولانا انوار الحق صاحب ..................... ۴۰۹
د دارالعلوم حقانيه استاد شيخ الحديث مولانا مغفور الله صاحب ..................... ۴۱۳
د مدارسو د لوى اتحاد وفاق المدارس د مشر شيخ الحديث مولانا عبدالرزاق سكندر صاحب تأثرات ..................... ۴۲۰
د بلوچستان د ستر عالم شيخ الحديث مولانا منظور احمد مينگل تأثرات ..................... ۴۲۴
د عربي نړۍ لوى عالم شيخ ابو محمد المقدسي: ..................... ۴۲۸
د سعودي عربستان ستر محدث او فقيه علامه شيخ علوان: ..................... ۴۲۸
دكتور حاكم المطيري الكويتي: ..................... ۴۲۹
د عربي نړۍ مخكښ عالم دكتورشامل: ..................... ۴۲۹
أبو حمزة الدرعاوي: ..................... ۴۲۹
دكتور هانى السباعى ..................... ۴۳۰
تيسير علوني د الجزيرې نړيوالې شبكې خبريال ..................... ۴۳۲
مصرى ليكوال، مؤرخ او ژورناليست ابوالوليد المصري ( مصطفى حامد) ..................... ۴۳۵
ليكوال او ژورنالست أحمد موفق زيدان ..................... ۴۳۷
په شام كې اسلامي مبارز دكتور عبدالله محمد المحيسنى ..................... ۴۳۸
**د هيواد د څو ليكوالانو د ليكنو څينې برخې ..................... ۴۴۰**
استاد محمد زمان مزمل ..................... ۴۴۰

افغان لیکوال عبدالرحیم ثاقب ........................ ۴۴۰
لیکوال او مفکر استاد عبدالهادي مجاهد ........................ ۴۴۲
د حقیقت مجلې مسؤل مدیر مولوي نعیم الحق حقاني هروي: ........................ ۴۴۳
لیکوال او مبصر أحمد فارسي ........................ ۴۴۴
د ټولنیزو رسنیو فعال عبدالسلام وزیروال ........................ ۴۴۵
نویسنده و عالم دین مفتی انعام الله حبیبي سمنگانی ........................ ۴۴۶
مفتي حسن زوی د شریعت مجلې مسؤل مدیر ........................ ۴۴۷
سعید بدخشانی نویسنده افغان ........................ ۴۴۷
**ضمائم** ........................ ۴۴۹
**د امیر المؤمنین ځینې ویناوې، مرکې، لیکونه او فرمانونه** ........................ ۴۴۹
پرافغانستان دامریکا له یرغل څو ورځې وړاندې ........................ ۴۴۹
اسلامي امت او د افغانستان میړني ولس ته د عالیقدر امیر المؤمنین وینا ........................ ۴۴۹
**د امارت د مقام ځیني فرمانونه** ........................ ۴۵۶
په تحریک کې د ناوړه او غیر شرعي اعمالو د نه کولو په هکله د امارت د مقام توصیه ... ۴۵۶
امارتي منسوبینو ته د سگرټ نه څکولو په هکله د امیرالمؤمنین پیغام ........................ ۴۵۷
مخالفینو ته د ناوړه الفاظو د نه استعمال په هکله د امیرالمؤمنین توصیه ........................ ۴۵۸
د الله تعالی د حدودو او احکامو د برپایه کیدو په مقابل کې د هیچا د مراعات د نه ساتلو په هکله توصیه او پیغام ........................ ۴۶۰
د قوم پرستي د نه کولو په هکله د اسلامي امارت د مقام توصیه ........................ ۴۶۱
د مسلمانانو په کارونو او د دین په امورو کې د پوره توجه په اړه مسؤلینو ته توصیه ........ ۴۶۲
د علماء کرامو لخوا په اسلامي روحیه د خلکو د تربیې په هکله د امیرالمؤمنین پیغام ...... ۴۶۴
د رئیس الوزراء ملا محمد رباني د وفات په اړه د امیرالمؤمنین پیغام ........................ ۴۶۶
د افغانستان د اسلامي امارت د مقام خبرتیا ........................ ۴۶۸
د افغانستان د اسلامي امارت د مقام اعلامیه ........................ ۴۶۹
نظامي مسؤلینو ته د عالیقدر امیر المؤمنین پیغام ........................ ۴۷۰
د نړیوالو خبرو اترو په هکله د افغانستا ن د اسلامي امارت روښانه دریځ ........................ ۴۷۱
د امریکي د ولس په نامه د عالیقدر امیر المؤمنین پیغام ........................ ۴۷۲
د افغانستان لپاره د هجري قمري تاریخ د رسمي گرځولو په اړه د عالیقدر امیر المؤمنین د مبارکی پیغام ........................ ۴۷۴
د طالبانو د لوی سالار محترم ملا محمد عمر مجاهد پیغام ........................ ۴۷۶

د ملا محمد عمر مجاهد توصیه ........................................ ٤٧٩
د سرې میاشتې د ځانګړې اونۍ په مناسبت د محترم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد پیغام ........................................ ٤٨١
د خپلواکۍ د یواتیایمې کلیزې په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین پیغام ........................ ٤٨٣
د دار العلوم دیوبند د یونیم سل کلنو خدمتونو د یاد غونډې ګډون کوونکو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین پیغام ........................................ ٤٨٧
**د ملاصاحب ځینې مرکې ........................................ ٤٩٣**
له عالیقدر امیرالمؤمنین سره د الامارة الاسلامیه (عربي) او خلافت (پښتو) مجلې مرکه ... ٤٩٣
تربیتي غونډې ته د عالیقدر امیرالمؤمنین پیغام ........................................ ٥٠١
د ولسوالانو او ښاروالانو تربیوي سمینار ته د عالیقدر امیرالمؤمنن د وینا لنډیز ............ ٥٠٤
دنیکمرغه کوچني اختر درارسیدو په مناسبت دعالیقدر امیرالمؤمنین پیغام ............ ٥٠٦
د مرحوم امیر المؤمنین شخصي ځانګړنې ........................................ ٥١٥
**د امیرالمؤمنین د پیغامونو څو نمونې ........................................ ٥٢٣**
**د کتاب معلوماتي منابع ........................................ ٥٤٠**
الف: هغه اشخاص چې د دې کتاب لپاره ورسره مرکې شوي دي ........................ ٥٤٠
با: کتابونه او کلکسیونونه ........................................ ٥٤٢

بسم الله الرحمن الرحيم

## د دوهم چاپ سريزه

الحمد لأهله والصلوة على أهلها امابعد:

د کتاب او مطالعې درنو مينه والو!

خوښ يو چې د ثالث عمر کتاب دوهم چاپ له ځينو ضروري زياتونو سره درته وړاندې کوو. د افغانستان اسلامي امارت د مؤسس مرحوم امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په ژوند او کارنامو ليکل شوی دغه مستند کتاب چې په عين حال کې د اسلامي امارت د تاريخ تر ټولو باوري منبع هم ګڼل کيږي، په لومړي ځل له چاپ وروسته د لوستونکو له پراخ استقبال سره مخامخ شو. سره له دې چې په لومړي ځل هم کتاب په لوړ تيراژ چاپ شوی و، خو ډير ژر له کتابخانو غيب او مينه والو يې د لا نور چاپ غوښتنه وکړه.

د همدې لپاره د کتاب خپروونکي ادارې د دوهم چاپ اراده وکړه او له چاپ مخکې په کتاب کې ځيني ضروري اصلاحات او زياتونې هم راوړل شوې، د کتاب متن يو ځل بيا وکتل شو او ورې املايي يا ټايپي غلطۍ په کې اصلاح شوې. دغه راز کوم تأثرات چې په عربي يا فارسي ژبه ليکل شوي وو، د هغوی پښتو ژباړه هم په حاشيو (لمن ليکونو) کې ورسره راوړل شوه.

د (ثالث عمر) کتاب دوهم چاپ په داسې حال کې ستاسو لاسونو ته رسيږي چې څلورو نړيوالو يا محلي ژبو لکه (عربي، فارسي، انګليسي، اردو) ته هم د کتاب ژباړه د تکميل په حال کې ده او ډير ژر به په دې ژبو هم کتاب چاپ او تر لوستونکو ورسيږي.

په نړيوالو ژبو د کتاب چاپ ځکه مهم او ګټور اقدام دی، چې د اسلامي امارت خلاف په يادو ژبو ډير غلط تبليغات او ناسم معلومات خپاره شوي دي. په دې ژبو د (ثالث

عمر) کتاب چاپ به د مرحوم ملا صاحب واقعي شخصیت او کارنامې تر نړیوالو ورسوي او د اسلامي امارت په اړه به د خلکو شکوک او شبهات ځواب کړي.

د متعال رب جل جلاله ډیر د شکر ځای دی چې (ثالث عمر) کتاب د دوهم ځل لپاره داسې مهال د چاپ په زیور ښایسته کیږي، چې د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ستر ارمان او هدف ترسره شوی، مغرورو امریکایي اشغالگرو فضیحت بار شکست خوړلی، اسلامي هیواد افغانستان یو ځل بیا له بشپړ استقلال څخه برخمن شوی، اسلامي نظام اعاده شوی او کټ مټ هماغه اسلامي امارت چې د لوی ملا صاحب میراث او یادگار و یو ځل بیا په دې شهیدپاله خاوره حاکم شوی دی. و لله الحمد

د (ثالث عمر) کتاب د مطالعې په وخت به تاسو بیا بیا د ملا صاحب مرحوم له هغو وړاندوینو سره مخامخ شئ چې شل کاله پخوا یې د امریکا په شکست باور درلود. هوکې، دا یوازې د الله تعالی د ځانگړو راسخ العقیده بندگانو خصوصیت وي، چې د خپل ایمان په ځلا او فراست هغه څه ویني چې نور انسانان یې له اټکل او لیدلو عاجز وي.

شل کاله وړاندې چې امریکا نړیوال زبرځواک و، نړۍ یو قطبي وه او امریکا وربانـدې یکه تاز واک چلاوه، حتی تر دې چې د نړۍ ستر قوتونه د امریکا له ویرې گبنۍ نیولي وو. تاریخ پوهانو او د معاصرو فیلسوفانو یوویشتمه پیړۍ امریکایي پیړۍ بلله او امریکایي حکومتي نظام (لیبرال دموکراسي) یې د بشریت لپاره وروستی نظام گانه. خو د امریکایي فرعونیت په هماغه اوج کې لوی ملا صاحب د ټولو دودیزو باورونو او عقلي محاسبو برعکس د خپل ایماني فراست په استناد وویل چې امریکا به شکست خوري، امریکا به د لست د سر څخه د لست پای ته راځي. په افغانستان د امریکا یرغل چې نړیوالو د امریکایي بالادستۍ د نمایش په نظر ورته کتل، لوی ملا صاحب همدغه یرغل د امریکا د زوال پیلامه وگانه.

حقیقت بالاخره هماغه شوه. الله تعالی د ټولې نړۍ محاسبې غلطې ثابتې کړې او د خپل یوه مخلص او مؤمن بنده اټکل یې صحیح ثابت کړ. په افغانستان د امریکا یرغل

د امریکایي شکست پیلامه شوه. د نړۍ مشهور فیلسوف فرانسیس فوکویاما چې دیرش کاله وړاندې یې د امریکا زبرځواکي اعلان کړې وه او د تاریخ پای په نوم مشهور کتاب یې لیکلی و څو اونۍ وړاندې یې په The World Ahead نشریه کې د یوې مقالې په نشر سره د امریکا د زوال اعلان هم وکړ. نوموړي ولیکل چې له افغانستان څخه د امریکا شرمیدلې تیښته په نړیوال نظم کې د پراخ تغیر نښه ده. له دې معلومه شوه چې اوس امریکا پرونی زبرځواک نه دی، امریکا حتی دومره کمزورې شوه چې که په نړیوالو متحدینو یې حمله وشي، مثلا چین په تایوان یا روسیه په یوکراین حمله وکړي امریکا ته به یې ځواب ډیر سخت وي.

د زبرځواکۍ له ستیجه د امریکا راغورځیدل چې نړیوال فیلسوفان یې ایله اوس مني، مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد یې شل کاله وړاندې خبر ورکړی و، چې په دې سره د هغه نبوي حدیث مصداق یو ځل بیا راژوندی شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ډیر ځله به په ګردونو پټ او په ظاهري ډول د ګډوډ هیئت څښتن مومن وي که د یوه کار په کیدلو قسم وکړي الله تعالی به یې خامخا رښتیا کړي.

د امریکا شکست لکه څنګه چې د مرحوم ملا صاحب د جهادي کارنامو یوه برخه ده، همداسې د نوموړي د ایماني فراست، لوړ عزم او توکل یو ثبوت هم دی. چې دغسې د محکم ایمان څښتنان په پیړیو کې کله کله تکراریږي.

په پای کې د مرحوم ملا صاحب روح ته دعاء کوو چې الله تعالی دې په سترو رحمتونو ونازوي او لوستونکي د کتاب مطالعې ته رابولو.

په ډیر درنښت

# د پیل خبرې

الحمد لله رب العلمين والصلوة و السلام على خير خلقه محمد و آله و اصحابه أجمعين و بعد:

د افغانستان اسلامي امارت زموږ د هیواد (افغانستان) او اسلام په تاریخ کې یو مهم سیاسي او جهادي جریان ګڼل کیږي، چې تر ډیره به د مؤرخینو او لیکوالانو د څیړنې موضوع وي. د دې خوځښت مؤسس او مشر مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد له هغو مهمو او تاثیرګذارو شخصیتونو څخه دی چې له یادونې پرته به یې د دې عصر تاریخ نیمګړی وي.

د ملا محمد عمر مجاهد په اړه له دې وړاندې هم ځینو کورنیو او بهرنیو لیکوالو کتابونه لیکلي دي. خو اکثر دغه کتابونه د تبلیغاتي مقاصدو او دښمنانه سیاسي اغراضو په اساس لیکل شوي دي. ځینو په لوی لاس د ملا صاحب د واقعي شخصیت د تشویه او ناسم معرفي کولو هڅه کړې او ځیني بیا د کره معلوماتو او مستندو منابعو د نه شتون له امله په غلطه تللي دي.

د دې کتاب د لیکلو مقصد دا دی تر څو د اسلامي امارت د زعیم ملا محمد عمر مجاهد ځانګړې دیني او سیاسي کړنې د اوسني او راتلونکي مسلمان نسل لپاره یوه ښه بیلګه او د اقتداء نمونه وګرځي. دغه راز د مرحوم ملا صاحب په اړه لومړی لاس، واقعي او مؤثق معلومات تر لوستونکو ورسول شي. تر څو د تاریخي پېښو څېړونکي او عام لوستونکي په خپلو قضاوتونو کې له همدې مؤثقو معلوماتو استفاده وکړي.

دلته به بې ځایه نه وي چې د کتاب لپاره د معلوماتو د راټولولو او کتاب لیکلو مختصر-جریان درسره شریک کړو.

د ۱۳۹۵ لمریز کال د قوس د میاشتې په شپږمه نیټه د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د تاریخ لیکلو په مناسبت د ده مرحوم د کورنۍ په نوبت یو مجلس دائر شو چې د مرحوم ملا صاحب مشر زوی او د اسلامي امارت مرستیال مولوي محمد یعقوب مجاهد، د مرحوم ملا صاحب ورور او د رهبري شورى غړی ملا عبدالمنان

عمري، د ملا صاحب مرحوم زوم قاري صدیق الله صاحب، د ملا صاحب مرحوم اخښى مولوي عبدالرحمن صاحب، داسلامي امارت د مشرتابه د دفتر رئیس مولوي احمد جان احمدي، د اسلامي امارت پخواني ویاند مفتي لطف الله حکیمي،د فرهنګي کمیسیون مرستیال ملا احمد الله وثیق،د نظامي کمیسیون اداري مسؤل بخت الرحمن شرافت، د کتاب لیکوال قاري عبدالستار سعید او څو تنو نورو ملګرو لیکوالو په کې ګډون درلود.

دا مجلس چې دوه ورځې یې جریان درلود د مرحوم امیر المؤمنین د تاریخ لیکلو په اهمیت او ضرورت یې بحث وکړ او وروسته یې د دې کار لپاره یوه اجمالي لارنقشه وټاکله چې په لومړۍ مرحله کې باید معلومات را ټول او وروسته یې د لیکلو او تدوین کار پیل شي. د معلوماتو د راټولولو لپاره د معلوماتي منابعو په حیث لسګونه کسان مشخص کړای شول چې باید مخامخ ورسره مرکې وشي او د مرحوم امیر المؤمنین د ژوند د بیلابیلو مراحلو په اړه مؤثق معلومات ترې را ټول کړای شي. په مجلس کې د معلوماتو د راټولولو لپاره یوه کمیټه هم وټاکل شوه چې مشر یې د ملا صاحب زوم قاري صدیق الله او مرستیال یې قاري عبدالستار سعید ( د دې کرښو لیکوال) تعین شو.

په دې ډول د مرحوم امیر المؤمنین رحمه الله د ژوند او کارنامو په اړه د معلوماتو د راټولولو کار پیل شو. د معلوماتو د راټولولو په کار کې د کمیټې د مشر او مرستیال نه علاوه د کمیټې نورو غړو لکه مولوي احمد جان احمدي، مفتي لطف الله حکیمي، ملا احمدالله وثیق، ملا عبدالاحد جهانګیروال، ملا بخت الرحمن شرافت، ملا عتیق الله عزیزي او ډاکټر محمد طاهر صاحب هم مهم نقش درلود او له لسګونو کسانو سره مصاحبې وشوې.

څو میاشتې وروسته چې یوه اندازه مواد راټول شوي وو یو ځل بیا د کمیټې غونډه دائره شوه. په غونډه کې فیصله وشوه چې د راټولو شویو موادو نه په استفاده دې د کتاب متن لیکل پیل شي. دا چې د کتاب متن باید څوک ولیکي په مجلس کې بحث وشو.

وروسته د متن لیکلو مسؤلیت د دې کرښو لیکونکي ( قاري عبدالستار سعید) ته راوسپارل شو او فیصله په دې وشوه چې زه به د اونۍ په جریان کې د کتاب متن لیکم

او د اونۍ په پای کې به درې کسیزه کمیټه (چې اعضاء یې مولوي احمد جان احمدي، مفتي لطف الله حکیمي او قاري عبدالستار سعید وو) دغه متن له نظره تېروي. کره کتنه به ورباندې کوي او لازم اصلاحات به په کې راولي.

په دې ډول د کتاب لیکنه پیل شوه او څو میاشتې یې دوام وکړ. د ښه تحقیق، توثیق او کله ناکله د اضافه معلوماتو د موندلو په تلوسه د کتاب نهایي کولو تر اټکل زیات وخت واخیست او بالاخره دغه متن تیار شو چې ستاسو په لاس کې دی.

تیار شوی متن لومړی څو اهل نظر کسانو ته د کتنې لپاره ورکړل شو او په وروستي ځل د مرحوم امیر المؤمنین د کورنۍ د غړو لکه د ملا صاحب مشر زوی او د اسلامي امارت مرستیال مولوي محمد یعقوب مجاهد، د ملا صاحب ورور او د رهبري شورى غړی ملا عبدالمنان عمري، د ملا صاحب زوم قاري صدیق الله او د ملا صاحب خاص کاتب ملا عبدالسلام لخوا له نظره تېر او اصلاحات په کې راوستل شول. تر دې چې کتاب یو مخ نهایي او چاپ ته آماده شو.

باید ووایو چې د دې کتاب حجم د هغو تحقیقي او توثیقي هڅو په نسبت کوچنی دی چې د خامو موادو د راټولولو او ترتیب په مرحله کې ترسره شوې دي. د ملا محمد عمر مجاهد او اسلامي امارت د قیام او واکمنۍ په اړه د واقعي معلوماتو د راټولولو لپاره په هره برخه کې هڅه شوې چې له لومړی لاس منابعو څخه استفاده وشي. د وقائعو او بیلابیلو جریاناتو له عیني شاهدانو سره مخامخ مرکې شوي او له توثیق او بیا بیا ارزونې وروسته په کتاب کې ځای شوي دي.

ځینې شهرت ته رسیدلي وقائع که څه هم د ملا صاحب په حق کې به و، خو دا چې په مؤثق ډول نه دي ثابت شوي نو پرېښودل شول. د ملا صاحب په اړه د ده د ملګرو، د اسلامي امارت د منسوبینو او ځینو نورو شخصیتونو خاطرات، تأثرات او د سترګو لیدلي حالات د پیښو د روایت کوونکو په استناد کټ مټ را اخیستل شوي.

که څه هم د ملا محمد عمر مجاهد او اسلامي امارت په هکله به څه موافق یا مخالف کتابونه تر دې پخوا هم لیکل شوي وي خو د دې کتاب د لیکلو موخه دا ده چې هغه

حقائق رابرسيره شي چې د دروغو تر غبار لاندې پټ ساتل شوي دي. نو بناء دا كتاب د پخوانيو كتابونو تكرار نه، بلكې د پټ پاته حقائقو د رابرسيره كولو هڅه ده.

په پای كې د الله تعالى شكر اداء كول پر ځان واجب ګڼم چې د دې كتاب د ليكلو توفيق يې راكړ. لله الحمد والمنة

په تلو تلو كې د كتاب له هغو مينه والو ښښنه غواړم چې د دې كتاب د چاپ او مطالعې لپاره يې اوږده موده انتظار وكړ. خو تقدير د كتاب نهايي كيدل او چاپ ته برابريدل تر دې وخته ځنډولي وو.

دا چې ملا محمد عمر مجاهد د الله تعالى د دين يو مخلص او فداكار ساتونكی و او د نوموړي د تاريخ له ليكلو مو غرض د مؤمنو رجالو د كارنامو خوندي كول او له وركېدو ژغورل دي. الله تعالى ته سوال كوو چې دا هڅه د يو ديني خدمت په حيث په خپل عظيم دربار كې قبوله او زموږ لپاره د آخرت توښه وګرځوي.

په همدې ستره هيله

قاري عبدالستار سعيد

د ميزان دیارلسمه ۱۳۹۹هجري شمسي

## موضوع ته ورتګ

### له عمره تر عمره لنډ تاريخي سرګذشت

د اسلام د مشهور خليفه عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت وروستي کلونـه وو چې د اسلامي لښکر دوه سپهسالاران د لويديځ لخوا د اوسني افغانستان خاورې تـه را داخـل شول. احنف بن قيس تميمي رضی الله عنه د فارس د تښتيدلي ساساني پاچا يزدګرد په لټون د ايران د ختيځې سيمې بيرجند او طبسين له لارې فـراه تـه ننـوت او ورپسـې يـې هرات فتح کړ، څه موده وروسته عبدالله بن عامر رضی الله عنـه د اميـر المـؤمنين عمـر فاروق رضی الله عنه په امر په سيستان بريد وکړ او د نيمروز او هلمند له نيولـو وروسـته تر کندهاره ورسيد.

له هماغه وخت( ۲۳ هجري قمري ) څخه د اسلام او افغانستان نوم سره پيوند شو، داسې پيوند چې بيا يې کله هم انفکاک قبول نکړ، له هماغه وخته دا هيواد او ولس د اسلام په نوم ساه اخلي، اسلام يې په رګونو کې د وينې په شان څغلي او اسلام ورته د آب و هوا په شان د ژوند او پايښت سبک ورکوي.

د دې جغرافيې خلک لکه څنګه چې پـه پخوانيـو بـاورونو ټينـګ ولاړ وو او د مؤرخ استاد عبدالحی حبيبي په وينا په درست افغانستان کې د اسلام خپريدلو تر يـوې پيـړۍ زيات وخت ونيو، د اسلام له منلو وروسـته يـې د دغـه ديـن رسـۍ هـم خـورا محکمـه ونيوله، داسې محکمه چې دا جغرافيه يې نړۍ ته د اسلام د نه ماتيـدونکي سـنګر او نـه تسخيريدونکې کلا په حيث ور معرفي کړه.

په لومړيو دوو هجري پيړيو کې افغانستان لومړی د اموي او ورپسې د عباسي خلافتونو مربوط و. د دريمې هجـري پيـړۍ لـه پيـل سره چې د عباسـيانو افـول پيـل او ورسره د مستقلو سلطنتونو سلسله پراخه شوه، پر افغانستان د طاهري،صفاري او ساماني شاهانو د واکمنۍ دوره راغله. د څلورمې هجري پيـړۍ لـه نيمايـي پـه دې سـيمه غزنـوي دولـت رامنځته شو چې حدود يې د ايران تر غرب، منځنۍ آسيا، هنـد او عربـو بحيـرې پـورې

رسیدل. دا په لومړۍ هجري زریزه کې د افغانستان د تاریخ تر ټولو ویاړمن دور و. غزنوي شاهانو نه یوازې د سیمې په سطحه تر ټولو ځواکمن سلطنت را منځته کړ، بلکې د دوی په دور کې د افغانستان له لارې د هند نیمې وچې ته د اسلامي دعوت او فتوحاتو لړۍ وغځېده چې ورسره د شمالي او لویدیز هند پراخې پرګنې د اسلام په مبارک دین مشرفې شوې. سلطان شاه محمود غزنوي یوازې سیاسي واکمن نه و، بلکې لوی عالم، عابد او د اسلام د لارې سرسپارلی مجاهد و. د تاریخي روایاتو له مخې د نوموړي د ژوند ډېره برخه د في سبیل الله جهاد په لار کې د آس پر شا تېره شوه. هغه لکه څنګه چې ځان د مسلمانانو سیاسي مشر باله همداسې د ولس دیني هویت ساتنې، د باطلو فرقو ټکولو او د ولس اصلاح او فکري رهنمایي ته هم متوجه و.

د همداسې صالحو حاکمانو تر سیوري لاندې که د دې هیواد غازیان او مجاهدین په فتوحاتو کې پیشقدم ول علماء او ادیبان یې د علم او فرهنګ د ډګر مخکښان ول. په لومړیو پیړیو کې د خراسان علماوو د احادیثو له جمع کولو علاوه د علم التفسیر، فقه، بلاغت، ادب، حکمت، طب او نورو مروجه علومو په برخه کې د پام وړ خدمتونه وکړل او د اسلامي تمدن او فرهنګ په وده او احیاء کې یې مرکزي نقش درلود.

د غزنویانو له سقوط وروسته د غوریانو، سلجوقیانو او خوارزمشاهانو دورې هم د افغانستان د تاریخ زرینې دورې وې،په خاص ډول غوریان چې د غزنویانو لار یې تعقیبوله، په هند کې یې د اسلام د وړانګو خپرولو او اسلامي علم او فرهنګ د ودې په برخه کې مهم خدمتونه ترسره کړل.

خو په اوومه هجري پیړۍ کې د چنګیز یرغل د اسلامي نړۍ د ځینو نورو برخو په شان زموږ هیواد ته هم درانه ټکانونه ورکړل. چې ورسره افغانستان پخوانی ځواکمن وجود بایلود. له دې وروسته د څو پیړیو په جریان کې به دا هیواد کله په کوچنیو واکمنیو تقسیم و او کله به په ګاونډ کې د لویو واکمنیو لکه (د هند ګورګاني، د ایران صفوي او د منځنۍ اسیا شیباني) سلطنتونو تر اغیز لاندې و.

دا چې د اسلام غونډې د خپلواکۍ غوښتنې احساس هم د دې جغرافیې د اوسیدونکو په وینه کې ګډ و، نو څکه د تاریخ له توپاني حالاتو سره سره د دې هیواد خلکو

همیشه د ځان راټولولو او خپلواکۍ لپاره لاس او پښې وهل. د چنګیز، تیمور، بابري شاهۍ او صفویانو په وړاندې د افغانستان د ولس مقاومت او پاڅونونه د دې مدعا نغد شواهد دي.

په دوولسمه هجري پیړۍ کې په افغانستان کې دوه مهمې سیاسي پیښې وشوې. د میرویس خان نیکه په مشرۍ پاڅیدلو افغانانو په ۱۱۲۰ هـ ق کال د صفویانو اشغال ختم کړ چې په پایله کې نه یوازې د افغانستان جنوبي او لویدیزې سیمې له دې اشغاله خلاصې شوې، بلکې صفوي واکمنې چې څه باندې دوه پیړۍ یې په ټوله سیمه سیورۍ پروت و،ونړیده او پر مرکز اصفهان یې د افغانانو بیرغ ورپېد.

خو د افغان ولس دغه خپلواکه واکمني درې لسیزې وروسته د داخلي نزاع او نادر افشار د یرغل په پایله کې ونړېده. د نادر افشار له مرګ وروسته په ۱۱۶۰ هـ ق کال کې دوهمه ستره پیښه رامنځته شوه او هغه دا چې د اوسني افغانستان مؤسس احمد شاه ابدالي په کندهار کې د یوې نوې خپلواکې واکمنۍ بنسټ کیښود، چې ډېر ژر یې په سیمه کې د یو ځواکمن اسلامي سلطنت په حیث بروز وکړ او پولې یې د ایران له مشهد ونیسه بیا په ختیځ کې تر سرهند په جنوب کې تر عرب سمندرګي او په شمال کې تر منځنۍ آسیا ورسیدې. احمد شاه بابا هم د سلطان محمود غزنوي په شان یو عالم او فاضل پاچا و. د سلطنت یوه لویه ځانګړنه یې د الله په لار کې جهاد، د مسلمانانو مدد او د اسلام لوړتیا وه. نوموړي د هند وروستی اسلامي حکومت (مغلي دولت) د مرهټه هندوانو په لاس له سقوط څخه وژغوره او د هند د لوی عالم شاه ولي الله دهلوي په بلنه یې د هند د مسلمانانو مرستې ته ودانګل.

د افغانستان یاد شوي سلطنتونه د نورې اسلامي نړۍ د مستقلو پاچاهیو په شان له ځینو نیمګړتیاوو سره سره اسلامي واکمنۍ وې. ډیرو خو یې د اسلامي وحدت د ساتلو په مقصد عباسي او عثماني خلفاوو ته هم ارادت درلود او د اسلامي نړۍ د سیاسي مرکز په حیث یې ورته کتل. مؤمنو شاهانو ځانونه د امامت کبرى په مقام کې لیدل چې د سیاسي واکمنۍ ترڅنګ یې د ولس مذهبي رهبري هم کوله. هر سلطان به لویې پریکړې د دیني عالمانو د فتوی او مشورې په اساس کولې، په لښکرو کې به یې دیني

بسم الله الرحمن الرحیم

## د دوهم چاپ سریزه

الحمد لأهله والصلوة علی أهلها اما بعد:

د کتاب او مطالعې درنو مینه والو!

خوښ یو چې د ثالث عمر کتاب دوهم چاپ له ځینو ضروري زیاتونو سره درته وړاندې کوو. د افغانستان اسلامي امارت د مؤسس مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په ژوند او کارنامو لیکل شوی دغه مستند کتاب چې په عین حال کې د اسلامي امارت د تاریخ تر ټولو باوري منبع هم ګڼل کیږي، په لومړي ځل له چاپ وروسته د لوستونکو له پراخ استقبال سره مخامخ شو. سره له دې چې په لومړي ځل هم کتاب په لوړ تیراژ چاپ شوی و، خو ډیر ژر له کتابخانو غیب او مینه والو یې د لا نور چاپ غوښتنه وکړه.

د همدې لپاره د کتاب خپروونکي ادارې د دوهم چاپ اراده وکړه او له چاپ مخکې په کتاب کې ځینې ضروري اصلاحات او زیاتونې هم راوړل شوې، د کتاب متن یو ځل بیا وکتل شو او وړې املایي یا ټایپي غلطۍ په کې اصلاح شوې. دغه راز کوم تأثرات چې په عربي یا فارسي ژبه لیکل شوي وو، د هغوی پښتو ژباړه هم په حاشیو (لمن لیکونو) کې ورسره راوړل شوه.

د (ثالث عمر) کتاب دوهم چاپ په داسې حال کې ستاسو لاسونو ته رسیږي چې څلورو نړیوالو یا محلي ژبو لکه (عربي، فارسي، انګلیسي، اردو) ته هم د کتاب ژباړه د تکمیل په حال کې ده او ډیر ژر به په دې ژبو هم کتاب چاپ او تر لوستونکو ورسیږي.

په نړیوالو ژبو د کتاب چاپ ځکه مهم او ګټور اقدام دی، چې د اسلامي امارت خلاف په یادو ژبو ډیر غلط تبلیغات او ناسم معلومات خپاره شوي دي. په دې ژبو د (ثالث

عمر) کتاب چاپ به د مرحوم ملا صاحب واقعي شخصيت او کارنامې تر نړيوالو ورسوي او د اسلامي امارت په اړه به د خلکو شکوک او شبهات ځواب کړي.

د متعال رب جل جلاله ډير د شکر ځای دی چې (ثالث عمر) کتاب د دوهم ځل لپاره داسې مهال د چاپ په زيور ښايسته کيږي، چې د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ستر ارمان او هدف ترسره شوی، مغرورو امريکايي اشغالگرو فضيحت بار شکست خوړلی، اسلامي هيواد افغانستان يو ځل بيا له بشپړ استقلال څخه برخمن شوی، اسلامي نظام اعاده شوی او کټ مټ هماغه اسلامي امارت چې د لوی ملا صاحب ميراث او يادگار و يو ځل بيا په دې شهيدپاله خاوره حاکم شوی دی. و لله الحمد

د (ثالث عمر) کتاب د مطالعې په وخت به تاسو بيا بيا د ملا صاحب مرحوم له هغو وړاندوينو سره مخامخ شئ چې شل کاله پخوا يې د امريکا په شکست باور درلود. هوکې، دا يوازې د الله تعالی د ځانگړو راسخ العقيده بندگانو خصوصيت وي، چې د خپل ايمان په ځلا او فراست هغه څه ويني چې نور انسانان يې له اټکل او ليدلو عاجز وي.

شل کاله وړاندې چې امريکا نړيوال زبرځواک و، نړۍ يو قطبي وه او امريکا وربانـدې يکه تاز واک چلاوه، حتی تر دې چې د نړۍ ستر قوتونه د امريکا له ويرې گبنۍ نيولي وو. تاريخ پوهانو او د معاصرو فيلسوفانو يوويشتمه پيړۍ امريکايي پيړۍ بلله او امريکايي حکومتي نظام (ليبرال دموکراسي) يې د بشريت لپاره وروستی نظام گانه. خو د امريکايي فرعونيت په هماغه اوج کې لوی ملا صاحب د ټولو دوديزو باورونو او عقلي محاسبو برعکس د خپل ايماني فراست په استناد وويل چې امريکا به شکست خوري، امريکا به د لست د سر څخه د لست پای ته راځي. په افغانستان د امريکا يرغل چې نړيوالو د امريکايي بالادستۍ د نمايش په نظر ورته کتل، لوی ملا صاحب همدغه يرغل د امريکا د زوال پيلامه وگانه.

حقيقت بالاخره هماغه شوه. الله تعالی د ټولې نړۍ محاسبې غلطې ثابتې کړې او د خپل يوه مخلص او مؤمن بنده اټکل يې صحيح ثابت کړ. په افغانستان د امريکا يرغل

د امریکایي شکست پیلامه شوه. د نړۍ مشهور فیلسوف فرانسیس فوکویاما چې دیرش کاله وړاندې یې د امریکا زبرځواکي اعلان کړې وه او د تاریخ پای په نوم مشهور کتاب یې لیکلی و څو اونۍ وړاندې یې په The World Ahead نشریه کې د یوې مقالې په نشر سره د امریکا د زوال اعلان هم وکړ. نوموړي ولیکل چې له افغانستان څخه د امریکا شرمیدلې تیښته په نړیوال نظم کې د پراخ تغیر نښه ده. له دې معلومه شوه چې اوس امریکا پرونی زبرځواک نه دی، امریکا حتی دومره کمزورې شوه چې که په نړیوالو متحدینو یې حمله وشي، مثلا چین په تایوان یا روسیه په یوکراین حمله وکړي امریکا ته به یې ځواب ډیر سخت وي.

د زبرځواکۍ له ستيجه د امریکا راغورځیدل چې نړیوال فیلسوفان یې ایله اوس مني، مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد یې شل کاله وړاندې خبر ورکړی و، چې په دې سره د هغه نبوي حدیث مصداق یو ځل بیا راژوندی شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ډیر ځله به په گردونو پټ او په ظاهري ډول د گډوډ هیئت څښتن مومن وي که د یوه کار په کیدلو قسم وکړي الله تعالی به یې خامخا رښتیا وکړي.

د امریکا شکست لکه څنگه چې د مرحوم ملا صاحب د جهادي کارنامو یوه برخه ده، همداسې د نوموړي د ایماني فراست، لوړ عزم او توکل یو ثبوت هم دی. چې دغسې د محکم ایمان څښتنان په پیړیو کې کله کله تکراریږي.

په پای کې د مرحوم ملا صاحب روح ته دعاء کوو چې الله تعالی دې په سترو رحمتونو ونازوي او لوستونکي د کتاب مطالعې ته رابولو.

په ډیر درنښت

# د پیل خبرې

الحمد لله رب العلمین والصلوة والسلام علی خیر خلقه محمد وآله واصحابه أجمعین وبعد:

د افغانستان اسلامي امارت زموږ د هیواد (افغانستان) او اسلام په تاریخ کې یو مهم سیاسي او جهادي جریان ګڼل کیږي، چې تر ډیره به د مؤرخینو او لیکوالانو د څیړنې موضوع وي. د دې خوځښت مؤسس او مشر مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد له هغو مهمو او تاثیرګذارو شخصیتونو څخه دی چې له یادونې پرته به یې د دې عصر تاریخ نیمګړی وي.

د ملا محمد عمر مجاهد په اړه له دې وړاندې هم ځینو کورنیو او بهرنیو لیکوالو کتابونه لیکلي دي. خو اکثر دغه کتابونو د تبلیغاتي مقاصدو او دښمنانه سیاسي اغراضو په اساس لیکل شوي دي. ځینو په لوی لاس د ملا صاحب د واقعي شخصیت د تشویه او ناسم معرفي کولو هڅه کړې او ځیني بیا د کره معلوماتو او مستندو منابعو د نه شتون له امله په غلطه تللي دي.

د دې کتاب د لیکلو مقصد دا دی تر څو د اسلامي امارت د زعیم ملا محمد عمر مجاهد ځانګړې دیني او سیاسي کړنې د اوسني او راتلونکي مسلمان نسل لپاره یوه ښه بیلګه او د اقتداء نمونه وګرځي. دغه راز د مرحوم ملا صاحب په اړه لومړی لاس، واقعي او مؤثق معلومات تر لوستونکو ورسول شي. تر څو د تاریخي پیښنو څیړونکي او عام لوستونکي په خپلو قضاوتونو کې له همدې مؤثقو معلوماتو استفاده وکړي.

دلته به بې ځایه نه وي چې د کتاب لپاره د معلوماتو د راټولولو او کتاب لیکلو مختصر-جریان درسره شریک کړو.

د ۱۳۹۵ لمریز کال د قوس د میاشتې په شپږمه نیټه د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د تاریخ لیکلو په مناسبت د ده مرحوم د کورنۍ په نوښت یو مجلس دائر شو چې د مرحوم ملا صاحب مشر زوی او د اسلامي امارت مرستیال مولوي محمد یعقوب مجاهد، د مرحوم ملا صاحب ورور او د رهبري شوری غړی ملا عبدالمنان

عمري، د ملا صاحب مرحوم زوم قاري صديق الله صاحب، د ملا صاحب مرحوم اخښی مولوي عبدالرحمن صاحب، داسلامي امارت د مشرتابه د دفتر رئيس مولوي احمد جان احمدي، د اسلامي امارت پخوانی ویاند مفتي لطف الله حکیمي،د فرهنگي کمیسیون مرستیال ملا احمد الله وثیق،د نظامي کمیسیون اداري مسؤل بخت الرحمن شرافت، د کتاب لیکوال قاري عبدالستار سعید او څو تنو نورو ملگرو لیکوالو په کې گډون درلود.

دا مجلس چې دوه ورځې يې جريان درلود د مرحوم امير المؤمنين د تاريخ ليکلو په اهميت او ضرورت يې بحث وکړ او وروسته يې د دې کار لپاره يوه اجمالي لارنقشه وټاکله چې په لومړۍ مرحله کې بايد معلومات را ټول او وروسته يې د ليکلو او تدوين کار پيل شي. د معلوماتو د راټولولو لپاره د معلوماتي منابعو په حيث لسگونه کسان مشخص کړای شول چې بايد مخامخ ورسره مرکې وشي او د مرحوم امير المؤمنين د ژوند د بيلابيلو مراحلو په اړه مؤثق معلومات ترې را ټول کړای شي. په مجلس کې د معلوماتو د راټولولو لپاره يوه کميټه هم وټاکل شوه چې مشر يې د ملا صاحب زوم قاري صديق الله او مرستيال يې قاري عبدالستار سعيد ( د دې کرښو ليکوال) تعين شو.

په دې ډول د مرحوم امير المؤمنين رحمه الله د ژوند او کارنامو په اړه د معلوماتو د راټولولو کار پيل شو. د معلوماتو د راټولولو په کار کې د کميټې د مشر او مرستيال نه علاوه د کميټې نورو غړو لکه مولوي احمد جان احمدي، مفتي لطف الله حکيمي، ملا احمدالله وثيق، ملا عبدالاحد جهانگيروال، ملا بخت الرحمن شرافت، ملا عتيق الله عزيزي او ډاکټر محمد طاهر صاحب هم مهم نقش درلود او له لسگونو کسانو سره مصاحبې وشوې.

څو مياشتې وروسته چې يوه اندازه مواد راټول شوي وو يو ځل بيا د کميټې غونډه دائره شوه. په غونډه کې فيصله وشوه چې د راټولو شويو موادو نه په استفاده دې د کتاب متن ليکل پيل شي. دا چې د کتاب متن بايد څوک وليکي په مجلس کې بحث وشو.

وروسته د متن ليکلو مسؤليت د دې کرښو ليکونکي (قاري عبدالستار سعيد) ته راوسپارل شو او فيصله په دې وشوه چې زه به د اونۍ په جريان کې د کتاب متن ليکم

او د اونۍ په پای کې به درې کسيزه کميټه (چې اعضاء يې مولوي احمد جان احمدي، مفتي لطف الله حکيمي او قاري عبدالستار سعيد وو) دغه متن له نظره تېروي. کره کتنه به ورباندې کوي او لازم اصلاحات به په کې راولي.

په دې ډول د کتاب ليکنه پيل شوه او څو مياشتې يې دوام وکړ. د ښه تحقيق، توثيق او کله ناکله د اضافه معلوماتو د موندلو په تلوسه د کتاب نهايي کولو تر اټکل زيات وخت واخيست او بالاخره دغه متن تيار شو چې ستاسو په لاس کې دی.

تيار شوی متن لومړی څو اهل نظر کسانو ته د کتنې لپاره ورکړل شو او په وروستي ځل د مرحوم امير المؤمنين د کورنۍ د غړو لکه د ملا صاحب مشر زوی او د اسلامي امارت مرستيال مولوي محمد يعقوب مجاهد، د ملا صاحب ورور او د رهبري شورى غړی ملا عبدالمنان عمري، د ملا صاحب زوم قاري صديق الله او د ملا صاحب خاص کاتب ملا عبدالسلام لخوا له نظره تېر او اصلاحات په کې راوستل شول. تر دې چې کتاب يو مخ نهايي او چاپ ته آماده شو.

بايد ووايو چې د دې کتاب حجم د هغو تحقيقي او توثيقي هڅو په نسبت کوچنی دی چې د خامو موادو د راټولولو او ترتيب په مرحله کې ترسره شوې دي. د ملا محمد عمر مجاهد او اسلامي امارت د قيام او واکمنۍ په اړه د واقعي معلوماتو د راټولولو لپاره په هره برخه کې هڅه شوې چې له لومړی لاس منابعو څخه استفاده وشي. د وقائعو او بيلابيلو جرياناتو له عيني شاهدانو سره مخامخ مرکې شوي او له توثيق او بيا بيا ارزونې وروسته په کتاب کې ځای شوي دي.

ځينې شهرت ته رسيدلي وقائع که څه هم د ملا صاحب په حق کې به و، خو دا چې په مؤثق ډول نه دي ثابت شوي نو پرېښودل شول. د ملا صاحب په اړه د ده د ملګرو، د اسلامي امارت د منسوبينو او ځينو نورو شخصيتونو خاطرات، تأثرات او د سترګو ليدلي حالات د پيښو د روايت کوونکو په استناد کټ مټ را اخيستل شوي.

که څه هم د ملا محمد عمر مجاهد او اسلامي امارت په هکله به څه موافق يا مخالف کتابونه تر دې پخوا هم ليکل شوي وي خو د دې کتاب د ليکلو موخه دا ده چې هغه

حقائق رابرسیره شي چې د دروغو تر غبار لاندې پټ ساتل شوي دي. نو بناء دا کتاب د پخوانیو کتابونو تکرار نه، بلکې د پټ پاته حقائقو د رابرسیره کولو هڅه ده.

په پای کې د الله تعالی شکر اداء کول پر ځان واجب گڼم چې د دې کتاب د لیکلو توفیق یې راکړ. لله الحمد والمنة

په تلو تلو کې د کتاب له هغو مینه والو بښنه غواړم چې د دې کتاب د چاپ او مطالعې لپاره یې اوږده موده انتظار وکړ. خو تقدیر د کتاب نهایي کیدل او چاپ ته برابریدل تر دې وخته ځنډولي وو.

دا چې ملا محمد عمر مجاهد د الله تعالی د دین یو مخلص او فداکار ساتونکی و او د نوموړي د تاریخ له لیکلو مو غرض د مؤمنو رجالو د کارنامو خوندي کول او له ورکېدو ژغورل دي. الله تعالی ته سوال کوو چې دا هڅه د یو دیني خدمت په حیث په خپل عظیم دربار کې قبوله او زموږ لپاره د آخرت توښه وگرځوي.

په همدې ستره هیله

قاري عبدالستار سعید

د میزان دیارلسمه ۱۳۹۹هجري شمسي

## موضوع ته ورتګ

### له عمره تر عمره لنډ تاريخي سرګذشت

د اسلام د مشهور خليفه عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت وروستي کلونـه وو چې د اسلامي لښکر دوه سپهسالاران د لويديځ لخوا د اوسني افغانستان خاورې تـه را داخـل شول. احنف بن قيس تميمي رضی الله عنه د فارس د تښتيدلي ساساني پاچا يزدګرد په لټون د ايران د ختيځې سيمې بيرجند او طبسين له لارې فـراه تـه ننـوت او ورپسـې يـې هرات فتح کړ، څه موده وروسته عبدالله بن عامر رضی الله عنـه د اميـر المـؤمنين عمـر فاروق رضی الله عنه په امر په سيستان بريد وکړ او د نيمروز او هلمند له نيولـو وروسـته تر کندهاره ورسيد.

له هماغه وخت(۲۳ هجري قمري) څخه د اسلام او افغانستان نوم سره پيوند شو، داسې پيوند چې بيا يې کله هم انفکاک قبول نکړ، له هماغه وخته دا هيواد او ولس د اسلام په نوم ساه اخلي، اسلام يې په رګونو کې د وينې په شان ځغلي او اسلام ورته د آب و هوا په شان د ژوند او پايښت سبک ورکوي.

د دې جغرافيې خلک لکه څنګه چې پـه پخوانيـو بـاورونو ټينـګ ولاړ وو او د مؤرخ استاد عبدالحی حبيبي په وينا په درست افغانستان کې د اسلام خپريدلو تر يـوې پيـړۍ زيات وخت ونيو، د اسلام له منلو وروسته يـې د دغـه ديـن رسـۍ هـم خـورا محکمـه ونيوله، داسې محکمه چې دا جغرافيه يې نړۍ ته د اسلام د نه ماتيـدونکي سـنګر او نـه تسخيريدونکې کلا په حيث ور معرفي کړه.

په لومړيو دوو هجري پيړيو کې افغانستان لومړی د اموي او ورپسې د عباسي خلافتونو مربوط و. د دريمې هجري پيـړۍ لـه پيـل سره چې د عباسـيانو افـول پيـل او ورسره د مستقلو سلطنتونو سلسله پراخه شوه، پر افغانستان د طاهري،صفاري او ساماني شاهانو د واکمنۍ دوره راغله. د څلورمې هجري پيـړۍ لـه نيمايـي پـه دې سـيمه غزنـوي دولـت رامنځته شو چې حدود يې د ايران تر غرب، منځنۍ آسيا، هنـد او عربـو بحيـرې پـورې

رسیدل. دا په لومړۍ هجري زریزه کې د افغانستان د تاریخ تر ټولو ویاړمن دور و. غزنوي شاهانو نه یوازې د سیمې په سطحه تر ټولو ځواکمن سلطنت را منځته کړ، بلکې د دوی په دور کې د افغانستان له لارې د هند نیمې وچې ته د اسلامي دعوت او فتوحاتو لړۍ وغځېده چې ورسره د شمالي او لویدیز هند پراخې پرګنې د اسلام په مبارک دین مشرفې شوې. سلطان شاه محمود غزنوي یوازې سیاسي واکمن نه و، بلکې لوی عالم، عابد او د اسلام د لارې سرسپارلی مجاهد و. د تاریخي روایاتو له مخې د نوموړي د ژوند ډیره برخه د في سبیل الله جهاد په لار کې د آس پر شا تېره شوه. هغه لکه څنګه چې ځان د مسلمانانو سیاسي مشر باله همداسې د ولس دیني هویت ساتنې، د باطلو فرقو ټکولو او د ولس اصلاح او فکري رهنمایي ته هم متوجه و.

د همداسې صالحو حاکمانو تر سیوري لاندې که د دې هیواد غازیان او مجاهدین په فتوحاتو کې پیشقدم ول علماء او ادیبان یې د علم او فرهنګ د ډګر مخکښان ول. په لومړیو پیړیو کې د خراسان علماوو د احادیثو له جمع کولو علاوه د علم التفسیر، فقه، بلاغت، ادب، حکمت، طب او نورو مروجه علومو په برخه کې د پام وړ خدمتونه وکړل او د اسلامي تمدن او فرهنګ په وده او احیاء کې یې مرکزي نقش درلود.

د غزنویانو له سقوط وروسته د غوریانو، سلجوقیانو او خوارزمشاهانو دورې هم د افغانستان د تاریخ زرینې دورې وې،په خاص ډول غوریان چې د غزنویانو لار یې تعقیبوله، په هند کې یې د اسلام د وړانګو خپرولو او اسلامي علم او فرهنګ د ودې په برخه کې مهم خدمتونه ترسره کړل.

خو په اوومه هجري پیړۍ کې د چنګیز یرغل د اسلامي نړۍ د ځینو نورو برخو په شان زموږ هیواد ته هم درانه ټکانونه ورکړل. چې ورسره افغانستان پخوانی ځواکمن وجود بایلود. له دې وروسته د څو پیړیو په جریان کې به دا هیواد کله په کوچنیو واکمنیو تقسیم و او کله به په ګاونډ کې د لویو واکمنیو لکه (د هند ګورګاني، د ایران صفوي او د منځنۍ اسیا شیباني) سلطنتونو تر اغیز لاندې و.

دا چې د اسلام غوندې د خپلواکۍ غوښتنې احساس هم د دې جغرافیې د اوسیدونکو په وینه کې ګډ و، نو څکه د تاریخ له توپاني حالاتو سره سره د دې هیواد خلکو

همیشه د ځان راټولولو او خپلواکۍ لپاره لاس او پښې وهل. د چنگیز، تیمور، بابري شاهۍ او صفویانو په وړاندې د افغانستان د ولس مقاومت او پاڅونونه د دې مدعا نغد شواهد دي.

په دوولسمه هجري پیړۍ کې په افغانستان کې دوه مهمې سیاسي پیښې وشوې. د میرویس خان نیکه په مشرۍ پاڅیدلو افغانانو په ۱۱۲۰ هـ ق کال د صفویانو اشغال ختم کړ چې په پایله کې نه یوازې د افغانستان جنوبي او لویدیزې سیمې له دې اشغاله خلاصې شوې، بلکې صفوي واکمنۍ چې څه باندې دوه پیړۍ یې په ټوله سیمه سیورۍ پروت و،ونړیده او پر مرکز اصفهان یې د افغانانو بیرغ ورپېد.

خو د افغان ولس دغه خپلواکه واکمني درې لسیزې وروسته د داخلي نزاع او نادر افشار د یرغل په پایله کې ونړېده. د نادر افشار له مرگ وروسته په ۱۱۶۰ هـ ق کال کې دوهمهستره پیښه رامنځته شوه او هغه دا چې د اوسني افغانستان مؤسس احمد شاه ابدالي په کندهار کې د یوې نوې خپلواکې واکمنۍ بنسټ کیښود، چې ډېر ژر یې په سیمه کې د یو ځواکمن اسلامي سلطنت په حیث بروز وکړ او پولې یې د ایران له مشهد ونیسه بیا په ختیځ کې تر سرهند په جنوب کې تر عرب سمندرگي او په شمال کې تر منځنۍ آسیا ورسیدې. احمد شاه بابا هم د سلطان محمود غزنوي په شان یو عالم او فاضل پاچا و. د سلطنت یوه لویه ځانگړنه یې د الله په لار کې جهاد، د مسلمانانو مدد او د اسلام لوړتیا وه. نوموړي د هند وروستی اسلامي حکومت ( مغلي دولت) د مرهټه هندوانو په لاس له سقوط څخه وژغوره او د هند د لوی عالم شاه ولي الله دهلوي په بلنه یې د هند د مسلمانانو مرستې ته ودانگل.

د افغانستان یاد شوي سلطنتونه د نورې اسلامي نړۍ د مستقلو پاچاهیو په شان له ځینو نیمگړتیاوو سره سره اسلامي واکمنۍ وې. ډیرو خو یې د اسلامي وحدت د ساتلو په مقصد عباسي او عثماني خلفاوو ته هم ارادت درلود او د اسلامي نړۍ د سیاسي مرکز په حیث یې ورته کتل. مؤمنو شاهانو ځانونه د امامت کبرى په مقام کې لیدل چې د سیاسي واکمنۍ ترڅنگ یې د ولس مذهبي رهبري هم کوله. هر سلطان به لویې پریکړې د دیني عالمانو د فتوى او مشورې په اساس کولې، په لښکرو کې به یې دیني

عالمانو، صوفیانو او مصلحینو ته ځانګړی رول او مسؤلیت ورکاوه. په مجموع کې اسلامي عقیدې ته تعهد، د دیني علم، ادب او فرهنګ خپرول، دیني علماوو، صوفیانو او مدرسینو ته د ټولنې د مهم قشر په نظر کتل، د کفارو په مقابل کې جهاد، د خپل ولس له دیني هویت څخه دفاع، د ټولنې اصلاح ته توجه، د کمزورو مسلمانانو لاسنیوی او اسلام ته فکري او عملي ژمنتیا د افغانستان د پخوانیو واکمنو هغه مشترکات دي چې د یوه متدین ولس په حیث یې د افغان ملت په ټولنیز تشکل او رشد کې مهم رول لوبولی دی. خو د وروستیو پیړیو نړیوال تحول د نورې اسلامي نړۍ په شان د افغانستان واکمن هم متأثر کړل چې ورسره نوي بحرانونه او ټکرونه راپورته شول.

د احمد شاه بابا د عصر له مهمو نړیوالو جریانانو یو یې هم د اروپایي استعمار پراختیا او ورپسې د تیمورشاه په عصر کې د فرانسې انقلاب و. د اروپایانو استعماري هڅو که د مسلمانانو ځمکې، سمندرونه او مادي منابع تهدیدول، بل اړخ ته په اروپا کې د رنسانس تر نوم لاندې نوي تحول مسلمانانو ته په فکري، اجتماعي او سیاسي برخو کې لوی ګواښ رامنځته کړی و. ډېر وخت ونه ووت چې د دې زلزلې ټکانونه تر افغانستان را ورسیدل. انګریزانو چې د ختیځ هند کمپنۍ په توسط یې په هند کې مداخله پیل کړې وه، د احمد شاه بابا د لمسیانو په دور کې یې افغانستان ته هم د توطئو لاسونه را اوږده کړل، چې د سدوزو او ورپسې محمدزو شاهانو خپلمنځي اختلافاتو یې د دسیسو کامیابۍ ته زمینه برابروله.

د ۱۹ مې میلادي پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې انګریزانو افغانستان ته د داسې سیمې په نظر کتل چې په یوه یرغل سره نیول کیدای او د انګریزي مستعمراتو په لست کې اضافه کیدای شي. نو ځکه یې د شاشجاع په ملتیا په افغانستان لوی یرغل وکړ. د افغانستان ولس چې همیشه یې له خپل هیواد څخه په میړانه دفاع کړې وه، یو ځل بیا یې د جهاد بیرغ پورته کړ او انګریزي پوځیانو ته یې عبرتناک شکست ورکړ.

د ۱۹ میلادي پیړۍ په وروستۍ نیمایي کې د افغانستان په تاریخ کې په لومړي ځل د سیاسي واکمنو او دیني قشر لار سره بیله شوه. د هیواد سیاسي واکمن چې پخوا به همیشه د ولس د دیني تشخص د دفاع متصدیان ول او د خپل تخت و تاج په شان به

يې د ديني تشخص، استقلال، خپلواک حاکميت او معنوي ارزښتونو ساتل هم خپل فرض ګاڼه، دا مهال يوازې د خپل موروثي اقتدار د ساتنې په فکر کې شول او د ځاني سياسي ګټو لپاره يې له انګريزانو سره د دوستۍ لاره ونيوله. په دې ډول د ولس د ديني هويت ساتنې او استقلال داعيه بې څښتنه پاتــه شـوه، چې بـالاخره ديني علماوو او د ولس مذهبي قشر همدې مسؤليت ته اوږه ورکړه.

په ۱۸۷۹ ميلادي کال له انګريزانو سره د ګندمک د شرمناک تړون له امضاء وروسته بيا تر اوسه پورې د افغانستان اکثره واکمن د دې پر ځای چې په خپل ديني او تاريخي تشخص قانع واوسي د پرديو افکارو او اقدارو د راوړلو او ترويج په تلاش کې دي چې په وړاندې يې د افغانستان مذهبي قشر د خپلو ديني او معنوي ارزښتونو د دفاع توغ رپاند ساتلی دی. حقيقتا په افغانستان کې د وروستۍ يوې نيمې پېړۍ د بحرانونو يو له سترو عواملو همدا دی چې وروستيو واکمنو د خپلو وياړمنو اسلافو غزنوي، ابدالي او نورو لاره پرېښوده، خپلو ديني ارزښتونو ته يې شا کړه او د تجدد تر عنوان لاندې يې د پرديو نظرياتو ترويج پيل کړ. بالمقابل د افغانستان مذهبي قشر چې د خپل ولس د ديني هويت دفاع او له فسق او ګمراهيو څخه ساتل يې ديني او وجداني دنده ده پرلپسې يې د واکمنو د انحرافاتو په وړاندې مقاومت جاري ساتلی.

د امير عبدالرحمن خان سره د ملا مشک عالم، غازي محمد جانخان، ملا عبدالکريم اندړ، د کندهار مولوي عبدالرحمن او نورو مجاهدينو مخالفت په دې سبب و چې امير عبدالرحمن د ګندمک تړون تائيد کړی او افغانستان يې د انګريز نامرئي اشغال ته پرې ايښی و. وروسته د امير حبيب الله خان د استبداد په وخت کې ديني مصلحينو او منورينو لکه مولانا محمد سرور واصف کندهاري، مولانا محی الدين افغان، مولوي عبدالرؤف خاکي دغه راز نورو دردمنو علماوو او مبارزينو د انګريز د نامرئي اشغال، درباري فساد او ټولنيز رکود په وړاندې د لومړني مشروطيت تر عنوان لاندې اصلاحي غورځنګ پيل کړ چې بالاخره د انګريز په مستقيمه قومنده د وخت حاکمانو په بې رحمۍ سرکوب کړ.

امیر امان الله خان چې له انګریز څخه د استقلال او د اسلامي اخوت او عدالت پر اساس د واکمنۍ جوړولو داعیه یې راپورته کړه، د افغانستان ټولو مبارزو علماء کرامو او مجاهدینو یې کلک ملاتړ وکړ. د هغه تر مشرۍ لاندې په درې جبهاتو کې له انګریز سره وجنګېدل او استقلال یې واخیست، خو وروسته چې امان الله خان بیرته له غربي افکارو متأثر شو او د ریفورم تر عنوان لاندې یې د غربي فرهنګ ترویج پیل کړ، نو څکه یې علماء او روحانیون هم مخالف شول. د امان الله خان په وړاندې د پکتیا د شهید ملا عبدالله پاڅون، دغه راز په کابل کې د شهید قاضي عبدالرحمن او نور المشائخ فضل عمر مجددي مخالفت او په پای کې د حبیب الله کلکاني په مشرۍ د لوی قیام پیل د امان الله خان د همدې انحراف پایله وه چې د نوموړي پروني ملاتړي یې ورته په مخالفینو واړول.

د نادر خان له ځینو سیاسي نیمګړتیاوو سره سره لویه هوښیاري دا وه چې د افغان ولس د دیني تشخص رعایت او تحفظ ته یې توجه درلوده. نوموړی د افغانستان په متأخرو پاچاهانو کې له متدینو اشخاصو ګڼل کیږي. همدا لامل و چې د نوموړي او د هغه د ورونو د واک په مرحله کې افغانستان د مسجد او تخت د ټکر بیلګه نه لري. اما کله چې یې زوی محمد ظاهر شاه او وراره محمد داود خان ته واک په لاس ورغی، هغوی یو ځل بیا زړې تجربې تکرار کړې. په هیواد کې یې د اروپایي لیبرالیزم د ترویج هڅه پیل کړه، کمونیستي افکارو ته یې د خپریدلو مخه ورکړه چې ورسره د هیواد د مؤمنو پرګنو او په خاص ډول مذهبي قشر د دیني غیرت احساس یو ځل بیا راوپارېد او د شاهي تخت په مقابل کې له مساجدو او منبرونو د اعتراض غږونه راپورته شول.

د ظاهر شاه د حکومت په منځنیو کلونو کې په کندهار ښار کې د سینما د جوړیدو په وړاندې د دیني عالمانو په مشرۍ ولسي-احتجاج چې په زبردستۍ وټکول شو، د همدې ټکر یوه بیلګه وه. د دموکراسۍ په لسیزه کې چې ګوندونو ته آزادي ورکړل شوه. د افغانستان علماوو د خدام الفرقان تنظیم، ګهیځ او ندای حق جریدو له لارې د کمونیزم او بې دینۍ پر خلاف مبارزه کوله، دغه وخت که څه هم چارواکو د بیان د ازادۍ خبره کوله، خو په واقعیت کې ظاهر شاهي سلطنت د اسلامپالو په نسبت

کمونیستانو ته میلان درلود، د کابل په پل خشتي مسجد کې د زرګونو علماء کرامو د سوله ییز احتجاج په وړاندې د چارواکو توهین آمیز چلند د دې مدعا ثبوت دی.

د داود خان د واکمنۍ په مهال کمونیستان تر هر وخت ډیر د اقتدار منصب ته ورلنډ شول. سردار داود خان که څه هم په وروستیو کې د کمونیستانو پر ضد عاجل اقدامات وکړل خو دغه وخت اوبه تر ورخ تېرې وې نو ځکه وربانديې کمونیستانو د یوې خونړۍ کودتا په ترڅ کې غلبه وکړه.

د کمونیستي انقلاب او شورویانو له یرغل سره د حق او باطل فکري ټکر په مخامخ مسلحانه برخورد واوښت او د کمونیزم پر ضد جهاد پیل شو چې دیني عالمانو په کې مهم او کلیدي نقش درلود.

د کمونیزم پر ضد د افغان ولس جهاد دوه هدفه درلودل، له هیواد څخه د شوروي یرغلګرو او کمونیستي مفکورې محو کول او په افغانستان کې د یو داسې واقعي اسلامي نظام جوړول چې د دې مؤمن او مجاهد ولس د تاریخي دیني هویت او تشخص نمایندګي وکړای شي.

د کمونیست رژیم له سقوط او د جهاد له بریا وروسته په جهاد بوخت دیني علماء یو ځل بیا خپل مسجد او مدرسې ته ستانه شول او د نظام جوړولو کار یې هغو مبارزینو ته پریښود چې ځانونه یې د عصر له غوښتنو آګاه او د نظام سازۍ په چارو پوه ګڼل. خو فاجعه دا پیښه شوه چې دغو د اقتدار شوقیانو د واک او تخت په هوس کې د جهاد ارمانونو ته شا کړه، حتی ډیرو خپل اسلامي او جهادي تشخص هم هیر کړ. دوی چې پخوا د اسلامي اخوت شعار بدرګه کاوه دغه وخت د نشنلستانو په شان قومي، ژبني او سمتي تعصباتو په مخه کړل. د مقدس جهاد ارمانونه، د یو نیم میلیون شهیدانو د وینو نتیجه او د مجاهد او مهاجر ولس هیلې یې ټولې هیرې کړې او یوازې د اقتدار لاسته راوړل یې مهم هدف وټاکه.

دا چې د افغانستان د اقتدار تخت یو او مدعیان یې ډېر وو نو ځکه خبره جګړې ته ورسیده، هغه د اسلامپالنې دعوه داران چې تر پرونه د کمونیزم پر ضد د یوه سنګر

ملګري ول اوس يې د خپل مؤمن او مجاهد ورور د وژلو لپاره له کمونيستانو سره ائتلافونه وکړل او د تنظيمي جګړو خونړۍ اور يې بل کړ.

د افغانستان ديني عالمانو په تنظيمي جګړو کې برخه نه درلوده، بلکې ځينو يې مسلسل هڅه کوله چې د جګړه مارانو تر منځه روغه جوړه وکړي. خو د قدرت پر سر جګړه کوونکو د هيچا خبر نه اوريده،تر دې چې نه يوازې د جهاد ثمره له خطر سره مخامخ شوه، بلکې ټول هيواد او د ملت راتلونکې له ګواښ سره مخامخ و. ښارونه لوټ او ملي شتمنۍ تالا ترغه شوې، ظلم، قتل و قتال او فساد اوج ته ورسيد، د هيواد د تجزيې نقشې تيارې شوې او هره ورځ د بلې په نسبت ولس د تباهۍ پر لور روان و.

که پخوا به د افغانستان مذهبي قشر يوازې د معنوي ارزښتونو د دفاع لپاره پاڅون کاوه دا ځل د ولس معنوي او مادي شتمنۍ دواړه له خطر سره مخامخ وې، نو بناء دا پر ديني، عقلي، تاريخي او هر لحاظ منطقي خبره وه چې د ولس د ديني تشخص ساتونکي (عالمان، مجاهدين، طالبان، منورين او نور مصلحين) يو ځل بيا د هيواد او خلکو د نجات لپاره صحنې ته راووځي. د ګړنګ پر ژۍ ولاړ افغانستان د سقوط له خطر څخه وژغوري او د مطلقې ګمراهۍ او زوال پر لار روان ولس د نيکمرغۍ، اتحاد او اسلامي واکمنۍ پر لور رهبري کړي.

د داسې يو نوراني پاڅون او ولسي غبرګون لپاره ټول تاريخي مقدمات بشپړ شوي وو. خو تقدير دغه کارنامه د ملا محمد عمر مجاهد په نوم ليکلې وه. د فساد، ګډوډۍ او هرج و مرج په اوج کې ملا محمد عمر مجاهد د الله تعالی د لارې د بلونکي او مجاهد په حيث د فساد د محو کولو غږ پورته کړ. د افغانستان تقريبا ټول علماء، طالبان او واقعي مجاهدين د نوموړي ملګري شول او د جهادي ارمانونو د خونديتوب، اسلامي حاکميت د احياء او د ولس د ديني تشخص د ساتنې مبارزه يې پيل کړه.

د لوړو مقدماتو په اساس د ملا محمد عمر مجاهد د قيام او اسلامي امارت په اړه هغه اساسي پوښتنه په ډېر واضح ډول ځوابيږي چې د ملا محمد عمر مجاهد د پاڅون وجودي فلسفه څه وه؟ نوموړی له کومې خوا د افغانستان سياسي صحنې ته راغی؟ او ولې راغی؟

دا چې د افغان مؤمن ولس د ایمان او وجدان له ژورو د را پاڅیدلي دغه نوراني پاڅون سرلاری څوک و؟ څرنګه یې دغه پاڅون رهبري کړ؟ د اسلام او مسلمانانو لپاره یې څه وکړل او په وړاندې یې نړیوالو څه غبرګون وښود؟ راتلونکی متن د همدې او ډیرو نورو اړوندو پوښتنو په ځواب کې درسره مرسته کوي.

*****

# لومړی فصل

## له زیږیدو تر ځوانۍ

**زیږیدنه**

ملا محمد عمر مجاهد په ۱۳۷۹هجري قمري کال چې لـه ۱۹۶۰ میلادي کال سره سمون خوري د افغانستان په جنوب کې د کندهار ولایت د خاکریز پـه ولسوالۍ کې دنیا ته راغی.

**د زیږیدو سیمه**

کندهار ولایت د افغانستان په جنوب کې واقع دی چې مرکز یې (کندهار ښار) دی او د افغانستان دوهم تر ټولو ستر ښار بلل کیږي. کندهار په سیاسي لحاظ د افغانستان یـوه مهمه او مردخیزه سیمه ګڼل کیږي. د معاصر افغانستان مؤسس احمدشاه بابا د خپلې واکمنۍ اساس په همدې ولایت کې ایښی و او له همدې ځایه یې د هند، ماوراء النهر او فارس پرخوا لښکرکښۍ کولې. تر هغه وړاندې د میرویس نیکه په مشـري د پاخون مرکز هم کندهار و چې په پایله کې یې لـه افغانستانه د صفوي یرغل ټغر ټـول او د افغانانو مستقل دولت رامنځته شو. د صفوي اشغال د محو کولو او خپلواکۍ د اخیستلو له امله افغانان میرویس خان هوتک خپل ویاړمن ملي مشـر بولي او د ( میرویس نیکه) په احترامانه نوم یې یادوي. دغه راز هوتکي دولت چې د صفویانو له زوال وروسته یې ځوکاله په افغانستان او ایران سلطه درلوده د اسلامي تاریخ یو ویاړمن باب ګڼل کیږي.

کندهار د معاصر افغانستان لومړنۍ پلازمینه وه چې وروسته د تیمورشاه پـه دوره کې پایتخت کابل ته انتقال شو.

د کندهار ښار شمال ته پـه پنځوس کیلومترۍ کې د خاکریز ولسوالي پرتـه ده. مـلا محمد عمرمجاهد د همدې ولسوالۍ په (چاه همت) قریه کې دنیا تـه سترګې وغړولې

نوموړی د خپل پلار او مور دریم اولاد و، تر ده دوې مشرانې خویندې او یو کشر ورور یې په ماشوموالي وفات شوي دي.

**ټبر او کورنۍ**

ملا محمد عمرمجاهد د پښتنو د هوتکو د قوم له تومزی ښاخ څخه دی. هوتک د پښتنو له مشهورو قبیلو څخه دي چې د میشت اصلي سیمه یې د افغانستان په جنوب کې د زابل ولایت دی.

څرنگه چې پښتانه بعضی وختونه د بیلابیلو اقتصادي او اجتماعي دلائلو له امله له خپلو اصلي مېنو نورو ځایونو ته انتقال شوي دي، د ملا محمد عمر کورنۍ هم ډېر کلونه وړاندې د زابل ولایت څخه د کندهار خاکریز ولسوالۍ ته انتقال شوې. د ملا محمد عمر مجاهد پلار مولوي غلام نبي صاحب د خاکریز ولسوالۍ د ناصرو په کلي کې دنیا ته راغلی. د ملا محمد عمر مجاهد نیکه مولوي محمد رسول صاحب، غور نیکه یې مولوي محمد ایازصاحب او له هغه پورته آباء او اجداد یې ټول د دیني علومو پوهان، ملا امامان او مدرسین وو، چې د دیني علومو زده کړه، تعلیم، تدریس او امامت یې د ژوند اساسي مشغله وه. د ملا محمد عمر مجاهد پلار مولوي غلام نبي صاحب د خپل پلار مشر زوی و چې د مولوي محمد انورصاحب، ملا عبد الولي صاحب،ملا محمد حنفیا صاحب او مولوي محمد جمعه صاحب په نومونو یې څلور نور کشران وروڼه درلودل. د دوی کورنۍ د افغانستان د اکثریت عامو اوسیدونکو په څیر غریبانه ژوند درلود. په کندهار کې یې کوم معلوم جایداد، ځمکه او مالداري نه درلوده، د نورو علماء کرامو او طالبانو په شان په خپل غریبانه ژوند قانع وو او د دنیا او مال د جمع کولو په ځای یې ډېره توجه د علم او دیني خدمت خواته وه.

ملا محمد عمر مجاهد په همدې علمي او متدین خاندان کې په ۱۳۷۹هجري قمري کال کې (چې له ۱۳۳۸ هجري شمسي او ۱۹۶۰میلادي کال سره برابر دی) وزیږید، مور یې په قوم ناصره او د خاکریز ولسوالۍ د ناصرو د کلي یوه متدینه او عبادت گذاره میرمن وه. ملا محمد عمر مجاهد ایله د دوو کلونو و چې پلار یې د کندهار ښار ته نږدې د ډنډ ولسوالۍ په نوده کلي کې د یوه مسجد امام شو او خپل کور یې له خاکریز

ځخه نودې کلي ته را انتقال کړ. ملا محمد عمرمجاهد د ماشومتوب د عمر درې کلونه همدلته د پلار تر سیوري لاندې تیر کړل خو لا ماشوم و چې ژوند یې له ستونزو او درنو مصائبو سره مخامخ شو.

## د خویندو، کشري ورور او پلار وفات

د ملا محمد عمر مجاهد والده شریفه (چې اوس هم ژوندۍ ده)حکایت کوي، چې له خاکریز نه کله د کندهار د ډنډ ولسوالۍ (نوده) کلي ته لاړو، نو دلته د ملاصاحب پلار امامت کاوه او له خپلو اولادونو سره یې غریبانه ژوند درلود. د دوی کورنۍ له پلار او مور، دوو لوڼو او دوو زامنو څخه عبارت وه. د ملا محمد عمر دوه خویندې تر ده مشرانې وې او ورور یې چې شیرعلي نومیده تر ده کشر و.

ملا محمد عمر په خپلو ماشومو خویندو ډېر ګران و او دده پالنه به یې کوله، خو یو وخت په سیمه کې د خپرو شویو مرضونو له وجې یې خویندې یو په بل پسې وفات شوې. چې دا د څلور کلن محمد عمر په ژوند کې لومړنی او خورا درنه ابتلاء وه. مور یې حکایت کوي چې ملا محمد عمر د خپلو خویندو په فراق ډېر ځوریده ځکه چې د ماشومتوب په دنیا کې تنها شوی و.

خو تر دې پیښې یو کال وروسته چې په ده کومه ابتلاء راغله هغه خورا درنه او سخته وه، د ملاصاحب مور د دې واقعې حکایت داسې کوي.

ملا محمد عمر د پنځو کلونو په عمر و چې پلار یې سخت مریض شو. د ملا صاحب[1] تره مولوي محمد انور صاحب دغه وخت طالب و او په کندهار ښار کې یې درسونه ویل، په دې ورځو کې د ملاصاحب کشر ورور چې د غیرې ماشوم و هم

---

(۱) په کتاب کې ډېر ځله له ملا محمد عمر مجاهد څخه یوازې په ( ملا صاحب) تعبیر شوی دی. ملا صاحب په افغاني ټولنه کې یو احترامانه نوم دی. چې هغه دیني عالم ته ویل کیږي چې تعلیمي سلسله یې تکمیل کړې نه وي. امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد هم د خپلو ملګرو تر منځ په همدې لقب شهرت درلود.

مریض و. د ملاصاحب تره مولوي محمد انور راغی، د ملاصاحب پلار یې د علاج لپاره کندهار ښار ته بوت او د کور سرپرستي یې د ملاصاحب بل تره ملا محمد حنفیا ته چې د ملا محمد عمر د مور رضاعي ورور هم کیده، پریښوده.

څو ورځې بعد د ملا صاحب د کشر ورور شیرعلي مرض زیات شو، مور او تره یې د علاج لپاره د کندهار ښار خواته روان کړ، دوی پیاده روان وو خو چې د میربازار سیمې ته ورسیدل، د ماشوم بدن بې حسه شو او سر یې د مور پـه اوږه ولګـاوه، دوی چې د ماشوم دا حالت ولید بیرته کور ته راوګرځیدل، کور ته په رسیدو یي لیدل چې ماشوم وفات شوی دی. په دې ډول پنځه کلن محمد عمر یو مخ تنها شو.

د ملا صاحب تره د ماشوم له تدفین وروسته کندهار ښار ته لاړ تر څو د ملاصاحب د پلار پوښتنه وکړي. هلته چې ورغی هغه لا هم مریض و خو له ده څخه یې د کوچني ماشوم پوښتنه کوله، ده یې له وفاته خبر نکړ بلکې د روغتیا ډاډ یي ورکړ،د ملاصاحب پلار چې په ښار کې دخپل طالب ورورسره په حجره کي اوسیده څو ورځې بعد یې مرض سخت او ورپسې وفات شو. وروڼو او نورو طالبانو یې تکفین او جنازه وکړه او د کندهار ښار د طالبانو په نامه مشهوره هدیره کې یې خاورو ته وسپاره.

د ملاصاحب تره ملا محمد حنفیا د خپل وفات شوي ورور کـالي او پـاتې شیان پـه څادره کې غوټه کړل، کور ته په رسیدو یې دا زړه ونکړای شو چې د دې درانه مصیبت خبر د ملا محمد عمر مور ته واوروي نو ځکه یې یوازې دغه غوټـه د کـور پـه دروازه کې کیښوده او لاړ. د ملاصاحب مور فکر کاوه چې شاید خاوند به یې روغ شوی وي او لږ وروسته به راځي خو وروسته یې چې غوټـه خلاصه کـړه ورمعلومـه شـوه چـې د ملاصاحب د پلار وروستي اغوستي کالي، لنګوټه او صدرۍ په کې تړلي دي نو په دې پوه شوه چې خاوند یې له دنیا رحلت کړی دی.

په دې ډول له ټولې کورنۍ څخه یوازې مور او یو زوی یې ملا محمد عمر د یتیمتوب او بې سرپرستۍ له درنو غمونو او مصائبو سره پاته شول. وروسته د مصلحت پـه اساس د ملا محمدعمر مجاهد د والدې شریفې نکاح د ده له تره او پالونکي مولـوي محمـد انورصاحب سره وشوه.

### د تره لخوا تربیت

وړاندې وویل شول چې د ملامحمد عمر مجاهد کورنی له پخوا څخه د علم او دینداری خاندان وو. د نوموړي ترونه او نور نږدې خپلوان زیاتره د ددیني علومو عالمان وو چې د امامت او تدریس په چارو بوخت وو. دوی نه یوازې په خپل اصلي میشت ځای (خاکریز ولسوالی) کې د امامت او تدریس وظیفه ترسره کوله بلکې د کندهار په نورو شاوخوا سیمو کې یې هم وخت په وخت دغه سپیڅلې وظیفه سرته رسوله.

لکه څنګه چې د ملا محمد عمر پلار د امامت اوتدریس د وظیفې د پاللو لپاره له خاکریز څخه ډنډ ولسوالی ته تللی و، ترونه یې مولوي محمد انور او مولوي محمد جمعه د کندهار په شمال کې د روزګان ولایت دهراود ولسوالی ته د امامت او تدریس لپاره لاړل او خپل یتیم وراره یې له خپلې مورسره یوځای له ځان سره دهراود ولسوالی ته بوتلل. کوچني محمد عمر له همدې ځایه د خپل تره تر سیوري لاندې ژوند پیل کړ او د کفالت او روزنې چارې یې د عالم تره مولوي محمد انور صاحب په غاړه وې،، ملا محمد عمر مجاهد د ځوانی تر وخته د روزګان په دهراود کې واوسېد.

### د ماشومتوب د ژوند چاپېریال

ملا محمد عمر مجاهد په پنځه کلنی د روزګان دهراود ته لاړ او د خپلو ترونو مولوي محمد انور او مولوي محمد جمعه تر سیوري لاندې یې ژوند پیل کړ. د نوموړي ترونه دواړه د دیني علومو پوهان یا په دودیزه اصطلاح ملایان وو. ملا یا مولوي د دیني عالم مرادفه اصطلاح ده خو په افغانستان کې ټولنیز نقش او اغیز ته په پام سره د دیني عالمانو یا ملایانو نفوذ د نورې نړۍ په نسبت په مراتبو زیات دی.

په افغاني ټولنه کې ملا یا عالم یوازې د امامت او تدریس دنده نه ترسره کوي، بلکې په دیني او ډیری اجتماعي امورو کې د یوه معتبر مرجع حیثیت لري چې د ټولنې د رهبری، اصلاح، د منازعو د حل و فصل، له بې لاریو او ګمراهیو څخه د خلکو د ساتنې، ددیني شعائرو د ژوندي ساتلو او حتی د حکومت او سیاسي مرجعیت د تنبیه او اصلاح دنده هم د دیني عالمانو له مسؤلیتونو ګڼل کیږي.

په افغاني ټولنه کې د ديني عالم يا ملا اساسي دنده د مسجد امامت دی. ډېری مساجد په خپله احاطه کې يو يا تر يوه زيات اطاقونه هم لري چې درس يا دائره ورته وايي او د ديني علومو طالبان په کې اوسي. شايد له مسجد سره يـو ځـای د درسـګاه دغـه دود د صدر اسلام له نبوي مسجد څخه اخيستل شوی وي چې په څنګ کې يې د صـفې پـه نوم د اوسيدو ځانګړی ځای درلود او هغه صحابه کرام (رضـی اللـه عـنهم) بـه پـه کـې اوسيدل چې له لرې سيمو به د ديني علم او شـرعي احکـامو د زده کـړې لپـاره مـديني منورې ته راغلي وو.

څو لسيزې وړاندې چې په افغانستان کې منظم ديني مدارس لږ وو او د حکومتونو لخوا هم ديني زده کړو ته کومه توجه نه کيدله، د هيواد په لراوبر کـې د ديـنـي علومـو نـږدې ټولو طالبانو په همدې کليوالي مدرسو ( حجرو) کې زده کړې کـولې. مـلا او طالـب يـا استاد او شاګرد چې د ټولنې په زړه کې اوسيدل، پنځه وخته له عامو خلکو سره پـه يـوه صف کې دريدل او د عام ولس په هر غم او ښادي کې يې ځان شـريک بالـه د وخـت په تيريدو يې له ټولنې سره ځانګړی نه شليدونکی پيوند جوړ شوی و چې دغـه تـړون تراوسه پاتې دی.

ملا محمد عمر مجاهد د ولس او علماوو د همدې صميمانه تړون په کليوالي چاپيريال کې را ستر شو، د لارښودو استادانو او طالبانو څخه يې د ژوند لـومړني اداب زده کـړل. راسخ ايمان، پاکې عقيدې، ديانت او سوچه مسلمانی يې په زړه کـې ريښـې وکـړې. د ولس په منځ کې اوسيدو ورته سـوچه عـادات، ژبـه، غيـرت، ميلمـه پالنـه، خواخـوږي، شـرافت او د افغانولۍ نور مشخصات تلقين کړل. د يتيمتوب او غريبانه ژوند سختيو يې روح او بدن صيقل او محکم کړل او د ژوند په اوږدو کې د سختو آزمونونو زغملـو تـه يې اماده کړ.

د دهراود هغه سيمه چې ملا محمد عمر مجاهد په کې له ۵ کلنی بيا تر يوويشت کلنـی پورې د خپل عمر مهم او شخصيت ساز کلونه تير کـړي يـوه کليوالـه سـيمه ده. همـدا لامل و چې نوموړی د يوه سوچه مؤمن افغان په حيث را ستر شو او نه ماتيدونکی ديني

صلابت يې د فطرت برخه وګرځيد چې بيا د ژوند تر پايه لـه هماغـه راسـخې عقيـدې، ساده ژوند، صميمانه چلند، ساده لباس او سوچه عاداتو سره پاته شو

نوموړي د قريبانو په قول ملا محمد عمر په کوچنيوالي خـاموش مـزاج درلـود خـو پـه عين حال کې متحرک و او خپل کارونه يې په جديت ترسره کول. له ماشومتوبه يـې دا ځانګړنه درلوده چې کار او فعاليت يې د خبرو پـه نسبت ډيـر و. صـداقت او اخـلاص چې د نوموړي مثالي صفتونه ياديږي له ماشومتوبه يې درلـود. دينـي چـارو پـه خـاص ډول لمانځه ته يې له ډير ماشومتوبه بشپړه توجه درلوده او حتی په لمانځه کـې خـو لـه هماغه پيله دومره جدي و چې که به په هرکار مصروف و خو چې د لمانځه او جماعت وخت به شو کار يې په ځای پريښود او مسجد ته يې ځان رساوه. نوموړي پـه ډيـر کـم عمر د خپل مسجد په دائره کې ژوند پيل کړ او د ديني علومو زده کړو ته يې ملا وتړله، دا چې د خپل کور مشـر ماشوم و نو د کور په کارونو کې يې هم برخه اخيسته خو ډيره مشغولا يې په درس او سبقونو وه.

هغه محيطي عوامل چې د ماشومتوب او ځوانۍ په وخت کـې يـې د مـلا محمـد عمـر مجاهد په ژوند اغيز درلود ټول داسې څه وو چې په ده کې يې مثبت او نيک خصلتونه را ژوندي کول او روزل. نوموړی د يوه صالح پلار او ديندارې مور زوی و چې لـه ښـه نسب سره يې تعلق درلود. د کور چاپيريال يې د علم، دينداری او عبادت چاپيريـال و. ژوند يې غريبانه و او هميشه يې له داسې روزي تغذيه کولـه چـې حلالـه او لـه شـبهاتو څخه پاکه وه. له کور بهر يې د ماشومتوب او ځـوانۍ د وخـت چاپيريـال د مدرسـې او مسجد ماحول و. چې د ټولنې تـر ټولـو متـدين قشـر طالـب العلمان او لمـونځ ګـذاره کليوال په کې اوسيدل. ملا محمد عمر مجاهد د علم، ذکر، عبادت، کتـاب او تـدريس په چاپيريال کې وزيږيد، په همدې چاپيريال کې يې خاپوړې وکـړې، د ژونـد لـومړنی الفباء يې زده کړه او په همدې ماحول کې د ځوانۍ ترعمره ورسيد.

## ديني زده کړې

په افغانستان کې مروج د ديني زده کړو نصاب د هغه تعليمي نظم يـو ډول دی چـې لـه دوهمې هجري پيړۍ را هيسې د پخواني خراسان( اوسني افغانستان) په تعليمي مراکـزو

کې دود شوی.دغه تعلیمي نظام چې وخت په وخت په کې لازم تغیرات راوستل شوي د هند، پاکستان او افغانستان په مدارسو کې اوس هم تدریسیږي چې د اسلامي نړۍ په سطحه د دیني تعلیماتو یو مهم او تاثیرگذاره تدریسي سیستم بلل کیږي.

په دې تعلیمي نظام کې د دینې زده کړو طالب له ماشومتوبه عربي الفبا او د مفرداتو زده کړه پیلوي، ورپسې د قرانکریم لوست زده کوي او بیا د لمانځه او نورو ضروري عباداتو اړوند فقهي احکام او لومړني عقائد زده کوي. له هغه وروسته حنفي فقه، عقائد، عربي صرف او نحو، فارسي او عربي ادب او نور ضروري علوم زده کوي. وروسته په دې سلسله کې اصول الفقه، معاني، بدیع، بیان، عروض، منطق، هیئت، علم التفسیر او نور علوم هم ور اضافه کیږي او د احادیثو د صحاح سته په لوست سره دغه تعلیمي سلسله پای ته رسیږي.

ملا محمدعمر مجاهد دینې زده کړې له پنځه کلنۍ څخه له خپل عالم تره څخه پیل کړې، لومړني ضروري کتابونه یې په خپل کور او مسجد کې ولوستل، په دهراود کې د دوی د اوسیدو کلی شهرکهنه بولي. شهرکهنه د دهراود ولسوالۍ پخوانی مرکز دی چې د ولسوالۍ مقام او محلي حکومتي ادارات هم پخوا همدلته وو. د ظاهر شاه د حکومت په منځنیو کلونو کې په دهراود کې د حکومتي پلان له مخې نوی ښار جوړ شو او له شهرکهنه څخه ورته حکومتي ادارات رانقل شول چې تراوسه د ولسوالۍ مرکز دی.

د ولسوالۍ په پخواني مرکز شهرکهنه کې یوه مدرسه وه چې د طالبانو د ډیروالي له امله په دهراود کې په (لویه دائره) مشهوره وه. ملا محمد عمر مجاهد په اته کلنۍ کې همدې مدرسې ته داخل شو چې د کمونیستانو او شوروي یرغلگرو په خلاف د جهاد تر وخته یې په همدې مدرسه کې زده کړو ته دوام ورکړ.

له ملا صاحب نه که څه هم د شوروي ضد جهاد د اضطراري حالاتو له امله د زده کړو سلسله نیمگړې پاته شوه. خو تر دې مهاله یې کافي اندازه دیني علوم زده کړل. په عربي ژبه د مطالعې او او استفادې استعداد یې وموند چې وروسته به یې ډېر وخت تفاسیر او نور دیني معلوماتي کتابونه مطالعه کول. نوموړي د کمونیزم ضد جهاد له بریا

وروسته د کندهار په سنګ حصار سیمه کې مدرسه جوړه کړه چې ده په کې په یوه وخت د تعلیم او تعلم دواړه سلسلې تعقیبولې. خو د هرج او مرج او فساد په وړاندې په قیام سره یې د زده کړو دغه دوهم پړاو هم قطع شو. ملا صاحب د علم ژور شوق درلود. مدارسو، علماء کرامو او طالب العلمانو ته یې خورا زیات قلبي احترام درلود او همیشه یې د مدارسو او علمي خدماتو د پراختیا هڅه کوله.

*****

# دوهم فصل

## د کمونیزم پرخلاف جهاد

### افغانستان او د کمونیزم فتنه

افغانستان د امپراطوریو قبرستان او د تاړاکگرو معبر بلل کیږي. د یوې څیړنې له مخې د دې خطې د پنځه زره کلن تاریخ تر نیمایي زیات کلونه په نارامیو او بحرانونو کې تېر شوي دي. د افغانستان په معاصر تاریخ کې د سوليز ثبات او استقرار تر ټولو اوږده موده د شلمې پیړۍ منځنۍ لسیزې وې. د آل یحی (نادرخان، ظاهرشاه او داود خان) د پنځوس کلنې واکمنۍ په مهال افغانستان له استقرار څخه برخمن و. او د همدې مودې آخري کلونه د ملا محمد عمر مجاهد د ماشومتوب او نوې ځوانۍ وخت و.

د سړې جګړې په دې کلونو کې افغانستان چې له ډېره وخته یې په نړیواله کچه د ناپېلتوب دریځ ساتلی و، د وخت د حاکمانو د بېغورۍ او یا هم غلطو پالیسیو له امله د شمالي کمونیست ګاونډي شوروي اتحاد خواته ورمات شو. شورويانو د دوستۍ او مرستو په لفافه کې افغانستان ته د کمونیزم دهري مفکوره راوړه. د معارف، مطبوعاتو او اردو په شمول په بیلابیلو بنسټونو کې کمونیستانو نفوذ وکړ. افغاني کمونیستان چې د شوروي اتحاد بشپړ ملاتړ ورسره و د وخت حاکمانو یې په وړاندې د تسامح دریځ غوره کړی و او حکومت یوازې د هغو اسلامپالو ځپلو ته کار وایه چې افغان ولس یې د کمونیزم له خطراتو خبراوه.

په دې مرحله کې د کمونیزم په وړاندې مبارزه د دیني علماء کرامو او ځینو پوهنتوني اسلامپالو له خوا پر مخ وړل کیدله. کلیوالو ملایانو، مدرسینو او خطیبانو که څه هم یو سراسري او منظم تشکیل یې نه درلود، وخت په وخت یې د دعوتي غونډو، تظاهراتو او لیکنیزو تبلیغاتو په توسط ولس د کمونیزم له خطرونو خبراوه. هغه وخت چې ملا محمد عمر مجاهد لس کلن و او په دهراود کې یې دیني کتابونه لوستل، د افغانستان ملایانو د کابل په پل خشتي مسجد کې یوه ستره او هیواد شموله اجتماع رابللې وه تر

څو د کمونیستي مفکورې او نورو انحرافاتو د مخنیوي په مقصد په حکومت فشار واچوي.

د پل خشتي د جامع مسجد اجتماع چې د ۱۳۴۹ لمریز کال په جوزا میاشت کې رابلل شوې وه او څو اونۍ یې دوام وکړ د افغانستان له ټولو ولایاتو په کې سلګونو ملایانو ګډون کړی وو. په تأسف باید ووایو چې د وخت حاکمانو په ځای د دې چې د سلګونو علماء کرامو د سوله ییز احتجاج درنښت وساتي او ارزښتمنو دیني مشورو او غوښتنو ته یې لبیک ووایي، پرته له دلیله یې د دغو مصلحو علماء کرامو په خلاف له زور او کوتک څخه استفاده وکړه، علماء کرام یې په برقي ډنډو له وهلو او بندي کولو وروسته د هیواد بیلابیلو لرې پرتو سیمو ته وشړل تر څو د بل ځل لپاره سره پیدا نه کړای شي.

د پل خشتي له پیښې څلور کاله وروسته د ظاهرشاه د تره زوی داود خان د خپلو کمونیستو ملاتړو په مرسته ظاهر شاه له واکه لرې کړ او خپله یې ځان د تش په نامه جمهوریت مشر وټاکه. د داود خان په واکمن کیدلو سره افغاني کمونیستان یو ګام نور هم خپل هدف ته ورنږدې شول، دا ځل کمونیستانو په حکومت کې رسما ځای وموند او له فرصت نه په استفاده یې د خپلو مخالفینو(علماء کرامو او نورو اسلامپالو) د ځپلو کار پیل کړ. د داود خان د واکمنۍ لومړني کلونه د افغانستان د دیني قشر لپاره تر ټولو سخت او له خطره ډک کلونه وو، ډیری دیني مبارزین له هیواده وتلو اوګاونډیوهیوادونو ته په هجرت اړ شول او په سیاسي اصلاحي فعالیت یې بشپړ بندیز ولګید.

کله چې کمونیستانو د داود خان د واکمنۍ په مهال په حکومت کې دننه نفوذ پراخ او پښې ټینګې کړې نو یې د داود خان د پرځولو او بشپړ کمونیستي حکومت د تأسیس عملیه پیل کړه، که څه هم داود خان د خپلې واکمنۍ په وروستیو کې د کمونیزم په خطر پوه شو او د کمونیستانو د ځپلو لپاره یې ځیني عاجل اقدامات هم وکړل خو دا وخت نور اوبه له ورخه تیرې وې. کمونیستانو د ۱۳۵۷ لمریز کال د ثور په اوومه نیټه د

يوې خونړۍ کودتـا پـه توسـط د داود خـان رژيـم ونـړاوه او پـه افغانسـتان کـې يـې د مارکسيزم ـ لنينزم په فلسفه ولاړ يو کمونيستي رژيـم اعلان کړ.

## له مدرسې د جهادي سنگر پر لور

د ملا محمد عمر مجاهد د ميشت سيمه (دهراود ولسوالي) د افغانستان يوه له لرې پرتـو او غرنيو سيمو شميرل کيږي. پخوا چې د اړيکو وسائل ډېر نه وو خلک به په ډېر ځنډ له حکومتي تغيراتو او سياسي پيښو خبريدل. له کمونيستي انقـلاب وروسـته پـه ښـاري سيمو او يا ښار ته نږدې ولسواليو کې ډېر ژر جهادي خوځښت پيل شـو. خـو پـه لـرې پرتو سيمو کې د کمونيزم په خلاف د جهادي قيام پيل يو څه وخت واخيست.

د ثور له کودتا يو کال وروسته د ۱۳۵۸ لمريز کال په پسرلي کې د روزگـان پـه دهـراود ولسوالۍ کې هم جهادي خوځښت شـروع شـو. د سيمي دينـي پوهـانو، مخـورو او د کمونيزم له خطر څخه آگاه اشخاصو ولس د کمونيستي فتنې له خطراتـو خـبر کـړ او د نوي دهري رژيم په خلاف يې پاڅون ته وهڅـاوه. پـه دهـراود ولسـوالۍ کـې جهـادي خوځښت زور واخيست، مجاهدينو به د رژيم په ملاتـړو کمونيسـتانو بريدونـه کـول، د هغوی مراکز به يې تر بريدونو لاندې نيول او زيانونه به يې وراړول.

د همدې کال د جدي په مياشت کې د کمونيزم ضد جهاد هغه وخت نور هـم پـراخ او سرتاسري شو کله چې د شوروي اتحاد يرغلگرو ځواکونو پـه افغانسـتان پـوځي يرغـل وکړ او خپل گوډاگی ببرک کارمل يې د واک په گدۍ کيناوه. دا وخت نو افغـان ولـس په منظم او قاطعانه ډول مقدس جهاد ته ملـې رابـډوهلې او د جهـادي عمليـاتو د نظـم لپاره د جبهو، گروپونو او محاذونو د تشکيل لړۍ پيل شوه.

د ۱۳۵۸ لمريز کال په وروستيو کې په دهراود کې د همدې سيمې د يـوه اوسـيدونکي مجاهد (قومندان ملا ميرحمزه) لخوا جهادي جبهه تاسيس شوه چې مرکز يې د دهراود په مياندو سيمه کې و او اکثره پـه کـې کليـوال طالبـان راټـول شـوي وو. دې جبهـې پـه لومړيو کې له کوم تنظيم سره رسميت نه درلود. هر مجاهد له ځان سره ټوپـک راوړ او

یا بې هم د چندې او پور په پیسو څو میله وسلې پیدا کړې تر څو د شوروي د ځواکمن پوځ مقابله ورباندې وکړي.

د دې جبهې له تأسیس څو اونۍ وروسته د ملا معاذالله اخند په نوم یو ځوان طالب د جهاد په نیت له جبهې سره وصل شو. ملا معاذ الله د دهراود د شینغولي د کلي اوسیدونکی و، د دوی کلی د ملا محمد عمر مجاهد له کلي (شهر کهنه) سره څنګ په څنګ پروت و. ملا معاذ الله او ملا محمد عمر آخند (چې دغه وخت دواړو د شهرکهنه په مدرسه کې سبقونه ویل) سره همځولي وو. دوی د کوچنیوالي له وخته لا سره ملګري وو او څو کاله په کتابونو کې سره همدرسه پاته شوي وو. د همدې صمیمانه ملګرتیا له مخې څو اونۍ وروسته ملا معاذ الله خپل ملګری ملا محمد عمر مجاهد چې دا وخت اتلس کلن ځوان و هم له ځان سره جهادي جبهې ته راووست. په دې ډول ملا محمد عمر مجاهد چې تردې وخته د یوې کلیوالې مدرسې طالب و د جهادي سنګر مجاهد شو. همدا د نوموړي د جهادي ژوند سرآغاز و چې بیا د عمر تر پایه د یوه فعال او نه ماتیدونکي مجاهد په حیث د اعلاء کلمة الله او د کفر او فساد د ټکولو مبارزې (جهاد) ته ژمن پاته شو.

## د جهادي ژوند لومړني کلونه او تېږي کیدل

ملا محمد عمر مجاهد په دهراود کې د طالبانو په جبهه کې شامل شو. هغه وخت مجاهدین د وسلو او امکاناتو له اړخه له ډیرو مشکلاتو سره مخامخ وو. ددوی جبهې یوازې یو میل اتوماتیکه وسله (کلاشینکوف) درلود چې هغه د جبهې له مشر سره و، نور نو د دوی جهادي ابزار له ښکاري ټوپک، ګلتي او نورو یو ټکه وسلو څخه عبارت وو. دوی به جهادي عملیات د ولسوالۍ په مرکز کول چې په شاوخوا یې د کمونیست رژیم پوځي تاسیسات او امنیتي پوستې را ګرځیدلې وې. وروسته چې داخلي کمونیستانو او شوروي یرغلګرو په اطرافي سیمو او ولسوالیو باندې پوځي یرغلونه پیل کړل او د مجاهدینو د ځپلو لپاره یې قواوې را ایستلې د دهراود مجاهدینو به د روزګان د مرکز لخوا د راغلي لارې په اوږدو کې د کوتل مورچې په غرنۍ سیمه کې د دښمن قواوو ته کمینونه نیول او بیا به یې ورباندې ناڅاپي بریدونه کول.

کوتل مورچه سیمه چې د روزګان د مرکز او دهراود ولسوالۍ تر منځ د الحاق نقطه ده د غرني جوړښت، شېلو، کمرونو او پټن ځایونو د درلودو له امله د مجاهدینو لپاره مناسب کمین ځای و. ملا محمد عمر مجاهد په دې سیمه کې د شورویانو او داخلي کمونیستانو په وړاندې په ډېرو مخامخ جګړو کې شرکت وکړ او په جهادي بهیر کې لومړی ځل ټپي هم هغه وخت شو کله چې د کوتل مورچې په سیمه کې له یوې سختې جګړې وروسته یې د شوروي یرغلګرو د هاوان مرمۍ له خوا سره ولګېده.

ملا محمد عمر مجاهد چې د ځواکمن بدني جوړښت او په جګړو کې د استقامت او ثبات له امله یې ډېر ژر د خپلو ملګرو تر منځ د یوه مخکښ مجاهد نوم خپل کړ، په دهراود ولسوالۍ کې یې په ټولو جهادي بریدونو کې ګډون کاوه. دهراود ولسوالۍ ته په کال کې دوه یا درې ځله د داخلي او خارجي دښمنانو قواوې راتلې چې خپلو محاصره عسکرو ته به یې اکمالات کول او یا به یې هم په کلیوالو ساحو کې د مجاهدینو د ځپلو پلان درلود، ملا محمد عمر مجاهد له دې قواوو سره د جګړو همیشنی او مخکښ برخوال و.

د ۱۳۶۱ لمریز کال په وروستیو کې د دهراود مجاهدینو د ولسوالۍ په مرکز د پریکنده عملیاتو فیصله وکړه. د دهراود ولسوالۍ مرکز په روزګان کې د رژیم یو له مهمو مراکزو ګڼل کېده، دلته په ملکي اداري سربیره ددښمن لوی تعداد پوځي قوت هم پروت و. د ولسوالۍ په شاوخوا د امنیتي پوستو کمربند راګرځېدلی و چې د مجاهدینو د بریدونو په مخکې لوی خنډ و. د دهراود مجاهدینو د ولسوالۍ د فتحې په هدف د لویو عملیاتو لپاره له ګاونډي ولایت هلمند څخه هم مرسته وغوښته چې د هلمند ستر مجاهد ملا محمد نسیم اخندزاده ورته لسګونه مجاهدین د کومک لپاره راولیږل. په ولسوالۍ له برید وړاندې مجاهدینو پوځي تشکیلات او تقسیمات وکړل. دا وخت چې د ملا محمد عمر مجاهد د جبهې قومندان ملا میرحمزه کندهار ته تللی و د جګړې په مهال د دوی د ملګرو مشري ملا محمد عمر مجاهد ته وسپارل شوه، د عملیاتي اړخونو د تقسیم په مهال ملامحمد عمر مجاهد او ملګرو ته یې د ولسوالۍ شمال اړخ ته د دښمن

یوه پخه مورچه په نښه شوه چې د مجاهدینو تر منځ یې په (سره خزه) شهرت درلود. د دښمن دغه مورچه په یوه غونډۍ پرته وه او پرې ورختل له خطر څخه خالي نه و.

د عملیاتو له پیل سره ملامحمد عمر مجاهد او ملګرو یې هم په دښمن عملیات پیل کړل، دوی د مسلسل پرمختګ په مټ وتوانیدل چې دښمن شاتګ ته اړ کړي، ملا محمد عمر مجاهد او ملګری یې ملا عبدالقیوم له خزې څخه د دښمن د تیښتې په تعقیب یاد مورچل ته وروختل خو نور پرمختګ یې ځکه ونکړای شو چې د دښمن په متقابلو ډزو دواړه ټپیان شول. ملا محمد عمر مجاهد د دښمن د کلاشینکوف په مرمۍ په ورانه کې ولګېد او له وړاندې تګ څخه پاتې شو. ډاکټر امیر خانجان چې په دهراود کې یې د ټپي مجاهدینو علاج کاوه د ملا محمد عمر مجاهد زخم یې پانسمان کړ، د ملا محمد عمر مجاهد زخم که څه هم ژور و خو د پښې هډوکي ته یې زیان نه و رسیدلی نوموړی بیا کندهار ته د تلو تر وخته د دې زخم له امله نګوښېده تر دې چې د وخت په تیریدو یو مخ جوړ شو.

د دهراود جبهه چې ملا محمد عمر مجاهد په کې جهاد کاوه د درې کلونو په تیریدو لا هم له کوم تنظیم سره رسمي نه وه، کندهار ته د ملا محمد عمر مجاهد له تګ وروسته یاده جبهه د مولوي محمد نبي محمدي له تنظیم (حرکت انقلاب اسلامي) سره ثبت شوه او د (جبهه طلباء) په نوم یې رسمیت پیدا کړ.

دا مهال اګر که په روزګان کې هم جهادي عملیات روان وو، خو د کمیت او کیفیت له اړخه د څنګلوري کندهار ولایت جهادي ډګر ډېر فعال و. که د روزګان په دهراود کې له شورویانو سره مخامخ جنګونه په کال کې یوازې څو ځله پیښیدل په کندهار کې بیا له شورویانو سره مخامخ جنګ د ورځې او اونۍ خبره وه. مجاهدینو په لویه لاره د شورویانو کتارونه په نښه کول او هره ورځ به یې درانه تلفات ور اړول.د دهراود یو شمیر مجاهدینو چې په خپله سیمه کې یې په جهادي عملیاتو تنده نه خړوبېده د جهاد په نیت یې کندهار ته مخه کړه. ملا نیک محمد، ملا فداګل، ملا شاولي، ملا برادر آخند او نور د دهراود هغه طالبان وو چې له وړاندې یې د کندهار تودو جهادي سنګرونو ته ځانونه رسولي وو. په ۱۳۶۱ لمریز کال کې د ملا محمد عمر مجاهد تر

یوه پخه مورچه په نښه شوه چې د مجاهدینو تر منځ یې په (سره خزه) شهرت درلود. د دښمن دغه مورچه په یوه غونډۍ پرته وه او پرې ورختل له خطر څخه خالي نه و.

د عملیاتو له پیل سره ملامحمد عمر مجاهد او ملګرو یې هم په دښمن عملیات پیل کړل، دوی د مسلسل پرمختګ په مټ وتوانیدل چې دښمن شاتګ ته اړ کړي، ملا محمد عمر مجاهد او ملګري یې ملا عبدالقیوم له خزې څخه د دښمن د تیښتې په تعقیب یاد مورچل ته وروختل خو نور پرمختګ یې ځکه ونکړای شو چې د دښمن په متقابلو ډزو دواړه ټپیان شول. ملا محمد عمر مجاهد د دښمن د کلاشینکوف په مرمۍ په ورانه کې ولګېد او له وړاندې تګ څخه پاتې شو. ډاکټر امیر خانجان چې په دهراود کې یې د ټپي مجاهدینو علاج کاوه د ملا محمد عمر مجاهد زخم یې پانسمان کړ، د ملا محمد عمر مجاهد زخم که څه هم ژور و خو د پښې هډوکي ته یې زیان نه و رسیدلی نوموړی بیا کندهار ته د تلو تر وخته د دې زخم له امله نګوښیده تر دې چې د وخت په تیریدو یو مخ جوړ شو.

د دهراود جبهه چې ملا محمد عمر مجاهد په کې جهاد کاوه د درې کلونو په تیریدو لا هم له کوم تنظیم سره رسمي نه وه، کندهار ته د ملا محمد عمر مجاهد له تګ وروسته یاده جبهه د مولوي محمد نبي محمدي له تنظیم (حرکت انقلاب اسلامي) سره ثبت شوه او د ( جبهه طلباء) په نوم یې رسمیت پیدا کړ.

دا مهال اګر که په روزګان کې هم جهادي عملیات روان وو، خو د کمیت او کیفیت له اړخه د ځنګلوري کندهار ولایت جهادي ډګر ډېر فعال و. که د روزګان په دهراود کې له شورویانو سره مخامخ جنګونه په کال کې یوازې څو ځله پیښیدل په کندهار کې بیا له شورویانو سره مخامخ جنګ د ورځې او اونۍ خبره وه. مجاهدینو په لویه لاره د شورویانو کتارونه په نښه کول او هره ورځ به یې درانه تلفات ور اړول.د دهراود یو شمیر مجاهدینو چې په خپله سیمه کې یې په جهادي عملیاتو تنده نه خړوبېده د جهاد په نیت یې کندهار ته مخه کړه. ملا نیک محمد، ملا فداګل، ملا شاولي، ملا برادر آخند او نور د دهراود هغه طالبان وو چې له وړاندې یې د کندهار تودو جهادي سنګرونو ته ځانونه رسولي وو. په ۱۳٦۱ لمریز کال کې د ملا محمد عمر مجاهد تر

ټولو نږدې ملګری ملا معاذ الله هم کندهار ته لاړ چې ورپسې ملامحمد عمر مجاهد هم د دهراود په ځای کندهار د جهادي سنګر په حیث غوره کړ.

## کندهار ته راتګ

### د فیض الله آخندزاده جبهه

د شوروي یرغلګرو له راتګ سره د نور افغانستان په شان په جنوبي ولایاتو کې جهاد یوه نوي پړاو ته داخل شوی و. کندهار چې شورویانو په کې د افغانستان د جنوب په سطحه تر ټولو ستره اډه درلوده او یو له کلیدي سیمو شمیرل کیده د جهاد په یوه مهم او ټاکونکي ډګر بدل شوی و.

په کندهار ولایت کې د کمونیستي کودتا په تعقیب جهادي تحرکات پیل شوي وو، دغه تحرکات لومړی په ختیځو ولسوالیو معروف او ارغسان کې شروع شول، مګر وروسته مجاهدین کرار کرار د ښار مضافاتو او ورنږدې ولسوالیو لکه ډنډ، پنجوایي، ارغنداب او میوند ته هم ورښکته شول.

د ۱۳۵۹ هجري شمسي کال اوړی چې روسانو په افغانستان کې لومړنی جنګي فصل تجربه کاوه په کندهار کې هم د خونړیو جګړو کال و، د مجاهدینو متحد شویو تنظیمونو هڅه کوله چې په دې ولایت کې د جهادي جبهاتو شمیر زیات کړي تر څو د شورویانو په وړاندې د مقاومت توازن برابر او د یرغلګرو تر پښو لاندې ځمکه سره کړي.

د مولوي محمد نبي محمدي په مشرۍ حرکت انقلاب اسلامي تنظیم چې زیاتره منسوبین یې دیني علماء او طالبان وو د نور افغانستان په څیر یې د جنوب زون په سطحه هم پیاوړی جهادي رول درلود. د جنوب زون په سطحه د دې تنظیم یو وتلی جهادي مشر امیر ملا موسی کلیم د ۱۳۵۹ لمریزکال د اسد د میاشتې په ۲۰ مه نیټه شهید شو. د نوموړي له شهادت لږ موده وړاندې د حرکت انقلاب اسلامي تنظیم په تشکیلاتو کې دکندهار لپاره یوه نوې جبهه پرانیستل شوه، چې مشر یې فیض الله اخند

زاده او لومړنی نظامي قومندان يې عبدالکريم حيدري و. ملا عبدالغني آخند (چې وروسته په ملا برادر اخند مشهور او د اسلامي امارت د مرستيالۍ تر مقامه ورسيد) د دې جبهې له لومړنيو تأسيسي افرادو څخه و.

دغې جبهې خپل لومړنی جهادي فعاليت په داسې وضعيت کې د کندهار ښار ته نږدې د محله جات په سيمه کې پيل کړ چې لا هم په دې سيمه کې مجاهدينو علني حضور نه درلود، بلکې چريکي فعاليت يې کاوه. په لومړي کال د دې جبهې مهم او د ياد وړ عمليات د پنجوايي په ولسوالۍ بريد و چې د نورو جبهو له مجاهدينو سره په ګډه د عبدالکريم حيدري په مشرۍ تر سره شول.

د ۱۳۶۰ لمريز کال په پسرلي کې د جبهې نظامي قومندان عبدالکريم حيدري له دې جبهې جلا شو چې په ځای يې د جبهې د مشر فيض الله اخندزاده يو قريب خان عبدالحکيم د جبهې نظامي قومندان وټاکل شو. نوموړی که څه هم په رسمياتو کې د جبهې نظامي قومندان و خو د جګړو په مهال عملا د مشرۍ او قومندانۍ چارې هغو بااستعداده مجاهدينو پر مخ وړلې چې په جنګي امورو کې يې ښه تجربه درلوده. په همدې کال د جبهې مرکزيت هم له محله جات څخه د ميوند ولسوالۍ (سنګ حصار)[1] سيمې ته انتقال شو.

روسان چې د افغانستان په شمال او مرکزي سيمو کې د مجاهدينو پرلپسې بريدونو ورباندې د اکمالاتو لنډه لار (مزار ـ کابل) تړلې وه او له کابل څخه د افغانستان جنوب ته اکمالاتي کتارونه يې هم پرلپسې د مجاهدينو تر بريدونو لاندې راتلل، دا يې غوره وبلله چې د افغانستان جنوب ته د اکمالاتو لپاره نسبتا اوږده خو پرأمنه لار وومومي.

(۱) سنګ حصار يا سنګيسار د کندهار ښار لويديځ ته يوه ګڼ ميشته سيمه ده. دا سيمه پخوا د ميوند ولسوالۍ مربوط وه، په وروستيو کلونو کې د ميوند او پنجوايي له ځينو مربوطاتو ژړۍ ولسوالي رامنځته شوه، سنګ حصار اوس د ژړۍ ولسوالۍ اړوند ګڼل کيږي.

له ترکمنستان څخه هرات او بیا کندهار ته غځیدلي لار که څه هم اوږده ده خو ډیره برخه یې له دښتو او ریګزارو تیریږي چې مجاهدینو پرې د کمین نیولو لپاره ډېر مواقع نه درلودل. په ۱۳۶۰ لمریز کال کې له هرات څخه د کندهار په خوا د روسانو اکمالاتي او پوځي کتارونه را پیل شول چې ورسره په کندهار کې د جهادي عملیاتو څرنګوالی هم له بنسټه تغیر شو. څکه پخوا په کندهار کې جهادي عملیات په ښار او ولسوالیو کې په ثابتو اهدافو بریدونو او چریکي حملو کې خلاصه کیدل. خو د شوروي کتارونو له پیل سره په کتارونو د بریدونو، کمینونو او له شورویانو سره د مخامخ جګړو مرحله پیل شوه.

په همدې کال د فیض الله اخندزاده جبهې ته له روزګان څخه یو مجاهد راغی چې وروسته یې د خپل اغیزناک جهادي کردار له امله د جبهې د نارسمي نظامي مشر په حیث شهرت وموند. دا مجاهد ملا نیک محمد نومیده، د روزګان د چارچینو ولسوالی د خوني د کلي اوسیدونکی و چې د ملا برادر اخند په شناخت له دې جبهې سره یوځای شوی و.

ملا نیک محمد د خپل مبتکرانه جهادي کردار په مټ دغه جبهه یو نوي عملیاتي پړاو ته داخله کړه، نوموړي د نورو جبهاتو د مجاهدینو په ملتیا د کندهار ـ هرات لارې په اوږدو کې د کندهار ښار او میوند ولسوالی تر منځ سیمه کې د شوروي اکمالاتي موټرو او پوځي کتارونو د له منځه وړلو په موخه د پریکنده جګړو او کمینونو یوه داسې لړۍ پیل کړه چې وروسته یې د شورویانو د یو مخیزې تیښتې تر کلونو دوام وکړ او په نتیجه کې یې شورویانو ته خورا درانه زیانونه ورسیدل. په دې جهادي پړاو کې مجاهدینو له ډول ډول تاکتیکونو په استفاده د لویې لارې په امتداد کې په پنجاو، نظرجان باغ، اشوغو، پاشمول، سنګ حصار او نورو ځایونو کې په شوروي لښکرو بریدونه کول، د هغوی ټانګونه، پوځي او اکمالاتي موټر یې له منځه وړل. تردې چې شورویان مجبور شول په دې لاره د تیریدو لپاره هم داسې امنیتي تدابیر وسنجوي لکه د هیواد په ځینو نورو مهمو لارو کې چې ورته اړ شوي وو.

د هغه وخت د یوه مجاهد په وینا چې په دې لاره د مجاهدینو بریدونو کمونیست چارواکي او شوروي ملاتړي یې دومره اندیښمن کړي وو چې ډېر خله خو به یې له هراته د کتار له را روانولو مخکې د لارې له عامو مسافرو او موټر چلوونکو څخه پوښتنه کوله چې ملا نیک محمد پر سپین مسجد و او که نه و.[1]

د مجاهدینو پرلپسې بریدونو او د شورویانو تلفاتو بالاخره شورویان په دې مجبور کړل چې د کتار له تیرولو مخکې د کندهار لخوا د زرهي ټانګونو امنیتي قوه دغې سیمې ته راولي تر څو د لارې امنیت ونیسي. خو مجاهدینو به په همدې امنیتي ټانګونو هم سخت بریدونه کول او په دې توګه به که څه هم اکمالاتي کتار تر یوه حده محفوظ شو خو د کمونیستي ځواکونو د تلفاتو کچه نه کمیدله.

ملا نیک محمد څه کم درې کاله له ۱۳۶۰ نه تر ۱۳۶۲ پورې د سنګ حصار په سیمه کې له شورویانو سره مخامخ جګړې وکړې، نوموړي نه یوازې د کمونیست دښمن په وړاندې د اغیزناک مقاومت او پریکنده جګړو بنسټ کیښود بلکې له ځان سره یې په خونړیو جګړو کې تکړه ملګري لکه ملا لعل محمد، ملا عبدالغني برادر، ملا معاذالله او نور هم وروزل چې له ده وروسته هر یوه په جهاد کې ستره ونډه ترسره کړه.

د ۱۳۶۲ لمریز کال ژمی د سختو جګړو شاهد و، په همدې ژمي نه یوازې ملا نیک محمد شهید شو بلکې د دوی جبهې تر ۳۵ زیات تکړه مجاهدین له لاسه ورکړل. د ملا نیک محمد له شهادت وروسته بل هغه مخکښ جهادي مشر چې سترګې وراوښتې ملا لعل محمد و چې زیاتره وخت یې دکندهار ښار ته نږدې د پنجاو په سیمه کې ددښمن په قواوو بریدونه کول او د جبهې یو له وتلیو سرګروپانو څخه و.

ملا لعل محمد د کندهار د شاولیکوټ ولسوالی اوسیدونکی و، چې د شهید ملا نیک محمد په څیر یو له باتجربه او پُرکاره مجاهدینو ګڼل کیده. د ملا لعل محمد د ګروپ د

(۱) سپین مسجد د هرات او کندهار پر لویه لار د سنګ حصار په حدودو کې د یو ځای نوم دی چې د مجاهدینو مهمه کمین ګاه وه او د شورویانو ډېر اکمالاتي کتارونه په کې وسوځیدل.

مجاهدینو له جملې یو هم ملا معاذ الله د ملا محمد عمر مجاهد د ماشومتوب او
مدرسې ملګری و چې د روزګان له دهراود څخه دلته جهاد ته راغلی و. په ۱۳۶۲ لمريز
کال کې هغه مهال چې ملا محمد عمر مجاهد په روزګان کی زخمی شوي و، د علاج
لپاره د پاکستان کوټې ته ځي. دغه وخت تصادفا همدا ملا معاذ الله هم زخمي شوی او
کوټې ته د علاج لپاره وړل شوی دی. وروسته د دوی د جبهې ملګری ملا لعل محمد
د تنظیم له مشرانو سره د لیدو او تېپیانو د پوښتنې لپاره کوټې ته ځي. چې هلته ملا معاذ
الله او ورسره ملګری یې ملا محمد عمر دواړه ویني. د همدې ملاقات په مهال ملا
معاذالله ورته ملا محمد عمر معرفي کوي چې تکړه مجاهد دی او په ځانګړي ډول د
آر پي جي راکټ په ویشتلو کې ښه مهارت لري.

ملا لعل محمد ملا محمد عمر مجاهد ته وایي چې زموږ پر سیمه همیشه د شورویانو
کتارونه تیریږي. ډېر تکړه ملګري مو شهیدان شول او د راکټ مسلکي ته ضرورت لرو،
که تاسو زموږ جبهې ته راشئ کیدای شي دلته ډېر خدمت وکړای شئ.

ملا محمد عمر مجاهد له ملا لعل محمد سره ژمنه وکړه چې وطن ته له ستنیدو وروسته
فقط یو وار کور ته ځم او بیا ستاسو جبهې ته درځم. په حقیقت کې همدا ژمنه د هغه
ستر پاڅون او تاریخي آغاز پیلامه شوه چې د دهراود زخمي طالب ملا محمد عمر
مجاهد یې نړۍ ته د امیرالمؤمنین په حیث وروپیژانده. د همدې ژمنې پر بنسټ ملا
محمد عمر د روزګان دهراود ولسوالي پریښوده او د کندهار د میوند په سنګ حصار
کې میشت شو، همدلته یې جهاد وکړ،همدلته د مسجد امام او د مدرسې طالب شو او
له همدې ځایه یې د شر او فساد د محو کولو او اسلامي امارت د تأسیس مبارزه پیل
کړه.

**کندهار ته تګ**

ملا محمد عمر مجاهد له معالجې وروسته د روزګان په دهراود کې خپل کور ته ستون
شو. په کور کې یې په شمار څو شپې تیرې کړې او بیا په داسې حال کې چې د
زخمیتوب له امله په پښه نګوښېده او لا پوره نه و جوړ شوی د خپل ملګري ملا
معاذالله سره یو ځای د کندهار په خوا روان شو. مخکې له دې چې دوی کندهار ته

ورسيږي ملا لعل محمد سرپوزې ته نږدې د دښمن په ذخيره د حملې پر مهال د مقابل لوري په درنه مرمۍ ولګېد او ځای په ځای په شهادت ورسيد.

ملا محمد عمر مجاهد چې د نوموړي له تدفين يوه ورځ وروسته راورسيد، خپله ژمنه يې پوره کړه خو د ملا لعل محمد ملګرتيا يې نصيب نه شوه. په همدې ورځو کې د سنګ حصار سيمې ته درنه قوه راووته، ملا محمد عمر مجاهد او د ملا لعل محمد پاتې ملګري له پنجاو سيمې څخه سنګ حصار ته نقل شول او همالته يې د جبهې له نورو ملګرو سره په ګډه د کمونيستانو د درنې قوې په وړاندې جګړه پيل کړه.

شورويانو چې د مجاهدينو پرلپسې بريدونو ډېر په تنګ کړي وو او د کتارونو د امنيت لپاره يې امنيتي قواوو هم ډېره نتيجه ورنکړه نو يې پريکړه وکړه د لويې لارې په امتداد کې دايمي پوستې جوړې کړي تر څو د مجاهدينو د حملو مخه ونيسي. د همدې لپاره شوروي پوځيانو او داخلي ملګرو يې سيمې ته لوی قوت راويوست تر څو سيمه له مجاهدينو تخليه او امنيتي پوستې په کې جوړې کړي. شوروي عسکرو نه يوازې د لارې په امتداد کې ګڼې پوستې جوړې کړې بلکې د لارې له څنګ سره ځينې ديوالونه يې هم ونړول او ويالې يې ډکې کړې تر څو مجاهدين ترې د کمين په مهال د ځان پټولو لپاره استفاده ونکړي. په داسې حال کې چې د مجاهدينو بريدونه ورباندې روان وو شوروي عسکرو محکمې پوستې جوړې کړې او په ځينو سيمو کې يې د پرسونل ضد ماينونو کمربندونه هم پرې راوګرځول تر څو په پوستو د مجاهدينو د ورختلو مخه ډب کړي.

مجاهدينو د شورويانو د دې تاکتيک په مقابل کې د بالمثل تاکتيک نه استفاده وکړه. د بيلابيلو جبهو مجاهدينو په ګډه د دښمن د هرې پوستې په مقابلې کې داسې د ځار مورچلې او پوستې جوړې کړې چې هره شيبه يې په پوستو کې ددښمن حرکات څارل او ددښمن عسکر يې د ښکاره کيدلو او له پوستو د راوتلو په وخت تر بريد لاندې نيول.

مجاهدينو نه يوازې شورويان او ملګري يې د سپکو وسلو په توسط تر بريد لاندې نيول بلکې د هاوان، هشتادودو او نورو درنو وسلو بريدونه يې هم پرې کول. په وروستو

کې مجاهدینو بي ایم ۱۲ دستگاه هم پیدا کړه او پرلپسې یې د شورویانو مراکز وربانديې ویشتل.

قومندان ملا محمد صادق چې د کندهار یو له مشرانو مجاهدینو څخه دی وایي چې په دې جګړو کې د ملا محمد عمر رول بارز و، د ده په خبره د ملاصاحب تخیلي یا د اندازه ګیرۍ قوه ډېره ښه وه چې هاوان او هره درنه وسله به یې ددښمن مرکز ته برابره کړه نو هدف یې نه خطاء کیده، د شورویانو په مراکزو او پوستو چې د درنو وسلو مستقیم ګوازرونه ډېر مؤثر نه و، ملا صاحب به ورته هشتادودو په قوس وتاړه او په دې توګه به یې د دښمن پوستې په ډېره دقیقه توګه هدف ګرځولې. د بریدونو دا لړۍ نه یوازې د دښمن د تحرکاتو او اکمالاتو په مخکې خنډ وه بلکې په پوستو کې په میشتو شوروي او داخلي عسکرو یې هم خوب حرام کړی و.

### د شهید ملا نیک محمد نعم البدل

د اسلام او جهاد تاریخ ثابته کړې چې الله تعالی د خپل دین د ساتلو او پاللو لپاره همیشه رجال او کارنامه ساز میرني پیدا کوي. که د جهاد په لاره کې کوم مخکښ او تکړه مجاهد شهید کیږي الله تعالی یې استعداد او برکت نه ضائع کوي بلکې په نورو مجاهدینو یې پیرزو کوي. نو ځکه خو د جهاد سنګرونه کله هم په شهادتونو له اتلانو نه دي خالي شوي.

وړاندې د شهید ملا نیک محمد یادونه وشوه چې د کندهار ـ هرات د لارې په اوږدوکې یې د روسانو کتارونه سوځول، نوموړی په ۱۳۶۲ لمریز کال کې شهید شو. خو لا یې په شهادت کال نه و اوښتی چې همدې سیمې ته له روزګان څخه دملا محمد عمر مجاهد په نوم د ټانګ ضد وسلې ( آر پي جي راکټ) یو ماهر مجاهد راغی. ملا محمد عمر مجاهد په همدې سیمه او جبهه کې د ملا نیک محمد سنګر په داسې ډول وپاله چې وروسته به د جبهې مشر ( فیض الله اخندزاده) ویل چې د ملا نیک محمد آخند که څه هم شهرت زیات و خو ملا محمد عمر مجاهد تر هغه په جهادي فعالیت کې زیات دی او کم نه دی.

د لویې لارې په اوږدو کې د پوستو جوړولو، ماینونو کرلو او امنیتي کمربند له استحکام سره سره شورویان ونه توانیدل چې د مجاهدینو د بریدونه مخه ډب کړي. مجاهدین د پوستو تر منځ لویې لارې ته وتل او د یرغلگرو په کتارونو او پوځي قواوو به یې بریدونه کول. ملا محمد عمر په دې جگړو کې هغه مجاهد بلل کیده چې د راکټ گوزار یې خطا نه ځي. د همدې مرحلې یو مجاهد وایي چې په دې جگړو کې په مجاهدینو د دښمن مهمه برتري د ټانگونو او زغروالو وسایطو درلودل و چې د مجاهدینو عادي مرمیو ورباندې اغیز نه درلود، خو که په کومه جگړه کې به له موږ سره ملا محمد عمر ملگری و نو بیا مو له ټانگه ډیره سترگه نه سوزېده.

آر پي جي راکټ د ځواکمنو متو د خاوند ملا محمد عمرمجاهد د لاس هغه وسله وه چې نوموړي په تخنیکي او نظري ډول نه وه زده کړې، بلکې په عملي تجربه او پرلپسې کارولو یې داسې زده کړې وه چې ډیره نادره به وه چې گوزار یې له هدف څخه خطاء کیده. د نوموړي د همدې جگړو یو ملگری ملا عبدالرحمن وایي چې ملا صاحب دغه مهال په ډیرو جگړو کې شرکت وکړ، د شوروي یرغلگرو کتار ته به چې کمین نیول کیده دی به په کې برخوال و، نوموړي بیا بیا ددښمن ټانگونه وویشتل حتی یو ځل داسې وشول چې د ملا صاحب د مرمۍ رسان محمد فاضل په وینا ملا صاحب د ورسره مرمیو په شمیر ټانگونه ویشتلي وو چې ځینې یې مکمل سوزیدلي او ځیني یې زیانمن شوي وو.

د روس ضد جهاد په مهال به مجاهدینو دې ته حساب نیو چې فلان مجاهد ډېر ښه راکټچي دی او تراوسه یې دومره ټانگونه ویشتلي دي. خو ملا برادر اخند چې د ملا صاحب نږدې ملگری پاته شوی وایي ملا صاحب په بیلابیلو جگړو کې دومره روسي ټانگونه ویشتلي و چې له ملگرو یې حساب گډوډ شوی و.

ملا برادر آخند د یوه داسې جنگ کیسه کوي چې خپله یې له ملا صاحب سره په کې گډون کړی دی. نوموړی وایي یوه ورځ زه او ملا صاحب له سنگ حصار څخه د

پنجوايي نلغام ته لاړو، هلته د ملا محمد صادق آخند د جبهې مجاهدين اوسيدل. د دوی نظامي مشر ملا عبيدالله آخند[1] و( چې وروسته په اسلامي امارت کې د دفاع وزير و) غرمه مهال د دوی اطاق ته ورغلو خو چې د ډوډۍ وخت شو، غږ شو چې قوه را روانه ده. ملا صاحب وويل: درځه چې ځو، د شوروبانو په کتار د جنگ لپاره بيرته سنگ حصار ته راوگرځيدو. چې اطاق ته راغلو نو ملا صاحب نور ملگري هم تيار کړل، تقريبا ۱۳ کسه ملگري شوو. او ځانونه مو په بيړه د پاخه سړک له بغل سره ويالې ته ورسول او همدلته مو کمين ونيو.

د شورويانو د اکمالاتي کتار په سر کې يو محاربوي ټانگ روان و. ملا صاحب چې په راکټ ويشتلو کې يې خاص مهارت درلود، لومړی يې په همدې ټانگ وار وکړ، محاربوي ټانگ ولگيد او له لگيدو وروسته تاو شو او په ساره په سړک ودريد چې لاره يې بنده کړه. په دې سره د کاروان نور موټر هم ودريدل، ځکه په خامه کې له ماينونو ډاريدل. وروسته د کاروان اکمالاتي موټر، څو زري پوښونه او د تيلو ټانکر هم راورسيدل چې مجاهدينو وربانديې سخت بريد پيل کړ.

په دې جگړه کې زه او د زعفران ماما په نوم بل مجاهد له ملا صاحب سره نږدې و، له ملا صاحب سره د راکټ مرمۍ کمې وې نو ځکه يې کوښښ کاوه چې هغه جنگي

(۱) ملا عبيدالله آخند دملا فتح محمد زوی په ۱۳۸۸ هـ ق کال کې د کندهار ولايت د ژړۍ ولسوالۍ د نلغام په سيمه کې زيږيدلی و. د کمونيزم ضد جهاد په مهال يې په کندهار کې د ملا محمد صادق آخند په جبهه کې د نظامي قوماندان په حيث دنده اجراء کوله. نوموړی د طالبانو د اسلامي تحريک له تأسيسي افرادو گڼل کيږي، د پلازمينې کابل له فتحې وروسته د دفاع وزير وټاکل شو او بيا د امريکايي يرغل تر وخته په همدې وظيفه پاته و. د امريکايانو په خلاف د جهاد له پيل سره نوموړی ملا صاحب د خپل مرستيال په حيث وټاکه، د ۲۰۰۷ ميلادي کال د جنوري په مياشت کې د پاکستان په بلوچستان کې د پاکستاني استخباراتو لخوا ونيول شو. ملا عبيدالله آخند څو کاله د پاکستان په کراچۍ کې د پاکستان په مخفي زندان کې بندي وو، په دې موده کې يې د قران کريم حفظ هم وکړ تر دې چې د ۲۰۱۰ م کال د مارچ په پنځمه په زندان کې د شهادت لوړ مقام ته ورسيد او جسد يې د پاکستان په کراچۍ کې خاورو ته وسپارل شو.

وسایط په نښه کړي چې سپکې وسلې پرې تاثیر نلري. د محاربوي ټانګ له ویشتو وروسته ملا صاحب یوه زري پوښ ټانګ وویشت چې اور یې واخیست او مکمل وسوزید.

مجاهدین که څه هم شمیر یې لږ و خو د الله تعالی په مرسته وتوانیدل چې د شورویانو لوی کتار ته درونند زیان واړوي، د شورویانود کتار ځو اکمالاتي موټر هم ولګیدل او دودونه یې پورته شول. مجاهدین تر هغو وجنګیدل چې ورسره مرمۍ یې ټولې وویشتې، وروسته کرار کرار شاته شول او د خپل مرکز پر خوا یې عقب نشیني وکړه. تر مازدیګره روسان د خپلو تلفاتو په ټولولو او د کاروان په سمبالولو بوخت و چې له ډیرو موټرو یې لوګي لوړیدل. کله چې روسان لاړل مجاهدین بیا سیمې ته ورغلل. په سیمه کې د روسانو د تلفاتو اثار موجود و، دغه راز مجاهدینو ته یوه اندازه وسلې هم په لاس ورغلې.

ملا عبدالرحمن وایي د دښمن عسکرو د یوې پوستې پر سر شلکا لګولي وه دا چې مرمۍ یې تر ډیر لرې تلې مجاهدین یې ډیر په عذاب کړي وو. مجاهدین د ورځې د پوستې په لوري نه شوای ورتلای او د شپې به د دښمن عسکرو د شلکا میل خلاص کړ تر څو یې مجاهدین هدف ونه ګرځوي. یوه وخت چې د روژې ماښام و ملا صاحب راکټ ورسره واخیست او د دښمن د شلکا د ویشتلو په نیت ووت، پوستې ته نږدې یې سنګر ونیو او په لومړني ټک یې د شلکا ګهواره یا پایې وویشتې او له منځه یې یووړې چې مجاهدین یې د تل لپاره له جنجاله خلاص شول.

له ۱۳۶۳ نه تر ۱۳۶۵ لمریز پورې کلونه د شوروي یرغلګرو د تر ټولو سختو بریدونو او تهاجمي عملیاتو کلونه بلل کیږي. د افغانستان د چارو د یوه لویدیځ څیړونکي او مؤرخ (اولیوه رای) د وینا له مخې په دې موده کې د شورویانو لخوا د جګړې شدت دوه عوامل درلودل. د اندروپوف له مرګ وروسته سره پوځ یو ځل بیا په خلاص مټ د خپلو جنګي ستراتیژیو د مختنه وړلو فرصت وموند او د (اوسپنیز سوک) تر عنوان لاندې پخوانۍ ستراتیژي یې را برسیره کړه. بله دا چې شوروي پوځ فرصت وموند چې د خپل نه پرمختګ عوامل ارزیابي او د (ضد چریکي جنګ) په برخه کې نوي

**میتودونه اختراع او تجربه کړي. د سختو جګړو له امله خو همدا مرحله د شورویانو د درنو تلفاتو کلونه هم وو. ۱۳۶۳ لمریز کال چې د شوروي پوځ د احصائیو له مخې له دوه زره زیات شوروي عسکر په کې ووژل شول د اشغال په مرحله کې د سره پوځ لپاره تر ټولو خونړی کال وبلل شو.**

په دې مرحله کې د نور افغانستان په څیر په کندهار کې هم له شورویانو سره سختې جګړې روانې وې، چې ډېر زور یې د کندهار ښار ته نږدې د محله جات، ژړی، میوند، ارغنداب او پنجوایي په سیمو و. ځکه دا سیمې که له یوه اړخه د کندهار ښار او د روسانو مهمې اکمالاتي لارې ته ورڅېرمه وې، بل اړخ ته یې د ستر او اخفاء لپاره ګڼ باغونه او کښتونه درلودل چې مجاهدینو په کې ښه مقاومت کولای شوای.

ملا محمد عمر مجاهد له شورویانو سره د سختو جګړو په همدې کلونو کې ټوله موده په همدې جهادي سیمه کې و، نوموړی یو ځل د خپل ملګري ملا معاذ الله او خپل مرمی رسان ملا احمد الله مطیع (چې اوس په مولوي ناني صاحب شهرت لري) د پوښتنې لپاره (چې زخمیان شوي او په روغتون کې بستر وو) د پاکستان چمن ښار ته لاړ خو شل ورځې بعد بیرته جبهې ته را وګرځېد.

## د سترګې شهادت

د فیض الله اخندزاده د جبهې مرکزي قرارګاه او ډیپو (چې د هغه مهال مجاهدینو ورته کمپ وایه)د میوند په ګرماوک سیمه کې و، خو د مجاهدینو اصلي جهادي سیمه یې د میوند د سنګ حصار سیمه وه، همدلته دوی څو اطاقونه یا میشت ځایونه درلودل چې له ۲۰۰ تر ۲۵۰ پورې مجاهدین په کې اوسیدل. ځیني مجاهدین د کیشانو د کلي په مسجد کې اوسیدل، ملامحمد عمر مجاهد هم د همدې مجاهدینو له جملې څخه و. همدا مسجد چې د شوروي ضد جهاد په مهال د نوموړي د اوسیدو ځای و وروسته نوموړي په کې د څو اطاقونو په اضافه کولو مدرسه جوړه کړه تر دې چې د طالبانو د اسلامي تحریک قیام یې هم له همدې مسجد نه پیل کړ.

د ۱۳۶۵ لمریز کال په ژمي کې شورویانو او داخلي کمونیستانو د سنګ حصار سیمې ته لویه قوه را وایسته، قوه چې ګڼ ټانګونه هم پـه کـې وه د ژړې پـر دښـت ودرېـده او کلي يې د درنو وسلو تر بریدونو لانـدې ونیـول. مجاهـدین چـې سـپکو وسـلو يـې پـه دښمن اغیز نه درلود د توغندیو په ورتوغولو يې قوې ته ځواب وایه.

ملا محمد عمر مجاهد له خپلو ملګرو سره د باغونو په ساحه کې شوروي یرغلګـرو تـه په کمین کې و چې کـه پیـاده عسـکر را مـارش کـړي دوی بـه ورسره جګـړه وکـړي. د جګړې په دوهمه ورځ شورویانو په کلي درانه بریدونه پیل کړل او ورسره يې کرار کرار د کلیو په خوا حرکت هم وکړ، یوه ډله پیاده شورویان د کلیو له ځپلو وروسته پـه سیمه ورګډ شول خو ناڅاپه د مجاهدینو تر سخت برید لاندې راغلل.

په دې جګړه کې ملا محمد عمر مجاهد او ملګرو يې شـوروي پیـاده سرتیـرو تـه د سر درونډ زیان واړاوو او ځیني وسلې او نور غنائم يې هم له دښمن څخه ونیول. شورویانو له تلفاتو لیدلو وروسته له سیمې شاتګ وکړ خو څو شیبې لا نه وې تیـرې چـې روسي جنګي الوتکې په فضاء کې ښکاره شوې او په کلیو يې درنه بمباري پیل کړه.

ملا محمد عمر مجاهد له جګړې وروسته خپل میشت ځای (د کیشانو د کـلي مسـجد) ته راستون شو. په داسې حال کې چې په هوا کې روسي الوتکې ګرځیدې او بمونه یـې غورځول نوموړی په مسجد کې د یوې ستنې تر شا ولاړ او په ښی سـترګه یـې د بمبـار ننداره کوله. همدا وخت مسجد ته نږدې یو درونډ بم وغورځید او پرچې يې لور په لور والوتې، د بم یوه پرچه د ده په هغه سترګه برابره شوه چې د ستنې له اړخ نه را ښکاره وه او ده ورباندې سیمې څارله.

له لګیدو وروسته، په داسې حال کې چې ښی سترګه يې یو مخ لـه منځـه تللې وه او د سترګې په ځای کې يې اوسپنیزه پرچه بنده وه، نوموړي د سخت درد په زغملو په خپل لاس له سترګې پرچه را وایسته. وروسته نور مجاهدین دده مرستې ته راغلـل، د سـترګې يې معمولي پانسمان وشو خو زخم يې په سمه توګه صفا او معالجه نه شو. په دې ورځو کې چې پرلپسې جنګونه روان وو نوموړی تر یـوې میاشـتې پـورې پـه همـدې زخمي

حالت کې همدلته پاته و. په زخمي حالت کې که څه هم د وسلې د چلولو نه و خو نور جهادي خدمتونه يې کول او حتی له مجاهدينو سره کله ناکله عملياتو ته هم تلو.

د روس ضد جهاد په وخت کې څرنګه چې جهادي سنګرونو ته ډيرې وسلې له جنوبي اوختيځو سرحداتو رسيدلې، شورويان يې دې نتيجې ته ورسول چې که د مجاهدينو دغه اکمالاتي لارې بندې نه کړي، جګړه نه شي ګټلی. شوروي پوځ د داخلي استخباراتو (خاد) په مرسته له پاکستان سره د ۲۴۳۰ کيلومتره اوږدې کرښې په اوږدو کې د مجاهدينو په اکمالاتي لارو څار زيات کړ او پرلپسې يې د مجاهدينو اکمالاتي کاروانونو ته کمينونه نيول او حملې يې پرې کولې. په ۱۳۶۵ لمريز کال کې د مجاهدينو لاس ته د ستينګر ميزايلو رسيدو د دې مسئلې حساسيت نور هم زيات کړ او شوروي يرغلګرو د داخلي کمونيستانو په ملاتړ د مجاهدينو په اکمالاتي لارو بريدونه زيات کړل، تر دې چې د احصائيو له مخې شورويان وتوانيدل چې مجاهدينو ته د راتلونکو وسلو دريمه برخه په نيمه لار کې ولجه يا له منځه يوسي.

جهادي تنظيمونو د خپلو اکمالاتي کاروانونو د امنيت لپاره داسې ترتيب جوړ کړ چې جهادي جبهات به په نوبت سره د اکمالاتي لارو امنيت نيسي او په ټاکلي موده کې به يې همدا اصلي جهادي دنده وي. د ملا محمد عمر مجاهد له زخميتوب يوه مياشت وروسته د دوی جبهې ته د کندهار په سرحدي سيمه کې د شنه نرۍ او ارغسان څه د راتيرې اکمالاتي لارې د امنيت ساتلو نوبت ورسيد. د دوی د جبهې مجاهدينو چې په دې سفر کې يې مشري د ملا محمد عمر مجاهد نږدې ملګري ملا معاذ الله کوله له ميوند څخه د ارغسان ولسوالی سرحدي سيمو ته د تګ اراده وکړه. له همدې فرصت نه به استفاده يې ملا محمد عمر مجاهد او يو بل تن زخمي مجاهد هم له ځان سره واخيستل تر څو يې پاکستان ته د اساسي علاج لپاره وليږي.

د ژمي په سخت يخ کې دوی ارغنداب ته واوښتل او له هغه ځايه يې د ارغسان په خوا سفر پيل کړ، په نيمه لا ريې د ترنک رود په ژورو اوبو کې موټر بند شو. ملا معاذ الله او څو نور ملګري د تراکتور په پيدا کولو پسې لاړل. او نور مجاهدين وتوانيدل چې همدا د زخميانو انتقالوونکی موټر له رود تير کړي. ملا محمد عمر مجاهد د علاج لپاره

چمن او له هغه ځایه کوټې ته لاړ خو همدا یې له خپل پخواني ملګري ملا معاذ الله اخند سره وروستي لیدل شول. ځکه ملا معاذ الله اخند د همدې جهادي مسؤلیت په مهال چې د مجاهدینو د لارې امنیت یې ساته د شوروي کوماندویانو له کمین سره مخامخ او له څو تنو ملګرو سره په شهادت ورسید چې جسد یې د ارغسان ولسوالۍ په شناختې کلي کې دفن شو.

د ملا محمد عمر مجاهد د سترګې عملیات د بلوچستان په کوټه کې په هغه روغتون کې ترسره شول چې د زخمي مجاهدینو معالجه یې کوله. له عملیاتو شپږ ورځې وروسته له روغتونه رخصت شو، د روغتون لخوا ملا صاحب ته مصنوعي سترګه هم ورکړل شوه تر څو د ښۍ سترګې په تشه زیرمه کې یې کیږدي خو نوموړي دغه مصنوعي سترګه چې له ظاهري ښایست پرته یې بله ګټه نه درلوده هیڅکله په سترګه نکړه.

**د شوروي یرغلګرو له تیښتې وروسته**

د ۱۳۶۵ لمریز کال په اوړي کې د شوروي اتحاد مشر میخایل ګورباچوف له افغانستانه د خپلو عسکرو د ایستلو پریکړه اعلان کړه او ویې ویل چې د همدې کال تر پایه به د شوروي پوځ شپږ غنډونه له افغانستانه ووځي. د ګورباچوف له اعلان دوه میاشتې وړاندې پر کابل د واکمن کمونیست رژیم په رهبرۍ کې هم ژور تغیرات راغلي و، د خلق دموکراتیک ګوند د خپل اتلسم پلینوم په غونډه کې د واکمن رژیم د استخباراتو (خاد) مشر ډاکټر نجیب الله د ببرک کارمل په ځای د ګوند د عمومي منشي په حیث وټاکه. د شوروي پوځ د وتلو پیل او د کمونیست رژیم په رهبرۍ کې تغیر د جګړې په وضعیت باندې ژور اغیز وکړ. د جګړې له ډګره د شورویانو په شاته کیدلو سره کمونیست رژیم تهاجمي موقف له لاسه ورکړ او په دې یې کار پیل کړ چې څرنګه د لویو ښارونو او مهمو سیمو دفاع پیاوړي کړي. د ډاکټر نجیب د سیاست دوه نور مهم عناصر د رژیم د دفاع لپاره د ملیشه ځواکونو رامنځته کول او د ده په تعبیر د ملي مصالحې د سیاست اعلانول و.

د درست افغانستان غونډې دې ژورو تغیراتو د کندهار ولایت په نظامي وضعیت هم اغیز وکړ، په کندهار کې د عصمت او جبار ملیشو رول تر پخوا پیاوړی شو. کمونیست رژیم چې د پخوا غونډې د عملیاتو او بریدونو توان یې بایللی و د ځان د دفاع لپاره یې په کندهار ښار او مهمو ولسوالیو امنیتي کمربندونه را وګرځول.

ملا محمد عمر مجاهد د سترګې له معالجې وروسته خپل کور روزګان ته لاړ او بیا په کندهار کې خپلې جهادي جبهې ته ستون شو. څه موده بعد بیا خپل کورروزګان ته لاړ، په همدې مرحله کې یې واده وکړ او کله چې په ۱۳۶۶ لمریز کال کې بیرته کندهار ته راغی نو دلته د پخوا په نسبت جهادي وضعیت بدل شوی و. اوس د مجاهدینو په وړاندې اهداف د دښمن هغه کمربندونه او پوستې وې چې په خپلو مراکزو یې راګرځولي وو. د دوی په جهادي سیمه کې یو د محله جات په ساحه کې هغه کمربند و چې د کندهار ښار د دفاع لپاره کمونیست رژیم جوړ کړی و او بل هم د میوند ولسوالۍ د دفاع لپاره د کشک نخود پوستې او کمربند وو چې سیمیزو مجاهدینو به وړباندې تعرضي عملیات کول.

په دې مرحله کې د دوی مرکزیت په سنګ حصار سیمه کې وو خو د تعرضي عملیاتو لپاره به په نوبت سره کله د کندهار ښار کمربند او کله هم د کشک نخود اړخ ته تلل. حتی کله خو یې د هلمند ګرشک او نهر سراج ته هم له نورو مجاهدینو سره ملګري لیږل تر څو په جهادي عملیاتوکې ګډون وکړي.

د پخوانیو جګړو په نسبت په دې مرحله کې که څه هم مجاهدین په تعرضي دریغ کې وو مګر بیا یې هم تلفات درلودل او د دښمن په پوستو ورختل اسانه نه و. ځکه د رژیم عسکرو په ډېری سیمو کې د مجاهدینو د مخنیوي لپاره ماینونه کرلي وو چې د مجاهدینو د پرمختګ په وړاندې لوی خنډ و. ملا محمد عمر مجاهد په دې مرحله کې هم ډېر وخت په خپله جبهه کې و او په نوبتي شکل یې په عملیاتو کې برخه اخیسته. نوموړي د دې لپاره چې خپلو جهادي وظائفو ته ښه رسیدګي وکړای شي وروسته یې خپل کور هم دې سیمې ته راانتقال کړ او په سنګ حصار کې میشت شو.

د کندهار ښار د کمربند په جګړو کې د ملا صاحب رول د پخوا په شان بارز و، د ملا غازي په وینا یو ځل کمونیستي عسکرو د کندهار ښار ته نږدې د میربازار په ساحه کې د مجاهدینو د ځپلو په نیت قوه را وایسته، چې تر مخ یې ټانګونه او ورپسې ګڼ پیاده عسکر او نظامي وسایط را روان وو په دې جګړه کې د قوې د سر دوه ټانګونه د ملا محمد عمر مجاهد لخوا وویشتل شول چې په همدې سره په دښمن وارخطایي ګډه شوه او قوه یې بیرته په شا وګرځېده.

## د مستقلې جبهې د مشر په توګه

په ۱۳۶۹ لمریز کال کې د ډاکټر نجیب د ده په اصطلاح د ملي مصالحې پروسه د هر وخت په نسبت په زور کې وه. د مجاهدینو د بریدونو په وړاندې مقاومت او د جلال اباد په جنګ کې د رژیم بریا د حکومت په ځان باور زیات کړی و. بل اړخ ته د شورویانو له وتلو وروسته په مجاهدینو بهرنۍ مرستې قطع شوې وې او د مجاهدینو خپلمنځي اختلافات په اوج کې و. په همدې مرحله کې د مجاهدینو په جبهاتو کې د مایوسۍ فضاخپره وه او حتی ځینو کم عزمه خلکو خو له تش په نامه حکومتي اړخ سره د معاملې او پټو اړیکو هڅه هم کوله. ملا محمد عمر مجاهد او ځو تنه ملګري یې چې تقریبا ټول د دیني علومو طالبان او د جبهې په سطحه تکړه مجاهدین بلل کیدل په دې دلیل له خپلې جبهې څخه جلا شول چې د جبهې اړوند ځینو کسانو له حکومتي اړخ سره پټ لیده کاته کول او د مجاهدینو قربانیو ته یې په کمه کتلي وو، دغه راز یې ځینې نور داسي اعمال هم ترسره کول چې د جهاد له اهدافو سره په ټکر کې وو.

دوی له خپل مرکز څخه پرته له وسلو لاړل او په سیمه کې د نورو مجاهدینو په قرارګاه کې یې واړول، ځو ورځې په دې مشورو ورباندې تیرې شوې چې څه کوو او خپل جهاد ته څرنګه دوام ورکوو. وروسته د سیمې یو تن تکړه عالم او روحاني شخصیت مولوي محمد موسی چې په مجاهدینو کې یې په نیکۍ او بزرګۍ شهرت درلود، دغو ملګرو ته یې ملا محمد عمر مجاهد د مشر او ملا برادر اخند د معاون په حیث ور انتخاب کړ او مشوره یې ورکړه چې مستقله جبهه جوړه کړئ تر څو جهاد در څخه پاته نه شي.

دوی هم همدا مشوره غوره وبلله، دا وخت چې د جهادي تنظیمونو مرکزي دفترونه او مشران په پاکستان کې میشت و نو ملا محمد عمر مجاهد، ملا برادر اخند او ملا یارانه د پاکستان کوټې ته لاړل تر څو د حرکت انقلاب اسلامي په تنظیم کې خپله مستقله جبهه رسمي کړي. د کندهار ولایت ځینې نور مجاهدین چې د دوی له فعالیت څخه خبر وو د دوی د غوښتنې ملاتړ یې وکړ نو ځکه د جنوب غرب حوزې لپاره د حرکت تنظیم مشر مولوي محمد سخي صاحب د دوی عریضه تائید کړه او د ۱۳۶۹ لمریز کال د جدي په میاشت کې یې جبهه ورته رسمي کړه. مولوي سخي دوی ته په دې دلیل چې د جهاد آخر دی او تنظیم وسلې او نور امکانات په لاس کې نلري ډېر څه ورنکړل خو یو خط یې ورکړ چې د کندهار په دیمراسي کې به د تنظیم له وسلو څخه ۹ میله وسله ترلاسه کړي. د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ دې نوې جبهې همدا ۹ میله وسله ترلاسه کړه او ځینو نورو نږدې جبهو ورسره د یو او دوه میله وسلو د مرستې یا قرض په شکل همکاري وکړه تر دې چې د دوی ملګري چې شمیر یې د ۲۰ او ۲۵ ترمنځ و مسلح شول. دوی د سنګ حصار د کیشانو د کلي په هم هغه مسجد کې چې مخکې هم په کې اوسیدلي وو اطاق جوړ کړ او همدا یې جهادي مرکز شو.

په دې ډول ملا محمد عمر مجاهد د کمونیزم ضد جهاد په وروستیو کلونو کې مستقله جبهه جوړه کړه. دا جبهه که څه هم د مجاهدینو شمیر یې کم و خو د کندهار او شاوخوا سیمو په ټولو مهمو عملیاتو کې یې شرکت کاوه. د ۱۳۶۹ هجري لمریز کال په ژمي کې هغه وخت چې د رژیم قواوو د زابل ولایت د مرکز قلات د محاصرې ماتولو لپاره د جبار ملیشې زابل ته ولیږلې او بیا مجاهدینو په پریکنده بریدونه دغو ملیشو ته دروند زیان واړاوه، د نورو مجاهدینو تر څنګه د ملامحمد عمر مجاهد د جبهې مجاهدین هم په دې عملیاتو کې برخوال وو، دغه راز وروسته چې د دوستم له قواوو سره په زابل کې جنګونه وشول هم د دې جبهې مجاهدینو په کې شرکت کړی و.

د زابل له عملیاتو وروسته د میوند په فتحه او د ګرشک په جنګونوکې هم د ملا صاحب د جبهې مجاهدینو ګډون درلود په دې ډول دوی تر هغه وخته خپل مقدس

جهاد ته ادامه ورکړه ترڅو د ۱۳۷۱ لمریز کال په ثور میاشت کې رژیم نسکور او کمونیستي حاکمیت پای ته ورسید.

## د تنظیمي هرج و مرج په دوران کې

هغه ګډوډي، فساد او ذات البیني جګړې چې د کمونیستي نظام له سقوط وروسته رامنځته شوې که په ژور نظر یې وڅیړو نو د جهاد د وروستیو کلونو ځینې معاملې او مجاهدینو ته د واک د انتقال ناقصه پروسه یې د اصلي عواملو په حیث په ګوته کولای شو.

د ۱۳۷۱ لمریز کال د حمل وروستۍ او د ثور میاشتې لومړۍ اونۍ د کمونیست رژیم د تدریجي سقوط ورځې وې، ولایتي مراکز او لوی ښارونه یو په بل پسې د رژیم له لاسه وتل خو دا چې دا عملیه د پټو توطئو او ناروا ایتلافونو په اساس پرمخ وړل کیدله نو ځکه یې ولس ته د فتحې او ارامۍ په ځای د یوه بل بحران د پیل پیغام ورکاوه.

د جهاد په کلونو کې د مجاهدینو دوه ډوله جبهات وو. یوه هغه چې په اصلي معنی د حق د لارې مجاهدین وو، قومي او قبیلوي ګټې یې په نظرکې نه وې، د واک او څوکۍ ترلاسه کول، د بیت المال او غنیمت په خرڅلاو سره پیسې موندل او په جهاد باندې مادي امتیازات موندل یې هدف نه وو. بلکې اعلاء کلمة الله او د کمونیستي کفر شړل یې اساسي هدف و. په دې جبهاتو کې پرته له قومي او سیمیزو تړاونو د هر ځای واقعي مجاهدین را یوځای شوي وو. همدوی د جهاد لومړني پیلوونکي هم وو او تر پایه یې په عملي جهاد کې ونډه هم ډیره وه چې ښه مثال یې د ملا محمد عمر مجاهد جبهه او دغسې نوري ځینې په واقعي معنی جهادي جبهې وې.

خو دا چې بعضي جهادي تنظیمونو د جهادي جبهاتو د جوړولو لپاره تاکلی معیار او اصول نه درلودل او یا یې د خپلو اصولو د تعمیل توان نه درلود نو له موقع څخه په استفاده فرصت طلبه اشخاصو ته زمینه برابره سوه چې په نتیجه کې یې ډېر جبهات د قومي او تنظیمي عصبیتونو پربنسټ جوړ شول چې دغسې څو جبهات په کندهار کې هم وو. د مجاهدینو په نوم دغه دوهمه کټه ګورۍ جبهات چې په کې یو شمیر بدکاره،

جهاد ته ادامه ورکړه ترڅو د ۱۳۷۱ لمریز کال په ثور میاشت کې رژیم نسکور او کمونیستي حاکمیت پای ته ورسید.

## د تنظیمي هرج و مرج په دوران کې

هغه ګډوډي، فساد او ذات البیني جګړې چې د کمونیستي نظام له سقوط وروسته رامنځته شوې که په ژور نظر یې وڅیړو نو د جهاد د وروستیو کلونو ځینې معاملې او مجاهدینو ته د واک د انتقال ناقصه پروسه یې د اصلي عواملو په حیث په ګوته کولای شو.

د ۱۳۷۱ لمریز کال د حمل وروستۍ او د ثور میاشتې لومړۍ اونۍ د کمونیست رژیم د تدریجي سقوط ورځې وې، ولایتي مراکز او لوی ښارونه یو په بل پسې د رژیم له لاسه وتل خو دا چې دا عملیه د پټو توطئو او ناروا ایتلافونو په اساس پرمخ وړل کیدله نو ځکه یې ولس ته د فتحې او ارامۍ په ځای د یوه بل بحران د پیل پیغام ورکاوه.

د جهاد په کلونو کې د مجاهدینو دوه ډوله جبهات وو. یوه هغه چې په اصلي معنی د حق د لارې مجاهدین وو، قومي او قبیلوي ګټې یې په نظرکې نه وې، د واک او څوکۍ ترلاسه کول، د بیت المال او غنیمت په خرڅلاو سره پیسې مونډل او په جهاد باندې مادي امتیازات مونډل یې هدف نه وو. بلکې اعلاء کلمة الله او د کمونیستي کفر شړل یې اساسي هدف و. په دې جبهاتو کې پرته له قومي او سیمیزو تړاونو د هر ځای واقعي مجاهدین را یوځای شوي وو. همدوی د جهاد لومړني پیلوونکي هم وو او تر پایه یې په عملي جهاد کې ونډه هم ډیره وه چې ښه مثال یې د ملا محمد عمر مجاهد جبهه او دغسې نوري ځینې په واقعي معنی جهادي جبهې وې.

خو دا چې بعضي جهادي تنظیمونو د جهادي جبهاتو د جوړولو لپاره ټاکلی معیار او اصول نه درلودل او یا یې د خپلو اصولو د تعمیل توان نه درلود نو له موقع څخه په استفاده فرصت طلبه اشخاصو ته زمینه برابره سوه چې په نتیجه کې یې ډېر جبهات د قومي او تنظیمي عصبیتونو پربنسټ جوړ شول چې دغسې څو جبهات په کندهار کې هم وو. د مجاهدینو په نوم دغه دوهمه کته ګورۍ جبهات چې په کې یو شمیر بدکاره،

نشه یان او جهاد بدناموونکي اشخاص هم موجود وو، د جهاد په وروستیو کلونو کې هغه وخت چې د ډاکټر نجیب د سولې او پخلاینې تبلیغات شروع شول نو دوی د مادي ګټو او قدرت ترلاسه کولو لپاره له کمونیستانو سره پټ روابط جوړ کړل.د خاد د استخباراتي چارواکو او دغو تش په نامه مجاهدینو تر منځ همیشه پټ لیده کاته کیدل او حتی حکومت ورته مرستې هم ورکولې.

کله چې د ۱۳۷۱ لمریز کال په ثور میاشت کې د کمونیستانو حکومت سقوط کاوه دغه وخت په کندهار کې د قول اردو قومندان چې د ولایت واک یې عملا په لاس کې و تورنجنرال اکرم و. نوموړي د دې لپاره چې واک واقعي مجاهدینو ته په لاس ورنشي او دوی د خپل حکومت له سقوط وروسته هم په ښار کې په ارامه ژوند وکړای شي او د ولس او واقعي مجاهدینو له محاکمې او انتقامه یې ځان ژغورلی وي نو یې د همدغو تش په نامه جهادي جبهو له مشرانو سره په پټه موافقه وکړه او د یوه جوړ جاړي په ترڅ کې یې د واقعي مجاهدینو له خبرتیا پرته د کندهار ټول واک وروسپاره.

په دې ډول کمونیست رژیم وتوانید چې د افغانستان د نورو برخو په څیر په کندهار کې هم دا توطیه عملي کړي. دوی واقعي مجاهدینو ته د دې فرصت ورنکړ چې په فاتحانه ډول د ښارونو واک ترلاسه کړي. بلکې په جهادي صفوفو کې له خپلو ارتباطیانو سره په توافق یې واک هغه چا ته وسپاره چې په جهاد کې یې کوم د پام وړ رول نه و ادا کړی.

په دې ډول د کندهار د مهمو ادارو واک ګل اغا، امیرلالي، ملا نقیب او نورو ته په لاس ورکړل شو او واقعي مجاهدین چې اکثر یې دیني علماء وو په ولسوالیو او پخوانیو جهادي سیمو کې له واک څخه بهر پاته شول.

دا چې د کمونیزم ضد جهاد پای ته رسیدلی و او واک هم د مجاهد په نوم نورو خلکو قبضه کړی و واقعي مجاهدینو ته له دې پرته بله لاره پاته نه شوه چې خپل تشکیلات لغو کړي او عادي ژوند ته ستانه شي. په همدې مهال د کندهار زیاتره جهادي جبهات منحل شول او مجاهدین یې کورونو ته ستانه شول. ځینو جبهه مشرانو په خاص ډول هغه چې علماء یا طالبان ول خپلې جبهې یې په مدرسو بدلې کړې. ملا محمد عمر

**مجاهد هم په سنگ حصار کې خپله جبهه په مدرسه بدله کړه. د سنگ حصار د کيشانو مسجد چې په څنگ کې يې څو اطاقونه درلودل دوی په يوه اطاق کې خپله وسله ډيپو کړه، مسجد او نورو اطاقونه يې د درسگاوو او طالبانو د اوسيدو د ځای په حيث په مدرسه واړول.**

مولوي عبدالحبيب، مولوي نور محمد، مولوي عبدالرحمن او مولوي محمد ابراهيم هغه مدرسين علماء وو چې په دې مدرسه کې يې طالبانو ته د ديني علومو تدريس پيل کړ. ملا محمد عمر مجاهد چې کور يې هم په همدې سيمه کې و، د مسجد د امامت او مدرسې د اهتمام په چارو سربيره يې خپله هم ديني کتابونه شروع کړل تر څو خپلې دينې زده کړې مکملې کړي.

**يو معنی دار خوب**

د واک پر سر د تنظيمونو ترمنځ د اختلاف پيل د درست افغانستان په څير په جنوبي ولاياتو کې هم د هرج و مرج او خپل منځي جگړو پيلامه شوه. په کندهار کې د ملا نقيب، استاذعبدالحليم، سرکاتب او نورو تر منځ د جگړو سلسله شروع شوه او بل اړخ ته په هلمند کې د پخوانيو مجاهدينو تر منځ له وړاندې پيل شوي جنگونه لا نور تاوده شول د رئيس عبدالواحد، محمد رسول اخندزاده، مولوي عطاء محمد او نورو تر منځ جنگونو په داسې بڼه زور ونيو چې د ورځې په حساب په لسگونو کسان په کې قتليدل او د درنو وسلو د استعمال له امله کلي او کورونو ورانېدل.

د هلمند د جگړو يو برخوال قومندان چې په هلمند کې د خپلو رقيبانو لخوا وربانـدې ځمکه تنگه شوې او تيښتې ته مجبور شوی و، يو وخت يې هڅه او غوښتنه وکړه چې په سنگ حصار کې دې د قرارگاه جوړولو لپاره ځای ورکړل شي خو ځايي مجاهدينو ورسره موافقه ونکړه.

په همدې حال کې د ملا محمد عمر مجاهد د مدرسې يو طالب خوب ويني او په سبا يې خپلو ملگرو ته بيانوي. دی وايي بيگا مې خوب ليد چې د مدرسې تر څنگ زموږ

د وسله تون بام نړیدلی او یومخ له منځه تللی وي، تر دې چې د وسله تون منځ ته لمر رالویدلی او په وسلو د لمر رڼا راغلي وي.

ځینې طالبان ددې خوب په اوریدلو وارخطاء کیږي.خو طالب دغه خوب د سیمې یوه په نیکی او دیانت مشهور سپین ږیري عالم مولوي موسی جان ته بیانوي، هغه د خوب بل ورِ معنی کوي او وایي: په وسلو د لمر رڼا راتلل دا معنی چې الله تعالی به په همدې وسلو په ملک کې رڼا راولي او دا چې اسلام یوه روښنایي ده الله تعالی به د همدې وسلو په توسط اسلام حاکم کړي. د خوب معبر مولوي موسی جان څه موده وروسته وفات شو خو د خوب تعبیر یې څو کاله وروسته هغه وخت ښه قابل درک و چې په همدې وسلو د عام شوي فساد په وړاندې لومړنی پاڅون پیل شو.

### ملوک الطوائفي او هرج و مرج

په افغانستان کې د کمونیست رژیم له سقوط وروسته مجاهدین په دې ونه توانېدل چې یو متحد او معیاري اسلامي نظام رامنځته کړي. بلکې د مجاهدینو په نوم ځینو د اقتدار حریصانو له وړاندې لا له کمونیستانو سره پټې معاملې پیل کړې وې، کار له هغه ځایه خراب شو چې د یوې شومې معاملې یا ایتلاف له مخې د پلازمینې کابل واک حاکمو پرچمیانو یوازې د جمعیت اسلامي گوند ته وسپاره. نورو کمونیستانو د ځان د دفاع او په نوي لباس کې د ځان مطرح کولو لپاره د هیواد په شمال کې د جنرال دوستم په مشرۍ د جنبش په نوم تنظیم جوړ کړ چې د پخواني رژیم ډېر پوځي امکانات یې هم په خپل لاس کې وساتل.

د واک او ځواک د تصاحب په مسابقه کې فرصت طلبه او د اقتدار تږي گروپونه او ډلې وتوانیدل چې د هیواد په بیلابیلو سیمو قبضه وکړي او د خپلې خوښې واکمنی رامنځته کړي. په دې ډول په هیواد کې یو بشپړ د ملوک الطوایفی حالت رامنځته شو. په کابل کې د مسعود، دوستم، مزاري، حکمتیار، سیاف، محسني او نورو ډلو مستقل حاکمیتونه جوړ شول. د هیواد په سطحه لغمان، لوگر او میدان وردگ د حکمتیار حزب قبضه کړل. د کابل په دیپلوماتیکه ساحه سربیره پروان، کاپیسا، تخار او بدخشان د رباني جمعیت ونیول. مزار، شبرغان،سرپل او فاریاب د دوستم شول. په بادغیس،

...رات او فراه کې اسمعیل خان خپل امارت جوړ کړ. بامیان او نږدې ټولې هزاره میشتې
...یمې د مزاري حزب وحدت ونیولې د ننګرهار واک د حاجي قدیر په مشرۍ د
...شرقي شورا په لاس کې واخیست او د بغلان مرکز د سیدمنصور نادري لخوا ونیول
...و. په پاته نورو ولایاتو کې د مختلفو تنظیمي او خودسره قومندانانو لخوا د واک
...ستقلې جزیرې رامنځته شوې.

...رغو د واک او قدرت تر لاسه کولو د یوه بل په وړاندې د سیاسي، تنظیمي، قومي او ژبنیو
...تعصباتو په بنیاد خونړۍ جګړې پیل کړې. دغه راز یې د هیواد د ملي شتمنیو
...چورتالان، خرخول او تخریبول په منظم ډول پیل کړل. له ۱۳۷۱ لمریز کال نه بیا تر
۱۳۷۴ کال پورې زمانه د افغانستان په تاریخ کې د ګډوډۍ، ظلم، قتل و قتال او وحشت
...هغه دوره بلل کیږي چې نه یې ښخوا بیلګه لیدل شوې وه او نه به یې وروسته ولیدل
...شي. هغه چې وایي د ظالم حاکم په څو کلنه دوره کې دومره مظالم نه کیږي او نه
...دومره حقوق تلف کیږي لکه د بې نظامه حالت په یوه ورځ کې چې څومره ظلمونه
...ترسره کیږي دا خبره په همدې کلونو کې ښه ثابته شوه. که په لنډو ووایو افغانستان په
...دې شاوخوا درې کلنه موده کې د خپل معاصر څه باندې دوه سوه کلن نظام ټول
...هست و بود او هغه شتمني چې په پوځي، اقتصادي، تعلیمي، هنري، عمراني او نورو
...برخو کې یې ذخیره کړې وه له لاسه ورکړه.

خودسره ټوپکیانو د هیواد کارخانې، حکومتي تاسیسات، عام المنفعه ادارې او ملي
شتمنۍ چور کړې او بیا یې د کباړ په بیه په ګاونډیو هیوادونو خرڅې کړې. د افغانستان
د اردو پراخ امکانات په خاص ډول ټانګونه، الوتکې، درنې وسلې، تخنیکي ورکشافونو
او نورې مهمې شتمنۍ لومړی کباړ او بیا د اوسپنې په بیه خرڅې سوې. تعلیمي
بنسټونه، د خدماتو ادارې او ټولګټې تأسیسات نه یوازې د فعالیت له اړخه توقیف شول
بلکې ودانیو ته یې درانه زیانونه ورسیدل. د هیواد اقتصاد هم دروند ګوزار ولید تردې
چې ښخوا یو امریکایي ډالر څلور سوه افغانۍ کیده مګر د جګړو په پایله کې ملي سکه
داسې بې ارزښته شوه چې حتی یو ډالر په ۲۵ زره افغانیو تبادله کیده. د تاریخي اثارو
قاچاق، د ځنګلونو وهل، د معادنو لوټ تالان د هر چا د وس کار وګرځید.

هرات او فراه کې اسمعیل خان خپل امارت جوړ کړ. بامیان او نږدې ټولې هزاره میشتې سیمې د مزاري حزب وحدت ونیولې د ننګرهار واک د حاجي قدیر په مشرۍ د مشرقي شورا په لاس کې واخیست او د بغلان مرکز د سیدمنصور نادري لخوا ونیول شو. په پاته نورو ولایاتو کې د مختلفو تنظیمي او خودسره قومندانانو لخوا د واک مستقلې جزیرې رامنځته شوې.

دغو د واک او قدرت ترړو د یوه بل په وړاندې د سیاسي، تنظیمي، قومي او ژبنیو تعصباتو په بنیاد خونړۍ جګړې پیل کړې. دغه راز یې د هیواد د ملي شتمنیو چورتالان، خرڅول او تخریبول په منظم ډول پیل کړل. له ۱۳۷۱ لمریز کال نه بیا تر ۱۳۷۴ کال پورې زمانه د افغانستان په تاریخ کې د ګډوډۍ، ظلم، قتل و قتال او وحشت هغه دوره بلل کیږي چې نه یې پخوا بیلګه لیدل شوې وه او نه به یې وروسته ولیدل شي. هغه چې وایي د ظالم حاکم په څو کلنه دوره کې دومره مظالم نه کیږي او نه دومره حقوق تلف کیږي لکه د بې نظامه حالت په یوه ورځ کې چې څومره ظلمونه ترسره کیږي دا خبره په همدې کلونو کې ښه ثابته شوه. که په لنډو ووایو افغانستان په دې شاوخوا درې کلنه موده کې د خپل معاصر څه باندې دوه سوه کلن نظام ټول هست و بود او هغه شتمني چې په پوځي، اقتصادي، تعلیمي، هنري، عمراني او نورو برخو کې یې ذخیره کړې وه له لاسه ورکړه.

خودسره ټوپکیانو د هیواد کارخانې، حکومتي تاسیسات، عام المنفعه ادارې او ملي شتمنۍ چور کړې او بیا یې د کباړ په بیه په ګاونډیو هیوادونو خرڅې کړې. د افغانستان د اردو پراخ امکانات په خاص ډول ټانګونه، الوتکې، درنې وسلې، تخنیکي ورکشافونو او نورې مهمې شتمنۍ لومړۍ کباړ او بیا د اوسپنې په بیه خرڅې سوې. تعلیمي بنسټونه، د خدماتو ادارې او ټولګټې تأسیسات نه یوازې د فعالیت له اړخه توقیف شول بلکې ودانیو ته یې درانه زیانونه ورسیدل. د هیواد اقتصاد هم دروند ګوزار ولید تردې چې پخوا یو امریکایي ډالر څلور سوه افغانۍ کیده مګر د جګړو په پایله کې ملي سکه داسې بې ارزښته شوه چې حتی یو ډالر په ۲۵ زره افغانیو تبادله کیده. د تاریخي اثارو قاچاق، د ځنګلونو وهل، د معادنو لوټ تالان د هر چا د وس کار وګرځېد.

د کابل ښار اتیا فیصده تاسیسات له یوې مخې ونړېدل او منقوله شیان یې لوټ شول، خو په دې مادي زیانونو سربیره هغه معنوي زیانونه چې جګړه مارو هیواد ته واړول اټکل یې نه شي کېدلای. د کابل له مختلفو کتابتونو څخه په زیات شمیر کتابونه ورک شول. موزیمونه، ارشیفونه، ګالرۍ او نندارتونونه چې د کلونو کلونو په اوږدوکې رغېدلي او په نایابه آثارو ډک وو لوټ او ارزښتناک آثار یې په ګاونډیو هیوادونو کې لیلام شول.

په دې ټولو ملي ناخوالو سربیره په اجتماعي او امنیتي لحاظ د افغانستان په خلکو یو داسې تور تم راغی چې کما حقه تعبیر یې شاید د لیکوال د وس کار نه وي. ښار په ښار، کوڅه په کوڅه او کلي په کلي ټوپکواکۍ او پاټکسالارۍ پیل شوې. ټوپکیان له یوه بل سره ونښتل او د خونړیو جګړو لړۍ پیل شوې چې تر ټولو ډېر زیان یې ولس ته رسېده. د محلي ټوپکیانو تر منځ په لنډمهاله او روزمره جګړو سربیره د هیواد په ځینو سیمو کې د تنظیمونو تر منځ مسلسلې او اوږدې جګړې پیل شوې. په کابل کې د حزب، جمعیت، جنبش، حزب وحدت، حرکت محسني او اتحاد تنظیمونو تر منځ د خونړیو جګړو سلسله پیل شوه. په کندز او بغلان کې د جمعیت، جنبش، حزب او نادري ملیشو تر منځ مسلسلې جګړې روانې وې. په شمالي ولایاتو په خاص ډول فاریاب او بادغیس کې دوستم او اسمعیل خان په جګړو بوخت وو. په هلمند کې د جمعیت، حزب او حرکت قومندانانو جګړې سره کولې او په نورو ولایاتو کې هم د اورنیو جګړو لمبې بلې وې. په دې جګړو کې نه یوازې د هیوادوالو سر او مال ته زیان رسیده بلکې هره ورځ په کې بې حسابه حقوق تلف کېدل، تجاوزات کېدل او وحشیانه اعمال ترسره کېدل.

جګړه مارانو د خپل ځان د اکمال لپاره به غلا او قطاع الطریقۍ سربیره پاټکسالارۍ ته لاس واچاوه، د هیواد په اکثرو لارو او سړکونو ګام په ګام پوستې جوړې او ځنځیرونه ولویدل. پاټکیانو چې له عامو مسافرو، موټر چلوونکو او سوداګرو څخه یې د حق العبور په نوم پیسې وړې علاوه یې د عامو بې وسه افغانانو وهل ټکول او سپکاوی هم کاوه او د پیسو نه ورکولو په صورت کې یې ډول ډول سزاګانې ورکولې.

د جګړو دوام، خودسري، د بدکارو ټوپکيانو حاکميت او په عين حال کې د کار او تعليم نشتوالي او عمومي بې بندوبارۍ هيواد په هر اړخيز لحاظ د مطلق سقوط له خطر سره مخامخ کړ. نوی را پورته کيدونکی نسل له وضعيت څخه په تأثر همداسې بې بندوباره او جګړه مار روزل کيده. همدا لامل وو چې ډيرو کم عمره او تنکيو ځوانانو ټوپکمارۍ ته مخه کوله او د پوستې او پاټک ژوند يې غوره کاوه.

په داسې هر اړخيز تورتم کې چې د سالم ژوند تيرولو ټول معادلات معکوس شوي وو، په اکثرو سيمو کي د ټولنې پريوتي او بدکار قشر د اقتدار مزی په لاس کې درلود او د ټولنې معزز غړي لکه واقعي مجاهدين، علماء کرام، معزز مشران، طالبان او د هيواد او ولس په درد دردمن هيوادوال د بې فرهنګه ټوپکيانو تر جبر لاندې د محکوميت ژوند تيرولو ته اړ شوي وو، افغان ولس له سختې ناهيلۍ سره لاس او ګريوان و. نړيوالو او ګاونډيانو د دې حالت نندارہ کوله او يوازې د روان وحشت د راپورونو په خپرولو يې اکتفاء کوله.د ملل متحد، په اصطلاح د بشري حقوقو او نورو خيريه بنسټونو هم يوازينی کار دا و چې د حاکمو ټوپکيانو وحشتونه ليست کړي او بيا يې کلنې او مياشتني راپورونه خپاره کړي افغانانو له الله تعالی پرته هيچا ته اميد نه درلود څکه له هر اړخه مايوسه وو.

کله چې ناروا او تجاوزات اوج ته ورسيږي، کله چې د جابرانو د ظلم چاړه د مظلوم په هډوکي ولګيږي او کله چې د مستضعفو بندګانو چيغې د عرش تر کنارو ورسيږي نو په داسې حالت کې بيا پر مظلومانو د الله تعالی رحم په جوش راځي او د ظالمانو د سزا لپاره يې د قهر توپانونه را الوځي. کله چې شپه تر وروستي حده تروږمې شي نو ورپسې د سهار ستوري ځليږي او کله چې منی او ژمی د طبيعت ښکلا وځپي او د شنيليو وروستۍ پاڼې هم ورژوي نو بيا د پسرلي وار را رسيږي.

په افغانستان کې د بې نظامۍ او وحشت پديده د خپل شدت وروستي حد ته رسيدلې وه په دغسې حالت کې د يوه نوراني، اسلامي او سوله پال حرکت ظهور د قدرت او فطرت له قوانينو سره بالکل مطابق ضرورت و، چې بايد ظهور يې کړی وای.

**په کندهار کې څه تېرېدل؟**

د هرج و مرج په کلونو کې د کندهار ولايت په خاص ډول کندهار ښار هم د نور په افغانستان په څير د ګډوډۍ، جګړو، فساد، بي امنيتۍ او کوڅه واکۍ شاهد و. دا چې په کندهار ښار کوم تنظيمي جګړه مار بشپړه ولکه يا په سيالانو بالادستي نه درلوده نو ځکه هر قوماندان د خپل سر پاچا و او چې څه يې زړه غوښتل کول يې.

ملا نقيب چې د جمعيت غړيتوب يې درلود او په کندهار کې د رباني د رژيم نماينده بلل کيده، دا چې له کابله ورته وخت په وخت د پيسو اکمال کيده نو تر يوه حده يې له پاټکبازۍ ځان ساتلی و. نور نو په خپل منځي جګړو، اخلاقي نيمګړتياوو او فساد کې د ده افراد د نورو قوماندانانو تر افرادو کم نه وو.

کندهار ښار د واک او سلطې په اعتبار په بيلابيلو برخو ويشل شوی و. له ډنډ تر ولايته سيمه ملا نقيب نيولې وه. خپله ولايت، چارسو، ښکاپور دروازه او هرات بازار د ګل اغا شيرزي په واک کې وو. حضرت جي بابا، کابل دروازه او قشله جديد د اميرلالي په قلمرو کې راتلل. د کندهار هوايي ډګر د قوماندان مغاش زوی احمد ولکه کړی و. له سرپوزې تر ډنډ او نظر جان باغه د استاد عبدالعليم واکمني وه. باغ پل د سرکاتب په لاس کې و. د شاه اغا دوراهي او ناګهان د نادرجان قوماندان سيمه وه، په سنځري او اشوغه د حبيب الله جان پاټکونه وو او دارو خان د کولک او سلوغي پر سيمه قبضه کړې وه. وړاندې وويل شول چې دغه قوماندانان له کمونيستانو سره د جوړ جاړي په پايله کې په دې سيمو قابض شوي وو. له کمونيستانو سره د دوی د ايتلاف يو ثبوت دا هم بللی شو چې د واک له انتقال وروسته هم د جنرال اکرم په شمول د کمونيست رژيم لوړپوړې چارواکي په کندهار ښار کې ازادانه اوسيدل تر دې چې په خپله خوښه له هيواده ووتل. حتی د کمونيست رژيم د وختونو ځيني پوځي تشکيلات په تنظيمي دور کې هم په خپل حال پاته وو لکه د عصمت مسلم مليشې چې د نجيب په وخت کې يې د کندهار ښار او بولدک تر منځ د لارې امنيت په غاړه و او په تنظيمي دور کې يې قوماندان منصور د شوراندام او د غره کلي په ساحو کې د پخوا په څير پوستې درلودې او د دې سيمو واک يې په لاس کې و.

په دې ډول کندهار ښار د نااهله ټوپکيانو تر منځ سيمه پر سيمه او کوڅه پر کوڅه ووېشل شو. مستقلې او موازي واکمنۍ په کې رامنځته شوې او واقعي مجاهدين له ښار څخه بهر په لرې پرتو ولسواليو کې او کليوالو سيمو کې پاته شول چې ډېرو يې د جهاد له پای ته رسيدو وروسته خپل جبهات منحل کړل.

دکندهار په ښار واکمنو ټوپکيانو د تنظيمي، قومي عصبيتونو او دولتي امکاناتو د لوټ تالان پر سر هميشه له يوه بل سره جګړې کولې. ټوپکيانو لومړی هغه ټانګونه او پوځي وسايط کباړ او خرڅ کړل چې په کندهار کې د شوروي له وخته پاته وو، له دې جملې يو لويه برخه ناکاره ټانګونه هغه وو چې د ډنډ ولسوالي په حدودو کي د کندهار هرات د لارې په اوږدو کې پراته وو، دغه ټانګونه چې له روسانو سره د لس کلنو جګړو په مهال د شهيد ملا نيک محمد، ملا محمد عمرمجاهد، شهيد لالا ملنګ، شهيد طالب جان او نورو مجاهدينو لخوا ويشتل شوي وو شمير يې دومره زيات و چې د لويې لارې په امتداد کې له کوکران نيولې بيا د پنجوايي تر دوراهي پورې حکومتي ځواکونو د لارې يوه اړخ ته د ديوال په شان په درولو سره فولادي حصار ترې جوړ کړی و چې په پناه کې به يې خپلو پوستو ته اکمالات کول. ټوپکيانو دغه د جهاد يادګار او د اتلانو په وينو ګټل شوی وياړ لومړی په بمونو ټوټه ټوټه کړل او بيا يې په پاکستاني تجارانو خرڅ کړل.

د جهادي غنائمو او دولتي امکاناتو له لوټ تالان او کباړولو وروسته ټوپکيانو د پيسو موندلو لپاره پاټک بازي شروع کړه.هر په نوم قومندان د عمومي لارې پر سر پوسته جوړه کړه او د پيسو اخيستلو لپاره يې پر لارو ځنځيرونه واچول. په کندهار کې د پاټکونو اصلي مسير د افغانستان د حلقوي سړک هغه برخه وه چې د دې ولايت له منځه تيريږي. يعنې له هرات څخه تر کندهار ښار راغلې او بيا د کابل پرخوا غځيدلې لويه لاره. دغه راز د سرحدي ښارګوټي بولدک او کندهار ښار تر منځ لاره باندې هم ګڼ شمير ځنځيرونه لويدلي وو.

که څه هم ملا محمد عمر مجاهد د خپل مرکز او مدرسې په شاوخوا کې ټوپکيان ځنځير او پاټک ته نه پرېښودل خو د کندهار ښار څخه د هرات په خوا غځيدلي لار

باندې ګڼ شمیر ځنځیرونه لویدلي و. د عیني شاهدانو له قوله په دې سیمه کې د ډیرو پاټکونو او د ټوپکیانو دظلم او اذیت له امله وروسته تجاران مجبور شول چې د هرات لخوا راغلي تجارتي توکي د عمومي لارې په عوض د ریګ د دښتو له لارې په ټیکټرو او نورو نقلیه وسایطو کې تر سرحدي ښار بولدک پورې انتقال کړي.

ټوپکیانو نه یوازې له خلکو پیسې اخیستې او د پیسو لپاره د شکنجو او قتل تر حده یې په هغوی ظلم کاوه بلکې پاټکونه د اخلاقي جرائمو ځالې هم وې. په پاټکونو کې ټول له ټولنې تښتیدلې، بې تهذیبه، نشه یان، لوټماران، فاسق او فاجر اشخاص را ټول شوي وو چې بعضي یې په غلا او ظلم سربیره په زنا، لواطت، قماربازي او نورو ګناهونوهم ککړ وو.

حبیب الله جان چې په سنځري کې یې ځنځیر درلود په خپل پاټک کې یې یو خروړی سپی ساتلی و، کله به چې چا دغه پاټکمار ته پیسې نه ورکولې نو له سپي سره به یې یو ځای تاړه تر څو د ځان د خلاصون لپاره پیسو ورکولو ته اماده شي.

د دغو پاټکیانو په اړه دا خبرې هم مشهورې وې چې د لارې له موټرو څخه ښځې ښکته کوي او زبرزنا ورسره کوي.ملا محمد عمر مجاهد چې د سنګ حصار په ساحه کې د خپل مسجد او مدرسې په چارو بوخت و که څه هم د خپلې مدرسې په شاوخوا یې د لویې لارې پر سر پاټکیان نه پریښودل خو د شاوخوا سیمو وحشت یې لید او روزانه به ورته زړه بوږنوونکي خبرونه راتلل.

د نوموړي یو شناخته د روزګان مولوي عبدالحنان چې یو ځل دده مرکز ته راغی نو کیسه یې وکړه چې له کندهار ښاره راتلم د کولک په سیمه کې د ټوپکیانو په پاټک مو موټر ودرول شو. یو ټوپکي راغی او کله چې یې په موټر کې له دروازې سره نږدې په یوې نجلۍ سترګې ولګېدې په پوره جرئت یې سینې ته لاس وروړ خو له ډاره هیچا هم عکس العمل ونه ښود.

یوه ورځ ملا محمد عمر مجاهد له خپلو ملګرو سره ناست و چې یو کس یې ولید چې منډې وهي، دوی ته نابلده ښکاره شو او غږ یې پرې وکړ، ځوان چې راغی ویل یې د

هرات یم، مور مې د علاج لپاره پاکستان ته بیولې وه، د بیرته راتلو په وخت د پاشمول په سیمه کې په پاټک ټوپکیانو له موټره کوز کړم، اته ورځې ورسره بندي وم اوس ترې راخلاص شوم. دې ځوان اقرار وکړ چې په دې اتو شپو کې یې داسې شپه نه یادیږي چې دې ټوپکیانو دې هلکان او ښځې د جنسي استفادې لپاره په پوسته کې نه وي بندي کړې.

د ملا محمد عمر مجاهد یو ملګری او د مدرسې شاګرد ملا سعدالله کیسه کوي چې یوه ورځ زه او ملا برادر اخند کندهار ښار ته تلو او د موټر په چت باندې ناست وو. کله چې د پاشمول د صالح پاټک ته ورسیدو نو ګورو چې یو کشر هلک چې د فسق نښې ورباندې ښکاره وې په پاټک ناست و او د موټر له دریدو سره سم یې موټر چلوونکي ته ناموسي ښکنځل وکړل خو موټر چلوونکي له تحمل پرته هیڅ غبرګون ونه ښود.

ملا سعدالله وایي په دې حال کې ما ملا برادر اخند ته وکتل ګورم چې سترګې یې له اوښکو را ډکې شوې. ما پوښتنه ترې وکړه چې ولې ژاړې؟ ده ځواب راکړ چې هغه زموږ د جهاد، قربانیو او شهادتونو نتیجه بالاخره دا راووته لکه دا اوس دې چې یو مثال ولید نو په داسې حال کې به ولې ژړا نه راځي.

دغه پرلپسې ظلمونو، ناخوالو او بوږنوونکو حادثو که له یوې خوا ملا محمد عمر مجاهد او نور بااحساسه مجاهدین د حالاتو په اړه تفکر او اندیښنې ته اړ کول له بلې خوا یې له ټوپکیانو کرکه او د انتقام جذبه هم پرلپسې په سینو کې ذخیره کیدله.

*****

# دریم فصل

## د طالبانو د اسلامي تحریک بنسټ ایښودل

### د پاڅون پیل

د ملا محمد عمر مجاهد د جهاد سیمه او میشت ځای (سنګ حصار) چې په اوسني اداري ویش کې د کندهار د ژړۍ ولسوالۍ مربوط بلل کیږي هغه وخت د میوند ولسوالۍ اړوند بلل کیده. د سنګ حصار او ورځیرمه د پنجوایي د مربوطاتو لکه زنګاوات، تلوکان، مشان او نورو سیمو واک د ملا محمد عمر مجاهد، ملا محمد آخند، ملا حاجي محمد، ملا محمد صادق او ځینو نورو جبهو د مجاهدینو په لاس کې و. دوی حتی الوسع ددې سیمو امنیت ساتلی و او ټوپکیانو ته یې د فعالیت اجازه نه ورکوله. د سنګ حصار لویدیځ ته د میوند مرکز د کشک نخود سیمه د قومندان حاجي بشر او حاجي برګېټ تر تصرف لاندې وه. دوی هم له دغو مجاهدینو سره هماهنګي درلوده او تر ډیره یې سیمه له ګډوډیو خوندي وه، دې ټولو پخوانیو مجاهدینو د خپلو سیمو د امنیت لپاره د کندهار ولایت پخوانی عمومي قاضي (مولوي سید محمد) چې په مولوي پاسني صاحب یې شهرت درلود د قاضي په حیث مقرر کړی و. نوموړي د پنجوایي په زنګاوات کې محکمه درلوده، چې شاوخوا ټولو جبهو به په نوبت سره مجاهدین ورکول او نوموړي به قضایي اجرآآت کول.

د ټوپکمارو د هرج و مرج په دوره کې که څه هم د ملامحمدعمرمجاهد د مدرسې او پخوانۍ جبهې شاوخوا سیمې له پاټکونو، غلا او ګډوډیو په امن وې خو له نورو ځایونو ورته مسلسل د ناخوالو خبرونه راتلل.د ولس ناخوالو او د ټوپکیانو ظلم او استبداد ټول اهل خیر مجاهدین او طالبان فکرمند کړي وو. په وروستیو کې په دې اړه مشورې او مجالس پیل شول چې د ټوپکیانو څخه د ولس دخلاصولو لپاره څه باید وشي.

د طالبانو د تحریک له عملي پیل وړاندې څو ځله په دې موضوع د سنگ حصار او شاوخوا سیمو طالبانو او پخوانیو مجاهدینو مجلسونه وکړل.سید عبد الله( تورک اغا) وایي یو ځل د ملا محمد عمرمجاهد په مدرسه کې مجلس جوړ شوی و، چې خپله ملا محمدعمرمجاهد، ملا برادر اخند، ملا محمد اخند او تر ۴۰ تنو پورې نورو طالبانو په کې گډون کړی وو. د مجلس موضوع همدا وه چې موږ جهاد وکړ، قرباني مو ورکړې او مشقات مو ومنل د دې لپاره چې یو شرعي نظام راشي او ولس مو هوسا شي. مگر اوس ولس د بدکاره ټوپکیانو په ظالمانه منگولو کې ښکېل شوی چې باید د جهاد د اهدافو د لاسته راوړلو او ولس د ازادولو هڅه وشي.

د دا ډول مجالسو په لړ کې بله غونډه د سنگ حصار د جهادي قومندان حاجي غوث الدین اکا په اطاق کې جوړه شوه. مولوي عبدالرحمن صاحب چې د ملامحمدعمرمجاهد اخښی او استاد دی وایي دې مجلس ته زه له ملا صاحب سره یوځای لاړم. په مجلس کې اکثره د مساجدو امامان او د سیمې علماء کرام راټول شوي وو. دوی په دې خبرې کولې چې څرنگه باید د زیاتیدونکي فساد مخه ونیسي- د بېلابېلو رایو له تبادلې وروسته د اکثرو رایه دا وه چې طالبان دې په نوبتي شکل د خپلې سیمې امنیت وساتي او هم دې په سیمه کې د مولوي پاسني صاحب محکمه تقویه شي تر څو مجرمین مجازات کړي.

ملا محمد عمر مجاهد چې د مجلس په پای کې له دروازې سره ناست و کله چې د رایې بیانولو نوبت ورته ورسید نو یې ویل چې د ټوپکیانو د ضرر مخه یوازې په بالمثله اقدام سره نیول کیدای شي. ټوپکیانو هرڅه پرې ایښي، شپه او ورځ یې په ځان یوه کړې، د شیطان لار یې را اخیستي او خپل فساد ته دوام ورکوي. د دوی د دې عمل مخه یوازې په دې نیول کیدای شي چې موږ هم هرڅه پرېږدو، د فساد مخنیوی خپل تر ټولو اول او مهم مسؤلیت وبولو او د الله تعالی د دین د نفاذ لپاره همداسې په میدان ودرېږو، لکه ټوپکیان چې ولاړ دي. دا مبارزه په دې نه کیږي چې په هفته کې څو ورځې به سبقونه وایو او یوه ورځ به په نوبت د ټوپکیانو سره مقابله کوو.

په پای کې دا مجلس هم د پخوانیو مجالسو په شان بې نتیجې پای ته ورسید. مولوي عبدالرحمن وایي له مجلس نه د راګرځېدو په وخت ملا صاحب د مجلس په بې نتیجې کیدلو خپه و خو ویې ویل چې مجلسونه خو نتیجه نه ورکوي. زه په الله توکل کوم او یو اقدام کوم.

ملا صاحب خپله د لومړني اقدام او توکل په اړه په یوه تقریر کې ویلي:زه په یوه مدرسه کې وم، یوه کوچنۍ مدرسه مو جوړه کړې وه، ۱۵ یا ۲۰ انډیولان به په کې وو او مونږ سبق وایه.دا دځمکې سر ټول فساد ونیو. قتل و قتال، چور او چپاول و وطن فساقواو فجارو ونیو. تېره وضعه خو تاسو ته معلومه ده هغه چې خلکو تصور نه شوای کولای چې اصلاح به په څه شي راځي. نو ما سبق وایه او د حالاتو په باره کې به مې تصور واهه. نو که ما یوازې هغسې تصور وهلی دا دلیل زما لپاره کافي و چې ( لایکلف الله نفسا الا وسعها) ځکه د حالاتو په اړه له تصور پرته نور څه زما په قدرت کې نه و. خو ما په الله تعالی باندې توکل محض وکړ، توکل محض ډېر زور غواړي خو توکل محض ناکامي نلري.

## شرعي فتوی

ملا محمد عمر مجاهد چې د یوه واقعي مؤمن په حیث د دین احکامو ته ملتزم سړی و شریعت یې په خپل فردي او اجتماعي ژوند کې تر ټولو ستر او غالب اصل ګاڼه. نوموړي د خپلې واکمنۍ په مهال هم حکومتي اقدامات لومړی په شریعت عرضول او د حنفي فقهې له علماء کرامو او مفتیانو به یې د جواز او نه جواز پوښتنه کوله او تر هغو چې به یې د جواز فتوی نه وه ترلاسه کړې اقدامات یې نه کول. د معاصرې دنیا د سیاسي افرادو او ډلو زیاتره پریکړې له ځاني عقل او هوس، مادي ګټو او یا هم د قومي معتبرې او ټاکونکي مرجع په نظر نه ګوري. خو ملا صاحب به شاید د دې تحقیقاتي منابعو( تینک تانکز) څخه سرچینه اخلي او د الله تعالی دین او شریعت ته زماني یوازینی حاکم و چې الهي شریعت ته یې د تر ټولو مقدم او معتبر مرجع په نظر کتل او هر اقدام یې لومړی په شریعت تائیداوه.

ملا محمد عمر مجاهد د قیام له پیل څو ورځې وړاندې د پنجوایي زنګاوات ته رهي شو تر څو د سیمې له ستر عالم او قاضي مولوي سید محمد صاحب څخه د خپل اقدام په اړه فتوی یا شرعي اجازه تر لاسه کړي. مولوي سید محمد(چې په پاسني مولوی صاحب یې شهرت درلود) اصلا د غزني ولایت د ګیلان ولسوالی اوسیدونکی و. نوموړی جید عالم او د شوروي ضد جهاد په مهال د کندهار ولایت عمومي قاضي و چې د خپلو جدي اقداماتو له امله یې په ټولو جنوبي ولایاتو کې شهرت درلود. نوموړي تر دې مهاله د پنجوایي په زنګاوات کې محکمه ساتلې وه او د سیمې خلکو او مجاهدینو یې د قاضي او مشر عالم په حیث درناوی کاوه.

ملا ګل اغا آخند چې په دې سفر کې له ملا صاحب سره ملګری و وایي ملا صاحب چې مولوي عبدالصمد هم ورسره و د مولوي پاسني صاحب محکمې ته ورغلل. هغه ته یې ټول جریان بیان کړ چې فساد عام شوی، ورځ تر بلې فتنې او مظالم زیاتیږي، د مظلوم غږ څوک نه اوري او قسماقسم ظلمونه او جنایات ترسره کیږي. موږ د دې ظلمونو د مخنیوي لپاره د اقدام اراده لرو ستاسو مشوره راته څه ده؟ مولوي پاسني صاحب وویل چې دا مهمه مسئله ده زه به سبا څو نور علماء هم راوغواړم بیا به خپل نظر درکړم. سبا یې مولوي عبدالخالق صاحب، مولوي شاه محمدصاحب او یو تن بل عالم را وغوښتل او تر مازدیګره یې بحث وکړ. مازدیګر یې چې د ملا صاحب له اقدام سره موافقت وکړ او د فساد په وړاندې د هغه مبارزه یې یو ضروري اقدام وباله، نو ملا صاحب ورته وویل چې تاسو علماء کرام هم راسره له پیله ملګري شئ نو به زموږ صف له اوله تقویه شي.

مولوي پاسني صاحب ورته وویل چې موږ به له اوله درسره علنا نه دریږو ځکه که خدای مکړه ستاسو حرکت ناکام شي نو بیا خو موږ علماء غیر مسلح او بې دفاع خلک یو، بیا به ټوپکیان د هر عالم کور ته ولاړ وي بې عزته کوي به یې او سزا به ورکوي. نو ښه دا ده چې موږ تر هغو خپل ملاتړ پټ وساتو، چې تاسو الله تعالی کامیاب کړي له هغه وروسته به په پوره قوت ستاسو د داعیې ملاتړ وکړو او عملا به درسره ودریږو. مولوي پاسني صاحب او نورو علماء کرامو وروسته په همدې وعده وفا وکړه او له

اسلامي تحریک سره په پوره اخلاص ودریدل. نوموړي د کندهار له فتحې وروسته د کندهار ولایت د مرافعې محکمې د رئیس په حیث دنده پیل کړه او د امریکا د یرغل تر وخته په همدې وظیفه پاته شو.

ملا صاحب چې له محکمې رخصت واخیست نو له خپلو دوو تنو ملګرو سره د کندهار د تکړه مجاهد شهید لالا ملنګ د ملګرو مرکز ته ورغی چې اوس یې مشري د ملا محمد اخند په غاړه وه، په دې مرکز کې یې ملامحمد اخند، معلم فداء محمد او د کندهار څو نور مجاهدین ولیدل او خپله خبره یې ورسره شریکه کړه. هغوی ټولو په ډېر اخلاص داډ ورکړ چې تاسو کار پیل کړئ موږ درسره یو. همدلته له شپې تیرولو وروسته ملا صاحب بیرته د سنګ حصار خواته رانږدې شو. دلته یې یو ملګری ملا ګل اغا د خپلې مدرسې په خوا رخصت کړ او موټر چې د میوند د حاجي بشر و هغه یې هم د کشک نخود په خوا رخصت کړ او خپله له مولوي عبدالصمد سره په ګډه یې په زنګاوات، تلوکان، مشان او د پنجوایي په نورو کلیو کې د کلیوالو مدرسو د طالبانو په لیدلو پیل وکړ.

## د فساد په وړاندې د پیل شوې مبارزې شرعي حیثیت

د افغانستان د اسلامي امارت مخالفین په طالبانو تور لګوي چې دوی د یوه مشروع نظام په وړاندې خروج کړی و او د دوی قیام شرعي توجیه نه درلوده. په دې ادعا کې یوه خبره واضحه ده هغه دا چې د تنظیمي دوران د وخت په ذات البیني جګړو بوختو ټوپکیانو ته په هیڅ دلیل د مشروع نظام نوم نه شي ورکول کیدلای. واقعیت دا و چې هغه مهال افغانستان اصلا یو داسې نظام نه درلود چې په اکثره هیواد حاکم وي، د فساد مخه ونیولی شي او د مسلمانانو حقوق تأمین کړي. بلکې په هیواد باندې بشپړه ملوک الطوایفي حاکمه وه چې هر قومندان او پاټکمار په خپله ساحه کې خودسره واکمن و.

دا چې د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د طالبانو قیام شرعا څه حیثیت درلود په دې اړه درته د هغه فتوی ځینې برخې را نقلوو چې د ۱۳۷۳ لمریز کال د دلوې په ۲۷ مه په کندهار کې چاپ شوې او نوم یې دی (افتاء العلماء في جهاد الطلباء)

دغه فتوی چې په ۴۰ مخونو کې په کتابي شکل چاپ شوې په پیل کې یې لولو (اولا باید دا خبره معلومه سي چې رفع او دفع د منکراتو او مخ نیول د ظلم او چور وچپاول، او لاسونه بندول دجنایت کارانو، زناکارانو، قاتلانو، قطاع الطریقو او لوطیانو څوک کولای سي او د چا وظیفه ده؟ په سلطان پورې خصوصا اړه لري یا یې نه لري؟ آیا یوه ډله او جماعت د مسلمانانو که قدرت ولري او یو څوک مشر او سرپرست ولري. آیا دوی کولای سي چې د دغه رنګه مظالمو او جنایاتو او ناروا کارونو چې د ټول اسلام او مسلمانانو ضرر عام، بدنامي، خرابي، بي عزتي او د قراني احکامو محو کول او ورکول دي.مخنیوی وکړي؟

عن انس رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله و صحبه وسلم: انصر اخاک ظالما او مظلوما. قالوا هذا ننصره مظلوما فکیف ننصره ظالما؟ قال تأخذه فوق یدیه.رواه البخاري.و فی العینی کلمة فوق مقحمة او ذکرت اشارة الی الأخذ بالاستعلاء و القوة.. الخ عینی ۲۹۰/۱۲

د مضمون خلاصه دا چې ظالم دې تر لاس ونیول سي یعني په زور، قوت، قدرت او طاقت سره دې د ظلم څخه بند او منع سي او مظلوم دې د ظالم له ظلمه خلاص کړل سي. په هر څه طاقت او قدرت سره چې وي. په فیض الباري شریف کې فرمایي: ان الدنیا باسرها کالسفینة الواحدة جلس فیها کل مسلم و کافر، مطیع و عاص. فاذا فشت فیهم المعصیة فلم یأخذه احد ید احد هلکوا جمیعا لا محالة. فیض الباري ۳۴۴/۳

خلاصه د مضمون دا چې دنیا په شان او مثال د یوې کښتۍ ده. مسلمان او کافر، نیک او بد هم په دغه کښتۍ کې ناست او سپاره دي.هرکله چې معصیت او جنایت ډېر سي او څوک د ګناهګار او جنایت کار لاس ونه نیسي نو ټول به هلاکیږي خامخا.

وهکذا ابوحنیفة رضی الله تعالی عنه یقول(و کذالک الامر بالمعروف و النهی عن المنکر بالسلاح لایصلح بواحد و انما یصلح بالسلطان او بمن کان له علی ذالک اعوان صالحون و رجل یرأس علیهم مأمون علی دین الله الخ) احکام القرآن لمولانا تهانوي رحمه الله ۵۳/۲

خلاصه دا چې حضرت امام الأئمة امام ابوحنيفة رضی الله تعالی عنه فرمايي: ظالمان، جنايت کاران د ظلم او جنايت څخه راګرځول او په ښو اعمالو باندې امر کول په زور او قوت د جهاد او اسلحې دا کار په يوه نفر نسي کيدلای بلکې دا کار په سلطان کيږي او يا په هغه ډله او جماعت د مسلمانانو چې اعوان او ملګري صالحان ولري په دغه کار او عمل کې او همدغه جماعت يو مشر ديندار خاوند د امانت په دين کې د خدای پاک ولري. حاصل دا که نن ورځ طالبان حضرات قوت او طاقت لري او ښه صالحان ملګري او ديندار مشر ولري نو کولای سي چې همدغه عمل ته ادامه ورکړي. والله اعلم

دغه شرعي فتوی چې نور هم ډېر شرعي دلائل په کې عرض شوي د وخت د جابرانو او خودسره ټوپکيانو په مقابل کې د طالبانو اصلاحي قيام يې نه يوازې مشروع بلکې د مسلمانانو د تحفظ لپاره يو لازمي امر بللی دی. د فتوی په پای کې د کندهار او شاوخوا سيمو مشهورو علماء کرامو لاسليکونه کړي لکه مولوي سيد محمد مشهور په مولوي پاسني، مولوي عبدالعلي ديوبندي، مولوي محمد شفيع ،مولوي محمد قاسم، مولوي محمد هارون، مولوي عبدلسلام، مولوي عبداللطيف اخندزاده، مولوي محمد اسلم، مولوي عبدالرزاق، مولوي عبدالغني او نور علماء کرام. دغه فتوی د ملا محمد عمر مجاهد لخوا هم تائيد شوې او هغه هم ورباندې په پای کې لاسليک کړی دی. په دې سربيره همدغه شرعي فتوی وروسته د افغانستان په سطحه اکثرو مخورو علماء کرامو تائيده کړه او د حاکم فساد او فتنو په وړاندې د ملا محمد عمر مجاهد قيام يې د وخت ضرورت او د هيواد او ملت د نجات لپاره يو شرعي او ضروري اقدام وباله.

دغه فتوی د کندهار له نيولو وروسته د اطلاعاتو او کلتور رياست لخوا چاپ شوې او د تحريک د پيل د موضوع نه علاوه، د وسلو ټولولو، د باغيانو سره د جګړې او داسې نورو موضوعاتو په اړه هم شرعي دلائل په کې راغلي دي.

## لومړنی عملي اقدام

د ملا محمد عمر مجاهد لخوا د طالبانو د اسلامي تحريک د قيام لومړنی ګام د کليوالو مدرسو (دائرو) د طالبانو ليدل او د مبارزې لپاره د هغوی نومونه ليکل و. په دې اړه ملا

صاحب یوه وینا کړې چې خلاصه یې دا ده: خلک به وایي چې دا تحریک له څه وخته او په څه شکل را روان شوی دی؟ له کومې خوا حمایه کیده، د چا لخوا ترتیبیده او د چا لخوا روزل کیده؟؟ د دې تحریک ابتداء داسې وه چې ما په مدرسه کې کتاب کت کړ، زه وم او یوبل ملگری مې راسره و، له سنګ حصار نه پیاده زنګاوات ته (تر رود) پورې وتو. په زنګاوات کې یوه سړي موټر سایکل راکړ سرور نومیږي د تلوکان دی، له هغه ځایه تلوکان ته لاړو، زه وم او بل مولوي صاحب (مولوي عبدالصمد) تر شا راسره سپور و. نو سهار مو شروع پر وکړه یوې دایرې ته ورغلو څوارلس کسه طالبان هلته اوسیدل، سره راټول مو کړل او ورته و مو ویل چې دا د خدای دین پایمال شو، فساقو او فجارو ټوله منطقه ونیوله، چور چپاول روان دی، پر عام ډامبر باندې د خلکو ناموس کښته کیږي، د خلکو مالونه کښته کیږي، د دغه فساد مقابله یوازې په مرده باد او زنده باد باندې نه کیږي، موږ را ولاړیږو، د خدای د رضا لپاره، نو که څوک خدمت کوي له موږ سره دې شي خو دا خبره ده چې سبقان به پریښودل کیږي او بل دا چې چا د یوې افغانۍ یا ډوډۍ وعده هم نه ده راکړې، پر دا وطن به سوال کوو پر مسلمانانو به ګرځو که چا راکړه که یې رانکړه.

او دا کار د یوې ورځې یا هفتې او کال هم نه دی، بل دا چې دا فاسق او فاجر د سختې ګرمې په غرمه کې په خپل سنګر باندې ناست وي او په علانیه د الله تعالی دښمني کوي نو موږ او تاسو چې د خدای دین د ځان بولو ولې د دین دفاع په علانیه نه شو کولای؟ دومره غفلت نه دی په کار او نه بې غیرتي په کار ده.

بل مو دا ورته وویل چې سبق به پاتې کیږي نه یوه افغانۍ شته او نه هم وسله هغه به په سوال پیدا کوو نو په داسې حال کې یې کوئ او که یې نه کوئ؟؟

په دې څوارلسو کسانو کې یوه لا والله که ویلي وي چې په دې شکل یې زه کوم، ویل یې زموږ خو سبقونه دي که د جمعې په شپه کار و کوو یې او کنه نه یې کوو. ما ورته وویل چې له جمعې وروسته به یې څوک کوي؟؟ خدای شاهد دی چې دا خبره همداسې وه او زه په محشر هم د دې شاهدي اداء کوم.

نو که ما دا یوه دایره( کلیواله مدرسه) کافي بللې وای نو به مې نورې وربانـدې قیاس
کړې وای او بیرته به راتلم خپلې مدرسې ته. خو ما هغه چې لـه الله تعـالی سره وعد
کړې وه پر هغه وعده مې وفا وکړه نو الله تعالی بیا راسره دا معامله وکړه.

نو دغه مدرسه مې پرېښودله او راغلم بلې مدرسې ته هلته اوه کسه طالبـان وو. هغو تـ
مې هم په هماغه شکل خبره وکړه او هغو ټولو اوو واړو خپـل نومونـه راسره ولیکـل. د
داسې نه وو چې دا لویان او هغه نور کوچنیان و دا ټول یـو امـت دی خـودا یـو داسې
حکمتي کار او یوه امتحاني دوره وه چې په اول وار زه ورسره مخامخ وم. نو په همـدې
ترتیب مو شـروع وکړه تر مازدیگره مو ۵۳ کسه طالبان برابر کړل).

ملا صاحب او ملگري یې مولوي عبدالصمد هرې حجرې ته په ورتگ سره طالبانو تـ
موضوع تشـریح کوله او بیا یې ورته ویل چې څوک اماده دي تـر څـو د اللـه تعـالی د
دین د نفاذ او د فساد او فتنو د محو کولو لپاره په جهاد کـې شـرکت وکـړي. هرڅوک
چې اماده وي موږ ته دې خپل نومونه را ولیکي او په دې دې هم ځان پوه کړي چې دا
لاره یوازې د قربانۍ لاره ده، موږ یوازې په الله تعالی توکل کوو او قیام پیلـوو، کیـدا
شي موږ په دې لاره کې شهیدان یا ټپیان شو او ظالمان راباندې غالب شي، موږ به دغه
ټول خطرات فرضوو او بل دا چې سبقونه او بل هر کـار بـه پرېـږدو یـوازې بـه د فساد
ختمول خپله وظیفه گڼو.

په دې ډول دوی ټوله ورځ په کلیوالو مدرسو وگرځیدل او د دوهمې ورځې په مازدیگر
چې ملا صاحب بیرته سنگ حصار ته خپلې مدرسې تـه راستنېده د ۵۳ کسـانو لیسـت
یې ترتیب کړی و او هغوی وعده کړې وه چې سبا به په سنگ حصار کې د ملاصاحب
مدرسې ته ځان رسوي او بیا به له هغه ځایه حرکت پیلوي.

ملا صاحب مدرسې ته په را رسیدو خپلو ملگرو او طالبانو ته هـم همـدا خـبره وکړه او
خپل شـرایط یې ورته بیان کړل چې بالاخره له څو تنوکشـرانو طالبانو پرته ټولـو نومونـه
ولیکل. دا وخت له ملا صاحب سره د خپل مرکز په ډیپو کې له لس میلـه کمـه اسلحه
وه حال دا چې سبا لسگونه طالبان راتلل چې باید مسـلح شـوي وای. قومنـدان حـاجي
بشـر چې یو جهادي قومندان او پیسه دار شـخص و او دا مهـال یـې د میونـد ولسـوالی

مرکز په تصرف کې و ځرنګه چې په سیمه کې يې فساد او ګډوډي نه خوښېده نو له پخوا يې د سیمې د امنیت ساتلو په موخه وعده کړې وه چې که هر چا د سیمې امنیت او د ټوپکیانو له ضرره د خلکو دساتلو په مقصد یو ترتیب او تشکیل جوړ کړ نو د وسلو او وسایطو اکمالات يې زه کوم.

ملا صاحب د طالبانو له راغوښتلو وړاندې له حاجي بشر سره ليدلي و او خپله خبره يې ورسره شریکه کړې وه. د مدرسو طالبان تر خپل منځ له مشورې وروسته په شپه کې را روان شوي وو او د شپې ناوخته يې د ملا صاحب مدرسې ته ځان راورساوه. له زنګاوات، تلوکان، مشان او نورو سیمو نه د راغليو طالبانو شمیر له پنځوس تنو زيات وو.

د ملا صاحب د مدرسې يو تن استاد مولوي عبدالرحمن صاحب چې له مدرسې یو څه لرې کلي کې يې امامت درلود او د ورځې به د تدريس لپاره مدرسې ته ورته. په دې سهار يې چې کله په خپل مسجد کې لمونځ وکړ نو د عبدالغني په نوم يوه کليوال ورته عجيبه خوب بيان کړ. کليوال مولوي عبدالرحمن ته وويل: بيګا چې د جمعې شپه وه خوب مې لید چې ستاسو مدرسې ته د ملايکو لويه ډله راغلي وې، ملايکو سپينې جامې اغوستې وې، پاسته لاسونه يې وو او ډېر نوراني ښکاريدل. دا چې ملا صاحب د طالبانو د راغوښتلو ټول ترتيب له عامه خلکو پټ جوړ کړی و او پرته له محدودو ملګرو يې څوک وربانديې خبر نه و د کليوال دا وړ خوب په رښتيا هيښوونکی و. مولوي عبدالرحمن چې وروسته دا خوب ملا صاحب ته ووايه د نوموړي په خپله مبارزه باور نور هم پوخ شو.

ملا صاحب سهار وختي دوه تنه د ميوند ولسوالۍ مرکز کشک نخود ته واستول تر څو حاجي بشر ته خبر ورکړي چې طالبان در روان دي، خپله يې د خپلې جبهې د وسله تون پنځه ميله وسله ۳ کلاشينکوف، ۱ راکټ او ۱ خفيف ماشيندار په طالبانو وويشل. نورو طالبانو چې وسلې ورسره نه وې، د ونو له لرګيو يې ډانګي پرې کړل او ځانونه يې وربانديې وسله وال کړل، شپيه وروسته د حاجي بشر دوه موټر (هينو او ډاټسن)راورسيدل طالبان په کې سپاره او د ميوند مرکز کشک نخود ته لاړل.

**یو ځل بیا میوند**

میوند د کندهار ښار لویدیځ ته پراخه ولسوالي او افغانستان د تاریخ یوه پیژندویه سیمه ده. میوند په لومړي ځل هغه وخت مشهور شو کله چې په افغانستان د انګریزي استعمار د دوهم یرغل په مهال په دې سیمه کې افغان مجاهدینو انګریز لښکر ته په یوه مخامخ جګړه کې درنه ماتې ورکړه.

په ۱۸۸۰ میلادي کال کې چې کندهار ښار د انګریزانو تر سلطه لاندې و افغان شاهزاده ایوب خان له هرات څخه یو لوی لښکر را روان کړ تر څو له انګریزانو کندهار ونیسي، په کندهار کې انګریزي سرلښکر جنرال پریمروز د جنرال باروز په مشرۍ پیاده لېوا او د جنرال نټل په مشرۍ ۳۵۰ سپاره د ایوب خان د مخنیوي لپاره ګرشک تـه ولیږل. د جولای په سخته ګرمي کې انګریز عسکر او افغان غازیان د میوند په یوه سوزنده صحرا کې سره مخامخ شول او سخته جګړه ونښته. انګریزانو د توپونو او وسلو درلودلو له امله په لومړي سرکي ډیرمجاهدین شهیدان کړل (چې اوس هم په هغه سیمه کی د میونـد د شهیدانو په نوم مشهوره هدیره موجوده ده) او نږدې و چې افغـان غازیـان مـات کـړي، خو د جګړې په وروستیو شیبو کې د یوې افغـانۍ مجاهـدې ( ملالـۍ ) تحریضي-ټپې افغان غازیانو ته نوې روحیه ورکړه چې په پریکنده برید یې انګریزي لښکر ته تاریخي شکست ورکړ. د انګریزي منابعو له قوله په دې جنګ کې د انګریز لښکر ۹۶۹ عسـکر ووژل شول چې ۲۹ تنه یې افسران وو، ګڼ شمیر نور ټپیان او ډېر وسائل یې پاته شـول، د افغانستان تاریخ د انګریزانو تلفات تردې هم زیات ښیي. څرنګـه چـې سردار ایـوب خان د جګړې په مهال د افغان لښکر مشـر و نومـوړي تـه د همـدې فتحـې پـه ویـاړ د غازي لقب ورکړل شو. دې جنګ د میوند، ملالۍ او ایوب خان نومونـه د افغانسـتان د تاریخ برخه کړل. په همدې نومونو د هیـواد پـه بیلابیلـو سـیمو کـې واټونـه، نشـریې او تعلیمي اداري ونومول شوې. د ظاهر شاه د حکومت پـه دوران کـې د میونـد پـه مرکـز کشک نخود کې یوه لویه لیسه جوړه شوه او نوم یې ورباندې (د غـازي محمـد ایـوب خان عالي لیسه) کیښود.

د غازي ایوب خان لیسه د شوروي یرغل په جګړه ایزو کلونو کې سقوط شوې وه او چا پکې درس نه وایه، په تنظیمي دوران کې هم لیسه همداسې خالي ولاړه وه، خو اطاقونه یې نسبتا روغ وو. ملا محمد عمر مجاهد او ملګري طالبان یې چې له سنګ حصار څخه د میوند مرکز کشک نخود ته راغلل. دا چې دلته یې کوم معلوم د میشت ځای نه درلود په لومړي ځل یې د غازي ایوب خان په لیسه کې واړول او همدا یې لومړنی مرکز شو.

په دې ډول میوند یو ځل بیا د افغانستان تاریخ ته نوی باب ور اضافه کړ، د طالبانو تحریک چې بیا تر اسلامي امارت ورغېد، پیل یې هم له میونده و( هغه مهال ژړی ولسوالي نه وه جوړه او سنګ حصار د میوند مربوط و) او لومړنی مرکز یې هم د میوند په مرکز کشک نخود کې د میوندي اتل غازي محمد ایوب خان په لیسه کې جوړ شو.

**له پاټکیانو سره د نرم او ګرم چلند پیل**

ملاصاحب د ۱۳۷۳ هجري شمسي کال د اسد په میاشت کې چې د ۱۹۹۴ میلادي له اګست سره سمون خوري، له خپلو ۵۴ تنو ملګرو سره چې یوازې پنځه تنه یې مسلح و کشک نخود ته راغی او په غازي ایوب لیسه کې یې واړول. قومندان حاجي بشر له دوی سره د څلویښت میله کلاشینکوفونو، څو ثقیلانو، دوو موټرو او ۳۰ لکه افغانیو نقدي مرسته وکړه. حاجي بشر چې مالداره سړی او د طالبانو د تحریک مخلص و وروسته یې طالبانو ته سل میله وسله په نغدو پیسو هم رانیوله او وریې کړه.

ملا صاحب او ملګرو طالبانو یې په لومړۍ ورځ د میوند د مرکز واک په لاس کې واخیست او د لویې لارې امنیت یې ټینګ کړ، په سبا طالبان لاړل له کشک نخود نه لویدیځ خواته په ملنګ کاریز سیمه کې د قومندان ابراهیم په نوم د یوه ټوپکوال پاټک یې ټول کړ او خپله قومندان یې د ریګ په خوا پسې واخیست. په دې سره د پاټکونو د ټولولو سلسله عملا پیل شوه. په همدې ورځ ملا صاحب په خپل تحمل سره د لومړي ځل ویني تویېدنې مخه ډب کړه. د ملک خدایداد په نوم د کلا شامیر یو قومندان چې ټوپکیان یې هم ورسره وو، کشک نخود ته راغلل او له طالبانو سره یې لفظي شخړه پیل

کړه، له لفظي شخړې نه خبره د مرميو تيرولو ته لاړه. خو ملا صاحب په قومندان چې طالبانو ته يې بدې ښکنځلې کولې غبرګ راتاو کړه او د طالبانو له منځه يې ويوست.

په ميوند کې د طالبانو د قيام اوازه د لويې لارې موټر چلوونکو تر لرې علاقو ورسوله او له هرځايه د طالبانو دراتګ او له تحريک سره د پيوستون سلسله شروع شوه. پنځلس ورځې بعد ملاصاحب طالبان په عمومي سرک د کندهار ښار پخوا راتشکيل کړل. د سنګ حصار په برابر يې په عمومي سرک د سپين مسجد پر سيمه خپل دوهم مرکز جوړ کړ. دا مهال د طالبانو د راتګ لړۍ لا زور واخيست او هره ورځ لسګونه نوي طالبان راتلل. د کندهار وتلی قومندان ملامحمد اخند له تحريک سره وصل او خپل ټولـه وسله يې وروسپارله. د سنبلې د مياشتې په دوهمه (۱۷ / ۳ / ۱۴۱۵ هـق) ملا صاحب د سرزورو پاټکيانو داروخان او صالح د شړلو لپاره لومړني عمليات پلان کړل. دغه پاټکيان چې په نرمه خبره يې ځنځيران نه ټولول له سنګ حصار څخه ختيځ اړخ ته د پاشمول په استقامت يې پاټکونه او پوستې درلودې. ملا صاحب له سل تنه زيات طالبان دوه تشکيله کړل، لومړۍ ډله يې د مولوي عبدالصمد په مشرۍ د داروخان په پوستو د بريد لپاره واستوله او خپله له لسګونو طالبانو سره يوځای د صالح په پاټک او پوستو د بريد لپاره روان شو. دوی په شپه کې په کليوالو سيمو کې پاشمول ته ووتل او د لوی سرک خواته ورپورته شول. له دارو خان سره دوه ورځې ډزې تبادلـه شوې او صالح پرته له جګړې څخه په دوهمه شپه خپلې پوستې تخليه کړې وې. وروسته دارو خان هم د تيښتې لاره ونيوه او پاشمول د طالبانو لاس ته ولوېد.

ملا جمعه خان چې د ميوند د ګرماوک اوسيدونکی دی او د پاشمول په دې جنګ کې يې شرکت درلود وايي چې د پاشمول د نيولو په ورځ د سيمې کليوال، ځوانان او څو تنه ماشومان چې مالونه يې پوول زموږ خواته راغلل. دوی ډېر خوشاله وو او ويل يې ښه شول چې دغه ټوپکيان مو پسې واخيستل. دې خلکو وويل چې دا داسې ظالمان وو چې موږ خپله څو ځله وژل شوې ښځې ليدلې دي چې د پوستو شاته کندو کې به يې غورځولې وې او بيا به کليوالو پيدا او دفن کړې.

له پاشمول وروسته طالبان وتوانیدل چې لـه سنځري او شاه اغا دوراهـي څخه هـم پاټکونه ټول کړي او پرته له جګړې ځايي ټوپکيان حبيـب الله جـان، نادرجـان او نـور پسې واخلي. له دې وروسته طالبان د حزب اسلامي له قومنـدان سرکاتـب سره مخامخ شول. نوموړي پاټک پورته نه کړ خو طالبانو ته يې لار ورکړه چې د کندهار ډنډ سيمې ته تېر شي او هلته د ملا نقيب او استاد عبدالعليم د جنګـي کرښـو تـر مـنځ خپـل مرکز فعال کړي.

په دې مهال د ملا صاحب پاليسي تر ډېره سوله ايزه او دعوتي پاليسي وه چې بيا بيا د ټوپکيانو پوستو ته ورتـه او دعـوت يـې ورکـاوه چې د ولـس لـه ځورولـو څخـه لاس واخلي. طالبان چې د ۱۳۷۳ لمريز کال د سنبلې په لومړۍ اونۍ کې ډنـډ تـه رارسـيدلي وو د ميزان تر پنځلسمې( څه باندې يوه مياشت) وخت يې ټوپکيانو او پاټکيـانو تـه پـه دعوت او مرکو تېر کړ تر څو له عامه لارو څخه ځنځيرونه په خپلـه ټـول او د ولـس لـه ځورولو لاس واخلي. ملا صاحب د کندهار ښار له قومندانانو لکه سرکاتب، عبدالعليم، اميرلالي او نورو ټولو سره مخامخ وليدل او خپله داعيه يې ورته وړاندې کړه. د کمونيزم د وخت پاتې شونی قومندان منصور چې د غره په کلي کې يې مرکـز و او د ترنـک لـه پله سره يې ځنځير اچولی و. ملا صاحب يې مرکز ته ورغی او پوه يې کړ چې ځنځيـر ټول کړي. له کندهار ښار او اطرافو علاوه د پاټکوالو بل عمـده مرکـز د سـپين بولـدک سرحدي ښارګوټی و. دلته هم په لويه لاره ډېرې پوستې او ځنځيرونه لويدلي وو او هر ډول ظلم و اذيت روان و. ملا صاحب د بولدک د ځينـو مخلصـو مجاهـدينو لکـه مـلا خالقداد او ملا دوست محمد په توسط خپل دعوتي کار بولدک ته وغځاوه. د بولدک قومندانانو ته يې خپله غوښتنه وړاندې کړه چې ځينـو ومنلـه خـو د محمـدنبي او اخـتر محمد په نوم د بولدک څو عمده قومندانان له ټوپکوالۍ لاس په سر نه شول.

په ډنډ کې څه باندې يوه مياشت د طالبانو مرکزيت چې په ترڅ کې يـې کومـه جګـړه هم پېښه نه شوه، د طالبانو تحريک ته خورا قوت او نظم وروباښـه. پـه همـدې مرحله

کې د نورو ولایاتو او سیمو څخه د تحریک سره د ملګرتیا لپاره د طالبانو د راتګ لړۍ تر پخوا زیاته شوه او د کندهار یو شمیر وتلي جهادي اشخاص لکه ملامحمد رباني،[1] ملا محمد غوث، ملا بورجان اخند،[2] ملا نورالدين ترابي او د روس ضد جهاد د مهال ځینې نور مخور اشخاص د طالبانو له تحریک سره ملګري شول. د طالبانو په صف کې د پخوانيو مخورو مجاهدينو شموليت او رهبرۍ ته رسيدلو هغه انګيرنه په نطفه کې

---

(۱) مرحوم ملا محمد رباني د ملا امير محمد زوی په ۱۳۷۷ هـ ق کال کې د کندهار ولايت په مرکز کې په يوه علمي خاندان کې زيږيدلی و. د کشرتوب او ځوانۍ عمر يې د ديني علومو په زده کړه کې تېر کړی و. ملا محمد رباني (چې په حاجي معاون صاحب يې شهرت درلود) د شوروي ضد جهاد په کلونو کې د مولوي يونس خالص صاحب په اسلامي حزب کې شموليت درلود او د مجاهدينو په عبوري حکومت کې يې د حج او اوقافو د وزارت مرستيالۍ دنده هم اجراء کړې وه. د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د اسلامي خوځښت له پيل سمدستي وروسته نوموړی د دې خوځښت سره مل شو او کله چې پلازمينه کابل د طالبانو لخوا فتحه شوه، نوموړی د سرپرستۍ شورى رئيس او وروسته د رئيس الوزراء په حيث وټاکل شو. حاجي معاون صاحب د اسلامي امارت دوهم بانفوذه مشر و چې په ښه علم، ښو اخلاقو، حلم، تواضع، هوښيارۍ او تقوى يې شهرت درلود. نوموړی د سرطان د سختې ناروغۍ په سبب د ۱۴۲۲ هـ ق کال د محرم د مياشتې په لومړۍ نيټه وفات شو. انا لله و انا اليه راجعون

(۲) شهيد ملا امين الله چې په ملا بورجان آخند يې شهرت درلود د ملا محمد صادق زوی په ۱۳۷۹ هجري قمري کال کې د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ په تلوکان سيمه کې زيږيدلی و. ملا بورجان د کشرتوب عمر په ديني زده کړو کې تېر کړی و او د کمونيزم ضد جهاد په کلونو کې نوموړی د يوه وتلي او پياوړي مجاهد په حيث پيژندل کيده.

د اسلامي امارت له قيام سره نوموړی له پيله د دې خوځښت ملګری و، په ډيرو جګړو کې يې د مجاهدينو مشري وکړه، د ملا بورجان آخند په مشرۍ تر ټولو مشهور فاتحانه عمليات هغه و چې د پکتيا له ختيځو سيمو يې پيل کړل، د لوګر ولايت ازره، وريسې يې د ننګرهار حصارک او بيا جلال اباد ښار ونيو. له دې وروسته يې لغمان او کونړ ولايتونه تر تصرف لاندې راوستل او کله يې چې د کابل د نيولو فاتحانه عمليات پيل کړل، عمليات بريالي او کابل فتحه شو، خو ملا بورجان آخند به همدې جګړه کې د وريښمين تنګي په سيمه کې د ۱۳۷۵ هجري لمريز کال د ميزان په دريمه د شهادت لوړ مقام ته ورسيد. ملا بورجان آخند چې د کابل فاتح لقب يې د نوم برخه ګرځيدلې د اسلامي تحريک له مخکښو شخصيتونو څخه و چې په همدې لار کې د شهادت جام نوش کړ.

خنثی کړه چې وروسته وربانديې د طالبانو مخالفينو ژبه تړکوله او ويل به يې چې طالبان له پېخواني جهاد سره تړاو نلري بلکې د مجاهدينو د څپلو لپاره راپورته شوي دي.

په همدې وخت کې ملا محمد اخند[1] د تحريک د عمومي نظامي قومندان په حيث وټاکل شو. کله چې له ټوپکيانو سره د څو اونيو دعوتي خبرې بې نتيجې شوې او د بولدک څينو ټوپکيانو د جنگ خبرې پيل کړې، د ميزان د مياشتې په ۱٦ مه نيټه (۱۴۱۵/۵/۳ هق) ملا صاحب او ملا محمد اخند په بولدک د عملياتو پريکړه وکړه.

د عملياتو د تطبيق لپاره عمومي قومندان ملا محمد آخند، ملا عبدالخالق آخند، ملا حميد الله اخند او بل د ملا محمد رباني آخند ملگری ملا محمد او ورسره نور طالبان انتخاب شول.

ملا محمد آخند وايي چې پلان داسې و چې له ميوند او ډنډ څخه د طالبانو له ټولو ډلگيو څخه پنځه پنځه تکړه مجاهدين وغوښتل شول. د ملا صاحب امر و چې يو هم په دې پلان مه خبروئ چې په کوم ځای حمله کوو. وروسته دغه طالبان په ژړۍ ولسوالۍ کې يوه خالي سرای ته انتقال شول. له هغه ځای نه په دوو هينو موټرو کې(

---

(۱) ملا محمد آخند د مولوي عبدالواحد زوی په ۱۳۸۲ هجري قمري کال کې د کندهار ولايت د ارغنداب ولسوالۍ په منار کلي کې په علمي خاندان کې زيږيدلی دی. دشوروي يرغل په مهال ملا محمد اخند د کندهار د وتلي مجاهد شهيد لالا ملنگ په جبهه کې جهاد شروع کړ. دغه جبهه چې د ستر مجاهد مولوي محمد يونس خالص صاحب د تنظيم مربوط وه، د اسلامي امارت څو تنه نور مشران لکه ملا محمد حسن رحماني، سيد عبدالله آغا( تورک آغا) ملا حيات الله آخند( حاجي لالا) او گڼ نور مخور مجاهدين له همدې جبهې څخه وو. د طالبانو د اسلامي تحريک له پيل سره نوموړي د خپلې جبهې ټوله وسله تحريک ته وقف کړه او خپل مجاهدين يې هم د اسلامي امارت په صفوفو کې استخدام کړل. له همدې ځايه نوموړی د اسلامي تحريک د لومړني نظامي قومندان په حيث وټاکل شو، د ملا محمد اخند په مشرۍ د بولدک ولسوالي او بيا د کندهار ښار فتحه شول، وروسته نوموړي په هلمند، فراه او نيمروز کې هم له مخالفينو سره ډېر جنگونه وکړل تر دې چې د ۱۳۷۴ لمريز کال د سنبلې په ۱۲ مه نيټه د هلمند په شوراب دښته کې له مخالفينو سره په مخامخ جگړه کې په شهادت ورسيد.

چې يو د حاجي بشر او بل د شهيد لالا ملنګ د جبهې لخوا تحريک ته ورکړل شوي وو) طالبان ځای پر ځای شول چې په هر موټر کې تقريبا پنځوس کسان وو. د حرکت په وخت کې يې طالبان فی الجمله خبر کړل چې څرنګه عمليات لرو، په موټرو يې ټاټونه اچولي وو تر څو د لويې لارې توپکيان خبر نه شي او د عملياتو پلان افشاء نه شي.

بولدک ته له رسيدو لږ وړاندې دواړه موټران ودرول سوه، ټاټونه ورڅخه ليري کړای شول، د طالبانو عملياتي تشکيل جوړ او هر ګروپ ته خپل اهداف ورپه نښه شول تر څو له رسيدو سره سم په خپلو اهدافو کار وکړي. له لږ توقف وروسته موټرو حرکت وکړ، کله چې د بولدک مرکز ته ورسيدل يو موټر د ولسوالۍ ودانۍ ته داخل شو او دوهم له پاټک سره ودريد، طالبان ترې ښکته شول او په ډېر کم وخت کې يې د ولسوالۍ تعمير، د امنيت ګروپ، د محکمې سرای او نور مهم ځايونه تر تصرف لاندې راوستل.

په دې ورځ د بولدک ښارګوټي لويديځ اړخ طالبانو ونيو او توپکيانو له چوک ختيځې خوا ته شاتګ وکړ او همدلته يې مورچې ټينګې کړې. دوه ورځې نور پدې وجه جګړه ولاړه وه چې د قومي مشرانو په توسط خبرې روانې وې ترڅو سيمه بې له جنګه تصفيه شي. خو دوه ورځې بعد ماښام مهال د يوه تصادفي جنګ په پايله کې توپکيانو شکست وخوړ او بولدک په بشپړه توګه د طالبانو په ولکه کې راغی.

د بولدک نيول يوه لويه پيښه وه چې رسنيو سرټکی کړه او په لومړي ځل د طالبانو پاڅون مطبوعاتي شو چې د هيواد او نړۍ خلک ترې د راډيوګانو له لارې خبر شول. د طالبانو پاڅون چې شاوخوا درې مياشتې وړاندې په ميوند کې پيل شوی و دا چې د بولدک له نيولو سره په مطبوعاتو کې ياد شول د نړۍ او هيواد ځينو ناخبره ليکوالو داسې وانګيرله چې د طالبانو تحريک له بولدکه پيل شو چې همدا بې بنسټه خبره د طالبانو په اړه په ډېرو ليکل شويو اثارو او ليکنو کې هم ياده شوې ده.

د بولدک د مکملې فتحې په سبا ملا صاحب بولدک ته راغی، له ملا محمد اخند او نورو مجاهدينو سره يې مشورې وکړې، دوی د بولدک د ښار له نيولو وروسته هم په

دې نظر و چې د کندهار د مرکز ټوپکیان د خبرو په توسط له ظلم او اذیت څخه لاس اخیستلو ته تشویق کړي. په دې وخت کې د طالبانو مهم مرکز په ډنډ کې و، ملا صاحب به اکثره وخت شپه په سنگ حصار کې په خپل کور کې کوله او د ورځې به په هغه لاره ډنډ ته راته چې د سرکاتب له پاټکونو را تیریدله.

د بولدک نیولو د کندهار لوی قوماندانان چې ترديې وخته یې طالبان کوم مهم خطر نه باله سخت وویرول او په دې پوه شول چې طالبان به بالاخره ددوی ځنځیران هم ورټول کړي. د بولدک له نیولو څو ورځې بعد یوه شپه د کندهار قوماندانانو پټه غونډه وکړه. په غونډه کې له ملانقیب پرته ټولو قوماندانانو شرکت کړی و، دوی پر دې موافقه وکړه چې باید د طالبانو په خلاف په گډه او همغږۍ ځوابي عملیات پیل کړي. د پروگرام له مخې سرکاتب ته دنده وسپارل شوه چې سبا سهار د طالبانو رهبر ملا محمد عمر مجاهد کله چې د سنگ حصار نه ډنډ ته ځي په لاره ورته کمین ونیسي او له ملگرو سره یې په شهادت ورسوي. بل اړخ ته به د منصور په مشرۍ د امیرلالي، گل اغا، سرکاتب او نور ټوپکیان په بولدک په گډه برید کوي او طالبان به له منځه وړي. د طالبانو د له منځه وړلو لپاره دغه پلان د مجلس ټولو شریکانو تائید کړ او هر یوه د خپل ورسپارل شوې دندې د ترسره کولو وعده وکړه.

خو د مجلس له پای ته رسیدو لا دوه ساعته نه وو اوښتي چې ملا محمد عمر مجاهد له ټول جریان څخه خبر شو. د مجلس له منځه یو تن چې له طالبانو سره یې خواخوږي درلوده د غونډې له اختتام وروسته په نیمه شپه سنگ حصار ته لاړ او هلته یې ملا صاحب ته خبر وروړ چې د سبا لپاره درته داسې پلان جوړ شوی دی.

ملا صاحب چې له ملا محمد اخند سره یې همیشنۍ رابطه درلوده سمدستي یې د مخابرې له لارې په ملا محمد اخند غږ وکړ چې دا وخت په بولدک کې و. هغه یې د کندهار د لویو ټوپکیانو له گډ پلان څخه خبر کړ او د حملې په وړاندې دفاع او د متقابل برید امر یې ورکړ. سبا ملا صاحب خپله ډنډ ته له تللو څخه پاته شو او په دې ډول د سرکاتب دسیسه بې پایلې شوه. طالبانو چې له بولدک څخه د کندهار پخوا د وت په سیمه کې د محمد نبي پاټک یې له وړاندې ټول کړی و د حملې د دفاع لپاره

نور هم مخکې شول او د انځرګي سیمه یې له سیمه ایز قومندان ولي شاه څخه پرته له جنګه ونیوله. د کندهار د ټوپکیانو قوه چې په ګڼ شمیر جنګیالیو، ټانګونو، توپونو او نورو درنو وسلو سمباله وه په تخته پل یې لنګر واچاوه.

ټوپکیانو طالبانو ته حال راواستاوه چې تسلیم شي کنه له خاورو سره به یې برابر کړي. خو ملا محمد اخند چې د جنګ په هنر وارد سړی و، مقابل اړخ ته یې فرصت ورکړ چې خپل قهر تخلیه او زور وکاروي. طالبان په دفاعي حالت کې وو او د د فاعي کمربند په شکل یي د دوي مخه نیولی وه. د کندهار ټوپکیانو دري ورځې مسلسل خپلې ټولې درنې وسلې وکارولې او بیا بیا یې تعرضونه وکړل خو کوم پرمختګ یې ونکړای شو. د بولدک تښتیدلیو ټوپکیانو محمد نبي او اختر محمد پدې منځ کې حمله وکړه د بولدک په لاره د مېل پل یې ونیو او طالبان یې په منځ بیل کړل، خو د ملا رحمت الله آخند[1] په مشرۍ طالبانو په ځوابي حمله شکست ورکړ او په څو موټرو سربیره یې څو تنه بندیان او ګڼ وسایل هم ترې ونیول. له دې جګړې سره هم مهال طالبانو د بولدک د پښې په غره کې په هغو ډیپوګانو هم عملیات پیل کړل چې له همدغو قومندانانو سره یې تړاو درلود، طالبانو دا ډیپوګان ونیول او د وسلو او مهماتو خورا سترې ذخیرې په لاس ورغلې.

د تخته پل په جګړه کې چې کله د ټوپکیانو تهاجمي زور وخوت نو ملا محمد اخند وربانديې د ځوابي عملیاتو پلان جوړ کړ. د ۱۱۵ په شاوخوا کې طالبان یې دوه تشکیله

(۱) شهید ملا رحمت الله اخند د الحاج ملا فیض محمد آخند زوی په ۱۳۵۰ هـ ش کال کې د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ په جازه کلي کې په یوه دینداره کورنۍ کې دنیا ته سترګې روښې کړې.

ملا رحمت الله اخند د اسلامي تحریک له لومړنیو مهمو جهادي مشرانو څخه و چې د کندهار ښار په فتحه، د هلمند په عملیاتو، او دهرات په فتحه کې مهم نقش درلود. د اسلامي تحریک د اولني نظامي قومندان ملا محمد آخند له شهادت وروسته ملا رحمت الله آخند د هغه په ځای تعین شو. ملا رحمت الله اخند د ژوند په وروستیو کې کابل ته نږدې د ریشخورو په ساحه کې د جنګي کربښې مسؤلیت درلود چې همدلته د ماین په یوه چاودنه کې شهید شو.

کړل، خپله يې د ملا رحمت الله اخند په همکارۍ د سرک لوړې خواته حمله وکړه او د ښکته خوا مشري يې ملا سراج الدين آخند ته وسپارله. دوی په تياره کې عمليات پيل کړل، شيبه وروسته په دواړو خواوو ټوپکيانو شکست وخوړ او پرمخ تلونکي طالبان د تخته پل په مرکز کې سره وصل شول، له همدې ځايه يې ټوپکيان پسې تعقيب کړل او په شپه شپه کې يې د کندهار تر هوايي ډګره وځغلول. ملاصاحب چې ټوله شپه د مخابرې له لارې له ملا محمد اخند سره په ارتباط کې و کله چې طالبان له تور کوتل واوښتل نو يې امر ورکړ چې له هوايي ډګر سره توقف وکړي ځکه هسې نه ښار ته په تياره کې په ننوتو له تلفاتو سره مخ شي.

د لارې په اوږدو کې هغه ټانګونه او موټر چې له ټوپکيانو چالان پاته شوي وو طالبانو را رهي کړل. طالبانو په سهار کې د کندهار هوايي ډګر هم ونيو او دا چې د ښار خواته د ټوپکيانو د مقاومت کوم اثر نه ښکارېده د ښار خواته روان شول، دا مهال د خاکريز د وهاب خان کومکي قوه راورسيده چې د اميرلالي د مرستې لپاره را روانه شوې وه، له لنډ جنګ نه وروسته طالبانو شکست ورکړ او خپله وهاب خان د اميرلالي د دوو نورو قومندانانو عبدالله خان او بارو په شان طالبانو ژوندی ونيو. په همدې ورځ د غره په کلي کې د منصور مرکز هم تصفيه شو او خپله منصور چې د تيښتې په مهال په ريګ کې ويشتل شوی و طالبانو يې جسد له هوايي ډګر سره د ټانګ په ميل راځوړند کړ.

په دې ډول د کندهار په ښار کې د اميرلالي، ګل اغا، منصور او عبدالعليم اړوند ځايونه د طالبانو لاس ته ورغلل، ملا نقيب خپل تشکيلات په خپله خوښه لغو کړل او ټول وسائل او تر لاس لاندې ځايونه يې طالبانو ته وسپارل. طالبانو څو ورځې وروسته يوازيني پاته قومندان سرکاتب هم له لنډ جنګ وروسته له سيمې وشاړه ورپسې خاکريز او شاوليکوټ ولسوالي هم تصفيه شوې تر څو په دې ډول د افغانستان لومړنی پلازمينه او په جنوب کې کليدي ښار تاريخي کندهار په بشپړ ډول د ملا محمد عمر مجاهد تر واکمنۍ لاندې راغی.

**کندهار او د نظام لومړی هسته**

د ملا محمد عمر مجاهد په مشری طالبانو د ۱۳۷۳ لمریز کال د عقرب د میاشتې په ۲۱ نیته (۸/٦/۱۴۱۵هق) د افغانستان پخوانی پلازمینه او دوهم ستر ښار کندهار تر خپل واک لاندې راووست.هغه څه چې دې ښار او نورو مفتوحه سیمو لومړنی اړتیا ورته درلوده هغه د یوه صالح او معیاري حکومتي نظام په پښو درول و.

له طالبانو وړاندې کندهار او د افغانستان نورو سیمو کوم د حساب وړ حکومتي نظام نه درلود او په هر ځای د بشپړ هرج و مرج او بې نظمی واک چلېده. ملا صاحب په خپل لومړني اقدام کې په شرعي بنیادونو د ولاړ نظام او اداري سیستم د اقامه کولو هڅه پیل کړه.

ملا محمد عمر مجاهد چې د دې اسلامي خوځښت مؤسس او مبتکر و، د پاځون لپاره یې دعوت چلولی و او په یوازې ځان یې له ټوپکیانو سره د مبارزې او د هغوی په مقابل کې د مخلصو مجاهدینو او طالبانو د اماده کولو اقدام کړی و عملاً یې د اسلامي تحریک په رأس کې د عمومي أمیر یا مشر په حیث قرار درلود. نوموړي د کندهار له فتحې وروسته لومړی د حکومتي سیستم د احیاء لپاره د کندهار د مهمو ادارو مسؤلین وټاکل.

ملا محمد حسن اخند د کندهار د والي په حیث، ملا محمد اخند د تحریک د عمومي نظامي قومندان په حیث، ملا بورجان اخند د امنیې قومندان، ملا عبید الله اخند د قول اردو قومندان، مولوي عبدالسلام د هوایي ډګر مسؤل، مولوي احسان الله احسان د مستوفیت مشر، ملامحمد عباس آخند د کندهار ښاروال، ملا حاجي محمد اخند د بانک مشر، مولوي وکیل احمد متوکل د اطلاعاتو او کلتور رئیس او ملا الله داد طبیب د ګمرګ د رئیس په حیث وټاکل شول.

دې مسؤلینو په خپلو ادارو کې فعالیت له صفر څخه شروع کړ، د کندهار په حکومتي ادارو کې د نظام په ځای د ټوپکیزم آثار پاته وو، د طالبانو لومړی کار دا و چې د کندهار خدماتي ادارې او ریاستونه د ټوپکیانو د نشه یي توکو، بدکاریو او وحشتونو له اثارو تصفیه کړي.

په همدې موده کې د تحریک د تشکیلاتي جوړښت د پراختیا او انکشاف په لاره کې د ملا صاحب بل د پام وړ اقدام د عالي شورا منظورول او تشکیلول و چې په هماغو ابتدائي شرایطو کې یې په ځانګړي ډول په سیاسي او انتظامي چارو کې مهم رول درلود. د اسلامي تحریک عالي شورى چې په پیل کې یې اته کسه اعضاء درلودل وروسته یې د اعضاوو شمیر همیشه زیاتېده او کمېده. دې شورا د اسلامي تحریک له امیر ملا محمد عمر مجاهد وروسته دوهم مهم او باصلاحیته موقف درلود او د مهمو چارو په اړه به یې غور، مشورې او فیصلې کولې.

د عالي شورى غونډې په پیل کې د ملا صاحب په مشرۍ او وروسته په نظامي چارو کې د ملاصاحب د ډېرې بوختیا له امله د ملا محمد رباني په سرپرستۍ ترسره کېدلې. ملا صاحب چې د تحریک له پیل نه بیا د هرات د فتحې تر وخته یې ډېره توجه نظامي اړخ ته وه او ډېر وخت به له نظامي مسؤلینو سره مصروف او حتی کله به د جګړې سیمو ته تلو، په دې مرحله کې سیاسي چارې، لیدنې کتنې، ملکي او خدماتي امور، د نویو راتلونکو علماوو او طلباوو استقبال او نورې ډېرې غیر نظامي چارې د عالي شورا لخوا ترسره کېدلې.

ملا صاحب د کندهار د ولایت مقام د خپل میشت ځای په حیث انتخاب کړی و، دا مهال چې له مختلفو سیمو د مدارسو طالبان او مجاهدین په ډلو ډلو راتلل او په تحریک کې شاملېدل، ملا صاحب به ورسره د ولایت په ودانۍ کې لیدل. له هغوی یې بیعت قبلاوه، هغوی ته یې مسؤلین او ډلګۍ مشران ورټعینول او بیا به یې د اړتیا او مصلحت سره سم نظامي یا ملکي وظایفو ته لیږل. د طالبانو له تحریک وړاندې چې په هیواد دننه او بهر د مدارسو د طالبانو تشکیلات د جمعیت طلبه یا د اهل السنة والجماعة د بیلابیلو اتحادیو په نوم موجود وو د تحریک له پیل سره دا ټول تشکیلات په همدې واحد صف کې داخل شول او ملا محمد عمر مجاهد یې د خپل عام امیر په حیث تصویب کړ. په ۲۲/۹/۱۳۷۴ هـ ش نیټه (۲۰ / ۷ / ۱۴۱۶هق) ملا محمد عمر مجاهد د یوه فرمان په صدور سره له تحریک د باندې د طالبانو ټول ګروپونه یا اتحادیې منحل اعلان کړل چې په دې سره د صف وحدت نور هم تضمین شو.

په کندهار کې د نظام د لومړنۍ هستې له رامنځته کیدو سره حکومتي سیستم په فعالیدو شو، ښاروالۍ، بانک، آب و برق، صحت عامې، معارف او نورو ریاستونو خدمات پیل کړل. په قضایي برخه کې د کندهار محکمه فعاله شوه او د روس ضد جهاد د مهال مشهور قاضي مولوي سید محمد پاسنی صاحب یې د رئیس په حیث وټاکل شو. په فرهنګي برخه کې د کندهار راډیو سټیشن فعال شو او د شریعت غږ راډیو په نوم یې خپرونې پیل کړې، د اطلاعاتو کلتور ریاست لخوا د طلوع افغان جریده چې څوکاله له چاپه پاتې وه یو ځل بیا یې چاپ او نشر پیل شو.

د نظام له اوږده غیاب وروسته چې په کندهار او وروسته د افغانستان په نورو برخو کې د طالبانو د اسلامي تحریک لخوا کومه اداره رامنځته شوه. یو امتیاز یې دا و چې دغه نظام په شرعي بنیادونو ولاړ و او په هره چاره کې یې اسلامي شریعت ته د ټر ټولو معتبر قانون په نظر کتل. همدغه نظام د فتوحاتو په تعقیب نورو ولایاتو او ولسوالیو ته هم پراخیده.

**طالبان له مدرسو د مبارزې د میدان پر لور**

که څه هم د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د طالبانو تحریک څو میاشتې پخوا پیل شوی و، خو د سپین بولدک او کندهار ښار له نیولو وروسته په لومړي ځل رسنیو د طالبانو د خوځښت په اړه راپورونه خپاره کړل. په دې سره په هیواد دننه او په نورو هیوادونو خصوصا د هجرت په کمپونو کې هغه خلک چې د هیواد روان وضعیت ځورولي وو او د امید ځرک ته منتظر وو، ټولو ته تلوسه پیدا شوه چې د دې نوي خوځښت په اړه معلومات وکړي او که چیرې د دوی له هیلو سره سم او د جهادي اهدافو او هیواد په ګټه وي نو به ورسره یوځای شي. په دې ډول که له یوې خوا د هیواد له بیلابیلو سیمو څخه مخلصو او متدینو جهادي قومندانانو او اهل خیر اشخاصو د طالبانو له تحریک سره اړیکي نیول پیل کړل. بلې خوا ته د هیواد له بیلابیلو سیمو او په پاکستان کې د افغان مهاجرینو له کمپونو څخه د مدرسو طالبانو هم له تحریک سره د اړیکو او وصل کیدو هڅې پیل کړې.

ملا خیر الله خیرخوا صاحب وایي چې هغه مهال یې د پاکستان د کوټې په ښار کې د هجرت ژوند درلود او په مدرسه کې یې دیني سبقونه ویل چې د طالبانو د تحریک له جوړېدو خبر شو. بیا د مدرسو افغان طالبان سره راټول شول چې شمیر یې ۳۷۰ نفرو ته رسیده، دوی اراده درلوده چې په کندهار کې له نوي راټوکیدلي اسلامي تحریک سره یو ځای شي. خو دا چې اکثره غریب طالبان وو حتی دومره پیسې هم نه وې چې دوی ورباندې ځانونه تر کندهار ورسوي. بیا د( لالک ماما) په نوم د کندهار یو تن اهل خیر شخص طالبانو ته موټر کرایه کړل او هغوی په کې تر کندهاره لاړل او له اسلامي تحریک سره یوځای شول.

مولوي شهاب الدین دلاور صاحب وایي: هغه وخت مې په پېښور کې د هجرت په کمپ ( سیاف فامیلیو ) کې مدرسه درلوده چې ۴۰۰ تنه لیلیه طالبان راسره اوسیدل. همدومره نور نهاري طالبان وو. دغه راز شیخ الحدیث مولوي محمد نعیم صاحب، حاجي مولوی محمد صادق صاحب، مولوي نور محمد ثاقب صاحب او ګڼ نور علماء کرام هم د پېښور په بیلابیلو سیمو کې په تدریس بوخت وو. کله چې په کندهار کې اسلامي تحریک پیل شو. نو هلته د هجرت په کمپونو کې علماء کرام سره کیناستل او مشورې یې پیل کړې، علماء کرامو ته معلومه شوه چې دا واقعا یو اسلامي او افغاني حرکت دی، نو علماء کرامو یې حمایت پیل کړ، د مهاجر بازار په کمپ کې موږ یوه لویه جلسه جوړه کړه چې ټولو جهادي تنظیمونو ته منسوبو علماء کرامو په کې ګډون درلود. په دې جلسه کې مهاجرو علماء کرامو په اتفاق سره د طالبانو د اسلامي تحریک حمایت وکړ او د مدرسو طالبانو ته یې وویل چې له تحریک سره دې یو ځای شي. تر دې پورې چې د کندهار د نیولو په شپو ورځو کې تر ۲۵۰۰ زیات طالبان یوازې په پېښور کې د مهاجرو افغانانو له مدارسو له اسلامي تحریک سره یوځای شول.

مخکې یادونه وشوه چې د طالبانو د اسلامي تحریک له پیل وړاندې په دیني مدارسو کې افغاني طالب العلمانو یو لړ محلي تشکیلات درلودل چې د اهل السنة و الجماعة د اتحادیو تر عنوان لاندې یې فعالیت درلود. د طالبانو د اسلامي تحریک له پیل سره په دغو اتحادیو کې شامل طالبان په جمعي شکل له اسلامي تحریک سره یو ځای شول.

قاري دين محمد حنيف صاحب وايي چې د افغانستان د شمالي ولاياتو ډيرو طالبانو د تحريک له پيل سره سم کندهار ته ځانونه رسولي او له اسلامي تحريک سره يوځای شوی وه. خو دا سلسله وروسته هم روانه وه، کله چې طالبانو د خوست ولايت ونيو، نو يوازې د بدخشان ولايت ۱۱۷ تنه طالبان چې د هجرت د ديار په ديني مدارسو کې يې درسونه ويل، خپل درسونه يې پريښودل او په خوست کې له اسلامي تحريک سره ملګري شول.

د هيواد او د هجرت د مينې له بيلابيلو سيمو د مدرسو د طالبانو راتګ او له تحريک سره وصل کيدلو که له يوې خوا د تحريک افرادي قوت څو برابره زيات کړ. له بلې خوا څرنګه چې دغه طالبان د هيواد د بيلابيلو سيمو او قومونو سره تړلي وو تحريک يې افغان شموله هم کړ. له مدارسو او مساجدو راوتلي او له ديني کتابونو را ولاړ شوي دغه ځوان طلباء هغه صالح او مصلح قشر وو چې ډېر ژر يې د افغان ولس په زړونو کې ځای وموند. افغان ولس چې ليدل چې اوس په لويو لارو د بدکارو او فاسقو ټوپکيانو پوستې او ځنځيران نشته، بلکې پر ځای يې هره خوا د سفيد پوشو طالبانو نوراني څيرې، د جماعت لمونځونه، دعوتي مجالس او اصلاحي فعاليتونه ښکاري نو د طالبانو اسلامي تحريک يې نه يوازې د يوه واقعي ديني او د جهاد ارمانونو ته د ژمن خوځښت په حيث ومانه بلکې هر راز همکاري يې هم ورسره پيل کړه. همدا ولسي-همکاري وه چې په مټ يې طالبانو وکړای شول په ډيره کمه موده کې د هيواد له اکثره سيمو د ټوپکيزم ټغر ټول کړي.

**د نظام پراختيا او فتوحات**

په کندهار کې د طالبانو له استقرار او تمکين وروسته دې خوځښت عملا د يو سياسي جهت په حيث بروز وکړ. په همدې مهال د هيواد له ټولو سيمو څخه علماء کرامو، د مدرسو طالبانو او هغو مجاهدينو چې غوښتل يې د فساد په وړاندې په جهاد کې ګډون وکړي کندهار ته يې مخه کړه. په دې سره د طالبانو د تحريک قوت ورځ تر بلې زياتېده او نورو سيمو ته د پراختيا توان يې پيدا کاوه. نوموړو علماءکرامو، طالبانو او مجاهدينو د اسلامي تحريک د همکارۍ ترڅنګ دا غوښتنه هم کوله چې د دوی

ولایاتو او سیمو ته دې هم تحریک وغځول شي ترڅو هلته هم د فساد او ګډوډۍ مخه ونیول شي.

همدا لامل و چې د ۱۳۷۳ لمریز کال د جدي په میاشت کې د ملاصاحب په مشرۍ د اسلامي تحریک مشرانو دریو خواوو ته تشکیلات وکړل. د ملا نورالدین ترابي تر مشرۍ لاندې د زابل ولایت خوا ته، د ملا محمد رباني په مشرۍ د روزګان ولایت خواته او د ملا محمد آخند په مشرۍ د هلمند ولایت خواته چې له دې وروستي تشکیل سره ملا صاحب خپله هم ملګری و.

ملا محمد عمر مجاهد وتوانېد چې د لښکرګاه، کرشګ او د هلمند د ځینو مرکزي سیمو واک پرته له جنګه ترلاسه کړي د هلمند په شمالي ولسوالیو کې د امیردادو او غفار اخندزاده په نوم قومندانانو د جنګ اراده څرګنده کړه. ملا صاحب لومړی دوی ته د هیواد د څو تنو مشهور عالمانو ( مولوي محمد صادق، مولوي موسی جان، مولوي محمد میر، مولوي شهاب الدین دلاور، مولوی نور محمد ثاقب او نورو) هیئت ورولیږه. د دې ترڅنګ یې څو نور هیئتونه هم ورولیږل او مسلسلې غوښتنې ترې وشوې تر څو له ناروا کړنو لاس واخلي او د ظلم د تغر ټولولو په کار کې له اسلامي تحریک سره وصل شي. خو هغوی دا جرګې او غوښتني و نه منلې چې متقابلا د ملا محمد اخند په مشرۍ طالبانو وربانـدې عملیات پیل کړل بالاخره د دوو ورځو په جریان کې یې د سنګین ښاروان کلا، کجکي ولسوالي، موسا کلا او نور اړوندې سیمې ترې تصفیه کړې او په دې ډول هلمند مکمل د طالبانو تر واک لاندې راغی.

په همدې ورځو کې چې ملاصاحب د هلمند ولایت د چارو په سمالښت مصروف و روزګان هم پرته له جنګه طالبانو ونیو او د غزني په خوا طالبان د کلات، شاجوی او قرباغ له نیولو وروسته پرته له جنګه د جدي په ۲۷ مه غزني ښار تـه داخل شول. دا وخت چې د غزني د نیولو لپاره د حکمتیار او حزب وحدت قواوې هم راټولې شوې وې او د غزني ښار ختیځ او جنوب تـه یې د روضې او یونټ سیمې نیولې وې ملا صاحب د دلوې په ۱۴ مه نیټه د څرخکې په واسطه دې تاریخي ښار تـه سفر وکړ او هلته یې وضعیت له نږدې وکوت. په همدې ورځو کې د غزني ښار په ختیځ اړخ کې

طالبانو د حکمتیار او مزاري له ځواکونو سره جنګ وکړ چې مخالف لوري شکست وخوړ او د وردګو ولایت د سیداباد له نیولو وروسته طالبان تر میدان ښاره ورسیدل.

د دلوې د میاشتې په ۲۲ مه نیټه (۱۱ / ۹ / ۱۴۱۵هق) ملا صاحب له څو تنو نورو مشرانو سره یوځای په څرخکه کې لومړی غزني او بیا د وردګو ولایت سیداباد ولسوالۍ ته لاړل. دا وخت طالبان د میدان ښار لمنو ته رسیدلي و خو لا هم میدان ښار طالبانو نه و نیولی.

د روژې میاشت وه چې ملا صاحب شیخ اباد ته راغی. دا چې د ځیلي سخت یخ و او طالبانو تردې وخته کومه مجهزه قرارګاه نه وه سمباله کړې د طالبانو یوه قومندان ملا احمد الله اخند د شیخ اباد په ښارګوټي کې له یوه هوټل سره خبره وکړه چې د پیسو په مقابل کې د طالبانو مشرانو ته د روژه مات، پیشلمي او د شپې تیرولو امادګي ونیسي.

په دې غونډه کې په ملاصاحب سربیره نورو مشرانو لکه ملامحمدرباني، ملا نورالدین ترابي، ملا بورجان اخند، ملا احمدالله، ملا محمد غوث، معلم فداء محمد او ډیرو نورو مشرانو هم ګډون درلود. مجلس په دې فیصله وکړه چې د میدان ښار له نیولو وروسته دې د کابل پرخوا پرمختګ نه کیږي، بلکې په عوض دې د لوګر خواته پرمختګ وشي څکه د تنګي له درې څخه د حزب کسانو پرلپسې په طالبانو له شا بریدونه کول. په مجلس کې په دې خبره هم تاکید وشو چې له احمد شاه مسعود سره دې د جنګ په ځای د سولې هڅه وشي تر څو روان مشکلات پرته له جنګه حل شي.

د همدې غونډې په سبا طالبانو میدان ښار له معمولي جنګ نه وروسته د حزب له ځواکونو ونیو او ورپسې یې د لوګر پل عالم او د کابل چهاراسیاب ولسوالۍ هم تر واک لاندې راوستې. د چهار اسیاب له نیولو وروسته ملامحمد عمر مجاهد په څرخکه طیاره کې پل عالم ته راغی، دلته د طالبانو مشرانو چې په ترکیب کې یې ملامحمد عمر مجاهد، مولوي احسان الله احسان، ملامحمد رباني، ملامحمد غوث، ملا نورالدین ترابي، ملا عبدالسلام راکټي، ملا یارمحمد، ملامحمد آخند، حاجي ملا محمد آخند، ملا بورجان اخند او داسې نور شامل وو یو ځل بیا مشورتي غونډه وکړه او په دې یې بحث وکړ چې تردې وروسته څه کوو؟ فیصله په دې وشوه چې د کابل خواته به یوازې

خپل خطونه ټینګ کړو او حرکت به له هلمنده د فراه خواته پیل کړو ځکه په دې وخت کې اسمعیل خان د طالبانو د ځپلو لپاره د لوی ځواک په برابرولو بوخت و.

ملا صاحب چې د فساد سره د مبارزې په لاره کې له جګړې وړاندې سوله ایز حل اړین باله طالبان یې د جګړې له پیل وړاندې همیشه په نرم چلند مأمور کړي وو. طالبانو په چهار اسیاب کې د حکمتیار د واک سیمو ته داخل شوي د مسعود کسان له نیولو وروسته بیرته ازاد کړل او د ملا محمد رباني په مشرۍ یې یوه باصلاحیته پلاوي ته امر وکړ چې په میدان ښار کې له مسعود سره مخامخ لیدنه او خبرې وکړي.

ملا نورالدین ترابي وایي کله چې احمدشاه مسعود د ملاقات لپاره میدان ښار ته راته، زه په کندهار کې وم. ملاصاحب ماته وویل چې همدا نن عاجل په هلیکوپتر کې لاړ شه، مسعود راځي ډېر نرم او ښه مجلس ورسره وکړئ او اطمینان ورکړه چې موږ یقیناً ستاسو سره د نورو ټوپکیانو په شان معامله نه کوو چې پر کور دې کینوو بلکې ته که د روان فساد په مقابل کې له موږ سره همکارۍ وکړې ته به زموږ د تحریک مهم شخص یې. په میدان ښار کې د مجلس په مهال چې کله د طالبانو په استازیتوب ملا محمد رباني مسعود ته د طالبانو مرام او هدف بیان کړ نو ده وویل : زه داسې پوه شوم چې تاسو څلور شیان غواړئ، اول د ځنځیرانو ختمول، دویم په افغانستان کې اسلامي نظام راوستل، دریم له حکومتي ادارو څخه کمونیستان لرې کول، څلورم شر او فساد ختمول. موږ وویل هو همدا مو مراد دی. مسعود وویل په دې کې زه هم درسره موافق یم نو زموږ او تاسو تر منځ به رابطه وي او بیا یې خپل یو کس ته وظیفه ورکړه چې له موږ سره رابطه جاري وساتي.

ښایي د مسعود همدا ظاهري دوستانه پالیسي او د اسلامي تحریک له اهدافو سره توافق و چې د کابل په لمنو کې د طالبانو او مسعود تر منځ تر ډېره وخته جنګ پیښ نه شو. خوپه دې وروستیو کې را برسیره شوي اسناد ښیي چې میدان ښار ته د مسعود سفر او هلته له طالبانو سره دا وړ د توافق خبرې د ده یو نظامي چال و. د لیکوال رزاق مأمون له قوله د مسعود یو نږدې ملګری جنرال داود چې له مسعود سره په دې سفر کې ملګری و وایي چې د مسعود له دې سفر سره یې ملګري مخالف و خو مسعود د دې ملاقات

وجه دا وښودله[۱] (که تر یو وخته طالبان د کابل ښار له دروازو بهر متوقف نه کړو نو جنگ مو بایللی دی. زموږ د کسانو مورال کمزوری دی او فکر کوي چې طالبان شکست ناپذیر ځواک دی. څوک چې په حتمي پیروزي باور نه لري شکست خوري. نو ځکه په هره طریقه چې ممکنه وي، طالبان باید څو میاشتې د کابل په جنگي کرښو کې ایسار وساتو تر څو په تدریج سره زموږ کسان دې نتیجې ته ورسیږي چې طالبان هم د دوی په شان انسانان دي او مرمۍ وربانديې اثر کوي)

خو د طالبانو په وړاندې د مسعود دښمنانه څېره ډېره ژر روښانه شوه، د حوت د میاشتې په نیمایي کې طالبانو د کابل په غرب کې د حزب وحدت له هزاره ملیشو سره توافق وکړ چې د بامیانو په خوا د لارې ورکولو په مقابل کې خپلې وسلې او تر لاس لاندې سیمې طالبانو ته وسپاري، د حزب وحدت کسان چې څو کاله له مسعود سره جنگیدلي وو اوس په کلابند حالت کې پاته وو. طالبان د حوت په نهمه د کابل لویدیځو سیمو ته ننوتل ترڅو له هزاره ملیشو نه د سیمو واک واخلي په همدې وخت کې وربانديې د مسعود قواوو ناڅاپي برید وکړ او په درنو تلفاتوسربیره یې ګڼ شمیر طالبان اسیران هم کړل.

په همدې وخت کې چې طالبان د کابل تر لمنو رسیدل د مولوي احسان الله احسان په مشرۍ د طالبانو یو بل کاروان د جنوب ختیځ زون د دریو ولایتونو( پکتیا، پکتیکا او خوست) واک د ځایي ولسونو له تاوده هرکلي سره یو ځای په لاس کې واخیست او د مولوي جلال الدین حقاني او مولوي نصر الله منصور د مجاهدینو په شمول د سیمې ډیری مجاهدینو له اسلامي تحریک سره بشپړ ملاتړ اعلان کړ.

---

(۱) اگر تا مدتی، طالبان را عقب دروازه های کابل متوقف نکنیم، جنگ را می بازیم .روحیه مجاهدین ضعیف است و فکر می کنند که طالبان شکست ناپذیر اند. کسانی که به پیروزی حتمی معتقد نباشند،شکست می خورند. باید به هر طریق ممکن، طالبان چند ماه در خطوط جنگ کابل متوقف بمانند تا افراد ما به تدریج به این نتیجه برسند که آن ها هم مثل خود شان انسان اند و با یک گلوله از پا در می آیند. ( د رزاق مامومن لیکنه له گذارشنامه افغانستان بلاگ څخه)

**په لویدیځه حوزه کې معرکې او د هرات فتحه**

د ۱۳۷۳ لمریز کال د حوت په لومړیو ورځو کې د افغانستان په لویدیځ کې ځواکمن قوماندان تورن اسمعیل خان د زرګونو په شمیر ځواکونه را یوځای کړل او د خپل جنګي قوماندان علاء الدین خان په مشرۍ یې د هلمند په خوا ولیږل.(۱)

دغه قوه چې د اسمعیل خان د یوه پلوي قوماندان جنرال ظاهر عظیمي په خبره یې د افرادو شمیر ۲۵ زره کسانو ته رسېده، داسې معلومېده چې د طالبانو د خوځښت د یو مخ له منځه وړلو په نیت راخوځول شوې وه. د تورن اسمعیل ستر لښکر د دلارام له ولسوالۍ تېر شو او د خاشرود جنوب اړخ ته په شل کیلومترۍ کې یې د هلمند ولایت د سنګلان په غونډیو کې واړول چې په وړاندې یې د ملا محمد اخند په مشرۍ د طالبانو محدود ځواکونه وو. د حوت د میاشتې په ۱۰ مه شپه د یوه تصادفي برخورد په پایله کې د طالبانو او تورن اسمعیل ځواکونه سره ونښتل، په دې جګړه کې چې طالبانو د اسمعیل خان د لوی لښکر منځ ته ځان رسولی و د اسمعیل خان لښکر ته یې درونده شکست واړاوه، په جګړه کې په سلګونو تنه د اسمعیل خان کسان تسلیم او یا ژوندي ونیول شول.د جګړې په دوهمه ورځ د لښکر مشر علاء الدین خان سخت ټپي شو او مرستیال یې جنرال یلاني اړ شو چې خپل ځواکونه د بیا انسجام لپاره د دلارام پر خوا ۲۰ کیلومتره شاته بوځي او د خاشرود سیند په شمالي غاړه خط واچوي. د ملا محمد عمر مجاهد په امر د اسمعیل خان نیول شوي افراد ټول ازاد کړای شول چې دې کار د

---

(۱) جنرال ظاهر عظیمي د دې قوې په اړه په خپل کتاب کې لیکلي: له افغانستانه د شوروي لښکرو له وتلو وروسته دومره ستر لښکر کله هم نه و لیدل شوی. په دې لښکر کې د هرات، فراه او نیمروز تقریبا ټول قوت را یوځای شوی و. مشري یې د قوماندان علاء الدین خان په غاړه او مرستیال یې جنرال یلاني و. ورسره ګڼ نور جګړه ماران لکه غفار اخندزاده، محمد شاه، د شمال ولایاتو قوماندان عبدالمناف، سلام پهلوان، حبیب الله بیګ، د شینډنډ غازي محمد، د فراه جنرال جلیل، عبدالخالق او ګڼ نور قوماندانان له خپلو ټوپکیانو سره په کې برخوال وو چې ورسره لسګونه ټانګونه، درنه توپخانه، مختلف زرهي وسایط او د سلګونو په شمیر موټر او ګڼ نور پوځي امکانات وو. (طالبان چګونه آمدند؟ ۲۹ ـ ۳۰ مخونه)

طالبانو په اړه د اسمعیل خان د ځواکونو نظر او فکر له بنسټه تغیر کړ، د هغوی لـه فکـر یې ددښمنۍ احساس کم کړ او بیا هر یوه هڅه کوله چې د طالبانو په وړاندې د جګړې په ځـای د تسـلیمۍ یـا فـرار لاره ونیسـي چـې پـه دې ډول د اسـمعیل خـان د نظـامي تشکیلاتو شړیدل پیل شول.

د افغانستان په لویدیځ کې له اسمعیل خان، کریم براهوي او نورو قومندانانو سره جګړو پوره ۷ میاشتې دوام وکـړ، پـه دې مرحلـه کـې د فـراه او نیمروز ولایـاتو مراکـز او نـور مربوطات بیا بیا لاس په لاس شول. د جګړو مرکزي سیمه د کندهار ــــ هـرات پـر لویـه لار پرته د فرارود سیمه وه چې دواړو اړخونو په کې یو بل ته مخامخ کمربندونه اچولي وو او پر یو بل یې بریدونه کول. په دې جګړو کې دواړو اړخونو ته درانه زیانونه اوښتل د طالبـانو د لـومړني نظـامي قومنـدان ملامحمـد اخنـد او نـورو مشـرانو لکـه مولـوي عبدالسلام، مولوي عزت اللـه عـارف او نـورو پـه شـمول ګـڼ مخـکښ کسـان همدلتـه شهیدان شول. د ۱۳۷۴ لمریز کـال د سـنبلې میاشـتې پـه لومړیـو کـې د اسـمعیل خـان ځواکونو د فراه له اړخه لوی تعرض وکړ چې طالبان یې شاتګ ته اړ کړل، د شوراب پر سیمه د ملا محمد اخند له شهادت وروسته طالبان له خورا سـخت حالـت سره مخـامخ شول او تر ګرشک پورې یې شاتګ وکړ. دا وخت اسمعیل خان د پرمختـګ پـه حـال کي و او د کندهار د سقوط ویره موجوده وه. ملا محمد عمر مجاهد چې د تل په څېـر یې جګړه څارله کله چې د جګړې وضعیت ورته ښکاره شو نو له څو تنو ملګرو سره له کندهاره د ګرشک خوا ته روان شو تر څو مستقیما جګړه رهبري کړي. له نوموړي سره تکړه قومندان ملا فاضل اخند هم ملګری و. د نوموړي د دې سـفر یـوه برخـوال وایـي کله چې د کندهار د سرپوزې سیمې ته ورسیدو، یو لوی موټر پـه مخـه راغـی چـې یـو شمیر طالبان په کې سپاره وو چې څو تنه شهیدان او ټپیان یې کندهار ته انتقالول. دغـه موټر مو ودراوه. له دې طالبانو سره د ملا محمد آخند مرستیال ملا رحمـت اللـه آخنـد هم و. ملا رحمت الله آخند له موټر راښکته شو، ملا صاحب ته یې د ملا محمد آخنـد د شهادت خبر ورکړ او د هلمند د جنګي کربښو حـالات یـې ورتـه تشـریح کـړل. مـلا رحمت الله آخند چې په څیره کې یې د سختې ستومانۍ آثار ښکاره و او د ملا محمد

اخند په شهادت غمجن ښکارېده، ملا صاحب ته یې وویل چې د هلمند خوا ته کار ډېر خراب دی او باید یو عاجل پروګرام وسنجول شي.

ملا صاحب له دغو توضیحاتو وروسته بیرته راوګرځید او مخامخ د کندهار قول اردو ته ورغی. د کابل له جنګي کرښو یې ملا محمد رباني او ملا مشر آخند راوغوښتل، د ملا فاضل آخند او ملا رحمت الله په ګډون دوی ټولو مشرانو په قول اردو کې غونډه وکړه او د اسمعیل خان د سترې حملې د دفع کولو پلان یې ترتیب کړ. ملا رحمت الله آخند یې د شهید ملا محمد آخند په ځای په غربي حوزه کې عمومي مشر تعین کړ. په ملا یار محمد آخند یې غږ وکړ چې ورسره ټانګونه او زرهي ځواک ټول د هلمند پر خوا سوق کړي. په همدې ورځ ملا رحمت الله آخند چې ملا فاضل هم ورسره و بیرته هلمند ته لاړ تر څو په را روان پریکنده جنګ کې د طالبانو مشري وکړي.

د همدې جګړې یو ګډونوال ملا عبدالسلام مجروح وایي: سهاروختي جنګ پیل شو، دښمن سختې وسلې وکارولې خو د پرمختګ مخه یې ډب شوه او شاتګ ته اړ ایستل شول، تر مازدیګر پورې سخت جنګ وشو او د دښمن لښکر بیرته د حوض خشک سیمې ته په شا ووهل شو، په جګړه کې طالبانو ته تر اندازې زیات وسایط، وسایل، لوژیستیکي مواد او بندیان په لاس ورغلل، د اسمعیل خان له کسانو پنځلس زغروال ټانګونه چالان د جګړې پر ډګر پاته وو. د څهل میلو او په لوژیستیکي موادو بار ټیلر په ګډون مو ډېر مواد ونیول په همدې ورځ امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ګرشک ته په موټر کې راغی د جګړې په لومړۍ کرښه کې یې له مشرانو مجاهدینو سره ولیدل خو مجاهدینو ورباندې تاکید وکړ چې احتیاط وکړي ځکه د دښمن الوتکو پرلپسې بمبار کاوه. خو ملا صاحب لا هم په سیمه کې و. طالبانو چې د ګرشک په جنګ کې یې د اسمعیل خان ځواکونه په شا غبرګ کړي وو، پسې تعقیب یې کړل تر دې چې د سنبلې په ۷ مه نېټه یې د خاشرود له سیند واړول او دلارام ولسوالي فتحه شوه. د دلارام له نیولو وروسته د ملاصاحب په مشرۍ نظامي مشرانو د دلارام ولسوالۍ د ګله میخ په سیمه کې تر یوه پله لاندې عاجله غونډه جوړه کړه چې ملا محمدرباني، ملا رحمت الله، ملا مشر، ملا عبدالسلام مجروح او نورو مشرانو په کې ګډون درلود.

ملا صاحب مجاهدین دوه تشکیله کړل چې نیم یې د ججه او نیم نور یې د آب خرما په استقامت ولیږل د سنبلې په ۸ مه د چکاب په سیمه کې د اسمعیل خان قواوو درونـد شکست وخوړ چې په تعقیب یې د فرارود ډیرې سیمې هم د طالبانو لاس ته ولوېدې، خو لا هم په دې ولسوالۍ کې مخالفینو مقاومت کاوه او دفاعي کرښه یې جوړه کړې وه. په راتلونکې ورځ طالبان د فراه مرکز ته ننوتل او د افغانستان په غرب کې د دې مهم ښار واک یې په لاس کې واخیست.

د دې لپاره چې د اسمعیل خان ځواکونه بیا انسجام تـه پرینښـودل شي او پسـې تعقیب شي، ملا محمد عمر مجاهد په همدې ورځ بیا د فراه رود ولسوالۍ ته لاړ او طالبـانو تـه یې د تعرض امر وکړ، دا تعرض ماښام مهال پیل شو. طالبان دوه تشکیله شول چې یوې ډلې مخامخ پر عمومي سرک او بلې ډلې د سرک جنوب اړخ تـه د خوسـت سـیمې لـه استقامت څخه برید پیل کړ. د اسمعیل خان کسانو چې په فرارود کې یې پخوا کمربنـد پروت و دلته یې ډیر ماینونه کرلي وو. څه طالبان په ماینونو شهیدان یا ټپیان شـول خـو بالاخره تعرض کامیاب او د اسمعیل خان د ځواکونو کرښه ماتـه شـوه. پـه همـدې شـپه طالبانو د اسمعیل خان کسان تر هغو پسې تعقیب کړل چې سهار یې د شینډنډ د هوایي ډګر په شمول د دې ولسوالۍ مربوطات هم ونیول او د هرات ښار اړخ ته د میـرداود تـر سیمې یې پرمختګ وکړ.

په همدې ورځ په داسې حال کې چې د هرات لـه هـوایي ډګـر څخـه د اسـمعیل خـان جنګي الوتکې مسلسل را پورته کیدلې او سخت بمبار یې کاوه، ملا محمد عمر مجاهد شینډنډ ته لاړ، هلته یې نظامي مشـرانو تـه هـدایات وکـړل. موافقـه پـه دې وشـوه چـې لومړی باید شینډنډ ښه تصفیه شي او وروسـته د هـرات ښـار پـر خـوا پرمختـګ وشي. ملاصاحب مازدیګر مهال په څرخکه کې بیرته کندهار ته راوګرځېد.

په وروسته ورځو کې په میرداؤد اغا سیمه او د هرات ښار پـه لمنـو کـې هـم د اسـمعیل خان قواوو پرلپسې ماتې وخوړې او د سنبلې په ۱۴ مه(۹ / ۴ / ۱۴۱٦ هق) د هرات ښـار په مکملې فتحې سره د افغانستان پـه لویـدیځو درې واړو ولایتونـو ( هـرات، فـراه او نیمروز) باندې د طالبانو تسلط بشپړ شو.

د هرات د فتحې په دوهمه ورځ ملامحمدعمرمجاهد په هلیکوپټر کې د کندهار څخه هرات ته لاړ، د هرات په تاریخي جامع مسجد کې یوه لویه غونډه جوړه شوه چې خپله ملا محمد عمر مجاهد هم په کې ګډون وکړ. د مجلس په پیل کې د قران کریم له تلاوت وروسته ملا محمد رباني غونډې ته د اسلامي تحریک د امیر ملا محمد عمر مجاهد پیغام په لاندې ډول وړاندې کړ:

محترمو علماء کرامو، جهادي قومندانانو، سپین ږیرو، قومي مشرانو، روشنفکرانو او محصلینو ورونو!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

دا چې د افغانستان په تېر اوولس کلن تاریخ کې هر څه وشول تاسو ټولو ته معلومه ده او تبصرې کولو ته یې ضرورت نشته.په اوسنیو حالاتو کې د وروستیو فتوحاتو په اړوند خصوصا د هرات له مؤمنو او مسلمانو خلکو څخه چې د اسلامي تحریک او د اسلام د اتلو غازیانو په وړاندې یې کوم مقاومت ونکړ مننه کوم. زموږ غوښتنه داده چې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د شریعت په چوکاټ کې خپل ګټور او ابرومندانه ژوند ته دوام ورکړئ. ټول باید پرته له تشویش او ډار څخه خپلې ورځنۍ دندې چې هر ځای یې درلودې انجام کړي.موږ له هیچا سره کومه شخصي دښمني نه لرو.موږ ددې لپاره پاڅون شروع کړی چې په در او کړېدلي افغانان نور له دې بدبختیو څخه خلاص شي.دکونډو او یتیمانو اوښکې وچې شي. وران او ویجاړ هیواد مو بیرته ودان شي. موږ غواړو چې د الله تعالی پر ځمکه د الله نظام راشي. په اخر کې یو ځل بیا د هرات له مسلمانو خلکو څخه مننه کوم.

و من الله التوفیق

وروسته ملا محمد رباني اخند غونډې ته مفصله وینا وکړه او داسلامي تحریک اهداف یې بیان کړل. ملاصاحب له فتحې وروسته څو ورځې نور هم په هرات کې پاته شو. اوهلته د هرات په خانه جهاد مانۍ کې د ملا صاحب په مشرۍ د امارت مشرانو غونډه وکړه چې په کې ملا یار محمد اخند والي، ملا محمد عباس اخند د والي

مرستیال، ملا معاذ الله د امنیې قومندان، ملا سراج الدین د زلمي کوټ د ۱۷ مې فرقې قومندان او حاجي ملا عبدالسلام مجروح د هرات د قول اردو د قومندان په حیث وټاکل شول.

ملا صاحب په دې ورځو کې د هرات ولایت تجارتي او ستراتیژیک بندر تورغونډۍ ته (چې له ترکمنستان سره په سرحد پرته سیمه ده) هم لاړ هلته یې د وسلو او جنګي مهماتو لوی ډیپوګان چې د شوروي یرغل له وخته پاته وو ولیدل او د ساتنې او مراقبت لپاره یې طالبان مأمور کړل. ملا صاحب له ترکمنستان سره د ګډ سرحد د خوندیتوب له ډاډ حاصلولو وروسته بیرته کندهار ته ستون شو.

## لومړني اصلاحات او اجراآت

ملا محمد عمر مجاهد اسلامي تحریک د فتنو او فساد د محو کولو او په ځای یې د شرعي نظام د تنفیذ په هدف پیل کړی و. له همدې ځایه لکه څنګه چې ملا صاحب په هر تقریر او مجلس کې (د الله پر ځمکه د الله نظام) خبره یادوله په عملي توګه یې هم هڅه کوله چې د شریعت هر حکم تطبیق او اسلامي نظام ګام پر ګام عملي کړي.

د کابل له فتحې وړاندې یا تر دې مخکې چې اسلامي امارت په هیواد شموله نظام واوړي او د هیواد ټول حکومتي سیستم رسما په شرعي بنیادونو عیار کړي طالبانو په هغو مواردو کې د شرعي احکامو د احیاء هڅه کوله چې دوی ورسره مخامخ کیدل یا د دوی په توان او استطاعت کې و. چې له دې جملې د لومړنیو شرعي اجراآتو او اصلاحاتو څو بیلګې په لاندې ډول خلاصه کولای شو.

## د فساد محو کول او د امنیت تأمین

ټوپکیان، داړه ماران، قطاع الطریق او نور خودسره وسلوال د فساد عاملین وو چې قتل، غلا، غصب، اختلاس، زنا،، قمار او نور ګناهونه یې نه یوازې خپله کول بلکې په ټولنه کې یې هم ترویجول او وده یې ورکوله. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې ارشاد په اساس چې فرمایي: من رأى منكم منكرا، فليغيره بيده، فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه، وذلك أضعف الإيمان؛ رواه مسلم. ژباړه: له تاسو چې چا کوم ناروا کار

ولید نو په لاس سره یې منع کړئ، که په لاس د منع کولو طاقت مو نه درلود په ژبه یې منع کړئ او که په ژبه مو هم نه شوای دفع کولای نو په زړه ورځخه بیزاري وکړئ چې همدا د ایمان تر ټولو ټیټه پوړۍ ده.

ملا محمد عمر مجاهد او نورو مجاهدینو ملګرو یې د همدې حدیث له ارشاد سره سم د منکراتو او مظالمو د مخنیوي لپاره مبارزه پیل کړه چې په دې لړ کې یې له لاس، ژبې او هرې وسیلې استفاده کوله تر څو مفسدین له فساد او منکراتو راوګرځوي.

د هغه وخت د مفسدینو له ډلې یوه لویه برخه هغه و چې د بیلابیلو اهدافو لپاره د مسلمانانو د وژلو، بې عزته کولو او په جبر سره د هغوی د مالونو په لوټولو بوخت وو او په دې ډول یې د الله تعالی پر ځمکه د فساد یو کرغیړن جال غوړولی و. الله تعالی د داسې خلکو د جزاء په اړه فرمايي: ﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ [المائده/۳۸]

ژباړه. خبره داده چې کوم کسان له الله او د هغه له رسول سره جنګیږي او په ځمکه کې د فساد لپاره منډې وهي نو سزا یې دا ده چې سم ووژل شي یا راوځړول شي، یا یې لاسونه اوپښې ردوبدل غوڅ شي او یا له وطنه وشړل شي دا خو د دوی لپاره په دنیا کې یو سپکاوی دی او په آخرت کې د دوی لپاره لوی عذاب دی.

د همدې او نورو قرآني ارشاداتو په رڼا کې طالبانو غله، قطاع الطریق، پاټکیان او نور مفسد عناصر پسې واخیستل، د جګړو په مهال یې هغوی ووژل او ځینې قطاع الطریق یې راوځړول او چې هره سیمه یې فتحه کوله د فساد ټغر یې ترې ټولاوه. په دې سره هغه ولایتونه چې د طالبانو تر واک لاندې وو د امن او سولې په سیمو مشهور شول. هلته د اسلامي نظام په برکت داسې امن راغی چې په میاشتو به د یوه ادنې امنیتي پیښې، قتل، غلا یا کوم بل جنایت خبر نه اوریدل کیده. طالبانو په دې کارنامه سره د خلکو په قضاوت کې د امن د پرښتو لقب خپل کړی او د افغانستان د هرې سیمې خلکو دا تمنا درلوده چې دا نظام او امنیت د دوی سیمو ته هم پراخ شي تر څو

له حاکم فساد او ظلم څخه خلاص او د عادلانه سولې او امنیت له نعمت څخه برخمن شي.

خو تر واک لاندې سیمو کې د امن لپاره ستر ګواښ د هغو پریمانه وسلو شتون و چې په تیر اوولس کلن انقلابي دوران کې افغانستان ته راواردې شوې وې چې په دې سره په ټولنه کې هر څوک له اړتیا د زیاتو سپکو او درنو وسلو خاوند شو. د شوروي له وتلو او د کمونیزم له شکست وروسته دا وسلې یوازې د مسلمانو هیوادوالو د قتل او مغلوبولو لپاره کارول کیدې. طالبانو د امن د تأمین او تضمین لپاره دا وسلې راټولې کړې چې هم یې خپل جهادي خوځښت ورباندې اکمال کړ او هم یې د بیت المال په ډیپو ګانو کې ذخیره کړې.

## شرعي حدود جاري کول

شرعي حدود او قصاص داسلام له سترو احکامو څخه دي چې د نورې نړۍ غوندې په افغانستان کې هم د وخت حاکمانو دا فریضه هیره کړې وه او مجرمینو ته یې د الله تعالی د حکم سره سم جزاګانې نه ورکولې.

الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [البقرة/ ۱۷۹]

ژباړه: او اې د عقل خاوندانو! تاسو ته په دې قصاص کې ژوندون دی د دې لپاره چې ځان ساتنه به کوئ.

﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ [المائدة/۳۸]

ژباړه: د غله او غلې دواړو لاسونه غوڅ کړئ، دا یې د هغه کسب بدله ده چې کړی یې و، د الله له لوري یوه (عبرتناکه) سزا، او الله د حکمت والا برلاسی دی.

﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [النور/۲]

ژباړه: زناکاره ښځه او زناکار سړی، له داوړو نه هر یو سل دُرې ووهئ او د الله په دین کې دې پر هغوی دواړو څه زړه سوی نه دربانديې راځي، که تاسې (ربښتیا) په الله او آخرت ورځ یقین لرئ. او د هغوی سزا ته دې یوه ډله د مؤمنانو حاضره شي.

﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ [المائدة/۳۳]

ژباړه: خبره دا ده چې کوم کسان له الله او د هغه له رسول سره جنګیږي او په ځمکه کې د فساد لپاره منډې وهي نو سزا یې دا ده چې سم ووژل شي یا راوځړول شي، یا یې لاسونه اوپښې رد او بدل غوڅ شي او یا له وطنه وشړل شي دا خو د دوی لپاره په دنیا کې یو سپکاوی دی او په آخرت کې د دوی لپاره لوی عذاب دی.

و عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال عمر لقد خشيت أن يطول بالناس زمان حتى يقول قائل لا نجد الرجم في كتاب الله فيضلوا بترك فريضة أنزلها الله ألا وإن الرجم حق على من زنى وقد أحصن إذا قامت البينة أو كان الحبل أو الاعتراف قال سفيان كذا حفظت ألا وقد رجم رسول الله صلى الله عليه وسلم ورجمنا بعده. رواه البخارى

ژباړه: له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی فرمایي: حضرت عمر رضی الله عنه وویل: زه ویریږم چې په خلکو به اوږده زمانه تېره شي او بیا به یو څوک وايي چې موږ د الله په کتاب کې د رجم حکم نه مومو، نو دوی به د الله تعالی لخوا د نازل شوي فرض حکم ( حد رجم ) په پرېښودلو سره ګمراه شي. خبر اوسئ په یقین سره رجم حق ( ثابت ) دی پر هغه چا چې زنا وکړي او محصن وي کله چې شاهدان ورباندې شاهدي اداء کړي او یا د ښځې حمل موجود وي او یا یو محصن څوک خپله د زنا په کولو اعتراف وکړي. سفیان ویلي همداسې مې حفظ کړی چې ویل یې خبردار چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د رجم حد جاري کړی او له هغه وروسته موږ هم جاري کړی دی.

د مذکورو الهي او نبوي ارشاداتو په استناد ملا محمد عمر مجاهد د خپل مشرتوب په مهال دا ویاړ د ځان کړ چې وروسته له ډېرو کلونو یې په لومړي ځل یو ځل بیا شرعي

حدود راژوندي کړل او په قاتل، زناکار، سارق، قطاع الطريق او نورو جنايت کارانو باندې يې د شرعي محاکمو له حکم سره سم تطبيق کړل.

د اسلامي تحريک لخوا لومړی شرعي حد په قطاع الطريقو باندې جاري شو. د ۱۳۷۳ لمريز کال د حوت په ۱۰ مه نېټه (۲۹ / ۹ / ۱۴۱۵هق) هغه دوه تنه لاره وهونکي چې د هلمند په ولايت کې طالبانو لاس په لاس نيولي وو د شرعي محکمې له حکم وروسته په کندهار کې ترې په عام محضر کې ښی لاس او چپه پښه غوڅ شول.

نقدي جريمه چې اخيستل يې د حنفي فقهې له نظره مشروع نه دي طالبانو له خلکو نه اخيسته. اما په هغو جرمونو کې چې د حد تر اندازې به ښکته وو مرتکبينو ته يې تعزيري سزاګانې ورکول کيدلې لکه رشوت خواره په دُرو وهل او داسې نور.

د طالبانو لخوا د شرعي حدودو په جاري کولو سره ټولنې ته امن او اطمينان راستون شو او د ځوريدلي ولس سر، مال، ناموس او هر څه محفوظ او خوندي شول.

**امر بالمعروف و نهی عن المنکر**

په ښو کارونو امر کول او له بدو څخه منع کول د مسلمانانو هميشنی مسؤليت دی. الله تعالی په قرانکريم کې فرمايلي دي:

﴿ولتكن منكم أمة يدعون إلى الخير ويأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر ۚ وأولئك هم المفلحون﴾[آل عمران/۱۰۴]

ژباړه: او له تاسو دې يوه داسې ډله (جوړه) وي چې د خير لور ته بلنه کوي، د نيکی امر کوي او له بديو منع کول کوي او دا کسان همدوی بريالي دي.

﴿والمؤمنون والمؤمنات بعضهم أولياء بعض ۚ يأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر ويقيمون الصلاة ويؤتون الزكاة ويطيعون الله ورسوله ۚ أولئك سيرحمهم الله ۗ إن الله عزيز حكيم﴾[التوبة/ ۷۱]

ژباړه: او مؤمنان او مؤمنانې يو د بل دوستان دي، د نيکی امر کوي له بديو منع کول کوي، لمونځونه ترسره کوي، زکات ورکوي، او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي.

دا هغه کسان دي چې الله تعالی به وربانديې رحم وکړي، بې شکه الله تعالی برلاسی او د حکمت خاوند دی.

د الهي ارشاداتو سره سم ملا محمد عمر مجاهد هم د تحریک یوه مهمه وظیفه امر بالمعروف و نهی عن المنکر بلله. د طالبانو د تحریک له پیل نه د (سیار گروپ) په نوم یوه ځانګړې مجموعه د دې لپاره خاص شوې وه چې د امر بالمعروف و نهی عن المنکر وظیفه ترسره کړي. طالبانو په ټولو مفتوحه سیمو، لویو لارو، مساجدو او عامه ځایونو کې په ښو د امر کولو او له بدو څخه د منع کولو سپیځلې دنده ترسره کوله. د تحریک له پیل نه څو میاشتې وروسته د ۱۳۷۴ لمریز کال د حمل په ۲۸ نیټه (۱۷ / ۱۱ / ۱۴۱۵هق) ملا صاحب د دغې وظیفې د ښه انجام په مقصد د سیار گروپ تشکیل د امربالمعروف و نهی عن المنکر په ځانګړې ریاست واړاوه او مولوي محمد ولي صاحب یې د مشر په حیث وټاکه. چې د کابل له فتحې وروسته په همدې نوم مستقل وزارت رامنځته شو.

له دې علاوه دا چې افغانستان ټول اهل السنة د حنفي مذهب پیروان او د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مقلدین دي او ملا صاحب خپله هم د حنفي مذهب کلک پیرو او په هیواد کې یې د غیر مذهبي ډلو په فعالیت او دعوت بندیز لګولی و. دغه راز یې په افغان ټولنه کې د غیر شرعي دودونو، خرافاتو او بدعاتو هم مخنیوی کاوه.

## د شرعي حجاب ترویج او د اختلاط مخنیوی

په اسلامي خاورو له اوږدې مودې راهیسې داسې نظامونه حاکم دي چې د اسلامي احکامو تبلیغ، ترویج او ژوندي ساتلو ته ډیره اعتناء نه کوي. په دې لړ کې د نورو واجباتو تر څنګ یو مهم شی چې اسلامي ټولنه ترې بیګانه شوې هغه شرعي حجاب دی. په افغانستان کې د شاهي واکمنیو له وخته د حجاب غورځولو او د ښځو او نارینه وو تر منځ په حکومتي، تعلیمي او نورو ادارو کې د اختلاط د ترویج لپاره هڅې پیل شوې وې چې په ټولنه یې اغیز خورا ناوړه و، تر دې چې په زیاتره ښارونو کې ډیری مسلمانو میرمنو شرعي حجاب نه رعایت کاوه او په کارځایونو او ادارو کې له نامحرمو نارینه وو سره اختلاط ورته یو معمول کار ښکارېده.

الله تعالی په قران کريم کې فرمايلي: ﴿وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ... الخ﴾ [النور/۳۱]

ژباړه: او مؤمنو ښځو ته ووايه چې خپل نظرونه ښکته ساتي، د خپلو عورتونو ساتنه دي کوي او خپل سينګار دې نه ښکاروي، پرته له هغه چې په خپله را څرګند شي او په خپلو سينو دې خپل پړونی واچوي او خپل سينګار دې نه ښکاره کوي مګر خپلو ميړونو ته . . . الخ

عن عروة أن عائشة قالت: لقد كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلي الفجر فيشهد معه نساء من المؤمنات متلفعات في مروطهن ثم يرجعن إلى بيوتهن ما يعرفهن أحد. متفق عليه.

ژباړه: حضرت عروه له حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روايت کوي چې ويې فرمايل: رسول الله صلی الله عليه وسلم به د سهار لمونځ کاوه، نو مسلمانو ښځو به هم ورسره لمانځه کې ګډون کاوه او بيرته به خپلو کورونو ته تلې، ښځو به څانونه په خپلو پوړنو کې داسې نغښتي وو چې هيچا به نه پيژندلې.

طالبانو د افغانستان د ښارونو په تصرف سره شرعي حجاب په ټولو ښځو باندې رعايت کړ او د ښځو او نارينه وو تر منځ د نامشروع اختلاط د مخنيوي لپاره يې په دولتي او تعليمي ادارو کې د ښځو غير ضروري حضور معلق کړ. تر څو د ښځو لپاره داسې سيستم اماده کړای شي چې له نارينه وو سره له اختلاط او تبرج پرته په کې خپلې ضروري زده کړې ترسره کړای شي.

د افغانستان په نړدې ټولو سيمو کې مسلمانو ميرمنو د دغو شرعي ضوابطو تعميل ته هرکلی ووايه او هغه يې د خپل پت او درنښت د ساتلو لپاره د مهمو اصولو په حيث ومنل. خو د اسلام نړيوالو دښمنانو د شرعي حدودو په شان د دغو اسلامي احکامو د تطبيق په وړاندې هم توند غبرګون وښود دوی په تبليغاتي جنګ سربيره په طالبانو سياسي فشارونه هم وارد کړل او حتی يو ځل يې په هرات کې د ښځو يوه مظاهره هم

ترتیب کړه خو ملا صاحب د شرعي احکامو په تطبیق کې ذره قدرې تنزل او تساهل هم ونه مانه.

## نور انتظامي او ودانیز اجراآت

د نظام له جوړښت او اداراتو له فعالیت وروسته په ټولو برخو کې عمراني او انتظامي اجراآت پیل شول. د پیل په ورځو کې د طالبانو ستره کارنامه د افغانستان د بیت المال یا ملي شتمنیو را خوندي کول و. طالبانو په کندهار او نور ولایاتو کې فعال او نافعال جنګي وسایط لکه ټانګونه، څرخکې، توپونه او نور راټول او په معلومو ځایونو کې یې خوندي کړل. دولتي امکانات او تاسیسات چې پخوا هر چا ولجه یا غصب کړي وو بیرته ترې واخیستل شول او د ملي شتمنیو په حیث د نظام په تصرف کې راغلل. په کندهار ښار او نورو ځایونو کې ډیرو خلکو په دولتي ځمکو کورونه جوړ کړي و او هم یې د عامه واټونو او لارو پرمنځ دوکانونه او مارکیټونه ودان کړي وو چې د کندهار ښاروالۍ یې دوکانونه ورونړول او واټونه یې د خلکو په مخ ازاد کړل.

په عمراني برخه کې هم د پاموړ کارونه پیل شول. طالبانو د ژمي په لومړیو کې د هلمند ولایت تر واک لاندې راووست خو یوه میاشت لا نه وه تېره چې د بست تصدۍ فابریکه یې یو ځل بیا فعاله اود پنبې په تصفیه سربیره د غوړیو، صابون او کنجاړې تولید ته اماده کړه.

په بیا ودانیزو چارو کې د طالبانو ډیره توجه د مساجدو او دیني مدارسو جوړولو او فعالیت ته وه، پخوا د افغانستان په ښارونو کې دیني مدارس ډېر نه وو په ټول هیواد کې د ګوتو په شمیر دیني مدرسې وې چې د هغو ودانۍ هم په خپل منځي جګړو کې نړیدلې وې. طالبانو په ټولو تر لاس لاندې ولایتي مراکزو او ولسوالیو کې مساجد او مدرسې جوړې او د ځوان نسل د تربیې لپاره اماده کړې.

د پاڅون په هماغو لومړیو شیبو کې د طالبانو لخوا شرعي اصلاحاتو او رفاهي اجراآتو وښوده چې دوی خپلو شعارونو ته په عمل کې هم ژمنتیا لري او د هیواد او ولس د خیر په لاره کې خپل توان نه سپموي.

**د مرکزي دارالافتاء جوړول**

د دې لپاره چې د اسلامي امارت ټول اجرآت د شریعت په معیار برابر او د علم په ر
کې وي، یوې داسې معتبرې دیني او علمي مرجع ته ضرورت و چې په ټولو مسائ
کې د اسلامي امارت زعیم او نورو مسؤلینو ته د بیلابیلو مسائلو په اړه شرع
وضاحتونه ورکړي.

په همدې موخه ملا محمد عمر مجاهد په کندهار کې د مرکزي دارالافتاء په نوم ی
اداره جوړه کړه چې د حنفي فقهې له تعلیماتو سره سم یې د اسلامي امارت فعالیتونه
شریعت په میزان تلل او برابرول. دا اداره که څه هم ابتدائي کارونه یې مخکې شرو
کړي وو خو د ۱۳۷۵ لمریز کال په لومړیو کې ورته ملا صاحب ځانګړې توجه وکړه
د سترو مشائخو او علماء کرامو د مشورو په اساس یې نوی تشکیل ورته منظور کړ.

د اسلامي امارت قاضي القضات مولوي نور محمد ثاقب چې څه موده یې د مرکز
دارالافتاء د رئیس په حیث هم وظیفه اجراء کړې وایي: په کندهار کې د اسلام
تحریک د مشرتابه لخوا د ۱۳۷۵ هـ ش کال په سرطان میاشت کې موږ شپږ نفره علم
(مولوي نورمحمد ثاقب، مولوي حاجي محمدصادق، مولوي محمدنعیم ( کو
اخندزاده ) مولوي فضل الرحمن د پکتیا، مولوي شهاب الدین دلاور او مولوي مس
حقاني) کندهار ته وغوښتل شوو. هلته مو لومړی د تحریک د عالي شورى د غړو لک
ملا محمدرباني (حاجي معاون صاحب )، حاجي ملا محمد حسن اخند، مولو
احسان الله احسان او نورو سره غونډه وشوه، په غونډه کې یوڅه ابتدائي خبرې وشو
بیا د طالبانو د عالي شورى غړو وویل چې مونږ نور علماء هم راغوښتي دي لکه ش
الحدیث مولوي عبدالعلي دیوبندي، مولوي خواص او داسې نور، نو تفصیلي مجل
به وځنډوو.

دوه ورځې بعد بیا مجلس دائر شو چې په کې د علماوو د مرکزي شورى رئیس مولو
عبدالغفور ( سناني ) او نورو مخورو علماوو هم ګډون کړی و، په غونډه کې
دارالافتاء او قضائیه چارو بحثونه وشول په همدې غونډه کې بنده مولوي نورمحم
ثاقب د مرکزي دارالافتاء د رئیس او مولوي خلیل الله زرمتي د تمیز د رئیس په حی

وتړاکل شوو. وروسته بیا موږ د دارالافتاء او تمیز د کارونو په رابطه له امیرالمؤمنین صاحب سره هم ملاقات وکړ.

مرکزي درالافتاء ډیر اعضاء درلودل لکه شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم صاحب د کندهار، مولوي عبدالله مشهور په خطیب صاحب د روزگان، مولوي حمدالله آخندزاده د دایچوپان، مولوي محمد خواص د هلمند د کجکي، مولوي رحیم جان آغا د میدان وردگو د سیداباد، مولوي مسلم حقاني د بغلان، مولوي عبدالقدیم آخندزاده د میدان وردگو او نور علماء کرام یې اعضاء وو.

مرکزي دارالافتاء ته به عموماً د څلورو جهتونو لخوا استفتاءات او پوښتنې راتللې:

(۱) د افغانستان د عام ملّت لخوا

(۲) د مختلفو امارتي او حکومتي اداراتو لخوا

(۳) د محاکمو او قُضاتو لخوا ترڅو د قضایي حکم او فیصلې لپاره مسئله ځان ته روښانه کړي

(۴) د امارت د محترم مقام لخوا

دار الافتاء د امارت د مهمو مسائلو تر څنگ د عامو خلکو ډېر مسائل هم حل کول، دغه راز په پیل کې د روژې او اخترونو د اعلان مسؤلیت هم مرکزي دارالافتاء ته سپارل شوی و. د مرکزي دارالافتاء لخوا د ټول افغانستان د خطیبانو لپاره جامع خطبه هم ترتیب شوي وه. د هغه وخت مرکزي دارالافتاء ډیرې فتوې صادرې کړې دي چې په پنځو (۵) غټو جلدونو کې برابرې شوې دي، تر دا مهاله یې درې جلدونه د (بدر الفتاوی فی الفقه الحنفي) په نوم چاپ شوي دي او د پاتې څلورم او پنځم جلدونو هم ترتیب، تبویب او کمپوز شوی دی. او ان شاءالله چاپ به شي.

په دغه فتاوی کې ډېر مهم او گټور معلومات او ډېر عمده او ضروري مسائل موجود دي چې ښه په غور او دقت او په تفصیل سره لیکل شوي دي او د معتبرو کتابونو څخه گنې حوالې پرې رانقل شوي دي.

او دا هغه مسائل دي چې تقريباً هروخت ورته ضرورت پېښيږي، زمونږ په هېواد کې هغه وخت يعنی د مسائلو د صدور په وخت کې دغو مسائلو ته ضرورت پېښ و، اوس هم ورته ضرورت دی او په آينده کې هم ورته ضرورت پېښيږي.

**اسلامي امارت او اميرالمؤمنين**

انسان د ځمکې پر مخ د الله تعالى خليفه دی او په دې مأمور دی چې د الله تعالى د احکامو د نفاذ او شعائرو د لوړتيا لپاره به اسلامي واکمني جوړوي.

د قران کريم د آيتونو، نبوي احاديثو او د صحابه کرامو د اجماع په استناد علماء کرام په دې خبره توافق ته رسيدلي چې په مسلمانانو باندې فرض کفايي ده چې امام يا امير به ټاکي، اسلامي واکمني به جوړوي او که چيرې په نړۍ کې يو مسلمان هم د اسلامي حکومت د قيام هڅه ونه کړي نو ټول د دې فرض د پريښودلو له امله گناهگار دي.

الله تعالى فرمايي: ﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۚ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾[سورة يوسف/۴۰]

ژباړه:حکومت له الله پرته د بل چا نه دی، امر يې کړی دی چې له هغه پرته بل څوک مه لمانځئ همدا سم دين دی خو زياتره خلک نه پوهيږي.

﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا﴾ [النساء/۵۸]

ژباړه: بې شکه الله تعالى تاسو ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او چې کله مو د خلکو ترمنځ فيصله کوله نو په عدل سره فيصله وکړئ. بې شکه الله تعالى تاسو ته د غوره څه نصيحت کوي. يقينا الله تعالى اوريدونکی او ليدونکی دی.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من خلع يدا من طاعة، لقي الله يوم القيامة لا حجة له، ومن مات وليس في عنقه بيعة، مات ميتة جاهلية. رواه مسلم.

ژباړه: څوک چې له اطاعت څخه لاس واخلي له الله سره به د قيامت په ورځ په داسې حال کې مخامخ شي چې دليل به نه لري. او څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې په غاړه کې يې بيعت نه وي نو مرگ يې د جاهليت دی.

وأجمعت الصحابة على تقديم الصديق بعد اختلاف وقع بين المهاجرين والأنصار في سقيفة بني ساعدة في التعيين، حتى قالت الأنصار: منا أمير ومنكم أمير، فدفعهم أبو بكر وعمر والمهاجرون عن ذلك، وقالوا لهم : إن العرب لا تدين إلا لهذا الحي من قريش، ورووا لهم الخبر في ذلك، فرجعوا وأطاعوا لقريش. فلو كان فرض الإمامة غير واجب لا في قريش ولا في غيرهم لما ساغت هذه المناظرة والمحاورة عليها. قرطبى ۱/۲۶۴

ژباړه: له هغه اختلاف وروسته چې په سقيفه بني ساعده کې د خليفه د تعين په اړه د مهاجرينو او انصارو تر منځ پيښ شوی و صحابه کرامو د ابوبکر صديق رضی الله عنه په مخته کولو اجماع وکړه. هلته انصارو رضی الله عنهم ويلي وو چې زموږ به خپل او ستاسو به خپل امير وي. خو ابوبکر صديق، عمر او نورو مهاجرينو رضی الله عنهم د دې خبرې دفع وکړه او ويې ويل: بې شکه عرب اتباع نه کوي مگر د قريشو او په دې اړه يې حديث هم ورته روايت کړ. نو انصار له خپلې خبرې تېر شول او د قريشو اطاعت يې ومانه. نو که په قريشو يا غير له قريشو کې د امام ټاکل واجب نه وای دا مناظره او خبرې به نه ترسره کيدې.

امام غزالي، علامه ابن خلدون، علامه شهرستاني، علامه ماوردي، علامه ابن حجر هيتمي، امام نووي، علامه شاولی الله او نورو پخوانيو علماء کرامو رحمهم الله تعالی ټولو په دې تصريحات کړي چې د اسلامي واکمنی جوړول او د امام يا امير درول يوه مهمه شرعي وجيبه ده.

که څه هم د راشده خلافت له دور وروسته ډير کم مسلمانان له واقعي خلفاوو څخه برخمن شوي خو په وروستيو پيړيو کې عثماني دولت د مسلمانانو هغه سياسي مرجع وه چې د اسلام دفاع او لوړتيا ته يې تعهد درلود او له همدې امله د عثماني خلافت په درانه عنوان سره مسمی شوی و.

نږدې یوه پیړۍ وړاندې د عثماني خلافت له سقوط وروسته مسلمانان په نړیواله کچه له اسلامي حاکمیت څخه محروم شول. د خلافت له سقوط وروسته چې په اسلامي نړۍ د غربي استعمارګرو غلبه راغله او کفارو زموږ د ټولنې د عقیدوي، فکري، کلتوري، سیاسي او اجتماعي بېلارۍ او پردیتوب په هدف هر اړخیزې هڅې پیل کړې، په پایله کې یې مسلمانان له خپلو اصلي دیني ارزښتونو او معیارونو څخه بیګانه شول. دې هر اړخیز سقوط او د غرب په رنګ رنګیدلو زموږ د سیاست او زعامت ډګر هم په ژوره توګه اغیزمن کړ. مسلمانان چې پخوا یې د شرعي امیرانو او اسلامي حکومتونو لخوا سیاسي رهبرې کیدله په دې مرحله کې یې له غرب نه په تقلید د ( دولت + ملت ) د نظریې په اساس د نشنلیستي، سوسیالیستي، لیبرال یا د غربي ډوله جمهوري دولتونو بدعت رامنځته کړ چې په پایله کې نه یوازې د اسلام تشریعي مرجعیت له پامه وغورځېد بلکې د متحد امت د ټوټه کیدو او اسلامي سیاست د هیریدو سبب هم شو.

د عثماني خلافت له سقوط وروسته د شلمې پیړۍ په اوږدو کې د اسلامي سیاسي حاکمیت د اعادې لپاره د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ډېرې مبارزې او جهادونه وشول. فکري او دعوتي حرکتونه راوپنځیدل. وسلوالې مبارزې وشوې، په ځینو هیوادونو کې د انتخاباتو له لارې د اسلام د حاکمیت هڅې وشوې او ځینو دعوتي ډلو د ټولنیز اصلاحي انقلاب له لارې د قرآن د حاکمیت لپاره اوږدې مبارزې طراحي کړې. سره له دا چې دا مبارزې د اسلامي تاریخ ویاړمن بابونه دي او د اسلامي واکمنۍ لپاره د مسلمانانو تنده او تلوسه ترې معلومیږي. خو د تأسف ځای دا و چې دغه هڅې اکثرا تر پایه د هڅو په چوکاټ کې پاته شوې او له نظري او فکري وضعیت څخه یې عملي اړخ ته ترفیع ونه کړای شوه. دا به شاید په ملا محمد عمر مجاهد د الله تعالی ځانګړی انعام و چې د دې ستر ارمان تعمیل او تطبیق یې د ده په برخه لیکلی و تردې چې د شلمې میلادي پیړۍ په وروستۍ لسیزه او د پنځلسمې هجري پیړۍ په دوهمه لسیزه کې، د عثماني خلافت له سقوط ۷۴ کاله وروسته یې د اسلامي حاکمیت لویدلی بیرغ راپورته کړ او نړۍ ته یې یو ځل بیا عملا د اسلامي امارت د قیام او شریعت د نفاذ بیلګه وړاندې کړه.

**په کندهار کې د افغانستان د مذهبي علماوو تر ټولو ستره غونډه**

د ۱۳۷۵ لمریز کال په پیل کې چې طالبانو د افغانستان د شپږنیم لکه مربع کیلومتره پراخې خاورې له نیمایي په زیاته اراضي تسلط درلود. په جنوب، غرب او مرکزي افغانستان کې په سترو ښارونو کندهار، هرات او غزني سربیره جنوب غربي او جنوب ختیځ ولایات یې هم بشپړ په کنترول کې وو او پلازمینه کابل یې له دریو خواوو محاصره کړی و. د پسرلي په همدې پیلیزو ورځو کې په کندهار کې دشاوخوا ۱۵۰۰ پنځلس سوه دیني علماء کرامو او مخورو د یوې لویې غونډې تابیا ونیول شوه.

د حمل د میاشتې په پنځمه نیټه (۴ / ۱۱ / ۱۴۱۶هـق) د اسلامي تحریک عالي شورا پریکړه وکړه چې د افغانستان د علماء کرامو د مرکزي شورا سره د شوي توافق په اساس به د حمل په میاشت کې په کندهار کې د ټول افغانستان مخکښ علماء کرام راټولیږي تر څو د اسلامي تحریک روان فعالیتونه ارزیابي کړي، راتلونکې تګلاره ورته وټاکي او د تحریک د سیاسي مواقفو په اړه اساسي فیصلې وکړي.

د یوې اونۍ په جریان کې د افغانستان له مختلفو سیمو او په پاکستان کې د افغان مهاجرینو له کمپونو څخه دیني علماء د کندهار په خوا روان وو تر څو په دې مهمه او ټاکونکې غونډه کې ګډون وکړي. په کندهار کې د راتلونکو علماء کرامو او مشرانو د پذیرایي لپاره منظم ترتیبات نیول شوي وو. د ښار په زړه کې یوه لویه ودانۍ (میخانیکي لیسه) چې ډېر شمیر اطاقونه او یو پراخ د غونډو تالار یې درلود د علماء کرامو د اوسیدلو او غونډې لپاره انتخاب شو. علماء کرام چې د ځانګړې ټاکل شوې کمیټې لخوا یې نومونه او مشخصات لست کیدل د اوسیدو لپاره خپلو تعین شویو اطاقونو ته رهنمایي کیدل. د هرې سیمې علماء چې په سفر کې به سره ملګري و ځانګړی اطاق ورکول کیده. په دې سربیره د کندهار حکومتي میلمستون (والي کوټی) او د شهیدانو له چوک سره د ښاروالۍ مربوط میوند هوټل هم د میلمنو لپاره خاص شوي وو.

کندهار ښار په څو ورځو کې د علماء کرامو او مشائخو ګڼې ګوڼې پر سر واخیست. په هر واټ، هر مسجد او هر ځای کې د علمي وقار او سنګینۍ په لباس ملبس علماء کرام

ښکارېدل. دا ښايي د کندهار او افغانستان په تاريخ کې د ديني علماء کرامو لومړنی تر ټولو ستره اجتماع وه چې ځانګړی کيف يې درلود.

د کندهار د هغه وخت چاپيدونکي اخبار طلوع افغان يوه ليکوال ميرويس باوري دغه صحنې داسې انځور کړي دي.(د کندهار ښايسته ښار چې د خپل لرغوني تاريخ په اوږدو کې يې څو ځله د سترو سترو جرګو وياړ په برخه شوی دا دی يو ځل بيا د اسلامي تحريک د ځلانده مرکز په توګه د هيواد د سترو او مجاهدو علماء کرامو د جرګو کوربه دی. که له يوې خوا د پسرلي خوږه وږمه چليږي او د ګل په هره غوټۍ چې ولګيږي سره ويې سپړي، خلاصه يې کړي او خوند پرې وکړي. بلې خوا ته د ښار په واټونو، چمنونو، خاصو ميلمستونونو، حکومتي ادارو او جوماتونو کې د راغليو علماء کرامو ګڼه ګوڼه او د خپل خواږه او خوږمن هيواد د راتلونکي سرنوشت په باب د دوی ناستې ولاړې، تصميمونه او مشورې بيا لا د خوند او مزې خبره ده او په دې ترڅ کې چې بيا محمدي اذان زمزمه شي او د پاکو جوماتونو پر لور د مسلمانانو درانه قدمونه پورته شي نو زه خو وايم چې د بلا سترګې دې ړندې شي)

په دې ډول کندهار د تاريخ سازې غونډې لپاره د سلګونو علماء کرامو کوربه شو. دغه علماء کرامو چې له بيلابيلو قومونو، نژادونو او سيمو سره يې تعلق درلود د ټولو تلوسه دا وه چې د اسلامي نظام د قيام او اسلامي حاکميت د هيرې شوې فريضې د اعادې لپاره يوه تاريخي فيصله وکړي او په دې ډول د ديني عالم په حيث د نبوي وراثت مقدسه دنده په کماحقه ښه انجام کړي.

### د غونډې د پيل ورځې

د طلوع افغان ورځپاڼې د مستندو راپورونو له مخې دې غونډې پنځه ورځې دوام وکړ چې د حمل په لسمه نيټه پيل او د همدې مياشتې په ۱۴ مه (۱۳ / ۱۱ / ۱۴۱۶هـق) پای ته ورسيده.

د غونډې په لومړی ورځ مجلس د قاري محمود شاه صاحب لخوا د قرانکريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت افتتاح شو. ورپسې د غونډې کړنلاره ولوستل شوه.

وروسته د اطلاعاتو او کلتور رئیس ملا امیر خان متقي د اسلامي تحریک د بیلابیلو، نظامي، سیاسي، علمي او عمراني لاسته راوړنو په موضوع رڼا واچوله او د ترسره شویو کارونو په اړه یې برخوالو ته معلومات ورکړل او ورپسې د اسلامي تحریک مرستیال ملا محمد رباني مفصله وینا وکړه او د اسلامي تحریک د قیام اهداف یې روښانه کړل. ده په جهاد او د اسلامي نظام په قیام کې د علماء کرامو مسؤلیت مهم وباله او ویې ویل چې علماء کرام ځکه دلته راغوښتل شوي تر څو اسلامي تحریک ته مشوره ورکړي موږ به په هغه عمل کوو او د هیواد په نورو سیمو کې به هم همدغه نظام تطبیقوو.

د ملا محمد رباني له خبرو وروسته د راغلیو علماء کرامو د ویناوو لړۍ پیل شوه او د هرې سیمې د علماء کرامو په استازیتوب یوه مخور عالم وینا کوله. له بدخشان ولایت څخه راغلي عالم مولوي محبوب الله وویل چې برهان الدین رباني زموږ د سیمي دی خو زه وایم چې نظام یې په حقه نه دی، د طالبانو د تحریک په باره کې تبلیغات کیږي چې دا صرف د پښتنو تحریک دی مگر زه چې یو غیر پښتون یم شاهدي ورکوم چې دا تحریک واقعي یو اسلامي تحریک دی او په دې کې عصبیت او قومپرستي نشته.

وروسته د لغمان مولوي سعید الرحمن، د جوزجان مولوي عبدالصمد، د غزني مولوي سید حفیظ الله، د بلخ مولوي عبدالجبار، د ننگرهار مولوي سید رسول او نورو علماء کرامو ویناوې وکړې.

د غونډې په دوهمه ورځ افتتاحیه وینا د کندهار والي ملا محمد حسن اخند وکړه ورپسې د هرات مولوي جلیل الله مولوي زاده، د عالي شورى غړي مولوي احسان الله احسان، د لوگر د علماء په نمایندگي مولوي فضل احمد، د بغلان مولوي محمد یعقوب، د مولوي جلال الدین حقاني نماینده الحاج حبیب الله منگل، د فاریاب په نمایندگي مولوي مفتي عبدالله، د کابل د علماوو په نمایندگي مولوي نور محمد ثاقب، له روزگان څخه مولوي سلطان محمد، د لغمان څخه مولوي نقیب احمد دیوبندي، د پکتیا څخه مولوي عبدالله مدني او نورو علماء کرامو په نوبت سره خپلې ویناوې او نظریات مجلس ته ارائه کړل.په دې ډول د پنځه ورځنیو غونډو سلسله شروع شوه. د اسلامي تحریک لخوا دغونډې په برخوالو ځانگړې فورمې هم وویشل شوې چې د

نظام د اصلاح او پرمختګ په مورد کې څو لنډې پوښتنې مطرح شوې وې، علماء کرامو د خپل علم او تجربې له مخې دې پوښتنو ته ځواب وایه او بیرته یې لیکلی ځواب مسؤلینو ته سپاره.

د غونډو په جریان کې د هیواد وتلیو علماء کرامو روزانه خپلو مجالسو، سلامشورو او د مخکښو علماء کرامو د ویناوو اوریدو ته دوام ورکاوه. شیخ الحدیث مولوي تره خیل د کابل، مولوي محمد خواص د هلمند، د یوسف خیلو اخندزاده د میدان وردګ، مولوي محمد الیاس، مولوي جلال الدین شینواری او مولوي محمد اکرم د ننګرهار، مولوي عبدالعزیز د تخار، مولوي احمد مزاري د بلخ، مولوي ګل محمد د غزني، مولوي عبدالحی زعفراني د کندز او نورو وتلیو علماء کرامو ویناوو غونډې ته جذابیت او درنښت ورباښه. د اسلامي تحریک مسؤلینو هم په غونډو کې په ورځني شکل حضور درلود.

## د غونډې وروستۍ ورځ او پریکړه لیک

د ۱۳۷۵ لمریز کال د حمل دمیاشتې ۱۴ مه د چهارشنبې ورځ په کندهار کې د علماء کرامو د سترې اجتماع وروستۍ او د مهمو پریکړو د اعلان ورځ وه. په همدې ورځ ملا محمد عمر مجاهد د غونډې تالار ته راغی او د اسلامي تحریک د پیل او لومړنیو جریاناتو په اړه یې هغه وینا وکړه چې وروسته له راډیوګانو نشر او ډیره مشهوره شوه د تاریخي اهمیت درلودو له امله دغه وینا کټ مټ درسره شریکوو.

### غونډې ته د ملا محمد عمر مجاهد تاریخي وینا:

اعوذ باالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم، اللهم صل علی سیدنا و نبینا و مولانا محمدٍ و علی آل سیدنا و نبینا و مولانا محمدٍ و بارک و صل و سلم علی جمیع الانبیاء و المرسلین و علی کل ملائکة المقربین و علی عباد الله الصالحین.

اعوذ باالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم، وَالْعَصْرِ ﴿۱﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ﴿۲﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿۳﴾

**محترمو علمای کرامو، مشائخو!**

که څه هم له موږ سره مناسبت نه لري، ستاسو په مخکې زموږ وينا، خو بيا هم! د اسلام پر بنياد باندې موږ وايو چې که څه فايده وکړي.

خبره دا سي ده، طلباوو کرامو چې دا حرکت شروع کړی دی او په دې کار اخته دي، طالبانو ډېره غټه دعوه کړې ده، هر چا چې پوښتنه ځيني کړې ده، که ژورنالست کړې ده، که يو مملکت کړې ده، که عوامو کړې ده، که دښمنانو کړې ده، که خواصو کړې ده.

د دې طالبانو و هغو خلکو ته دا بيان دی، دا يې وينا ده، دا يې جواب دی، چا چې پوښتنه کړې ده، چې د طالبانو کوم هدف دی، د طالبانو کوم مرام دی؟

طالبانو دا ويلي دي، چې موږ چې يو، دا د خدای پر مځکه کې، دا د خدای دين پياده کوو، دا د خدای د کليمې خدمت کوو، شرعي احکام او حدود د الله برپايه کوو.

دا يې جواب دی، له اوله ابتدا څخه تر اوسه پوري يې دا جواب دی او دا يې خبره ده، دغه يې هم مرام دی، واقعاً!

خو خبره دې ځای ته راغله، طلباوو خو دا دي قربانی ورکړلې او هم دا دی ورکوي يې، روان دي، ولاړ دي.

خو علماوو ته زما خطاب دی!

و دغو علماوو ته چې، حاضرين دي او هغو علماوو ته چې، دا پيغام، بيا ورپسې شاته چې څوک پاته دي دا امانت دی چې، بيا يې ور ورسوي!

د هرې منطقې عالم دې د خپلې منطقې علماوو ته و رسوي!

په علماوو کې څه ناخه، په کمه اندازه، په ډېره کمه اندازه باندې، يو څه غفلت سته!

خو دا دعوه چې موږ کوو چې، موږ د اسلام دين د خدای په مځکه کې پياده کوو، د خدای حدود برپايه کوو.

دا د الله حدود چې دي، دا څوک بر پايه کوي؟

طالبان خو هغه دي، خالي يې توپک په لاس کې دی، روان دي، نن ژوندی دی، سبا شهيد دی، بله ورځ زخمي دی، خو دغه يې کار دی چې، دغه مځکه د فساده خلاصه کړي، د فساقو فجارو څخه دا مځکه خلاصه کړي، دغه يې خدمت دی، دغه يې کار دی!

دا دعوه چې دا طالبان کوي چې وايي "موږ د خدای حدود د خدای په مځکه کې برپايه کوو"

دا دعوه د علماوو په سر سره کوي!

دا دعوه چې دوی کوي دا په دې سره کوي چې موږ تر شا علماء لرو، موږ په علماوو سره به نو دا د خدای حدود برپايه کوو، اندازه د شريعت چې ده، هغه علماوو ته معلومه ده، طلباوو ته خو نه ده معلومه.

د بديع الميزان، قطبي، کنديې طالب دی، دېته څه معلومه ده!

خو صرف دغه ورمعلومه ده چې، دا د خدای هغه ضروري علم چې دی، هغه علم ضروري ورمعلوم دی چې، په دې يې يقين دی چې، دا حق، دا باطل دی.

دا مسئلې په مابين د مسلمانانو کې، دا به څوک خلاصوي، دا به څوک دا حدود برپايه کوي؟

خو بعضې علماوو هغه دی يو څه خدمت کړی دی.

بعضې علماء له ځان سره يو فکر کوي چې {لايکلف الله نفساً الا وسعها}

نو زه دا خواهش کومه، چې ودې آيت ته کماحقه مصداق ورپيدا کړئ!

زه په يوه مدرسه کې ومه، يوه کوشنۍ مدرسه مو جوړه کړې وه، پنځلس يا شل کسه انډيوالان وو يعنی سبق مو وايه، دا د مځکې سر ټوله فساد و نيوی، قتل قتال و، چور چپاول و، فساقو او فجارو د مځکې سر ونيوی.

مانا! دا وضعه وتاسو ته معلومه وه چې تېره سوله، يعني خلکو تصور نسوای کولای چې دا به په څه شکل باندې دا اصلاح راځي؟

نو دا چې ما سبق وایه، نو زه را ولاړ سومه، دا چې ما تصور کړی وای، نو خو دا {لایکلف الله...} دا ما لره کافي نه وو ؟

خالي تصور چې مي دا وهلی وای، نو زما څه په قدرت کې و؟

دا {لایکلف الله...} دا ما لره کافي نه و؟

وایم توکل، توکل محض مې وکی، توکل محض ناکامي نه لري!

توکل محض ډېر زور غواړي، توکل محض زه غواړم، د دې علماوو څخه!

خلک به وايي چې دا تحریک د څه وخته څه را روان و او په څه شکل باندې و، په څه خفیه شکل باندې و، د کومې خوا حمایه کېدی، د کومې خوا ترتیبه کېدی، و د کومې خوا څه روزل کېدی؟؟

د دې تحریک ابتدا دغه وه چې په دغه دایره (درس) کې، په دغه مدرسه کې ما کتاب کت کړ، زه وم یو بل مولوي صاحب مې هم راسره ملگری کړ، داغسې پیاده له سنگساره څه زنگاوات ته پوریوتلو، په زنگاوات کې مو د یو سړي څخه موټرسیکل واخیستی، (سرور) نومېږي، موټرسیکل مو ځینې واخیستی، دا مولوي صاحب مې تر شا را سره سپور کی، دغه یې ابتدا وه، دا چې نن پوریوتمه، مازې مې تصور وواهه، نو پوریوتم .

بیا مې و دې سړي ته وویل (دې مولوي صاحب ته) چې ته راسه، پر دې دایرو به وگرځېږو، دا طالبانو باندې به وگرځېږو.

نو د زنگاواته څه تلوکان ته ولاړو، بیا نو ماښام و راباندې، په دا ماښام کې په ترخو کې روان وو، بیا مې دا مولوي صاحب ته وویل: دغه (ترخې) دا چې روان یو، دا بیا په یاد لره،یو (تحول) ان شاءالله راځي!

نو و دغه موټرسیکل مو ځینې واخیستی، یو دایرې ته ورغلو ۱۴ کسه طالبان هلته اوسیدل، سره راټول مو کړله، دا توکل محض له فکره مه باسئ!

چې هغه مو سره راټول کړل، شاوخوا مو سره را دوره کړل، باره مو ورته وویل چې، دا د خدای دین پایماله سو، فساقو، فجارو ټوله منطقه ونیوله، چور چپاول چالان دی، پر عام ډمبر (پاخه سړک) بانـدې د خلکـو نـاموس کښته کیږي، د خلکـو مالونـه کښته کیږي، پر عام ډمبر باندې یې مړ کړي باره یې و ډبرې ته کښېنوي، موټران تېریږي پر ډمبر، پر ډمبر باندې مړی ناست وي. دونه څوک نسته چې پټ یې کي.

دا مو ورته وویل چې، دغه سبقان هم ویل کیږي، په دغه ترتیب باندې چې ((مرده باد، زنده باد)) باندې دا خبره نه حل کیږي. موږه را ولاړیږو، دغه طالبان که خدمت واقعاً کوي، د خدای د رضا د پاره، دا سبق پرېښوول کیږي، دا سبق نسته!

او نه چا وعده راکړې ده د یوې افغانۍ یا د ډوډۍ، پر دغه وطن به سوال (چنده) کوو، په دا وطن کې به پر مسلمانانو باندې - که چا راکړه که یې نه کړه را.

سبق بیا نسته او دا کار چې دی هفته نه دی، ورځ نه دی، میاشت نه دی، کال نه دی دا!

د چا په قدرت کې دی که نه دی؟

او دا مې هم ورته وویل چې تاسي . . . دلاوري به مې هم ورکړه، چې ما ویـل : فاسق فاجر . . . آ وخت کې گرمي هم وه . . . ماویل په دغه گرمې کې پر دغه خزه (سنگر) ناست دی. د خدای و دښمني ته ناست دی، په علانیه یې کوي.

موږ او تاسو د خدای د دین هم ځان بولو او د خدای د دین خدمت علانیه نسو کولای؟

دونه غفلت مه کوئ.

دونه بې غیرتیا مه کوئ.

په دغه څوارلسو انسانانو کې چې داغسې مو ورته درنه کړه چې، بیا که مو ځای ونیوئ، پر هغه ځای باندې به ناست یو او که مو ځای فتحه کړئ، هغه به بیا نه ایله کوو.

سبق نسته او هیڅ شی نسته او یوه افغانۍ نسته، اسلحه هغه نسته، هغه به په سوال پیدا کوو!

کوځ یې، که یې نه کوځ ؟

په دغه څوارلسو انسانانو کې یوه انسان والله که ویلي دي چې، زه یې کوم.

نو په دا څوارلسو کسانو کې، یوه هم والله که ویلي دي چې، په دغه شکل باندې یې زه کومه، ول د جمعې په شپه که کار و کوو یې، کنه نه یې کوو!

ماویل پس د جمعې به یې څوک کوي ؟

خدای شاهد دی، دغه خبره داغسې ده، په محشـر هم دا شاهدي زه ادا کوم!

نو که دا دایره ما "مقیس علیه" گرځولې وای، دا وام د توکل محض ثمره ده وام زه څه درته وایم، نوکه دا دایره مقیس علیه وگرځیږی نو خو وایم نورې به مې هـم پـر قیـاس کړې وای، بېرته به راتلای و هغې خپلې مدرسې ته.

نو بیا مې چې، هغه د خدایه سره وعده کړې وه، نو بیا مې په هغـه خپلـه وعـده سره وفـا وکړله، خدای دغه معامله وکړه!

نو نه مې پسې پرېښووله، بلې دایرې ته راغلو، هلته پنځه وو که اووه کسه وو، هغو ته مې په هغه شکل خبره درنه کړه، هغه اوو سرو ځانونه نوشته کړل.

خو یو امت دی، دا داسې نه دي چې هغه کوشنیان وو، دا لویان وو، یا هغه سپین ږیري وو یا دا ځوانان وه، یا هغه ښځې وې دا نر وو.

دا په ابتدا کې د دې کار کې، دا داسې یو حکمتي کار و، دا دسې د یو امتحان دوره پر ما باندې پر دا اوله سر (ځل) کې راغله.

نو دغه یې ابتدا وه چې، د دغه ځایه څه مو شـروع کړه، تر مازدیگره مو دغه موټرسیکل وگرځاوه دره پینځوس کسان مو برابر کړل.

دغه د توکل محض انسانان مو دره پینځوس نفره برابر کړل.

مازدیگر چې زه ځیني راپوریوتمه، ما ورته ول سبا راسئ، دوی په دغه شپه کې، پر یـوه بجه باندې راپوریوتل( دلته سلگیو واخیست )

**بل چا ناره کړه: نعره تکبیر**، الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر.

**اسلام : زنده باد**

نو دغه د تحریک ابتدا وه، چې په دغه شپه کې را پوریوتل، شواروز دا دی گوره نه دی پوره، په سهار کې زموږ یو مولوي صاحب دی، هغه تللی و خپل امامت ته، لمانځه ته سهار وختي تللی دی، دا طالبان هم په شپه کې راپوریوتلي دي، سهار چې لمونځ وسو، هغه مقتدې یې ورته وایي "ما برایي [د شپې] داسې ښه خوب لیدلی دی.

وایي څنگه خوب ؟

"ول دغه سنگیسار ته ملایکې راغلې وې . . .

(دلته د ملا صاحب (رحمه الله) سلگی بیا گړندی شوې)

داسې پاسته پاسته لاسونه یې وه . . . نو ده . . . بیا ما ورته وویل چې تاسو پر ما هم لاسونه تېر کړئ.

(بیا سلگیو واخیست)

(دلته د تکبیر نارې هم پورته کېدلې)

نو دا د تحریک ابتدا وه، دغه یې کار و، دغه یو شواروزقدر دا د تحریک ابتدا وه چې وښوول سوه، په شپه کې طالبان را پوریوتل، سهار د لسو بجو باندې مو موټران دوه پی کړل، ((حاجي بشر)) ته مو وویله چې، یوه هینو یوه بایفور یې راکړل، موږ و کشک نخود ته ورروستل.

په کشک نخود کې دغه خلک زموږ سره یو ځای سول، حتی چې باره پسې ډېرېدل

نو مو په سوال باندې د دغه خلکو څخه په (پنځه پنځه میله) باندې څه اسلحه پی کړله.

دغه یې ابتدا وه، دغه یې شروع وه چې جریان یې پیدا کړ.

نو دا د توکل محض ثمره وه!

توکل محض چې دی، هغه نه ناکامه کیږي، نو موږ د دغه علمای کرامو څخه دغه خواست (غوښتنه) کوو چې توکل محض وکړي!

خدای ناکرده، که دا زموږ دعوه ناکامه کېدله (دا زموږ غټه دعوه چې موږ وایو، چې موږ، په دې ملک کې د خدای دین پیاده کوو، د خدای حدود برپایه کوو)

خو تاسې په دې پوه یاست چې، دا حدود بې له علماوو بیا بل څوک نه سي برپایه کولای!

علماء یې پر کومو وظیفو او پر کومو رتبو کې بر پایه کوي؟

هغه رتبې باید وپېژنئ، چې دا پر کومو رتبو او پر کومو وظیفو کې دا حدود برپایه کیږي!

نو دا علماء دې پر داسې یو ټینګ عزم او په داسې اخلاص سره ودرېږي. خدای ناکرده پر دې صف کې مو کمزوري راځي، په دې صف کې سبا د طالبانو هغه خپل شناخته لمونځ به یې نه وي زده، هیر به سي ځني.

نوی نسل روزل غواړي.

په دغه تحریک کې ډېر غټ اخلاص په کار دی، هغه عذر به موږ ځني قبلوو د عالمه څخه، هغه عذر زه پخپله قبلومه چې، هغه عذر په نزد د خدای قبول وي(یوازې شرعي عذر) هغه دی او خدای سره خبر دي!

په خوله باندې سړی معذور نه بلل کیږي، چې په خوله ووایي چې، زه معذور یمه، خو دی او الله سره خبر دي.

وام هغه عذر زه قبلوم، د علماوو څخه چې هغه په نزد د خدای قبول وي.

چې په نزد د خدای قبول نه وي هغه عذر زه د هیڅ عالم څخه نه قبلوم په ټول افغانستان کې، هغه به خپل خدمت کوي، هغه خدمت به کوي چې هغه کیدونکی وي او اثر مرتب ولري.

بعضې خلکو سره داسې فکر وي چې دا قضاء خو داسې شی نه ده نو، که داسې بلـه وظیفه وای چې نوم او نشان وای، یا مې سبا په قوم کې اعتبار درلـودای، یـو سـوك مـې تربغل ایستلای خو زه خاص دا علماوو ته وایم (که څه هم مناسب نه دی) خو بیا هـم د خدای د مسؤلیت څخه بیریږم، زه په دې ځای باندې هغه خپل مسؤلیت چې خـدای زما په غاړه کې را اچـولی دی لـه خپلـې غـاړې اړومـه او د دې علـماوو غـاړې تـه یـې ورسپارمه، چې څه زموږ وظیفه ده، هغه خو موږ هغه دی اخته یو او خپـل خـدمت دی کوو یې، کوم کار چې په موږ باندې کیدی، زموږ هغه کار دی چې هغـه د زور، تـورې یا ټوپک کار دی.

کومه دعوه چې موږ کوو چې موږ د خدای حدود برپایه کوو، د خدای حـدود بـې لـه علماوو بل څوک نه سي برپایه کولای. د خدای په خاطر بانـدې د دې آیـت کماحقـه مصداق به پیدا کوئ چې (لایکلف الله نفسا الا وسعها) دا ډېر علماء وایي. وایـم هغـه وخت دا آیت ما لره هم کافي و خو ما په دې کفایت نه وکی وایم د دغه حال تصور نه کیدی، سړی به اخته وي لږ یا ډېر نو خدای برکت پر ږدي.

نو د دغه علماوو څخه موږ دا خواهش کوو چې دغـه د خـدای دیـن تـه ډېـر برجسته ودریږي، ډېر په یو ټینګ عزم سره ودریږي، دغه دعوه که ناکامه کیدلـه نـود دغـه سـه ناکامه کیږي. حدود د الله چې په یو ملک کې جریان ولري هغه امراء یـې هـم نـه سي خرابیدلای، د خیانت مخه هم نیول کیدلای سي. هر عالم چې ما تر لاس ونیسي یا مې واجب العزل وبولي، په هغه دم به زه استعفاء ورکوم په هغه دم به زه ایسته کیږم. او یا یو بل مسؤلیت را پکښې ووینې.

نو دا طلباء چې دي دا اهل حق ځانونه بولي، د اهل حق دعوه یې کړې ده، دا د فسـاقو فجارو دوره نه ده، د فساقو فجارو دوره ختمه ده، چې هغو ته به عالم څه ویل، هغه یې پر غوږ نه نیول، دا دوره د طلباوو ده، طلباء بـه حتمـي او ضروري دا وعـده کـوي چـې عالم ورته ووایل چې په تا کې دغه نواقص دي هغـه بـه ایسته کـوي یـا بـه د دې صـفه وځي.

د دغو علماوو هره خبره ځای ته رسيږي،علماوو ته دا په کار ده چې ودريږي دا علماوو ته دا په کار ده چې په ټينګ عزم ودريږي. په ورځ د محشر بيا زه دا علماء تر ګريوان نيسم دا علماء زه نه پريږدم. که زما څه دا کار خرابيدی د دې علماوو په نيستۍ سره به خرابيږي، د علماوو په غفلت به خرابيږي، په بل شي نه خرابيږي، دا علماء زه تر ګريوان نيسم په ورځ د محشر، نه يې پريږدمه. حدود د الله تعالی برپايه کيدل، بې له علماوو په بل چا نه کيږي، طلباء احکام نه شي برپايه کولای، نه احکام چلولای سي او نه ورمعلوم دي.

دا علماوو ته دا په کار ده چې په ټينګ عزم به په دغه کار کې دريږي، نوی تصور ورلره په کار دی، دا زاړه تصورات چې يي وهلي يا يې وهي دا دې بند کې بالا، نوی تصور په دې خبرو کې ورلره په کار دی. ورځ د محشر به حضور کوي، الله به حضور کوي، حساب به په خپل ګريوان کې له ځانه سره کوي، کما حقه مصداق به دغه آيت ته ورپيدا کوي چې (لايکلف الله نفسا الا وسعها) بې ځايه به يې نه وايي. زه دا خبره کومه چې که له موږ څه دا کار خرابيده يا فساق او فجار را څخه جوړيدل نو دغه علماء به مو تر لاس نيسي، همدغه علماء به مو محو کوي داغه علماء به پرخپل ځای ثابت او قائم وي نوره خبره له ماسره نسته، بس دغه خبره وه چې دغه علماوو ته ما ورسوله، دغه حاضرين به يې د امانت په شکل باندې تر شا چې هر څوک پاته دي هغو ته رسوي.

د سيف الدين لودين کتابتون

وما علينا الا البلاغ

د ملا صاحب وينا د غونډې د ګډونوالو له تاوده استقبال او د تکبير له نعرو سره پای ته ورسيدله.

دا ورځ له ځانګړي کيف او جوش سره مله وه چې د برخوالو تاوده احساسات هره شيبه د تکبير په نعرو سره اظهاريدل.

وروسته غونډې ته د طالبانود تحریک نومیالي خطیب او د عالي شورئ غړي مولوي احسان الله احسان[1] وینا وکړه، نوموړي د غونډې پریکړه لیک هم ولوست چې مهم ټکي یې په لاندې ډول و.

د کابل د اداري مشر برهان الدین رباني واجب العزل او پر ځای یې ملامحمد عمر مجاهد د شرعي امیر په توګه وټاکل شو.

د معزول رباني د لیري کیدو تر وخت به طالبان خپلې رواني مبارزې ته دوام ورکوي.

په افغانستان کې به د ملا محمد عمر مجاهد تر مشرئ لاندې یو آزاد او سوچه اسلامي حکومت جوړیږي.

د افغانستان په کورنیو چارو کې د بهرنیو هیوادونو لاسوهنې غندو او له ټولو مسلمانانو څخه یې د مخنیوي غوښتنه کوو.

د ټولو مسؤلیت دا دی چې د هیواد د ځمکني تمامیت او استقلال په ټینګه دفاع وکړي او هیواد له تجزیې څخه وژغوري.

---

(۱) شهید مولوي احسان الله احسان د مولوي اغا محمد زوی د کندهار ولایت د شاولي کوټ ولسوالی د بورې د علاقې اوسیدونکی په ۱۳۸۱ هجري قمري کال کې زیږیدلی و. نوموړي د ځوانی عمر په جهاد او د دیني علم په تعلم کې تېر کړی و چې له ښه علم سربیره یې د خطابت ښه استعداد درلود. کله چې د طالبانو اسلامي تحریک تأسیس شو نوموړی له پیله ورسره ملګری و، د نوموړي ستره کارنامه دا ګڼل کیږي چې د هیواد په جنوب ختیځ زون( پکتیا، پکتیکا او خوست) کې یې د ځایي قومندانانو په قانع کولو سره دغه سیمه پرته له جګړې د اسلامي تحریک تر واک لاندې راوسته. مولوي احسان الله صاحب څه موده په کابل کې د افغانستان بانک د عمومي مشر په حیث دنده اجراء کړه. د ۱۳۷۶ لمریز کال په جوزا میاشت کې چې طالبان له جنرال مالک سره د یوې موافقې له مخې د بلخ مرکز مزار ښار ته داخل شول، مولوي احسان الله صاحب هم د الوتکې له لارې له څو نورو مشرانو سره مزار شریف ته ځان ورساوه، وروسته چې جنرال مالک غدر وکړ او ډیر طالبان یې شهیدان کړل، مولوي احسان الله صاحب هم له نورو طالبانو سره د تنګي شادیان په سیمه کې شهید شو، چې وروسته یې جسد کندهار ته راوړل شو او د کندهار ښار د لویې ویالې په سیمه کې د طالبانو په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

د غونډې وروستی ورځ په ټولو ګډونوالو اغیز کړی و خو د عیني شاهدانو له قوله تر ټولو زیات اغیز یې خپله په ملامحمد عمر مجاهد کړی و. د یوه عیني شاهد مولوي احمد جان احمدي په خبره چې په غونډه کې ملا صاحب ته نږدې ناست و، ملا صاحب د غونډې په مهال پرلپسې ژړل او اوښکې یې تویولې، ملا صاحب د خپل پاچ پټکي شمله په اوښکو لمده کړې وه تر دې چې د آرش رخت څخه په جوړ شوي پټو یې هم د اوښکو لمدوالی او اثرات معلومیدل. شایي د زعامت دروند پیټی او مسؤلیت ورسپارل به و چې هغه یې د ژړا تر حده رسولی و.

مولوي احسان الله احسان د خپلې جذابې وینا په لړ کې علماء کرامو ته وړاندیز وکړ. دا چې تاسو ملا محمد عمر مجاهد د شرعي امیر او زعیم په حیث تعین او تائید کړ. نو د زعامت په موضوع کې د صحابه کرامو سنت دا و چې د مسلمانانو مشر به یې امیرالمؤمنین باله. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې څوک د فساد په زمانه کې یو سنت احیاء کړي ډېر ستر اجرونه لري. په اوس زمانه کې چې دا لقب له مسلمانانو هیر دی که یې موږ را ژوندی کړو الله تعالی به ستر اجرونه راکړي نو آیا تاسو موافق نه یاست چې خپل شرعي زعیم ته د امیرالمؤمنین لقب ورکړو! په دې سره نه یوازې ټولو علماء کرامو په یوه غږ د موافقت غږونه وکړل بلکې په مجلس کې د تکبیر زمزمې او هیجاني چیغې هم پورته شوې. وروسته مولوي احسان الله احسان ملا صاحب د ستیج خواته وغوښت لومړی یې خپله ورسره د امیر په حیث بیعت وکړ او وروسته ټولوعلماء کرامو ورسره لاس په لاس بیعت پر ځای کړ.

په کندهار کې د علماء کرامو د سترې غونډې د ورځو یوه بله مهمه واقعه د ملا صاحب لخوا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکې خرقې[1] (چپنې) را ایستل او

(۱) د کندهار خرقه شریفه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته منسوبه هغه چپنه ده چې د تاریخي روایاتو له مخې په لومړیو پیړیو کې د عباسي خلافت په مرکز بغداد کې ایښې وه. کله چې په نهمه هجري پیړۍ کې په سمرقند کې امیر تیمور ګورګاني را پیدا شو او له چین تر عراق او شام پورې یې ډیرې سیمې ونیولې، نوموړي د دنیا له مختلفو سیمو تاریخي اثار او متبرکات هم له ځان سره سمرقند ته راوړل، چې په دې لړ کې نوموړي د

خلکو ته ښودل و. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته منسوبه خرقه شریفه چې په افغانستان کې یو له تر ټولو مهمو او متبرکو آثارو ګڼل کیږي، شاوخوا دوه نیم سوه کاله پخوا د معاصر افغانستان د مؤسس احمد شاه بابا لخوا له خوا له بدخشان څخه راوړل شوې او تر اوسه پورې په کندهار کې د احمد شاه بابا د مقبرې په محوطه کې په یوه ځانګړې ودانۍ کې ساتل کیږي.

د ملا صاحب د دفتر کارکوونکی او د نوموړي خاص محرر ملا عبدالسلام کاتب وایي چې د علماء کرامو د غونډې په شپو کې یوه شپه ماخستن ناوخته ملا صاحب ناڅاپه وویل چې درځئ خرقه شریفه وګورو. خرقه شریفه د امارت د مقام دفتر (ارګ) او د ولایت مقام ته مخامخ د واټ پر بله غاړه د احمد شاه بابا د مقبرې په محوطه کې په یوه ځانګړې ګنبدي ودانۍ کې ایښې وه.

ملا صاحب د خپل دفتر څو محدود شمېر ملګري، چې د دفاع وزیر ملا عبیدالله آخند او د امر بالمعروف و نهی عن المنکر وزیر مولوي محمد ولي صاحب چې دفتر ته د کوم کار لپاره راغلي وو د ځان سره ملګري کړل او پیاده د خرقې شریفې پر خوا روان شو. د خرقې شریفې ودانۍ ته له رسیدو وروسته یې متولیان چې دلته نږدې یې کورونه وو راوغوښتل او خپله اراده یې ورته څرګنده کړه. هغوی هم سمدستي د کور خوا ته لاړل اود خرقې شریفې د قلفونو کلیاني یې راوړې. اول یې د خرقې شریفې د ودانۍ

---

رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه مبارکه چپنه هم له بغداد څخه سمرقند ته راوړه. په ۱۱۰۹ هجري قمري کال کې خرقه مبارکه بدخشان ته یووړل شوه، تر دې چې کله احمد شاه بابا به په کندهار کې د لویې امپراطورۍ بنسټ کیښود په ۱۱۸۱ هجري قمري کال کې یې خرقه مبارکه د خاصو مراسمو په لړ کې د افغانستان د هغه وخت پلازمینې کندهار ته راوړه او دلته په ځانګړې ودانۍ کې کیښودل شوه. خرقه شریفه په همدې ځانګړې ودانۍ کې په خاص ځای کې ایښې وي او کله ناکله د وخت د حاکمانو په غوښتنه را ایستل کیږي تر څو یې خلک ووینې. له ملا محمد عمر مجاهد وړاندې د وروستي ځل لپاره څه کم شپیته کاله وړاندې په ۱۳۱۸ لمریز کال کې د محمد ظاهر شاه د پاچاهي په لومړیو کې خرقه شریفه د خلکو د لیدلو لپاره را ایستل شوې وه. (د کندهار د خرقې شریفې تاریخچه، عزیز الدین وکیلي)

عمومي دروازه خلاصه کړه چې دننه شوو، مخامخ یو طرف ته جلا اطاق و، چې یوه لوړه کړکۍ او کېن اړخ ته یې یوه دروازه راخلاصه ده خو دا دروازه همیشه قلف وي. عام زائرین یوازې همدې لویې گنبدي ودانۍ ته ورننوځي، همدلته تلاوت کوي، درود شریف وایي او یا دعاگانې کوي.

ملا صاحب د گنبدي ودانۍ په منځ کې د همدې ځانگړې اطاق دروازې تـه ورغـی او متولیانو قلف خلاص کړ. اطاق ته چې داخل شوو، دننه په یوه لوړ ځای په توکرانو کې پوښلی یو لوی صندوق ایښی دی. کله چې متولیانو غوښتل د دې صندوق قلف خلاص کړي، نو ډېر ځنډ یې ورباندې ووت، ځکه دا قلف ډېر کلونه نه و خلاص شوی او کیلي پیدا کول یې هم آسانه نه و. کله چې دا قلف خلاص شو، د دې لوی صندوق په منځ کې بل کوچنی صندوق و چې هغه هم قلف و خرقه شریفه په همدې کوچني صندوق کې ایښې وه. د کوچني صندوق د قلف له خلاصیدو وروسته ملا صاحب خرقه شریفه په دواړو لاسونو راپورته کړه له ځان سره یې ونیوله او په ځانگړې کیفیت ورته متوجه و. په اطاق کې موجودو کسانو چا له احساساتو اوښکې تویولې، چا په خرقه شریفه د تبرک لپاره لاس واهه او یا یې تسبیح ورباندې د تبرک لپاره لگولې.

خرقه شریفه چې نرم او پنډ جوړښت لري، د لستوڼو اندازه یې تر څنگلو پورې ده چې د رنگ په اړه یې مختلف تعبیرات کیدل، ملا صاحب څه شیبه وروسته خرقه شریفه په خپل خاص صندوق کې کېښودله صندوق یې قلف کړ او بیا یې په لوی صندوق کې قلف کړه او بیرته د امارت مقام (ارگ) ته راستون شو.

دا چې عامو خلکو خصوصا د کندهار اوسیدونکو لـه ډېـره وختـه د خرقې مبارکې د لیدلو تلوسه درلوده نو ملاصاحب مناسبه وبلله چې وروسته له ډېرو کلونـو یـو ځـل بیا خرقه شریفه په عام محضر کې خلکو ته ورښکاره کړي. په کندهار کې د علماء کرامو د لویې غونډې له پای ته رسیدو سره سم نوموړی له خپلو ملگرو سره ماخستن مهال خرقې شریفې ته ورغی او د متولیانو سره په مشوره یې د خرقې شریفې کوچنی صندوق له ځان سره د امارت مقام ته راووړ، چې ورسره د خرقې شریفې یو متولي هم و. د سبا لپاره ترتیب جوړ شو تر څو د کندهار په زړه عیدگاه کې د خاصو مراسمو په لړ

کې عامو خلکو ته خرقه شریفه وښودل شي. د عیدگاه امنیت له وړاندې نیول شوی و، سبا عیدگاه ته خلک را روان شول او د علماء کرامو بیانونه هم شروع شول. ملا محمد عمرمجاهد چې د خرقې شریفې صندوق یې په خپل موټر کې ایښی و، هم عیدگاه ته لاړ او محراب ته نږدې د ځانګړې فرعي دروازې له اړخه عیدگاه ته داخل شو. عیدگاه ته د خلکو جوپې را رواني وې غرمه مهال د خلکو ګڼه ګونه زیاته شوه، ملا محمد عمر مجاهد چې د خرقې شریفې متولي او څو تنه د امارت د مقام ملګري طالبان هم ورسره وو، د عیدگاه په بام یې د خرقې شریفې صندوق خلاص کړ او په ولاړه یې ټولو خلکو ته خرقه شریفه وښوده. په دې سره په خلکو کې جوش او ولوله پیدا شوه او د تکبیر نعرې پورته شوې، د خپل محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم یاد او محبت یې په زړونو کې په څپو شو. وروسته ملا صاحب خرقه شریفه بیرته په صندوق کې کیښوده او له هماغه ځانګړې لارې په راوتلو سره یې صندوق په خپل موټر کې کیښود. خو پر لاره هم د خلکو هجوم زیات و او هر چا کوښښ کاوه چې د ملا صاحب موټر ته ځان ورسوي. د ملا صاحب ساتونکو د لارې خلاصولو په هدف خلک منع کړل او ملا صاحب د امارت مقام ته ورسید. د دې لپاره چې د خلکو هجوم له امله د خرقې شریفې بې احترامي ونه شي په را روانه شپه چې کله د خلکو تګ راتګ کم شو او د ماخستن لمونځونه وشول، ملاصاحب خرقه شریفه د متولیانو په حضورکې بیرته خپل ځای ته یووړه او په هماغو ځانګړو صندوقونو او خاص اطاق کې یې کیښوده. په دې سره له یوې خوا هغه افواهات او شکونه ختم شول چې ځینو خلکو ویل کیدای شي دغه تاریخي ارزښت لرونکې متبرکه خرقه شریفه د انقلاب او جګړو په کلونو کې له دې ځایه ورکه شوې وي او بل دا چې عامو مسلمانانو له ډیره وخته د خرقې شریفې د لیدلو تلوسه درلوده چې په دې سره هغه ارمان هم پوره شو.

**د ختیځو ولایاتو او کابل فتحه**

وړاندې یادونه وشوه چې طالبان د ۱۳۷۳ لمریز کال د دلوې په میاشت کې د کابل تر دروازو رسیدلي وو، چې له لنډ مهالې سوله ایزې فضا وروسته د مسعود له قواوو سره په جنګ واوښتل. د ۱۳۷۳ کال له وروستیو میاشتو بیا د ۱۳۷۵ کال تر اوړي پورې پوره

یونیم کال طالبان د کابل په جنوب، جنوب لویدیځ او لویدیځو لمنو کې د مسعود له قواوو سره په وقفه یي شکل په جګړو بوخت وو.

د لویدیځې حوزې په شان کابل ته څېرمه جګړې هم ملا صاحب خپله څارلې، هغه وخت چې طالبانو د کابل پر خوا پرمختګ کاوه ملا صاحب مسلسل، غزني، میدان وردګ او لوګر ته د څرخکې له لارې سفرونه وکړل او د جګړې په وضعیت یې ځان پوه کړ. د کابل له فتحې څو میاشتې وړاندې هم ملا صاحب د لوګر او میدان ښار په حدودو کې پر کابل د راګرځېدلو جنګي کرښو د لیدلو لپاره سیمې ته سفر وکړ چې په دې سیمې یې څرخکه له حادثې سره هم مخامخ شوه. د ملا محمد عمر مجاهد د دفتر یو کارکوونکی د دې سفر کیسه داسې کوي.

ملا صاحب چې کله د کابل د جنګي کرښو د لیدلو لپاره د سفر اراده وکړه نو له خپلو ملګرو سره په څو موټرو کې د کندهار هوایي ډګر ته لاړ، هلته یې مسؤلین را وغوښتل تر څو لوګر ته د سفر ترتیب ونیسي، د غلام جان پیلوټ په نوم یوه مسؤل وویل چې باید دوه څرخکې آماده کړو ځکه نفر ډېر دي، په دې ډول یوه غیر نظامي څرخکه او یوه بله پوځي څرخکه سفر ته آماده شوه. ملاصاحب له غلام جان پیلوټ سره په پوځي څرخکه کې سپور شو چې د پیلوټ له ځای سره نږدې یې یو خصوصي د ناستې ځای درلود. کله چې لوګر ته ورسیدو د لوګر والي مولوي عبدالکبیر صاحب او نور طالبان هرکلي ته راغلي وو. دا چې دا سیمه کابل ته نږدې وه او هره شیبه د مسعود الوتکو بمبار کاوه، بله دا چې ملا صاحب بیرته عاجل د تللو اراده نه درلوده نو په دې خاطر چې په څرخکو بمبار ونه شي، دواړه څرخکې یې بیرته غزني ته ولیږلې تر څو کندهار ته د بیرته تګ تر وخته همالته انتظار وکړي. ملا صاحب د مولوي عبدالکبیر صاحب په کوربه توب د طالبانو یو مخفي مرکز ته لاړ وروسته د جنګ کرښې ته نږدې یو ځای یې د مجلس لپاره انتخاب کړ. په همدې شپه یې له ملا بورجان آخند او ملا مشر آخند نه علاوه د چهار آسیاب او میدان ښار د خطوطو ګڼ مجاهدین او مسؤلین ولیدل. په مجلس کې تېر جنګي وضعیت وڅېړل شو او د کابل پر خوا د پرمختګ نوی پلان ترتیب شو. ورپسې له عامو مجاهدینو سره ملا صاحب تر سهاره مجلس وکړ.

سهار چې ملا صاحب د بیرته تګ اراده درلوده، حال راغی چې هماغه پوځي څرخکه چې ملا صاحب له کندهاره په کې راغلی و، له لوګر څخه غزني ته د تلو په وخت په غزنیو سیمو کې له سقوط وروسته په مکمل ډول له منځه تللې او پیلوټ یې (غلام جان) هم ژوند له لاسه ورکړی.

که څه هم د الوتکې د سقوط دقیق علت معلوم نه شو، خو دا چې له پخواني رژیم پاته اکثره څرخکو د کارولو قانوني وخت پوره کړی او عوارض یې درلودل نو ځکه دغسې د سقوط واقعات په کې ډېر پیښیدل. ملا صاحب د بیرته تلو په وخت تر غزني پورې په موټر کې لاړ او له هغه ځایه په دوهمه څرخکه کې سپور شو. د نوموړي د سفر یو ملګری وایي کندهار ته نارسیده چې د مازدیګر لمونځ قضاء کیدونکی و او کندهار ته مو لمونځ نه شوای رسولی، ملا صاحب پیلوټ ته وویل چې سیند ته نږدې په مناسب ځای څرخکه کینوي تر څو ملګري اودسونه او لمونځ وکړي. له لمانځه اداء کولو وروسته څرخکې بیا پرواز وکړ او کندهار ته ورسیدو. خو له دې وروسته د امارت اکثرو مشرانو ملګرو په ملا صاحب تاکید وکړ چې په څرخکو کې ډېر سفر ونه کړي ځکه د سقوط واقعات په کې ډېر پیښیدل. په هر حال خبره مو د پلازمینې کابل د فتحې په اړه کوله، کابل بالاخره د ملا بورجان اخند په مشرۍ د هغو سترو عملیاتو په لړ کې فتحه شو چې له پکتیکا او پکتیا پیل او د ننګرهار، لغمان او کونړ له نیولو وروسته د پلازمینې کابل په فتحه پای ته ورسیدل.

د ۱۳۷۵ د جوزا په ۴ مه نیټه د طالبانو د دوو سترو مخالفینو حکمتیار او رباني تر منځ د ماهیپر میثاق امضاء شو او څو ورځې وروسته ګلبدین حکمتیار د نوي صدر اعظم په حیث کابل ته لاړ. حکمتیار چې په تیر یو نیم کال کې یې یوازې د طالبانو او رباني د جګړو ننداره کوله له رباني سره له یو ځای کیدو وروسته یې یو ځل بیا د طالبانو په خلاف تهاجمي موقف غوره کړ. د حکمتیار قوماندانانو په بیلابیلو سیمو کې سرونه راپورته کړل، په میدان وردګ کې د حزب قوماندان ظفر الدین په طالبانو برید وکړ او د نرخ ولسوالي یې ونیوله. د پکتیکا په اورګون کې د حکمتیار مشهور قوماندان خالد فاروقي جګړه پیل کړه او ځینې سیمې یې ونیولې.

طالبانو د اسد په میاشت کې د ملا بورجان آخند پـه مشـرۍ یـو لـوی لښـکر د پکتیکـا اورګون ته واستاوه او د حکمتیار کسان یې له سیمې وشړل. وروسته همدا لښـکر پکتیـا ته راوګرځېد او د پکتیا په ختیځو ولسوالیو یې چې تردې مهاله د حکمتیـار او سـیاف د کسانو په لاس کې وې عملیات پیل کړل. د همدې کال د سنبلې په لومړیو ورځـو کـې احمدخېل ولسوالي، د ځاځیو اریوب، د علي خیلو چوڼۍ، د اتحـاد د توربابـا غونـډ او ورپسې سپینه شګه طالبانو ونیوله او د لوګر د ازرې په خوا یې پرمختګ ته دوام ورکړ.

د لوګر د ازرې او د ننګرهار د حصارک له تصفیې وروسته طالبان په جلال اباد ورغلل، دجلال اباد د حاکمې شورا ډېرو غړو (دحاجي قدیر له ډلې پرته) له وړاندې له طالبـانو سره تماس نیولی و او د طالبانو د ورتګ هرکلی یې کړی و دا مهـال کـه لـه یـوې خـوا طالبان د حصارک لخوا د جلال اباد پر خوا روان وو له بلې خـوا د تـورخم د سرحـدي ښار واک هم طالبانو د ځایي قوماندانانو او مجاهدینو سره د مخکنۍ مفـاهمې لـه لارې ترلاسه کړی و. د جلال اباد د شورا ګڼ شمیر غـړي او منسـوبین چـې انجینیـر محمـود، حاجي سازنور، نادر عرب، نعیم پاچا، محمد اکبر مجددي او نور پـه کـې شـامل وو لـه طالبانو سره د پیوستون په خاطر د تورخم په خوا روان شول، چې په لاره کې ورته د یوه ځایي ټوپکمار قوماندان لخوا کمین نیول شوی او تقریبا ټول یې په سخته بې رحمۍ په شهادت ورسول. په همدې کې کله چې د ۱۳۷۵ لمریـز کـال د سـنبلې پـه ۲۱ مـه نیټـه (۲۷ / ۴ / ۱۴۱۷هق) د طالبانو زر کسیز لښکر جلال اباد ته ننوتلو نو د حضرت علـي او مسعود قـواوې تـر دوی د مخـه ښـار تـه ننـوتې وې. طالبـان د دروننټې پـه سیمه کـې دحضرت علي د کسانو له کمین سره مخامخ شول، خو حضرت علي ډېـر ژر شکسـت وخوړ او مخ په لغمان وتښتید، په ښار کې یوازې د کابل د رژیم ځینو راغلیـو وسـلوالو خال خال مقاومت وکړ، نور جلال اباد په پوره امن د طالبانو لاس ته ولوېد. د جلال اباد له نیولو وروسته په داسې حال کې چې په طالبـانو پرلپسـې د کابـل درژیـم لخـوا بمبـار روان و، حضرت علي یوځل بیا د لغمـان لخـوا پـه جـلال ابـاد د بریـد هڅـه وکـړه او د دوراهي په سیمه کې سرک ته راووت. طالبان د ملا بورجان آخند په مشرۍ د نوموړي په تعقیب ووتل، چې نه یوازې یې په دې عملیاتو کې حضرت علي ته سخت شکسـت ورکړ، بلکې د لغمان مرکز مهترلام او نورې ډېرې سیمې یې هم ونیـولې او د حضـرت

علي کسان علیشنگ او دولت شاه ته وتښتیدل. له دې وروسته طالبان د ملابورجان اخند په مشرۍ د سنبلې په ۳۱ مه نیټه د کونړ ولایت مرکز اسعداباد ته داخل شول. دلته د کابل د رژیم یو قومندان شیر افضل له طالبانو سره په جګړه کې ووژل شو او نورو د تیښتې لاره ونیوله.

### کابل څنګه ونیول شو؟

د طالبانو لخوا د کابل د فتحې عملیات د افغانستان دجګړو په تاریخ کې بې ساري عملیات بلل کیږي. یو لویدیځ ژورنالیست ډیویډ لاین د پوځي چارو د یوه کارپوه له قوله د دې جګړې په اړه وایي(دا د خوځنده جګړې یوه خورا نادره او اغیزناکه بیلګه وه د افغانستان په جګړه ایز تاریخ کې تراوسه هیڅ کومې ډلې هم په دومره پراخه عملیاتي سیمه کې په داسې پیچلو او پریکنده عملیاتو لاس نه وو پورې کړی)

د کابل د فتحې په عملیاتو کې د طالبانو شمیر تر سلګونو اوښت چې مشري یې د ملا بورجان اخند په غاړه وه دغه راز د وریښمین تنګي او لته بند له اړخه په همغږو عملیاتو کې ملا فاضل اخند، ملا عبدالرزاق، ملا دوست محمد، ملا سلام راکټي، ملا سیف الرحمن منصور، مولوي خوشال ملنګ او ګڼو نورو نظامي مشرانو هم ګډون درلود. ملا محمد رباني د دې ټول عملیاتي بهیر په اکمالاتو او له فتوحاتو وروسته د نظم او اداري په سمبالولو بوخت و.

دطالبانو په مقابل کې دحکمتیار او مسعود په سلګونو ځواکونو د کابل ختیځ ته د سروبي او ماهیپر په غرنیو سیمو کې سنګرونه نیولي وو. نه یوازې د کابل د رژیم ځمکنۍ قواوې ډیرې وې بلکې هغوی له ډیرې مودې راهیسې په دې سیمه کې په سرک، د غره په ډډو، د سیند په غاړو، تر پلونو لاندې او هرځای کې ماینونه هم ښخ کړي وو.

د لته بند له اړخه د دې عملیاتو مسؤل ملا فاضل اخند وایي چې کله طالبان د افغانستان د ختیځ پر خوا د پرمختګ په حال کې د لوګر له ازرې د ننګرهار حصارک ته ورسیدل، نو د عملیاتو عمومي مشر ملا بورجان آخند ماته امر وکړ چې ته له یو شمیر

مجاهدینو سره همدلته په حصارک کې پاته شه. د ده پلان دا و چې په کابل به له دوو اړخونو (وریښمین تنګي او حصارک له اړخونو) حمله کوي. تر څو د دښمن لښکر په یوه پراخه سیمه کې په جګړه کې ښکیل او ځواک یې تقسیم شي.

د وریښمین تنګي له اړخه ددې عملیاتو یو برخوال ملا عبدالرزاق اخند دهیواد ورځپاڼې د پنځمې دورې له (۳۲۸) ګڼې سره په مرکه کې ویلي (په وریښمین تنګي کې له دوه ورځې انتظار وروسته د میزان په دریمه نیټه ملابورجان اخند له کونړه راغی او د کابل د نیولو د عملیاتو نقشه یې جوړه کړه. نقشه داسې وه چې د ملا فاضل اخند په مشرۍ طالبان به د حصارک لخوا د لته بند، جګدلک او پل چرخي پر خوا پرمختګ ته دوام ورکوي او موږ به له دې خوا د سروبي پر خوا مخ پر وړاندې ځو)

د میزان په دریمه د ماسپښین په یوه بجه په وریښمین تنګي کې د شهید ملابورجان اخند په قومانده د دښمن په دفاعي خط برید پیل شو، برید یو څه وخت دوام وکړ، ترڅو شیبه وروسته د دښمن خط مات شو طالبانو پرمختګ پیل کړ. په همدې ورځ مازدیګر مهال د دښمن د هشتادودو توپ یوه مرمۍ د ملا بورجان آخند له خوا سره ولګېده چې په پرزو یې نوموړی ځای په ځای په شهادت ورسید. د ملا بورجان اخند نږدې ملګرو د ده په جسد پټو واچاوه او په موټر کې یې کېښود تر څو یې نور ملګري په شهادت خبر نه شي او مورال ونه بایلي.

په همدې ورځ طالبانو په داسې حال کې چې پرلپسې له بمبار، مقاومت او د ماینونو له خطر سره مخامخ وو تر سروبي پورې پرمختګ وکړ. ماخستن مهال طالبانو په سروبي کې د زرداد په غونډ برید وکړ او فتحه یې کړ. دا مهال د ملا فاضل اخند په مشرۍ طالبان چې د حصارک لخوا یې عملیات پیل کړي و هم سروبي ته راورسیدل. ملا فاضل آخند د حصارک د استقامت په اړه وایي: د وریښمین تنګي له اړخه د تعرض له پیل یوه ورځ وړاندې پر موږ د حزب کسانو برید وکړ، خو طالبانو مقاومت وکړ او د حزب کسان وتښتیدل. سبا ملا بورجان آخند حال راکړ چې نن عمومي تعرض شروع کیږي نو تاسو هم کار شروع کړئ. په دې ډول موږ هم تعرض پیل کړ او پرمختګ ته مو دوام ورکړ تر دې چې نغلو ته ووتلو او وروسته د وریښمین تنګي لخوا راغلي

مجاهدین هم راسره یو ځای شول. دغه وخت ملا بور جان آخند شهید شوی و، خو نږدې ملګرو یې دغه خبره پټه ساتلې وه.) همدلته ماخستن د ملا عبدالرزاق، ملافاضل آخند، ملا دوست محمد، ملا سلام راکټي او ثاني ملا مشر په ګډون د طالبانو قومندانانو د یوه مجلس په لړ کې د سبا ورځې د عملیاتو نقشه جوړه کړه. فیصله داسې وشوه چې د جلال اباد او حصارک لخوا راغلي طالبان دې نه سره یوځای کیږي. د حصارک لخوا راغلي طالبان به سبا د لته بند په استقامت برید کوي او د جلال اباد لخوا راغلي طالبان به په ماهیپر ورخیژي.

سبا د میزان په څلورمه په دواړو خواوو کې بریدونه پیل شول، د ملا فاضل اخند تر مشرۍ لاندې طالبانو د چکړي پر سر برید پیل کړ او د دې سیمې له نیولو وروسته یې تر بند غازي پورې پرمختګ وکړ. د ماهیپر د استقامت په اړه ملا عبدالرزاق اخند وایي: د ورځې لس بجې وې چې موږ له سروبي څخه جنګ شروع کړ، د پرمختګ په مهال دښمن د الوتکو او چورلکو سخت بمبار کاوه. د برق له فابریکې سره پله ته چې راورسیدو نو تر پله لاندې لوګي پورته کیدل، یوه طالب ورمنډه کړه چې کتل یې تر پله لاندې یې ډېر زیات باورت ایښي دي او شیبه په شیبه د ثانیه سوز اور ورنږدې کیږي، طالب ورباندې حمله کړه ثانیه سوز یې پرې کړ او په دې توګه یې د پله د تخریب مخه ونیوله. دښمن هڅه کوله په دې برخه کې د پلونو او تونلونو په منفجرولو سره زموږ مخه ونیسي. کله چې ماهیپر ته راورسیدو، دلته دوی له وړاندې محکم سنګرونه جوړ کړي وو. دښمن درې ساعته سخت مقاومت وکړ، ماسپښین مهال چې کله جګړه ډېره اوږده شوه، نو مو پریکړه وکړه چې یو ځل وروستی زور ورباندې ازمویو که مقاومت مات نه شو، نو د شپې لپاره به دا قامت ترتیبات نیسو او خپله دفاع به قوي کوو. د وروستي برید لپاره مو ټانګونو ته د پرمختګ امر وکړ ترڅو تونل ته نږدې د دښمن په مورچل بریدونه پیل کړي، زموږ یو برید کوونکی ټانګ چې د تونل په خوا ورپه مخ شو، په یو ډېر تنګ ځای کې د دښمن لخوا وویشتل شو، اور ورباندې بل شو او ځای په ځای داسې ودرید چې لاره یې په مکمله توګه بنده کړه. په دې کار سره ټول سخت متحیر شوو، ځکه په ټانګ کې ډېرې مرمۍ وې چې هره شیبه یې د انفجار ویره وه له بلې خوایې لاره بنده کړې وه، چې د وړاندې تیریدو بله هیڅ لاره نه وه، موږ په همدې اړه

فکر کاوه، چې د الله تعالی نصرت مو په خپله ولید، هغه داسې چې ټانـګ لـه يـوې شيبې ځای په ځای دريدو وروسته خپله په شا روان شو، د سرک د غاړې محکم ديوال يې ورسره واخيست او لاندې سيند ته وغورځيد چې په دې ډول د وړاندې تـګ لپـاره لاره خلاصه شوه. دا شيبه نو ټول ملګري بيرته سخت خوشاله شول، په دې وخـت کـې ملګرو په پوره زړورتوب په تونل وروځغستل، کله چې تونل ته ورسيدو ګـورو چـې د تونل د انفجار لپاره په زياته اندازه باروت، پټاخې او نور وسـائل رايوځـای شـوي، خـو يوازې بسته شوي نه دي)

د ميزان په څلورمه طالبانو د يوه سخت جنګ په پايله کې د ماهيپر کوتـل ونيـو، ماښـام چې طالبان له ماهيپر تير شوي وو د لته بند لخوا نورو ملګرو حال ورکړ چې موږ هـم د پلچرخي په خوا در روان يو، په همدې ګړۍ د مس عينک لخوا د طالبانو د تعرض او د دښمن د کمربند ماتيدو خبر هم راغی چې د طالبانو مـورال يـې نـور هـم لـوړ کـړ. پـه همدې شپه دښمن په قوای چهار کمربند واچاوه او طالبانو له قـوای چهـار لـږ وړانـدې شپه تيره کړه. سبا د ميزان په پنځمه طالبانو په ميدان ښار او د چهاراسـياب پـه خـوا کـې هم جنګي کرښو ته احوال وليږه چې بريدونه پيل کړي پـه اتـو بجـو د قـوای چهـار پـه ساحه کې په دښمن تعرض پيل شو، دښمن شکست وخوړ د پـل چرخـي سـيمه فتحـه شوه چې هم مهال د لته بند لخوا راروان شوي ملګري هم راورسيدل او دواړه لښکرې د پل چرخي په پله سره يوځای شوې. د ميزان په پنځمه ټوله ورځ که له يوې خوا د کابل ختيځ ته د ګمرګ او حربي پوهنتون په ساحه کـې سـخت جنـګ روان وو، بلـه خـوا د ملافاضل اخند په مشـرۍ مجاهدينو په کارته نو او تپه مرنجان باندې بريد شـروع کـړی و او د دښمن قواوې يې شاتګ ته اړ کړې وې. ماسپښين ناوخته د کابل ښار پـه ختيـځ کې جګړې سخت زور واخيست، د دښمن محاربوي ټـانګونو سـختې حملـې وکـړې، دغه راز له تلويزون غره څخه د توپچي بريدونه هم کيدل خو په عين حال کې مازديګر مهال نظامي مشـرانو معلومات ترلاسه کړل چې دښمن عملا له ښـار څخـه د تيښـتې پـه حال کې دی. د شپې په رانږدې کيدو سره د مقابل لوري مقاومت هم پـه ټولـو خـواوو کې کمزوری کيده، د ماښام له تياري سره د چهاراسياب لخوا هم د دښمن خط رامـات

شو، د شپې په رابریدو سره مقاومت بشپړ ختم شوی او نظامي مشرانو په دې مشوره
کوله چې کابل ته باید په څه ترتیب داخل شي.

په دې توګه طالبان د۱۳۷۵ لمریز کال د میزان د پنځم او شپږم تر منځ شپه باندې
یوولس بجې شاوخوا د کابل ښار ته داخل شول او د افغانستان پلازمینه یې تر واک
لاندې راوسته. د پلازمینې له نیولو وروسته د طالبانو لومړنی کار د ملیونونو مظلومو
افغانانو، کونډو او یتیمانو د ارمان پوره کول و. ډاکټر نجیب د کمونیست رژیم پاتې
شونی چې د شوروي یرغل په کلونو کې د کمونیست رژیم د استخباراتو (خاد) رئیس
و او په لسګونو زره افغانان یې د مسلمانی په جرم اعدام کړي یا ژوندي تر خاورو
لاندې کړې وو. دغه راز چې وروسته د کمونیست ګوند عمومي منشي او د ملحد رژیم
واکمن وټاکل شو، هم یې ډېر مظالم ترسره کړل او نوموړي ته سزا ورکول د کمونیزم
ځیلي افغان ولس ستر ارمان و، دغه وخت چې نوموړی په کابل کې نظربند و طالبانو د
خپل عمل په سزا ورساوه.

د کابل د فتحې په تعقیب طالبانو په راتلونکو ورځو کې د کابل شمال ته د پروان او
کاپیسا ولایتونو مراکز هم ونیول او مسعود یې د پنجشیر درې ته وشاړه.

ملا محمد عمر مجاهد د نورو عملیاتو او جګړو په څېر د افغانستان د ختیځ او کابل
فتحې عملیات هم شیبه په شیبه تعقیبول او له نظامي مشرانو سره د همیشنی رابطې په
توسط یې د هغوی اړتیاوې رفع کولې او لازم هدایات یې ورته کول.

ملا صاحب چې د ملا بورجان اخند له شهادت څخه خبر شو نو یې ملا محمد رباني
هغه په ځای د مجاهدینو مشر تعین کړ خو دغه ټاکنه د دې لپاره د کابل د فتحې تر
وخته اعلان نه شوه تر څو په جنګ بوخت طالبان د ملا بورجان اخند له شهادته خبر
شي ځکه په هغه جګړه ایز حالت کې د نظامي قائد د شهادت خبر یې په جنګي مورال
ناوړه اغیز کولای شوای.

د کابل له فتحې وروسته ملا صاحب د یوه فرمان په صدور سره د پخواني نظام ټول
کابل میشتو ملکي او نظامي کارکوونکو ته عمومي عفو اعلان کړه او وعده یې ورک

چې د اسلامي نظام تر سيوري لاندې به د نورو مسلمانانو په څېر له ټولو مادي او معنوي امتيازاتو برخمن او سر، مال، حيثيت او ټول ارزښتونه به يې خوندي وي.

په کابل ښار کې د نظم د اعادې او حکومتي ادارې د فعالولو لپاره ملا صاحب د ملا محمد رباني په مشرۍ شپږ کسيز کميسيون وټاکه چې نور اعضاء يې ملا محمد حسن، ملا عبدالرزاق، سيد غياث الدين اغا، ملا محمد غوث او ملا محمد فاضل اخند وو. دوی دنده درلوده تر څو له فتحې وروسته د رسمي ټاکنو د اعلان او استقرار تر وخته د پلازمينې د ټولو امنيتي، ملکي او نظامي چارو مسؤليت په غاړه واخلي او د ګډوډيو، لوټ تالان او نورو ناوړه کړنو مخنيوی وکړي.

د کابل له فتحې وروسته د ملا محمد عمر مجاهد لخوا دريمه اعلاميه د يو لړ نورو انتظامي امورو په رابطه نشر شوه چې څو مادې يې په دې ډول وې.

لومړی: تر دې وروسته به په افغانستان کې سوچه، خالص اسلامي نظام حاکم وي.

دوهم: ټول هغه افغاني سفيران چې په بهرنيو هيوادونو کې مقرر دي د دوی کارونه معطل دي او د کارونو د اجراء صلاحيت نلري. ټول بهرني هيوادونه دي د افغانستان د نقد او جنس اموالو ساتنه وکړي.

دريم: د کابل له ټولو ښاريانو غوښتل کيږي چې له ښار نه دې کډې نه باسي او څوک چې له ښاره وتلي هغوی دې بيرته خپلو کورونو ته راستانه شي. ځکه طالبانو د دوی د سر، مال او ناموس امنيت نيولی دی.

څلورم: د ماينونو د پاکولو موسسې دې کابل ته تلونکې ټولې لارې له ماينونو څخه پاکې کړي. تر څو کابل ته د تګ او راتګ په لارو کې ټول مشکلات له منځه لاړ شي.

پنځم: ټول ملي سوداګر دې ژرتر ژره د کابل ښاريانو د ورځنيو مشکلاتو د له منځه وړلو لپاره د خوړو او د سون د موادو په رارسولو لاس پورې کړي تر څو له دې پلوه کابل ښاريان له ستونزو سره لاس او ګريوان نه شي.

## د شمالي او مرکزي ولاياتو فتحه

د پلازمينې کابل له فتحې وروسته يوازې د هيواد شمالي، شمال ختيځې او ځينې مرکزي سيمې د مخالفينو تر واک لاندې پاته شوې. په بلخ، سمنگان، جوزجان، سرپل او فارياب د جنرال دوستم واک و او په بادغيس کې ورسره د اسلامي امارت مجاهدين په جگړو بوخت وو. باميان او هزاره ميشتې سيمې د حزب وحدت تر واک لاندې وې او شمال ختيځ ولايات د رباني او مسعود تر واک لاندې وو.

د ۱۳۷۶ لمريز کال په ثور کې د جنبش گوند مرستيال جنرال عبدالمالک له دوستم سره د مخالفت له امله اړخ بدل کړ، له طالبانو سره يې پټې خبرې شروع کړې او وروسته د يوې في الجمله موافقې له مخې له طالبانو سره يوځاى شو. دا چې دا موافقه څنگه وه او څه پايلې يې درلودې په خپل ځاى(په پنځم فصل)کې به بحث وربانـدې وکړو. خو له جنرال مالک سره د طالبانو د موافقې هدف دا و چې د هيواد شمالي ولايات د جنرال دوستم څخه ونيول شي او د اسلامي امارت تر واک لاندې راشي، تر څو له دې ولاياتو د فساد او ظلم هغه ټغر ټول شي چې د کمونيست رژيم د مليشه جگړه مار دوستم لخوا وربانډې خپور شوى و. د همدې کال د ثور له وروستيو له جنرال مالک سره په گډه د جنرال دوستم خلاف عمليات پيل شول، فارياب، سرپل، جوزجان ونيول شول او د جوزا په دريمه د مزار شريف ښار هم د دوستم له واکه ووت.

دا وخت چې د کابل شمالي سيمې تر جبل السراج پورې د اسلامي امارت تر واک لاندې وې، له دې استقامته هم د شمال په خوا پرمختگ پيل شو. د جوزا په خلورمه د سالنگ ولسوالي او لويه لاره ونيول شوه او په سيمه کې د مسعود مشهور قومندان بصير سالنگي د طالبانو خوا ته واوښت. يوه ورځ وروسته د طالبانو لوى لښکر د وتلي قومندان ملا داد الله اخند په مشرى چې د قرغې د څلويښتمې فرقې قومندان امير خان حقاني هم ورسره و د سالنگ له تونل د بغلان خواته ووتل چې په څو ورځو کې يې تر پلخمري پورې سيمې ونيولې. خو په همدې وخت کې جنرال مالک له حزب وحدت سره په گډه دسيسه يو ځل بيا اړخ بدل کړ او په مزار شريف کې يې د طالبانو په

خلاف جګړه پیل کړه. د څو ورځو په جریان کې یې د بلخ، جوزجان، سرپل او فاریاب ولایتونه بیرته ونیول.

په ورته وخت کې احمد شاه مسعود د پنجشیر له اړخه په سالنګ او جبل السراج برید وکړ، د چاریکارو او جبل السراج تر منځ د کابل ـ مزار شریف په لویه لاره د غوربند په سیند تېر شوی پل (پل متک) یې والوځاوه او په دې ډول د سالنګ له لارې د شمال پر خوا د تللیو طالبانو لار بنده شوه.

دغه وخت ملا صاحب ډېر پریشانه او مصروف و، له یوې خوا په مزار شریف کې ګڼ شمیر طالبان محاصره و چې برخلیک یې نه معلومیده، بل اړخ ته د سالنګ له لارې بغلان ته اوښتی د طالبانو لوی لښکر چې شمیر یې زرګونو ته رسیده محاصره شوی و. خو د بغلان محاصره طالبانو ته د خلاصون لار هغه وخت جوړیدای شوای چې طالبان د غوربند له سینده اوښتي وای، جبل السراج او د سالنګ ولسوالي یې نیولې وای، تر څو په بغلان کې محاصره طالبان بیرته په همدې لاره راغلي وای. اما د دې طرحې په وړاندې لوی خنډ د پل متک له منځه تلل و چې د مسعود لخوا منفجر او مکمل تخریب شوی و.

ملا صاحب د دې لارې د خلاصون او پله د جوړولو لپاره د خپل دفتر څو تنه ملګري سیمې ته ولیږل تر څو سیمه وګوري د پله د جوړولو یا لارې خلاصولو لپاره ټول امکانات وکاروي. د ملا صاحب د دفتر ملګري وایي موږ په کابل کې له نظامي مشرانو لکه د دفاع وزیر ملا عبیدالله آخند او لوی درستیز ملا فاضل اخند سره ولیدل، دغه راز مو د فوائد عامې وزارت له مسؤلینو سره خبره شریکه او د ملا صاحب خبره مو ورته ورسوله چې د لارې د خلاصون او پل متک پله د جوړولو لپاره دې عاجل اقدام وشي.

خو چې کله سیمې ته ورغلو نو و مو لیدل چې د مسعود لخوا دغه لوی پل مکمل تخریب شوی دی او سیند دومره پراخ دی چې په دې جنګي وضعیت کې د بل پله جوړول آسانه کار نه دی، وروسته د سیند په امتداد د غوربند خواته لاړو. د غوربند درې ته نږدې یو ځای چې اوبه هوارې روانې وې، د ملا خان محمد په مشرۍ طالبان

پياده له سيند اوښتي و او په مخالفينو يې بريد كړى و چې ځينې سيمې يې هم نيولې وې.همدلته له ګاډرونو څخه طالبانو يو پل جوړ كړى او پر سيند تړلى و چې يوازې يو يو كس ورباندې تيريدلاى شواى. د غوربند د درې اړخ ته يو ځاى د استحكام پله د جوړولو لپاره په نښه شو. وروسته همدلته د استحكام پل جوړ او طالبان ترې پورې وتل، په همدې وخت كې د پلازمينې كابل د دفاع د تقويه كولو او وضعيت له نږدې څارلو لپاره ملا محمد عمر مجاهد خپله هم د لومړي ځل لپاره له كندهاره كابل ته راغى، دلته يې بيلابيل نظامي او ملكي مسؤلين وليدل. د نوي رامنځته شوي وضعيت په اړه يې ورسره سلا مشورې وكړې او څو ورځې په كابل كې و. په همدې ورځو كې طالبان د استحكام پله څخه په استفاده د جبل السراج خواته واوښتل او يو ځل بيا يې ډيرې سيمې ونيولې اما دا چې وروسته د پروان او چاريكارو په نورو ساحو كې د مسعود ځواكونو بريدونه پيل كړل، طالبان ونه توانيدل چې تر سالنګ پورې لار مكمله تصفيه كړي. په دې ډول بغلان ته اوښتي طالبان محاصره پاته شول.

په بغلان كې محاصره طالبان په مركزي بغلان كې د سيمه ييزو خلكو په ملاتړ وتوانيدل چې د مسعود، حزب وحدت او سيد منصور نادري د قواوو په وړاندې مقاومت وكړي، دلته طالبان هغه وخت له ستر ازمون سره مخ شول چې د پلخمري ښارګوټى يې هم له لاسه ووت او د مركزي بغلان په محدوده سيمه كې كلابند شول. خو همدغه طالب مشرانو د څو قومندانانو لكه عارف خان، ارباب هاشم، ميرزا ناصري او نورو سره رابطه ونيوله، د هغوى په همكارۍ يې په كندز ولايت بريد وكړ او دغه ښار يې تر خپل تصرف لاندې راووست. د كندز د هوايي ډګر په تصرف سره دغو محاصره مجاهدينو ته د هوا له لارې اكمالات پيل شول، چې بيا يې د راتلونكي كال د اسد تر مياشتې څوارلس مياشتې د محاصرې په حالت كې وياړلى مقاومت وكړ.

د ۱۳۷۷ لمريز كال په سرطان مياشت كې(ربيع الاول ۱۴۱۹ هـق) طالبانو د ملا برادر اخند تر مشرۍ لاندې د فارياب په غورماچ كې د دوستم په خط پراخ تهاجم وكړ، غورماچ او ورپسې د فارياب مركز ميمنه فتح شول او مجاهدينو تر جمعه بازار پورې پرمختګ وكړ. د جمعه بازار په سيمه كې دوستم ځان ټينګ كړ او څو اونۍ سختې

جګړې ورسره وشوې. په دې جګړو کې د امارت دوه وتلي نظامي مشران ملا فاضل اخند او ملا داد الله دواړه سرسري ټپيان شول. څه موده وروسته د ملاصاحب په امر ملا فاضل اخند مشر وټاکل شو او له هرات څخه د کومکي کسانو له راتګ وروسته یې د دوستم په ځواکونو د پراخ برید تشکیل جوړ کړ چې په ملا فاضل اخند، ملا برادر اخند او ملا داد الله آخند سربیره ملا خیر الله خیرخوا، ملا دوست محمد آخند، ملا عبدالسلام آغا، ملا جانان آخند، ملا محمد صدیق اغا، ملا غلام نبي جهادیار، ملا عبدالحق، د حاجي ملا عبدالسلام مجروح ملګري او د جهادي مدرسې ګڼ شمیر طالبان په کې برخوال وو. د جمعه بازار په استقامت له تعرض وروسته د دوستم قواوو شکست وخوړ او مجاهدینو ډیرې سیمې ونیولې. د همدې عملیاتو عمومي قوماندان ملا فاضل آخند وايي: د دښمن د خط له ماتیدو وروسته موږ پر دولت اباد د جګړې تصمیم ونیو، له یوه اړخه موږ او له بله اړخه ملا برادر اخند و چې له لږ څه جګړې وروسته مو د دولت اباد ولسوالي هم ونیوله. د دولت اباد له نیولو وروسته یوه لویه قرارګاه وه چې دوستم هم ورته راغلی و، موږ تصمیم ونیو چې په دغه قرارګاه به برید کوو او هر څنګه چې وي موږ به موټران تر قرارګاه پورې رسوو، همداسې مو وکړل د الله تعالی په نصرت مو قرارګاه ونیوله، خو متأسفانه جنرال دوستم زموږ له بریده ۲۰ دقیقې له مخه په هلیکوپټر کې له قرارګاه تښتیدلی و او موږ یې په نیولو بریالي نه شوو.

د یادې قرارګاه تر نیولو وروسته له دولت اباد څخه د اندخوی پر لوري روان شوو، اندخوی ته له جګړې پرته ورسیدلو، یواځې په سر کې یې لږ جګړه وشوه هغه هم زر تمامه شوه. موږ اراده وکړه چې په اندخوی کې د شپې لپاره پاته شو، خو ښه ناوخته و چې ملا صاحب رابطه وکړه او ویې ویل چې پرمخ لاړ شئ انتظار مه کوئ.

سهار کیدونکی و، د ملا صیب د امر مطابق مو د مخته تګ تصمیم ونیو، خو موږ چې وړاندې لاړو (غالبا د خواجه دوکوه سیمه وه) چې په کمین واوښتلو، مګر ملګرو په ښه میړانه د ټانګونو او هلیکوپټرو مقابله وکړه او دلته له نیم ساعت جګړې وروسته شبرغان ته ورسیدلو او پر هوایي ډګر ننوتلو.

هلته مو يوازې دوه شپې تيرې کړې، له هغه وروسته د سرپل په لور رهي شوو، له معمولي جګړو وروسته مو د سرپل فتحه هم نصيب شوه. بيا مو بلخ ته مخه کړه، هلته له دښمن سره داسې مهال مخامخ شوو چې دوی د مرميو صندقونه خلاص کړي ول او غوښتل يې په خپلو جنګياليو يې ووېشي، خو موږ پرې وروررسېدلو او ومو نيول، دلته مو خط واچاوه، ملګري راورسيدل قلعه ای زيني مو ونيوله. په بلخ کې ډېره سخته جګړه وشوه، د محقق پر مرکز چې يوه لويه کلا وه داسې جنګ وشو چې طالبانو آن د ټانګ ميل کلا ته ور دننه کړ او فيرونه يې پرې وکړل، بيا هم د الله تعالی مرسته وه دوی مات شول، پر دښتونو دوی بيا د تعرض هڅه وکړه خو له سختې ماتې سره مخ شول او ډېر يې ووژل شول. د اسد په اوولسمه د مزار شريف له فتحې وروسته مونږ تاشقرغان ته راغلو، خو دغه وخت کې امير المؤمنين صاحب ته چا پيغام رسولی و چې دوستم حيرتان ته راغلی، هغه موږ ته حيرتان ته د تګ امر وکړ، موږ د هغه له امر سره سم شپه هلته ورسوله، خو د دوستم حملې کوم څرک مو ونه ليد.

دا مهال چې موږ حيرتان ته رارسېدلو، نو د کندز بغلان لار هم زموږ تر واک لاندې راغلې وه، څکه نو کندز او بغلان ته لاړو او بيا رباطک ته راغلو، دلته د حزب اسلامي مشهور قومندان بشيرخان هم راسره ملګری شو او ويل به يې چې د طالبانو غونډې جنګ مې تر اوسه نه و ليدلی. د رباطک له جنګ وروسته سمنګانو ته لاړو، هلته د شيخ سلطان په نوم يوه ولسوالي ده، هلته تر لږ جګړې وروسته تاشقرغان ته ورسيدو او د مزار شريف په خوا تللې عمومي لاره خلاصه شوه.

له سمنګانه څخه مو پلخمري ته تشکيل وکړ، دلته مو د کيان په دره بانديې د بريد تصميم ونيو، يوه ډله طالبان د ډنډغوري له لوري پرې ورغلل، مونږ د دوشي له لوري د کيان درې پر لور رهي شولو، د دوشي پر لار زه ټپي شوم خو الحمد لله کار پاته نه شو او موږ خپل هدف ته ورسېدلو)

پر کيان درې د تعرض په وخت د مجاهدينو د مشر ملافاضل اخند له ټپي کيدو وروسته ملا صاحب د جګړې مشري ملا برادر آخند ته وسپارله. چې د سنبلې په دوهمه يې دکيان دره ونيوله. د سنبلې د مياشتې په ۱۹ مه نيټه طالبانو د ملا برادر آخند

تر مشـرۍ لاندې د بغلان له اړخه په باميان ولايت بريد وکړ چې د درې ورځني جنګ په ترڅ کې يې د افغانستان دغه مرکزي ولايت تر کنترول لاندې راووست.

په دې ډول د افغانستان مرکزي او شمالي سيمې د طالبانو تر واک لانـدې راغلـې، هغـه يوازينی ولايت چې تر پايه د مخالفينو په واک کې پاتـه شـو، د بدخشـان ولايـت و. د ځمکنی محاسبې له مخې اسلامي امـارت د افغانسـتان لـه ۹۰ فيصـده پـه زياتـه سـيمه واکمني درلوده.

****

# خلورم فصل

## د افغانستان اسلامي امارت

د افغانستان د پايتخت او ختيځو ولاياتو له فتحې وروسته د افغانستان د جغرافيې زياته برخه د اسلامي امارت تر واک لاندې راغله. په دې توګه د ملامحمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې اسلامي امارت په ملي او بين المللي کچه د يوه معتبر او نماينده حکومت په حيث بروز وکړ چې له سياسي وجود او اعتبار يې چا انکار نه شواى کولاى اګر که د نړۍ اکثره هيوادونو او نړيوالو سازمانونو په رسميت نه پيژاند.

د افغانستان او اسلامي نړۍ په تاريخي تسلسل کې د ۱۳۷۵ لمريز کال له ميزان ځخه( چې کابل ونيول شو) بيا د ۱۳۸۰ لمريز کال د قوس تر مياشتې پنځه کلنه مرحله د افغانستان د اسلامي امارت د حکومت مرحله بلل کيږي. په دې موده کې د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې يو سوچه اسلامي نظام په افغانستان حاکميت درلود چې نړۍ ته يې د شريعت تطبيق، د اسلامي عدل تحکيم، امر بالمعروف و نهی عن المنکر، جهاد،د مسلمانانو تر منځ اخوت او نور هير شوي مفاهيم ور په زړه کول.

دا چې د اسلامي امارت تأسيس د اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد تر ټولو ستره، وياړمنه او تجديدي کارنامه وه د همدې تړاو له امله په مختصره توګه د اسلامي امارت جوړښت، خدمتونو او لاسته راوړنو ته کتنه کوو.

### د اسلامي امارت جوړښت

د افغانستان اسلامي امارت تشکيل په تدريجي ډول بشپړ شو. د کندهار د سنګ حصار له سيمې د ملا محمد عمر مجاهد د قيام له نيټې بيا د پلازمينې کابل د فتحې تر وخته د اسلامي امارت تشکيلاتي اډانه پرلپسې د انکشاف او بشپړتيا په حالت کې وه. د کابل له فتحې وروسته اسلامي امارت په اداري او تشکيلاتي لحاظ د يوه بشپړ حکومتي نظام

چوکاټ ته ولوېد چې امیر، اجرائیه او قضائیه څواک، وزارتونه، والیان، پوځ، مطبوعات او یوه فعاله اداري دستگاه یې درلوده.

د اسلامي امارت امیر ملا محمد عمر مجاهد و. شوری چې د کابل له فتحې وړاندې یې د عالي شوری په نوم شهرت درلود د کابل له فتحې وروسته یې ډیری اعضاء د وزیرانو په حیث وټاکل شول او د وزیرانو شورا یا کابینې نوم ورته کارول کیده. دا مشورتي جوړښت که څه هم د شوری عنوان ورته نه کارول کیده مگر عملا یې د حکومتي تصامیمو د اتخاذ او سیاست گذارۍ په برخه کې له امیر وروسته دوهم ځای درلوده او په ټولو چارو کې یې خپل نظرونه او سلا مشورې له امیر سره شریکولې.

قانون نافذوونکي دستگاه وزارتونه او مستقل ریاستونه وو چې په بیلابیلو برخو کې یې دحکومت طرحې او پلانونه تطبیقول. اداري دستگاه یعني هغه له عمودي او افقي اداري ارتباطاتو څخه جوړ شوی اداري ماشین چې په ورځني شکل یې د حکومتي چارو څرخ ته حرکت ورکاوه او په مټ یې وزارتونو، ریاستونو، مدیریتونو، شعبو او اورگانونو خدمات عرضه کول. د اسلامي امارت قضائیه قوه په ولسوالیو او ولایاتو کې له ابتدائیه او مرافعه محاکمو دغه راز د تمیز، استیناف محکمې، نظامي محاکمو او سترې محکمې څخه عبارت وه چې د اسلامي شریعت له مخې یې فیصلې کولې.

دافغانستان په شاوخوا دیرش ولایاتو کې اسلامي امارت والیان درلودل چې په خپل مربوطه ولایت کې د امیر د استازي او باصلاحیته واکمن په حیث یې اجراآت کول دغه راز اسلامي امارت پراخ پوځي تشکیلات درلودل چې رهبري او څارنه یې تر ډیره حده شخصا د امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد په غاړه وه.

### د امارت مقام او ریاست الوزراء

که د اسلامي امارت اداري جوړښت د اوسني حکومتي عرف ( دری گونو قواوو) په قالب کې تعریفوو نو ویلی شو چې د دیني علماء کرامو شوراگانې یا د قوانینو ارزوونکی ځانگړی هیئت د مقننې قوې په رول کې و. محاکم قضائیه قوه او د ریاست

الوزراء تر امر لاندې وزارتونه او مستقل رياستونه د اجرائيه قوې په رول کې وو چې ددې درى واړو قواوو په رأس کې د امارت مقام يا شخصا اميرالمؤمنين و.

د امارت د مقام او رياست الوزراء تر منځ واکونه د رسمي فرمان په اساس بيل شوي وو چې دلته د موضوع د اهميت له امله د رسمي جريدې د ۷۸۸ گڼې او د چارو د ادارې د لوى رياست د يوه رسمي سند په استناد دغه تقسيم الوظائف رانقلوو.

**د اسلامي امارت د مقام ځيني خاص واکونه**

۱ـ د اسلامي امارت د مقام د مرستيال يا مرستيالانو ټاکل او د لزوم ديد پر بنسټ د هغوى گوښه کول.

۲ـ د وزيرانو شورى د رئيس او مرستيالانو د ټاکلو منظوري او هغوى گوښه کول د لزوم ديد پر بنسټ او د قانون مطابق.

۳ـ د وزيرانو، معينانو، په خاص ډول د دفاع وزير او د هغه مرستيال ټاکل او گوښه کول. همدا راز د فرقه مشرانو، غونډ مشرانو او نورو هغو پوستونو مسؤلين ټاکل چې د امارت مقام يې لازم وگڼي.

۴ـ د کورنيو چارو د وزير او د هغه د مرستيال ټاکل او گوښه کول.

۵ـ د استخباراتو د عمومي رئيس ټاکل او گوښه کول، دغه راز د مستقلو ادارو د رئيسانو او معاونينو ټاکل او د لزوم ديد له مخې يې گوښه کول.

٦ـ د قاضي القضات ټاکل او گوښه کول.

۷ـ د ولاياتو د محاکمو د رئيسانو منظوري د سترې محکمې د وړانديز له مخې او د هغوى گوښه کول د سترې محکمې د وړانديز پر بنسټ يا د خپل لزوم ديد له مخې.

۸ـ د افغانستان د اسلامي امارت د علماء شورى ايجادول، د علماء شورى د رئيس ټاکل او گوښه کول او د علماء شورى منحل کول.

۹ـ د هيواد د اساسي قانون شورى ايجادول د اساسي قانون د ترتيب په مقصد. د شورى د دندې د پاى ته رسيدو يا د مقام د لزوم ديد په اساس د يادې شورى انحلال.

**۱۰ـ د هیواد د اساسي قانون توشیح**

۱۱ـ د لزوم دید له مخې د اساسي قانون د اعلان لغو کول.

۱۲ـ د اساسي قانون په یوه ماده، یا ټولو مادو کې د تغیراتو منظورول.

۱۴ـ د عمومي بښنې اعلان.

۱۵ـ د هیواد د اساسي قانون د موادو مطابق د ملي مجرم د خیانت اعلان او هغه ته د مجازاتو ټاکل.

۱٦ـ د محبوسینو د حبس بښنه یا په پاته حبس کې تخفیف.

۱۷ـ د جهاد اعلان.

۱۸ـ د یوه نوي ولایت ایجادول یا د یوه ولایت رسمیت له منځه وړل.

۱۹ـ د وزارت یا کوم اداري واحد ایجادول یا د اسلامي امارت له تشکیلاتي چوکاټ څخه حذفول.

۲۰ـ په نورو ملکونو کې د سفارت تأسیس.

۲۱ـ په نورو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو کې د اسلامي امارت د دیپلوماتیکو نمایندګیو د رئیس او اعضاوو ټاکل.

۲۲ـ له نورو هیوادونو سره د سیاسي یا اقتصادي اړیکو قطع کول د لزوم دید له مخې.

۲۳ـ د هیواد اتباعو ته د سیاسي پاسپورتونو د اجراء منظوري ورکول.

۲۴ـ د نورو ملکونو د سفیرانو باورلیک قبلول.

۲۵ـ د افغانستان د اسلامي امارت د خارجه پالیسۍ ټاکل.

۲٦ـ په بین المللي استثنائي حالاتو کې د اسلامي امارت د موقف تعینول.

۲۷ـ د مالي او بودجوي کال تغیر.

۲۸ـ د مسلحو ځواکونو په جوړښت کې تغیر راوستل.

۲۹ـ له یوه هیواد څخه د مسلحو قواوو لپاره د وسلو او جنګي تجهیزاتو د اخیستلو منظوري ورکول.

۳۰ـ د مسلحو ځواکونو د وسلو او تجهیزاتو د پلورلو منظوري ورکول.

۳۱ـ په یوه پوځي سازمان کې د داخلیدلو تصمیم.

۳۳ـ په نورو هیوادونو کې د ځمکې ادعاء.

۳۴ـ د هیواد د ملي ورځو اعلان او تثبیتول.

۳۵ـ د نویو القابو او مډالونو منظوري.

۳۶ـ داخلي او بهرنیو اشخاصو ته د ورکړل شویو القابو سلبول.

۳۷ـ داخلي او بهرنیو دوستو اتباعو ته د لقب او مډال ورکول.

۳۸ـ د سکې او بانکنوټ نشر، په پولي پشتوانو کې تغیرات، د اسلامي امارت په داخلي او خارجي اسعاري ذخائرو کې د هیواد د بانکي او تجاري سیستم مطابق تغیرات.

۳۹ـ د امارتي ۹۰۰۰ باب څخه د استفادې منظوري.

۴۰ـ په بیلابیلو عرصو کې د بهرنۍ پانګې اچونې منظوري ورکول.

۴۱ـ له هیواده بهر د اسلامي امارت د پانګې اچونې منظوري ورکول.

۴۲ـ د هیواد د بانکي سیستم د عالي شورۍ په ترکیب کې تغیر راوستل د لزوم دید پر بنسټ.

۴۳ـ د پولي ریفورم د ایجاد منظوري.

۴۴ـ د اسلامي امارت ریاسة الوزراء مقام ته له ورکړل شویو واکونو څخه لوړ حکومتي واکونه د امارت مقام په واک کې لري.

## د رياسة الوزراء واکونه

رياست الوزراء ته د تفويض شوی واکونو تفصيل د اميرالمؤمنين په ۱۱۸ شماره فرمان کې په لاندې ډول راغلی دی.

۱ـ د وزيرانو شوری د غونډو دائرول، د دغو غونډو د تصميمونو او تصويبونو څارل د هغو واکونو په بناء چې په دې فرمان کې ذکر کيږي.

۲ـ د قانون د حکمونو مطابق له دويمې رتبې تر مافوق رتبې پورې د لوړ رتبه کار کوونکو او له بريد جنرالۍ تر ډګر جنرالۍ رتبې پورې د پوځ د افسرانو د تقرر، تبديل او ترفيع منظورول،د خدمت د مودې اوږدول، تقاعد او د تقاعد رفع کول.

۳ـ د قانون د حکمونو مطابق د خدمتي پاسپورټ د اجراء منظوري ورکول.

۴ـ د تقنيني سندونو پر بنسټ د علمي او تحقيقاتي ادارو د کارکوونکو د علمي رتبو منظورول.

۵ـ د قانون د حکمونو مطابق د اسلامي امارت کارکوونکو ته د تقدير نامې او تحسين نامې ورکول.

۶ـ د عاجلو او ضروري کارونو لپاره د ۷۰۰۰ باب څخه د نقدي وجوهو منظورول.

۷ـ د قانون د حکمونو مطابق دمقررو، لايحو او اساسنامو د تعديلونو وړانديز کول.

۸ـ د افغانستان د اسلامي امارت د مقام له هداياتو سره سم د امر بالمعروف و نهی عن المنکر د ادارو د اجرآتو نظارت کول.

۹ـ د عريضو او شکايتونو څيړل.

۱۰ـ په ورسپارل شويو چارو کې د شريعت او قانون د ټينګښت په هکله د اسلامي امارت مقام ته رپوټ برابرول.

۱۱ـ د امارت مقام ته د امارتي او غير امارتي مؤسسو د څارنې او نظارت په اړه ربع وار رپوټ ورکول.

۱۲ـ د اسلامي امارت د مقام په موافقه د هیواد څخه بهر ته د امارتي هیئتونو د سفر منظوري او دغو هیئتونو ته د سفریې او خرڅ اجراء کول.

۱۳ـ نورو هیوادونو ته د تحصیلي بورسونو منظورول.

۱۴ـ د توشیح په مقصد د اسلامي امارت مقام ته د بهرنیو قراردادونو او مهمو داخلي قراردادونو وړاندې کول.

۱۵ـ د قانون د حکمونو مطابق داسلامي امارت د وزارتونو او ادارو د قراردادونو منظورول.

۱۶ـ د حج او عمرې د مناسکو د اجراء په مقصد د امارتي ادارو لخوا د امارتي یو شمیر کارکوونکو د وړاندیزونو منظورول.

۱۷ـ د رئیس الوزراء د غیاب په حالت کې د ریاست الوزراء مرستیال دغه واکونه اعمالوي.

۱۸ـ د اسلامي امارت د مقام د لزوم دید سره سم د حالاتو او اوضاع پر بنیاد د دغه فرمان نه بهر نور واکونه په خاصو وختونو کې ریاسة الوزراء ته ورکول کیدلای شي.

۱۹ـ دغه فرمان د توشیح له نیټې څخه نافذ دی او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

**وزارتونه او ولایات**

د کابل له فتحې وروسته چې د اسلامي امارت د بشپړې واکمنۍ مرحله پیل شوه په پیل کې د اسلامي امارت کابینه له ۲۵ وزارتونو او ۱۱ لویو ریاستونو څخه جوړه وه چې د کابل ښاروالي او څارنوالي هم په کې راتلې.

د کابل له فتحې وروسته د حکومتي نظام د احیاء لپاره ملا صاحب لومړنۍ کابینه د کندهار ولایت له رئیسانو تشکیل کړه. د ملا صاحب په یوه فرمان سره د کندهار ټول رئیسان مامور شول تر څو هر یو په کابل کې د اړوند وزارت د سرپرست وزیر په حیث کار پیل کړي. د وزارتونو او عمومي ریاستونو په رأس کې د ریاست الوزراء په نوم یوه باصلاحیته اداره وه چې وړاندې یې یادونه وشوه.

خو وروسته چې د عدليې وزارت په هڅو د وزيرانو شورى قانون جوړ او د اميرالمؤمنين لخوا توشيح شو ورسره د وزارتونو شمير هم تغير وکړ د دې قانون په اساس د اسلامي امارت په تشکيل کې ۲۱ وزارتونه او ۸ لوى رياستونه رامنځته شول.

ددې قانون په يوه برخه کې راغلي( وزارتونه د اسلامي امارت مرکزي ادارې ګڼل کيږي چې د خپلو اړوندو برخو مشري په غاړه لري. وزارتونه خپل فعاليت د اسلامي شريعت د حکمونو، قوانينو، د امارت د مقام د فرامينو د احکامو او د اسلامي امارت د وزارتونو د قانون له هداياتو سره سم پر مخ بيايي او د هغو له پلي کولو نظارت کوي)

د اسلامي امارت وزارتونه په پلازمينه کابل کې په خپلو پخوانيو ودانيو کې فعال وو، وزيران د اميرالمؤمنين لخوا تعين، تبديل او معزول کيدل دغه راز وزارتونه د رياست کچې ته ټيټول يا لوى رياست وزارت کول او وزارتونه يو په بل کې ضم کول يا لغو کول هم د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد د صلاحيت کار وو.

د افغانستان د ۳۲ ولاياتو له جملې يوازې د بدخشان مرکز داسلامي امارت تر واک لاندې رانغى په نورو يو ديرشو ولاياتو د اسلامي امارت واکمني وه. د پخوانيو اداري تقسيماتو موافق د اسلامي امارت په مهال هم افغانستان د ولايتي ويش له اړخه په زونونو تقسيم شوى وو چې په هر خوا کې مرکزي يا تر ټولو مهم ښار د ورنږدې ولاياتو د زون مرکز ګڼل کيده. واليان په ولاياتو کې د اسلامي امارت رسمي نمايندګان او د امارت د هر اړخيزو پاليسيو تطبيقوونکي وو. واليان د اميرالمؤمنين لخوا ټاکل کيدل او مخامخ هغه ته مسؤل وو.

## د علماء کرامو شورى ګانې

د ۱۴۲۰ هجري قمري کال په جمادى الثاني مياشت کې (۱۳۷۸ هـ ش ميزان) امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په يوه ابتکاري اقدام سره د اسلامي امارت تر واک لاندې د هيواد په ټولو ولاياتو او ولسواليو کې د علماء کرامو د شورى ګانو د تأسيس فرمان صادر کړ. له فرمان سره هم مهال د علماوو د شورى ګانو لائحه يا دستور العمل

هم د امارت د مقام لخوا صادر شو، چې دغو شورى ګانو ته يې د يوې واکمنې او نظارت کوونکې حکومتي قوې په حيث رسميت ورکاوه.

د علماء کرامو شورى ګانې چې وروسته د هيواد په تقريبا ټولو سيمو کې جوړې شوې، که له يوې خوا يې د حکومتي چارو د څار وظيفه درلوده، بل اړخ ته يې په حکومتي چارو کې د هرې سيمې محلي خلکو ته د برخې ورکولو او د قدرت د توزيع يا ولسي کولو معنى هم درلوده. څکه د هر ولايت او ولسوالۍ د شورى اعضاء د هماغې سيمې د خلکو څخه انتخاب شوي وو چې په محلي چارواکو يې د نظارت او د هغوى د رهنمايي دنده يې درلوده.

د دې شورى ګانو د عضويت مهم شرائط لږ تر لږه متوسط علميت، ښه سابقه او له غير مذهبي ډلو يا د اسلامي امارت له مخالفينو سره ارتباط نه درلودل ښودل شوي وو. د هرې شورى تشکيل له رئيس، مرستيال، اداري مسؤل او د اړيکو له مسؤل څخه عبارت و. د شورى د غړو تعداد حد اقل لس تنه تعين شوى و، چې بايد په هره مياشت کې حد اقل يو ځل د ولايت يا ولسوالۍ په مرکز کې غونډه ولري. البته د ضرورت په اساس فوق العاده غونډې هم دائرولاى شي.

د دې شوراګانو له اساسي وظائفو څخه لومړۍ وظيفه دعوت و چې د دين د دعوت لپاره به پروګرامونه جوړوي، د خلکو د اصلاح هڅه به کوي. د اسلام د دښمنانو توطيې به شنډوي او خلک به د اسلام د دښمنانو له توطيو باخبره ساتي. دغه راز به د جهاد او اسلامي نظام د ټينګښت په مقصد په اجتماعي او ځانګړو پروګرامونو کې د عوامو او خواصو اذهان تنويروي.

د علماء کرامو د شورى ګانو دوهمه مهمه وظيفه د نظارت او اطلاع وظيفه وه. په دې اړه د شورى په لائحه کې راغلي: د علماء کرامو شورى به په هر ولايت او ولسوالي کې د اسلامي امارت د مسؤلينو اجراآت تعقيبوي. که کوم مسؤل د شريعت او اسلامي امارت د قانون او لائحې خلاف عمل کاوه، شورى به هغه نفر خپل مجلس ته راغواړي او پوښتنه به ځنې کوي. که مسؤل معقول دلائل ونه لري او مخالفت يې ثابت شي علماء کرام به توصيه ورته کوي، چې داسې کار ونه کړي، که د جزاء او عزل کيدو وړ

وي، د امارت مقام ته به تحریري او مستنده اطلاع ورکوي، د امارت مقام به یې اصلاح کوي او یا به یې له وظیفې لرې کوي. په دې اجراآتو کې ضروري ده چې مسؤل نفر حتما د شورى په حضور کې وپوښتل شي. داسې نه چې په مطلق شکایت سره د مسؤل په غیاب کې فیصله وشي، بلکه دا چې د شورى هر فرد نه شي کولای چې مسؤل یا قاضي راوغواړي، بلکې د شورى رئیس به یې د شورى د غړو په مشوره راغواړي. د علماء کرامو شورى به د مسؤلینو او قاضیانو په کارونو کې هیڅ نوع مداخله نه کوي تر څو په اجراآتو کې ټکر او مایوسي رانه شي. دا کافي ده چې مسؤل د لائحې او قانون په چوکاټ کې کار وکړي او د شورى له خوا یې نظارت وشي او مسؤلین متوجه کړي.

د علماء کرامو د شورى ګانو دریمه وظیفه مشوره بلل شوې، په ولایاتو او ولسوالیوکې جوړې شوراګانې به والیانو او ولسوالانو ته مشورې ورکوي. دغه راز که شورى وغواړي په کومه غونډه کې یې والي یا ولسوال ګډون وکړي نو محلي چارواکي او مسؤلین به د شورى په غونډو کې ګډون کوي. د دې شورى ګانو په لائحه کې راغلي چې د علماء کرامو شورى کولای شي د خلکو دعوې د جانبینو په رضایت په صلحه ورفیصله کړي. او که څوک په دې فیصله قناعت نه لري هغه به محکمې ته مراجعه کوي.

د علماء کرامو د شورى ګانو په اړه د امیر المؤمنین په فرمان کې راغلي وه چې دغه شورى ګانې به د مسؤلینو د اصلاح کوښښ کوي.مسؤلین به د نصیحت له لارې خپل کار ته متوجه کوي او د عوامو به ذهنونه جوړوي.

مفتي محمد معصوم افغاني چې د علماء د شورى ګانو په تشکیل کې یې مسؤلیت درلود وايي: دغه تشکیل  د هیواد په سطحه ( پرته له یوې وړې سیمې چې د امارت تر واک لاندې نه وه) د علماء او مشایخو یو عظیم تشکیل و، چې تر ۷۰۰۰ زیات علماء او مشائخ کرام په امر بالمعروف نهي عن المنکر، اصلاح او ارشاد، د حاکمانو څارنه او نظارت، د عامه خلکو ستونزي او مشکلات خلاصول، د دوو متخاصمو ډلو تر مینځ د یوې فقهي قاعدې په اساس په صلح سره روغه او جوړه کول او داسې نورو د خیر کارونو باندې مصروف وو.

مفتي معصوم افغاني صاحب زياتوي: کله چې به د ولسوالي يا ولايت د عالمانو شورى ته د ولس له لوري دسيمي له کوم مسؤل څخه شکايت وړاندي شو، که به د عالمانو له لوري راسا اصلاح مناسبه وه خو هغوى به اصلاح راوسته او که نه نو دغه شکايت به تر مرکزي دفتره د شورى د يو نماينده په ذريعه را رسيده، د مرکزي د فتر له لوري به دغه شکايت تر اميرالمؤمنين رحمه الله پوري ورسول شو، د تحقيق لپاره به يې اکثره وخت د شورى د مرکزي دفتر مسئول ته هدايت وکړ او يا به يې کوم بل ارګان يا هيئت ته امر کاوه چې د موضوع په اړه تحقيق وکړي. د ثبوت په صورت کې به امير المؤمنين اجراآت کول، هغه مسؤل به يې د هغه مقام څخه بدل کړ، يا به يې له وظيفې منفک کړ. د جرم د نوعيت په اساس به سزا ور کول کېدله، تقريبا د يوه‌کال په جريان کي تر څلويښت زيات مختلف النوع تغيرات راغلل.

## د اسلامي امارت لاسته راوړنې

د افغانستان اسلامي امارت په افغانستان د څو کلنې واکمنۍ په مهال که څه هم پرلپسې له جګړو، داخلي او خارجي مخالفتونو، بنديزونو، اقتصادي ستونزو او ګڼو نورو مشکلاتو سره لاس او ګريوان و خو دا چې د خپل مظلوم ولس هيلو ته يې درناوى او خپلې سپيڅلې داعيې ته يې عملي تعهد درلود په دې وتوانيد چې په ټولو برخو کې د پام وړ او تاريخي خدمات انجام کړي.

داسلامي امارت د بيلابيلو ديني، اصلاحي، انکشافي، عمراني او نورو خدمتونو د پوره څېړلو او يادولو لپاره يوه بشپړ کتاب ته ضرورت دى او شايي دغه يو فصل يې د احتواء تاب ونلري خو د دې لپاره چې په دې تاريخي کارنامو کې د امير په حيث د ملامحمد عمر مجاهد رول جوت و، د نوموړي د ژوندليک په ضمن کې ورته څغلنده کتنه کوو.

## د شريعت نفاذ

د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د اسلامي امارت تر ټولو ستره، تاريخي او وياړنه

کارنامه د الله تعالی پر څمکــه د اسلامي شـریعت نافذول و. د اسلامي امارت شــرعي اجراآت په لاندې ډول خلاصه کولای شو.

د اسلامي حکومت او د قرآن د حاکمیت رسما اعلانول.

سیاسي زعامت مؤمن او صالح قشر ته سپارل بالمقابل بـدکاره، لیـبرال، کمونیسـت او کفرپلوه اشخاص د زعامت له مقامه شړل.

د قضائي نظام بشپړ اسلامي کول او اسلامي عدالت تأمینول

د شـرعي حدودو او قصاص اجراء کول

د امر بالمعروف و نهی عن المنکر عملي اجراء

د سیف الدین لودین کتابتون
د کتاب پر لېسې شمېره

د غلا، قتل، قطاع الطریقي، ګډوډۍ او ظلم له منځه وړل

د سینما، فحش فلمونو، سازو سرود او نورو فحشاوو له منځه وړل

د سود، احتکار، ناروا معاملاتو، نقدي جریمو او نورو مالي انحرافاتو ختمول.

د اداري فساد، رشوت، غصب، اختلاس او له بیت المال څخه د ناروا استفادې د کلتـور له منځه وړل

د چارواکو او حاکمانو د امتیازي مرفه ژوند، فضول خرڅي او تشـریفاتي القابو کلتور له منځه وړل.

په حکومتي او تعلیمي ادارو، کارخایونو او د اجتماعـي ژونـد پـه نـورو ډګرونـو کـې د ښځو او نارینه وو تر منځ ناروا اختلاط له منځه وړل.

د شـرعي حجاب ترویج او تطبیق.

د نوروز په شان د جاهلي رواجونو او ډول ډول خرافاتو او بدعتونو ختمول.

د چرسو، بنګو، کوکنـارو او نـورو مخـدراتو ختمـول او امـارتي منسـوبین د سـګرټو لـه استعمال منع کول.

**د اسلامي قيافې، ږيرې، دستار او محلي لباس ترويج.**

**د ښځو د اسلامي حقوقو د اعادې کوښښ، په ميراث کې د برخه ورکولو او په بدی که د نه ورکولو لپاره يې اجراآت.**

**د مدرسو او مساجدو خدمت او په حکومتي ادارو خصوصا وازرتخانو کې د مساجدو تأسيس.**

**د قومي، لساني، سمتي او نژادي جاهلانه تعصباتو ترديد**

د شريعت له هداياتو سره سم د اهل ذمه وو د ټولو حقوقو رعايت.

او داسې نور شرعي اجراآت

**د اسلامي عدالت تطبيق**

د اسلامي واکمنۍ يو مهم رکن قضاء او شرعي محاکم دي چې د اسلامي عدالت د تطبيق او حق حقدار ته د رسولو مسؤليت لري. ملا محمد عمر مجاهد د قضائيه امورو بررسي او د عدالت تطبيق ته ځانګړې توجه درلوده.

ملا صاحب د کندهار له فتحې وروسته د روس ضد جهاد د وخت يو پياوړی او مشهور قاضي مولوي سيد محمد( چې په مولوي پاسني صاحب يې شهرت درلود) د کندهار د مرافعې محکمې مشر وټاکه، نوموړي په قاطعيت کې له پخوا شهرت درلود چې په قاضي کيدلو سره يې د قضاء مسند يو ځل بيا خپل اصلي شان او شوکت وموند.

مولوي شهاب الدين دلاور صاحب چې درې نيم کاله په کندهار کې د تميز مشر پاته شوی وايي چې ملا صاحب په کندهار ولايت کې د ځانګړي تميز په اړه راته وويل: ما د جنوب غرب حوزې ۹ ولايات د کندهار د تميز مربوط کړي دي، دا ځکه چې د تحريک اکثره نظامي مشران د همدې ولاياتو دي، نو زما غرض دا دی چې د دې تميز چارې زما تر نظارت لاندې وي چې هسې نه د نظامي مشرانو د فشار يا لحاظ کولو په خاطر د چا حقوق ضائع شي.

دلاور صاحب وايي چې ملا صاحب د قضاء مسند ته په هماغه مقام او منزلت قائل و چې په شريعت کې ځومره مهم بلل شوی دی. هغه د قضاء په چارو کې مداخله نه کوله په درې نيم کلنه موده کې زما نه يادېږي چې ملا صاحب دې د قضاء په چارو کې صراحة، اشارة يا دلالة کومه مداخله کړې وي او يا يې د چا په هکله سفارش او د فيصلې د تغير او تبديل په اړه څه ويلي وي. د لاور صاحب يوه واقعه بيانوي:

يو طالب چې د کندهار په امنيه قومندانۍ کې يې وظيفه درلوده د عبيدالله په نوم د يوه سړي زوی يې وژلی و او موضوع يې محکمې ته لاړه، په دوو اونيو کې ابتدائيه او مرافعې محاکمو پر قاتل د قصاص فيصله وکړه او موضوع تميز ته راغله. موږ چې وخېړله مسئله همداسې وه چې قاتل بايد قصاص شي. دغه وخت د قاتل قريبان او انډيوالان چې د امارت ځو لوړپوړي چارواکي هم په کې و، په دې هڅه کې و چې قصاص وځنډوي تر ځو که وکولای شي د مقتول کورنۍ عفوې ته وهځوي. موږ چې د قصاص حکم د نهايي فيصلې لپاره ملا صاحب ته ولېږه، ملا صاحب د قاتل په اړه د هيچا سفارش ونه مانه او د قصاص حکم يې توشيح کړ، ورپسې په راډيو کې اعلان هم وشو چې سبا په ځلورو بجو به فلان طالب قصاصيږي.

دا وخت د قاتل قريبانو او سفارش کوونکو د قصاص د ځنډولو لپاره بله خبره راپورته کړه، دوی وويل چې په قاتل باندې پورونه دي، دعوې هم ورباندې شوي دي او سلمونه يې کړي دي چې هغه حسابونه يې بايد تصفيه شي. ملا صاحب د دې موضوع په اړه ماته ټيلفون وکړ، زه چې ورغلم نو دا خبره يې راسره شريکه کړه. ما ورته وويل چې په دې اړه بايد له علماء کرامو پوښتنه وشي چې آيا قرضونه او داسې جنجالونه د قصاص د حکم د تعطيل سبب جوړېدای شي. علماء کرامو چې دا مسئله وکتله هغوی وويل دا مانع د قصاص نه دي.

بيا ملا صاحب وويل چې قصاص دې اجراء شي. سبا د قصاص مراسمو ته ډېر زيات خلک راغلي وو، خو د مقتول ورثه چې د اسلامي امارت د محاکمو انصاف او حق حقدار ته سپارل يې ليدلي وو، کله چې د وژلو لپاره قاتل په لاس ورکړل شو، نو په دې

آخري مرحله کې يې قاتل ته عفوه وکړه او ويي باښه چې دا صحنه د حاضرو خلکو لپاره ډيره جالبه وه.

د اسلامي امارت محاکمو د شرعي احکامو په تطبيق سره وکولای شول چې هم تر ډيره حده حقوق خپلو حقدارانو ته ورسوي او هم د قصاص او حدودو په تطبيق سره په ګډوډې ځپلي افغانستان کې مثالي امن رامنځته کړي. د اسلامي امارت په ټوله موده کې د ترسره شويو قصاصونو شمير ښايي تر سلو ونه رسيږي، خو په همدې کم شمير شرعي اجراآتو کې الله تعالی داسې اثر ايښی و چې په برکت يې د لسګونو ميليونه انسانانو سر، مال، عزت او حيثيت خوندي شول. د اسلامي امارت په موده کې لکه څنګه چې د حد زنا، حد سرقه، رجم او نور حدود تطبيق شول همدا راز هغه قاضيان هم د عامو خلکو په حضور کې دُرو ووهل شول چې په قضايي چارو کې يې خيانت کړی و او رشوت يې اخيستی و.

## اصلاحات او مصطلحات

د غربي استعمار له پيل راپديخوا په تير يو نيم قرن کې د افغانستان په شمول په ټولو اسلامي هيوادونو او ولسونو غربي اشغال اغيز کړی تردې چې خپل اصيل اسلامي تشخص يې زيانمن شوی او پر ځای يې په سياسي، اقتصادي، فرهنګي، تعليمي او ټولنيزو ډګرونو کې غير اسلامي او غربي اقدارو ريښې ځغلولي.

ملا محمد عمر مجاهد دخپلي لنډمهاله خو فعالانه واکمنۍ په مهال يو ځل بيا د افغانستان حکومت او ټولنه خپل اسلامي اصالت ته ستنه کړه.د ۱۴۱۹ هـ ق کال د د صفر المظفر مياشتې په ۲۵ مه نيټه (۳۱ / ۳ / ۱۳۷۷ هـ ش) ملا صاحب داسې فرمان صادر کړ.

د عدليې محترم وزارت ته !

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

په هيواد کې د شرعي نظام د ټينګښت په خاطر تاسو د هيواد ټول قوانين او مقررات د ستړې محکمې په مشرۍ د ديني علماوو د يوه هيئت تر نظر تير کړئ، غيرشرعي او

غیرمذهبي مادي څنې حذف کړئ او د امارت د مقام له منظورۍ وروسته يې په رسمي جريده کې خپاره کړئ. والسلام.

دا سلام خادم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد

د افغانستان د پخوانيو رژيمونو اساسي قانون دغه راز نور قوانين او مقررات چې د فرانسې هيواد د اساسي قانون څخه په تقليد جوړ شوي او ځينې مادې پکې له حنفي فقهې څخه ځای شوې وې په مجموع کې د ديني او غير ديني اصولو د ګډولې يا معجون شکل يې درلود. چې د ملا صاحب د همدې فرمان په تعقيب د ديني علماء کرامو د يوې ځانګړې هيئت لخوا ټول قوانين له نظره تېر او په بشپړه توګه اصلاح شول.

د ټولو قوانينو د اصلاح په شان په کلتوري او تعليمي برخو کې هم ديني اصلاحات راوستل شول، د افغانستان د مرکزي او ولايتي راډيوګانو لپاره مشترک نوم(د شريعت غږ راډيو) انتخاب شو. او د شريعت په نوم د امارت مرکزي اخبار هم خپرېده. له ټولو نشراتو څخه ناروا نشراتي توکي لرې شول او په ځای يې ديني ليکنې، اصلاحي خپرونې، اسلامي اشعار او ترانې او د سوچه اسلامي او افغاني فرهنګ له ذخيرې نور بيلابيل مواد نشر ته وړاندې شول. په نشراتو کې تغير د فورم په اعتبار نه بلکې د محتوا له مخې و. له امارتي رسنيو د ستيج د سرنندارې، غزلونه، داستانونه او بيلابيلې بوختوونکې خپرونې نشريدلې البته محتوا يې له غير شرعي موادو تصفيه شوې وه.

په ۲۰/۱۲/۱۳۷۴ نيټه د کندهار په ښار کې پخوانۍ مشهوره سينما د اميرالمؤمنين په امر ونړول شوه او په ځای يې د( جامع عمر ) په نوم د يو لوی مسجد او مدرسې د بنسټ ډبره کيښودل شوه.

همدا راز د ملا محمد عمر مجاهد په امر په باميانو او د هيواد نورو سيمو کې د بودا بتان چې له اسلام وړاندې کفري دورې ميراث ول، د انبياء کرامو عليهم السلام د سنت د احياء په نيت ونړول شول.

د فرهنګ او هنرونو په برخه کې د اسلامي او افغاني ثقافت د احياء لپاره هڅې وشوې، د غربي لباس په ځای په حکومتي او تعليمي ادارو کې د افغاني لباس او لنګوټې د

استعمال تلقین کیده. د لمانځنو په برخه کې د غـربي او پخوانیـو خرافـاتي جشـنونو پـه ځای د اسلامي اخترونو ورځې او د کفـري اشـغال څخـه د هیـواد د خپلـواکی ورځـې لمانځل کیدلې.

اسلامي امارت زموږ هغه اصیل مصطلحات هم راژوندي کـړل چـې د تـاریخ پـه دوړو کې رانه ورک و. د هیواد رسمي نوم یې د (دافغانستان اسلامي امارت) اعـلان کـړ او د نظام مشـر ته یې د ولسمشـر یا شاه په ځای د امیرالمؤمنین لقب غوره کړ. رسمي تاریخ یې ځکه هجري قمري وټاکه چې زموږ دیني مناسبتونه لکه رمضـان، اخترونـه، حـج او متبرکه ورځې په همدې حساب راځي خو د هیواد پخوانی تقویم هجري شمسي هـم د اړتیا او عمومي بلدتیا له مخې کارول کیده.

طالبانو د مسلح پوځ نوم له ملي اردو څخه په اسلامي اردو واړاوه. په نړیواله کچه یـې د اسلامي اخوت هیره شوې اصطلاح راژوندی کړه. د نړۍ هر مستضعف مسلمان تـه یـې په خپله غیږ کې پناه ورکړه او هغوی یې د ورونو په حیث له ځان سره وساتل. د نړۍ په بیلابیلو برخو کې یې له مسلمانانو سره د خواخوږۍ غږ پورته کـړ. د فلسـطین، کشـمیر، برما او چیچنیا د مسائلو په اړه یې خپل موقف روښانه کړ او هغه مهال چـې پـه چیچنیـا کې روس ضد مجاهدینو خپلواک حکومت جوړ کړ ملا محمد عمر مجاهـد یـوازینی اسلامي رهبر و چې دغه اسلامي حکومت یې په رسمیت وپیژاند.

اسلامي امارت د اسلامي ټـولنې د ثقـافتي اصـالت خونـدیتوب تـه تـردې حـده ژمنتیـا درلوده چې د ریاست الوزراء لخوا ټولو امارتي منسوبینو ته ځانګړی حکم صـادر شـو چې د غربي اصطلاحاتو په ځـای دې پـه ټولـو رسـمي مکتوبـاتو کـې د هغـوی پښـتو، فارسي یا عربي معادلات وکارول شي.

## عمراني او انکشافي خدمتونه

افغانستان چې د شوروي یرغل په بمبارونو او جګړو کې سخت ځپل شوی و د تنظیمي هرج و مرج دورې داسې لوټ کړ چې حتی د کابل ښـار تـر ځمکـه لانـدې د بریښـنا

تارونه یې هم را وایستل شول اود برق پایې له اره کیدوورسته د کباړ په نوم خرڅې شوې.

اسلامي امارت په یوه وران، لوټ شوي او تر وروستی کچې فقر او جګړې ځپلې هیواد باندې واکمني پیل کړه. دې ته په پام سره د انکشافي او عمراني پروژو د ترسره کولو امکانات خورا محدود و خو بیا هم د اسلامي امارت مخلص او فداکار مسؤلین وتوانیدل چې په خپله لنډه واکمني کې د هیواد او ولس لپاره نه هیریدونکي خدمتونه ترسره کړي. چې دلته ورته مختصره او ځغلنده کتنه کوو.

طالبانو د هیواد د بریښنا تولیدونکي مراکز محفوظ او حتی الوسع ورغول او د بریښنا د ماشینونو پرزې چې ټوپکیانو د کباړ په بیه خرڅې کړي وې بیرته یې راپیدا او ګټه اخیستلو ته وسپارلې.

د هیواد پلازمینه چې له دې وړاندې په تیارو کې ډوبه وه طالبانو د ماهیپر، نغلو او سروبي بندونو د بریښنا په توحید سره یو ځل بیا روښانه او له بریښنا برخمنه کړه.

د هلمند د کجکي څخه تر کندهار ښار پوري چې مخکینی د بریښنا پایې او مزي یې یو مخ له منځه تللي وو د نویو پایو او مزو په لګیدلو سره یو ځل بیا بریښنا ورسول شوه. دغه راز د هیواد ټولو سترو ښارونو ته بریښنا ورسول شوه او د بریښنا په برخه کې د اړتیاوو پوره کولو لپاره یې له ترکمنستان څخه د بریښنا د راوستلو کار پیل کړ.

ښاروالیو په ټولو ښارونو کې د بیت المال غصب شوي املاک اعاده کړل، ښاري پلانونه یې تطبیق او په روزمره شکل منظم خدمتونه یې سرته رسول.

د هیواد په ښارونو کې د وزارتخانو، ریاستونو، شفاخانو، تعلیمي او فرهنګي بنسټونو او نورو ادارو اړوندې هغه ودانۍ چې په جګړو کې بشپړې نه وې نړیدلې خو زیانمنې شوې وې، د اسلامي امارت لخوا یې اکثره بیرته ترمیم او ګټه اخیستنې ته اماده شوې.

د هیواد لویې لارې چې اوږدو جګړو د بیارغولو فرصت ترې اخیستی و اسلامي امارت له خپل وس سره سم بیا بیا ورغولې، په کندهار، هرات او کابل کې یې ځینې لارې په

پاخه ډول جوړې کړې او د ښارونو داخلي سرکونه چې د ټانګونو ګشت وګذار او
جګړو ورته زیانونه اړولي وو داغګیري شول.

په هیواد کې د موجودو تعلیمي ادارو په فعالولو سربیره په سلګونو نوې مدرسې جوړې
شوې،د دیني او عصري زدکړو لپاره نوی نصاب ترتیب او د چاپ لړۍ یې پیل
شوه.اسلامي امارت له نظامي چارو وروسته ډیره بودیجه په تعلیم او تربیه لګوله. د
هیواد په ټولو لویو ښارونو کې هغه پوهنتونونه او د تخصصي عالي زده کړو اداري چې
پخوا له فعالیته لویدلې وې د اسلامي امارت لخوا فعالې شوې. نړیوالو څارونکو ادارو
که څه هم له اسلامي امارت سره یې دښمني درلوده خو په رسمي احصائیو کې یې دا
خبره منله چې د اسلامي امارت په دیني او عصري تعلیمي ادارو کې تر یو میلیون زیات
د هیواد بچیان په زده کړو بوخت دي. د معارف په برخه کې بله لویه کارنامه دا وه چې
پخوا د افغانستان په ښارونو کې دیني مدارس ډیر کم او تقریبا په نشت حساب وو. د
اسلامي امارت په دوره کې په ټولو لویو او وړو ښارونو کې دیني مدارس جوړ او فعال
شول. د دې ابتکار اثرات تر اوسه پورې څرګند دي. په ښارونو کې د مدارسو، طالبانو
او علماء کرامو ډیربښت په دیني او اجتماعي برخه کې ډیر ښه اثرات درلودلي او په
ښارونو کې د دیني فرهنګ تعمیم او تقویې ته یې زمینه برابره کړې ده.

د اسلامي امارت د واکمنۍ په وخت کې د مساجدو د تأسیس، ترمیم او پراختیا په برخه
کې د پام وړ کارونه وشول او د هیواد پوځي او ملکي اداري په خاص ډول وزارتخانې
چې پخوا په کې مساجد نه وو په ډیرو کې یې مساجد ودان شول.

په فرهنګي برخه کې که له یوې خوا ټول نشرات او کلتوري فعالیتونه اصلاح او د
اسلامي فرهنګ د ودې او پراختیا لپاره بنیادي اقدامات وشول. له دې علاوه د ادبي
غونډو، مشاعرو او بیلابیلو نشراتو له لارې هڅه کیدله چې هیواداوالو ته په خپل سوچه
اسلامي او افغاني فرهنګ قناعت ورکړل شي او ذوقونه یې سیراب شي. د اسلامي
امارت لخوا ګڼ شمیر مجلې او اخبارونه چاپیدل چې د ځینو نومونه یې په دې ډول
دي. شریعت اونیزه، هیواد ورځپاڼه، انیس ورځپاڼه، کابل ټایمز اونیزه، په کندهار کې
طلوع افغان ورځپاڼه، د مزارشریف بیدار ورځپاڼه، په ننګرهار کې ننګرهار ورځپاڼه، په

پاخه ډول جوړې کړې او د ښارونو داخلي سرکونه چې د ټانګونو ګشت وګذار او جګړو ورته زيانونه اړولي وو داغګيري شول.

په هيواد کې د موجودو تعليمي ادارو په فعالولو سربيره په سلګونو نوې مدرسې جوړې شوې،د ديني او عصري زدکړو لپاره نوی نصاب ترتيب او د چاپ لړۍ يې پيل شوه.اسلامي امارت له نظامي چارو وروسته ډيره بوديجه په تعليم او تربيه لګوله. د هيواد په ټولو لويو ښارونو کې هغه پوهنتونونه او د تخصصي عالي زده کړو ادارې چې پخوا له فعاليته لويدلې وې د اسلامي امارت لخوا فعالې شوې. نړيوالو څارونکو ادارو که څه هم له اسلامي امارت سره يې دښمني درلوده خو په رسمي احصائيو کې يې دا خبره منله چې د اسلامي امارت په ديني او عصري تعليمي ادارو کې تر يو ميليون زيات د هيواد بچيان په زده کړو بوخت دي. د معارف په برخه کې بله لويه کارنامه دا وه چې پخوا د افغانستان په ښارونو کې ديني مدارس ډير کم او تقريبا په نشت حساب وو. د اسلامي امارت په دوره کې په ټولو لويو او وړو ښارونو کې ديني مدارس جوړ او فعال شول. د دې ابتکار اثرات تر اوسه پورې څرګند دي. په ښارونو کې د مدارسو، طالبانو او علماء کرامو ډيربښت په ديني او اجتماعي برخه کې ډير ښه اثرات درلودلي او په ښارونو کې د ديني فرهنګ تعميم او تقويې ته يې زمينه برابره کړې ده.

د اسلامي امارت د واکمنۍ په وخت کې د مساجدو د تأسيس، ترميم او پراختيا په برخه کې د پام وړ کارونه وشول او د هيواد پوځي او ملکي ادارې په خاص ډول وزارتخانې چې پخوا په کې مساجد نه وو په ډيرو کې يې مساجد ودان شول.

په فرهنګي برخه کې که له يوې خوا ټول نشرات او کلتوري فعاليتونه اصلاح او د اسلامي فرهنګ د ودې او پراختيا لپاره بنيادي اقدامات وشول. له دې علاوه د ادبي غونډو، مشاعرو او بيلابيلو نشراتو له لارې هڅه کيدله چې هيواداوالو ته په خپل سوچه اسلامي او افغاني فرهنګ قناعت ورکړل شي او ذوقونه يې سيراب شي. د اسلامي امارت لخوا ګڼ شمير مجلې او اخبارونه چاپيدل چې د ځينو نومونه يې په دې ډول دي. شريعت اونيزه، هيواد ورځپاڼه، انيس ورځپاڼه، کابل ټايمز اونيزه، په کندهار کې طلوع افغان ورځپاڼه، د مزارشريف بيدار ورځپاڼه، په ننګرهار کې ننګرهار ورځپاڼه، په

هرات کې اتفاق اسلام ورځپاڼه، دغه راز په بيلابيلو ولاياتو کې مهالنۍ جريدې
سنايي، وړانګه، کندز او داسې نورې نشرېږي. لـه دې عـلاوه خلافت مجلـه، ک
مجله، الامـارة الاسـلاميه عـربي او انګريـزي مجلـه، او د روغتيـا وزارت، دفـاع و
سترې محکمې، علومو اکاډمۍ او نورو ځينو وزارتونو خاصې خپرونې هغه نشرا
چې د اسلامي امارت د رسنيزې پاليسۍ سره سم خپريـدل. اسـلامي امـارت د ک
شـريعت غږ راډيو په نوم يوه مرکزي راډيـو درلـوده چې سـهار ماښـام يـې ګڼ
خبري، تحليلي او بوختوونکې خپرونې درلودې. له دې علاوه په بيلابيلـو ولايـاتو
۱۴ پايې نور راډيو سټيشنونه هم فعال و چې په محلي کچه يې خپرونې کولې.

د توليداتو په برخه کې د هلمند د بست تصدۍ چې د حلاجي، غوړيو، صابون او
توليداتو فابريکې يې درلودې، د پلخمري د غوري سمينټو فابريکه، د کندز د سپين
شـرکت د غوړيو او حلاجۍ فابريکې، د مزار شـريف د بريښنا او کود د توليد فابري
او د هيواد په لراوبر کې نور توليـدي منـابع چې جګـړو يـې فعاليـت درولـی او يـا
اغيزمن کړی و د اسلامي امارت په وخت کـې پـه ټـول قـوت فعـالې او د توليـد جو
کړای شوې تر دې چې د غوري سمينټو فابريکه چې پخوا يې د ورځې ۵۰ ټنه سمين
توليدول د اسلامي امارت د واکمنۍ په وروستيو کلونوکې يې توليد د ورځې ۴۰۰ ټن
لوړ شوی و.

د مخابراتو په اړه ويلی شو چې جګـړو د افغانسـتان پخـوانی د اتصـالاتو سيسـتم بش
ويجاړ کړی و، د اسلامي امارت په مهال د هيواد ۹۳ مخابراتي کوډ بيا فعال شو او هي
بيا له نړۍ سره وصل شو. په لويو ښارونو کې د ډيجيټل څو زره لينـه دستګاوې نص
شوې دغه راز د سټلايټ ټيلفونونو په راواردولو سره د هيوادوالو مخابراتي مشکلات
ډيره حل شول. د اسلامي امارت د مخابراتو وزارت په هيواد کې د موبايـل ټيلفونونـو
فعاليت او تعميم لپاره له يوه لويديځ شـرکت سره قرار داد وکړ چې له مخې يې د افغ
بيسيم شـرکت رامنځته شو. خو نړيوالو بنديزونو دا پروسه وځنډوله او وروسـته هماغ
شـرکت په هغه نوم فعال او په هيواد کې يې د مبايل ټيلفونونو د خدماتو اساس کيښود

د هوايي چلند په برخه کې هم اسلامي امارت خورا مثبت کردار اداء کړ، د هوايي ځواک او د اريانا افغان هوايي شرکت تيرو جګړو او ګډوډيو سخت زيانمن کړی و، طالبانو د هيواد ټولې فعالې الوتکې او چورلکې د قومندانانو له واکه وايستې او د ملي شتمنۍ په حيث يې خوندي کړې. د هوايي ډګرونو او رادار سيستم په ترميم سربيره د اسلامي امارت په موده کې ۹ ترانسپورتي الوتکې، ۱٦ جنګي الوتکې او ۱۹ بيلابيلې څرخکې چې په جګړو کې زيانمنې او له پرواز پاتې وې ترميم او خدمت ته چمتو شوې.

اسلامي امارت او شخصا ملا صاحب د هيواد او هيوادوالو اقتصادي ستونزو ته ډېر متوجه و چې په دې برخه کې يوه لويه مسئله د پولي سيستم اصلاح کول و. د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير متوکل صاحب په دې اړه وايي(ملامحمدعمر مجاهد د پولي تورم د اصلاحاتو طرحه ومنله د افغانستان بانک او ماليې وزارت په ګډون يې پلاوی وګماره چې زه متوکل هم پکښې شامل وم. په افغانستان کي د رباني لخوا د لس زريز او پنځه زريز نوټونه په روسيه کې پرېمانه چاپېدل. د جنرال دوستم لخوا هم بې رجسټره ډېري افغانۍ چاپېدلې چي د هيواد پولي ارزښت او اقتصاد يې خراب کړی وو. نوي معياري افغانۍ بايد چاپ شوي وای څو د رباني شنې افغانۍ پنځوس په يوه او جنبشۍ سل په يوه راټولي شوي وای.

د همدې هدف لپاره د اسلامي امارت لخوا ديوه ګون څخه تر زرګون پوري ۹ ډوله نوټونه په ملي تاريخي يادګارونو ډيزاين شول، په واحد پټ مارک چي ارزانه تمامېده د ميرويس نيکه مقبره ورکول شوه د مخصوص کاغذ او چاپ لپاره له جرمني کمپنۍ سره تړون وشو چي لومړی قسط پيسې يې ورکول شوې خو له بده مرغه چي د ملګرو ملتونه د امنيت شورى تعزيراتو دا پروسه معطله کړه. او کله چي د امريکايي يرغل په نتيجه کي حامد کرزی راغی دا پروسه يې تکميل کړه، زړې افغانۍ يې راټولي کړې نوې د افغانستان داسلامي امارت لخوا چمتو شوې افغانۍ يې ووېشلې)

په دې سربيره د معادنو، روغتيا، زراعت،آبيارۍ، ترانسپورټ، ورزش او نورو برخو کې هم حتى الوسع کارونه او خدمات وشول. خو هغه څه چې اسلامي امارت د لويو

انکشافي پروژو له تطبیق څخه راګرځاوه پرلپسې جګړییز وضعیت او بل اړخ ته د نړیوالو بندیزونو او د ځینو ګاونډیو هیوادونو دښمنانه چلند و. نړیوالو ډول ډول اقتصادي بندیزونو د ټولو هغه انکشافي پروژو مخه نیوله چې د نړیوالو سرمایه ګذارانو او شرکتونو سره قراردادونو او یا هم د وسائلو واردولو ته په کې اړتیا وه.

**د اسلامي هیواد له ارزښتونو دفاع**

افغانستان د نړۍ یوداسې هیواد دی چې له ۹۹ فیصده زیات اوسیدونکي یې مسلمانان دي.د اسلامي خلافت د متحد وجود له ټوټه کیدو وروسته چې په عباسي دور کې د مستقلو او موازي سلطنتونو دوران پیل شو، افغانستان یا پخوانی خراسان هم له هغه مهاله د مسلمانانو د یوې ځانګړې جغرافیې په حیث د اسلامي نړۍ په زړه کې اوسیدلی او تاریخي پړاوونه یې وهلي دي. په اوسنۍ نړۍ کې چې د اسلامي اخوت ضد افکارو او غربي نړۍ لید د غلبې له امله خلک د ګمراهۍ تر کچې په نشنلیزم کې ډوب او وطن یا وطن پرستي ته د مقدساتو په نظر ګوري طالبانو د دې منحرف او ناوړه تعبیر په اساس نه بلکې د لوی اسلامي وطن د یوې ټوټې او د اسلامي امت د یوې برخې په حیث یې د افغانستان او افغان ولس له ټولو ارزښتونو او منافعو څخه دفاع د ځان وجیبه بلله.

اسلامي امارت د افغانستان استقلال په داسې ډول را اعاده او خوندي کړ چې ښایي په وروستیو لسیزو کې دا هیواد او ولس کله هم دومره نه وي خپلواک شوی.د افغانستان د چارو واک د ملا محمد عمر مجاهد په غاړه و. د ده استقلال او خپلواک فطرت چې چا له نږدې لیدلی نو په دې خبره اعتراف کوي چې د افغانستان او اسلامي هیوادونو په معاصر تاریخ کې یې دومره د حُر او ازاد فطرت څښتن مسلمان حاکم نه دی لیدلی.

د اسلامي امارت زعیم ملامحمد عمر مجاهد هغه مسلمان حاکم و چې ټولې سیاسي، نظامي، اقتصادي او نورې بیلابیلې پریکړې دغه راز د کورنۍ او بهرنۍ پالیسي-اړوند فیصلې یې یوازې د خپلې عقیدې، شریعت او اسلامي ټولنې د مصالحو په رڼا کې کولې او له دې اخوا یې د نړیوالو قدرتونو، بین المللي ټولنو، ګاونډیو هیوادونو او یا هم

انکشافي پروژو له تطبیق څخه راګرځاوه پرلپسې جګړییز وضعیت او بل اړخ ته د نړیوالو بندیزونو او د ځینو ګاونډیو هیوادونو دښمنانه چلند و. نړیوالو ډول ډول اقتصادي بندیزونو د ټولو هغه انکشافي پروژو مخه نیوله چې د نړیوالو سرمایه ګذارانو او شرکتونو سره قراردادونو او یا هم د وسائلو واردولو ته په کې اړتیا وه.

## د اسلامي هیواد له ارزښتونو دفاع

افغانستان د نړۍ یوداسې هیواد دی چې له ۹۹ فیصده زیات اوسیدونکي یې مسلمانان دي.د اسلامي خلافت د متحد وجود له ټوټه کیدو وروسته چې په عباسي دور کې د مستقلو او موازي سلطنتونو دوران پیل شو، افغانستان یا پخوانی خراسان هم له هغه مهاله د مسلمانانو د یوې ځانګړې جغرافیې په حیث د اسلامي نړۍ په زړه کې اوسیدلی او تاریخي پړاوونه یې وهلي دي. په اوسنۍ نړۍ کې چې د اسلامي اخوت ضد افکارو او غربي نړۍ لید د غلبې له امله خلک د ګمراهۍ تر کچې په نشنلیزم کې ډوب او وطن یا وطن پرستي ته د مقدساتو په نظر ګوري طالبانو د دې منحرف او ناوړه تعبیر په اساس نه بلکې د لوی اسلامي وطن د یوې ټوټې او د اسلامي امت د یوې برخې په حیث یې د افغانستان او افغان ولس له ټولو ارزښتونو او منافعو څخه دفاع د ځان وجیبه بلله.

اسلامي امارت د افغانستان استقلال په داسې ډول را اعاده او خوندي کړ چې ښایي په وروستیو لسیزو کې دا هیواد او ولس کله هم دومره نه وي خپلواک شوی.د افغانستان چارو واک د ملا محمد عمر مجاهد په غاړه و. د ده استقلال او خپلواک فطرت چې چا له نږدې لیدلی نو په دې خبره اعتراف کوي چې د افغانستان او اسلامي هیوادونو په معاصر تاریخ کې یې دومره د حُر او ازاد فطرت څښتن مسلمان حاکم نه دی لیدلی.

د اسلامي امارت زعیم ملامحمد عمر مجاهد هغه مسلمان حاکم و چې ټولې سیاسي، نظامي، اقتصادي او نورې بیلابیلې پریکړې دغه راز د کورنۍ او بهرنۍ پالیسي-اړوند فیصلې یې یوازې د خپلې عقیدې، شریعت او اسلامي ټولنې د مصالحو په رڼا کې کولې او له دې اخوا یې د نړیوالو قدرتونو، بین المللي ټولنو، ګاونډیو هیوادونو او یا هم

د دوديز سياست د نورو تاثيرگذارو جهتونو خوشالی یا لحاظ ساتلو ته يې ډېر التفات نه کاوه.

په فيصلو او سياسي تصاميمو کې د ملا صاحب د خپلواکۍ ښه بيلگه د شيخ اسامه بن لادن موضوع او يا هم د بودا د بتانو د نړولو قضيه وه، چې د نړۍ لـه سترو ځواکونـو رانيولې بيا تر ملل متحـد او گاونډي هيـواد پاکستان پـورې ټولـو د خپلـو لـوړو پـوړو هيئتونو په استولو سره کوښښ وکړ چې د ملا صاحب تصميم بدل کړي مگر پـه نهايـه کې ټول په دې ارمان کې نـامراده شـول او مـلا محمـد عمـر مجاهـد خپـل د پريکـړې استقلال په اثبات ورساوه.

اسلامي امارت د هيواد په استقلال سربيره د هيواد له سرحداتو هم په ټينگه دفـاع کولـه، تر دې چې د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې د برامچې، پکتيکا، ځاځي اريـوب، خوسـت او تورخم ساحو کې طالبانو د گاونډي هيواد پاکستان له عسکرو سره جگړې وکـړې او له کرښې نه د افغانستان غاړې ته جوړ کړي تأسيسات يې ورونړول.

اسلامي امارت افغانستان له حتمي تجزيې وژغوره. له طالبانو وړاندې عبدالعلي مـزاري په افغانستان دننه د هزارستان په نوم د مستقل هيواد نقشـه جـوړه کـړې وه او د کابـل پـه لويديځ کې خپل پلويان يې (ملت غرب کابل) بلل. جنرال دوستم په شـمالي ولايـاتو کې ځانگړې پيسې را ايستلې وې او د مغرضو گاونډيانو په ديکتـه يـې د هيـواد د ټوټـه کولو هڅه کوله. په لويديځ اسمعيل خان ځان ته امير وايه دغسې په نورو سـيمو کـې د اسلامي ټولنې د يووالي دښمنانو هڅه کوله چې دا په ټوټو ويشل شـوي مسـلمانان نـور هم سره ريز مريز او ټوټه ټوټه کړي. خو اسلامي امارت د تجزيې د مـدعيانو ټغـر ټـول کړ او افغانستان يې يو ځل بيا تر يوه بيرغ او اسلامي حاکميت لاندې متحد کړ.

## ځو تورونه او د هغو سپيناوی

### آيا اسلامي امارت د ولس ملاتړ درلود؟

**د اسلامي امارت پر خلاف د تبليغ شويو تورونو له جملې يو دا دی چې دغه خوځښت له يوه خاص قشـر څخه جوړ و، په ولس کې يې ريښې او ملاتړ نه درلود او له همـدې**

یوه قشر نه علاوه په کې د ولس نورو اقشارو ونډه نه درلوده. حقیقت دا دی چې د اسلامي تحریک لومړني مؤسسین رښتیا هم د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د مدرسو طالبان وو. اما د پاڅون له پیل وروسته سمدستي د افغان ولس بیلابیلو اقشارو د دې پاڅون ملاتړ وکړ. مالي او تسلیحاتي مرستې یې ورسره وکړې او خپله د مبارزې په صف کې شامل شول.

د افغانستان په بیلابیلو ولایاتو کې د پخواني جهاد ګڼ شمیر مجاهدین، قومندانان او مخور شخصیتونه د اسلامي امارت سره ملګري او ستر خدمتونه یې ترسره کړل. کله چې لوی ښارونه لکه کندهار، کابل، مزار شریف، هرات، جلال اباد، غزني او نور فتحه شول، نو د افغانستان د دولتي دستګاه ټول هغه مامورین چې له پخواني کمونیست رژیم سره یې ګوندي تړاو نه درلود بلکې خپل ژوند یې د افغان ولس په خدمت کې تېر کړی و، اکثرو یې د اسلامي امارت په تشکیل کې خدمتونه شروع کړل. له ماموریتونو او ریاستونو نیولې بیا د وزارتونو تر معینیتونو پورې په وظائفو وټاکل شول او د اداري نظام په احیاء کې یې ستر رول ترسره کړ. اسلامي امارت یوازې هغه کمونیستان چې په خپل دور کې د افغان ولس سره په ظلم او زیاتي کې برخوال وو او یا یې کمونیزم ته لا هم اعتقاد درلود د نامطلوبو اشخاصو په نوم له اداراتو وشړل، له هغو پرته په ټولو وزارتونو، ولایاتو حتی امنیتي او پوځي ادارو کې هغو اداري کدرونو دندې اجراء کولې چې طالبان یا ملایان نه وو.

عام ولس د اسلامي امارت په قیام، پوځي پرمختګونو او پایښت کې هم اساسي نقش درلود. په پیل کې د اسلامي امارت مجاهدین ډېر کم وسه وو، په هره سیمه کې ورسره عامو خلکو د ډوډۍ، وسلو او نورو ضرورت وړ شیانو مرسته کوله. په جهادي ډلګیو او ګروپونو کې که څه هم مشري د طالبانو په غاړه وه خوپه افرادوکې یې د طالبانوتر څنګ ډېر د عام ولس رضاکار مجاهدین هم وو. د سختۍ او اړتیا په وخت کې ولس د عمومي پاڅون یا نفیر عام په شکل د اسلامي امارت ملاتړ کاوه. د ۱۳۷۴ لمریز کال د سنبلې په میاشت کې کله چې تورن اسمعیل خان د فراه له اړخه لوی تعرض وکړ، د هلمند تر ګرشک پورې راورسید او مجاهدین له سخت حالت سره مخامخ شول، د

کندهار د ښار او شاوخوا ولسواليو خلک د ولسي قيام په شکل له وسلو سره راووتل او د اسلامي امارت د مجاهدينو د ملاتړ لپاره د هلمند پر خوا روان شول. په دې جګړه کې نه يوازې عام ولس سلګونه ځوانان د اسلامي امارت ملاتړ ته وقف کړل بلکې د وسلو، خوراکي موادو او پيسو مرستې يې هم له اسلامي امارت سره وکړې.

دغه راز د ۱۳۷۶ لمريز کال په جوزا مياشت کې کله چې په شمال کې جنرال مالک تاريخي غدر وکړ، مزار شريف ته په سوله ييزه توګه ورغلي طالبان يې شهيدان او يا بنديان کړل، دغه راز د اسلامي امارت يوه لويه برخه مجاهدين په کندز کې محاصره شول او د احمد شاه مسعود قواوو د کابل شمالي سيمې يو ځل بيا ونيولې او پلازمينې کابل ته يې ګواښ متوجه وکړ. په همدې سخت وخت کې د افغانستان عام ولس يو ځل بيا له اسلامي امارت سره خپل پيوستون او ملاتړ ثابت کړ. د افغانستان له جنوبي او جنوب ختيځو ولاياتو څخه ولسي مجاهدين د لښکرو په شکل راووتل. خصوصاً له لوی کندهار او لويې پکتيا څخه په زرګونو ولسي مجاهدينو کابل ته ځانونه ورسول، د دې ولسي رضاکارو مجاهدينو شمير دومره زيات وو چې اسلامي امارت يې په مسلح کولو او تشکيل پسې نه شوای رسيدلی نو ځکه ډيرو ته بيرته د کورته تګ اجازه ورکول شوه. د همدې ولسي مجاهدينو د ملاتړ په برکت اسلامي امارت له هماغې امتحاني مرحلې هم بريالی ووت. هم د پلازمينې کابل دفاعي خطوط محکم شول او هم کندز ته دومره مجاهدين د هوا له لارې انتقال شول چې هلته يې په دښمن ځپونکي بريدونه وکړل او ډيرې سيمې يې فتحه کړې.

همدا اوس د امريکايانو او نړيوالې اشغالګرې ټلوالې په وړاندې د اسلامي امارت متداوم جهاد د دې خبرې نغد دليل دی چې اسلامي امارت په افغان ولس کې ژورې ريښې او پراخ ملاتړ لري. ځکه د نړيوالو اشغالګرو په شان د ځواکمن دښمن په وړاندې دومره اوږد او بريمن جهاد پرته له ولسي ملاتړه اصلا ممکن نه بريښي. دا چې د اسلامي امارت په وړاندې د دښمن ټولې پوځي او تبليغاتي ستراتيژۍ يو په بل پسې ناکامېږي او د اسلامي امارت د محو کولو ارمان يې لا هم نيمګړی پاته دی، علت يې له اسلامي امارت سره د الله تعالی نصرت او د مؤمن ولس کلک ملاتړ دی.

**آیا د طالبانو تحریک د پاکستان په کویټه کې جوړ شو؟**

د افغانستان په اوسني سیاست کې دخیل زیاتره احزاب له افغانستانه بهر جوړ شوي دي، د روس ضد جهاد پر مهال په پاکستان کې اوه او په ایران کې اته تنظیمونه جوړ شول، ځینو خلکو طالبان هم په همدې احزابو قیاس کړي او وایي د طالبانو اسلامي تحریک هم د پاکستان د بلوچستان ایالت په مرکز ( کوټه ښار)کی جوړ شوی دی.

اما واقعیت داسې نه دی، د طالبانو اسلامي خوځښت چې وروسته په اسلامي امارت بدل شو، د افغانستان په پخوانۍ پلازمینه ( کندهار) کې تاسیس شوی، وده یې کړې او له همدې ولایته نور افغانستان ته خپور شوی دی. په دې اړه مو ډېر تفصیل د کتاب په تیرو فصلونو کې لوستی خو د لوړې عنوان شوې ادعاء د تردید لپاره لاندې څو خبرې د یادولو وړ ګڼو.

ـ د اسلامي امارت مؤسس ملا محمد عمر مجاهد کله هم په پاکستان کې نه دی اوسیدلی، د ده کورنۍ د شوروي یرغل په کلونو کې پاکستان ته هجرت نه و کړی، بلکې په روزګان ولایت کې اوسیده، ملا صاحب د شوروي ضد جهادپه وخت کې که د نورو مجاهدینو په څیر د معالجې په خاطر پاکستان ته تللی وي هم، هلته یې یوازې د ورځو په حساب لنډ وخت تیرکړی دی اما د تحریک د پیل څخه بیا د وفات تر وخته د یوه ساعت لپاره هم د افغانستان څخه د باندې نه دی وتلی. نو بناء دا له امکانه لرې ده چې ملا محمد عمر مجاهد د پاکستان له سیاسي او ټولنیز وضعیت سره د نابلدۍ سره سره توانیدلی وي په دې هیواد کې سیاسي فعالیت وکړي او یو لوی سیاسي، پوځي خوځښت تأسیس کړي.

په اصل کې دا یو بې بنیاده خبره او کاذبه اوازه وه چې د دښمن لخوا زمزمه شوه که نه په واقع کې هرڅوک پوهیږي چې حقیقت څه دی.

ـ که د طالبانو خوځښت په پاکستان کې جوړ شوی وای، نو باید د پاکستان تر اغیز لاندې به هم وای، مګر برعکس دا څوک نه شي ثابتولای چې ملا محمد عمر مجاهد دې یوه هم داسې پریکړه کړې وي چې هغه د پاکستان د ګټو په خاطر وي. د اسلامي امارت لپاره د موقف ګیرۍ معیار یوازې د الله تعالی د دین لوړتیا وه. له پاکستان څخه

د اسلامي امارت د عدم تأثر یو دلیل دا دی چې پاکستاني واکمنو هم د ډیرو نورو هیوادونو د مشرانو په شان ډیره هڅه وکړه چې اسلامي امارت د اسامه بن لادن پر سر معاملې ته وهڅوي. حتی د دې لپاره یې لوړ رتبه هیئتونه هم کندهار ته ولیږل. خو ملا محمد عمر مجاهد د دوی هیڅ فرمایش هم ونه مانه او یوازې هغه تګلاره یې تعقیب کړه چې خپل ایمان او وجدان یې پرې قانع و.

### د نصیر الله بابر کاروان

په ۱۹۹۴ میلادي کال کې چې په افغانستان کې کورنۍ جګړه او د ټوپکیانو لخوا پیل شوی فساد او ناامني اوج ته رسیدلې وه په پاکستان کې د بې نظیر بوټو په مشرۍ حکومت د قدرت واګې په لاس کې درلودې. د پیپلز ګوند حکومت غوښتل چې پاکستاني مصنوعاتو ته د بازار موندلو په موخه د منځنۍ آسیا له نویو آزاد شویو هیوادونو سره اقتصادي اړیکې جوړې کړي. دا چې په پلازمینه کابل کې تنظیمي جګړې رواني وې د ۱۹۹۴ م کال په جون میاشت کې د پاکستان حکومت اراده وکړه ترڅو د کندهار ـ هرات له مسیر څخه په استفاده تر ترکمنستان هیواد پورې عمومي لاره د خپلو ترانزیتي مالونو د حمل و نقل لپاره وکاروي. هغه مهال چې په افغانستان کې یو مقتدر مرکزي حکومت موجود نه و، نو پاکستاني چارواکو د هرات له واکمن اسمعیل خان او د کندهار او هلمند له محلي قومندانانو سره خبرې پیل کړې، تر څو له دې لارې د پاکستان تجارتي لاریو ته د تیریدو اجازه ورکړي. د ۱۹۹۴م کال په سبتمبر میاشت کې (سنبله ۱۳۷۳ هـ ش) د پاکستان د کورنیو چارو وزیر نصیر الله بابر د دې تجارتي لارې د خلاصولو په هڅو بوخت و. نوموړی د شپږو اروپایي هیوادونو د سفیرانو په ملتیا د یوه لوی هیئت سره کندهار ته لاړ، د کندهار محلي قومندانان یې تشویق کړل ترڅو پاکستاني لاریو ته لار ورکړي چې له دې لارې به دوی ته د حق العبور په نوم لوی مقدار پیسې په لاس ورشي. د کندهار زیاتره قومندانانو د بابر طرحه ومنله خو د امیر لالي په نوم یو ځواکمن قومندان یې مخالفت وکړ. بابر وروسته هرات ته لاړ، هلته یې د تورن اسمعیل خان توافق هم ترلاسه کړ چې د فراه او هرات په سیمو کې یې په دې لویه لار کنترول درلود. د یادونې وړ ده چې د پاکستان حکومت هغه

وخت د هرات له حاکم اسمعیل خان سره خورا تودې او دوستانه اړیکې درلودې او د استخباراتو یو مشهور افسر کرنیل امام یې د اسمعیل خان په واکمنۍ (هرات) کې د قونسل په حیث ټاکلی و. د اکتوبر په میاشت کې نصیر الله بابر په ترکمنستان کې له جنرال دوستم او اسمعیل خان سره یوه بله غونډه جوړه کړه، تر څو خپل تجارتي پلان نهایي کړي. د ترکمنستان ولسمشر سفر مراد نیازوف په دې غونډه کې اسمعیل خان او جنرال دوستم وهڅول چې له پاکستان سره همکاري وکړي تر څو دغه تجارتي طرحه کامیابه شي.(افغانستان طالبان و سیاست های جهاني ۱۲۱ ص)

په اکتوبر میاشت کې پاکستانیانو غوښتل د ترکمنستان په خوا د تجارتي اموالو په نمونو بار لومړنی موټریز کاروان تېر کړي. د اکتوبر په ۱۳ مه نیټه (۲۱ / ۷ / ۱۳۷۳ هـ ش)چې بولدک ښارګوټی تازه د طالبانو لخوا نیول شوی و د پاکستان تجارتي کاروان چې په ۸ بار وړونکو موټرو مشتمل و، له کرښې څخه د افغانستان خواته واوښت. افغانستان ته په اوښتلو پاکستاني چارواکي له نوې حالت سره مخامخ شول. ځکه دوی د کندهار او بولدک له پخوانیو ټوپکي قومندانانو سره تعهد کړی و او اوس د بولدک، ژړۍ او میوند ولسوالیو واک د طالبانو د نوي راټوکیدلي خوځښت په لاس کې و. د دې لپاره چې دغه کاروان د طالبانو تر واک لاندې سیمو څخه هم په امن تیر شي دوی مجبور و چې له طالبانو سره هم خبرې وکړي.

د اسلامي امارت د و اکمنۍ پر مهال د سرې میاشتې د خیریه ټولنې رئیس سید عبدالله اغا (تورک اغا) چې د دې حالاتو عیني شاهد دی وایي، د بولدک له نیولو وروسته د طالبانو د تحریک مشران په همدې ښارګوټي کې په خپل منځي مشورو بوخت وو، چې د پاکستان د تجارتي کاروان خلک راغلل. دوی د موضوع په اړه خبرې وکړې او په پای کې یې وویل چې موږ له بولدک بیا تر هرات پورې د لارې په اوږدو کې له ټولو قومندانانو سره یو تعهد کړی او لیکلي ضمانتونو مو ترې اخیستي چې زموږ په کاروان به غرض نه لري اوس چې د دې لارې ځیني برخې (د بولدک، ژړۍ او میوند په ساحو) ستاسو تر واک لاندې دي. نو که موږ ته اجازه راکړئ چې له دې لارې خپل کاروان تېر کړو. دا لومړی ځل و چې طالبان له دې موضوع څخه خبر شول. په

موضوع د سم پوهیدو لپاره یې څه مهال کاروان وځنډاوه. تر دې چې د کندهار محلي قومندانانو طالبانو ته لیکونه واستول چې کاروان ته اجازه ورکړي. د موضوع له روښانوالي وروسته طالبانو هم کاروان ته د تګ اجازه ورکړه او دغه تجارتي موټر کندهار پر خوا روان شول. دا چې د کندهار ځینو قومندانانو لکه منصور او امیر لالي دې کاروان له تیریدو سره توافق نه درلود، نو یې هوایي ډګر ته نږدې په کاروان برید وکړ، تجارتي مالونه او موټر یې لوټ او موټر چلوونکي یې بندیان کړل. له دې پیښې څو ورځې وروسته چې کله طالبانو په کندهار ښار برید وکړ او ښار یې په مکمل ډول ونیو، د پاکستاني کاروان یو شمیر موټر او موټر چلوونکي یې د نساجۍ په ساحه کې پیدا کړل چې د قومندان امیر لالي کسانو بندیان کړي وو. د دې کاروان لوټ کیدلو د نصیر الله بابر د تجارتي طرحې ناکامي ثابته کړه، نو ځکه پاکستان هم هغه طرحه د تل لپاره پریښوده او بیا یې د عملي کولو هڅه ونه شوه.

که څه هم د طالبانو تحریک د بولدک له نیولو دوه نیمې میاشتې وړاندې د کندهار په مرکزي ولسوالۍ میوند(سنګ حصار) کې پیل شوی و. خو دا چې د بولدک د نیولو حادثه افغانستان ته د پاکستاني کاروان له را اوښتلو سره په نږدې ورځو کې وه، د دې زماني نږدې والي او تصادف څخه یو شمیر تاریخ لیکونکو خورا غلط استنباط کړی دی. مثلا د انتوني ډیویز په نوم یو بهرني خبریال په هماغو وختونو کې د طالبانو د تحریک د پیل په اړه یوه اوږده مقاله ولیکله چې نړیوالو مطبوعاتو له پراخ انعکاس علاوه ډیرو لیکوالو د دې موضوع په اړه د مأخذ په حیث هم ترې استفاده وکړه. نوموړي په دې مقاله کې ولیکل( د طالبانو لومړني نظامي عملیات له افغانستان څخه د نصیر الله بابر د لومړنۍ کتنې او بولدک ته د پاکستاني کاروان د اوښتو ترمنځ زمانه کې ترسره شول. د اکتوبر په ۱۲ د طالبانو یوه ۲۰۰ کسیز لښکر د پاکستان چمن ښار ته نږدې د بولدک په ښارګوټي برید وکړ، دغه سیمه د اختر جان په نوم د حزب اسلامي د یوه قومندان تر واک لاندې وه چې د دوو ساعتونو په ترڅ کې د طالبانو د مجهز ځواک تر تصرف لاندې راغله)( د یوه نظامي ځواک په حیث د طالبانو منځته راتګ ــ د انتوني ډیویز مقاله) انتوني ډیویز له دې مبهم روایت سره یو بل دروغ هم ملګري کړي دي او لیکلي یې دي چې کله طالبانو په بولدک حمله کوله نو د پاکستان له چمن

ښارګوټي ورسره د پاکستان د توپخانې ملاتړ هم ملګری و چې په چمن کې يې د مخالف لوري سنګرونه ويشتل.

که يو ناخبره لوستونکی د انتوني ډيويز او نورو مغرضو او طالب دښمنو ليکوالو دغه وړ ليکنې لولي، نو سمدستي يې ذهن ته دا خبره لويږي چې طالبانو د پاکستان له اړخه په بولدک بريد کړی دی، دوی د نصير الله بابر د کاروان لپاره د مخې خلاصولو مسؤليت درلود، چې په دې ډول يو لوی حقيقت تر خاورو لاندې کيږي.

ځکه په دې کې هيڅوک شک نلري چې د طالبانو خوځښت د بولدک له نيولو دوه نيمې مياشتې وړاندې د ميوند ولسوالۍ په اړوند سيمه (سنګ حصار) کې رامنځته شو، له هغه ځايه يې د ميوند مرکز او بيا ډنډ ولسوالي ته لاړل او بيا يې له ميوند څخه د بولدک په ولسوالۍ بريد وکړ، چې هلته له پاکستاني کاروان سره په تصادفي ډول مخامخ شول. خلاصه دا چې طالبانو بولدک له ختيځ اړخ (چمن) څخه نه دی نيولی، بلکې له لويديځ (کندهار ښار) له اړخه يې په دې ولسوالۍ بريد کړی. خو څرنګه چې د طالبانو د خوځښت خبر د بولدک له نيولو وروسته رسنيز شو او په همدې وخت کې د نصير الله بابر د کاروان خبره هم د رسنيو سرټکی وه، همدې زماني نږديوالي يې يو شمير مغرضو ليکوالو ته بهانه په لاس ورکړه تر څو د طالبانو خوځښت د نصير الله بابر د تجارتي طرحې يوه برخه وګڼي.

بله دا چې که چيرې طالبانو د نصير الله بابر پر لاس د خپل تجارتي کاروان د حفاظت يا لارې خلاصولو په مقصد رامنځته شوي وي نو پاکستان بيا له دې وړاندې د کندهار له قومندانانو، د هرات اسمعيل خان او د ترکمنستان له چارواکو سره ولې په لوړه سطحه خبرې او توافقات کول تر څو دا لاره د دوی په مخه خلاصه شي؟ همدا راز دا پوښتنه چې که طالبان د دې کاروان محافظين وای نو د پاکستان کاروان له بولدک څخه ولې له طالبانو وړاندې د کندهار پر خوا حرکت وکړ تر دې چې د کندهار د ټوپکيانو په لاس لوټ شو؟ بله دا چې کله طالبانو کندهار، هلمند، فراه او تر هرات پورې ټولې سيمې ونيولې، نو ولې د پاکستان تجارتي کاروانونو له دې لارې منځنۍ آسيا ته تېر نه

شول؟ هیڅوک نه شي ثابتولی چې د اسلامي امارت دواکمنی په ټوله دوره کې دې د پاکستان کوم تجارتي کاروان د افغانستان له لارې منځنۍ اسیا ته تللی وي.

دا ټول حقائق ثابتوي چې د نصیر الله بابر د کاروان خبره او بیا یې د اسلامي امارت له تأسیس سره پیوندول هم یو له هغه بې اساسه تورونو څخه دی چې طالب دښمنه لیکوالان وربانديې یوازې خپل ناخبره لوستونکي تیرباسي او د ثبوت لپاره هیڅ منطقي دلیل او کره شواهد نلري.

## آیا طالبان د مجاهدینو پر ضد راپورته شول؟

پر طالبانو د خپلو مخالفینو لخوا یو تور دا هم لګول کیږي چې وایي دغه ډله د مجاهدینو د ځپلو په مقصد رامنځته شوه او هدف یې دا وه چې د شوروي یرغلګرو پر خلاف جنګیدلي مجاهدین د افغانستان له سیاسي صحنې وباسي.

دا تور یا مدعا به هغه وخت پر ځای او د منلو وړ وای که چیرې طالبان له مجاهدینو غیر کومه بله داسې فرقه یا ډله وای چې نه یې جهادي سابقه درلودای او نه یې هم د جهاد ارمانونو او اهدافو ته تعهد درلودای. واقعیت دا دی چې طالبان د شوروي ضد جهاد په صفوفو کې هغه پاک، مخلص، فداکار او اغیزناک مجاهدین وو چې په هر ولایت کې د جهاد اصلي پیټی د همدې ګمنامو او بې ریا غازیانو په اوږو پروت و خو د جهاد په نوم امتیازات نورو اخیستل.

تاریخ شاهد دی چې د کمونیزم او شوروي یرغل پـه وړانـدې لکه څنګه چې دیني عالمانو او طالبانو د جهادي خوځښت د پیل ویاړ درلود همداسې د جهاد په اوږدو کې په هر ولایت کې علماء کرامو او طالبانو لویې جبهې درلودې. له دې جملې مولوي محمد نبي محمدي، مولوي محمد یونس خالص، مولوي نصرالله منصور، مولوي جلال الدین حقاني، مولوي رفیع الله مؤذن، مولوي عبدالله ذاکري او مولوي محمد میر هغه ملایان وه چې مستقل جهادي تنظیمونه یا د تنظیم په کچه جهادي تشکیلات

يي درلودل. دغه راز په هر ولايت کې د طالبانو مستقل جبهات هم موجود و، چې په جهاد کې يې مهم نقش درلود .

هغه وخت چې شوروي يرغلګر لـه افغانسـتانه وتـلي او کمونيسـت رژيـم نړيـدلی و، د فرض عين جهاد علت ساقط شوی و، ځکه نه کافر اشغالګر پاته و او نه هم د کمونيزم فتنه، نو ځکه اکثره مخلصو او سوچه مجاهدينو وسله پر ځمکه کيښوده او خپل عـادي ژوند ته ستانه شول. خو خبر نه و چې د کمونيزم له سقوط وروسته به يوه بله داسې فتنه سر را پورته کوي چې د هيواد او ولس په زيان به وي.

د کمونيستي رژيم له نړيدو وروسته جهادي رهبران ونه توانيدل چې هيـواد پـه کنـټرول کې وساتي او يو متحد اسلامي نظام جوړ کړي، د قدرت د همدې خلا نه په استفاده په ډيرو سيمو کې فاسد ټوپکيان، د کمونيسـت رژيـم پـاتي شـوني او داړه مـاران راپورتـه شول. هر چا د يوې سيمې واک په لاس کې واخيست او د غـلا، لـوټ تـالان، د ولـس ځورول او نور شـريرانه اعمال يې پيل کړل.

دغه خلک چې د هرج و مرج پـه کلونـو کـې يـې د ولـس برخليـک يرغمـل کـړی و، مجاهدين نه وو. بلکې اکثره يـې د مجاهـدينو پـه نـوم پخواني فرصـت طلبـه، قـدرت غوښتونکي، د قوم او سمت په نوم د جاهلي شعارونو پالونکي، د کمونيست رژيم پاتي شوني وو. کله چې د دوی فساد او ظالمانه اعمال له حـده زيـات شـول، نـو د شـوروي ضد جهاد د وخت واقعي مجاهدين مجبور شول چې يو ځل بيـا د جهـادي ارمـانونو د تحفظ لپاره لاس په کار شي نو بنـاء ويلـی شـو چې د طالبـانو اسـلامي خوځښـت پـه حقيقت کې د افغانستان سياسي صحنې ته د همـدې واقعـي مجاهـدينو بيـا راګرځيـدل دي.

د دې خبرې کره ثبوت دا دی چې کـه داسـلامي امـارت د هـر مشـر او مهـم شـخص ژوندليک وکتل شي نو دا بـه پـه کـې ووينـئ چې نومـوړي لـومړنی جهـاد د شـوروي يرغلګرو پر خلاف پيل کړی دی. د بيلګې په توګه د کندهار په سـطحه اميـر المـؤمنين ملا محمد عمر مجاهد يو له تکړه پخوانيو مجاهدينو څخه و. رئيس الوزراء مرحوم ملا محمد رباني د کندهار په ختيځو ولسواليو کې د هغې جبهې مرستيال و چې په کندهار

ولایت کې د کمونیزم پر خلاف د جهاد د آغاز له لومړنیو جبهاتو څخه وه. دغه راز د دفاع وزیر شهید ملا عبیدالله آخند، لومړنی نظامي قومندان شهید ملا محمد آخند، د کابل فاتح شهید ملا بورجان آخند، د ریاسة الوزراء مرستیال الحاج ملامحمد حسن آخند، د غزني والي شهید ملا یار محمد آخند، د امارت اوسنی مرستیال محترم ملابرادراخند، د هوانوردۍ وزیر او بیا امیر المؤمنین شهید ملا اختر محمد منصور(۱) صاحب ، د کندهار والي ملا محمد حسن رحماني او د امارت د سیاسي او پوځي رهبرۍ نور ډېر د سر کسان، ټول هغه خلک وو چې د شوروي یرغلګرو او کمونیزم پر ضد جهاد کې یې فعاله برخه درلوده او هر یوه په خپل سیمه کې په تکړه مجاهد شهرت درلود.

بله دا چې که طالبان د مجاهدینو پر ضد وای، نو مطلب یې دا دی چې طالبان باید د جهاد له ارمانونو سره هم مخالفت درلودلای. حال دا چې طالبان هغه خلک وو چې د مقدس جهاد ارمانونه یې ترسره کړل. د کمونیزم پر خلاف د څوارلس کلن جهاد ستر

(۱) شهید ملا اختر محمد منصور د الحاج محمد جان زوی په ۱۹۶۸ میلادي کال کې د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په بند تیمور سیمه کې زیږیدلی و. نوموړي د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال د هوانوردۍ وزارت په شمول بیلابیلې ملکي او نظامي دندې اجراء کړې وې.

د امریکایانو پر خلاف د جهاد په اوږدو کې نوموړي لومړی د کندهار ولایت جهادي مسؤل و او وروسته چې د اسلامي امارت مرستیال ملا عبیدالله آخند د پاکستاني حکومت لخوا ونیول شو، نو د ملا محمد عمر مجاهد د فرمان له مخې منصور صاحب د اسلامي امارت د مرستیال په حیث وټاکل شو. چې له ملا برادر اخند سره په ګډه یې د مرستیالۍ وظیفه ترسره کوله.

کله چې د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د وفات خبره اعلان شوه، د اسلامي امارت د رهبري شورى لخوا ملا اختر محمد منصور د اسلامي امارت د زعیم او امیرالمؤمنین په حیث وټاکل شو. نوموړي په یوه سخته او امتحاني مرحله کې دغه وظیفه په غاړه واخیسته خو په پوره میړانه، تدبیر او لوړ عزم یې دغه وظیفه ترسره کړه، تر دې چې د ۱۴۳۷ هـ ق کال د شعبان المعظم د میاشتې په ۱۴ مه نیټه د امریکایي ډرون الوتکې په برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید. انا لله و انا الیه راجعون.

هدف او ارمان دا و چې له هیواد څخه د کفر او فساد ټغر ټول شي او یو اسلامي نظام حاکم شي. داسې نظام چې په شرعي اصولو استوار وي او کړنلاره یې محمدي شریعت وي. داسې نظام چې د شریعت، عدالت او امنیت زیری له ځان سره ولري. د افغانستان اسلامي امارت هغه نظام و چې زموږ د مجاهد ملت او لکونو شهیدانو دغه ارمان یې ترسره کړ. شریعت یې تطبیق، عدالت یې تأمین او هیوادوالو ته یې د باسعادته ژوند داسې پر امنه فضاء برابره کړه چې ښایي داسې امنیت او اطمینان کله هم دې ولس نه وي لیدلې.

بله دا چې د شوروي ضد جهاد اکثرو مجاهدینو د اسلامي امارت تائید وکړ، د اوو رهبرانو له جملې څلورو رهبرانو کندهار ته سفرونه وکړل او له امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد سره له لیدلو وروسته یې د اسلامي امارت تائید وکړ. د مولوي جلال الدین حقاني، مولوي نصر الله منصور، شهید ملا مدد خان، ملا محمد شفیق محمدي او ګڼو نورو جهادي کورنیو نه یوازې د اسلامي امارت ملاتړ وکړ بلکې عملا د اسلامي امارت برخه شول. دا ټول شواهد ښیي چې اسلامي امارت د مجاهدینو ضد نه بلکې د واقعي مجاهدینو کور و. چې هدف یې د جهادي ارمانونو خوندي کول و.

## آیا اسلامي امارت یوازې د کوم خاص قوم خوځښت و؟

د تنظیمي هرج و مرج په کلونو کې یوه لویه بدمرغي چې زموږ هیواد ته راپیښه شوه دا وه چې جګړه مارو ډلو او تنظیمونو د ملاتړ جلبولو په مقصد تر قومي شعارونو لاندې جګړې پیل کړې. هرې جګړې مارې ډلې چې د څوکۍ ګټل یې اصلي مقصد و په ظاهره یې د یوه خاص قوم د حقوقو ساتنه خپل شعار جوړ کړ. د جګړه مارو دې جاهلي شعارونو که څه هم د افغانستان متحد ملت سره تقسیم نکړ، خو د قومي تفرقې موضوع یې د بل هر وخت په نسبت برجسته کړه. کله چې اسلامي امارت رامنځته شو نو د نورو بدمرغیو په شان یې د قومي تفرقې د له منځه وړلو پر ضد هم مبارزه پیل کړه. د اسلامي امارت شعار اسلامي اخوت و، نو ځکه یې د افغانستان د هرې سیمې، هر قوم، هرې ژبې او هر سمت خلکو ته غیږه خلاصه کړه.

اما له دې سره سره ځینو تاریخ لیکونکو اسلامي امارت د تنظیمي جګړه مارو ډلو په ردیف کې شمیرلی او تور یې لګولی چې اسلامي امارت د یوه خاص قوم خوځښت او قومي تمایلات یې پالل.

واقعیت دا دی چې ملا محمد عمر مجاهد شخصا له قومي، لساني او سمتي تعصب پاک انسان و. هیڅوک نه شي ثابتولای چې نوموړي دې د تعصب په اساس چلند کړی و. دغه راز د اسلامي امارت تګلاره په اسلامي اخوت ولاړه وه. نه یوازې د افغانستان ټولو وروڼو قومونو ته یې په یوه نظر کتل بلکې د درستې نړۍ په سطحه یې د هر هیواد، هرې ژبې او هر رنګ مسلمان خپل ورور ګاڼه.

د اسلامي امارت په صفوفو کې له بدخشان او تخار ونیسه، تر بادغیس هرات، نیمروز، پکتیا او نورستان پورې د ټولو ولایاتو مجاهدینو او لوړ رتبه مسؤلینو وظائف ترسره کول. د ملا محمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې د بیلابیلو سیمو او ژبو مجاهدین تر یوه بیرغ او یوه فرمان لاندې په متحد صف کې بسیج شول. په داسې ډول چې د کندهار مولوي احسان الله احسان د هیواد په شمال د مزار شریف د آزادۍ لپاره خپله وینه قربان کړه او د تخار مولوی محمد سرور حق پرست د هیواد جنوب ختیځ خوست کې د شهادت جام نوش کړ.

د اسلامي امارت په جهادي بریاوو کې د نورو ولایاتو د مجاهدینو په څېر د بدخشان، تخار او کندز طالبانو ځانګړی نقش درلود. د دې سیمو مسافر طالبان چې یوازې د کلمة الله د اعلاء په خاطر یې خپل کورونه پرې ایښي وو، د اسلامي امارت په جهادي صفوفو کې یې خدمت کاوه. د دوی د قربانۍ یوه عیني بیلګه دا ده چې په لوګر ولایت کې د بدخشان او تخار شهید شوي طالبان ځانګړې هدیره لري چې د اسلامي نظام لپاره یې ځانونه قربان کړي دي.

بله خبره دا ده چې که موږ د اسلامي امارت او مخالفو ټوپکیانو تر منځ د جګړې ماهیت و ارزوو، نو را معلومه به شي چې د دې جګړې ماهیت قومي یا نژادي نه و. بلکې جګړه د ارزښتونو پر سر وه. د شر او فساد ټوپکیانو شرعي حدود پایمال کړي وو. د الله تعالی د بندګانو حقوق یې ضائع کول، پر ځمکه یې فساد او منکرات

خپرول. د شرعي قانون د نفاذ مخنيوی يې کاوه او بالمقابل اسلامي امارت د جهادي ارمانونه د خونديتوب، شرعي قانون د نفاذ او له ځمکې د شر او فساد د محو کولو په مقصد قيام کړی و.

په همدې اساس هغه خلک چې له شرعي قانون څخه باغيان او فساد کوونکي وو، هغه که د هر قوم و په مخالف صف کې ودريدل، د کندهار، غزني، ميدان وردګ، کابل، مشرقي ولاياتو او ډيرو نورو سيمو ټوپکيان او مفسدين چې اکثره يې پښتانه وو د طالبان له راتګ وروسته له مسعود، اسمعيل خان او نورو مخالفينو سره ملګري شول. بالمقابل د شمالي ولاياتو ټول واقعي مجاهدين د اسلامي امارت ملګري شول. په دې اساس ويلی شو چې د دې جګړې ماهيت قومي نه و بلکې د شريعت غوښتونکو او فسادکارانو تر منځ جګړه وه.

په وروستيو کلونو کې د امريکايي يرغل په وړاندې د جهاد په مرحله کې د اسلامي امارت شموليت او په ټولو قومونو، ولاياتو او سمتونو کې ژور نفوذ نور هم روښانه شو. د امريکايي يرغل په وړاندې د اسلامي امارت تر بيرغ لاندې د هيواد په ټولو ۳۴ ولاياتو کې جهاد پيل شو.

د اسلامي امارت تر بيرغ لاندې په دې جهاد کې لکه څنګه چې د کندهار او پکتيا پښتانه مجاهدين برخوال دي، همداسې د د بدخشان او تخار تاجک، د فارياب او جوزجان ازبک، د نيمروز بلوڅ، دغه راز ترکمن، نورستانيان، پشه يان، عرب، ګوجر وغيره د بيلابيلو قومونو او سيمو مجاهدين په کې پوره ونډه لري.

د ملا محمد عمر مجاهد يوه ستره کارنامه دا وه چې په هيواد کې يې د قومي نفاق فتنه انګيز بحث ورک کړ. د بيلابيلو سيمو مجاهدين يې تر يوه بيرغ لاندې را ټول کړل او په دې ډول يې نه يوازې هيواد له تجزيې وژغوره بلکې د وروڼو مسلمانانو تر منځ د بدبينۍ عوامل يې هم خنثی کړل.

## د سخت دریځي یا افراطیت اتهام

د ملا محمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې په اسلامي امارت یو بل تور دا لګیږي چې د اسلامي نړۍ د نورو حکومتونو په نسبت یې جلا مفکوره او پالیسي- درلوده. مثلا خلک یې لمانځه ته دعوتول، د امر بالمعروف و نهی عن المنکر اداره یې جوړه کړې وه، چې بیلابیل دعوتي او اصلاحي فعالیتونه درلودل. ځیني د اسلام او اسلامي حکومت له حقیقته ناخبره خلک د اسلامي امارت دا کارنامه د طالبانو سخت دریځي بولي او طالبان په افراطیت تورنوي.

اما دا خلک له دې خبر نه دي چې اصلا د اسلامي حکومت اساسي وظائف کوم دي؟ د اوسنۍ نړۍ په اکثره هیوادونو سیکولر یا په دین نه ولاړ نظامونه حاکمیت لري. په سیکولر نظامونو کې د حکومت اساسي وظیفه تر ډیره حده مادي پیشرفت یا د دوی په اصطلاح د خلکو لپاره د ژوند د سهولتونو برابرول او د مادي ژوند د سطحې لوړول ګڼل کیږي.

اما په اسلام کې مادي ګټې او پرمختګ دوهمه درجه ارزښت لري. ځکه د اسلامي حکومت او مسلمان حاکم اساسي دندې هغه امور دي چې الله تعالی د سورة الحج په ۴۱ نمبر آیت کې ورته اشاره کړې ده. الله تعالی فرمایي: ﴿الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ﴾

ژباړه: دوی هغه خلک دي چې که موږ په ځمکه کې قدرت ورکړو، لمونځ ترسره کوي، زکات ورکوي، د نیکي امر کوي او له بدي څخه ایسارول کوي او د ټولو چارو خاتمه الله لره ده.

په دې آیت کریمه کې له تمکین او قدرت موندلو وروسته د اسلامي واکمنو اساسي وظائف څلور شیان ذکر شوي دي. لمونځ، زکات، امر بالمعروف او نهی عن المنکر. له دې څلورو علاوه د اسلامي واکمن لپاره پنځمه مهمه وظیفه د عدالت تأمینول دي. الله تعالی فرمایي: ﴿يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُم بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ﴾ [سورة ص/۲۶]

ترجمه: اې داوده! موږ په ځمکه کې خليفه ټاکلی یې نو د خلکو ترمنځ په حقه فيصله کوه او په هوس پسې مه ځه چې بیا به دې د الله له لارې واړوي.

نو ملا محمد عمر مجاهد که د لمانځه ډېر اهتمام ساته او حتی د لمونځونو د اقامې، زده کړې او جماعت د ترویج لپاره یې ګڼ شمیر رسمي فرامین صادر کړي وو، دا کوم افراط یا سخت دریځي نه وه، بلکې د مسلمان حاکم په حیث د هغه اساسي وظیفه وه. لمونځ چې عماد الدين (د دين ستنه) بلل شوې تر ټولو مهم عبادت دی او په جماعت اداء کول یې دومره مهم دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو ټولو د لمانځه امامت خپله همیشنۍ وظیفه ګڼله.

د اسلامي امارت د رسمي جريدې ۷۸۸ فوق العاده ګڼه چې د امیر المؤمنین فرمانونو ته ځانګړې شوې، تر ټولو ډېر فرامین په کې د لمانځه په اړه دي، د دین اساسي عبادت لمانځه ته د ملا صاحب دومره توجه اصلا د صدر اسلام د صالحو خلفاوو سنت را ژوندي کول وو. په موطا امام مالک اول جلد شپږمه صفحه کې د عبدالله بن عمر له آزاد شوي غلام نافع څخه روایت دی چې فرمایي: أن عمر بن الخطاب رضی الله عنه كتب الی عماله أن أهم أمركم عندی الصلوة. فمن حفظها و حافظ عليها حفظ دينه، و من ضيعها فهو لما سواها أضيع. ژباړه: عمر بن الخطاب خپلو والیانو ته ولیکل چې زما په فکر ستاسو په کارونو کې اهم ترین کار لمونځ دی، څوک چې د لمانځه ساتنه او پابندي وکړي هغه خپل دین وساته او څوک چې لمونځ ضائع (خراب) کړي نو هغه به نور کارونه تر دې ډېر خراب کړي.

د عمر فاروق رضی الله عنه دا توصیه کوم عام لیک نه و، بلکې یو رسمي فرمان و چې په هغه کې د لمانځه وختونه هم بیان شوي وو. دغه راز د وروستیو خلفاوو (عثمان بن عفان او علی رضی الله عنهما) په اړه هم داسې روایات شته چې د خپل خلافت په وخت کې به یې خلکو ته د اوداسه او لمانځه تعلیم ورکاوه. او دا ځکه چې لمونځ د مسلمان په ژوند کې ډېر مهم نقش لري، د لمانځه په اصلاح سره د مکلف انسان ټول ژوند او کړه وړه اصلاح کیږي، همدا لمونځ دی چې انسان له ناوړه کارونو څخه منع کوي او دا چې د سیاست یوه معنی د أمورو تدبیر او اصلاح دی نو ځکه مسلمان

حاکم باید د فردي او اجتماعي اصلاح په مقصد د لمانځه اقامه کولو او اصلاح ته ډیر
توجه ولري.

په قران کریم کې ډیر ځله له لمانځه سره متصل د زکات حکم هم بیانیږي، نو ځکه
زکات هم همدومره مهمه فریضه ده او دا چې لمونځ د انسان روحاني روزنه کوي ا
زکات د فرد او ټولنې مالي کړنلاره اصلاح کوي، نو ځکه باید مسلمان حاکم د
فریضې ته هم بشپړه توجه ولري.

د مسلمان حاکم له مهمو وظائفو بل هم امر بالمعروف و نهی عن المنکر دی. مسلمان
حاکم په دې مکلف دی چې خپل رعیت د نیکیو او فلاح په خوا رهبري کړي او ل
بدو کارونو او تباهی څخه یې راوګرځوي چې همدا د امر بالمعروف و نهی عن المنک
معنی ده. اصلا امر بالمعروف و نهی عن المنکر په خپله درجه کې پر هر مسلمان فرض
دی. الله تعالی فرمایي: ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَ
وَتُؤْمِنُونَ بِاللهِ﴾ [آل عمرن/۱۱۰]

ترجمه: تاسو یو غوره امت یاست (له هغو نه) چې خلکو ته رابرسیره شوي دي چې
نیکۍ امر کوئ او له بدیو ایسارول کوئ او په الله ایمان لرئ.

دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: من رأى منكم منكراً فليغيره بيده، فإن
يستطع فبلسانه فإن لم يستطع فبقلبه وذلك أضعف الإيمان. رواه مسلم.

ژباړه: له تاسو که څوک بد کارویني نو په لاس دې منع کړي که د لاس وس یې نـ
وی په ژبه دې منع کړي او که د ژبې وس یې نه وي په زړه کې دې بد وګڼي او همدا د
ایمان تر ټولو ټیټه مرتبه ده.

په فتاوای عالمګیري ۵ جلد ۳۵۳ مخ کې راغلي دي: و يقال: الأمر بالمعروف باليد على
الأمراء، و باللسان على العلماء و، و بالقلب لعوام الناس.. یعني په لاس امر بالمعروف د
حاکمانو کار دی، په ژبه د علماوو کار دی او په زړه کې بد ګڼل د عامو خلکو کار
دی.

نو ملا محمد عمر مجاهد چې مسلمان حاکم و، دا شـرعا وربانـدې لازمـه وه چې پـه
لاس او ځواک سره خلک له بدو کارونو منع کړي او ښو کارونو ته يې رهبري کړي.
امر بالمعروف و نهی عن المنکر د مسلمان حاکم اساسي وظيفه ده، له دې پرته په ټولنه
کې فساد او ګډوډي خپرېږي. لکه څنګه چې پـه غـربي سيکولر حکومتدارۍ کې
کارونه په قانوني او غير قانوني تقسيم شـوي دي او سياسي واکمـن مکلـف دي چې
قانون عملي کړي او د بې قانونۍ مخه ونيسي. همداسې په اسلامي شـريعت کې ټـول
امور په حلال او حرام يا روا او ناروا ويشل شوي دي او مسلمان حاکم مکلف دی چې
خلک له حرامو څخه منع کړي او د روا کارونو ښودنه ورته وکړي. دا کار نـه افراطيت
دی او نه هم سخت دريځي بلکې په اسـلامي فرهنـګ کې د مسـلمان حـاکم اساسي
دنده او مکلفيت دی.

دغه راز مسلمان حاکم په دې مکلـف دی چې عـدالت تـأمين کـړي، شـرعي حـدود
جاري کړي او د شـرعي قضاء له مخې هر چا ته خپل حق وسپاري. د اسـلامي امـارت
په واکمنۍ کې حـدودو اجراء کول، له غلو او قطاع الطريقو لاس او پښه غوڅـول، دغـه
راز قاتلان په عام محضر کې قصاص کول د اسلامي عدالت تر ټولو ښکاره نمونې وې.
د همدې حدودو په برکت په هغه هيواد کې د نړۍ تر ټولو ډاډمـن امـن راغـی چې تـر
دې وړاندې په نړيواله کچه په بې امنيتۍ او ګډوډۍ کې بې سارۍ و. د حـدودو اجراء
او د اسلامي عدالت پلي کول د ملا محمد عمر مجاهد کوم شخصي ابتکار نه و، بلکې
همدا د اسلامي شـريعت غوښتنه وه چې ملا صاحب يې د مسلمان حاکم پـه حيث پـه
تنفيذ مکلف و.

غوی چې اسلامي عدالت په سخت دريځۍ تعبيروي، ښايي د اسلام له حقيقت څخه
ډېر ناخبره او يا به هم د دې مبارک دين د قوانينو په وړاندې د عناد په مـرض مبـتلاء
ي.

## بتانو ماتولو موضوع

ملا محمد عمر مجاهد يو انتقاد دادی چې د نوموړي په امر په باميـان کې د بـودا د
تانو په شمول پخوانۍ مجسمې ماتې شوې. دا موضوع يوه له هغو موضوعاتو څخه وه

چې کفري نړۍ ورباندې ډيره غوغا جوړه کړه. خو مـلا محمـد عمـر مجاهـد د هغو
فشار ته تسليم نه شو او د اسلامي افغانستان خاوره يې د کفر او شـرک لـه آثـارو څخ
تصفيه کړه.

دا چې ملا صاحب د بلې هرې مسئلې په شان دې موضوع ته هم له ديني نقطه نظ
کتل نو که موږ د قرآن کريم او احاديثو پلټنه وکړو او يا د اسلامي تاريخ مطالعه کړو
را معلومه به شي چې د ملا صاحب دا کار که څه هم د اسلام د دښمنانو په مـزاج بر
نه و اما له اسلامي لارښوونو سره يې بشپړ تطابق درلود.

د الله تعالى په نزد تر ټولو ستره گناه له الله سره شـريک نيـول دي او دا چې بتـان
تماثيل د الله تعالى د شـريکانو په حيث لمانځل شـوي نـو ځکـه الله تعـالى تـه ډ
مبغوض دي او پيغمبرانو ته يې د ماتولو امر شوى دى. په قران کريم کې د ابراهيم ع
السلام لخوا د بتانو د ماتولو واقعه، دغه راز د موسى عليه السـلام لخـوا د سـامري د ب
سوځولو او بيا ذره ذره کولو واقعات بيان شوي دي. الله تعالى د سامري د بت په واق
کې له موسى عليه السـلام څخـه حکايـت کـوي چـې ويـې ويـل: ﴿وَانظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّ
ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا لَّنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا﴾[طه/۹۸]

ژباړه: او خپل هغه خداى (بت يا معبود) ته دې وگوره چې ته يې په عبادت ټينگ و
وې، موږ به هغه وسوځوو او ذره ذره به يې په سيند کې وغورځوو.

همدا شان په احاديثو کې راځي چې زموږ د پيغمبر محمد صـلى الله عليـه وسـلم ي
مهمـه وظيفـه د بتـانو مـاتول و. عن عمرو بن عبسة انه قال للنبى صلى الله عليه وس
وَبِأَيِّ شيءٍ أَرْسَلَكَ، قالَ: أَرْسَلَنِي بصِلَةِ الأرْحَامِ، وَكَسْرِ الأوْثَانِ، وَأَنْ يُوَحَّدَ اللَّهُ لا يُشْرَكُ
شيءٌ. . . رواه مسلم. له عمرو بن عبسة رضى الله عنه څخه روايت دى دى وايـي چ
رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مې وويـل: تـه د کـوم کـار لپـاره رالیـږل شـوى ي
ځواب يې راکړ، د خپلوي پاللو او بتانو ماتولو او د دې لپاره چې په واحد خـداى
جلاله عقيده وساتل شي او هيڅ شـريک ورسره ونه نيول شي.

همدا راز په صحیح البخاري صحیح مسلم، نسائي، طبقات ابن سعد او د احادیثو په نورو کتابونو کې روایات دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله مکه فتح کړه، نو بتان یې مات کړل،دغه راز یې جریر بن عبدالله، خالد بن ولید، مغیرة بن شعبة، ابو سفیان بن الحرب، علی بن ابی طالب، عمرو بن العاص او طفیل بن عمرو رضی الله عنهم یمن، نخله، طائف، الفلس او نورو ځایونو ته ولیږل تر څو د مشرکینو مشهور بتان مات کړي.

که په تاریخي لحاظ وګورو هم زموږ په اسلامي هیواد کې د بت شکنۍ ډیرې بیلګې وینو. په معجم البلدان دوهم ټوک ۴۳۴ ص کې راغلي چې د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه په زمانه کې کله چې د عبد الرحمن بن سمرة رضی الله عنه په مشرۍ مجاهدینو د افغانستان سیستان نومې سیمه فتحه کړه، نو هلته د زمینداور په سیمه کې خلکو په یوه غره باندې د سروزرو بت ایښی و، نو عبدالرحمن بن سمرة د هغه لاسونه غوڅ کړل او بیا مجاهدینو هغه ټوټه ټوټه کړ.

دغه راز ابن الجوزي په تلبیس ابلیس ۷۷ صفحه کې وایي چې کله مسلمانان په لومړي ځل بلخ ته ورسیدل نو هلته یې د بلخ د خلکو بت مات کړ. لوی مؤرخ ابن کثیر په البدایة والنهایة کې لیکي چې د افغانستان مشهور حاکم سلطان محمود غزنوي چې په ۳۱۶ هـ کال کې په هند کې غزا کوله نو هلته یې د سومنات په نوم مشهور بت مات کړ.

ځینې خلک دا اعتراض کوي چې که د بامیانو د بتانو ماتول پر ځای کار وای نو باید دافغانستان پخوانیو مسلمانو حاکمانو دا کار کړی وای. دا سوال یوازې د بامیانو د بت په اړه نه بلکې په مصر کې د فرعوني اهرام او د شرک او کفر د نورو پخوانیو اثارو په اړه هم کیږي. علامه ابن خلدون په خپل کتاب مقدمه کې په صفحه ۳۸۳ کې دې سوال ته په ځواب کې ویلي چې له اسلام نه وړاندې د جهالت د وخت ځینې بتان او آثار د ډیرو کلونو او حتی پیړیو په ترڅ کې دومره محکم جوړ شوي چې یو مخ ورانول یې آسان کار نه و. د بیلګې په توګه عباسي خلیفه هارون رشید اراده وکړه چې د کسری ایوان ونړوي، دغه راز مأمون په مصر کې د فرعوني اهرامو د نړولو اراده وکړه، خو له ډیرو هڅو سره سره هم ونه توانیدل چې یو مخ یې ونړوي. که د بامیانو د بتانو

تصویرونه وکتل شي معلومیږي چې له طالبانو وړاندې یې هم د نړولو هڅې شوې وې، ځکه پښې او د بدن ځینې برخې یې خرابې شوې وې،د تاریخي روایاتو له مخې د اموي خلیفه ولید بن عبدالملک، اورنګزیب عالمګیر او په وروستیو کې د امیر عبدالرحمن لخوا هم د بودا مجسمو د نړولو هڅې شوې وې او ځینې برخې یې له منځه وړل شوې وې اما څرنګه چې دا بتان په ډیرو کلکو ډبرو کې کیندل شوي وو نو ځکه یې د پخوا زمانې په وسائلو نړول آسانه کار نه و.

نو خلاصه دا چې ملا محمد عمر مجاهد د بتانو د نړولو موضوع ته له دیني زاویې کتل او له دیني اړخه د بتان نړول یو پر ځای او غوره تاریخي کار و چې په دې ډول ملا صاحب د ابراهیم علیه السلام،موسی علیه السلام، رسول الله صلی الله علیه وسلم، علي بن ابي طالب، خالد بن ولید، عمرو بن العاص، عبد الرحمن بن سمرة ر ضی الله عنهم او په افغان تاریخ کې د سلطان محمود غزنوي رحمه الله کارنامه را ژوندۍ کړه. د ایمان او توحید خاوندان یې خوشال او د کفر، شرک او فسق پیروان یې خوابدي کړل.

هغه وخت چې د بودا بتانو د نړولو لپاره تیاری نیول کیده د امریکا په نیویارک کې د مشهور موزیم میترو پولیتن لخوا طالبانو ته وړاندیز وشو چې دغه بتان دې د ماتولو په ځای ورباندې خرڅ کړي. خو ملا صاحب دا غوره بلله چې په تاریخ کې د بت فروش نه بلکې د بت شکن په حیث یاد شي.

****

# پنځم فصل

## د امارت مقام او د اميرالمؤمنين روزمره فعاليت

ملا محمد عمر مجاهد اسلامي واکمني د افغانستان په جنوب کې له کندهار ښار څخه اعلان کړه او د امريکايي يرغل تر وخته په کندهار کې پاته شو چې له همدې ځايه يې د ټول افغانستان نظامي او ملکي چارې کنټرولولې.

د افغانستان اوسنی پلازمينه کابل دی، وزارتونه، عمومي رياستونه، ستره محکمه او د حکومت اجرائيه دستگاه که څه هم په کابل کې وه خو بيا يې هم مهمې او د امارت مقام اړوند چارې خپله د ملا محمد عمرمجاهد لخوا اداره کيدلې.

دا چې د طالبانو اسلامي تحريک له کندهار څخه راپورته شو، د تحريک اکثره نظامي مشران هم د کندهار او شاوخوا ولاياتو څخه وو، اکثره نظامي ډلگيو په کندهار کې خپلې نمايندگۍ درلودې او له همدې ځايه به يې تشکيلات کيدل. بله دا چې د اسلامي امارت د وسلو او پوځي امکاناتو تر ټولو سترې زيرمې هم په کندهار کې وې. د دې لپاره چې د مجاهدينو تشکيلات او رهبري په سمه توگه ترسره شي، ملا صاحب د کابل پر ځای په کندهار کې اوسيدل غوره گڼل.

ملا صاحب د امارت د واکمنۍ په ټوله موده کې کابل ته يوازې يو ځل څو ورځنی سفر وکړ، ښايي د امارت په مقام کې د ورځنيو چارو ډيرښت و چې په وروستيو کلونو کې ملا صاحب حتی د کندهار څنگلورو ولاياتو ته هم ډېر سفر نه کاوه او ټول وخت يې په کندهار کې په خپل ميشت ځای او کار ځای( د امارت مقام)کې تيرېده.

### د اميرالمؤمنين دفتر او عامه مراجعين

ملا محمد عمر مجاهد د تحريک له پيل نه بيا د کندهار د نيولو تر وخته کوم معلوم دفتر نه درلود. دا وخت د ده کور د کندهار د ميوند په سنگ حصار سيمه کې په

پخواني ځای کې و او ورځنی مصروفیت یې د نظامي چارو سمبالول او تحریک ته د ملاتړو او نویو ګډونوالو جلبول و.

د کندهار له فتحې وروسته ملا صاحب د کندهار ښار د ولایت په مقام کې میشت شو او له همدې ځایه یې په رسمي توګه د تحریک د مشر په حیث کار پیل کړ. په دې وخت کې د تحریک عالي شورى هم د ولایت په مقام کې ترسره کیدله چې زیاتره غونډې به یې د ډیرو مصروفیتونو له امله د ورځې پرځای د شپې مهال کیدلې. ملا صاحب د نظامي مصروفیت له امله کله کله جنګي کرښو ته تلو او مصروفیت یې هم تر ډیره حده نظامي و.

په دې مرحله کې د ملاصاحب د ملاقاتونو د تنظیم او عرائضو لپاره کوم خاص ترتیب موجود نه وو. ملا صاحب چې د ولایت د مقام په کوم اطاق کې اوسیده هماغه یې دفتر هم و. کله چې به پر ځای و نو له سهاره تر ماښامه یې ملاقاتونه او د عرائضو کتل هم مهاله ترسره کول. ملکي، نظامي عرائض او ولسي درخواستونه ټول مخامخ دفتر ته راتلل او ملا صاحب به ځای پر ځای اجراء کول. په دې مرحله کې مراجعینو کولای شوای پرته له خنډه او ځنډه له ملاصاحب سره ملاقات وکړي.

په همدې مرحله کې د ۱۳۷۴ لمریز کال د سرطان د میاشتې په دوهمه نیټه د ملا صاحب د لزومدید له مخې مولوي وکیل احمد متوکل چې تر دې وړاندې د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رئیس و د ولایت په مقام کې د عالي شورا د مشاور او د ملا صاحب د دفتر د منشي په حیث وټاکل شو. متوکل صاحب د ملا صاحب دفتر په منظم ډول فعال کړ. په دې وخت کې به ملا صاحب چې له نظامي چارو او ملاقاتو څخه فارغ شو راغلي عرایض به ورته وړاندې کیدل او احکام یې صادرول.

لږ وخت وروسته چې د ملا صاحب د دفتر کارونه زیات شول ملا عبدالسلام کاتب هم په دفتر کې وټاکل شو چې بیا تر پایه د ملا صاحب د ځانګړي محرر په حیث د امارت په مقام کې په وظیفه بوخت و. د دفتر کارکوونکو به په روزمره شکل د حکومتي او غیر حکومتي عارضینو عرائض تسلیمول، ترتیبول او وروسته به یې د ملا صاحب د هدایت سره سم احکام وربانديې لیکل.

دا مرحله او بیا هغه وخت چې د امارت دفتر د کندهار ارګ ته انتقال شو، د ملاصاحب د تر ټولو زیات د مصروفیت کلونه وو. ځکه په دې مرحله کې په ځو خواوو کې نظامي عملیاتو جریان درلود او مجاهدینو به هره شیبه د اکمالاتو، د تازه دمو ځواکونو د لیږلو او یا نورو ضروریاتو غوښتني کولې او یا به یې د نظامي پرمختګونو په اړه هدایات غوښتل. دغه راز هغه وخت امارتي اداري او محاکم بشپړ نه و فعال شوي. د ملکي چارو احیاء د امارت د مقام ډیره توجه غوښته، ډیرو خلکو خپلې حقوقي لانجې هم د امارت مقام ته راوړې او ملاصاحب چې د عارضینو خبره یې له نظره نه غورځوله، شخصا به یې عریضې قبلولې او د حل او فصل لپاره به یې کوښښ کاوه. ځینې موضوعات به همدلته حل کیدل، ځینې لوی موضوعات به تر امر ثاني پورې معطل کیدل تر څو د امارت محاکم ثلاثه په سمه توګه فعال شي او ځینې به یې په اختصاصي ډول د تکړه علماء کرامو هیئت ته سپارل تر څو یې حل راوباسي.

کله چې دفتر د ولایت له مقام څخه د کندهار ارګ ته انتقال شو، نو دغه وخت د ارګ د داخلي دروازې سره یو امنیتي ګروپ ځای په ځای شو چې د دروازې امنیت یې ساته. دغه ځای په نظام قراول ونومول شو. په دې وخت کې به عارضینو مخامخ ملا صاحب ته عریضه نه وړاندې کوله، بلکې د نظام قراول مسؤلینو ته به یې لیکل شوې عریضه سپارله او د یوه خاص مسؤل شخص په واسطه به عرائض ملا صاحب ته رسیدل. ولسي عرائض به جمع کیدل او سهار به تر ټولو مخکې په یو ځای ملا صاحب ته اینبودل کیدل چې تر اجراء وروسته به بیرته د نظام قراول مسؤلینو عارضینو ته سپارل. نور ملکي او نظامي درخواستونه به د ورځې په جریان کې تر غرمې او ماښامه ملا صاحب ته وړاندې کیدل او که به ملا صاحب به دفتر کې و نو د ماخستن د خوب تر وخته یې د عرائضو او مکتوبونو کتلو او اجراء ته دوام ورکاوه.

د یادونې وړ ده چې امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ته د درخواست یا عریضې وړاندې کولو کوم خاص شرط او قید نه درلود. هر چا کولای شوای د هر وړ موضوع په اړه خپل غږ تر امیر المؤمنین ورسوي. چې په مقابل کې ملا صاحب لیکلی هدایت

يا حکم ورکاوه، يا به شفاهي هدايت ورکول کيده او که به عريضه د اجراء وړ نه وه نـو معذرت خواهي به ورته ليکل کيدله.

د پلازميني کابل له نيولو وروسته د ملا صاحب د دفتر کارکوونکي نور هم زيات شول، چې ورسره د دفتر په اداري کارمندانو کې هم زياتوالی راغی. د ارتباط خارجه څانګه دغه راز د مالي امورو د تنظيم لپاره ځانګړې شعبه فعاله شوه چې د امارت د مقام لخوا د ورکول کيدونکو پيسو د حسابونو د ثبت او سجل مسؤليت يې درلود. دغه راز په نظام قراول کې د مراجعينو د هوساينې لپاره داسې نظم رامنځته شو چې د حکومتي او ولسي مراجعينو لپاره ځانګړې لارې او انتظارګاوې جوړې شوې او د ښځينه عارضينو لپـاره د ستر او حجاب له رعايت سره د عرائضو د تسليم خاص ترتيب رامنځته شو.

دغه وخت ملا صاحب د عامه عرائضو کتلو ته له سهار تر غرمي رسمي وخـت وټاکـه. له هغه وروسته يې يوازې عاجل او ضروري عرائض اجراء کـول او نـور وخـت يـې لـه ملکي او نظامي مسؤلينو سره په ليدو کتو، دغه راز لـه علـماء کرامـو، قـومي مشـرانو، د ټولنې له بيلابيلو اقشارو او کله ناکله له بهره راغليو وفدونو سره په ملاقاتونو تېريده او په عين حال کې به يې د لويې مخابرې له لارې د جهادي سنګرونو له مجاهدينو او نظامي مشـرانو سره هم احوال اخيست او د هغوی له حاله يې ځان باخبره ساته.

کله چې د ملا صاحب په کور دروند انفجار ترسره شو، نو د امنيتي ملحوظاتو په خـاطر څه وخت ملا صاحب خپل کور ته نږدې يو سرای د دفتر پـه حيـث انتخـاب کـړ. خـو عرائض د پخوا په څير د ارګ په نظام قراول کې تسليميدل او له اجراء وروسـته همالتـه خلکو ته سپارل کيدل. ملا صاحب دلته شاوخوا يو کال تېر کړ. تر څـو نـوی دفـتر او د امارت مقام جوړ شو. وروستی يو نيم کال چې ملا صاحب د امارت په نوي جوړ شوي مقام کې اوسيده، بيا هم عرائض په پخواني ترتيب د ارګ په نظام قـراول کـې اخيسـتل کيدل او په هماغه ترتيب اجراء کيدل. دغه وخت چې نظـامي فعاليتونـه تـر پخـوا کـم شوي وو، ورسره د امارت دفتري امور هم خپل منظم چوکاټ ته لويدلي وو، نو ځکه د ملاصاحب مصروفيت او ستړيا تر پخوا کمه شوې وه. د امارت د واکمنۍ وروسـتی يـو نيم کال د ملاصاحب لپاره نسبتا د هوساينې وخت وو.

**په اونۍ کې شپږ شبانه روزه مصروفیت**

د ملا صاحب کور د تحریک له پیل نه بیا تر یوه کال پورې په پخواني ځای د میوند په سنګ حصار کې و، د هرات له فتحې وروسته یې کور د کندهار د نساجي سیمې ته راووست او وروسته یې د کندهار ښار د والي کوټۍ او میخانیکي لیسې تر منځ حکومتي ځای د کور لپاره انتخاب کړ چې همدلته وربانديې دروند انفجار هم ترسره شو. تر انفجار وړاندې د ملا صاحب کور او دفتر همیشه سره لرې و، په دې موده کې چې د اسلامي امارت د واکمنۍ اکثره موده وه ملا صاحب په اونۍ کې یوازې یوه شپه کور ته تلو او د اونۍ نورې شپږ ورځې او شپې یې ټولې په دفتر او کارځای کې تیرولې.

د ملا صاحب نږدې ملګري وایي چې هغه هر وخت کار ته اماده و، تردې چې په نیمه شپه به هم د مخابرې په خصوصي نمبر کې وربانديې غږ وشو بې ځوابه یې نه پریښود.

د ملا صاحب د امنیتي مسؤلینو له جملې یو ملګری وایي ملا صاحب د امارت له نورو چارواکو سره د رابطې بیلابیل نمبر درلودل چې په دې کې یو نمبر د اول نمبر مخابرې و چې د کندهار ښار په سطحه له خاصو کسانو سره و. یوه ورځ د کندهار والي ملا محمد حسن رحماني او ملګري یې پنجوایي ته تللي وو او د بیرته راتګ په مهال د شپې ناوخته د پنجوایي په دوراهي امنیتي مسؤلینو ځکه درولي وو چې د شپې نوم ورسره نه و.

د شپې دوه بجې وې چې والي صاحب په اول نمبر کې په امنیه قومندان حافظ عبدالمجید غږ وکړ، په اول غږ باندې چا ځواب ونه وایه خو چې دوهم غږ یې وکړ، ملا صاحب غږ وکړ او پوښتنه یې وکړه چې څه مشکل دی. هغه ورته ستونزه یاده کړه او وروسته ملا صاحب د امنیت له طالبانو سره خبره وکړه او والي صاحب ته یې لاره ورکړه. داسې مثالونه نور هم شته چې له دې څخه معلومیده چې نوموړی د شپې هم غافل نه و.

**له سهاره تر ماښامه**

ملا صاحب ته راتلونکي عرایض یو ډول نه وو بلکې هر چا هر ډول عریضه د امارت مقام ته وړاندې کوله، له ملکي عرایضو، شکایاتو، د دعواوو په اړه د استیناف یا د محکمې د تبدیل غوښتنلیکونه، د نظامي مسؤلینو شکایات او غوښتنلیکونه، د زخمیانو، فلج شویو مجاهدینو او عامو خلکو د مالي مرستې غوښتنلیکونه او نور ډول ډول عرایض د امیرالمؤمنین دفتر ته راتلل. زیاتره ولسي عرایض د ملا عبدالسلام کاتب لخوا امیرالمؤمنین ته وړاندې کیدل او اوامر ورباندې لیکل کیدل، د نظامي عرایضو کار د ملا عبدالاحد جهانګیروال صاحب او د مالي او نقدي کومک د عرایضو کار د حافظ عبدالغني صاحب په غاړه و.

له دې برخې سره په څنګ کې د لویې مخابرې څانګه وه چې مسؤلیت یې د ملا حیات الله آخند (نصرت حاجي لالا) په غاړه و د دې مخابرې له لارې د هیواد له ګوټ ګوټ نه له جنګي کرښو او نظامي مراکزو څخه نظامي مشرانو او له ولایاتو څخه والیانو له ملاصاحب سره اړیکه نیوله او د خپلو ورځینو چارو په اړه یې هدایات اخیستل. نوموړی په ورځني شکل د هیواد په ټولو برخو کې له نظامي قومندانانو او جنګي کرښو له مسؤلینو سره په رابطه کې و، ورځني ملاقاتونه یې هم زیاتره له نظامي مسؤلینو سره و.

یوه بله شعبه چې د ملا صاحب ورځني کار ورسره اړیکه درلوده هغه د سید طیب اغا تر مشرۍ لاندې هغه شعبه وه چې د بهرنیو اړیکو، اعلام او اداري امورو د تنظیم مسؤلیت یې درلود. دا شعبه د ځای په لحاظ د امیرالمؤمنین له دفتر نه جلا خو ورځنی کار یې ورسره تړلی و. د دې څانګې لخوا له امیرالمؤمنین سره د د داخلي او خارجي علماء کرامو، سیاسي مشرانو، یا د امارت د ملکي مسؤلینو او وزیرانو ملاقاتونه تنظیمیدل. دې څانګې د امیرالمؤمنین رسمي بیانات او اعلامیې هم ترتیبولې چې د ملاصاحب له تصویب وروسته به رسنیو ته لیږل کیدلې. که به کومې رسنۍ یا خبریال له ملا صاحب سره د مرکې غوښتنه درلوده هم د همدې شعبې له لارې یې رابطه کوله.

دغه راز هغه ځانګړي خطونه چې ملاصاحب د نړۍ ځینو مشرانو تـه لیږل د همدې ځانګې لخوا یې د استولو کار ترسره کیده.

په پلازمینه کابل کې د مرکزي حکومت په خاص ډول د وزیرانو شورۍ پیشنهادونه، مصوبات، عرائض یا نور لیکونه چې د اداره امور لخوا د امیرالمؤمنین د دفتر په ادرس لیږل کیدل په کندهار کې د همدې ځانګې لخوا ترلاسه کیدل او بیا د نهایي تائید لپاره ملاصاحب ته وړاندې کیدل چې له توشیح وروسته د اړتیا په صورت کې بیرته کابل ته استول کیدل. د دې ځانګې په دفتر کې یو ځانګړی بخش د مرکز الاعلام تر نوم لاندې رسنیز فعالیت درلود. د مرکزالاعلام لخوا په عربي او انګلیسي ژبو د (الامارة الاسلامیة) په نوم میاشتنۍ مجله چاپیدله.

### همیشنی پوځي قومندان

دا یو منل شوی حقیقت دی چې د واک او ځواک د اکتساب او دفاع په مبارزو کې مهم او ټاکونکی عامل پوځي یا نظامي قوت دی چې پر ارزښت یې سترګې نه شي پټیدای. زموږ دین اسلام د وخت دودیزه وسله یا جنګي وسیله (غشي-ویشتل) په ( قوت) سره تعبیروي. همداراز د رسول الله صلی الله علیه وسلم جهادي ژوند او له رحلت وروسته ترې د پاته شویو پوځي وسائلو لکه تورو، نیزو، لیندیو او ډالونو تنوع او ډیرښت موږ ته راښیي چې پوځي اړخ ته توجه د یوه نظام یا خوځښت د بقا او پرمختیا لپاره څومره اړینه مسئله ده.

ښایي د همدې اهمیت پیژندنې اثر به و چې ملا محمد عمر مجاهد د خپل زعامت په مهال ډیره توجه نظامي اړخ ته درلوده او ورځنۍ بوختیا یې د یوه سیاسي مشر په نسبت تر ډیره د یوه نظامي قومندان په څیر وه.

که څه هم په وروستیو کې د اسلامي امارت د دفاع وزارت لخوا د منظم پوځ د جوړولو پروګرام د حربي ښوونځي او حربي پوهنتون د روزنیزو پروګرامونو په توسط پیل شو، خو له لویه سره د اسلامي امارت پوځي تشکیلات له بیلابیلو ډلګیو څخه جوړ شوي وو چې د ډلګۍ مشر په نوم به یې یو تن مسؤل او نور تر امر لاندې افراد وو او ډلګۍ

مشر به په مخامخ ډول امیرالمؤمنین ته مسؤل و. د پوځي ډلګیو جوړول، انحلال یا په نورو کې مدغمول، د هغوی د مشرانو ټاکل او عزل کول، هغوی ته د وظیفوي استقامتونو ټاکل او تقریبا اکثره چارې یې مخامخ تر امیرالمؤمنین پورې تړلې وې. که ووایو چې ملا محمد عمر مجاهد د طالبانو د تحریک ټول ډلګی مشران چې شمیر یې تر سلګونو اوښت هر یو په نوم او څېره پیژاند نو مبالغه به نه وي.

ملا صاحب له مهمو نظامي ډلګی مشرانو سره مستقیمه، ژوندۍ او حتی په خاصو حالاتو کې د ورځې او ساعتونو په حساب رابطه درلوده، د کټونکو په باور د ملا محمد عمر مجاهد د بریا له رازونو یو دا و چې نوموړي د یوه پوځي قائد په حیث د نظامي استعداد درلودونکي خلک ډېر ښه پیژندل او په اغیزناکه توګه یې استخدامول. نوموړي چې کوم کسان د پوځي مشرانو او مسؤلینو په حیث تعین کړي وو تقریبا ټول یې په خپلو دندو کې بریالي وو. هغوی د دوستم غونډې له کمونیستي جنرالانو نیولې د افغانستان د کورنیو جګړو تر نورو تجربه کارو جنګیالیو پورې د افغانستان د پوځي ډګر نږدې ټول لوبغاړي د جګړې په ډګر کې مات او له صحنې وایستل.

که د طالبانو د پوځي برلاسي او فتوحاتو اصلي عامل د هغوی حقانیت، د ارمان او داعیې تقدس او له هغوی سره د الهي نصرت ملګرتیا وه د پوځي بریا د ظاهري عواملو له جملې تر ټولو بارز یې د پوځي تشکیلاتو تر شا د امیرالمؤمنین له حوصلې ډکه قومنده، بشپړ ملاتړ، هماهنګي او د هغوی کارنامو ته په درنښت کتل و چې مجاهدینو ته یې روحیه او انګیزه ورکوله او د جهاد په لاره کې یې له هیڅ راز قربانۍ څخه هم ځان نه دریغاوه.

په عادي حالاتو کې به ملا صاحب ماختسن له هغه وروسته د خوب او آرام بستر ته ځان سپاره چې یو ځل به یې د ټولو جنګي کربښو د وضعیت راپور ترلاسه او د هغوی د اکمالاتو یا نورو ضرورتونو د رفع کولو لپاره به یې لازم هدایات صادر کړل او کله به که طالبانو پر کومه خوا جنګي عملیات پیل کړي وو، د پرمختګ یا شاتګ په حال کې به و او یا به هم چیرته محاصره او په سخت حالت کې وو په داسې حال کې به ملاصاحب خپله د لویې مخابرې له لارې له اړونده نظامي مشرانو سره په رابطه کې و

او شیبه په شیبه یې د هغوی حال اخیست او لازم هدایات به یې ورته کول، د هغوی د ضرورتونو د رفع کولو هڅه به یې کوله او په خپله ژوندۍ ملګرتیا یې د هغوی مورال لوړ ساته.

له نظامي مجاهدینو سره د امیرالمؤمنین همدې همغږۍ که له یوې خوا هغوی د سترو فتوحاتو جوګه کول، له انحرافاتو او جنګي اشتباهاتو یې هم ساتل، بل اړخ ته یې په سخت حالت کې هم هغوی په خپله خاصه رهنمایي له تلفاتو او خطرونو ساتل. په ۱۳۷۶ لمریز کال کې چې طالبان د سالنګ له تونله ووتل تر پلخمري ورسیدل او بیا په مرکزي بغلان کې محاصره شول،د محاصره طالبانو له نظامي مشرانو سره د ملا صاحب همیشنۍ مخابروي ملګرتیا دوی د دې جوګه کړل چې په سخت حالت کې خپل نظم او جمعي حالت وساتي، روحیات ونه بایلي او د یوه پر ځای پلان په اساس کندز فتحه او د هوایي ډګر په نیولو سره د بشپړې محاصرې له حالته ځان وباسي.

په جګړه ایزو حالاتو کې له مجاهدینو سره د امیرالمؤمنین د همیشنۍ مخابروي ملګرتیا خبره دومره مشهوره وه چې حتی د اسلامي امارت مخالفین هم پرې خبر وو. احمدشاه مسعود یو ځل په یوه وینا کې خپلو عسکرو ته چې د ده له اوامرو یې سرغړاوه د پیغور په ډول ویلي وو چې ملا محمد عمر له کندهاره په تخار کې په طالب غږ وکړي او هغه یې په سر سترګو قبلوي او اطاعت یې کوي مګر تاسو مخامخ زما اوامر نه منئ او په خپل سر ځغلئ.

د افغانستان په جګړه ایز تاریخ کې دا دود پاته شوی چې سیاسي مشران له خپلو پوځي کسانو او جنګیالیو د محروقاتو په حیث استفاده کوي، هغوی د خپلو سیاسي اهدافو لپاره استخداموي او نور ورته لازم التفات نه کوي او نه یې هم د قربانیو قدرداني کوي. خو ملا محمد عمر مجاهد چې له لویه سره یې مبارزه په دیني او معنوي اساساتو ولاړه وه له خپلو جهادي ملګرو سره یې ژور عقیدوي تړون او اخلاص درلود. لکه الله تعالی چې مجاهدین او غازیان تر نورو خلکو افضل بللي او فرمایلي یې دي ﴿فضل الله المجاهدین علی القاعدین اجرا عظیما﴾

ژباړه: الله تعالی فضیلت ورکړی مجاهدینو ته په ناستو خلکو په لوی اجر سره.

او شیبه په شیبه یې د هغوی حال اخیست او لازم هدایات به یي ورته کول، د هغوی د ضرورتونو د رفع کولو هڅه به یې کوله او په خپله ژوندی ملګرتیا یې د هغوی مورال لوړ ساته.

له نظامي مجاهدینو سره د امیرالمؤمنین همدې همغږی که له یوې خوا هغوی د سترو فتوحاتو جوګه کول، له انحرافاتو او جنګي اشتباهاتو یې هم ساتل، بل اړخ ته یې په سخت حالت کې هم هغوی په خپله خاصه رهنمایي له تلفاتو او خطرونو ساتل. په ۱۳۷٦ لمریز کال کې چې طالبان د سالنګ له تونله ووتل تر پلخمري ورسیدل او بیا په مرکزي بغلان کې محاصره شول،د محاصره طالبانو له نظامي مشرانو سره د ملا صاحب همیشنی مخابروي ملګرتیا دوی د دې جوګه کړل چې په سخت حالت کې خپل نظم او جمعي حالت وساتي، روحیات ونه بایلي او د یوه پر ځای پلان په اساس کندز فتحه او د هوایي ډګر په نیولو سره د بشپړې محاصرې له حالته ځان وباسي.

په جګړه ایزو حالاتو کې له مجاهدینو سره د امیرالمؤمنین د همیشنی مخابروي ملګرتیا خبره دومره مشهوره وه چې حتی د اسلامي امارت مخالفین هم پرې خبر وو. احمدشاه مسعود یو ځل په یوه وینا کې خپلو عسکرو ته چې د ده له اوامرو یې سرغړاوه د پیغور په ډول ویلي وو چې ملا محمد عمر له کندهاره په تخار کې په طالب غږ وکړي او هغه یې په سر سترګو قبلوي او اطاعت یې کوي مګر تاسو مخامخ زما اوامر نه منئ او په خپل سر ځغلئ.

د افغانستان په جګړه ایز تاریخ کې دا دود پاته شوی چې سیاسي مشران له خپلو پوځي کسانو او جنګیالیو د محروقاتو په حیث استفاده کوي، هغوی د خپلو سیاسي اهدافو لپاره استخداموي او نور ورته لازم التفات نه کوي او نه یې هم د قربانیو قدرداني کوي. خو ملا محمد عمر مجاهد چې له لویه سره یې مبارزه په دیني او معنوي اساساتو ولاړه وه له خپلو جهادي ملګرو سره یې ژور عقیدوي تړون او اخلاص درلود. لکه الله تعالی چې مجاهدین او غازیان تر نورو خلکو افضل بللي او فرمایلي یي دي ﴿فضل الله المجاهدين على القاعدين اجرا عظيما﴾

ژباړه: الله تعالی فضیلت ورکړی مجاهدینو ته په ناستو خلکو په لوی اجر سره.

او شیبه په شیبه یې د هغوی حال اخیست او لازم هدایات به یې ورته کول، د هغوی د ضرورتونو د رفع کولو هڅه به یې کوله او په خپله ژوندۍ ملګرتیا یې د هغوی مورال لوړ ساته.

له نظامي مجاهدینو سره د امیرالمؤمنین همدې همغږۍ که له یوې خوا هغوی د سترو فتوحاتو جوګه کول، له انحرافاتو او جنګي اشتباهاتو یې هم ساتل، بل اړخ ته یې په سخت حالت کې هم هغوی په خپله خاصه رهنمایي له تلفاتو او خطرونو ساتل. په ۱۳۷٦ لمریز کال کې چې طالبان د سالنګ له تونله ووتل تر پلخمري ورسیدل او بیا په مرکزي بغلان کې محاصره شول،د محاصره طالبانو له نظامي مشرانو سره د ملا صاحب همیشنۍ مخابروي ملګرتیا دوی د دې جوګه کړل چې په سخت حالت کې خپل نظم او جمعي حالت وساتي، روحیات ونه بایلي او د یوه پر ځای پلان په اساس کندز فتحه او د هوایي ډګر په نیولو سره د بشپړې محاصرې له حالته ځان وباسي.

په جګړه ایزو حالاتو کې له مجاهدینو سره د امیرالمؤمنین د همیشنۍ مخابروي ملګرتیا خبره دومره مشهوره وه چې حتی د اسلامي امارت مخالفین هم پرې خبر وو. احمدشاه مسعود یو ځل په یوه وینا کې خپلو عسکرو ته چې د ده له اوامرو یې سرغړاوه د پیغور په ډول ویلي وو چې ملا محمد عمر له کندهاره په تخار کې په طالب غږ وکړي او هغه یې په سر سترګو قبلوي او اطاعت یې کوي مګر تاسو مخامخ زما اوامر نه منئ او په خپل سر ځغلئ.

د افغانستان په جګړه ایز تاریخ کې دا دود پاته شوی چې سیاسي مشران له خپلو پوځي کسانو او جنګیالیو د محروقاتو په حیث استفاده کوي، هغوی د خپلو سیاسي اهدافو لپاره استخداموي او نور ورته لازم التفات نه کوي او نه یې هم د قربانیو قدرداني کوي. خو ملا محمد عمر مجاهد چې له لویه سره یې مبارزه په دیني او معنوي اساساتو ولاړه وه له خپلو جهادي ملګرو سره یې ژور عقیدوي تړون او اخلاص درلود. لکه الله تعالی چې مجاهدین او غازیان تر نورو خلکو افضل بللي او فرمایلي یې دي ﴿فضل الله المجاهدین علی القاعدین اجرا عظیما﴾

ژباړه: الله تعالی فضیلت ورکړی مجاهدینو ته په ناستو خلکو په لوی اجر سره.

ملا صاحب هم نظامي مجاهدین تر نورو لوړ او معزز بلل، هغوی ته یې په اکمالاتو او اعزازاتو کې د اولیت حق ورکاوه، د هغوی شهیدان یې ډېر ځله د چورلکو په توسط تر کورونو رسول، د هغوی د بندیانو د ازادۍ او د زخمیانو د علاج لپاره یې ټولې ممکنه هڅې کولې تر دې چې په افغانستان او ګاونډیو هیوادونو کې د علاج نه کیدلو په صورت کې یې ځیني ټپیان حتی اروپایي هیوادونو ته لیږل تر څو یې سمه معالجه وشي. او د زخمیانو د تداوۍ د څانګې مسؤلینو ته یې امر کړی و چې که د ډاکټر د نظر مطابق د یوه زخمي علاج ممکن وي د مصارفو پروا یې مه کوئ او هر ځای چې علاج کیدلای شي وربانديې علاج وکړئ. کوم کسان چې په پخواني یا د امارت د مرحلې په جهاد کې فلج شوي وو د امیرالمؤمنین لخوا د ګرځیدو لپاره موټر ورکول کیده.

ملا صاحب چې خپله یې عادي غذا خوراک وه او په ملکي اداراتو کې یې هم په ډوډۍ او میلمستیاوو کې د عادي خوراکونو د تیارولو دود عملي کړی و کله به چې د جهادي کرښو د مجاهدینو د متنوعو خوراکونو په اړه ورته شکایت راغی. نو ویل به یې(هغه څوک چې خپل سر یې د الله تعالی د دین د حاکمیت لپاره وقف کړی زه یې په هغه مصرف نه رانیسم چې په جنګي خط او سنګر کې یې کوي. هو که مو داسې ولیدل چې د بیت المال پیسې کور ته وړي بیا مو شکایت او اعتراض پر ځای دی)

ملا محمد عمر مجاهد څکه همیشنی پوځي مشر بللی شو چې نوموړی د تحریک په پیل کې عملا د طالبانو نظامي مشر او د عملیاتو رهبري کوونکی و په مابیني مرحله کې یې د مخابرې له لارې له جهادي لښکرو سره همیشنی همغږي درلوده او له امریکایي یرغل وروسته یې چې کله واکمني د افغانستان تر جنوب پورې را لنډه شوه په هماغه سخته مرحله کې یې یو ځل بیا په مخامخ ډول د مقاومت رهبري په غاړه واخیسته چې د دې وروستۍ مرحلې په تفصیلاتو به په خپل ځای کې بحث وکړو.

### د امیرالمؤمنین د نوي دفتر او میشت ځای تأسیس

ځینو بهرنیو او کورنیو لیکوالو چې د اسلامي امارت د مؤسس ملا محمد عمر مجاهد په اړه یې د ګوتنیونې او اعتراض بل مورد نه دی پیدا کړی نو یې دا خبره رابرسیره کړې

چې ملا صاحب د خپلې واکمنۍ په وروستيو کې د کندهار ښار په شمال لويديځ کې د ځان د هوساينې لپاره يو ستر کور او پراخ دفتر جوړ کړ او ډېر زياتې پيسې يې ورباندې ولګولې.

خو دا انتقاد کوونکي په دې اړه له ډيرو حقائقو ناخبره دي او حتی په دې هم نه پوهيږي چې د کندهار له ښاره بهر د دفتر او کور انتقال د ملا صاحب د ځان د هوسايي په خاطر نه بلکې د خلکو د امن او ژوند ساتلو په مقصد يو داسې اقدام و چې اصلي طراح يې ملا صاحب خپله نه بلکې د هيواد ګڼ شمير علماء کرام، مشران او نور هغه خلک وو چې د ملا صاحب ژوند او امنيت يې د افغان ولس لپاره د اهميت وړ بلل نو ځکه يې په ډېر اصرار سره دې ته اماده کړ چې د دغسې نوې ودانۍ د جوړولو اجازه ورکړي.

د افغانستان د حاکم په حيث دا د ملا محمد عمر مجاهد استثنائي افتخار دی چې د خپلې واکمنۍ په موده کې يې کله هم د مادياتو، ځمکو، پيسو او نورو مالي سرمايو د حصول او ساتلو کوښښ نه دی کړی.

ملا صاحب د امارت وخت کې او تراوسه هم په افغانستان کې کوم داسي کور، ودانۍ، دوکان يا بله سرمايه نه درلوده او نه يې لري چې دی يې شخصي مالکيت ولري. کله چې د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال د ملګرو ملتونو امنيت شورى د امارت په مشرانو بنديزونه ولګول په دې بنديزونو کې يو دا و چې د طالبانو د مشرانو بانکي سرمايې به کنګل کيږي. خو د امارت د مشر په حيث ملا محمد عمر مجاهد د افغانستان يا نړۍ په هيڅ بانک کې نقدي سرمايه نه درلوده.

د ملاصاحب په کور مشهوره هغه ودانۍ چې د امارت په وروستيو کلونو کې د کندهار ښار شمال لويديځ کې جوړه شوه، د ملا صاحب شخصي ملکيت نه و بلکې پردولتي ځمکه جوړه ودانۍ او د حکومت ملکيت ګڼل کيده.

**د کندهار ښار کې د ملا صاحب پر کور لویه چاودنه**

د ملاصاحب د نوي دفتر او میشت ځای خبره له هغه ځایه راپیل شوه کله چې د ۱۳۷۸ لمریز کال د سنبلې په دوهمه نیټه (۱۲ / ۵ / ۱۴۲۰هق) په کندهار ښار کې د ملاصاحب د کور له خوا سره د موټر بم په توسط درنه چاودنه وشوه. دغه وخت د ملا صاحب کور له کندهاره د هرات په خوا د غزیدلي سرک سره نږدې د والي کوټۍ او میخانیکي لیسې تر منځ په دولتي ودانیو کې و. یوه ورځ ماښام مهال یو لوی باربري کراز موټر چې ظاهرا د تیلو بیلرونه په کې بار و (خو په حقیقت کې بیلرونه له انفجاري موادو ډک وو) چا راوستی او د عمومي جادې په غاړه یې د ملاصاحب د کور په برابري درولی دی. د موټرچلوونکو داسې ښودلې وه چې موټر خراب شوی نو یې د والي کوټۍ ساتونکو ته ویلي وو چې تاسو ورته پام کوئ موږ مستري راولو. هغو طالبانو هم د خپل صادقانه برخورد او حسن ظن په اساس ورباندې باور کړی و.

خو لږ ځنډ وروسته د ملاصاحب شخصي محافظین په موټر شکمن شوي نو یې د ښار د یوې حوضې د امنیت آمر ملا بخت محمد راغوښتی او له موضوع یې خبر کړی و. دا د اونۍ هغه شپه ده چې ملا صاحب هم په دې شپه له دفتره کور ته راغی چې دې خبرې د دوی شک نور هم زیات کړی. ماخستن دوی هڅه کړې چې د نورو وسیلو په توسط موټر له دې ځایه بل ځای ته کش کړي په همدې وخت کې چې دوی د موټر په کشولو بوخت وو د شپې لس نیمي بجې وې چې موټر انفجار وکړ او په شاوخوا کې ګڼ کسان یې په شهادت ورسول.

د چاودنې په وخت ملا صاحب د چاودنې له ځای نه تقریبا ۹۰ متره لرې ځای کې و، دچاودنې د ځای او د ملاصاحب د کور ترمنځ څلور یا پنځه کوچني سرایونه چې د ملاصاحب ساتونکي په کې اوسیدل او یا یې هم د ورونو کورونه وو په بشپړ ډول ویجاړ شول. په چاودنه کې د ملاصاحب د دوو ورونو او یوه اخښي په شمول د ده یوولس ساتونکي هم شهیدان شول.

دغه راز د امنیت آمر ملا بخت محمد د لسو تنو ملګرو سره یو ځای شهید او د لسو شاوخوا ملکي کسان چې په لویه لاره د تګ راتګ په حال کې وو هم په شهادت

ورسیدل. چاودنه دومره زورروه و چې نږدې د آبرسانی د ریاست یوشمیر کارکوونکي
او د والي کوټې څو ساتونکي یې هم شهیدان او ټپیان کړل.

دې چاودنې د ملاصاحب د شخصي امنیت په اړه جدي اندیښنې راپورته کړې او د
اسلامي امارت مشران دې ته متوجه شول چې د ملاصاحب د امنیت په خاطر باید
داسې اقدامات وکړي چې هم خپله ملاصاحب د دښمن له اذیت څخه خوندي شي او
هم په ده د برید له امله عام خلک زیانمن نه شي.

ملا عبدالخالق خالد وایي چې تر انفجار وروسته ملا صاحب په پیل کې د نوي ودانۍ
له جوړولو سره موافق نه و خو وروسته چې دیني علماء کرامو قناعت ورکړ او دغه
اقدام یې له شرعي اړخه مهم مصلحت وباله نو بیا یې منلو ته اماده شو. په دې ډول د
امیرالمؤمنین د دفتر او کور په نوم د دغې ودانۍ لپاره د کندهار ښار څخه د شمال
لویدیځ اړخ ته د ارغنداب ولسوالۍ ته د تللې لارې په اوږدو کې د پیلکو سیمه چې د
غره په لمن کې هواره ځمکه وه په نښه شوه. د غوره شوي ځای سره نږدې نورې ودانۍ
نه وې په شاوخوا یې غونډۍ وې چې په امنیتي لحاظ یې اهمیت درلود. دغه راز د دغه
دفتر په خوا یوه عمومي لاره ورغلې وه چې په ښه توګه څارل کیدلی شوای.

دغه ودانۍ چې د ملاصاحب کور، دفتر، مسجد، د امنیتي ساتونکو میشت ځایونه او
نور ملحقات یې درلودل په پاخه او اساسي ډول جوړه شوه تر څو د تیر په شان د قوي
انفجار یا حملو په وړاندې مقاومت ولري. د دې ودانۍ ودانیز کارونه د امریکا له یرغل
نه څه باندې یو نیم کال وړاندې پای ته ورسیدل او ملا صاحب ورته خپل کور را انتقال
او همدلته یې دفتري چارې پیل کړې. تردې چې امریکایانو په افغانستان د یرغل په
لومړۍ شپه ورباندې برید وکړ چې د امریکایي یرغل لومړنی قرباني هم د ملا محمد
عمرمجاهد تره ملا محمد حنیفیا اخند شو چې همدلته په شهادت ورسید.

نو بناء ویلی شو چې ملا محمد عمر مجاهد داسې څوک نه و چې د دنیایي هوس او
عیش د کوښښ کولو شک ورباندې وشي. هغه خپل عمر د یتیمتوب او طالبۍ ژوند
راتیر کړی و. هغه د یو عام وګړي په حیث ژوند تیراوه او د ځان لپاره په امتیاز قائل نه
و. هغه که څه هم د واکمنۍ په مهال په یوه پخه ودانۍ کې اوسیده مګر بیا هم له

خـاورو سره آشـنا و. د اسـلامي امـارت پـه مهـال د افغانسـتان د زراعـت وزیـر مـلا
عبداللطیف منصور وایي : یوه ورځ د ملا صاحب همـدې نـوي جـوړ شـوي ځـای تـه
ورغلم، ملا صاحب بهر راوتلی و او ویل چې همدلته به مجلس او ملاقات وکړو. کله
چې په سپیرو خاورو کیناست ما ورته د څادر غوړولو هڅه وکـړه مـلا صـاحب زه منع
کړم او و یې ویل (هیڅ فرق نه کوي څادر ضرور نه دی ځکه له همدې خاورو پیدا یو
او آخر به هم همدې خاورو ته ورځو)

## بیلابیل موضوعات او د امیرالمؤمنین مواقف

### د افغانستان قضیه

کله چې د افغانستان قضیه یادوو مطلب مو د منځنی اسیا، جنوبي اسیا او منځني ختیځ
تر منځ په ستراتیژیکه نقطه د پراته هیواد افغانستان د زعامـت یـا واکمنـی د څرنګـوالي
هغه مسئله ده چې له تیرې نـږدې نیمـې پیـړۍ راهیسـې وربانـدې د بیلابیلـو سـیاسي او
فکري قطبونو تر منځ سیاسي ناندرۍ او جګړییزې مقابلې رواني دي.

افغانستان ته په لومړۍ هجري پیړۍ کې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت
په وروستي کال د اسـلام لـومړۍ وړانګـه راولوېـده، وروسـته دا هیـواد پـه تـدریج سره
اسلامي څه بلکې د اسلامي دعوت صادرونکی شو. افغان هغه قوم دی چې پـه ټـولیز
توګه یې ټول اسلام منلی، نه یې د اسلام له کوم رکن نه انکار یا اعراض کړی او نـه یـې
هم کوم فرد نامسلمان پاته شوی.

ملا محمد عمر مجاهد د افغانستان قضیې ته د شـریعت او یاد شوي تاریخي شـالید له
زاویې کتل. نوموړی په دې باور و چې افغانستان یوازې هغه مهال له استقرار، سـولې
پرمختګه برخمن کیدلی شي چې دلته د سوچه قرآني هدایاتو په اساس یو بشپړ شـرعي
نظام حاکم شي.

**له داخلي مخالفينو سره جوړ جاړی**

لکه وړاندې چې هم يادونه شوې، د اسلامي تحريک د پيل له وخته د ملاصاحب پاليسي دا وه چې له جګړې وړاندې دې د مصالحې کوښښ وشي تر څو له جنګ پرته د حاکم هرج و مرج ټغر ټول او د هيواد صالح قوتونه تر يوه قومنده لاندې د يو متحد اسلامي نظام لپاره لاس په کار شي. دافغانستان په جنوب کې زابل، روزګان ولايتونه دغه راز د هلمند مرکزي سيمې، په مرکز او جنوب ختيځ کې غزني، پکتيا، پکتيکا، خوست ولايات او نورې ډېرې سيمې له جګړې پرته له ځايي واکمنو سره د تفاهم او په تحريک کې د هغوی د شاملولو په طريقه د امارت تر واک لاندې راغلې. خو په نورو سيمو کې چې ټوپکيانو په جګړو ټينګار کاوو نو جګړې ورسره وشوې او نظامي شکست ورکړل شو.

د پلازمينې کابل له فتحې دوه کاله وروسته چې د افغانستان شمال او مرکزي سيمې هم د طالبانو تر واک لاندې راغلې او د هيواد په ٪۹۰ خاوره د اسلامي امارت تسلط ثابت شو، د هيواد په سطحه يوازې بدخشان ولايت او د پروان مربوط د پنجشير درې شاوخوا سيمې د مخالفينو په لاس کې وې. په دې مرحله کې چې مخالفين ډېر په کمزوري حالت کې و اسلامي امارت بيا هم هڅه کوله له دوی سره خبرې او مذاکرات وکړي تر څو د اضافه جګړې لپاره بهانه او پلمه پاتې نه شي.

په دې لړ کې ملا محمد عمر مجاهد د مذاکراتو لپاره بيا بيا باصلاحيته پلاوي وټاکل، د اسلامي کانفرانس او د افغانستان د ګاونډيو هيوادونو په منځګړتوب په اسلام اباد، عشق آباد، تاشکند، سويس او جده کې څو پړاويز مذاکرات ترسره شول. د دې مذاکراتو په لړ کې د دوه جانبه اعتماد د اعادې لپاره د بنديانو تبادله او لنډ مهاله اوربندي هم عملي شوه. په دې سلسله کې له مخالفينو سره يو د پام وړ مذاکرات د ترکمنستان په پلازمينه عشق اباد کې وشول چې د طالبانو له اړخه د بهرنيو چارو وزير مولوي وکيل احمد متوکل او د پلان وزير قاري دين محمد حنيف د نماينده هيئت په حيث او د مخالفينو لخوا يونس قانوني، امر الله صالح او ځيني نور کسان د مذاکره کوونکي پلاوي برخوال وو.

د متوکل صاحب د څرګندونو له مخې دوی ته ملا صاحب د جوړ جاړي لپاره واک ورکړی و چې په بنسټ یې له مخالفینو سره موافقه وشوه تر څو یو داسې مشترک اسلامي نظام رامنځته شي چې په دری ګونو قواوو کې یې له دواړو خواوو څخه د تر لاس لاندې ولایاتو په تناسب اعضاء شرکت او سهم ولري. د اسلامي امارت استازو دا طرحه ومنله خو وروسته د مخالف لوري لخوا د دې توافق د سبوتاژ هڅه وشوه هغه دا چې هغوی شرط وړاندې کړ چې د دې نظام مشري به د پخواني مخلوع شاه محمد ظاهر په غاړه وي چې دا شرط نه یوازې د منلو وړ نه وو بلکې عملي هم نه وو.

له هغه وروسته د امیرالمؤمنین لخوا د اسلامي امارت د معارف د وزیر ملا امیر خان متقي په مشری ځانګړی پلاوی مأمور شو تر څو له مخالفینو سره د جوړجاړي او مذاکراتو پروسه پر مخ یوسي. د متقي صاحب په مشری پلاوي د ازبکستان په پلازمینه تاشکند کې له مخالف اړخ سره اوږدې خبرې وکړې خو دا چې مخالفین د نړیوالو قدرتونو او ځینو ګاونډیو هیوادونو په دام کې لویدلي وو او د افغان ولس د مصالحو په اړه یې فکر نه کاوه نو ځکه د جوړجاړي دې پروسې کومه نتیجه ورنکړه.

په مجموع کې له داخلي او بهرنیو دښمنانو سره د بیا بیا مذاکراتو او ځانګړیو پلاویو له ټاکلو څخه څرګندیږي چې ملا محمد عمر مجاهد تفاهم او مذاکراتو ته د مسائلو په حل کې د یوه مهم اصل په نظر کتل او ټولو مخالفینو سره مخامخ خبرو ته یې امادګي درلوده.

## د شمال غمیزه او د مالک سره موافقه

د پلازمینې کابل له فتحې وروسته د اسلامي امارت په وړاندې یو مهم ګواښ په شمال کې د جنرال عبدالرشیم دوستم ځواکونه وو چې له فاریاب نیولې تر سمنګان پورې یې د افغانستان په شمالي ولایاتو قبضه درلوده. دوستم چې زیاتره ورسره د پخواني کمونیست رژیم پاتي شوني ملګري وو یو شمیر کسان ورسره د قومي او سمتي ملاحظو له مخې هم یو ځای شوي وو.

د کابل له نیولو وروسته دوستم د بادغیس ولایت په جنګي محاذ کې لـه طالبانو سره جګړې پیل کړې، دغه راز په خنجان ښارګوټي کې له مسعود او کـریم خلیلي سره پـه توافق د طالبانو په وړاندې د یوه جنګي ایتلاف د جوړولو په تعقیب یې له مسعود سره په کابل د مشترک برید پلان ترتیب کړ.

جنرال عبدالمالک چې د دوستم د مشهور قومندان رسول پهلوان ورور او پدې وخـت کې د جنبش ګوند د ارتباط خارجه مسؤل هم و د خپل ورور له وژل کیدو وروسته یې له دوستم سره اړیکي خرابې وې، نوموړي په پټه له طالبانو سره رابطه جوړه کړه او ویې ویل چې که طالبان یې مرسته وکړي د دوستم په خلاف به پاڅون وکړي او طالبانو ته به شمال ته د ورتلو لاره هواره کړي.

ملا محمد غوث اخند چې هغه مهال د اسلامي امارت پـه کابینـه کـې د بهرنیـو چـارو سرپرست وزیر و وایي: جنرال مالک د غمي خان په نوم خپل یو استازی پـه پیـل کـې راستولی و او ویل یې چې موږ غواړو د دوستم په خـلاف قیـام وکـړو او لـه تاسـو سره یوځای شو. وروسته دا خبره د مالک لخوا بیا بیا مطرح شـوه، مالـک پیغـام راسـتولی و چې زه غواړم له اسلامي امارت سره ایتلاف وکړم. موږ د مالک پیغـام مـلا صـاحب تـه ورساوه هغه وویل چې زه ایتلاف ته حاضر نه یم خو که له ایتلاف پرته مالک د دوستم په وړاندې له موږ سره همکاري کوي په دې ورسره خبرې وکړئ.

ملا محمد غوث اخند وایي زه او ملا عبدالرزاق بادغیس ته لاړو او هلته مـو د مرغـاب په سیمه کې د جګړې د کرښې په ساحه کې له مالک سره وکتـل. مالـک پـه پیـل کـې ویل چې زه له تاسو سره ملګری کیږم، دوستم ختموم خو تاسو بـه د څـو ولایـاتو واک راسپارئ. موږ یې دا خبره رد کړه او ورته ومو ویل چې ملاصاحب دغسـې ایـتلاف تـه حاضر نه دی.

وروسته مالک وویل چې بله به وکړو هغه دا چې زه دوستم په هیڅ صورت نـه پریـږدم او په خلاف یې جنګ پیلوم. دلته په جنګي کرښه کې د دوستم، اسـمعیل خـان او زمـا افراد دي، زه دوی د مجلس په بهانه راغواړم او کودتاه ورباندې کوم او د جنګـي خـط ټول څواک او وسلې په لاس کې اخلم له هغه وروسته جنګي کرښه تاسو ته سپارم زه د

د متوکل صاحب د څرګندونو له مخې دوی ته ملا صاحب د جوړ جاړي لپاره واک ورکړی و چې په بنسټ یې له مخالفینو سره موافقه وشوه تر څو یو داسې مشترک اسلامي نظام رامنځته شي چې په دری ګونو قواوو کې یې له دواړو خواوو څخه د تر لاس لاندې ولایاتو په تناسب اعضاء شرکت او سهم ولري. د اسلامي امارت استازو دا طرحه ومنله خو وروسته د مخالف لوري لخوا د دې توافق د سبوتاژ هڅه وشوه هغه دا چې هغوی شرط وړاندې کړ چې د دې نظام مشري به د پخواني مخلوع شاه محمد ظاهر په غاړه وي چې دا شرط نه یوازې د منلو وړ نه وو بلکې عملي هم نه وو.

له هغه وروسته د امیرالمؤمنین لخوا د اسلامي امارت د معارف د وزیر ملا امیر خان متقي په مشرۍ ځانګړی پلاوی مأمور شو تر څو له مخالفینو سره د جوړجاړي او مذاکراتو پروسه پر مخ یوسي. د متقي صاحب په مشرۍ پلاوي د ازبکستان په پلازمینه تاشکند کې له مخالف اړخ سره اوږدې خبرې وکړې خو دا چې مخالفین د نړیوالو قدرتونو او ځینو ګاونډیو هیوادونو په دام کې لویدلي وو او د افغان ولس د مصالحو په اړه یې فکر نه کاوه نو ځکه د جوړجاړي دې پروسې کومه نتیجه ورنکړه.

په مجموع کې له داخلي او بهرنیو دښمنانو سره د بیا بیا مذاکراتو او ځانګړیو پلاویو له ټاکلو څخه څرګندیږي چې ملا محمد عمر مجاهد تفاهم او مذاکراتو ته د مسائلو په حل کې د یوه مهم اصل په نظر کتل او ټولو مخالفینو سره مخامخ خبرو ته یې امادګي درلوده.

## د شمال غمیزه او د مالک سره موافقه

د پلازمینې کابل له فتحې وروسته د اسلامي امارت په وړاندې یو مهم ګواښ په شمال کې د جنرال عبدالرشیم دوستم ځواکونه وو چې له فاریاب نیولې تر سمنګان پورې یې د افغانستان په شمالي ولایاتو قبضه درلوده. دوستم چې زیاتره ورسره د پخواني کمونیست رژیم پاتې شوني ملګري وو یو شمیر کسان ورسره د قومي او سمتي ملاحظو له مخې هم یو ځای شوي وو.

د کابل له نیولو وروسته دوستم د بادغیس ولایت په جنګي محاذ کې لـه طالبـانو سره جګړې پیل کړې، دغه راز په خنجان ښارګوټي کې له مسعود او کـریم خلیلي سره پـه توافق د طالبانو په وړاندې د یوه جنګي ایتلاف د جوړولو په تعقیب یې له مسعود سره په کابل د مشترک برید پلان ترتیب کړ.

جنرال عبدالمالک چې د دوستم د مشهور قومندان رسول پهلوان ورور او پدې وخت کې د جنبش ګوند د ارتباط خارجه مسؤل هم و د خپل ورور له وژل کیدو وروسته یې له دوستم سره اړیکي خرابې وې، نوموړي په پټه له طالبانو سره رابطه جوړه کړه او ویې ویل چې که طالبان یې مرسته وکړي د دوستم په خلاف به پاڅون وکړي او طالبانو ته به شمال ته د ورتلو لاره هواره کړي.

ملا محمد غوث اخند چې هغه مهال د اسلامي امارت پـه کابینـه کـې د بهرنیـو چـارو سرپرست وزیر و وایي: جنرال مالک د غمي خان په نوم خپل یو استازی پـه پیـل کـې راستولی و او ویل یې چې موږ غواړو د دوستم په خـلاف قیـام وکـړو او لـه تاسـو سره یوځای شو. وروسته دا خبره د مالک لخوا بیا بیا مطرح شـوه، مالـک پیغـام راسـتولی و چې زه غواړم له اسلامي امارت سره ایتلاف وکړم. موږ د مالک پیغـام مـلا صـاحب تـه ورساوه هغه وویل چې زه ایتلاف ته حاضر نه یم خو که له ایتلاف پرته مالک د دوستم په وړاندې له موږ سره همکاري کوي په دې ورسره خبرې وکړئ.

ملا محمد غوث اخند وایي زه او ملا عبدالرزاق بادغیس ته لاړو او هلته مـو د مرغـاب په سیمه کې د جګړې د کرښې په ساحه کې له مالک سره وکتـل. مالـک پـه پیـل کـې ویل چې زه له تاسو سره ملګری کیږم، دوستم ختموم خو تاسو بـه د څـو ولایـاتو واک راسپارئ. موږ یې دا خبره رد کړه او ورته ومو ویل چې ملاصاحب دغسـې ایـتلاف تـه حاضر نه دی.

وروسته مالک وویل چې بله به وکړو هغه دا چې زه دوستم په هیڅ صورت نـه پریـږدم او په خلاف یې جنګ پیلوم. دلته په جنګي کرښه کې د دوستم، اسـمعیل خـان او زمـا افراد دي، زه دوی د مجلس په بهانه راغواړم او کودتاه ورباندې کوم او د جنګـي خـط ټول څواک او وسلې په لاس کې اخلم له هغه وروسته جنګي کرښه تاسو ته سپارم زه د

مزار شریف پر خوا پرمختګ پیلوم تر څو له دوستم سره جنګ وکړم. ما چې کومې سیمې له دوستمه نیولې هغه تاسو ته سپارم تردې چې د دوستم واک مو یو مخ ختم کړ. له هغه وروسته زه د مسعود او نورو مخالفینو په خلاف هم ستاسو په پلوی جګړه کوم تر څو چې ټول مخالفین ختمیږي زه به له خپلو افرادو او جنګي تشکیلاتو سره مسلح پاته یم، کله چې مخالفین یو مخ له منځه لاړل او ټول افغانستان د طالبانو تر واک لاندې راغی له هغه وروسته که زه د نورو قومندانانو په شان خلع سلاح کیږم یا نه؟ که

څوکی راکوئ او یا نه هر څه چې د امارت خوښه وي همغسې چلند دې راسره وکړي.

مالک وویل چې په دې ټوله موده کې به ستاسو سره د مخابرې له لارې په رابطه کې یم او په ګډه به د دوستم په خلاف جګړه کوو. ملا محمد غوث اخند وایي موږ له جنرال مالک سره په همدې ډول توافق وکړ او تر منځ مو خط ولیکه، له توافق وروسته موږ هرات ته راغلو، په سبا سهار جنرال مالک خپل د کودتاه پروګرام عملي کړ او د مرغاب په خط کې یې د دوستم او اسمعیل خان ټول کسان ونیول. موږ ته یې حال راکړ چې ما خو خپل کار وکړ راشئ چې جنګي کرښه در تسلیم کړم. ملا عبدالرزاق اخند بیرته مرغاب ته لاړ، هلته یې د تضمین په ډول له جنرال مالک څخه اسمعیل خان سره له ټولو ۴۰۰ کسانو وغوښت چې هغه هم وروسپاره، په دې ډول جنرال مالک تر مخ او طالبان ورپسې د مزار شریف په خوا پرمختګ پیل شو.

دوستم له مالک سره د جګړې لپاره جوزجان ته راغی مالک چې په یوازې سر یې د دوستم مقابله نه شوای کولای په فاریاب کې یې له طالبانو سره ګډ تشکیل جوړ کړ. دغه راز د دوستم کسان چې د مرغاب په خط کې یې نیولې و بیرته یې مسلح او د ځان ملګري کړه په دې ډول یو داسې ګډوډ وضعیت رامنځته شو چې پخوا یې اټکل نه و شوی. جنرال مالک او طالبانو په ګډه دوستم ته شکست ورکړ او مزار ته طالبان او د مالک کسان په یوه بشپړ مبهم حالت کې داخل شول.

د مزار له نیولو وروسته د اسلامي امارت له مقام څخه د نویو ټاکنو د اعلان په ترځ کې ملا عبدالرزاق د شمال تنظیمه رئیس او جنرال مالک د اسلامي امارت د بهرنیو چارو مرستیال وزیر وټاکل شول. البته دا ټاکنه له جنرال مالک سره د شوې تعهد نامې له

مخې نه بلکې د حسن نیت له مخې و، مالک چې دا مهال يې سپينه لنګوټه تړله او په ټوله معنی يې ځان طالب معرفي کاوه، له طالبانو يې غوښتنه وکړه چې د حالاتو د کنټرول لپاره اضافه کسان ورولیږي. له کندهار او هرات څخه زرګونه غیرمسلح کسان په دې نیت مزار ته روان شول چې هلته به وربانديې وسلې ویشل کیږي.

دا چې په مزار او نورو شمالي ولایاتو کې يوازې د مالک کسان نه وو، بلکې د دوستم پاتې شوني، د حزب وحدت، جمعیت او حکمتیار وسلوال هم وو، طالبانو له ځينو هغو خلکو وسلې واخیستې چې خطر يې ترې احساساوه.

بل اړخ ته مالک چې په ظاهره يې ځان ډېر رښتینی او مخلص معرفي کاوه په پټه له حزب وحدت سره په ګډه د طالبانو په وړاندې په توطیه جوړولو بوخت و. توطیه داسې وه چې د جنرال مالک او حزب وحدت کسان به په ګډه په مزار شریف کې د طالبانو په خلاف جګړه پيلوي. جنرال مالک به د دې جګړې په اړه وايي چې دا يوازې د حزب وحدت کسان دي. که دوی ناکام شول نو د جګړې نسبت به يوازې حزب وحدت ته کیږي او که په طالبانو بريالي شول نو د مزار واک به د مالک او حزب وحدت تر منځ تقسیمیږي.

دا هم باید واضحه کړو چې د اسلامي امارت د استازو لخوا ملاصاحب ته د توافق ټول جزیات نه و ویل شوي. بلکې يوازې د مخابرې له لارې په اجمالي ډول معلومات ورکول شوي وو، کله چې په مزار کې وضع خرابه شوه. ملا محمد غوث آخند د امارت مقام ته راغی او ملا صاحب ته يې توافق لیک وربشکاره کړ. ملا صاحب چې توافق لیک وکوت نو ډېر خپه شو چې دا کله امکان لري چې د طالبانو او مالک زرګونه مسلح کسان دې په داسې مبهم حالت کې سره وچلیږي. دا په زرګونو نفر دي چې کنټرول يې آسان نه دی. بيا يې وويل چې اوس خو کار تر کار تېر دی خو څو تنه مخور مشران باید عاجل مزار شریف ته لاړ شي تر څو وضعیت کنټرول کړي. په دې ډول يې مولوي احسان الله احسان، ملا محمد غوث او څو تنه نور مشران مزار شریف ته ولیږل تر څو خرابیدونکی وضعیت مدیریت کړي.

ملا محمد غوث وايي موږ چې مزار ته لاړو هلته وضعيت ډېر خراب و، په ښار کې ډزې شروع شوې، مالک دا چل کړی و چې له يوې خوا يې جنګ پيل کړی و له بلې خوا يې د طالبانو نظامي مشران په خاص ډول ملا عبدالرزاق اخند له ځان سره کلابند ساتلی او په دې خطاء کړی و چې دا د حزب وحدت کسان جنګ کوي نو ځکه طالبان غافلګيره شوي وو او د متقابل ځوابي بريد او احضاراتو ضرورت يې نه احساساوه. ترديې چې د جنګ لمن پراخه شوه، ملا عبدالرزاق، ملا اختر محمد منصور او نور نظامي مشران د مالک لخوا په غدارۍ سره اسيران او له عامو نظاميانو يو مخ بيل شول، نظامي طالبان په ښار کې ځای ځای محاصره او متحد ځواک يې وويشل شو. د ملا زړګي اخند په شان ځيني نظامي مشران د مالک له کسانو سره په مخامخ جنګ کې شهيدان شول، ډيرو نورو چې کافي وسله، امکانات او قومنده يې نه درلوده له ښاره د وتلو هڅه وکړه، چې له جملې يې ډېر لږ کسان خلاص او نور يې د ښار په اطرافي سيمو کې بنديان يا شهيدان کړای شول.

د طالبانو د مشرانو له جملې ملا اختر محمد منصور، ملا عبدالرزاق، ملا محمد صادق او حاجي فضل محمد د جنرال مالک لخوا اسيران او مولوي احسان الله احسان د تنګي شاديان په سيمه کې د حزب وحدت د کسانو لخوا په شهادت ورسيد. ملا محمد غوث، ملابرادراخند او څه نور کسان له سيمي په روغ وتلو وتوانيدل. او په زرګونو طالبان چې په جنرال مالک يې باور کړی و د نوموړي د غدر قرباني او د اسيرانو په توګه جنرال مالک ته په لاس ورغلل. جنرال مالک وروسته دغه زرګونه تنه بنديان په پټه له محابسو ايستل او د جوزجان په دشت ليلي او د بلخ په حيرتان دښتو کې يې په ډلييزه توګه په شهادت رسول.

جنرال مالک په طالبانو سربيره ډېر هغه عام وګړي هم د طالبانو په نوم بنديان اوشهيدان کړل چې د مزار شريف ښار ته د سياحت په نيت تللي وو. په دې ډول جنرال مالک د افغانستان په جګړه ييز تاريخ کې د غدر او بې ګناه بنديانو د قتل عام له املـه تـوره کارنامه ثبت کړه.

څه باندې يو کال وروسته طالبان بيا وتوانيدل چې فارياب، جوزجان، سرپل، بلخ او ټول شمالي ولايت ونيسي. هغه زرګونه طالبان چې مالک په دښت ليلي او حيرتان کې شهيدان کړي وو او اجساد يې په شرعي طريقه نه و دفن شوي، جسدونه يې کندهار ته رانقل او په شرعي طريقه په ځانګړې هديره کې خاورو ته وسپارل شول چې د مزار د شهيدانو په هديره شهرت لري.

د شمال دې غميزې ټول افغانستان دردمن کړ، خو شخصا په ملا محمد عمر مجاهد يې خورا ژور تاثير وکړ، د نوموړي ملګري وايي ملا صاحب له دې پيښې وروسته اکثره وخت غمجن معلوميده او تر پايه يې غمونکی اثر ورباندې ښکاره و. ملا صاحب هغه امارتي مسؤل چې له جنرال مالک سره په توافق کې يې د امارت د مقام ټول هدايات په نظر کې نه وو نيولي او په خپل وخت يې ملا صاحب ته خبر نه و ورکړی د وزارت له دندې لرې او پر کورکښيناوه.

## د مخدره موادو موضوع

د مخدره موادو د زراعت او توليد مسئله اسلامي امارت ته له پخوانيو رژيمونو څخه په ميراث پاته وه. د افغانستان په ختيځ، شمال ختيځ، جنوب او جنوب لويديځ کې آن له شاهي دور څخه د مخدره موادو په خاص ډول د بنګو او کوکنارو کښت پيل شوی او رواج شوی و.

طالبان په داسې حال کې قدرت ته ورسيدل چې په غريب افغانستان کې مخدره موادو د خلکو د يوه مهم اقتصادي او عائداتي منبع حيثيت خپل کړی و چې بناء دې موضوع په ولسي کچه يو لړ حساسيتونه هم درلودل او د مخنيوي کار يې له خطراتو خالي نه و.

خو ملا محمد عمر مجاهد د مخدره توکو د زراعت او استعمال په اړه هم د اسلامي شريعت له اصولو سره برابر دريځ خپل کړ. دا چې د مخدره موادو استعمال د اسلام له نظره ناروا دی د تحريک له لومړۍ ورځې څخه د چرسو، پوډرو، شرابو او نورو

مخدره توکو په استعمال کلک بندیز نافذ شو چې سرغړوونکو ته یې حتی د حبس
سزاوې ورکول کېدلې.
دا چې تریاک او خشخاش په پخوا زمانو کې طبي مواد بلل کېدل او اوس هم په ډول
ډول دواګانو کې استعمالیږي او حتی په نړۍ کې یې په بیلابیلو هیوادونو کې د همدې
ضرورت په اساس په محدود ډول کښت قانوني شوی دی. حنفي فقهې هم د دې
مخدر توکي په اړه د نامشروعیت قاطع امر نه دی کړی. د طالبانو اسلامي تحریک هم
د همدې فقهي ملاحظې له امله په پیل کې د کوکنارو د کښت بندولو موضوع جدي
ونه بلله او ټوله توجه یې د بنګو او چرسو د تولید، استعمال او تجارت ختمولو ته وه.
خو په وروسته کې طالبان متوجه شول چې په موجوده وخت کې د کوکنارو کښت د
افغانستان ولس ته په زیان تمامیږي. د اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال د مخدره موادو
د مخنیوي د ریاست مشر مولوي عبدالحمید اخندزاده وایي چې موږ د امارت د
مشرتابه له امر سره سم د افغانستان په بیلابیلو سیمو کې د مخدره موادو په خاص ډول
د تاریاکو د اغیزو په اړه سروې او پلټنه پیل کړه. په دې پلټنه کې موږ ته معلومه شوه
چې د افغانستان په لویدیځ کې له ایران سره په پوله پرتو سیمو کې ولسي- خلک د
تریاکو د استعمال او تجارت له امله له سختو غمیزو سره مخامخ شوي دي.
دا خلک چې له څو لسیزو راهیسې یې د ژوند یوازینی کار او کاروبار د تاریاکو
تجارت او قاچاق دی په زرګونو ځوانان یې د قاچاق په مهال د ایران د سرحدي
ځواکونو لخوا په دښتو کې وژل شوي چې د اکثرو حتی مړي هم ورک دي. له ایران
سره په سرحد پرتو کلیو کې داسې کورونه په ډېر تکلیف پیدا کېدل چې یو یا څو
کسان یې د دې تجارت او قاچاق قرباني شوي نه وو. د دې سیمو د خلکو ژوند یوازې
تر قاچاق او تاریاکو تړل شوی وو چې دې کاروبار دوی د بشپړې تباهۍ په لاره روان
کړي وو. په ضمن کې د تاریاکو کښت، تجارت او تولید په خاص ډول په ځوانانو کې
په پوډرو او نورو نشه یي موادو اعتیاد ته هم وده ورکوله. د تاریاکو د کښت دې زیانبار
اړخ د دې موضوع په اړه د طالبانو نظر له بنسټه تغیر کړ او دې نتیجې ته ورسیدل چې

ملي مصلحت په دې کې دی تر څو د دغه بوټي کښت او تولید هم د استعمال په ډول په مطلق ډول بند کړای شي.

**یو فرمان او یو بوټی**

لکه وړاندې چې وویل شول کوکنار چې هغه مهال ورسره د افغانانو اقتصاد تړل شوی و او د ډیرو خلکو یوازینی عائداتي منبع بلل کیدل، د بندولو مسئله یې د اټکلونو له مخې آسانه نه بریښېده. د اسلامي امارت نړیوالو دښمنانو هم پرلپسې په طالبانو فشار وارداوه او د کوکنارو د بندولو غوښتنه یې ترې کوله. هغوی ښایي د موضوع حساسیت ته متوجه و او په دې سره یې هڅه کوله طالبان او ولس له یو بل سره په تقابل تصادف کې واقع کړي.

مگر د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي رهبرۍ حقانیت او برکت هغه وخت په ښکاره ثابت او مشاهده شو کله یې چې په ۱۳۷۹ / ۵ / ۷ هجري شمسي-نیټه چې له ۲۶/۴/۱۴۲۱ هـ ق سره برابره ده، د یوه لنډ فرمان له مخې په هیواد کې د کوکنارو په کښت بندیز نافذ کړ.

د دې لنډ فرمان متن په لاندې ډول و.

لومړۍ ماده:

۱ – په ټول هیواد کې د کوکنارو کرل مطلقا منع دي.

۲ – کوم اشخاص چې د کوکنارو په کرلو لاس پورې کوي او له پورتني امر څخه سرغړونه وکړي سخته شرعي سزا به ورکړل شي.

دوهمه ماده:

اړونده امارتي مسؤلین مکلف دي چې په خپلو مربوطه سیمو کې د کوکنارو د کرلو د مخنیوي په خاطر لازم تدابیر ونیسي.

دغه فرمان د توشیح له نیټې څخه نافذ دی او په رسمي جریده کې دې خپور شي.والسلام

د اسلام خادم

(اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد)

دا فرمان که څه هم له مخدراتو سره د مبارزې په برخه کې د خپل ډول تر ټولو قاطع اقدام و او حتی په سیاسي لحاظ یې هم طالبانو ته ګټه رسولای او د تبلیغاتو لپاره یې ښه بهانه په لاس ورکولای شوای. خو ملا صاحب په دې نظر و چې دغه اقدام یې د نړیوالو د فشارونو له امله نه بلکې یوازې د دیني او عام اجتماعي مصلحت په خاطر کړی دی نو ځکه یې نه په چا احسان بروي او نه یې په مقابل کې له چا څخه امتیاز غواړي.

بنایي د نوموړي همدا مخلصانه عزم به و چې الله تعالی ورېنده زړه ته نه لوېندونکي نتیجه مرتبه کړه. د افغانستان مؤمن ولس د خپل شرعي امیر فرمان ته نیک ووایه او د فرمان د صدور له نیټې وروسته یې په سمدستي ډول د کوکنارو کښت بند او په ځای یې غنم او نور ګټور کرنیز توکي وکرل. نړیوال چې دغه وخت په تمه وو او دې ته منتظر وو چې د افغانستان دهقانان به له طالبانو سره جنجال پیل کړي و په دې ډول به دوی ته د مداخلې او تبلیغاتو زمینه برابره شي مګر د چې الله تعالی د زړونو مالک دی د افغان ولس زړونه یې دې ته مائل کړل چې د خپل شرعي امیر په طاعت کې خیر دی او د کوکنارو په کښت کې زیان دی نو ځکه یې صادر شوی فرمان په پوره توجه سره رعایت کړ.

د فرمان له صدور شپږ میاشتې وروسته د الجزیرې ټیلویزیون خبریالانو غوښتل د کوکنارو د بندولو په موضوع تصویري راپور جوړ کړي. دوی د افغانستان جنوب، جنوب لویدیځ، ختیځ او نورو سیمو ته سفرونه وکړل او د کوکنارو د پخوانیو کروندو هغه سیمې یې له نږدې ولیدې چې له دې وړاندې به هر کال ترې د څلور زره ټنه په شاوخوا کې تریاک تولیدل او نړۍ ته صادریدل. دوی په دې سیمو کې نه یوازې دا چې د کوکنارو پراخې کروندې یې ونه موندې حتی کوم داسې بوټی یې هم نه شوای پیدا کولای چې په خپل ویډیویي راپور کې یې د نمونې په ډول وښیي.

د الجزيرې د ټيلويزيون د همکار مصطفی حامد د وينا لـه مخې د دوی خبريـالانو پـه دې ټولو سيمو کې يوازې د ننگرهار د شيرزادو ولسوالۍ په يوه لرې پرتـه سيمه کـې د کوکنارو يو بوټی وموند او بيا يې په خپل راپور کې وښود. دې وضعيت ثابتولـه چـې د کوکنارو په شان له هرې منفي پديدې سره مبارزه که د شـرعي اصـولو لـه مخـې وشي نتيجه به يې ډيره ښه او له اټکل څخه لوړه وي.

په دې ډول د اسلامي امارت د واکمنۍ په وروستيو کې د ملا صاحب د فرمان له مخـې د کوکنارو کښت او توليد د صفر کچې ته راښکته شو امـا د مخـالفينو تـر واک لانـدې ساحو په خاص ډول بدخشان کې لا هم د کوکنارو کښت جريان درلود چې په همدې کال يې د نړيوالو احصايو له مخې ۱۸۵ ټنه ترياک نړۍ ته توليد کړل. البته د مخـالفينو تر واک لاندې ساحه کې د کوکنارو د کښـت او توليـد پـه موضـوع نړيوالـو هـم کـوم اعتراض نه درلود.

### د ښځو د حقوقو او تعليم مسئله

د طالبانو په اړه ډيرو بهرنيو ليکوالو او ژورناليستانو د اخبره تبليغولـه چـې د مـلا محمـد عمر مجاهد تر واک لاندې سيمو کې د ښځو حقوق خوندي نه دي، هغوی ته د کار او تعليم اجازه نه ورکول کيږي او ټول مشـروع حقونه ترې سلب شوي دي.

په دې اړه واقعيت دا و چې اصلا د افغانستان د حاکم په حيث ملا محمد عمـر مجاهـد او ليبرال فکره مخالفينو يې د ښځو د حقوقو د څرنگـوالي پـه اړه اخـتلاف درلـود. مـلا محمد عمر مجاهد ښځې هم د نارينه وو غوندې د الله تعالی مکلف مخلـوق او د اللـه تعالی له لورې په راغليو اوامرو او احکامو مکلفې بللې، نو ځکه يې د حجـاب رعايـت او له اختلاط او جاهلانه تبرج څخه ځان ساتنه د هغوی ديني وجيبه بلله.

اما د ليبراليزم مدعيانو د افغانستان د مؤمنو ښځو لپاره هغه په اصـطلاح حقـوق غوښـتل لکه د نړۍ په نورو برخوکې چې ښځې ورباندې تيرايستل شوي دي او د الله تعـالی لـه دې باعزته او باپته مخلوق څخه يې د هوسبازۍ او بازار موندنې آله جوړه کړې.

د ښځو د خدای ورکړو شرعي حقوقو په باره کې ملا صاحب پوره جدیت درلود او پ
رعایت یې تاکید کاوه. د امیرالمؤمنین د فرامینو لـه جملې ۱۰۴ نمبر فرمان د ښځو د
حقوقو په اړه دی چې په یوه برخه کې یې راغلي (څرنگه چې په اسلامي شریعت کې
ښځه ځانته خپل حقوق لري چې د هغو په ترلاسه کولو سره یې حیثیت او مقام لوړ او
حیا او پرده یې خوندي کیږي. مگر بد بختانه په افغاني ټولنه کې د ناوړه او غیر شرعي
رواجونو له امله ښځې له خپلو دغو شرعي حقوقو څخه بې برخې او راز راز ظلمونه
ورسره کیږي. نو د دغه ډول بې عدالتۍ د مخنیوي په منظور لاندې احکام منظوروم :

لومړۍ ماده: د هیواد مسلمان اتباع نه شي کولای د قتل په صورت کې ښځه د دیت،
جوړې (صلحې) یا په بل نوم سره د مړي کورنۍ ته په بدل کې ورکړي.

دوهمه ماده: د هیواد مسلمان اتباع نه شي کولای کونډه ښځه د میړه د کورنۍ لـه غړي
سره په نکاح کولو مجبوره کړي. د شریعت د حکمونو مطابق کونډه ښځه کولای شي
په خپله خوښه نکاح وکړي.)

د ملا صاحب لوړ فرمان ښایي د یادو دوو ناروا او حق تلف کوونکو رواجونو د
مخنیوي په برخه کې بې ساري وي ځکه پخوانیو حکومتونو کله هم د ښځو په وړاندې
د داسې ظالمانه اقداماتو د مخنیوي هڅه نه ده کړې. د ښځو د تعلیم په اړه ملا صاحب
په یوه مرکه کې ویلي: هر چې د ښځو د تعلیم مسئله ده نو موږ د ښځو د تعلیم مخالف
نه یو او نه یې هم له تعلیم څخه منع کوو، البته موږ وایو چې ښځې دې د شرعي
احکامو او شرایطو په رعایت سره تعلیم وکړي او د ستر، عفت او شرعي آدابو په
ساتلو سره دې زدکړې ترسره کړي.( مجلة الامارة الاسلامیة دوهمه گڼه ۱۴ مخ )

د اسلامي امارت د تمیز رئیس مولوي شهاب الدین دلاور صاحب وایي: ملا صاحب
په قضائیه چارو کې هم دې ته خاص توجه درلوده چې د ښځو حقوق تلف نه شي. یو
مثال یې دا دی چې ملا صاحب محاکمو ته فرمان صادر کړی و چې د ښځو دعوا
هیڅکله تر مرور زمان لاندې نه شي راتلای. یعني کله چې په مسئله باندې ۳۶ کاله تیر
شي او مدعي دعوه ونه کړي نو بیا د مرور زمان له امله د مدعي دعوه نه اخیستل کیږي.
خو ملا صاحب ویل چې د افغانستان ښځې محکومې او عدالت ته له لاسرسي لرې

پاته شوي دي، نو څکه که د ښځو په دعوه هر څومره وخت وتلی وي بايد د عدالت حق يې خوندي وي او دعوه يې واخيستل شي. دغه استثنائي حکم په دې دلالت کوي چې ملاصاحب د شريعت په چوکاټ کې ښځو ته په ټولو حقوقو قائل و، البته د افغان مؤمن ولس د درنو تورسرو لپاره يې د حقوقو او آزادۍ په نوم هغه بې بندوباري نه منله چې د ليبرال فکر خاوندان ورباندې تاکيد کوي.

### ګاونډيان او اسلامي نړۍ

افغانستان شپږ ګاونډي هيوادونه لري چې له پاکستان، ايران، ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان او چين څخه عبارت دي. د دې هيوادونو له جملې يوازې چين يې غير اسلامي هيواد دی په نورو ټولو کې مسلمانان اکثريت دی نو څکه د اسلامي نړۍ غړي بلل کيږي.

د افغانستان اسلامي امارت د ګاونډيانو له جملې يوازې د پاکستان لخوا په رسميت پيژندل شوی و، ترکمنستان او چين که څه هم اسلامي امارت يې په رسميت نه و پيژندلی خو له افغانستان سره يي تجارتي او تر يوه حده سياسي روابط پالل. اما نور ګاونډيان لکه ايران، ازبکستان او تاجکستان چې د برهان الدين رباني ګرځنده حکومت يې په رسميت پيژاند د اسلامي امارت د مخالفت په صف کې ولاړ وو. تاجکستان په دې سربيره چې په کولاب کې يې د شورای نظار مشرانو ته مراکز او پټنځايونه تهيه کړي وو د مخالفينو پوځي اکمالات، بهرني سفرونه، د زخميانو معالجه او نور ډير فعاليتونه هم د دې هيواد له ځمکې او فضا څخه په استفاده ترسره کيدل.

ازبکستان چې آن له تنظيمي دوران څخه يې دوستم تقويه کاوه د طالبانو په وخت کې يې له دوستم سره مرستې کولې او د تيښتې په وخت يې پناه ورکوله. ايران بيا د حزب وحدت له ټوپکيانو سره په ښکاره مرستو سربيره د اسمعيل خان او حکمتيار په شان د طالبانو مخالفينو ته پناه ورکړې وه او د طالبانو په وړاندې يې تبليغاتي محاذ هم ګرم ساتلی و.

د طالبانو په اړه د ځینو ګاونډیو هیوادونو دښمنانه دریځ تر ډیره د هغوی له ناسم پوهاوي څخه سرچینه اخیسته. ځینو هیوادونو بیا د نړیوالو زبرځواکونو په تبع له طالبانو سره د دوستی په ځای د دښمنی لاره نیولې وه. اما خپله طالبانو په مشخص ډول د اسلامي امارت زعیم ملا محمد عمر مجاهد د ګاونډیانو په اړه کوم بد نیت نه درلود. ملا صاحب په یوه مرکه کې چې خلافت مجلې خپرې کړې ویلي(له اسلامی نړۍ سره د اسلامي اخوت او ورورلۍ په بناء مناسبات غواړو او له ګاونډیو هیوادونو سره د نیکې همجوارۍ او د یوه بل په چارو کې د نه مداخلت غوښتونکي یو)

**پاکستان**

پاکستان چې له افغانستان سره د نورو ګاونډیانو په نسبت ډېر مشترکات لري، د شوروي ضد جهاد په مهال د افغانانو د هجرت کور و او په میلیونونو افغانانو په کې سکونت غوره کړی و. څرنګه چې د طالبانو تحریک له جنوبي ولایاتو راپورته شو او وروسته چې کله طالبانو د افغانستان په زیاتره سیمه واک ټینګ کړ، تر ټولو مخکې اسلامي امارت د پاکستان لخوا په رسمیت وپیژندل شو. دې واقعیتونو ځینو خلکو ته د دې تبلیغ لپاره دلیل په لاس ورکړ چې ګوندې طالبان د پاکستان خلګ دي او ملا محمد عمر مجاهد د پاکستان تر اثر لاندې کار کوي.

اما واقعیت دا و چې ملا محمد عمر مجاهد له پاکستان سره هیڅ سیاسي او فکري تړاو نه درلود هغه په ټول ژوند په پاکستان کې نه و اوسیدلی او یوازې یې د شوروي ضد جهاد په مهال د علاج او یا هم د حرکت اسلامي په تنظیم کې دخپلې جبهې د رسمیت لپاره د یوه عادي مجاهد په صفت د پاکستان کویټې ته سفر کړی و.

ملا محمد عمر مجاهد پاکستان ته د یوه مسلمان ګاونډي په نظر کتل او د پاکستان له ولس سره یې د اسلامي اخوت او ښه ګاونډیتوب د اصولو له مخې په حسن تعامل ټینګار درلود. ملاصاحب لکه څنګه چې د درستې نړۍ په وړاندې د دیني مواقفو، جهادي عزم او ملي ارزښتونو په اړونده مسائلو کې غیرمنفعل او ثابت دریځ درلود د پاکستان په وړاندې یې هم کټ مټ همداسې تګلاره وه. امریکایان چې د اسامه بن لادن او ځینو نورو موضوعاتو په اړه یې فشارونو د ملاصاحب دریځ بدل نکړ په

وروستيو کې يې هڅه کوله د پاکستان له لارې طالبان د خپل موقف بدلولو ته وهڅوي. خو ملا صاحب په دې اړه په يوه مرکه کې وويل( پاکستان نه موږ ته د اسامه د سپارلو خبره کړې او نه يې هم بايد وکړي. ځکه دا موضوع د افغانستان د اسلامي امارت او امريکا موضوع ده.)(خلافت مجله پرلپسې اوولسمه گڼه، پنځم مخ)

مرحوم سيد محمد حقاني صاحب چې يو وخت د اسلامي امارت د بهرنيو چارومرستيال وزير او بيا په اسلام اباد کې سفير و، کيسه کوله چې يو وخت مې په کندهارکې له ملاصاحب سره په مجلس کې يادونه وکړه چې: اصولاً د يوه بهرني ملک سفير په کوربه هيواد کې بايد يوازې د بهرنيو چارو له وزارت سره اړيکي وپالي، مگر موږ داسې شواهد پيدا کړي چې د پاکستان سفير عزيز احمد خان هڅه کوي چې د بهرنيو چارو د وزارت له خبرتيا پرته يو شمير امارتي ادارو او اشخاصو سره مستقيمي اړيکي جوړې کړي.

مرحوم حقاني صاحب وايي: چې د دې خبرې په اوريدو ملاصاحب په غوسه شو او يوه شيبه غلی و، خووروسته يې په لنډو او صريحو ټکو راته وويل: دا ځل چې کابل ته لاړې اول کار دا وکړه چې دغه سفير راوغواړه، سم يې سر ورخلاص کړه، چې موږ دا دومره دربدرۍ د استقلال لپاره په سر وړې دي، د پاليسۍ سره سم حد ورته وټاکه او ورته ووايه چې که په دې لاره تلای او چليدلی شې و چليږه او کنه ځه په مخه دې ښه.

ملا صاحب د خپلو شرعي مواقفو په څير د افغانستان د ځمکني تماميت د مسائلو په اړه هم ډېر حساس و، له پاکستان سره د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې طالبانو څو ځله د پاکستان له عسکرو سره شخړې وکړې، په برامچه، پکتيکا، د خوست غلام خان او بتې سيمه دغه راز د ننگرهار د تورخم او گوشتې په سيمو کې يې پاکستاني عسکر په شا وتمبول او په خوست کې يې پاخه جوړ شوي تاسيسات چې د کرښې نه د افغانستان غاړې ته جوړ شوي و ورونړول.

خو له دې سره سره ملا صاحب له پاکستان سره د يوه مسلمان ورور ملت په توگه په اخوت او دوستانه اړيکو ټينگار درلود. د پاکستان ديني مدارس، د هغوی مشائخ او طالبان چې اکثرو يې د افغانستان له اسلامي امارت سره منهجي او فکري يووالی درلود

ملا صاحب ورته په خورا درنه سترګه کتل. د کشمیر د مسئلې په اړه ملاصاحب په یو
مرکه کې ویلي (موږ مخکې هم ویلي دي چې په کشمیر کې دې په مسلمانانو باندې
ظلمونو بند کړل شي او دا مسئله دې د کشمیر د مسلمانانو له غوښتنو سره سم او یا هـ
د ملګرو ملتونو د پریکړو په اساس حل شي. څکه دغه کار د هند او پاکستان دواړو پ
ګټه دی، کشمیري مسلمانان د ازادۍ حق لري او دا حق باید ورکړل شي)

د ۱۹۹۹ م کال د اکتوبر په دولسمه (۲۰ / ۷ / ۱۳۷۸ هـ ش) د پاکستاني پوځ مشـ
جنرال

پرویز مشرف په نواز شریف کودتاه وکړه او قدرت یې په لاس کې واخیست. پروی
مشرف چې د پوځ مشر و له کودتا یوه ورځ وروسته یې بیړنی فرمان صادر کړ او ځا
یې صدر اعظم اعلان کړ، چې په دې ډول یې له پوځي مشرۍ علاوه د هیواد اجرایو
اختیارات هم په لاس کې واخیستل. ملا محمد عمر مجاهد چې په اسلامي هیوادون
کې د اسلامي اقتدار راګرځیدل او د شریعت نفاذ یې ستر ارمان و او په دې برخه کې
یې د اسلامي نړۍ د ستر اقتصادي ځواک او یوازیني اټوم لرونکي هیواد په حیـ
پاکستان یو مهم اسلامي هیواد ګاڼه د مشرف له کودتا څه موده وروسته یې نوموړي
د واکمنۍ د مبارکۍ په عوض توصیه لیک واستاوه.

ملا محمد عمر مجاهد د پاکستان مشر پرویز مشرف ته ولیکل چې پاکستان یو
اسلامي هیواد دی، د اسلام په نوم جوړ شوی دی، خلک یې متدین دي، اسلام
روحیه لري او اسلامي شریعت غواړي. دا چې اوس تاسو د پوځ او ملکي حکومـ
ټول اختیارات په لاس کې لرئ او په وړاندې مو کوم خنډ نشته، نو له دې فرصت نه ې
استفاده په پاکستان کې اسلامي نظام اعلان او اسلامي قانون تطبیق کړئ. دا به ستاس
خورا ستره کارنامه چې اسلامي تاریخ به ورباندې ویاړي.

**ایران**

د ایران حکومت چې د تنظیمي هرج و مرج په دوران کې یې د افغانستان په کورنیو
جګړو کې فعال حضور درلود او د حزب وحدت د ملیشو سره یې مرستې کولې له یې

يې طالبانو ته د شک په سترګه کتل او د هغوی په اړه يې د پيش قضاوتونو له مخ
چلند کاوه. له حزب وحدت سره د طالبانو ټکر ايران په بشپړه توګه د اسلامي امارت
مخالف جهت کې ودراوه نو ځکه يې په نيمروز، فراه، هرات، کابل، باميان او
افغانستان په نورو بيلابيلو سيمو کې د اسلامي امارت له مخالفينو سره ښکاره مرستې پ
کړې.

که څه هم د ايران حکومت د اسلامي امارت د واکمنۍ په ټوله موده کې د طالبانو
اړه تر ټولو بد تبليغات کول خو د اسلامي امارت زعيم ملا محمد عمر مجاهد له د
سره سره چې د ايران له چلند څخه راضي نه و مګر بيا يې هم په خپلو بيانيو کې
ګاونډي هيواد ايران حکومت د دښمن په نوم نه ياداوه.

په مزار شريف کې چې د ايران د قونسلګرۍ کارکوونکي د نامعلومو کسانو لخ
ووژل شول، که څه هم ايران يې طالبانو ته د پړې ګوته نيوله خو طالبانو دغه تور رد ک

د ايران حکومت د مزار شريف د واقعې په غبرګون کې له افغانستان سره په پوله پرت
سيمو کې درنې پوځې مانورې پيل کړې چې تر دوه سوه زره پورې پوځيانو په ک
برخه درلوده او په يوه ډول يې په افغانستان د بريد ګواښ رامنځته کړ. ملا محمد عم
مجاهد د احتياط په خاطر يو شمير ځواکونه له ايران سره پولې ته وليږل او په کابل ک
يې د ټول افغانستان د علماء کرامو غونډه راوبلله، دغه غونډه چې شاوخوا يونيم زر تن
مخکښو علماء کرامو په کې ګډون درلود د ۱۳۷۷ لمريز کال د ميزان په دوهمه يې
يوه پريکړه ليک په صدور سره ووېل چې: د افغانستان اسلامي امارت او د ايرا
حکومت دې دواړه د يو بل په وړاندې له زغم څخه کار واخلي. ځکه چې د دواړ
اسلامي هيوادونو تر منځ جګړه د ټولې اسلامي نړۍ پر زيان او د کفارو په ګټ
تماميږي. خو که ايران يا بل هر هيواد په افغانستان بريد وکړي په وړاندې يې پر هـ
افغان جهاد فرض دی.

**د اسلامي امارت د واکمنۍ په وروستيو کې د امارت او ايران تر منځ اړيکي مثبت خو**
**ته روانې وې، داسې معلوميدله لکه ايران چې طالبان پيژندلي وي چې په کامله توګ**
**خپلواک خوځښت دی چې د افغانستان د خلکو نمايندګي کوي.**

## ترکمنستان او چین

ترکمنستان او چین هیوادونو هم له طالبانو سره د ګاونډیتوب په اصولو سمې اړیکې درلودې او د افغانستان په جګړه کې یې د هیڅ لوري ملاتړ نه کاوه. ترکمنستان هڅه کوله چې د اسلامي امارت او مخالفینو تر منځ جوړجاړی رامنځته شي. په همدې موخه یې یو ځل په عشق اباد کې د مذاکراتو کوربه توب هم وکړ. ترکمنستان د نړیوالو بندیزونو په وخت کې هم له افغانستان سره خپله وفاداري پر ځای وساتله او د تیلو، غازو او نورو ضرورت وړ توکو په برخه کې د افغانستان ضروریات رفع کول.

## د اسلامي امت د قضایاوو په اړه دامیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد مواقف

رسول الله صلی الله علیه وسلم اسلامي ټولنه یو جسد بللې چې هر مسلمان باید د بل مسلمان درد حس کړي او په ویر یې ځان شریک وبولي.

د همدې نبوي ارشاد سره په مطابقت ملا صاحب هم اسلامي امت ته د یوه جسد او یوه مشترک کور په نظر کتل. هغه سره له دې چې په هیواد دننه له ډیرو ستونزو او بوختیاوو سره لاس او ګریوان و خو بیا یې هم په نړیواله کچه د مسلمانانو دردونه نه هیرول او همیشه یې ورسره خپله غمشریکي او خیرخواهي شریکوله.

که څه هم اسلامي امارت له افغانستان بهر له نورو اسلامي ډلو سره د عملي مرستو کولو کوم فعالیت نه درلود او نه یې هم وضعیت او شرایطو ایجابوله چې همدې موضوع ته ملا صاحب خپله هم هغه وخت اشاره وکړه کله یې چې د چیچنیا د خپلواک دولت د په رسمیت پیژندلو په موضوع له بي بي سي سره مرکه کوله. خو دا چې د نړۍ له مسلمانانو څخه معنوي او اخلاقي ملاتړ او له هغوی سره د خواخوږۍ او همدردۍ اظهار د ایمان له غوښتنو څخه وه د اسلامي امارت مشرتابه خپله اسلامي وظیفه بلله او پرته د سیاسي ملاحظاتو له رعایت یې دغه ایماني دنده سرته رسوله.

## د فلسطین قضیه

د فلسطین قضیه د اسلامي امت له سترو قضایاوو ګڼل کیږي. فلسطین چې د مسلمانانو لومړني قبله (مسجد اقصی) په کې واقع دی او له دیارلس پیړۍ زیاته موده د مسلمانانو

تر واک لاندې و د تيرې ميلادي پيړۍ په منځنيو کلونو کې د غربي استعمارگرو د پلان له مخې دغه سيمه له مسلمانانو غصب او يهودي دولت په کې رامنځته شو. له هغه وروسته د فلسطين اصلي مالکان (عرب مسلمانان) د دې وطن له اصلي خاورې شړل شوي، ختيځ پلو ته د اردن سيند په لويديځه غاړه او غرب اړخ ته د غزې تړانگې په محدوده کې کلابند شوي دي.

فلسطيني مبارزين د خپل غصب شوي وطن د بيرته اخيستلو لپاره په جهادي مبارزه بوخت دي، د نړۍ مسلمان ولسونه له فلسطيني مظلوم ولس سره خواخوږي لري.

ملا محمد عمر مجاهد هم د اسلامي اخوت د احساس له مخې د خپلې واکمنۍ له پيله په کلکه د فلسطيني ملت د جهادي داعيې ملاتړ وکړ او په دې اړه يې بيا بيا فرمانونه او د خواخوږۍ پيغامونه صادر کړل. د بيلگې په توگه د ۲۰۰۰ ميلادي کال په اکتوبر مياشت کې چې اسرائيلو په فلسطيني ولس ميشتو سيمو بريدونه وکړل، ملا محمد عمر مجاهد د يوه پيغام په صدور سره چې په عربي ژبه خپور شوی و اسلامي امت په خاص ډول عرب هيوادونه د فلسطينيانو مرستې ته راوبلل. د دې پيغام په يوه برخه کې راغلي وو( تصدى الشعب الفلسطينى الأعزل للمظالم منذ السنوات و اشتدت هذه المظالم فى الآونة الاخيرة فى قتل الفلسطينين المسلمين و تجريحهم والزج بهم فى زنازين السجون. و أعتقد أن اسرائيل سوف لا تتوقف عن هذه المجازر البشعة لأن امريكا تقف وارئها بالدعم و التأييد. فيجب على البلاد العربية أن تردع هذا الظلم الاسرائيلي أو لتطلب المدد من العالم الاسلامى لردع هذا العدوان السافر.

ژباړه: د فلسطين بيچاره ولس له ډيرو کلونو راهيسې ظلمونه گالي، په دې وروستيو کې دغه مظالم نور هم زيات شوي چې مسلمان فلسطينيان وژل کيږي، ټپيان کيږي او په زندانونو کې کړول کيږي. زه باور لرم چې اسرائيل به د بوږنوونکو مظالمو دغه سلسله ونه دروي ځکه امريکا يې تر شا ولاړه ده ملاتړ او تائيد يې کوي. نو بناء په عربي هيوادونو لازمه ده چې د اسرائيلي ظلم مخه ونيسي-او يا دې له اسلامي نړۍ د دې ښکاره تجاوز د مخنيوي په مقصد مرسته وغواړي.

## د چیچنیا خپلواک دولت په رسمیت پیژندل

چیچنیا یا شیشان د روسیې په جنوب لویدیځ کې د شمالي قفقاز لـه مسلمان میشتو سیمو څخه ده چې د پخواني شوروي اتحاد پرمهال د منځنۍ اسیا د قبضه شویو سیمو په څېر د شوروي یوه برخه بلل کیدله. په ۱۹۹۱ میلادي کال کې د دې ځای مسلمانانو د یوه پخواني جنرال (جوهر دودایف) پـه مشـرۍ پـاڅون وکړ او د چیچنیـا ایچکریـا جمهوریت په نوم یې د خپلـواک هیـواد لپـاره مبـارزه پیـل کـړه. د بـوریس یلڅین پـه مشرۍ د روسیې حکومت د پوځي عملیاتو له بیا بیا ناکامۍ وروسته دا بنه وبلله چې د چیچنیا له مجاهدینو سره اوربند وکړي، د ۱۹۹۶ م کال په اګست کې د بوریس یلڅین او چیچنیایي مشـر اسلان مسخدوف تـر منـځ د اوربنـد تـړون امضـاء او پـه دې ډول د قفقاز په شمال کې له کلونو وروسته یو ځل بیا د مسلمانانو خپلواک هیواد رامنځته شو.

په روسیه کې د ولادیمیر پـوتین لـه واکمـن کیـدو وروسـته پـه ۱۹۹۹ م کـال روسـیې د چیچنیا په خپلواک جمهوریت یرغل وکړ او په مقابل کې یې د چیچنیـا مجاهـدینو یـو ځل بیا مسلح جهاد پیل کړ. په همدې مرحله کې چې د شمالي قفقاز په محصوره سیمه کې د شیشاني مؤمنانو واکمني تر سختو بریـدونو لانـدې وه ملامحمـد عمـر مجاهـد د خپل دیني اخوت له مخې له دغو مستضعفو مسلمانانو سره خپلـه خواخـوږي څرګنـده کړه. ملا صاحب د رسمي اعلامیـې پـه خپرولـو او وروسـته لـه بي بي سي راډیـو سره د مصاحبې له لارې په چیچنیا د روسیې یرغل په سختو ټکـو وغانـده او مسـلمانان یـې د چیچنیا د مجاهدینو ملاتړ ته راوبلل.

د ۲۰۰۰ میلادي کال په لومړۍ میاشت کې د چینچنیا د پخواني لومړي وزیر زلیم خـان اندربابیف او خارجه وزیر اودګـوف پـه مشـرۍ د چیچنیـایي مجاهـدینو یـو مخکښ پلاوی افغانستان ته راغـی، لـه مـلا صـاحب سره یـې ولیـدل او وروسـته د یـوې ګـډې اعلامیې او یوه تفاهم لیک په خپرولو سره اسلامي امارت د چیچنیا خپلواک دولـت پـه رسمیت وپیژاند او بالمقابل د چیچنیا د خپلـواک دولـت لـه لـورې اسـلامي امـارت پـه رسمیت وپیژندل شو. د اسلامي امارت لخوا د چیچنیا د مسلمانانو خپلواک دولـت پـه رسمیت پیژندلو که څه هم د هغه دولت د سقوط مخنیوی ونه کـړای شـو خـو پـه هغـه

سخت حالت کې د چیچنیا د محصورو مؤمنانو په وړاندې د ملا صاحب دغسې له خواخوږۍ ډک چلند ثابته کړه چې نوموړي د اسلامي اخوت رشتې ته د ګټې او استفادې له ملاحظو پرته یوازې د دیني وجیبې په حیث ژمنتیا درلوده. له همدې امله خو یې د چیچنیا د خپلواک دولت د رسمیت پیژندلو د ګډې اعلامیې متن داسې پیل شوی و ( بسم الله الرحمن الرحیم. انما المؤمنون اخوة. الآیة. د مسلمانو ولسونو تر منځ د اخوت د نه شلیدونکې رشتې او د دې وررولۍ د لا ټینګښت په مقصد د افغانستان اسلامي امارت د چیچنیا ایچکریا جمهوریت مسؤلین تر خپل منځ د دیپلوماتیکي اړیکو د نښلولو په برخه کې موافقې ته ورسیدل)

## د ترکیې له اسلامپالو سره خواخوږي

ترکیه یو لوی او مشهور اسلامي هیواد دی چې شاوخوا اوه پیړۍ د اسلامي خلافت مرکز پاته شوی دی. د اروپایي استعمار او د شلمې پیړۍ د نړیوالو تحولاتو په لړ کې د ترکیې عثماني خلافت هم ونړېد پر ځای یې سیکولر نظام را منځته او د دې هیواد مسلمان ولس د بې دینه غرب پالو لخوا په سختۍ محکوم او له خپل دیني اصالت څخه ګوښه کړای شو. خو د شلمې پیړۍ په وروستۍ نیمایي کې د ترکیې اسلامپالو یو ځل بیا خپل سیاسي خوځښت پیل کړ. دا خوځښت چې پرلپسې ورته د سیکولر واکمنو او پوځ لخوا خنډونه جوړیدل هغه وخت یې زور واخیست کله چې په ۱۹۷۰ میلادي کال کې د استاد نجم الدین اربکان په نوم یوه ځیرک او مخلص سیاستوال یې د مشرۍ واګې په لاس کې واخیستې او د ترکیې لومړنی اسلامي ګوند یې تأسیس کړ.

اربکان او مسلمان پلویان یې له ټولو ستونزو او ګواښونو سره سره مسلسل د پرمختګ په حال کې و، تر دې چې په ۱۹۹۵ م کال کې د ترکیې په سرتاسري پارلماني ټاکنو کې د اربکان اسلامي ګوند( حزب رفاه) بې سارې بریا تر لاسه کړه، هغه دا چې د ټولو کارول شویو رایو د ۲۱٪ په ګټلو سره تر نورو ټولو ګوندونو مخکې شو. د اربکان ګوند د حکومت جوړولو لپاره له ( ښی لارې ګوند) سره ایتلاف وکړ چې په نتیجه کې یې د ۱۹۹۶ م کال د جون په ۲۹ نیټه استاد نجم الدین اربکان د ترکیې د لومړي وزیر ( صدر اعظم) په حیث وټاکل شو. دا په ۱۹۲۴ م کال کې د عثماني خلافت له سقوط ۷۲ کاله

وروسته لومړی ځل و چې یو اسلام ته متعهد سیاستوال د ترکیې هیواد په دومره مهمه څوکۍ ټاکل کیږي او د صدر اعظم په حیث دنده پیلوي. د ترکیې د صدر اعظم په حیث د اربکان ټاکل کیدل که څه هم د لنډ وخت لپاره ول، تر دې چې یو کال وروسته سیکولر جنرالانو نوموړی په کودتا تهدید او استعفاء ته مجبور کړ، خو د اسلامپالو دغه بریا د ټول اسلامي امت لپاره یوه مهمه لاسته راوړنه وه. د اسلامپالو دې بریا د اسلامي امت دا هیلې تاندې کړې چې ترکیه یو ځل بیا خپل اسلامي اصالت ته ګرځیدونکې ده او د تپل شوي سیکولرزم زوال را نږدې دی. د افغانستان د اسلامي امارت مؤسس ملا محمد عمر مجاهد چې د هیواد، سیمې او نړۍ په سطحه یې له اسلامي خوځښتونو سره ژوره خواخوږي درلوده، د اربکان په بریا یې نوموړي ته د مبارکۍ رسمي پیغام ولیږه چې متن یې له طلوع افغان ورځپاڼې څخه په استناد په لاندې ډول درته تقدیموو.

عالیقدر محترم جناب نجم الدین اربکان د ترکیې منتخب صدر اعظم !

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

په دې وسیله د تر کیې د اسلامي هیواد د صدر اعظم په توګه ستاسو د انتخاب مبارکي وایم ، د لوی خدای جل جلاله له دربار څخه در ته توفیق غواړم څو د نړۍ مسلمانانو په تیره بیا د ترکیې اوسیدونکو ته د لا زیات خدمت مصدر وګرځئ .

محترمه وروره!

د افغانستان او ترکیې مسلمان خلک په دیني، مذهبي او تاریخي اړیکو لرلو سربیره نور هم سره نږدې دي څکه په افغانستان کې د کمونیزم د مسلط کیدلو په مصیبت کې د ترکیې مسلمانان هغه خلک وو چې زموږ ډېر مهاجر ورونه یې ومنل او د هغوی په خدمت کې یې سپما و نکړه، زه په داسې حال کې چې د ځان او افغان مجاهد ملت له لوري د همدې همدردۍ مننه کوم ، هیله مند یم څو زموږ او ستاسو د مسلمانو خلکو د

داسي اړيکو په در لودلو سره مو د خدای جل جلاله د دين او مخلوق د خدمت په لاره کې نوري هم هلي ځلي مثبتي نتيجي ور کړي.

و السلام

ملا محمد عمر مجاهد

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحريک مشر

**مهاجر مجاهدين او د شيخ اسامه موضوع**

افغانستان ته د نورې نړۍ د مهاجرو مجاهدينو راتګ له هغه وخته پيل شو کله چې په ۱۳۵۸ هـ ش کال کې شوروي ښکيلاک په افغانستان بريد وکړ او دغه يرغل د هند بحر ته د شورويانو د ځان ايستلو هڅه وبلل شوه چې د خليج د عربي هيوادونو په ګډون يې د نړۍ ډيری مسلمانان وويرول.

هغه وخت په افغانستان بريد په اسلامي امت بريد بلل کيده، له همدې امله خو نه يوازې د نړۍ مسلمانانو له افغان مجاهدينو او مهاجرينو سره د مالي او تسليحاتي مرستو لړۍ پيل کړه، بلکې په منظم ډول يې خپل ځوانان هم هڅول چې په افغانستان کې د شوروي يرغلګرو په خلاف وجنګيږي.

فلسطيني عالم او مفکر شيخ عبدالله عزام چې وروسته يې د بهرنيو مجاهدينو خصوصا عربانو د مقتدا او مشر په حيث بروز وکړ د شوروي له يرغل نه لږ موده وروسته د سعودي عربستان د جدې له پوهنتون څخه د پاکستان د اسلام اباد نړيوال پوهنتون ته د استاد په عنوان راغی. خو درې مياشتې وروسته يې د پوهنتون استادي پرېښوده او په افغانستان کې يې د شورويانو په خلاف مسلح جهاد پيل کړ.

شيخ عزام وروسته د مکتب الخدمات په نوم مرکز پرانيست چې د عربو مجاهدينو د رايوځای کيدو مرکز و، دغه راز يې له جهادي تنظيمونو سره په مرسته سربيره خپل ځانګړې پوځي تشکيلات هم رامنځته کړل او د پکتيا ولايت د ځاځيو په سرحدي سيمه کې يې د (مأسدة الانصار) په نوم معسکر پرانيست. شيخ عزام وتلی ديني عالم او

اورژبی خطیب و چې په خپلو جذابو بیانونو سره یې په لنډ وخت کې په عربي نړۍ کې جهادي هنګامه خپره کړه او د زرګونو په شمیر عرب ځوانان یې په جهادي فکر وروزل.

د شیخ عزام د فکر خلاصه دا وه چې اسلامي نړۍ د کفارو تر سیاسي، اقتصادي او فکري استعمار لاندې ده او په وړاندې یې باید نړیوال جهاد وشي. د همدې فکر په اساس شیخ عزام نه یوازې د افغانستان جهاد لازم باله، بلکې د نړۍ په نورو برخو کې یې هم د جهادي خوځښتونو د اغاز لپاره کار کاوه. خو شیخ عزام د پټو انفرادي بریدونو یا په اصطلاح انډرګراونډ مبارزې په نسبت علني او مفتوح جهادي فعالیت غوره او مؤثر باله، داسې جهادي جبهات چې د عام مسلمان ولس ملاتړ ورسره وي. له همدې امله خو نوموړي د نړۍ په بیلابیلو برخو کې خپلو پلویانو ته د انفرادي بریدونو اجازه نه ورکوله او پر ځای یې د فلسطیني حماس تنظیم او افغان جهاد ملاتړ کاوه.

د شیخ عزام تر مشرۍ لاندې زرګونو عرب مجاهدینو په شوروي ضد جهاد کې برخه واخیسته، ګڼ شمیر یې شهیدان هم شول چې تورخم ته نږدې یې مشهوره هدیره ده. عبدالله عزام په ۱۳٦۸ لمریز کال کې په پیښور کې یوې مرموزې چاودنې له غبرګو زامنو سره شهید کړ، خو پلویان او شاګردان یې د جهاد د بریا تر وخته په افغانستان او پاکستان کې موجود و.

د جهاد په وروستیو کلونو کې په پاکستان کې په عرب مجاهدینو فشارونه زیات شول، زیاتره یې بیرته خپلو هیوادونو ته لاړل او ځینې یې د نړۍ په نورو برخو لکه چیچنیا، صومال، بوسنیا او الجزایر کې له جهادي جبهاتو سره یوځای شول. شیخ اسامه بن لادن چې د سعودي اوسیدونکی او د شیخ عزام له بانفوذه شاګردانو څخه و، د جهاد په وروستیو کلونو کې سعودي عربستان ته لاړ. د خلیج د جګړې په مهال کله چې سعودي حکومت له امریکا مرسته وغوښته او امریکایي پوځیانو ته یې په خپله خاوره ځای ورکړ، اسامه او ملګرو یې د حرمینو په خاورو د صلیبي پوځیانو له شتون سره مخالفت وښود. همدا مخالفت د دې سبب شو چې اسامه نه یوازې د سعودي بلکې د

امریکایانو لخوا هم د دښمن په حیث معرفي شي، نو ځکه ورته د سعودي ځمکه سره شوه او سوډان ته په تللو مجبور شو.

په سوډان کې اسامه بن لادن په ودانیزو چارو بوخت و، خو امریکایانو هلته هم ارام پرې نه ښود او د سوډان له حکومته یې د نوموړي د ورسپارلو غوښتنه وکړه. د ستیوکول په نوم امریکایي لیکوال په خپل کتاب (جنګ اشباح) کې لیکلي چې هغه مهال امریکایان په داسې حال کې د اسامه په نیولو پسې وو چې د هغه د نیولو لپاره یې هیڅ قانوني مجوز په لاس کې نه درلود، ځکه اسامه د امریکا په خلاف کوم عمل نه و ترسره کړی او نه هم وربانديې کوم داسې تور موجود و چې د هغه محاکمه کولو ته لاره هواره کړي.

د ۱۳۷۵ لمریز کال په پسرلي کې هغه مهال چې د افغانستان جنوبي ولایات د ملا محمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې د طالبانو په لاس کې و. پلازمینه کابل د برهان الدین رباني تر واک لاندې وه او د افغانستان په ختیځو سیمو کې د مشرقي شورا واکمني وه، د مشرقي د شورا ځیني قومندانان لکه استاد سازنور، انجنیر محمود، فضل حق مجاهد او ډاکټر امین د سوډان په انقلابي جشن کې د شرکت لپاره د هغه هیواد پلازمینې خرطوم ته لاړل. دا هغه وخت دی چې د سوډان په واکمن عمر البشیر د امریکا او سعودي فشارونه اوج ته رسیدلي تر څو اسامه بن لادن ورروسپاري. عمر البشیر امریکایانو ته ویلي چې که د اسامه بن لادن په خلاف کوم اسناد لرئ له موږ سره یې شریک کړئ. خو امریکایانو بې له قید او شرطه د اسامه سپارل غوښتل. د مشرقي شورا قومندانان د پخواني شناخت په اساس له اسامه بن لادن سره ګوري او دې توافق ته رسیږي چې اسامه بن لادن باید له خپلې کورنۍ او ملګرو سره افغانستان ته راشي.

په همدې ترتیب اسامه بن لادن له خپلو پنځلس تنه مهمو ملګرو او کورنۍ سره د مشرقي شورا په وساطت او په کابل کې د برهان الدین رباني د حکومت په تائید او مرسته افغانستان ته راغی او جلال اباد ښار ته نږدې د جهادي رهبر مولوي محمد یونس خالص صاحب په کوربه توب د نجم الجهاد په ښارګوټي کې میشت شو.

د همدې کال په سنبله میاشت کې طالبانو د ختیځو ولایاتو او کابل د نیولو عملیات پیل کړ، د جلال اباد له نیولو سره هغوی د اسامه بن لادن او د هغه د ملګرو لـه شتون ځخ خبر شول او ملا صاحب د کابل له فتحې وروسته له عرب مجاهدینو سره د لیدنې او د هغوی د حال معلومولو لپاره درې کسیز هیئت وټاکه.

د غزني ولايت اوسيدونکی مولـوي عبدالصـمد چـې د دې هيئت غـړی و وايـي مور لومړی ځل ننګرهار ښار ته نږدې د مولوي خالص په فـامیلیو کـې لـه شـیخ اسـامه سره ولیدل. له ده مو څو پوښتنې وکړې او ده په ځواب کې راتـه وویـل چـې: زه د شـوروي خلاف جهاد له لومړیو کلونو دلته راغلی یم. په افغانستان کې مې جهاد کړی حتـی پـه زرګونو ملګري مې دلته شهیدان شوي او په دې وطن کـې دفـن دي. کلـه چـې جهـاد کامیاب شو زه خپل وطن سعودي ته لاړم. هلته مې خپل تجـارتي کارونـه هـم کـول او ورسره مې د دنیا په مختلفو برخو کې له مجاهدینو سره همکاري کوله. ماتـه د سـعودي د حکومت خلک راغلل چې که دلته اوسې یوازې به شخصي کـار کـوي پـه جهـادي چارو او سیاست به کار نه لرې. زه پوه شوم چې اصلا امریکایانو زموږ دیني فعالیت نـه خوښاوه، وروسته ما په سعودي کې خپل ځان خوندي نه باله نو سوډان ته لاړم.

خو په سوډان کې هم امریکایانو په ارام پرې نه ښودم او زه مجبور شوم چـې افغانسـتان ته راشم. افغانستان زما د جهاد کور و، زه غواړم چې دا مې د هجرت کور هم شي او که ما څوک له دې خاورې په زور ونه باسي نو زه غواړم چې تـر مرګـه همدلتـه واوسـم او مرګ مې هم په همدې خاوره کې شي.

مولوي عبدالصمد وايي چې موږ د شيخ اسامه خبرې او له هغـه سره د ملاقـات جريـان ولیکه او د راپور په شکل مو ملا صاحب ته راوړ. د ملاصـاحب پـه دوی د مهـاجرو او بې پناه ګاه مسلمانانو په حیث زړه وسوځید او د دې لپاره چې ښه پالنـه يـې شـوې وي امر يې وکړ چې شيخ اسامه دې له خپلې کورنۍ سره له ننګرهاره کندهار ته رانقل کړای شي.

اسامه بن لادن وروسته خپل کور له ننگرهار څخه کندهار ته نقل کړ او د کندهار هوايي ډگر ته نږدې د هوايي ډگر د کارکوونکو لپاره په جوړو شویو پخوانیو کورونو کې يې واړول.

اسامه بن لادن د ۱۹۹۸ م کال په فبروری میاشت کې په خوست کې د ژوره په نامه پخوانۍ جهادي سيمه کې له ځينو بهرنيو خبرياﻻنو سره مرکې وکړې او د مرکو په ترڅ کې يې د امریکا لخوا د جزيرة العرب اشغال وغانده او په مسلمانانو يې غږ وکړ چې د حرمینو له ځمکې د امریکايي پوځيانو د شړلو لپاره سره متحد شي.

د اسامه بن لادن دې خبرو امریکا يو ځل بيا وپاروله او له طالبانو يې غوښتنه وکړه چې اسامه بن لادن وروسپاري. د همدې کال د اگست په اوومه د کينيا او تانزانيا په پلازمينو نايروبي او دارالسلام کې د امریکا له سفارتونو سره چاودنې وشوې او د گڼو نورو خلکو په شمول يې ۱۲ امریکایان ووژل شول چې پړه يې امریکا پر اسامه بن لادن واچوله. له دې برید دوه اونۍ وروسته د اگست په شلمه نېټه (۲۹ / ۵ / ۱۳۷۷هـ ش)د امریکا ولسمشر بل کلنټن په افغانستان کې د اسامه بن لادن په مراکزو د برید امر ورکړ او په همدې شپه امریکایانو د هند له بحر څخه په افغانستان ۷۵ کروز توغندي وويشتل چې د خوست په ژوره کې د پخواني جهاد د وخت په سمڅو کې اوسیدونکي ځينې کسان يې زخميان او شهیدان کړل.

د افغانستان په حريم د امریکایانو دغې حملې د طالبانو او امریکا تر منځ بالقوه دښمني بالفعل حالت ته راوايسته، په افغانستان برید په درست هیواد کې د امریکا په خلاف ولسي قهر راوپاراوه، مظاهرې وشوې او د امریکا دغه اقدام سخت وغندل شو. په دې سربیره امریکايي حکومت او رسنیو هم د اسلامي امارت خلاف سخت تبليغات او دښمنانه چلند پیل کړ او بل کلنټن فرمان صادر کړ چې په امریکا کې د افغانستان دحکومت ټولې شتمنۍ دې کنگل کړل شي. له همدې ځایه د شیخ اسامه موضوع د طالبانو او امریکا تر منځ په یوه داسې لانجه بدله شوه چې وروسته په مخامخ جنگ منتهي شوه.

## د اسامه بن لادن په اړه د ملاصاحب موقف

ملا صاحب اسامه بن لادن ته د یوه داسې بې کوره او مهاجر مسلمان په نظر کتل چې له افغانستان پرته یې بل هیڅ د پناه ځای نه درلود او له افغانستانه ایستل یې امریکا ته د ورسپارلو معادل و. له همدې امله خو ملا صاحب د شیخ اسامه بن لادن له ښارلو سره موافق نه وه. بالمقابل هغه د موضوع د حل لپاره داسې طرحه درلوده چې اسامه بن لادن دې د یوه مهاجر یا پناه اخیستونکي په حیث په افغانستان کې واوسیږي خو په دې شرط چې د اسلامي امارت لخوا وضع شوي قیودات به رعایت کوي.

طالبانو رسما له شیخ اسامه غوښتي و چې د سعودي عربستان او نورو هیوادونو په خلاف دې دښمنانه څرګندونې او ګواښونه نه کوي. خو شیخ اسامه چې په افغانستان کې د اوسیدو په لومړیو دوو کلونو کې له بهرنیو مطبوعاتو سره مرکې کړې وې او د غرب او سعودي خلاف یې کومې خبرې کړې وې، هغه څرګندونې امریکایانو د دې لپاره کافي بللې چې د اسلامي امارت په خلاف د یوې بهانې په حیث ترې استفاده وکړي او د موضوع په پړسولو سره په طالبانو فشار وارد کړي.

دا چې امریکایانو پرلپسې له طالبانو څخه د شیخ اسامه د ورسپارلو او محاکمې غوښتنه کوله، ملا صاحب اعلان وکړ چې شیخ اسامه له قانون څخه پورته څوک نه دی، که نوموړي واقعا داسې کار کړی وي چې د اسلامي قانون له نظره نوموړی مجرم پیژندل کیدای شي، باید د خپل عمل جزاء ووینې. په همدې مقصد ملاصاحب سترې محکمې ته حکم وکړ چې د شیخ اسامه د موضوع د څیړنې لپاره ځانګړې محاکمه اعلان کړي. د ۱۹۹۸ کال د نومبر په ۹ د اسلامي امارت د سترې محکمې لخوا د شیخ اسامه په اړه د اختصاصي محکمې د جوړولو خبر ورکړل شو او اعلان وشو چې که هر څوک په شیخ اسامه باندې هر ډول دعوه لري تر راتلونکو شلو ورځو دې خپله دعوا په دې محکمه کې ثبت کړي او شواهد دې وړاندې کړي.

خو امریکایان چې له لویه سره یې دا موضوع فقط د یوې بهانې په حیث کاروله، دې اقدام ته یې کوم رسمي التفات ونکړ، نه یې په دې محکمه کې خپله دعوا ثبت کړه او نه یې هم دا اقدام د مسئلې د حل په خوا د یوه اساسي ګام په حیث استقبال کړ. د

محاکمې د فرصت په وروستيو ورځو کې په اسلام اباد کې د امريکا سفارت د اسلامي امارت چارواکو ته يوه ويډيو کيسټ د اسامه بن لادن خلاف شواهدو په حيث وسپاره. خو په هغه کيسټ کې د شيخ اسامه د پړ ګڼلو لپاره هيڅ شواهد نه و. په کيسټ کې يوازې د سي این این ټيلويزيون هغه پخوانی راپور و چې په سوډان کې د شيخ اسامه د اوسيدو په مهال دې ټيلويزيون د نوموړي په اړه جوړ کړی و او يوازې يې هلته د شيخ اسامه د اوسيدو سيمه او د ده د ملګرو کورونو ښودل. د دې بې معنی ثبوت سپارل، خپله په دې ګواه و چې امريکايانو د شيخ اسامه خلاف کوم کره شواهد نه درلودل.

دا چې د شيخ اسامه د فعاليت او ځرګندونو د محدوديت په اړه د طالبانو قاطع اقداماتو د امريکا په پاليسۍ کې بدلون رانه ووست او له طالبانو سره د دښمنۍ پاللو لپاره يې نورې خبرې لکه بشري حقوق، د ښځو تعليم، پراخ بنسټه حکومت وغيره مطرح کړې، نو طالبان هم دې نتيجې ته ورسيدل چې امريکا له لويه سره له اسلامي نظام سره دښمني لري او د شيخ اسامه موضوع يې د يوې بهانې په حيث رامخکې کړې ده.

د طالبانو دغه برداشت ځکه پر ځای و چې د ۱۹۹۹ ميلادي کال په فبرورۍ کې چې کله رسنيو او طالبانو د شيخ اسامه د غيب کيدو او له افغانستانه د وتلو راپورونه نشر کړل د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت وياند جيمز رابن وويل: چې له افغانستانه د اسامه بن لادن په وتلو هم له طالبانو سره لانجه نه ختميږي ځکه د طالبانو نورې ډيرې داسې کړنې شته چې امريکا ته د منلو وړ نه دي.

امريکايانو او نورو هيوادونو د شيخ اسامه له موضوع څخه پرلپسې تبليغاتي استفاده کوله، تر دې چې وروسته خبره سياسي فشارونو او اقتصادي بنديزونو ته ورسيده. په داسې حال کې چې طالبان په کور دننه له يو عالم ستونزو سره مخ و او د نوې واکمنۍ د بنيادونو ټينګول او د هيواد استقرار ورته اولويت درلود، تر خپلې وسې يې هڅه کوله چې د شريعت په رڼا کې له امريکايانو سره د شيخ اسامه موضوع حل کاندي.

په وروستيو کې طالبانو د دې لانجې د ختمولو په مقصد او د دې لپاره چې د افغانستان ملت د امريکايي استعمار له اضافي اذيت څخه په امن شي، د موضوع د حل لپاره يې دوه نورې طرحې هم وړاندې کړې. يوه دا چې د افغانستان، سعودي عربستان او يوه بل

اسلامي هیواد علماء کرام دې سره کښیني او د دې موضوع د حل په اړه دې شرعي پریکړه وکړي. او که دا هم امریکایان نه مني او په اسلامي امارت یې باور نه وي، نو د اسلامي کانفرانس لخوا دې په افغانستان کې د شیخ اسامه د فعالیت څارلو وظیفه په غاړه واخیستل شي. اسلامي امارت به په دې برخه کې له اسلامي کانفرانس سره لازمه همکاري وکړي. تر څو د امریکایانو بهانې ختمې او موضوع حل شي.

خو امریکایانو د موضوع د حل لپاره دغه یوه طرحه هم ونه منله، هغوی غوښتل چې طالبان دې اسامه بن لادن ونیسي او بیا دې لاسترلی دوی ته وسپاري. چې دې کار نه دیني جواز درلود، چې په همدې اساس به ملا صاحب دا خبره بیا بیا کوله چې د اسامه بن لادن له نه سپارلو سره د اسلام علو تړلې ده (الاسلام یعلو و لا یعلی علیه) او نه هم د اسامه سپارل د افغان ولس له تاریخي روایاتو او کلتور سره برابر کار و. د امریکا لخوا د یادو طرحو پرلپسې تردید ملاصاحب دې نتیجې ته ورساوه چې امریکایان اصلا له اسلامي نظام سره ستونزه لري او په هیڅ صورت نه غواړي چې موضوع د تفاهم له لارې حل کړي.

**له امریکایي طاغوت سره مخامختیا**

طالبان په داسې وخت کې واک ته ورسیدل چې د امریکا متحده ایالاتونو ځان د نړۍ یکه تاز زبرځواک باله. د شلمې پیړۍ په وروستیو کې د افغان مجاهدینو (چې له جملې یې یو هم ملا محمد عمر مجاهد و) د میړانې او قربانۍ په برکت شوروي اتحاد ونړېد. د شوروي زوال په حقیقت کې د یوې تاریخي مرحلې پای ته رسیدل و چې په نړیوال نظم کې یې اساسي تغیرات راوستل. د شوروي په نړیدلو سره جګړه پای ته ورسیده، په دوه قطبونو ویشل شوې نړۍ یوقطبي شوه، غرب او په خاص ډول امریکا په یو اړخیز ډول د زبرځواکۍ موقف خپل کړ، تر دې چې د فرانسیس فوکایاما په شان ځینو فیلسوفانو د غرب دغه عروج د لیبرال دموکراسۍ تلپاتې بریا او د تاریخ پای ونوماوه.

په هماغو کلونو کې چې امریکا په درسته نړۍ د خپل (نوي نړیوال نظام) د پلي کولو خوبونه لیدل په افغانستان کې ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي سیاسي حاکمیت د احیاء بیرغ پورته کړ او وروسته له ډېر وخته یې د اسلامي امارت بنسټ کېښود.

د طالبانو د تحریک له پیل نه بیا له امریکا سره د مخامخ جګړې د پیښېدو تر وخته د طالبانو او غرب په خاص ډول امریکاتر منځ تعامل له ټولو هغو پړاوونو تیر شو چې معمولا دغسې حرکتونه ورسره مخامخ کیږي.

د بشریت تاریخ راښیي چې په هره زمانه کې د طاغوت په وړاندې د حق آواز چې کله لومړی را پورته کیږي، طاغوتي قوتونه هڅه کوي ځان ورباندې ناګاره واچوي، تر څو یې سپک او بې اغیزې معرفي کړي. کله چې د حق غږ د طاغوتیانو د توقع خلاف قوت پیدا کوي. بیا نو طاغوت لومړی خپلې سرې حربې کاروي. د حق د اہل کولو، تیر ایستلو، په خپله ګټه د کارولو او کنترول هڅه کوي. کله چې دا هڅه هم نتیجه ورنکړي نو بیا د امتیازاتو او مادي معاملو په توسط هڅه کوي چې د حقانیت رڼا یې ورپیکه او اعتبار یې له منځه یوسي. خو که دغه ټولې حربې کار ورنکړي بیا نو طاغوت د فشار او دښمنۍ وسیلې په کار اچوي. مقاطعه، بندیز، په غیر مستقیم ډول دښمني لکه د مخامخ دښمنانو تقویه کول او داسې نور ډول ډول حربې. او که دا فشارونه هم کار ورنکړي نوبالاخره طاغوت د حق په وړاندې مخامخ د مقابلې ډګر ته راووځي او خبره تر جګړې رسیږي. البته د طاغوتي قوتونو د دې حربو که څه هم انواع او اشکال مختلف وي مګر هدف یې یو وي. د برحق پاڅون خاموش کول او یا هم له خپل اصلي مسیر او مبادئو څخه یې منحرف کول.

د ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي خوځښت په وړاندې د امریکا چلند هم له همدې مرحلو راتیر شو تر دې چې د مخامخ جګړې تر حده ورسېد. هغه مهال چې طالبان له کندهار راپورته شول او د افغانستان جنوب یې له فساد او فتنو څخه تصفیه کړ، بیا د پلازمینې کابل د فتحې تر وخته د شاوخوا دوو کلونو په جریان کې امریکا د طالبانو په شتون ځان ناګاره اچولی و او په رسمي ډول یې له طالبانو سره کومې اړیکې یا دیپلوماتیک تعامل نه درلود.

کله چې د طالبانو تحریک کابل فتحه کړ، امریکایان وپوهیدل چې دغه خوځښت نو
د دې وړ نه دی چې له شتون څخه یې انکار وشي. دا مهال که څه هم د ملل متحد د
امنیت شورا په شمول د نړۍ یو شمیر هیوادونه د ډاکټر نجیب د اعدام له امله طالبانو ت
قهروړي وو خو امریکایانو د طالبانو په وړاندې نرمه رویه را واخیسته. د پلازمینې کابل
له فتحې وروسته د امریکا حکومت په سیمه کې خپلو سیاسي استازو ته امر وکړ چې ل
طالبانو سره اړیکي جوړې کړي. د ۱۹۹٦ میلادي کال د مارچ په ۸ مه (۱۸ / ۱۲ / ۳۷۴
هـ ش) په اسلام اباد کې د امریکا سفیر ټام سیمنز د اسلامي امارت د بهرنیو چارو ل
وزیر ملا محمد غوث سره وکتل. په همدې میاشت کې د امریکا د بهرنیو چارو
مرستیالې وزیرې میرمن رافایل په نیویارک کې د امنیت شورى په یوه غونډه کې پ
نړیوالو غږ وکړ چې له طالبانو سره اړیکي جوړې کړي. نوموړې وویل (طالبان د
افغانستان دوه ثلثه خاوره تر واک لاندې لري، د هغوی د موفقیت راز دا دی چې عا
افغانان یې ملاتړ کوي ځکه د افغانستان ولس د بې نظمۍ او ګډوډۍ په ځای نظم ت
ترجیح ورکوي. طالبانو ثابته کړې چې د پایښت توان لري، د هغوی تجریدول د هیچ
په ګټه هم نه دي.)

خو د طالبانو د اسلامي تحریک په وړاندې د امریکا دا وړ چلند په اصل کې د هغوی
سره حربه وه، هغوی غوښتل چې طالبان په سیمیزه کچه د امریکا د ګټو په مسیر براب
کړي. د ۱۹۹٦ میلادي کال د اکتوبر په اوومه د امریکا د جمهوري پال ګوند یوه پیژندل
شوي غړي زلمي خلیلزاد په واشنګټن پوسټ ورځپانه کې په یوه مقاله کې ولیکل (د
طالبانو اسلامي حکومت د سعودي اسلامي نظام ته ورته دی چې د امریکا د
دښمن (ایران) ضد دی) مطلب دا چې امریکا د طالبانو اسلامي تحریک ته د یوه داسې
اسلامي خوځښت په نظر کتل چې د ځینو نورو تش په نامه اسلامي هیوادونو په څیر د
امریکا د سیمیزو ستراتیژیو د تطبیق په لاره کې د همکار یا پارټنر رول اداء کولای شي

خو له دې نرمو خبرو سره سره امریکایانو له پیله د طالبانو په اسلامي اصلاحاتو
اعتراضونه لرل. او بیا بیا یې یادونه کوله چې طالبان باید د بشر د حقوقو ساتنه وکړي
ښځو ته ازادي ورکړي او د شرعي قوانینو له پلې کولو لاس واخلي.

د امریکا یونیکال شرکت په همدې مرحله کې هوډ څرګند کړ چې غواړي له ترکمنستان څخه د اسیا جنوب ته د ګازو نل لیکه تیره کړي او په دې برخه کې له اسلامي امارت سره له بیا بیا خبرو وروسته یې په کندهار کې دفتر هم پرانیست. دا نل لیکه د جګړه ځپلي افغانستان لپاره یوه مهمه اقتصادي پروژه ثابتیدای شوای چې ورسره به د هیواد بیا رغونې او ولس د اقتصادي ترقی لپاره ډېر امکانات په لاس راتلل. خو امریکایانو هڅه کوله دغه اقتصادي پروژه هم د طالبانو د ایل کولو لپاره د یوې وسیلې په حیث وکاروي. لومړی یې په اړونده برخه کې په لوړه سطحه مذاکرات وکړل، سفرونه وشول او وروسته چې خبره د عملي اجراء مرحلې ته ورسیده. موضوع ته یې سیاسي رنګ ورکړ او د پروژې تطبیق د امریکا د سیاسي ملاحظاتو تر رفع کیدو وتړل شو.

خو دا په طالبانو په خصوصا د اسلامي امارت په زعیم ملامحمد عمر مجاهد د الله تعالی یو ځانګړی مرحمت و چې د امریکا او نورو نړیوالو طاغوتیانو د بیلابیلو مکرونو او حربو په وړاندې په خپلو اصولو ثابت پاته شول او د هغوی په لومه کې ګیر نه شول. د امریکا د همدې سړو حربو او فریبونو له ناکامی وروسته امریکا خپل د حیله ګری له سیاست څخه مایوسه شوه نو ځکه یې د هغو طالبانو په وړاندې د بربنډې دښمنی موقف خپل کړ چې تر پرونه یې د افغانستان د واکمنی اصلي حقداران بلل.

د کتاب پر لپسي شمېره

# شپږم فصل

## په افغانستان د امريکا پوځي يرغل

### د سبتمبر د يوولسمې حمله

د رسنيزو معلوماتو له مخې په دې ورځ د امريکا د باسټن، نيويارک او واشنګټن ډي سي له هوايي ډګرونو څخه څلور مسافر وړونکې الوتکې د ۱۹ تنو الوتک تښتوونکو لخوا وتښتول شوې. لومړۍ دوه الوتکې په محلي وخت شاوخوا نهه بجې په نيويارک کې د نړيوال تجاري مرکز په غبرګو اسمانڅکو برجونو ووهل شوې چې ورسره په دواړو برجونو کې اور ولګېد.

نيم ساعت وروسته دريمه الوتکه په واشنګټن ډي سي کې د امريکا د دفاع وزارت (پينټاګون) په ودانۍ ووهل شوه او څلورمه الوتکه چې د امريکايي چارواکو له قوله په سپينه ماڼۍ د وهلو لپاره د واشنګټن په خوا روانه وه د سپرليو او الوتک تښتوونکو تر منځ د جنجال له امله په پنسلوانيا ايالت کې وغورځېده.

څومره چې دا پيښه ستره او پيچلې وه په وړاندې يې د بوش په مشرۍ د امريکايي حکومت چلند دومره سنجول شوی او دقيق نه و. د (بوش په جنګ کې) کتاب د معلوماتو له مخې هغه مهال چې لومړۍ الوتکه د نړيوال تجارتي مرکز په برج باندې وهل کيدله د امريکا د استخباراتو د مرکزي ادارې (سي آی اې) مشر جورج ټينټ د سپينې ماڼۍ شمال ته په يوه هوټل کې له خپل ملګري پخواني سناتور ډيويډ بورن سره په ناشته ناست و. دوی په مجلس وو چې ناڅاپه د جورج ټينټ ساتونکی په منډه هوټل ته ورغی، د دوی ميز ته ودريد او ټينټ ته يې وويل چې په نيويارک کې په نړيوال تجاري مرکز حمله شوې. جورج ټينټ سمدستي ولاړ شو او بورن ته يې وويل: دا کار د اسامه بن لادن دی.

د سپتمبر د يوولسمې حملو د امريکا متحده ايالاتو ته کمساری ټکان ورکړ چې په تعقيب يې د بوش حکومت بې سابقې اضطراري اقدامات نافذ کړل. په واشنګټن کې اضطراري حالت اعلان او په تعقيب يې سپينه ماڼۍ، دفاع او داخله وزارتونه او نورې مهمې ادارې تخليه شوې. په نيويارک کې د ملل متحد د مرکزي دفتر ودانۍ، وال سټريټ او د امريکا نږدې ټول هوايي ډګرونه تخليه او اضطراري حالت په کې نافذ شو. د امريکا پوځ د پنځو جنګي کښتيو او دوو الوتک وړونکو بيړيو په توسط د امريکا د ختيځ ساحل څارنه پيل کړه او ولسمشر بوش چې په دې ورځ د امريکا په فلوريډا ايالت کې و د ځانګړې الوتکې په توسط نامعلوم لورې ته والوت چې له پيښې لس ساعته وروسته سپينې ماڼۍ ته راستون شو.

د رسمي شميرو له مخې د سپتمبر د يوولسمې په حملو کې ۲۹۹۲ تنه ووژل شول چې ۱۲۵ تنه يې د يوه جنرال په شمول د پينټاګون پوځي چارواکي وو. دغه حمله د امريکا په تاريخ کې يوه له سترو حملو بلل کيږي چې د دې هيواد د تاريخ په بدلون سربيره يې د نړۍ په کچه هم پراخې اغيزې وليدل شوې. له دې حملو نهه ساعته وروسته د امريکا سي اين اين ټيلويزوني چينل د امريکايي مقاماتو له خولې خبر ورکړ چې د دې بريدونو مسؤل اسامه بن لادن دی او دا حمله له افغانستان څخه طرح شوې ده.

د نيويارک سهار چې د افغانستان ماښام کيده، ملا محمد عمر مجاهد له دود سره سم په خپل ميشت ځای کې و، چې د دفتر کارکوونکي يې ( سيد طيب اغا ) په امريکا د حملو په اړه خبر ورکړ.

**له پيښې وروسته**

د سپتمبر د ۱۱ مې له پيښې وروسته د امريکا د فدرالي تحقيقاتو ادارې ايف بي آی او سي آی اې دواړو له پيښې يوه ورځ بعد شيخ اسامه بن لادن د بريدونو طراح وباله، د سپتمبر په دوولسمه د امريکا حکومت د عربو په خليج کې خپلو پوځونو ته د تيارسی حکم وکړ او امريکايي ولسمشر بوش په خپله لومړنۍ وينا کې طالبانو ته وويل چې بايد عرب مجاهدين بې مقدمې لاسته‌ړلي دوی ته وسپاري بوش وويل (موږ به د هغو چې دا عمل يې کړئ او دهغو چې دوی ته يې ځای ورکړی دی ترمنځ فرق ونه کړو او

دوی ټولو ته به سزا ورکړو ) له دې څخه معلومیده چې امریکا د جنګ قطعي اراده کړې ده.

د پېښې په تړاو د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر وکیل احمد متوکل صاحب له سي این این ټیلویزوني شبکې سره په مرکه کې په پېښه کې لاس لرل په کلکه رد کړل او ویي ویل چې دغه پېښه تردې ستره ده چې عادي خلک یې له دومره لرې هیواد څخه طراحي او ترسره کړای شي. د اسلامي امارت له رد نه وروسته د القاعده تنظیم لخوا هم په پېښه کې لاس درلودل رد شول خو د بوش په مشرۍ د امریکا جنګ غوښتونکي حکومت هغه مهال یوازې د جنګ او یرغل په اړه فکر کاوه.. طالبانو هڅه کوله له دیپلوماتیکو لارو په استفاده له امریکا سره په خبره ځان پوه کړي تر څو واقعي ګرم او ناګرم معلوم شي. طالبانو په رسمي کچه د پېښې روڼاوی غوښت، خو امریکایان عملا دحملې لپاره په پلان ګذارۍ او سلا مشورو بوخت وو.

په ( بوش اټ وار ) کتاب کې ثبت شوی جریان څرګندوي چې د سبتمبر له یوولسمې نیولې بیا د اکتوبر تر اوومې ( دیرغل ترورځې ) دسپیني ماڼۍ، پینتاګون او سي آی اې چارواکي یوازې په جګړه ایزو سلا مشورو او د انتقام اخیستلو په اقداماتو بوخت وو او بل هیڅ بدیل اقدام یې په رسمیت نه پیژاند. په کتاب کې د پېښې د څلورمې ورځې د جریان په اړه راغلي ( شنبه د سبتمبر په پنځلسمه په کمپ ډیوید کې ټوله ورځ د جنګ په ستراتیژۍ خبرې رواني وې)[1]

امریکایانو په څو محاذونو کې د یرغل لپاره تمهیدي اقدامات پیل کړل، د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش بیلابیلو هیوادونو ته سفرونه وکړل تر څو په افغانستان د یرغل لپاره نړیواله ټلواله جوړه کړي. نوموړی وتوانید چې د نړۍ د لسګونو هیوادونو ملاتړ خپل او دې ته یې اماده کړي چې د افغانستان د اسلامي حکومت په نړولو کې پوځي یا استخباراتي مرسته وکړي. د بوش د همدې هڅو نتیجه هغه وخت معلومه شوه

---

(۱) بوش په جنګ کې ( بیلابیلې صفحې ) لیکنه باب ووډ وارډ. ژباړه ډاکټر نثار احمد صمد

چې د امریکا د یرغل په تعقیب د نړۍ ۴۸ ملکونو خپل عسکر افغانستان ته راولیږل له دې علاوه رسنیو افشاء کړه چې د سیمې ۲۱ ملکونو په پټه له امریکا سره لاس یو کړی و او د طالبانو په خلاف یې ورسره استخباراتي مرسته کوله.

دا بیخي د نه منلو وړ و چې د سپتمبر له حملو وروسته ټوله نړۍ د امریکا په پلوی د افغانستان په مخالف صف کې ودریده، د روسیې او منځنۍ اسیا له هیوادونو را ونیسه بیا د نړۍ د بیلابیلو سیمو تر هیوادونو پورې ټول د بوش د جګړییز منتر تر اغیز لاندې راغلي و، د افغانستان د ګاونډیانو له جملې پاکستان او ازبکستان امریکایانو ته پوځي اډې ورکړې تر څو په افغانستان باندې ترې حملې وشي. په هغه وخت کې د نړۍ په سطحه یوازینی مشر د عراق صدام حسین و چې د سپتمبر په پنځلسمه نیټه یې په افغانستان د امریکا احتمالي برید دولتي ترهګري وبلله او دغسې اقدامات یې په کلکه وغندل.

که بوش د نړیوالې ټلوالې په جوړولو بوخت و، پوځي او استخباراتي چارواکي یې په سیمه کې د جنګي امکاناتو په تهیه کولو، هوایي ډګرونو موندلو، د اجیرانو استخدام او سیمې ته د جنګي ابزارو په رسولو مصروف وو.

طالبان د الله تعالی په خورا ستره آزموینه کې واقع وو، درسته نړۍ ورته په بده اوښتې وه او د انتقام غاښونه یې ورته تیره کول، حتی د نړۍ د اسلامي هیوادونو مشران هم د بوش او ټوني بلېر په صف کې دریدلي وو. په همدې حالت کې چې درستې نړۍ د امریکا د زور او دبدبې نغارې غږولې د اسلامي امارت مشر ملا محمد عمر مجاهد که څه هم پرلپسې د هیواد او اسلامي نظام د نجات په هڅو بوخت و خو دې سختو حالاتو یې عزم نه و لړزولی او په پوره حوصله او متانت یې له راتلونکو حوادثو سره مخامختیا ته امادګي نیوله.

### د امریکا د دښمنۍ او یرغل په اړه یې ارزونه

ځیني خلک فکر کوي چې ملا محمد عمر مجاهد د امریکا د نړیوال پوځي او سیاسي پرستیژ او جنګي قوت په اړه دقیقه ارزونه نه درلوده نو ځکه یې د امریکایي یرغل خطر

هم ډېر مهم نه باله او په همدې اساس يې امريکا ته د شيخ اسامه بن لادن او نورو بهرنيو مهاجرينو له سپارلو څخه ډډه کوله. خو واقعيت داسې نه و، د ملا صاحب نږدې ملګري وايي چې نوموړي دا فرض کړې وه چې امريکا به په خپل ټول قوت سره په افغانستان يرغل وکړي.

ښه نو بيا هغه کوم دلائل و چې له مخې يې ملا صاحب دې دومره ستر خطر ته اوږه ورکوله خو د بهرنيو مجاهدينو او مهاجرينو تسليمي يې نه قبلوله؟؟

ملا محمد شيرين اخند چې د امارت د مقام د امنيت مسؤليت يې درلود او له ملا محمد عمر مجاهد سره يې نږدې ملګرتيا او تعلقات درلودل په دې اړه خپل د سترګو ليدلی او د غوږو اوريدلی حال بيانوي چې تر ډېره د امريکايي يرغل په اړه د ملا صاحب ليد ډول ترې معلومېږي. ملا محمد شيرين اخند وايي: د سپتمبر له پيښې وروسته چې امريکا د جګړې په تياريو بوخته وه، امريکايي جنګي بيړۍ په سمندر کې را روانې وې او راډيوګانو پرلپسې د يرغل تبليغات کول، په دې شپو کې به ملا صاحب ته ډېر کسان راتلل او ډول ډول مشورې او خواستونه به يې ورسره شريکول. ځينو به ويل چې اسامه بن لادن او د هغه ملګري دې امريکا ته وسپارل شي او نورو به بيا نور قسماقسم مشورې درلودې.

دغه وخت چې هره شيبه د امريکا د يرغل خطره موجوده وه ملا صاحب يو څه احتياط کاوه او ډېر مخامخ ملاقاتونه يې نه کول. يوه ورځ يو لوی ټولی علماء کرام راغلي وو، له ماسره يې وليدل او راته ويې ويل چې زموږ مشوره ملا صاحب ته ورسوه. هغوی ويل چې ملاصاحب دې اسامه ته امر وکړي چې له افغانستان څخه کوم بل هيواد، مثلا د تاجکستان ساحې ته واوړي له هغه ځايه دې په سټلايت رسنيو ته ووايي چې زه په افغانستان کې نه يم، دا چې امريکايانو ته د سټلايټ په واسطه د هغه دقيق ځای معلومېږي نو به پوه شي چې په افغانستان کې نور اسامه بن لادن نشته په دې ډول به د امريکا د يرغل مخه ونيول شي.

ملا شيرين اخند وايي زه د مازديګر د لمانځه پر وخت د ملا صاحب ځای ته ورغلم، د لمانځه له اداء کولو وروسته مې له ملا صاحب سره ملاقات وشو او ورته مې ويل چې

څه خبره درسره لرم. هغه د مسجد شاخواته روان شو، هلته د ډېرو په ژغل باندې کیناستو او بیا مې د راغلیو علماء خبره په پوره تفصیل بیان کړه.

زما له خبرو وروسته ملا صاحب په پوره حوصله او تفصیل سره خپل ځواب پیل کړ، ملاصاحب د خپلو خبرو په پیل کې له ما پوښتنه وکړه چې که امریکا په رښتیا په موږ حمله وکړي زموږ حکومت به څومره وخت مقابله ورسره وکړي؟

ماورته وویل نه پوهیږم. ملاصاحب خپله پوښتنه په خپله ځواب کړه او ویې ویل: زه خو فکر کوم چې که موږ مخامخ ډېر مقاومت وکړ ایله به دوه میاشتې مقاومت وکړو. له هغه وروسته به د امریکا غلبه راځي. بمبارونه، حملې، د کورونو او ښارونو ورانیدل او د مسلمانانو شهادتونو او اسارتونه به وي. بیا به د امارت هر کس امریکایانو ته مطلوب وي او قسماقسم سزاوې به ورکوي. او زه به د الله تعالی په ذات قسم درته وکړم چې ما د ځان، یا خپل زوی، قریب یا انډیوال لپاره پرمخ د ځمکې یوه لویشت د امن ځای هم نه دی برابر کړی او نه هم په هیڅ ځای کې د پناه ځای لرم. چې داسې ده نو په دې حمله کې خو به زه او زما اولادونه او کورنۍ هم تباه کیږي.

نو چې دا ټول مشکلات راروان دي او دفع کیدل یې یوازې په دې کیدلای شي چې زه اسامه بن لادن امریکا ته په لاس ورکړم. په دې صورت کې زه ولې شیخ اسامه امریکا ته نه سپارم؟ ولې دا ټول مشکلات قبلوم خو دغه یو کار نه کوم؟

ملا صاحب په پوره جدیت پسې زیاته کړه: ګوره دوې خبرې دي اول دا چې زه په دنیا کې هر ډول تکلیف، شهادت، اسارت او هر څه قبلولای شم مګر په آخرت کې د الله تعالی په وړاندې بې ځوابي او شرمیندګي نه شم قبلولای. زه په دنیا کې دې ته حاضر یم چې حکومت او هر څه هستي مې له لاسه ولاړه شي خو د قیامت په ورځ د الله تعالی په مخکې ملامتیا او رسوایي قبلول راته ډېر سخت دي. له ما به الله تعالی ضرور پوښتنه کوي چې دغه مسلمانان دې به کوم دلیل کافرانو ته په لاس ورکړل.

دوهمه خبره دا ده چې زه به په قسم درته ووایم چې همدا اوس شیخ اسامه راونیسې او امریکا ته یې په غاړه وروځړوې بیا مو هم والله که پریږدي. د امریکا دښمني له موږ سره د

اسامه له امله نه ده بلکې دا نظام يې نه دی خوښ او په هره بهانه چې وي دا نظام له منځه وړي.

د امريکا مثال د مکارې ښځې په شان دی. که دې دا غوښتنه ورسره ومنله سمدستي بله غوښتنه رامخکې کوي، که دې هغه ومنله ورپسې بله غوښتنه تر دې چې په اخر کې دې هم دې ته مجبوروي چې د نه ځواب ورکړي او غوښتنه يې ونه منې. نو که موږ يې هم دا غوښتنه ومنو، سمدستي وايي چې اسلامي قوانين مو معطل کړئ کنه حمله دربانډې کوو، بله ورځ بله غوښتنه لري، آخر مو هم داسې حد ته رسوي چې غوښتنې يې ور رد کړو، نو چې وروسته يې غوښتنې ور ردوو ولې په اول کې لا ځواب نه ورکوو. ولې د اسلام او مسلمانانو ضعف او بې همتي ورته ښکاره کوو. زما يقين دی چې امريکا مو تر هغو نه پريږدي تر څو له ټول اسلامي نظامه نه يو ورتير شوي.

**په کابل کې د علماء کرامو لويه غونډه**

وړاندې يادونه وشوه چې ملا صاحب د سياسي، پوځي او نورو مواقفو د اتخاذ په مهال اسلامي شريعت ته رجوع کوله او په مسائلو کې يې له ديني علماء کرامو څخه وضاحت او فتوی غوښتله. د سپتمبر د يوولسمې له پيښې وروسته چې امريکا د جنګ ګواښونه پيل کړل او مطبوعاتو هم د افغانانو د ويرولو په مقصد د رواني جنګ او ډار خپرولو کمپاين پيل کړی و. ملا صاحب له دغو امتحاني شيبو سره د شرعي هداياتو په رڼا کې چلند وکړ او د امريکا په وړاندې د سرتيټي په ځای يې د الله تعالی دربار او محمدي شريعت ته رجوع وکړه تر څو د دې امتحاني مرحلې په اړه تري لاره چاره طلب کړي.

د ۱۳۸۰ لمريز کال د سنبلې د مياشتې په ۲٦ مه نيټه ملا صاحب د يوې عمومي توصيې په خپرولو سره ټولو مؤمنو هيوادوالو او په خاص ډول د اسلامي امارت کارکوونکو ته هدايت وکړ چې په راغلي امتحان کې د کاميابۍ او ثبات لپاره د قران کريم ختمونه وکړي، د سهار په لمانځه کې دې قنوت نازله ويل شروع کړي او د الله تعالی دربار ته دې عجز، زاری او دعاء ګانې وکړي تر څو مو الله تعالی له دې امتحاني مرحلې څخه بريالي وباسي.

دا چې مسئله خوراستره وه او له ديني اړخه يې تحليل او مشورو ته ضرورت درلود، ملا صاحب د موضوع په اړه د نهايي فيصلې لپاره د علماء کرامو د سترې غونډې د رابللو فرمان صادر کړ، تر څو د موضوع په ټولو ابعادو ژور فکر وکړي او بيا اسلامي امارت ته يوه شرعي فيصله او تګلاره په لاس ورکړي تر څو اسلامي امارت د همدغې متفقه فتوی په رڼا کې دريځ غوره کړي.

د اسلامي امارت په مهال د علماء کرامو سترې غونډې عموما د سترو او فوق العاده مهمو تصاميمو په اړه د غور او پريکړې صادرولو لپاره راغوښتل کيدلې. د علماء کرامو لومړنۍ ستره شوری د ۱۳۷۵ لمريز کال په حمل کې په کندهار کې راغوښتل شوې وه چې د پريکړې له مخې يې د افغانستان اسلامي امارت د حاکم شرعي نظام په حيث ومنل شو او ملا محمد عمر مجاهد ته يې د شرعي زعيم په حيث د اميرالمؤمنين لقب ورکړ.

د علماء کرامو دوهمه ستره غونډه هم هغه مهال په کابل کې دائره شوه کله چې په مزار شريف کې د ايراني ديپلوماتانو د وژلو له پيښې وروسته ايران په افغانستان د يرغل ګواښ وکړ او د افغانستان په سرحد کې يې پراخې پوځي مانورې پيل کړې. هغه مهال هم اسلامي امارت ځان اړ ګاڼه چې د يوه رسمي شرعي موقف د غوره کولو لپاره له ديني علماء کرامو مشوره او فتوی واخلي تر څو له راغلي وضعيت سره د شرعي چلند د اختيارولو په برخه کې ورسره مرستندوی شي.

د سپتمبر له حملې وروسته د امريکا د يرغليزو ګواښونو په مرحله کې يو ځل بيا اسلامي امارت اړ و چې له وضعيت سره د سنجول شوي شرعي چلند په اړه د ټول هيواد له مخورو ديني علماء کرامو څخه هدايات واخلي. په دې ډول د سپتمبر له ۱۷ مې نيټې څخه د هيواد له ګوټ ګوټ نه کابل ته د مخورو علماء کرامو د راتګ سلسله پيل شوه. دغه غونډه چې د کابل په مشهور حکومتي ميلمه ځای (انټر کانټيننټال هوټل) کې يې د تدوير بندوبست شوی و د سپتمبر په ۱۹ نيټه (۲۸ / ۶ / ۱۳۸۰هجري شمسي) د ۱۰۰۰ تنو علماء کرامو په ګډون سره پيل شوه. په غونډه کې د اسلامي امارت د رياسة الوزراء د مرستيال ملامحمد حسن اخند په شمول د اسلامي امارت يو

**شمیر منسوبینو هم گډون درلود او د دریخ چلولو چارې یې د اسلامي امارت د معارف د وزیر ملا امیرخان متقي په غاړه وې، غونډې ته دملا محمد عمر مجاهد لخوا هم یو توضیحي پیغام رالیږل شوی و چې په هغه کې د شیخ اسامه د موضوع له امله له امریکا سره جنجال، تر اوسه د اسلامي امارت لخوا تر سره شوي اقدامات او د موضوع اړوند نور وضاحتونه بیان شوي وو. او په پای کې له علماء کرامو څخه غوښتل شوي وو چې د دې موضوع د حل لپاره اسلامي امارت د شریعت مقدسه په رڼا کې فتوی ورکړي تر څو په آینده کې وربانديې عمل وشي.**

دا غونډه چې دوه ورځې روانه وه له ژورو بحثونو او سلامشورو وروسته یې پریکړه لیک صادر کړ چې په لاندې ډول دی.

## د افغانستان په پاک حریم د تیري په اړه د جیدو علماء کرامو شرعي فتوی او پریکړه لیک

په کابل کې د ۳/۷/۱۴۲۲هـ ق ۱۲۱ ۱۹ ۲۰۰۱م نیټې د علماء کرامو د سترې غونډې پریکړه لیک او شرعي فتوی

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين محمد وعلي آله وأصحابه أجمعين.اما بعد:

دا چې د افغانستان ملت همېشه د خپلو سترو مسئلو د حل لپاره علماء کرامو ته مراجعه کړې، علماء کرامو یې د مشکل د حل لپاره نه سترې کېدونکې هلې ځلې کړې، په اوسنۍ لویه پیښه کې چې افغانستان ته د امریکا له لورې د برید خطر متوجه دی د افغانستان علماء د خپل درانه مسئولیت له مخې د مشکلاتو د حل لپاره د اسلامي دین په رڼا کې په لاندې ډول فتوی او فیصله صادروي:

ـ د افغانستان علماء د امریکا د تلفاتو په اړه خفګان ښکاره کوي او د افغانستان علماء
دې هیله دي چې امریکا به په افغانستان حمله ونه کړي او د دغې پیښې په اړه دې له
ره زغم او دقت څخه کار واخلي او د موضوع په اړه دې پوره تحقیقات ترسره کړي.

ـ د افغانستان علماء غوښتنه کوي، چې د امریکا د وروستیو پیښو په اړه دې ملګري
تونه او اسلامي کانفرانس دقیقه پلټنه ترسره کړي، چې اصلي حقیقت معلوم شي او د
ګناه خلکو د ځورولو مخه ونیول شي.

ـ ملګري ملتونه او اسلامي کانفراس دې د امریکا د جمهور رئیس په دې خبره غور
کړي چې هغه ویلي دي چې دا جنګ به صلیبي جګړه وي، دغې خبرې د ټولې نړۍ
سلمانان په احساساتو راوستلي او نړۍ یې له یوې لویې خطرې سره مخامخ کړې ده.

ـ د دې لپاره چې د اوسني جنجال مخه ونیول شي او هم په آینده کې د دا ډول پیښو
صورت کې بدګوماني رامنځته نه شي، د علماء کرامو دغه ستره شورئ اسلامي
ارت ته سپارښتنه کوي، چې اسامه بن لادن تشویق کړي ترڅو په ممکنه وخت کې په
چیله خوښه له افغانستان څخه ووځي او د ځان لپاره کوم بل ځای انتخاب کړي.

ه د پورته پریکړو په رڼا کې بیا هم امریکا قناعت ونه کړي او په افغانستان باندې
حمله وکړي د مقدس شریعت په رڼا کې یې حکم په لاندې ډول بیانیږي.

ومړی :

مونږه د فقهې کتابونه لیکي چې که چېرته کافران د مسلمانانو د کوم هیواد د خاورې
ه حریم باندې حمله وکړي د هغه هېواد په مسلمانانو جهاد فرض ګرځي او د قرآن
کریم ایاتونه او احادیث مبارکه او د فقهې ټول کتابونه مسلمانانو ته د جهاد امر کوي:

ومړی آیاتونه:

ـ ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ﴾
[التوبة: ۱۲۳]

ترجمه: ای هاغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! جنګ کوئ تاسې له هغو کسانو سره چې نژدې وي تاسو ته له کفارو او ودې مومي دوی په تاسې کې کلکوالی او پوه شئ چې الله تعالی د پرهېزګارانو سره دی.

۲. ﴿وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ﴾ [البقرة:۱۹۰].

ترجمه: جنګ کوئ په لاره د الله کې د هغو کسانو سره چې جنګ کوي له تاسې سره.

۳. ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ﴾ [الانفال: ۳۹].

ترجمه: او وجنګېږئ له دغو کفارو سره تر هغه پورې چې پاتې نه شي فتنه او شي دین ټول خاص الله جل جلا له لره.

۴. ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ﴾ [الحج:۳۹].

ترجمه: حکم ورکړی شوی دی هغو کسانو ته چې جنګ ورسره کاوه شي په دې سبب چې بېشکه په دوی ظلم شوی دی او بېشکه چې الله په مرسته د دوی خامخا قادر دی.

۵. ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ وَاللهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ [البقرة: ۲۱۶].

ترجمه: فرض کړی شوي پر تاسې باندې جنګ کول حال دا چې دغه بد ښکاري تاسې ته او ښایې چې بد ګڼئ تاسې یو شی حال دا چې هغه ډېر بهتر وی تاسې لره او ښایې چې ښه وګڼئ تاسې یو شی حال دا چې هغه به ډېر بد وي تاسې ته او الله عالم دی تاسې نه پوهېږئ.

دوهم حدیثونه:

۱. وَعَنْ أنس ابن مالک رضی الله عنه قال، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ» [ رواه ابو داؤد ۲/۳۲ والنسائي ۶/۷ والحاکم ۲/۸۱].

ترجمه: د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: جهاد وکړئ مؤمنانو د مشرکانو سره په مالونو، نفسونو او په ژبو سره.

۲. عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُما قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ، سَلَّطَ اللهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ» [رواه ابو داؤد ۳/۷۷].

ترجمه: د عبد الله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: کله چې تاسو اخیستل خرڅول شروع کړئ، په عینې سره (بیعه د عینې دې ته وایې: چې یو انسان څه شی په انسان خرڅ کړي په معلومو روپو سره تر معلومې نېټې پورې بیا بېرته دا خرڅوونکی د دې اخستونکي څخه دغه شی واخلی په کمو روپو سره په نقدو) او تاسې ونیولې لکۍ د غوایانو او راضي شوئ په کرهنه او جهاد مو پرېښود، رابه ولي الله پاک په تاسې ذلت او سپکوالی، دا ذلت به له تاسو څخه الله تعالی نه لرې کوي تر هغه پورې چې تاسې راجع شئ خپل دین ته.

دریم د فقهاؤ رحمهم الله اقوال:

۱ـ وفی المبسوط للإمام السرخسي (۲/۱۰): ثم أمر رسول الله صلى الله وسلم بالقتال إذا كانت البداية منهم فقال تعالى ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا﴾ [الحج/۳۹] أي: أذن لهم في الدفع وقال تعالى ﴿فَإِن قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ﴾ [البقرة:۱۹۱] وقال تعالى ﴿وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا﴾ [الأنفال:۶۱] ثم أمر بالبداية بالقتال فقال تعالى ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ﴾ [البقرة:۱۹۷] وقال تعالى ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ﴾ [التوبة:۵] وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «أمرت أن أقاتل الناس حتى يقولوا: لا إله إلا الله».

ترجمه: امام سرخسي رحمه الله په مبسوط کې ذکر کړي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا امر وکړ په جنګ سره کله چې د مشرکانو له طرفه جنګ شروع کړی شي الله تعالی فرمایلي حکم ورکړی شوی هغو مسلمانانو ته چې جنګ ورسره کیږي په سبب د دې چې بیشکه په دوی ظلم شوی دی. یعنې دوی ته حکم ورکړی شوی دی په دفاع کولو سره. او الله تعالی فرمایلي دي که چېرې کافران تاسو سره جنګ کوي نو تاسو هم د دوی سره جنګ وکړئ او الله تعالی جل جلاله فرمایي که دوی رجوع صلحې ته وکړي نو ته هم رجوع صلحې ته وکړه. بیا نبي صلی الله علیه وسلم

حکم وکړ د جنګ په شروع کولو سره، پس الله تعالی فرمایي: وجنګېږئ له دغو کافرانو سره ترهغې چې فتنه پاتې نه شي او الله تعالی فرمایلي: پس وژنئ تاسې مشرکان په کوم ځای کې چې دوی وموموئ. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: امر شوی دی ماته د الله تعالی له طرفه چې د کافرانو سره جنګ وکړم تر هغې چې دوی لا إله إلا الله و وایي.

۲ـ وَفِي الهندية (۲/۱۸۸) وَعَامَة الْمَشَايِخ رحمهم الله تعالى قَالُوا: الْجِهادُ فَرْضٌ عَلَى كُلّ حَالٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَبْلَ النَّفِيرِ فَرْض كِفَايَة وَبَعْدَ النَّفِيرِ يَصِيرُ فَرْض عَيْنٍ وَهُوَ الصَّحِيْح، وَمَعْنَى النَّفِيرِ أَنْ يُخْبَرَ أَهْل الْمَدِينَة أَنَّ الْعَدُوَّ قَدْ جَاءَ يُرِيْدُ أَنْفُسَكُمْ وَذُرَارِيْكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ فَإِذَا أُخْبِرُوا عَلَى هَذَا الْوَجْهِ افْتَرَضَ عَلَى كُلّ مَنْ قَدَرَ عَلَى الْجِهَادِ مِنْ أَهْلِ تِلْكَ الْبَلْدَةِ أَنْ يَخْرُجُوا لِلْجِهَادِ وَقَبْلَ هَذَا الْخَبَرِ كَانُوا فِي سَعَة من أَنْ لَّا يَخْرُجُوا.

ترجمه: په فتاوی هندیه کې ذکر دي چې عامو مشائخو رحمهم الله ویلي چې جهاد فرض دی په هر حال کې خو د عام نفیر نه وړاندې فرض کفائي دی او وروسته د عام نفیر نه فرض عین ګرځي او دا صحیح خبره ده.

د عام نفیر معنی دا ده چې د یوې منطقې او ښار خلکو ته خبر ورکړی شي چې دښمن راغلی او د ضرر اراده لري، ستاسې د نفسونو اولادونو او مالونو په رابطه، نو کله چې خبر ورکړی شي نو فرض ده په هر هغه چا چې په جهاد قادر وي، د دې ښار او منطقې د اوسېدونکو نه چې جهاد ته ووځي او وړاندې د دې خبرې د ده لپاره روا دي چې جهاد ته ونه وځي.

دوهم:

که کفار په کوم اسلامي هیواد تجاوز وکړي او هغه هیواد تنها د مقابلې توان ونه لري د نړۍ په ټولو مسلمانانوجهاد فرض عین ګرځي:

۱ـ في رد المختار(۶/۲۰۱ طبع جديد) (والهندية ۲/۱۸۸ )قَالَ أَبُو الْحَسَن الْكَرْخِي فِي مُخْتَصَرِهِ: وَلا يَنْبَغِي أن يُخلي ثَغْرٌ مِن ثُغورِ المسلمين ممن يقاوم العدوَّ فِي قِتَالِهِم وَإِنْ ضَعُفَ أَهْل

ثُغر من الثغورِ عَنِ المقاومةِ وَخِيفَ عليهم فعلي مَن وراءَهم من المسلمين أن ينفروا إليهم الأقربُ فالأقربُ وأن يُمِدُّوهم بالكِرَاعِ وَالسَّلاح لِيَكُونَ الجهاد، أبدًا قائمًا كذا في المحيط.

ترجمه په ردالمحتار کې ذکر دي چې ابوالحسن الکرخي په خپل مختصر کې ويلي، د مسلمانانو لپاره مناسبه نه ده چې د هغو سرحداتو لـه جملې چې هلته لـه کفارو سره مقاومت کيږي کوم سرحد خالي کړي. او که چيرې د دې سرحداتو مسلمانان د کفارو په دفع کې کمزوري شي نو په هغو مسلمانانو چې دوی تـه نيـږدې دي فـرض ده چې مرستې ته ورشي او که هغه هم کمزوري شول نو هغوی ته په ورنږدې نـورو فـرض دی همداسې الاقرب فالاقرب په دوی لازمه ده چې د جهاد د دوام لپاره د مجاهدينو مرسته وکړي، دا مضمون په محيط کې هم ذکر دی.

۲- وفي الهندية (۱۸۸-۲) ثُمَّ بَعد مَجِيءِ النَّفير العام لا يفترض الجهاد على جميع أهل الإسلام شَرقًا وغربًا فَرْض عَين وإن بلغهم النفير وإنَّما يَفرُضُ فرض عين مَنْ كان بقَرب مِنَ العَدُوّ وَهُمْ يَقْدِرُونَ عَلى الجهادِ وَإمَّا عَلَى مَن وَرَاءَهُمْ مِمَّنْ يَبْعُدُ العَدُوَّ فَإنَّهُ يَفْتَرِضُ فَرض كِفاية لا فرض عين حتّى يسعَهم تركُه فإذا أُحتيجَ إليهم بأن عَجَزَ مَنْ كان بقرب العدوّ عن المقاومة مع العدُّوِ أو تكاسلوا ولم يجاهدوا فإنه يفترض على من يليهم فرض عين ثَمَّ وَثُمَّ إلى أن يفرض على جميع أهل الأرض شرقاً وغرباً على هذا الترتيب.

ترجمه: په فتاوی هنديه کې ذکر دي: پس د ثابتيدو د عام نفير نه جهاد عينـا نـه فـرض کيږي په ټول اهل اسلام باندې د مشرق نه تر مغرب پورې اگر که رسېدلی وي دوی ته ثبوت د عام نفير په تحقيق سره جهاد فرض کيږي پر هغه چا چې دښمن تـه نـږدې دي او دوی قادر په جهاد وي او په هغه نورو مسلمانانو چې دښمن څخه لرې وي، په دوی جهاد فرض کفايي دی، نه فرض عين، تـردې چې د دوی لپـاره جـائز دي چې جهاد پرېږدي او کله چې دې لرې مسلمانانو ته ضرورت پيدا شو، پـه داسـې شان سره چې دښمن ته نږدې مسلمانان د مقابلې نه عاجز شي او يـا سستي وکـړی شي او جهاد يـې پرېښود نو بيا جهاد په هغه چا فرض عين دی چې دښمن ته نـږدې وي پـه ترتيـب سره،

**تردې چې جهاد به فرض عین شي، په ټولو مسلمانانو د مشرق نه تـر مغـرب پـورې پـه دې ترتیب سره.**

۳. في رد المحتار (۶/۲۰۱) قُلْتُ: وَحَاصِلُهُ أَنَّ كُلَّ مَوْضِعٍ خِيفَ هُجُومُ الْعَدُوِّ مِنْهُ فُرِضَ عَلَى الْإِمَامِ أَوْ عَلَى أَهْلِ ذَلِكَ الْمَوْضِعِ حِفْظُهُ وَإِنْ لَمْ يَقْدِرُوا فُرِضَ عَلَى الْأَقْرَبِ إلَيْهِمْ إعَانَتُهُمْ إلَى حُصُولِ الْكِفَايَةِ بِمُقَاوَمَةِ الْعَدُوِّ.

ترجمه: په رد المحتار کې ذکر دي: زه وایم چې حاصل دا دی چې هر هغه ځای چې پـه هغـه بانـدې د دښـمن د تجاوز او حملې ویـره وي نـو پـه امیـر د وخـت او یـا پـه اوسېدونکو د دې ځای ساتنه د دې ځای فرض ده او کـه اوسېدونکي د دې ځـای پـه ساتنه قادر نه شي نو په نیږدې خلکو فرض دی امـداد د دوی ترهغې چـې د دښـمن د مقاومت لپاره کفایت او پوره والی ثابت شي.

دریم:
که چېرته کفار د مسلمانانو د خاورې په حـریم بانـدې حملـه وکـړي نـو د ضرورت پـه وخت کې مسلمانان له اسلامي او غیر اسلامي حکومتونو څخه مرسته غوښتلی شي خو په دې شـرط چې د اسلام احکام به غالب او ښکاره وي لکه چې زمونږ د فقهي کتابونه لیکي:

وفي إعـلاء السـنن (۱۲/۵۸) نقـلاً عـن شـرح سـير الكبـير (۳/۱۸۶) ولا بأسَ بأن يَّسْتَعِين المسلمونَ بِأهلِ الشّرك عَلَى أهلِ الشّرك إذا كان حُكم الإسلام هو الظاهر عليهم، لِأنَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم استعان بيهود بني قينقاع على بني قريظة، وخرج صفوان مع النبي صـلى الله عليـه وسـلم حتى شَـهِدَ حُنَينـاً والطـائف وهـو مُشْـرِكٌ، فَعَرَفْنَـا أنَّـهُ لا بأسَ بالاستعانة بهم، ومـا ذلـك إلا نظير الاستعانة بِالكِلابِ عَلَى المشركين وَإلى ذلك أشَارَ رَسول الله بِقَولِهِ إنَّ اللهَ لَيُؤَيِّدُ هَذا الدّينَ بِأقوامٍ لا خَلاقَ لَهُمْ فِي الآخرة (طبراني).

قُلتُ: وَ عبارةُ شرحِ السير تُفيد جَوازَ الاستعانةِ بالکُفَّارِ إذا کانَ حُکمُ الإسلام هُوَ الظَّاهِرُ سَواءٌ کانوا مُشرکِینَ أو أهل الکِتَابِ.

ترجمه: د اعلاء السنن مصنف په خپل کتاب کې د شـرح السیر الکبیر څخه داسې رانقلوي:

او باک نشته په دې کې چې مسلمانان امداد وغواړي د مشـرکانو په مقابله کې کله چې د اسلام حکم ظاهر او غالب وي په کافرانو، څکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم، د یهودو د بني قینقاع نه امداد غوښتی و په مقابله د بنـو قریظـه وو کـې، صـفوان د نبـی علیه السلام سره ووت تردې چې د حنین او طائف په جنـګ کـې حـاضر و او حـال دا چې صفوان مشـرک و، نو مونږ ته معلومه شوه چې باک نشته پـه دې کـې چـې د دوی څخه امداد وغوښتل شي د کافرانو په ختمولو کې او د دې مثال داسې دی لکـه د سـپو څخه استفاده وشي د کفارو په ختمولو کې او دې ته نبی کریم علیه السلام اشاره کړې په دې وینا سره چې الله تعالی د دین امداد کوي په داسې خلکو سره چې آخرت کـې یې هیڅ حصه نه وي.

د اعلاء السنن مصنف وایي چې د شـرح السیر الکبیر د عبارت نه د کافرانو نـه د امـداد غوښتلو رواوالی معلومیږي کله چې د اسلام حکم غالب وي پـه کـافرانو بانـدې، برابـره خبره ده که دغه کافران مشـرکان وي او که اهل کتاب وي.

خلورم:

که د امریکا د عملیاتو په وخت کې کوم مسلمانان هغه که افغانان او یا غیر افغانان وي له کفارو سره همکار شي معاونت او جاسوسي ورته وکړي، هغـه کـس هـم د خـارجي متجاوزینو حکم لري او واجب القتل ګرځي.لکه چې رد المحتار او درالمختار د دریم ټوک په ۱۹۸ مخ کې دغه مسئله ذکر کړې ده.

والله سبحانه وتعالی اعلم

**له یرغل نه وړاندې**

په کابل کې د علماء کرامو د سترې غونډې برخوالو په خپل پریکړه لیک کې اسامه بن لادن او د هغه ملګرو ته امر ونکړ چې لـه افغانسـتان څخـه ووځـي. البتـه د مشـورې پـه حیث یې ورته دا یادونه کړې وه چې که په خپل خوښه وغواړي لـه افغانسـتان وتـل پـه ګټه دي. د پریکړه لیک څلورم بند پـه دې ډول و. د دې لپـاره چـې د اوسـني جنجـال مخه ونیول شي او هم په آینده کې د دا ډول پېښو په صورت کې بدګوماني رامنځته نـه شي، د علماء کرامو دغه ستره شورى اسلامي امارت ته سپارښتنه کوي، چې اسـامه بـن لادن تشویق کړي ترڅو په ممکنه وخت کې په خپله خوښه له افغانستان څخـه ووځـي او د ځان لپاره کوم بل ځای انتخاب کړي.

د بوش په مشرۍ د سپینې ماڼۍ جنګ غوښتونکو واکمنو د دې پریکړه لیک له اعلان سمدستي وروسته وویل چې طالبان به له افغانستان څخه د اسامه په ایستلو هم خـلاص نه شي ځکه په دې فیصله سره دوی اسامه له یوې پناه ګاه څخه بلې پناه ګاه ته لیږدوي. د سپتمبر په ۲۱ مه چې په کابل کې د علماء کرامو د غونډې وروستۍ ورځ وه د امریکا ولسمشـر بوش کانګریس ته په وینا کې په افغانستان یرغـل صـلیبي جنـګ ونومـاوه او نړیوالو ته یې په ډېر غرور وویل چې ( یا به له مـوږ سره کیـږئ او یـا لـه ترهګـرو سره) بوش د اسامه بن لادن په اړه طالبانو ته په خطاب کې وویل چې( اسامه یا مړ غـواړم یـا ژوندی) د ملا محمد عمر مجاهد د دفتر د یـوه کـارکوونکي پـه اسـتناد کلـه چـې مـلا صاحب له راډیو څخه د جورج بوش دا کبرجنه خبره واوریده چې طالبانو ته په خطاب یې ویل: اسامه یا مړ غواړم یا ژوندی. ملا صاحب په همدې وخت ورغبرګه کړه چې په والله که یې یا مړ رانه ووینې یا ژوندی.

په دې وخت چې د امریکا پوځي یرغل حتمي شوی و، د ازبکستان لـه قـرشي هـوایي ډګر څخه د امریکا جاسوسي الوتکو هم د افغانستان په فضا خپـل پروازونـه ډېـر کـړي وو. د سپتمبر په ۲۲ مه د طالبانو دافع هوا د امریکا یوه بې پیلوټه الوتکـه د سـمنګان پـه ولایت کې راوغورځوله چې دا ښایي په امریکایي اهدافو د طالبانو لومړنی برید و. یـوه ورځ وروسته د امریکا دفاع وزیر په افغانستان د حتمي یرغل خبره ډاګیزه کړه. رمزفیلـډ

رسنیو ته وویل چې له افغانستان څخه د اسامه د وتلو په صورت کې به هم امریکا په افغانستان له حملې لاس وانخلي.

د سپتمبر په ۲۴ مه ملا صاحب په یوه مطبوعاتي بیان کې امریکایانو ته په خطاب کې وویل چې پوځي یرغل یا یوازې زما او اسامه بن لادن په وژلو به ستونزه هواره نه شي. امریکا باید د مسائلو په اړه ژور فکر وکړي او د مسلمانانو په اړه خپل له دښمنۍ او کینې ډک چلند له سره وارزوي.

دا مهال په اسلامي امارت نړیوال سیاسي او تبلیغاتي فشارونه نور هم زیات شول، د سپتمبر په ۲۵ مه سعودي عربستان له اسلامي امارت سره دیپلوماتیکي اړیکې غوڅې کړې او د امارت په رسمیت پیژندل یې بیرته واخیستل په همدې ورځ د امریکا سي این این چینل د طالبانو تر غوړونو د بوش د ادارې دا ګواښ ورساوه چې که طالبان د امریکا غوښتنې ونه مني امریکایي پوځ شاید په افغانستان بیولوژیکي وسلې استعمال کړي.

د سپتمبر په ۲۶ مه د جیکي جسکن په نامه یوه امریکایی تورپوستي مسلمان امادګي وښوده چې د امریکا او افغانستان تر منځ د ستونزې د سوله ایز حل لپاره به د دریمګړي په حیث هڅې وکړي. طالبانو د نوموړي له ښه نیت څخه هرکلی وکړ خو بوش د نوموړي وړاندیز رد کړ. دا مهال د ملګرو ملتونو اداره چې ځان یوه بې طرفه مؤسسه بولي هم طالبانو ته په بدو اوښتې وه، د افغانستان لپاره د ملل متحد ځانګړي استازي فرانسس ویندرل وویل چې طالبانو د تل لپاره نور د سیاست چانس له لاسه ورکړی او د افغانستان په راتلونکو حکومتونو کې به ځای ورنکړل شي. په همدې وخت کې چې ملل متحد د افغانستان له نوي وضعیت سره ځان برابراوه یوه اونۍ وروسته یې د ویندرل په ځای الاخضر-ابراهیمي یو ځل بیا د افغانستان لپاره خپل ځانګړی استازی وټاکه.[1]

---

(۱) نړۍ د توپان پر اوړو (بیلابیلې صفحې) لیکنه محمد الله کمال

د سپتمبر په ۲۸ مه د پاکستاني علماء کرامو او مشائخو یو لوی هیئت کندهار تـه راغـی تر څو له ملامحمد عمرمجاهد سره د پیښې شوې ستونزې د حـل پـه اړه سـلا مشـورې وکړي. په دې علماء کرامو کې شیخ مولانا محمد تقي عـثماني، دکـتور شـیخ شیرعلی شاه مدني، شیخ الحدیث مولانا حسن جان مـدني، مفتـي نظـام الـدین شـامزی، مولانـا سلیم الله خان، مفتي محمد جمیل، قاري سـعید الـرحمن او څـو تنـه نـور علـماء کـرام شـامل وو. دوی د امـارت پـه مقـام کـې لـه ملاصـاحب سره ولیـدل، څرنگـه چـې مـلا محمدعمر مجاهد په اردو ژبه نه پوهیده نو د دارالعلوم حقانیه مدرسـي شـیخ الحـدیث مولانا شیر علي شاه صاحب ته یـی وویـل چـې د دوی تـر مـنځ تـرجماني وکـړي. پـه مجلس کې اوله موضوع د اسامه بن لادن یاده شوه. ملا صـاحب د اسـامه بـن لادن پـه موضوع او له امریکـا سره د جنجـال پـه سـابقه رڼـا واچولـه او ویـي ویـل چـې مـوږ د شـریعت په چوکاټ کې د اسامه د موضوع حل کولو ته همیشـه امـاده یـو. مـوږ ویـلي چې د دریو اسلامي هیوادونو علماء کرام دې راټول شي د شیخ اسـامه بـن لادن پـه اړه دې شـرعي پریکړه وکړي موږ یې منلو ته اماده یو. خو دا چې تاسـو راغـلي یاسـت زه ستاسو په احترام د دې پریکړې واک تاسو ته درکوم. تاسو دیني عالمان یاست د اسلام په احکامو خبر یاست، همدا تاسو په دې مجلس کې فیصله وکړئ زه یي دستي عمـلي کوم.

د ملا صاحب د دفتر یو کارکوونکی وایي چې د اسامه بن لادن د موضوع په باره کې د گاونډیو یا نورو اسلامي هیوادونو دیني علماء وخت په وخت مـلا صـاحب تـه راتلـل، هغوی که څه هم ځیني یې د سیاسي فشارونو له امله تر کندهاره راتلل خو ملا صاحب بیا د دغو سترو دین پوهانو سره ملاقات د ځان لپاره لوی فرصت بالـه، مـلا صـاحب بـه همیشه د مسئلې شـرعي حل دوی ته وړاندې کاوه خو په راتلونکو علماءکرامو کې یـو هم داسې څوک پیدا نه شو چې امریکا ته د اسامه بن لادن د سـپارلو پـه بـاره کـې مـلا صاحب ته شـرعي فتوی ورکړي. نو ځکـه بـه پـه دې سره علـماء کرامـو تـه د اسـلامي امارت شـرعي دریځ نور هم روښانه کیـده او د مـلا صـاحب پـه حقانیـت بـه یـې بـاور پخیده.

## پوځي آمادګی

د سپتمبر په ۲۹ مه (د میزان اوومه) نیټه امریکایانو له طالبانو سره د تفاهم احتمال
رسمي ډول رد کړ، په پاکستان کې د امریکا سفیرې میرمن وینډي چمبرلین په اس
اباد کې ژورنالیستانو ته وویل چې له ترهګرو (طالبانو) سره تفاهم هیڅ امکان نلري
دغه وخت که له یوې خوا د امریکا تبلیغاتي جنګ په پوره قوت پیل شوې و، بل
ته سیاسي منډې ترړې یې هم په قوت روانې وې، د امریکا په دیکته په روم ک
شمال ټلوالې او پخواني پاچا ظاهر شاه تر منځ د ایتلاف لپاره مذاکرات پیل شول
د اکتوبر په لومړۍ نیټه یې له طالبانو وروسته د ګډ حکومت په جوړولو خپل ت
اعلان کړ.

په همدې وخت کې امریکایان په پوره جدیت په افغانستان د یرغل په ترتیباتو بو
وو، د سپتمبر په ۲٦ مه د امریکا د استخباراتو د مرکزي ادارې (سي آی اې) یو لو
پلاوی د ګاري شرون په مشرۍ له ازبکستان څخه په چورلکه کې پنجشیر ت
نوموړي له ځان سره درې میلیونه ډالر نغدې پیسې راوړې وې تر څو په پنجشیر ک
اسلامي امارت مخالفین ورباندې کرایه کړي. ګاري شرون تر څو اونیو په پنجشیر
و هلته یې له قسیم فهیم، ډاکټر عبدالله، سیاف،عارف سروري او د ټلوالې له
مشرانو سره ولیدل. پر هغوی یې ډالر وویشل او د پوځي همکارۍ تعهد یې
واخیست.[1]

په ورته وخت کې په اسلام اباد کې د سي آی اې دفتر د افغانستان په جنوب او خ
کې د افغاني اجیرانو د موندلو او استخدام په هڅو بوخت و. قومندان عبدالحق چ
دې وړاندې یې په دوبۍ کې تجارت کاوه له امریکايي استخباراتو سره د یوې

(۱) د سي آی اې جاسوس (ګري شرون) د خپل دغه ماموریت په اړه کتاب لیکلی چې عنوان یې دی
in Afghanistan) دغه کتاب لاهور خان منګل پښتو ته ژباړلی چې نوم یې دی (سي آی اې په پنجشی
د سي آی اې لخوا د شورای نظار مشرانو ته د پیسو د ورکړې موضوع د همدې کتاب په استناد یاده شوې

معاملې په لړ کې پیښور ته رسیدلی و تر څو د افغانستان په ختیځ کې د امریکایي یرغل ځمکنۍ ملګرتیا وکړي. په کوټه کې حامد کرزی، ګل اغا شیرزی او اکرم خاکریزوال د امریکایانو لخوا اکمال شوي او د یرغل پیل ته منتظر وو تر څو لـه امریکایـانو سره پـه هماهنګي د اسلامي امارت په وړاندې پوځي بغاوت پیل کړي.

په پاکستان کې د پرویز مشرف حکومـت د پاکسـتان د جیکـب ابـاد او پسـني هـوایي ډګرونه امریکایانو ته سپارلي و. دغه راز یې د خپلې ځمکې او فضا واک هم ورسپارلی و تر څو له هند سمندر نه په افغانستان د توغندویز بریدونو، بمبارونو او پوځي اکمالاتو لپاره ترې کار واخلي. شمال اړخ ته امریکایانو د ازبکستان د خان اباد د قـرشي هـوایي ډګر په واک کې درلود چې د خپلو پوځي اکمالاتو لپاره یې اماده کړی و.

بالمقابل طالبان هم د خپل توان تر حده په پوځي امادګیو بوخـت و پـه کنـدهار کـې د ملا صاحب په امر د ستینګر توغندیو ویشتونکي وروزل شول تر څو د امریکا الـوتکې په هغو ستینګر توغندیو په نښه کړي چې د پخواني جهاد له وخت څخه پـه افغانسـتان کې پاته وو او یوه برخه یې د طالبانو په وسلتونونو کې خوندي وو. د کندهار د هـوایي ډګر په ساحه کې د دافع هوا شوروي ساخت پرمختللې دستګاه فعاله شوه چې د عملي تمرین له صحنې یې ملا صاحب خپله لیدنه وکړه.

د امریکا له پیاده کیدونکو عسکرو سره د مقابلې لپاره په ډیرو سیمو کې په ولسي کچـه ترتیبات جوړ شول تر څو د امریکا د احتمالي بریـد پـه اړه ولسي- مجاهـدین پـه خپـل وخت غبرګون وښیي او دښمن ته مناسب ځواب ورکړي. څرنګه چې د هیواد په شمال کې د امریکا د سختو بریدونو او د جنګي کرښو د ماتیدو ویره وه شمال تـه ګـڼ شـمیر تازه دمې ځواکونه ولیږل شول. بل اړخ ته د امریکایي جاسوسانو تعقیبولو ته هم توجـه زیاته شوه. دا وخت امریکایانو په بیلابیلو بڼو کې خپل جاسوسان افغانسـتان تـه داخـل کړي وو. د ولس د رهنمایي او روحیې ساتلو لپاره ملا محمد عمر مجاهد له یرغل څو شپې وړاندې د کابل د شـریعت غږ راډیو له څپو نه ولـس تـه وینـا وړانـدې کـړه چـې ځینې برخې یې په چاپي بڼه هم خپرې شوې.

## د یرغل پیل

د اکتوبر د میاشتې اوومه شپه وه، په کندهار کې هر څه عادي روان و، ملا صاحب هم په خپل روزانه گشت و گذار کې ډېر تغیر نه و راوستی په خپل میشت ځای(د امارت مقام) کې اوسیده. په دې شپو کې په کندهار کې د ماخستن د لمانځه جماعت عموما په اته نیمې بجې کیږي. د امارت د مقام په مسجد کې چې کله د ملا صاحب په امامت د ماخستن لمونځ ادا ء شو او لمونځ کوونکي بهر راووتل په همدې شیبه امریکایانو د کندهار په هوايي ډگر کې د پیچور په نوم د هوايي مدافع په دستگاه لومړنی بمبار وکړ.

ملا صاحب د امارت د مقام د مسجد تر مخ و چې د هوانوردی وزیر ملا اختر محمد منصور د کندهار له هوايي ډگره د مخابرې له لارې حال ورکړ چې د امریکا بریدونه پیل شوي په لومړني برید کې یې د مدافع هوايي تاسیسات وویشتل. د کندهار په هوايي ډگر لومړني برید د چا ژوند وانخیست خو د مدافع هوايي د برخې ځینې کارکوونکي یې ټپیان کړل.

له لومړي برید وروسته قوي احتمال موجود و چې دوهم برید به شخصا په ملا محمد عمر مجاهد وي، د امارت د مقام له ځنگ سره په غره کې تر دې وړاندې یوه سمڅه جوړه شوې وه چې په اضطراري حالاتو کې به د پناه اخیستلو لپاره ترې استفاده کیږي. دغه مهال د ملا صاحب ملگرو ده ته مشوره ورکړه چې باید هماغې سمڅې ته ولاړ شي. ځینو وویل له ښار نه لرې دښت ته به ووځو تر ځو د امریکایانو له تعقیب څخه ځان پناه کړو. خو ملا صاحب د دې مشورو د منلو پر ځای د ښار خواته د تگ اراده وکړه.

ملا صاحب چې خپل اهل اوعیال او د امنیت لپاره څو ملگري هم ورسره وو په درې سراچو موټرو کې په همدې شیبه له خپل ځایه ووتل، دوی د کندهار ښار د والي کوټې ساحې ته لاړل چیرته چې د دوی پخوانی (منفجر شوی) کور و، دلته ملا صاحب او ملگري یې له موټرو ښکته شول، خو ورته معلومه شوه چې لا هم طیارې گرځي. دوی همدلته و چې د امارت په مقام بمبار وشو او کروز توغندیو ورځیرمه پناه ځای وویشت. دا د امریکایانو لومړنی برید و چې څو کسان یې شهیدان کړل. په دې برید

کې يو کروز ميزايل د سمخې په خولې کې ولګيد چې څلور کسان يې شهيدان کړل په شهيدانو کې يو هم د ملا محمد عمر مجاهد تره ملا محمد حنفيا صاحب و، په دې بريد کې دوه کسان ټپيان هم شول.

کله چې د امارت په مقام کروز ميزايل لګيدل او بمبار کيده ملا صاحب لږ وړاندې کندهار ښار د والي کوټې په ساحه کې و، د بمبار رڼاګانې تر دوی پورې ورسيدلې ملا صاحب فيصله وکړه چې له ښاره ووځي او پنځلس کيلومتره لويديځ اړخ ته د سنګ حصار په ساحه کې د خپل يوه ملګري خالي سرای ته لاړ شي.

ملا صاحب له خپل اهل و عيال او محدود شمير ملګرو سره په دريو موټرو کې د سنګ حصار په خوا روان شو. دوی په شپه کې هماغه خالي سرای ته ورسيدل. خپل ماشومان او زنانه يې کور ته دننه کړل.

د ملا صاحب له انډيوالانو څخه د هماغې شيبې يو عيني شاهد وايي موږ چې سنګ حصار ته تلو درې سراچه موټران راسره وو. تر مخ سپينه سراچه وه چې ملا صاحب خپله چلوله او خپل اهل و عيال يې ورسره و، وروسته توره سراچه او بيا بله سپينه سراچه وه. په سنګ حصار کې چې کله نيمه شپه دغه سرای ته ورسيدو، ملا صاحب د کور دروازه خلاصه کړه او سپينه سراچه يې له دروازې دننه کړه او ماشومان ترې ښکته شول، وروسته بله سراچه له دروازې بهر له کور سره جوخته ودريده او اخري سراچه وروسته تر شا ودريده.

ملا صاحب د دريمې سراچې ملګري بيرته ښار ته وليږل، ترڅو له ښاره د اړتيا وړ توکي راوړي، د همدې ملګرو له جملې يو تن وايي چې کله موږ بيرته د ښار په خوا راتلو ملا صاحب د دروازې تر مخ ولاړه تور سراچه موټر کې ناست و، راډيو يې نيولې وه او خبرونه يې اوريدل، موږ ښار ته راغلو خو د ملا صاحب په خپل قول لږ شيبه وروسته ملا صاحب له دې تور سراچه موټر څخه راښکته شو او له دروازې سرای ته ننوت، په همدې وخت کې امريکايانو په يوه دقيق ګوزار سره همدا تورسراچه موټر په توغندي وويشت.

د سراچه موټر د ویشتل کیدو په وخت ملا صاحب د توغندي د لګیدو ځای ته تقریبا دوه نیم متره لنډ و، چې د ده او ویشتل شوي سراچه موټر تر منځ یوازې د سرای دروازه حائل و، ملا صاحب ته زیان ونه رسید خو یوازیني دوه ملګري یې چې د موټر په شاوخوا کې موجود وو ټپیان شول. د ملا صاحب مور چې دا مهال په کور کې دننه وه کله چې د بمبار غږ اوري په ډیره وارخطايي د دروازې په خوا منډه اخلي، خو ملا صاحب په داسې حال کې چې د دروازې دننه خواته ولاړ دی ډاډ ورکوي چې زه ژوندی یم.

له دې برید وروسته د ملا صاحب په دې یقین پوخ شو چې امریکایانو یې ځای کشف کړی نو د دې لپاره چې دغه کور بمبار نه شي او کورنۍ ته یې زیان ونه رسیږي. خپل د کور زنانه او ماشومان یې په نیمه شپه له دې سرای نه پیاده وایستل او نږدې یوه مسجد ته یې ورسول. ملا صاحب اراده وکړه چې خپلو زخمي ملګرو ته ورشي. دا چې ماشوم اولادونه یې د بمبار له امله ډېر ویریدلي و مشر زوی یې محمد یعقوب چې دا وخت ۸ کلن ماشوم و ملا صاحب یې له لمنې ونیو او نه یې پریښود چې ترې لاړ شي او دوی یوازې پریږدي. خو ملا صاحب هغه له ځان څخه جلا کړ او د ټپیانو په خوا روان شو. له خپل زوی، مور، میرمنو او ټولو اولادونو سره د ملا صاحب همدا د بمبار د شپې لیدل وروستي لیدل شول، کله چې ملا صاحب په همدې شپه له مسجد څخه ووت بیا یې هیڅکله خپل اولادونه ونه لیدل.

ملا صاحب د ټپیانو خواته راغی، یو ټپي ملګری نسبتا روغ و، کوم یو چې ټپ یې خطرناک و په خپل روغ پاته موټرکې یې د ښار پر خوا له ځان سره واخیست. دغه وخت د ملا صاحب د کور میرمنې او ماشومان چې په مسجد کې پاته وو د ده د کورنۍ د نوروغړو لخوا په همدې کلي کې د ملا صاحب د خسر کور ته انتقال شوه. مسجد څخه د دوی له وتلو شاوخوا نیم ساعت وروسته امریکایي الوتکو همدغه مسجد داسې سخت بمبار کړ چې حتی نښې یې هم له منځه لاړې. دې مسلسلو بریدونو وښوده چې امریکایانو د ملا صاحب او د هغه د کورنۍ د له منځه وړلو ټینګه

فیصله کړې وه خو دا د الله تعالی ځانګړی نصرت او ساتنه وه چې دوی یې په معجزانه ډول د امریکا له بریدونو محفوظ وساتل.

ملا صاحب چې یو تن ساتونکی او یو زخمي ملګری په موټر کې ورسره و نیمه شپه د کندهار ښار په خوا روان و، د اشغو په سیمه کې د ده د امنیت مسؤل او ورسره ملګری په مخه ورغلل، هغه ترې تیر شول خو ده په مخابره کې وربانـدې غږ وکړ او راوګرځیدل. ملا صاحب ورته مختصر د بمبار جریان بیان کړ، وروسته یې زخمي هغو ته په لاس ورکړ او خپله له څلورتنه ملګرو سره په موټر کې د ښار په خوا روان شو، ملګرو یې مشوره وکړه چې یوازې په یوه طریقه د امریکایي سپوږمکۍ له تعقیب څخه ځان خوندي کولای شو هغه دا چې چیرته د ګڼو ونو په پناه کې له موټر نه ځان بیل کړو. دوی ښار ته په رسیدو د میرویس روغتون انګړ ته وروګرځیدل هلته یې د ګڼو ونو لاندې خپل موټر ودراوه، شیبه وروسته په عادي ډول پیاده له روغتون بهر راووتل، تر لږ پیاده مزل وروسته د لارې په سر د خپل یو ملګري موټرپه مخه ورغی او په کې سپاره شول، شیبه وروسته یې د کندهار امنیه قومندان حافظ عبدالمجید پیدا کړاو د هغه سره په موټر کې سپاره شول، ترسهاره یې له ده سره یوځای په ښار کې ګزمه وکړه، سهار د ښکاپور بازار سره نږدې د طالبانو امنیتي ماموریت ته ورغی، له همدې وخت نه د ملا صاحب مخفي ژوند پیل شو. په همدې ځای کې یې لومړی د سهار لمونځ اداء کړ او وروسته یې د امریکا له لومړني برید څخه د بچ کیدو او د خپل ژوند د اطمینان ورکولو پیغام ثبت کړ تر څو طالبانو ته د مخابرې له لارې واورول شي. دغه راز د امریکایي یرغل د پیل په اړه لومړنی مطبوعاتي بیان هم ترتیب او د رسنیو له لارې نشر شو چې په یوه برخه کې یې یي راغلي وو.

( په داخل او خارج کې ټول مسلمانان باید په دې پوه شي چې د جهاد په مقدسه لاره کې مرګ، مرګ نه دی. بلکې د یوه ابدي خوشاله ژوند پیل دی.مسلمانان باید په دې لاره کې خسته نه شي. حوصله له لاسه ورنکړي. له صبر، استقامت او غیرت څخه کار واخلي.ځکه چې مسلمانان باید په دې عقیده ولري چې مرګ یو مرګ دی او هیڅوک

له مرگ نه شي خلاصیدلی، نو د شهادت مرگ چې چا ته ورسیږي دا باید یو ستر افتخار، کامیابي او د الله تعالی لوی نعمت وبولي.

د امریکا د جمهور رئیس بوش دا خبره حقیقت لري چې دا جګړه د مسلمانانو پر ضد صلیبي جګړه ده. نو باید د نړۍ په هر ګوټ کې مسلمانان د خپل دفاع لپاره اسلامي او شرعي فعالیت ته دوام ورکړي. جهاد که په توره وي، که په ژبه او که په قلم اوس د نړۍ په ټولو مسلمانانو فرض دی.

باید دا مقدسه فریضه اداء کړئ. زه امید لرم چې د افغانستان اسلامي امارت به د الله تعالی په نصرت او د نړۍ د مظلومو او بادرده مسلمانانو په مرسته او دعاء د امریکا په ظالم او تیري کوونکي حکومت بری ترلاسه کوي.)[۱]

ملا صاحب له همدې نیټې څخه بیا تر هغه مهاله چې له یو شمیر ولایاتو څخه عقب نشیني پیل شوه. په کندهار ښار کې احتیاطا مخفي ژوند کاوه. ملاقاتونه یې محدود کړي وو او اکثره پیغامونه یي د استازو په توسط تر مسؤلینو لیږل. د نصرت مخابرې له لارې له نظامي مشرانو سره په رابطه کې و. په دې وخت کې چې بمبار روان و او د امریکایانو لخوا هره شیبه د چاپې او بمبار احتمال موجود و ملا صاحب د دښمن هر ډول بریدته ځان آماده کړی و. له ده سره به د لس تنه په شاوخوا کې مسلح ملګري وو او نور احتیاطي ملګري به یي د اوسیدو ځای ته نږدې اوسیدل چې د احتمالي خطر په وخت د دښمن مقابلې ته رسیدګي وکړای شي. ملا صاحب چې بیا بیا یې د اوسیدو ځایونه بدلول څو ځله یې میشت ځای ته نږدې سیمې بمبار شوې. لکه د کندهار د قول اردو د بمبار په مهال ملاصاحب د بمبار له ساحې په سل متری کې موقعیت درلود. بل وخت د خاد ریاست ته نږدې اوسیده چې امریکایي الوتکو یي په ۵۰ متری کې یو کور بمبار کړ.

---

(۱) د هیواد ورځپاڼې کلکسیون (۵۲۷ مه ګڼه) ۱۳۸۰ لمریز کال

## لومړنی یرغل او بمبارونو دوام

د امریکایي نظامیانو لخوا خپرې شوې لیکنې ښیي چې په افغانستان د یرغل له پیل نه وړاندې امریکایان هم د اندیښنې په حالت کې وو او نه پوهیدل چې دغه جنګ ته په څه ډول ورداخل شي. د دوی سیمیزو مشاورینو پینټاګان ته مشوره ورکوله چې افغانان له جنګونو سره بلد خلګ دي. بمونه او بمبارونه یې ډېر لیدلي دي. که لومړنی برید معمولي او محدود وي او یا هم اهداف په سمه توګه نه وولي نو دا به دا امریکا په وړاندې د افغانانو حوصله پیاوړې کړي او امریکایي پوځي قوت به یې تر پام کم ورشي.

ښایي همدا لامل به و چې امریکایانو په لومړۍ شپه خورا پراخ یرغلیز عملیات وکړل. د دوی لخوا خپاره شوي معلومات ښیي چې په لومړۍ شپه د افغانستان په بیلابیلو ښارونو کې ۳۱ هدفونه په نښه شول. چې عمده یې د هوایي مدافع تأسیسات، د رادار سیستمونه، هوایي ډګرونه، د ملا محمد عمر مجاهد د اوسیدو ځای، د راډیو او مخابراتو ودانۍ اوداسې نور.

په لومړۍ شپه په یادو اهدافو له عربي بحیرې څخه د امریکا او برتانیا له بیړیو او اوبتلونو ۵۰ کروز توغندي وتوغول شول. په عربي بحیره کې د امریکا له الوتک لیږدونکي بیړۍ یو ایس میسوري څخه ۲۵ ایف ۱۸ بریدکوونکې الوتکې دغه راز د هند په سمندر کې د دیګو ګارسیا له ټاپو څخه ۱۵ بم غورځوونکې الوتکې هم په برید کې برخوالې وې چې مختلف اهداف یې بمبار کړل.

د اسلامي امارت مدافع هوایي ځواک د الوتکو د ویشتلو هڅه وکړه خو دا چې الوتکو له ډېرې لوړې ارتفاع څخه بمبار کاوه د مدافع هوایي مرمۍ نه وررسیدلې. د لومړۍ شپې په بمبار کې د افغانستان په بیلابیلو ښارونو کې یو شمیر کسان شهیدان او ټپیان شول. لومړنی د سر زیان د امریکا په دوهمه توغندیز برید کې ورسید چې د ملا صاحب په کور ترسره شوه، دلته په څلورو شهیدان شویو کسانو کې یو هم د ملا محمد عمر مجاهد اکا ملا محمد حنفیا صاحب و. د یرغل په لومړۍ شپه په پلازمینه کابل کې د دفاع وزارت، هوایي ډګر، تپه تیلویزیون او یکه توت سیمه کې د راډیو فرستنده

دستگاه بمبار شوه. د یک توت په ساحه کې د راډیویي دستگاه مرکز ته نږدې د مـاین پاکۍ د یوې موسسې سیمیز دفتر هم بمبار شو چې څو تنه عام خلک په کـې شـهیدان او ټپیان شول.

په دې ډول د افغانستان په حکـومتي او عـام المنفعـه تأسیسـاتو د امریکـا لـه قسماقسـم الوتکو او بیړیو څخه د بمونو او بارودو اورښـت پیـل شـو. څرنگـه چـې د جگـړې پـه لومړیو اونیو کې په جنګي کرښو د امریکایانو بمبار ډېر اغیزناک نه و نو یې د خپل غچ اخیستلو لپاره د افغانستان په ملي تأسیسـاتو او زیربنـاوو بمبـار تـه زور ورکـړ. د کابـل، کندهار، هرات، جلال اباد، مزار شـریف، کندز او شبرغان هوایي ډگرونه په سـخته بـې رحمۍ بمبار، د رادار او ملکي هوانوردۍ د خدماتو ټول سهولتونه یې ویجاړ او په کـې ناستې الوتکې چې ډېرۍ یې د ملکي هوایي خدماتو ( د اریانـا افغـان هـوایي شـرکت) اړوند وې له یوې مخې تخریب شوې. د افغانستان د لویو ښارونو تـر منـځ پـه غځیـدلو لارو هم څو ځایه بمبارونه وشوله او د تخریب هڅه یې وشوه، په کابل، جلال اباد، مزار شـریف او کندهار کې د اتصالاتو دستګاوې او مراکز تخریب او له منځه یوووړل شول.

په هرات کې د سل بستریز ملکي روغتون ودانې بمبار شوه او ډېرشمیر ناروغان او طبي کارکوونکې په کې شهیدان شول. د کابل ښار هوایي ډگر ته نـږدې پـه یـوه گـڼ میشـته سیمه درنې بمبارۍ د سر په درانه زیان سربیره یو شمیر کورونه هـم تخریـب کـړل.[1] د بمبار په پنځمه ورځ د اکتوبر په ۱۱ مه امریکایي الوتکو په ننگرهار کـې د کـوړم کلـی بمبار کړ او ډېرزیات ولسي وگړي یې په شهادت ورسول، په همـدې ورځ پـه ننگرهـار کې په یوه مسجد د بم له لگیدو سره ۱۶ تنه په لمانځه ولاړ ولسي خلک شهیدان شول. د یرغل د یوې اونۍ په پوره کیدو سره د طالبانو رسنیو خبر ورکړ چې په یوه اونـۍ کـې ۶۷۰ تنه ولسي وگړي د امریکا په بمبارونو کې شـهیدان شـوي دي.د اکتـوبر پـه ۱۶ مـه

(۱) د شریعت اونیزې کلکسیون

امریکایانو وویل چې په دې شپه یې په کندهار ۱۳۰ ځله هوایي بریدونه کړي. طالبانو د کندهار په بمباریو کې د ۳۳ تنه ملکي وګړو وژل کیدل تائید کړل.

په دې ډول د امریکایي پوځ لخوا د افغان ولس قتل عام پیل شو چې په روزمره توګه وژل کیدل، کورونه او کلي ورانیدل، ملي تاسیسات له منځه تلل، مساجد او مدرسې بمباریدلې، خو د غرب په اشاره چلیدونکو رسنیو د دې په ځای چې د مظلومو افغانانو غږ منعکس کړې له یوې مخې یې د امریکا د فتحې نغارې غږولې او د امریکا لخوا یې افغانانو ته له هوا څخه د خوراکي توکو د غورځولو مبالغه آمیز تبلیغات کول، اما دا خبره یې نه کوله چې د امریکایي الوتکو څخه رالویدونکي خوراکي مواد د دې په ځای چې خلک یې وخوري د ولسي خلکو له خوا اور وراچول کیده او په دې ډول یې د امریکایي یرغل په وړاندې خپل اعتراض څرګنداوه.

### د ملا صاحب پر کور د امریکایانو چاپه

لکه څنګه چې امریکایانو د ملاصاحب کور او شخصا خپله دی د یرغل په لومړیو کې په نښه کړل، دغه راز یې د ځانګړیو دیسانټ ځواکونو په توسط لومړني خاص عملیات هم د هغه پر کور او دفتر ترسره کړل. د میزان په ۲۸ مه نیټه ( د اکتوبر شلمه) د امریکا پوځ د ملا صاحب د شهیدولو او یا هم ژوندي نیولو په هدف د کندهار ښار په لمن کې پر هغه ودانۍ چاپه واچوله چې ملا صاحب د کور او د امارت د مقام یا دفتر په حیث ترې کار اخیست. د امریکایي منابعو په استناد د دې عملیاتو په لړ کې چې د ډیلټا فورس په نوم د امریکا د خاصو ځواکونو او کوماندویانو لخوا ترسره شول. لومړی د سلو په شاوخوا کې امریکایي کوماندویان دکندهار ښار څخه شپیته میله جنوب لویدیځ ته د ریګ په ساحه کې په یو ناکاره هوایي ډګر کې ښکته شول تر څو د ملا صاحب په کور د عملیات کوونکو پوځیانو سره د ضرورت په وخت کې همکاري وکړي.

ورپسې په همدې شپه د ډیلټا فورس او کوماندویانو دوهم ګروپ چې له سلو ډېر کسان یې برخوال وو، د کندهار ښار سره نږدې د ملاصاحب په کور چاپه ووهله. دوی د ملا صاحب د کور په شاوخوا کې له چورلکو پیاده شول، لومړی کوماندویانو او په

سر ګرځېدونکو چورلکو زرګونه مرمۍ واورولې تر څو که احتمالي خطر وی له منځه به لاړ شي. خو د ملا صاحب د کور ساتونکو مجاهدینو په پیل کې له دوی سره مزاحمت ونه کړ. هغوی پوهیدل چې کور تخلیه شوی که امریکایان ور داخل هم شي کوم څه به ترلاسه نه کړي. شیبه وروسته په داسې حال کې چې له کندهارښار څخه هم سیمې ته کومکي مجاهدین راورسیدل ناڅاپه یې په امریکایانو حمله وکړه.

تحقیقاتي خبریال سیمور هرش د دې عملیاتو په اړه په خپله تحقیقاتي مقاله کې د امریکایي کوماندویانو له قوله لیکلي: کله چې موږ د بیرته وتلو په حال کې وو طالبانو په موږ قیامت راکوز کړ، هغوی شبخون راووړ،هغوی په سپکو وسلو او آر پي جي توغندیو حمله وکړه. طالبانو داسې لاسي بمونه غورځول لکه له دوی سره چې بې شمیره موجود وي، د ځانګړو ځواکونو یونټ په شاته تلو او دفاعي جنګ مجبور شو ځکه طالبان برلاسي وو. ډیلټا کنډک ته زیان ورسید او یو شمیر کسان یې ټپیان شول، پوځیان په ګروپونو وویشل شول، د پوځي اصولو سره سم واړه ګروپونه شاوخوا غلي شول او لویو ګروپونو ته یې د تیښتې زمینه برابره کړه، په دې وخت جنګي څرخکو د ملامحمد عمرمجاهد په کور بې دریغه ډزې وکړې، د ډیلټا فورس، کوماندو او د کومک لپاره راغلي پوځیان ټول په وارخطا حالت کې راوتښتیدل، په منډو رامنډو کې د یوه چینوک هلیکوفتر ټایرونه له غونډۍ سره ولګیدل او مات شول. موږ د دې عملیاتو لپاره ډېر تیاری نیولی وو، موږ فکر کاوو چې هلته په رسیدو به جادو وکړو خو د طالبانو له حملې سره راته څرګنده شوه چې موږ جادوګر نه یو.[1]

لکه څنګه چې امریکایي خبریال اعتراف کوي، امریکایانو رښتیا هم په خپله لومړنۍ چاپه کې خپل ټول احتیاطي تدابیر سنجولي او خپل تجربه کار ځانګړي پوځیان یې د عملیاتو لپاره غوره کړي وو، خو په عملي ډګر کي دوی کومه لاسته راوړنه نه درلوده، طالبانو وروسته د امریکایي څرخکې مات شوې ټیرونه او له خاصو ځواکونو څخه پاته

(۱) نړۍ د توپان پر اوږو صفحه ۱۴۵

یوه تفنګچه رسنیو ته وښودل چې د امریکایي کوماندویانو په وارخطا تیښته یې شاهدي ویله.

**د امریکایي یرغل ځمکني ملاتړي**

امریکا د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په اوومه په افغانستان خپل بریدونه پیل کړل، د همدې کال د نومبر تر دوولسمې پورې د پلازمینې کابل په شمول د افغانستان ټول مهم ښارونه د طالبانو تر واک لاندې وو او د امریکا د پنځه اونۍ سختو بمبارونو په وړاندې یې له تصور لوړ مقاومت کاوه.

د اسلامي امارت په خلاف د امریکا جګړه له څو عمده برخو څخه عبارت وه، یو خو د هدفمندو هوایي بریدونو، بمبارونو او کروز میزایلو د توغولو هغه ناتمامه سلسله وه چې له بحرهند او د عربو له سمندرګي څخه ترسره کیدل، په دغو ډول بریدونو کې عمده رول د امریکایانو و خو د برتانیا په شمول ځینو نورو هیوادونو هم په یرغلیزو هوایي بریدونو کې برخه درلوده.

بل د جګړې استخباراتي او اکمالاتي همآهنګي وه، د دې لپاره امریکایانو په ګاونډیو هیوادونوکې ځانګړي هوایي ډګرونه او استخباراتي مراکز استخدام کړي وو، د افغانستان په جنوب کې استخباراتي جګړه په اسلام اباد کې د سي آی اې له مرکزي دفتر څخه رهبري کیدله، د دې دفتر مشري د رابرټ ګرینر په غاړه وه چې د حامد کرزي او ګل اغا شیرزي په شمول د جنوب اکثره د امریکا ګوډاګیان د ده لخوا استخدام او افغانستان ته راولیږل شول. د پاکستان حکومت امریکایانو ته د بلوچستان د جیکب اباد هوایي ډګر په تصرف ورکړی و چې امریکایانو ترې د هیواد په جنوب کې د جګړې په رهبري سربیره استخباراتي عملیات او د خپلو ګوډاګیانو اکمالات هم کول.

د جګړې بل محاذ د افغانستان شمال و، د ازبکستان حکومت د خان اباد قرشي هوایي ډګر امریکایي پوځ ته سپارلی و چې له همدې ځایه د افغانستان په شمال کې جګړه رهبري کیدله. له هوایي بریدونو سره هم مهال د امریکا استخباراتي ادارې سي آی اې

يوه تفنگچه رسنيو ته وښودل چې د امريکايي کوماندويانو په وارخطا تيښته يې شاهدي ويله.

## د امريکايي يرغل ځمکني ملاتړ

امريکا د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په اوومه په افغانستان خپل بريدونه پيل کړل، د همدې کال د نومبر تر دوولسمې پورې د پلازمينې کابل په شمول د افغانستان ټول مهم ښارونه د طالبانو تر واک لاندې وو او د امريکا د پنځه اونۍ سختو بمبارونو په وړاندې يې له تصور لوړ مقاومت کاوه.

د اسلامي امارت په خلاف د امريکا جګړه له څو عمده برخو څخه عبارت وه، يو خو د هدفمندو هوايي بريدونو، بمبارونو او کروز ميزايلو د توغولو هغه ناتمامه سلسله وه چې له بحرهند او د عربو له سمندرګي څخه ترسره کيدل، په دغو ډول بريدونو کې عمده رول د امريکايانو و خو د برتانيا په شمول ځينو نورو هيوادونو هم په يرغليزو هوايي بريدونو کې برخه درلوده.

بل د جګړې استخباراتي او اکمالاتي همآهنګي وه، د دې لپاره امريکايانو په ګاونډيو هيوادونوکې ځانګړې هوايي ډګرونه او استخباراتي مراکز استخدام کړي وو، د افغانستان په جنوب کې استخباراتي جګړه په اسلام اباد کې د سي آی اې له مرکزي دفتر څخه رهبري کيدله، د دې دفتر مشري د رابرټ ګرينر په غاړه وه چې د حامد کرزي او ګل اغا شيرزي په شمول د جنوب اکثره د امريکا ګوډاګيان د ده لخوا استخدام او افغانستان ته راوليږل شول. د پاکستان حکومت امريکايانو ته د بلوچستان د جيکب اباد هوايي ډګر په تصرف ورکړی و چې امريکايانو ترې د هيواد په جنوب کې د جګړې په رهبري سربيره استخباراتي عمليات او د خپلو ګوډاګيانو اکمالات هم کول.

د جګړې بل محاذ د افغانستان شمال و، د ازبکستان حکومت د خان اباد قرشي هوايي ډګر امريکايي پوځ ته سپارلی و چې له همدې ځايه د افغانستان په شمال کې جګړه رهبري کيدله. له هوايي بريدونو سره هم مهال د امريکا استخباراتي ادارې سي آی اې

دخپلو ځانګړو ګروپونو او داخلي اجیرانو په کرایه کولو سره د طالبانو خلاف ځمکنی عملیات هم پیل کړې و.

د افغانستان په جنوب کې د امریکایانو د ځمکني تعرض د پروګرام مهم اجرا کوونکي حامد کرزی او ګل اغا شیرزی و. د اکتوبر میاشتې په لومړیو کې د یرغل له پیل سره هم مهال حامد کرزی له پاکستان څخه کندهار ته داخل شو او له هغه ځایه روزګان ته لاړ تر څو د طالبانو په خلاف ځمکنی جبهه پرانیزي. نوموړي څو ورځې پټ فعالیت وکړ خو وروسته چې طالبان ورباندې خبر شول د ده د نیولو لپاره یې عملیات شروع کړل. حامد کرزي چې طالبانو یې د نیولو هڅه کوله د امریکا مرسته وغوښته او د سي آی اې ځانګړو ځواکونو د نومبر په څلورمه له روزګان څخه په څرخکه کې پورته کړ. له نوموړي څخه لوی مقدار وسلې او مهمات پاته شول او امریکایانو جیکب اباد ته ورساوه. حامد کرزی دوهم ځل د مزار شریف له سقوط وروسته د نومبر په ۱۴ مه د ۱۳ کسیز امریکایي ټیم (ایکو ګروپ) په بدرګه له جیکب اباد څخه په څرخکو کې روزګان ته یووړل شو او د امریکایانو په هوایي او تسلیحاتي ملاتړ یې فعالیت پیل کړ.

په جنوب کې بل قوماندان ګل اغا شیرزی و، چې امریکایانو د کندهار ښار د نیولو لپاره انتخاب کړی و، د نوموړي د افرادو لپاره امریکایانو په پاکستان کې له پاکستاني پوځ څخه ۵۰۰ میله وسلې او نور نظامي تجهیزات رانیول او بیا یې د یوه ځانګړي استخباراتي ټیم په بدرګه د نومبر په لومړیو کې د کندهار د معروف ولسوالی له لارې افغانستان ته داخل کړ. ګل اغا دشنه نري سیمه مرکز وټاکه او له همدې ځایه یې د کندهار ښار په خوا د امریکایي الوتکو په بدرګه پرمختګ ته دوام ورکړ. امریکایانو غوښتل د هیواد په ختیځ او کابل ته څېرمه سیمو کې قوماندان عبدالحق د طالبانو په خلاف وجنګوي. نوموړی د سي آی اې په دیکته افغانستان ته داخل شو، خو مخکې له دې چې کوم د پام وړ فعالیت وکړي طالبانو د لوګر په ازره کې ونیو او له امریکا سره د همکارۍ او ملګرتیا په جرم یې وواژه.

د هیواد په شمال، مرکزي ولایاتو او شمال لویدیځ کې د امریکا استخباراتي عملیات له پنجشیر څخه رهبري کیدل. د سي آی اې یو ځانګړی ټیم چې د افغانستان لپاره د دې

سازمان تر ټولو معروف متخصص ګري شرون رهبري کاوه د یرغل له پیل وړاندې د ۲۰۰۱ میلادي کال د سبتمبر په ۲۶ مه دسي آی اې په روسي ساخته چورلکه کې له تاجکستان څخه پنجشیر ته لاړ، ګري شرون له ځان سره په یوه فلزي بکس کې درې میلیون ډالر راوړي و تر څو د طالبانو په خلاف د ځمکنۍ جګړې لپاره وربانديي جنګیالي رانیسي.

ګري شرون لومړی د شورای نظار د استخباراتو له مسؤل انجنیر عارف سره ولیدل، هغه ته یې پنځه لکه ډالر ورکړل او انجنیر عارف په مقابل کې د شورای نظار ټوله استخباراتي شبکه د سي آی اې خدمت ته وقف کړه. د ټلوالې په نمایندګۍ امر الله صالح له ګري شرون سره د ژباړن او نږدې همکار په حیث دنده اجراء کوله او د شورای نظار استخباراتي کارمندانو په یوه میاشت کې (د سبتمبر له ۲۷ د اکتوبر تر ۲۶ مې پورې) د سي آی اې لپاره تر ۴۰۰ زیات څارګر راپورونه تیار کړل چې د سي آی اې د ټیم لخوا امریکا ته لیږل کیدل. د ګري شرون دوهمه لیدنه له قسیم فهیم سره وه، فهیم ته یې یو میلیون نغد ډالر ورکړل او هغه په مقابل کې د هر راز همکارۍ ټینګ وواهه. فهیم موافقه وکړه چې د شمالي د جنګي خط مسؤل بسم الله خان ته به قومنده ورکړي چې د سي آی اې له ټیم سره هر راز همکاري وکړي. فهیم دیرش تنه جنګیالي د سي آی اې په واک کې ورکړل ترڅو یې د جاسوسانو په حیث وروزي.

ګري شرون وروسته له سیاف، ډاکټر عبدالله، قانوني او د ټلوالې له نورو مشرانو سره هم ولیدل او په ډالري ډالیو یې د هغوی وفاداري د ځان کړه، د یرغل له پیل وړاندې ګري شرون د ټلوالې د مشرانو سره په ګډه د طالبانو خلاف د ځمکنې یرغل ستراتیژي نهایي کړې وه په داسې ډول چې قسیم فهیم به د ځمکنۍ جګړې د عمومي مشر په حیث امریکایانو ته مسؤل وي او له ګري شرون سره به همیشنی تماس لري، انجنیر عارف به استخباراتي معلومات سي آی اې ته رسوي. بسم الله خان په کابل د برید لپاره غوره شوی و، د فرخار جبهه او د تخار دنیولو مسؤلیت داود داود ته سپارل شوی و، دنوموړي ملاتړ ته د مولانا سیدخیلي او قومندان ګدا پنجشیري په مشرۍ څو زره اضافه ځواکونه هم له پنجشیر څخه ورتلل، د کوکچې په بله غاړه په شمالي تخار کې

مطلب بیګ، پیرم قل، کبیرمرزبان، پیرمحمد تالقاني او بشیر چاه آبي او ځیني نور جګړه مار قومندانان په دې ګومارل شوي وو، ترڅو له امریکایي بمبار سره هم مهال د طالبانو په دفاعي لیکو هجوم وروړي. د ګري شرون په جنګي ستراتیژۍ کې سیاف د ختیځ افغانستان لپاره غوره شوی و، خو په ختیځ کې د عبدالحق له وژل کیدو وروسته سیاف زړه ونکړای شو چې له پنجشیر څخه راووځي.

ګري د افغانستان په شمال او مرکزي ولایاتو کې هم یو شمیر جګړه ماران د طالبانو په خلاف ځمکنیو عملیاتو ته پارولي وو. رشید دوستم د امریکایانو په لارښوونه د دره صوف په لوړو ساحو کې خپل کسان راټول کړل چې د الفا په نوم د سي آی اې ځانګړی ټیم هم ورسره ملګری و، له دوستم سره په څنګ کې عطاء محمد نور هم د بلخ په جنوبي غرنیو سیمو کې د طالبانو خلاف جګړې ته تیاري نیوله چې د سي آی اې د بریوو په نوم ټیم یې ملګرتیا کوله. کریم خلیلي ته په بامیانو کې د ځمکني یرغل او د طالبانو په خلاف د جګړې مسؤلیت سپارل شوی و. له نوموړي سره د دلتا په نوم د سي آی اې ځانګړی ټیم فعال و چې امریکایي الوتکې یې رهبري کولې. خو کریم خلیلي چې له طالبانو یې سخته ویره درلوده تر پایه یې دا زړه ونکړای شو چې د طالبانو په خلاف کوم مؤثر عملیات ترسره کړي.

د افغانستان په لویدیځ کې د امریکایانو د یادولو وړ ملاتړی تورن اسمعیل خان و، د امریکایانو لخوا د لیکل شویو کتابونو دمعلوماتو له مخې نوموړي په دې شپو ورځو کې د افغانستان په غرب کې د ایران د پولې په سل کیلومترۍ کې پټ و چې وروسته ورسره دسي آی اې د (چارلي) په شفري نوم استخباراتي ډله ملګرې شوه، ترڅو د طالبانو په ضد جګړې ته یې وهڅوي.

په اسمعیل خان سربیره دغور په جنوب او پرچمن ولسوالی کې د ډاکټر ابراهیم غوري کسانو د امریکایي الوتکو په سیورې کې په طالبانو عملیات کول او شمال ته د کوهستاناتو په ساحه کې قومندان احمدخان مرغابي په فاریاب کې د طالبانو په خلاف

په فعالیت بوخت و، چې امریکایانو ورته د دلالانو له لارې ډالر او د پراشوټ په واسطه وسلې، خوراکي توکي او د آسونو اوبه او واښه رسول.(۱)

**پنځه اونۍ سخته جګړه او سخت ترین مقاومت**

لکه وړاندې چې وویل شول د امریکایانو هوایي بریدونه لومړی په ښارونو پیل شول، راډیوګانې، هوایي ډګرونه، الوتکې، پوځي ډیپوګان، د مدافع هوایي مراکز او د اتصالاتو شبکې یې بمبار کړې، ورپسې په داسې حال کې چې په ښارونو او ځینو کلیوالو ساحو هم بمبارونه کیدل اصلي بریدونه په جنګي کرښو راټول شول.

له یرغل وړاندې د طالبانو دوه مهم جنګي خطوط هغه و چې د احمد شاه مسعود د ځواکونو په وړاندې د کابل په شمال او د تخار په فرخار او خواجه غار سیمه کې پراته وو. دا مهال چې د سمنګانو په دره صوف کې او د بلخ په جنوبي غرنیو سیمو کې د دوستم، عطاء نور او محقق ټوپکیان راټول شوي وو. طالبانو د دره صوف او د بلخ د جنوبي سیمو د دفاع لپاره هم دفاعي کمربندونه ټینګ کړل. د امریکایانو ډېر بمبارونه د کابل د شمال، تخار او دره صوف په همدې جنګي کرښو و چې پنځه اونۍ یې مسلسل دوام درلود.

امریکایانو او داخلي ملګرو یې اټکل کاوه چې د جنګي کرښو په بمبار سره به ډېر ژر طالبانو ته شکست ورکړي. خو د اسلامي امارت مجاهدینو په ټولو جنګي کرښو کې کمساری ثبات وښود. په داسې حال چې په ټولو جنګي کرښو کې د مخالفینو اړخ ته د سي آی اې ځانګړي ټیمونه ځای پر ځای شوي وو او د لیزرونو په واسطه یې الوتکو ته کوردینات ورکول، مجاهدین بیا هم توانیدل چې له بیلابیلو تاکتیکونو په استفاده له بمبار څخه ځانونه وژغوري. نو ځکه به کله چې له درانه بمبار وروسته د ټلوالې عسکرو تعرض پیل کړ، مجاهدین به په ټول قوت بیا راپورته شول او تر پخوا په لوړ مورال به یې د امریکا د ځمکنیو ملګرو تهاجم دفع کړ.

(۱) ۸۸ ورځې تر کندهاره لیکوال رابرټ ګرینر. سي آی اې په پنجشیر کې د ګري شرون کتاب

د بمبارونو د سلسلې اوږدیدلو او د جنګي کړښو د ماتولو څنګه که له یوې خوا د مجاهدینو او افغان ولس مورال لوړاوه، بل اړخ ته یې د یرغلګرو او د هغوی د ملګرو تر منځ د نهیلۍ او شکست احساس ته هم وده ورکوله. د ټلوالې یو مشر برهان الدین رباني چې همدا حالت ورباندې غمیدلی و، له امریکایانو یې غوښتنه وکړه چې په طالبانو غټ بمونه وغورځوي. جنرال قسیم فهیم چې د امریکایي یرغلګرو له مشر جنرال ټومي فرانک سره د کتنې لپاره تاجکستان ته تللی و. هم یې د ملاقات په مهال له امریکایانو د لانورو درنو بمبارونو او زیان اړوونکو بمونو د اورولو غوښتنه وکړه.

له دریو اونیو درانه بمبار وروسته په امریکایي مطبوعاتو کې هم داسې ګنګوسې پیدا شوې چې د امریکایي یرغل د ناتوانۍ حکایت یې کاوه، د اکتوبر په وروستۍ نیټه نیویارک ټایمز ورځپاڼې د وتلي تحلیل ګر آر ډبلیو ایپل یوه څیړنیزه مقاله خپره کړه چې پوښتلي یې و، آیا افغانستان یو بل ویتنام کیدای شي؟ آیا امریکا د نړۍ په هغه بله خوا له یوه شکست سره مخ کیدونکې ده؟ د همدې ورځې په سبا د امریکا دفاع وزیر ډونالډ رمسفلډ په پینټاګون کې د خبري کانفرانس په مهال د خبریالانو له سختو پوښتنو سره مخامخ شو او د یرغل ستراتیژي یې بې اغیزې وبلل شوه. خو رمسفلډ وویل چې په جګړو کې بریا ژر نه ترلاسه کیږي، تاسو تاریخي شالید ته ځیر شئ، په جاپان باندې درې نیم کاله بمباري روانه وه تر څو تسلیم شو، دغه راز په دوهم نړیوال جنګ کې د هټلر جرمني پوره څلور کاله بمبار شو. له شک پرته په جنګي کړښو کې د طالبانو تاریخي مقاومت رمسفلډ اړ کړی و چې د اسلامي امارت په ابتدائي وسلو سمبال محدود مجاهدین د هټلر له میلیوني مجهز پوځ سره پرتله کړي.

کله چې له څلور اونیو سخت بمبار وروسته بیا هم د کابل د شمال، تخار او دره صوف خطونه مات نه شول، نو امریکایانو خپل قوت یوې خوا ته متوجه کړ، هغوی د نومبر په لومړۍ اونۍ کې د هیواد په شمال کې د مزار ښار د نیولو پلان جوړ کړ د بلخ په جنوبي سیمو دغه راز د سمنګان په دره صوف کې یې د مجاهدینو په سنګرونو سخته بمباري پیل کړه.

له (بوش اټ وار) کتاب او نورو امریکایي مستنداتو څخه معلومیږي چې امریکایانو په دې جګړه کې لومړی هدفمند بریدونه او فرشي بمبار پیل کړ، خو کله چې د طالبانو مقاومت مات نه شو نو د پنځلس زره پونډه وزن لرونکو ډیزي کټر بمونو تر څنګ یې د کیمیاوي وسلو استعمال ته هم لاس واچاوه. هغه کیمیاوي وسلې چې په وروستیو ورځو کې په جنګي کړنو وکارېدې، یو ډول زهرجن غاز یې خپراوه چې په تنفس سره یې د هر ژوندي موجود سږي التهابي کېدل او چاودېدل. له همدې امله د جګړې په کړښه کې د مجاهدینو ډېر شهیدان په داسې حال کې وموندل شول چې د مرمۍ یا ټپ هیڅ نښه به وربانديې نه وه، خو له غوږونو او پوزې به یې وینې بهیدلې او ځای پر ځای به شهیدان شوي وو.

د مزار جګړه واقعا درنه جګړه وه او امریکایي یرغلګرو په کې خپل ټول قوت وازمایه، د دې جګړه رهبري د بارټ ډیکر په نوم د امریکا د ځانګړو ځواکونو د هغه افسر په غاړه وه چې له خپل کوچني ټیم سره یو ځای یې دوستم بدرګه کاوه او د مزار ښار جنوب ته ۱۵۰ کیلومتره لرې د المورتک غرنۍ سیمه کې ځای په ځای شوي وه. امریکایانو او دوستمیانو د درانه بمبار په تعقیب له المورتک څخه جګړه پیل کړه، وروسته یې لوړه او لاندې کشنده ونیول او تر شولګرې ولسوالۍ مخکې لاړل. مجاهدین چې د زهري بمونو د استعمال له امله یې ډېر کسان له لاسه ورکړي وو. د افرادو له کمښت سره مخامخ شول. مزار ښار ته نږدې د چشمه صفا په سیمه کې مجاهدینو یو ځل بیا د دفاعي کرښې د ټینګولو هڅه وکړه، له کابل څخه تازه دمې مجاهدین چې زیاتره یې د قبایلي سیمو په نفیر راوتلي ولسي-مجاهدین وو د مزار شریف د دفاع لپاره واستول شول. دغه مجاهدین د مزار ښار ته ورسیدل. خو لومړنی کتار یې چې کله د جګړې کرښې ته تلو د امریکایي الوتکو لخوا په هدفمندو بریدونو بمبار شو او ډېر مجاهدین په کې شهیدان شول. په دې ډول د مزار شریف د دفاع وروستۍ هڅې هم نتیجه ورنکړه او مجاهدین اړ شول چې له ښار څخه عقب نشیني وکړي.

**طالبانو ولې شاتګ وکړ؟**

د بلخ ولایت د مرکز مزار شریف د دفاع لپاره طالبانو خپل ټول توان وکاراوه، خوکه له یوې خوا د دښمن وحشیانه فرشي بمباري او د کیمیاوي وسلو استعمال د جګړې په لومړۍ کرښه کې د مجاهدینو تلفات خورا زیات کړل له بلې خوا یې د وسلو او لوژیستکي توکو اکمال هم په ټپه ودراوه. د مجاهدینو په کاروانونو او موټرو د دقیق هدف ویشتونکو الوتکو بمبار د جګړې کرښو ته د تازه دمو ځواکونو لیږل هم له خنډ سره مخ کړي وو. همدا لامل و چې بالاخره د عقرب په اتلسمه (د نومبر نهمه) نیټه طالبان د مزار شریف له ښار نه ووتل او په دې ډول د عقب نشیني سلسله پیل شوه.

ملامحمد عمر مجاهد دا مهال په کندهار ښار کې مخفي ژوند کاوه، خو د خپل ځانګړې مخابره چې (نصرت) او په جنوبي ولایاتو کې د کندهار د قول اردو مسؤل مولوي اختر محمد عثماني په توسط یې له مجاهدینو سره رابطه درلوده، په مزار شریف کې د امریکایي بمبار له زیاتیدو وروسته نظامي مشرانو له ملا صاحب څخه د مقاومت یا شاتګ د امر غوښتنه وکړه، خو ملاصاحب ورته وویل تاسو د جګړې په ډګر کې یاست په وضعیت ښه پوهیږئ، ما ته له دې ځایه د جګړې حالت پوره د درک وړ نه دی، زما په تاسو باور دی چې ناسمه پریکړه به نه کوئ، تاسو ته چې څه ګټور معلومیږي هماغسې وکړئ.

د مزار له سقوط وروسته طالبان له سمنګان او سرپل ولایاتو څخه هم ووتل او دوه ورځې وروسته یې د تخار له جنګي خط څخه هم د کندز خواته عقب نشیني وکړه. په دې ډول د افغانستان له بیلابیلو سیمو څخه د طالبانو عقب نشیني پیل شوه. دا عقب نشیني اصلا د امریکایي یرغل په خلاف د جګړې په ستراتیژۍ کې د بدلون نښه وه، طالبانو نه غوښتل په جنګي کرښو کې د ثابتو اهدافو په توګه د امریکا د هدفمندو بریدونو ښکار او په کیمیاوي بمبارونو کې خپل افراد او ولس له عاموژنو سره مخامخ کړي. ځکه په وروستیو ورځو کې د امریکا بریدونه تر پخوا خونړي شوي او د مجاهدینو د تلفاتو کچه لوړه شوې وه، د امریکایانو لخوا وروستي رابرسیره شوي ارقام ښيي چې د یرغل د پیل په هماغو جګړو کې امریکایي ځواکونو په طالبانو ۱۸ زره

بمونه کارولي چې له جملې يې لس زره بمونه په کمپيوتر رهبري کېدونکي يا دقيق هدف ويشتونکي بمونه وو، امريکايان وايي چې په دې بريدونو کې له ۸ تر ۱۲ زره طالبان وژل شوي دي. دا معلومه نه ده چې دا شمېرې څومره کره دي. خو دا ثابتوي چې د مخامخ جبهه يي جنګ دوام د طالبانو په زيان وو.

بله دا چې که طالبانو د ښارونو دننه، کوڅه په کوڅه مقاومت کولای په دې سره شايد د افغانستان ټول ښارونو د امريکايي بمبار له امله په کنډوالو بدل شوي وای. موږ وليدل چې امريکايانو د عراق موصل او د سوريې رقه ښار د ښاري مقاومت د ماتولو په بهانه په داسې ډول بمبار کړل چې ۹۰ فيصده ودانۍ او تاسيسات يې له منځه لاړل. طالبانو نه يوازې په ښارونو کې له امريکايانو سره جګړه ونه کړه بلکې په عامو کليوالو ولس ميشتو سيمو کې يې هم امريکايانو ته د بمبار کولو بهانه په لاس ورنکړه، د طالبانو مقاومت ټول په هغو جنګي سيمو کې راټول و چې تر دې پخوا هم د دوی جنګي خطوط په کې پراته وو او په شاوخوا کې يې عام خلک نه اوسېدل.

د يوې اونۍ په ترڅ کې د پلازمېنې کابل په شمول د هېواد له ختيځ، شمال، جنوب ختيځ او مرکزي ولاياتو څخه د طالبانو وتل، که څه هم هغه مهال غيرمترقبه شاتګ بلل کېده، خو وروسته ثابته شوه چې د دغه اقدام له امله که له يوې خوا د ډېرو تلفاتو او ورانيو مخه ونيول شوه، له بلې خوا مجاهدينو تر ډېره حده خپل ځواک هم وساته او د چريکي جګړې په پيل سره يې امريکايان په يو داسې مقاومت کې راګير کړل چې د هغوی جنګي الوتکو او بمبارونو په کې مؤثر رول نه شوی ادا کولای.

د عقب نشينۍ په مرحله کې د نقد وړ نقطه د هېواد له شمال څخه نا انډوله شاتګ و، د مزار له سقوط وروسته د مجاهدينو په وړاندې يوازې د باميانو لار خلاصه پاته شوه خو دوه ورځې وروسته چې باميان سقوط وکړ، نو زرګونه مجاهدين په تخار، بغلان او کندز کې محاصره پاته شول.

## د کندز محاصره او د شمال دوهمه غمیزه

د شمالي ولایاتو خصوصا مزار شریف له سقوط وروسته طالبانو تخار ولایت هم ځکه پرېښود چې له یوې خوا د امریکایانو هوایي بمبارونه او د مسعود د ځواکونو زمیني یرغلونه مسلسل روان وو، بله دا چې د تخار په نسبت په کندز کې وسلې، مهمات، تېل او د زخمیانو د معالجې په شمول نور سهولتونه هم موجود وو. په دې ډول مجاهدین له ټولو سیمو کندز ولایت ته راټول شول. خو کندز چې له ټولو خواوو محاصره او د مخالفینو تر بریدونو لاندې و، د امریکایانو ظالمانه بمبار هم وربانـدې همیشه جریان درلود.

دغه وخت د طالبانو عمومي مشري د ملا محمد فاضل آخند په غاړه وه، خو ورسره نور نظامي مشران لکه ملانور الله نوري، ملا عبدالقیوم ذاکر، ملا دادالله آخند، قاري فیض محمد سجاد، ملا عبدالرؤف خادم، سید علاء الدین آغا، ملا شهزاده آخند، ملا عبدالباقي اخند او نور مجاهدین هم محاصره پاته وو. ملا فاضل آخند وایي په پیل کې زموږ اراده دا وه چې ټول به د شهادت تر وخته مقاومت کوو. خو په دې وخت کې د امریکایانو بمبار او زمیني جنګونه دومره سخت شول چې ما پخوا هیڅکله داسې سخت حالت نه و لیدلی. مجاهدینو ته ډېر تلفات رسیدل. له جنګ نه علاوه د دوستم لخوا د قومندان غوث الدین او شمس الحق په نومونو دوه قومندانان راولیږل شول. موږ ته یې دا پیغام راوړ چې که تاسو خپلې وسلې موږ ته وسپارئ موږ تاسو ته له دې محاصرې د ژوندي وتلو او خپلو ځایونو ته د رسیدلو تضمین درکوو. په عین حال کې د مسعود د قومندان جنرال داود لخوا هم خلک راولیږل شول او همدا پیغام یې راوړ.

موږ ملګرو د دې خبرې د شرعي اړخ د سنجولو په خاطر د امیرالمؤمنین مرحوم په هدایت د اسلامي امارت له مشهور عالم شیخ الحدیث مولوي عبدالعلي دیوبندي صاحب سره رابطه وکړه، له هغه سره په مجلس کې د ستري محکمې رئیس مولوي نور محمد ثاقب صاحب او مولوي سدوزی اغا صاحب هم وو. هغوی راته وویل چې که تاسو هلته د محاصرې په حالت کې پاته کیږئ او همدا بمبارونه دربانـدې روان وي. نو نتیجه یې یوازې هلاکت دی. تاسو به ټول شهیدان شئ خو مسلمانانو او جهاد ته به مو

هیڅ ګټه ونه رسیږي. نو که د ژوندي وتلو کومه لاره برابریږي، د مجاهدینو د ژوند او خلاصون په خاطر خامخا داسې لاره غوره کړئ.

د مجاهدینو د اطمینان لپاره موږ د شیخ مولوي عبدالعلي دیوبندي صاحب خبرې په یوه فیته کې ثبت کړې او بیا مو د مجاهدینو مشرانو ته هم واورولې. بیا مو دا خبره له امیر المؤمنین ملا صاحب سره هم شریکه کړه، هغه راته وویل چې تاسو د دغه ځای په وضعیت ښه پوهیږئ چې کومه لاره تاسو ته ښه معلومیږي زما لخوا درته اجازه ده هغه لار غوره کړئ. وروسته موږ مشرانو مجاهدینو لکه زه، نوري صاحب، ذاکر صاحب، خادم صاحب او نورو مشوره وکړه چې له کوم اړخ سره خبرې کوو. دا چې هغه وخت مسعود تازه وژل شوی و. موږ ویره درلوده چې شاید د مسعود کسان به زموږ له مجاهدینو انتقام واخلي. نو ځکه مو دوستم ته ترجیح ورکړه. بیا د دوستم له استازو (قومندان غوث الدین او شمس الحق) سره زه، نوري صاحب او قاري فیض محمد سجاد صاحب لاړو مزار شریف ته. له موږ سره د کندز او تخار مخور قومندانان لکه آمر لطیف، ارباب هاشم او پیرمقل هم وو. د مزار شریف په قلعه جنګي کې مو له دوستم، عطاء محمد نور او محمد محقق سره ولیدل. دوستم او نورو ملګرو یې اطمینان راکړ چې که تاسو خپلې وسلې او موټر موږ ته وسپارئ موږ ستاسو د ژوند او سالم رسولو تضمین کوو. حتی تر هرات پورې مو په خپلو موټرو کې رسوو.

له دې توافق وروسته موږ کندز ته لاړو او هلته مو د مجاهدینو د سالم ایستلو ترتیب جوړ کړ. دا چې مخالفین ملا داد الله آخند ته ډیر له خښمه ډک وو، موږ وربانډې ویریدلو چې شهید به یې کړي، نو هغه مو په پټه له کندزه ویوست او د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کې یې ځان مخفي کړ. په دې شپو کې د امریکایانو بمبارونه هم بیخي ډیر زیات شوي وو. په کومه ورځ چې موږ له کندز څخه وتلو، نو لومړی د ملا عبدالباقي آخند تر مشرۍ لاندې یو شمیر مهاجر مجاهدین ووتل، ورپسې زموږ عام مجاهدین وو. د ملا عبدالباقي آخند سره ملګري مجاهدین مزار شریف ته نږدې د دوستم کسانو محاصره کړل او قلعه جنګي ته یې یووړل چې وروسته د قلعه جنګي لویه پیښه رامنځته شوه. نور عام مجاهدین چې یرګنک سیمې ته راغلل، ځانونه یې د

دوستم کسانو ته په دې اعتماد وسپارل چې هغوی به یې له خپلو سیمو سالم تیروي، هغوی تر مزار شریف په خپلو موټرو کې یووړل، په مزار شریف کې یې موټر او هر څه ترې واخیستل او په کانتینرونو کې یې واچول ترڅو یې د شبرغان محبس ته انتقال کړي. په کانتینرو کې د ډیرو مجاهدینو تنفس بند شوی وو او ډیر مجاهدین شهیدان شول. کوم چې په شبرغان کې بندیان وو، په هغو کې هم دوی پلټنې شروع کړې او مشران مجاهدین یې امریکایانو ته په لاس ورکړل. زه، نوري صاحب، ذاکر صاحب او دوه نور طالبان یې په مزار شریف کې له نورو طالبانو جلا کړو او یو ځای یې بندیان کړو. هلته امریکایانو رانه تحقیق شروع کړ چې اسامه بن لادن چیرې دی؟ زموږ ځواب دا و چې موږ ته معلومات نشته. له روژې پنځه ورځې بعد امریکایانو موږ له مزار شریف نه یووړو او په سمندر کې یې په یوه مخفي زندان کې بندیان کړو. خلاصه دا چې د شمال د دوهمې لویې فاجعې اصلي عامل د عبدالرشید دوستم غدر و، هغه له موږ سره وعده کړې وه چې د نظامي تجهیزاتو له سپارلو وروسته به مجاهدینو ته د سالم تیریدلو لاره ورکوي. اما کله چې مجاهدینو ورته نظامي وسائل وسپارل، دوستم هغوی بندیان کړل او ډیر شمیر یې په شهادت ورسول.

## ملا صاحب د جګړې مخامخ قومنده په غاړه واخیسته

د نومبر تر پنځلسمې چې د عقرب له ۲۴ مې او د ۱۴۲۲ هـ ق کال رمضان له لومړۍ سره یې سمون خوړ، طالبان د افغانستان له اکثرو ښارونو وتلي وو او یوازې د کندهار ولایت او ورسره پیوسته د روزګان، هلمند او زابل ځینې سیمې د مجاهدینو تر واک لاندې پاته وې. دا وخت مجاهدینو قوي روحیې او مخامخ رهبرۍ ته اړتیا درلوده. نو ځکه ملا صاحب د ستر خطر په منلو سره مستقیما د جګړې قومنده په غاړه واخیسته او هڅه یې وکړه چې حتی الوسع د امارت د وروستي سنګر دفاع وکړي.

د ملا صاحب ورور ملا عبدالمنان اخند وایي چې دغه وخت ملا صاحب د خپلې مخابرې له لارې له اکثره مجاهدینو سره خپله په رابطه کې و، له کندهار څخه یې تشکیلات کول او مستقیما یې جګړه رهبري کوله. په دې شپو ورځو کې د هلمند یو پخواني توپکي قومندان عبدالرحمن جان د ایران لخوا له ګڼ شمیر وسلوالو سره په

ریگونو راغی او د هلمند مارجه ولسوالي يې ونيوله. عبدالرحمن جان لشکرگاه ته هم خطر پيښ کړ، چې ملا صاحب ورپسې د مجاهدينو تشکيل وليږه. په مارجه کې سخت جنگ وشو. عبدالرحمن جان وتښتيد او ٦٠ تنه ټوپکيان يې مړه شول، مارجه بيرته طالبانو ونيوه.

يو بل مهم تشکيل د روزگان ولايت ته وشو. تر څو په دې ولايت کې له لاسه وتلې سيمې بيرته ونيسي. د ملا برادر اخند په مشرۍ گڼ شمير مجاهدين دې ولايت ته لاړل، د ترين کوټ ښار ته په نږدې کيدو حامد کرزی او ورسره داخلي او خارجي ملگري يې سخت وارخطا شول نو ځکه يې له امريکايي الوتکو د عاجل بمبار غوښتنه وکړه. امريکايي الوتکو ترين کوټ ته نارسيده د ملا برادر اخند کاروان تر سختو بريدونو لاندې ونيو. تر پنځوس زيات موټران تخريب او په کې سپاره مجاهدين شهيدان يا ټپيان شول. لږ شمير مجاهدين له بمباره ژوندي ووتل. له دې پيښې وروسته حامد کرزي د شاوليکوټ خواته مخه کړه، جگړه په کندهار راټوله شوه او ملا صاحب د شينډنډ خواته ليږل شوی تشکيل له دلارامه بيرته راوگرځاوه.

دا وخت چې کندهار له څو خواوو د امريکا د گوډاگيانو تر تهديد لاندې و او په عين وخت کې مسلسل بمبارونه هم روان و. ملا صاحب خپل وروستی تلاش هم دريغ نه کړ. د کندهار ښار جنوب اړخ ته د ډوری سيمو ته يې مجاهدين وليږل چې د ريگ لخوا د تعرض مخه ډب کړي. د گل اغا شيرزي د ځپلو لپاره يې بيا بيا د معروف ولسوالۍ خواته مجاهدين وليږل خو امريکايي بمبار مجاهدينو ته د اغيزناکو عملياتو فرصت نه ورکاوه. په وروستيو ورځو کې چې د گل اغا شيرزي کسانو تخته پُل ونيو د بيرته نيولو لپاره يي د ملا غلام نبي جهاديار په مشرۍ تشکيل وشو. جهاديار چې همدا شيبه د هلمند له محاذه راستون شوی و له يو شمير مجاهدينو سره يې تخته پُل ته حرکت وکړ، د گل اغا شيرزي ځواکونه يې په يوه تنگه محدوده کې محاصره کړل خو مخکې له دې چې له منځه يې يوسي امريکايي الوتکو په مجاهدينو بې دريغه بمبار وکړ چې په نتيجه کې يې د ملا جهاديار په شمول گڼ مجاهدين شهيدان شول.

گل اغا شیرزی چې امریکایانو د کندهار د نیولو لپاره ټاکلی وو او د امریکا د ځانګړو ځواکونو او سي آی اې یو ټیم هم ورسره ملګری و طالبانو د تخته پُل له نیولو وروسته د تورکوتل په سیمه کې هم ورسره مقاومت وکړ، وروسته د ارغسان په پُله ورسره جنګونه وشول تر دې چې د امریکایي بمبار په بدرګه د کندهار د هوایي ډګر تر سیمې راورسید او دلته یې هم تر ډیرو د وړاندې تګ مخه ونیول شوه. خو درانه امریکایي بمبار مجاهدینو ته د خط ټینګولو موقع نه ورکوله. د هوایي ډګر په دفاعي خط کې د مجاهدینو مشري د ملا اختر محمد منصور په غاړه وه، په دې ساحه کې عرب مهاجر مجاهدین چې همدلته یې کورونه وو هم په میړانه وجنګیدل او ډیر کسان یې شهیدان شول.

د شمال اړخ ته حامد کرزی د کندهار په خوا را روان وو، ملا محمد یونس اخندزاده حکایت کوي چې د کندهار له سقوط څلور ورځې مخکې راته ملا صاحب وویل چې د شاولیکوټ سوزنیانو سیمې ته لاړ شم، وروسته یې په لومړي نمبر مخابره کې غږ راباندې وکړ چې ویان سیمې ته لاړ شم. زه له خپلو مجاهدینو سره لاړم، دا سیمه چې د کندهار له ښاره لرې ده مخابرې له کندهار سره په آسانه نه رخ کیدلې، په دوهمه شپه مې د مخابرې له لارې په مولوی اخترمحمد عثماني صاحب غږ وکړ، خو له مقابل لوري ملاصاحب ځواب راکړ، ملا صاحب وویل شاولیکوټ ته مو د ملابرادر اخند او ملا عبدالرزاق نافذ صاحب تر مشرۍ لاندې تشکیل کړی دی، چې په کرزي او ورسره امریکایانو باندې حمله وکړي. که چیرې دغه تعرض کامیاب شو. ته همدلته پاته شه او که ناکام شو نو ته هم را شاته شه. خو د شاولیکوټ په خوا تعرض هم امریکایي الوتکو په نښه کړ، د ملا برادر اخند موټر هم ولګید او پخپله ټپي شو. سهار بیا له ملاصاحب سره وغږیدم هغه ویل له دغه ځایه راشاته شه چې محاصره نه شې. همدا مې له ملا صاحب سره وروستۍ خبرې وې.

د رمضان تر اتلسمې نیټې مجاهدین له کندهار ښاره په دفاع توانیدلي وو. له جنوبي اړخه په هوایي ډګر د ګل اغا شیرزي د وسلوالو حملې له سخت بمبار سره سره دفع شوې وې. ملا اختر محمد منصور او ورسره مجاهدین د هوایي ډګر په استقامت په

گل اغا شیرزی چې امریکایانو د کندهار د نیولو لپاره ټاکلی وو او د امریکا د ځانګړو ځواکونو او سي آی اې یو ټیم هم ورسره ملګری و طالبانو د تخته پُل له نیولو وروسته د تورکوتل په سیمه کې هم ورسره مقاومت وکړ، وروسته د ارغسان په پُله ورسره جنګونه وشول تر دې چې د امریکایي بمبار په بدرګه د کندهار د هوایي ډګر تر سیمې راورسید او دلته یې هم تر ډیرو د وړاندې تګ مخه ونیول شوه. خو درانه امریکایي بمبار مجاهدینو ته د خط ټینګولو موقع نه ورکوله. د هوایي ډګر په دفاعي خط کې د مجاهدینو مشري د ملا اختر محمد منصور په غاړه وه، په دې ساحه کې عرب مهاجر مجاهدین چې همدلته یې کورونه وو هم په میړانه وجنګیدل او ډېر کسان یې شهیدان شول.

د شمال اړخ ته حامد کرزی د کندهار په خوا را روان وو، ملا محمد یونس اخندزاده حکایت کوي چې د کندهار له سقوط څلور ورځې مخکې راته ملا صاحب وویل چې د شاولیکوټ سوزنیانو سیمې ته لاړ شم، وروسته یې په لومړي نمبر مخابره کې غږ راباندې وکړ چې ویان سیمې ته لاړ شم. زه له خپلو مجاهدینو سره لاړم، دا سیمه چې د کندهار له ښاره لرې ده مخابرې له کندهار سره په آسانه نه رخ کیدلې، په دوهمه شپه مې د مخابرې له لارې په مولوی اخترمحمد عثماني صاحب غږ وکړ، خو له مقابل لوري ملاصاحب ځواب راکړ، ملا صاحب وویل شاولیکوټ ته مو د ملابرادر اخند او ملا عبدالرزاق نافذ صاحب تر مشرۍ لاندې تشکیل کړی دی، چې په کرزي او ورسره امریکایانو باندې حمله وکړي. که چیرې دغه تعرض کامیاب شو. ته همدلته پاته شه او که ناکام شو نو ته هم را شاته شه. خو د شاولیکوټ په خوا تعرض هم امریکایي الوتکو په نښه کړ، د ملا برادر اخند موټر هم ولګید او پخپله ټپي شو. سهار بیا له ملاصاحب سره وغږیدم هغه ویل له دغه ځایه راشاته شه چې محاصره نه شې. همدا مې له ملا صاحب سره وروستۍ خبرې وې.

د رمضان تر اتلسمې نیټې مجاهدین له کندهار ښاره په دفاع توانیدلي وو. له جنوبي اړخه په هوایي ډګر د ګل اغا شیرزي د وسلوالو حملې له سخت بمبار سره سره دفع شوې وې. ملا اختر محمد منصور او ورسره مجاهدین د هوایي ډګر په استقامت په

دفاعي جګړه بوخت وو. شمال اړخ ته حامد کرزی او ورسره داخلي او امریکایي وسلوال له شاولیکوټ را تیر شوي او د ارغنداب خواجه ملک سیمې ته رارسیدلي وو. دغه وخت جګړه حساس پړاو ته رسیدلې وه.

ملا صاحب هوډ کړی و چې په وروستي سنګر (کندهار) کې تر شهادته وجنګیږي..د ملا صاحب ورور ملا عبدالمنان وایي چې ملاصاحب ملګرو ته وویل چې د کندهار ښار محله جات سیمې ته به ځو او له هماغه سنګره چې د شورویانو خلاف جهاد مو کاوه د امریکایانو خلاف به هم جهاد ته دوام ورکوو.

له ملا محمد عمر مجاهد سره ګڼ شمیر مجاهدین هم په دې هوډ کې ملګري وو. خو بل خوا د امارت یو شمیر مشرانو مصلحت دا نه لید چې د امیر المؤمنین په شمول ګڼ شمیر مجاهدین یوې داسې جګړې ته دوام ورکړي چې د سر درونډ زیان او د سیمو یومخیز بمبار او وراني ورسره تړلې وي. نو ځکه د اسلامي امارت یو شمیر نظامي او د ملکي امورو مشرانو ملاصاحب ته وویل چې باید له کندهار څخه ووځو. ځکه په کندهار کې مجاهدین په یوه معلومه نقطه کې تر هدف لاندې دي او امریکایان یې په ډیره اسانۍ بمبارولی او هدف ګرځولی شي. خو که ملا صاحب او مجاهدین له کلابند شوي ښار څخه سالم ووځي په اطرافي سیمو کې په وخت سره جهاد ته ادامه ورکولای شي. دغو امارتي مسؤلینو ویل چې د دې لپاره چې دغه ګڼ شمیر مجاهدینو ته له کندهاره د سالم وتلو لار برابره شي باید د منځګړو په توسط له مقابل جانب سره خبرې وکړو.

ملامحمدعمرمجاهد په اول کې د دوی له خبرې سره توافق نه کاوه او په مقاومت یې ټینګار درلود خو له بیا بیا مجلسونو وروسته آخري مجلس د۱۴۲۲هجري قمري کال د روژې د مبارکې میاشتې په نولسم ماښام وشو. پدې مجلس کې له سلا مشورو وروسته د مجلس ډیری ګډونوالو په همدې تاکید کاوه چې باید له کندهاره د وتلو هڅه وکړو ځکه په مقاومت ټینګار یوازې ویجاړي او تلفات ډیروي.

په پای کې ملا صاحب د سوله ییز توافق پلویانو ته وویل چې تاسو که د ځان او مجاهدینو د حفاظت یا د ویجاړیو د مخنیوي لپاره کومه طرحه لرئ عملي یې کړئ.

خو زما په باره کې له هیچا سره د خبرو او توافق اجازه نه درکوم. له دې غونډې وروسته د امارت ځینو مشرانو په دې خاطر چې بمبار ودریږي او مجاهدین او کورنۍ یې په سالم ډول له ښاره ووځي د یوه پخواني قومندان ملا نقیب په توسط له حامد کرزي سره تماس ونیو چې له کندهار ښاره د وتلو په مقابل کې دې بمبار ودریږي تر څو مجاهدین په خوندي ډول له ښاره ووځي. او په دې سره له کندهار ښاره د مجاهدینو وتل پیل شول.

## له کندهاره وتل

ملا گل اغا اخند وایي چې ملا صاحب له خپلو نږدې ملگرو سره له مشورې وروسته توافق په دې راغی چې ملا صاحب به زابل ولایت ته ځي او راتلونکی جهادي ژوند به هلته تیروي. له توافق وروسته د نصرت مخابرې له لارې د زابل ولایت یو بل مشرمجاهد ملا عبدالجبار عمري چې د امارت د واکمنۍ په وخت کې د بغلان والي و، راوغوښتل شو.

ملا عبدالجبار عمري وایي زه د سیوري ولسوالي کې په خپل کور کې وم چې د نصرت مخابرې مسؤل( ملا حیات الله آخند ) غږ راباندې وکړ چې عاجل کندهار ته ورشم، زه له خپلو څو ملگرو سره کندهار ته روان شوم، شپه مې په زاړه گمرک کې وکړه، سبا سهار چې د رمضان شلمه ورځ و، د ملا صاحب په تلاش ووتم، لومړی مې ملا عبدالرزاق نافذ پیدا کړ ورته ومې ویل ملا صاحب ته حال ورکړه چې زه راغلی یم. نافذ صاحب لاړ څه وخت بعد ملا شیرین اخند هم ورسره و او دواړه راغلل. زه په موټر کې ورسره سپور شوم او مخامخ یې ملا صاحب ته ورروستم. ملا صاحب دا وخت د کندهار ښار له چوک مدد سره نږدې په یوه سرای کې و. له ملا صاحب سره ملا گل اغا آخند او څو نور ملگري هم وو. چې ورغلم له روغبړ وروسته نور مجلس ونه شو. ملا صاحب مخامخ د خپل ساتني په هکله پوښتنه رانه وکړه، ما ورته وویل چې ساتنه خو دې د الله تعالی کار دی خو زه به خپل وس درنه ونه سپموم. ملا صاحب وویل: سمه ده، همدا نن له کندهار ښاره وځو. د مخابرو ځانگړی نمبر مو سره واخیستی. ملا

خو زما په باره کې له هیڅ سره د خبرو او توافق اجازه نه درکوم. له دې غونډې وروسته د امارت ځینو مشرانو په دې خاطر چې بمبار ودریږي او مجاهدین او کورنۍ یې په سالم ډول له ښاره ووځي د یوه پخواني قومندان ملا نقیب په توسط له حامد کرزي سره تماس ونیو چې له کندهار ښاره د وتلو په مقابل کې دې بمبار ودریږي تر څو مجاهدین په خوندي ډول له ښاره ووځي. او په دې سره له کندهار ښاره د مجاهدینو وتل پیل شول.

## له کندهاره وتل

ملا گل اغا اخند وایي چې ملا صاحب له خپلو نږدې ملگرو سره له مشورې وروسته توافق په دې راغی چې ملا صاحب به زابل ولایت ته ځي او راتلونکی جهادي ژوند به هلته تیروي. له توافق وروسته د نصرت مخابرې له لارې د زابل ولایت یو بل مشرمجاهد ملا عبدالجبار عمري چې د امارت د واکمنۍ په وخت کې د بغلان والي و، راوغوښتل شو.

ملا عبدالجبار عمري وایي زه د سیوري ولسوالي کې په خپل کور کې وم چې د نصرت مخابرې مسؤل( ملا حیات الله آخند ) غږ راباندې وکړ چې عاجل کندهار ته ورشم، زه له خپلو څو ملگرو سره کندهار ته روان شوم، شپه مې په زاړه گمرک کې وکړه، سبا سهار چې د رمضان شلمه ورځ و، د ملا صاحب په تلاش ووتم، لومړی مې ملا عبدالرزاق نافذ پیدا کړ ورته ومې ویل ملا صاحب ته حال ورکړه چې زه راغلی یم. نافذ صاحب لاړ څه وخت بعد ملا شیرین اخند هم ورسره و او دواړه راغلل. زه په موټر کې ورسره سپور شوم او مخامخ یې ملا صاحب ته وروستم. ملا صاحب دا وخت د کندهار ښار له چوک مدد سره نږدې په یوه سرای کې و. له ملا صاحب سره ملا گل اغا آخند او څو نور ملگري هم وو. چې ورغلم له روغبړ وروسته نور مجلس ونه شو. ملا صاحب مخامخ د خپل ساتنې په هکله پوښتنه رانه وکړه، ما ورته وویل چې ساتنه خو دې د الله تعالی کار دی خو زه به خپل وس درنه ونه سپموم. ملا صاحب وویل: سمه ده، همدا نن له کندهار ښاره وځو. د مخابرو ځانگړی نمبر مو سره واخیستی. ملا

صاحب وویل تاسو درځئ د کابل په لاره د نساجی له فابریکې سره ودریږئ، موږ هـ
دروځو.

عمري صاحب وايي موږ په خپل موټر کې لاړو او د نساجی لـه فـابریکې سره انتظا
شوو. د رمضان شلمه ورځ د غرمې دوولس بجې وې چې د کنـدهار ښـار لخـوا سـپین
سراچه موټر راووت. همدا د ملاصاحب موټر و چې زموږ په ليدو يې په مخابره کې غږ
وکړ چې تاسو مخکې شئ موږ در پسې یو. د ملا صاحب په مـوټر کـې لـه ده سره دوه
ملګري يې ملا عزيز الله اخند او ملا عبدالباري اخند هم وو. دا وخت چـې د کنـدهار
ښار له ټولو خواوو محاصره و او يوازې د کابل او زابل په خوا غځيدلې لاره خلاصه وه
موږ په همدې لار له کندهار ښاره ووتو.

د جلدک په سيمه کې د ارهنا مانده سيمې ته چې ورسيدو، مـوټر مـو ودرول، همدلتـ
نږدې د ترنک سيند تـه کـوز شـوو. اودسـونه مـو وکـړل او د ماسپښـين لمـونځ مـو پـ
جماعت اداء کړ. له لمانځه وروسته مو د کلات په خوا سفر ته دوام ورکړ، کـلات ښـار
ته په رسيدو د ملاصاحب د موټر ټاير پنچر شو. د موټر لـه جوړولـو وروسـته لـه کلاتـ
جنوب اړخ ته روان شوو او مازديګر د سيوري ولسوالی يوه کلي ته ورسيدو.

****

## اووم فصل

### د صليبي يرغل په مقابل کې د جهاد تداوم

د امريکايي يرغل له پيله د ملاصاحب دا نظر و، که بالفرض طالبان په مخامخ جګړه کې مات شي نو د امريکايي يرغلګرو په وړاندې به هم د شوروي يرغلګرو په شان چريکي جهادي مقاومت دوام پيدا کړي تر څو امريکا په اوږده جنګ کې ستومانه او له پښو وغورځول شي.

د يرغل له پيل نه څو ورځې وړاندې د ۱۳۸۰ لمريز کال د ميزان په پنځمه نيټه (۲۰۰۱ ميلادي کال د سبتمبر ۲۷ مه) ملا صاحب د شريعت غږ راډيو له څپو څخه يوه اوږده وينا نشر کړه چې په يوه برخه کې يې وويل: اې امريکا او امريکا پلوه خلکو! تاسو څومره خام فکر کړی دی. دا د طالبانو حکومت خو داسې حکومت نه دی لکه د ظاهر شاه حکومت. چې ظاهر شاه روم ته لاړ او دلته عسکري نظام يې سقوط وکړ. عسکر يې بلې ادارې ته ورتسليم شول. دا د طالبانو نظام خو جهادي منظم ګروپونه دي. منظمې جبهې دي. دا يې په ظاهره حکومت سقوط کړی، خو دا جبهې به بيرته د تير جهاد په شان کليو او غرو ته سي. نو بيا به ستاسو څه حال وي. خو بيرته به هغه د کمونيستانو د وخت په شان زوړ حال وي. بيا ته څنګه حکومت کوې؟ څوک به دې عسکر وي؟ که دې امريکايان عسکر وي خو روسان هم د کمونيستانو عسکر وو، څه شول؟ ته به څنګه ګذاره کوې؟ ډېر فکر وکړئ. ځانونه مه بربادوئ. ځانونه مه غرقوئ.دا د مسلمانانو ملک دی، افغانستان د مسلمانانو ځاله ده او د خدای تعالی ورباندې خاص نظر دی)

د ملا صاحب له لوړې وينا څخه معلوميږي چې نوموړی د نورو معاصرو سياسيونو په شان هغه څوک نه دی چې د حکومت له نړيدو وروسته ميدان پريږدي او په کوم بل ملک کې سياسي پناه واخلي. همدا راز يې دې ته هم اشاره وه چې امريکا دې دا فکر نه کوي چې د طالبانو د حکومت په سقوط او د لويو ښارونو په نيولو سره هر څه پای

خو زما په باره کې له هیڅا سره د خبرو او توافق اجازه نه درکوم. له دې غونډې وروسته د امارت ځینو مشرانو په دې خاطر چې بمبار ودریږي او مجاهدین او کورنۍ یې په سالم ډول له ښاره ووځي د یوه پخواني قومندان ملا نقیب په توسط له حامد کرزي سره تماس ونیو چې له کندهار ښاره د وتلو په مقابل کې دې بمبار ودریږي تر څو مجاهدین په خوندي ډول له ښاره ووځي. او په دې سره له کندهار ښاره د مجاهدینو وتل پیل شول.

## له کندهاره وتل

ملا گل اغا اخند وایي چې ملا صاحب له خپلو نږدې ملگرو سره له مشورې وروسته توافق په دې راغی چې ملا صاحب به زابل ولایت ته ځي او راتلونکی جهادي ژوند به هلته تیروي. له توافق وروسته د نصرت مخابرې له لارې د زابل ولایت یو بل مشرمجاهد ملا عبدالجبار عمري چې د امارت د واکمنۍ په وخت کې د بغلان والي و، راوغوښتل شو.

ملا عبدالجبار عمري وایي زه د سیوري ولسوالي کې په خپل کور کې وم چې د نصرت مخابرې مسؤل( ملا حیات الله آخند) غږ راباندې وکړ چې عاجل کندهار ته ورشم، زه له خپلو څو ملگرو سره کندهار ته روان شوم، شپه مې په زاړه گمرک کې وکړه، سبا سهار چې د رمضان شلمه ورځ و، د ملا صاحب په تلاش ووتم، لومړی مې ملا عبدالرزاق نافذ پیدا کړ ورته ومې ویل ملا صاحب ته حال ورکړه چې زه راغلی یم. نافذ صاحب لاړ څه وخت بعد ملا شیرین اخند هم ورسره و او دواړه راغلل. زه په موټر کې ورسره سپور شوم او مخامخ یې ملا صاحب ته وروستم. ملا صاحب دا وخت د کندهار ښار له چوک مدد سره نږدې په یوه سرای کې و. له ملا صاحب سره ملا گل اغا آخند او څو نور ملگري هم وو. چې ورغلم له روغبړ وروسته نور مجلس ونه شو. ملا صاحب مخامخ د خپل ساتنې په هکله پوښتنه رانه وکړه، ما ورته وویل چې ساتنه خو دې د الله تعالی کار دی خو زه به خپل وس درنه ونه سپموم. ملا صاحب وویل: سمه ده، همدا نن له کندهار ښاره وځو. د مخابرو ځانگړی نمبر مو سره واخیستی. ملا

صاحب وويل تاسو درځئ د کابل په لاره د نساجی له فابريکې سره ودرېږئ، موږ هـ
دروځو.

عمري صاحب وايي موږ په خپل موټر کې لاړو او د نساجی لـه فـابريکې سره انتظ
شوو. د رمضان شلمه ورځ د غرمې دوولس بجې وې چې د کنـدهار ښـار لخـوا سـپي
سراچه موټر راووت. همدا د ملاصاحب موټر و چې زموږ په ليدو يې په مخابره کې غ
وکړ چې تاسو مخکې شئ موږ در پسې يو. د ملا صاحب په مـوټر کـې لـه ده سره دو
ملگري يې ملا عزيز الله اخند او ملا عبدالباري اخند هم وو. دا وخت چـې د کنـدها
ښار له ټولو خواوو محاصره و او يوازې د کابل او زابل په خوا غځيدلې لاره خلاصه و
موږ په همدې لار له کندهار ښاره ووتو.

د جلدک په سيمه کې د ارغنداب ماندہ سيمې ته چې ورسيدو، مـوټر مـو ودرول، همدلت
نږدې د ترنک سيند تـه کـوز شـوو. اودسـونه مـو وکـړل او د ماسپښـين لمـونځ مـو پ
جماعت اداء کړ. له لمانځه وروسته مو د کلات په خوا سفر ته دوام ورکړ، کـلات ښـ
ته په رسيدو د ملاصاحب د موټر ټاير پنچر شو. د موټر لـه جوړولـو وروسـته لـه کلات
جنوب اړخ ته روان شوو او مازديگر د سيوري ولسوالی يوه کلي ته ورسيدو.

****

لودين كتابتون

## اووم فصل

### د صلیبي یرغل په مقابل کې د جهاد تداوم

د امریکایي یرغل له پیله د ملاصاحب دا نظر و، که بالفرض طالبان په مخامخ جګړه کې مات شي نو د امریکایي یرغلګرو په وړاندې به هم د شوروي یرغلګرو په شان چریکي جهادي مقاومت دوام پیدا کړي تر څو امریکا په اوږده جنګ کې ستومانه او له پښو وغورځول شي.

د یرغل له پیل نه څو ورځې وړاندې د ۱۳۸۰ لمریز کال د میزان په پنځمه نیټه (۲۰۰۱ میلادي کال د سبتمبر ۲۷ مه) ملا صاحب د شریعت غږ راډیو له څېو څخه یوه اوږده وینا نشر کړه چې په یوه برخه کې یې وویل: اې امریکا او امریکا پلوه خلکو! تاسو څومره خام فکر کړی دی. دا د طالبانو حکومت خو داسې حکومت نه دی لکه د ظاهر شاه حکومت. چې ظاهر شاه روم ته لاړ او دلته عسکري نظام یې سقوط وکړ. عسکر یې بلې ادارې ته ورتسلیم شول. دا د طالبانو نظام خو جهادي منظم ګروپونه دي. منظمې جبهې دي. دا یې په ظاهره حکومت سقوط کړی، خو دا جبهې به بیرته د تیر جهاد په شان کلیو او غرو ته سي. نو بیا به ستاسو څه حال وي. خو بیرته به هغه د کمونیستانو د وخت په شان زوړ حال وي. بیا نه څنګه حکومت کوې؟ څوک به دې عسکر وي؟ که دې امریکایان عسکر وي خو روسان هم د کمونیستانو عسکر وو، څه شول؟ ته به څنګه ګذاره کوې؟ ډېر فکر وکړئ. ځانونه مه بربادوئ. ځانونه مه غرقوئ.دا د مسلمانانو ملک دی، افغانستان د مسلمانانو ځاله ده او د خدای تعالی وربانديې خاص نظر دی)

د ملا صاحب له لوړې وینا څخه معلومیږي چې نوموړی د نورو معاصرو سیاسیونو په شان هغه څوک نه دی چې د حکومت له نړیدو وروسته میدان پریږدي او په کوم بل ملک کې سیاسي پناه واخلي. همدا راز یې دې ته هم اشاره وه چې امریکا دې دا فکر نه کوي چې د طالبانو د حکومت په سقوط او د لویو ښارونو په نیولو سره هر څه پای

ته ورسیدل. بلکې طالبان به له ښارونو عقب نشیني وکړي، غرونو ته به لاړ شي او بیا به له غرونو او کلیو د یرغلګرو او د هغوی د ملګرو په خلاف پاییدونکې او نه ماتیدونکې مقاومت پیل کړي.

امریکایانو د کندهار ښار له نیولو وروسته فکر کاوه چې نور د افغانستان قضیه یو طرفه شوې او جنګ پای ته رسیدلی. له همدې امله خو د امریکا دفاع وزیر ډونالډ رمسفلد افغانستان ته د خپل لومړني سفر په مهال په دې هیواد کې د پوځي عملیاتو بریا اعلان کړه. خو ښایي نوموړی به د امپراطوریو د هدیرې (افغانستان) له مقاومتي خاصیت سره پوره بلد نه و نو ځکه یې د کامیابۍ دعوه تر وخت وړاندې وکړه.

په دې خبره اوس امریکایي پوځي کارپوهان هم اعتراف لري چې هغه وخت امریکایي چارواکو د افغانستان له وضعیت څخه سم برداشت نه درلود. د پوځي چارو امریکایي متخصص ډیویډ کال کلین چې د (نوي چریکي جنګونه) تر عنوان لاندې یې کتاب لیکلی او په ۲۰۰۹ میلادي کال کې چاپ شوی. په یوه برخه کې یې لیکلي (زموږ پوځي مشرانو ته په کار وه چې د طالبانو له سقوط وروسته حالاتو کې یې د یوه پخواني برتانوي جنرال (Sir Olaf Caroe) دا خبره یاد ساتلې وای چې په افغانستان کې د جګړو او شکست د تجربو په رڼا کې وایي (د نورو ځایونو د جګړو خلاف، په افغانستان کې رښتیني جګړه هغه وخت پیلیږي کله چې تاسو د جګړې د پای ته رسیدو فکر وکړئ) د دې خبرې معنی دا ده چې افغانستان ته ننوتل او د ښارونو نیول یې آسانه دي خو په ټول هیواد باندې سیطره راوستل خورا سخت دي. ډیویډ کلین وایي چې د غربي ځواکونو ستره خطاء دا وه چې افغانستان ته داخلیدل یې بریا وبلله، حال دا چې اصلي جګړه له دې وروسته پیلیدونکې وه.

د امریکایي اشغالګرو سره دوه میاشتنی مخامخ او جبهه یي مقاومت رښتیا هم د یوې اوږدې جګړې آغاز و. ملا صاحب که څه هم د امریکایانوسره د مخامخ جګړې پر تداوم او د ژوند تر وروستۍ شیبې پوري پرمقاومت ټینګار کاوه خو ورسره یې د امریکایي اشغالګرو خلاف اوږدې جګړې ته تیاری هم نیولی و. په همدې اساس ویلی شو چې له کندهار څخه وتل او په زابل کې مخفي کیدل له جګړې څخه د ملا

صاحب (پتېدل) نه بلکې ( ورته پتېدل) یا په کمین کې کیناستل و. چې لـه کنـدهار څخه له وتلو وړاندې د نوموړي ځینې خبرې او اقدامات هـم د همـدې خبرې ثبـوت دی.

د ملا صاحب نږدې ملګری ملا ګل اغا آخنـد وایـي: مخکـې لـه دې چې طالبـان لـه کندهار او ورځیرمه ولایاتو څخه ووځي. یـو شـمیر د امـارت کسـانو اراده درلـوده او ملاصاحب ته یې مشوره ورکړه چې دغه ولایات دې هغه جهادي قومندانانو ته وسپارل شي چې له طالبانو سره تر یو حده خواخوږي لري او هم خلک نسبتا پرې راضي وي ( لکه حاجي بشر، ملا نقیب او د جلدک ملا عبدالکریم و غیره)

خو ملاصاحب یې په ځواب کې وویل چې اول خو زه یوه سیمه چا ته نـه تسـلیموم او بیا که موږ د مصلحت په خاطر له یوه ښاره وځو، نو له موږ وروسته بایـد داسـې څـوک رانشي چې هغه خلک له ځان سره ملګري کړي، د امریکایـانو پـه یرغـل او حاکمیـت باندې قناعت ورکړي او د اشغال منلو ته یې آماده کړي. مـوږ بـه د امریکایـانو خـلاف جهاد کوو او په جهاد کې د خلکو ملاتړ ته ضرورت لرو. نـو داسـې کسـان مـه واکمـن کوئ چې د عوامو لپاره دلیل شي او سبا به بیا د دوی په سبب ټـول خلـک ګمـراه او د کفارو په ملګرتیا کې درېدلي وي.

ملا ګل اغا اخند وایي چې ملا صاحب په همدې وروستیو ورځو کې ماته امر وکړ چې د امارت د بودیجې دوه نیم میلیون ډالره پیسې د امارت په مشرانو او نظامي قومنـدانانو له دې پیغام او لارښوونې سره تقسیم کړم چې دغه پیسې ستاسو شخصي نـه دي بلکـې په دې به په خپلو سیمو کې خپل جهادي کار برابروئ. ملګري به اکمالوئ تـر څـو بیـا سره پیدا کوو او منظم کار شـروع کـوو. لـه دې ټـول جریـان څخـه ثـابتیږي چې مـلا صاحب د اشغالګرو په وړاندې د جهاد د دوام قاطعانه فیصله کـړې وه او د دې پایـدار مقاومت لپاره یې خپل مخفي سنګر د زابل ولایت ټاکلی و.

## له کندهار ښاره د سور غر تر لمنو

وړاندې وویل شول چې د روژې په شلمه نیټه (۱۴ / ۹ / ۱۳۸۰هـ ش) غرمه مهال ملا صاحب له خپلو دوو ملګرو ( ملا عزیز الله او ملا عبدالباري) سره په سراچه ډوله موټر کې له کندهار ښار څخه د کندهار ــ کابل په عمومي لاره ووت او په همدې ورځ مازدیګر مهال د سیوري ولسوالۍ دعمرزوپه نامه یوه کلي ته ورسیدل.

د سیوري ولسوالي د زابل ولایت د مرکز کلات په جنوب کې پرته ده چې د سور غر په نوم د مشهور غره شمال اړخ ته له ختیځه د لویدیځ په خوا غځیدلې ده. دا ولسوالي د اسلامي امارت له واکمنۍ وړاندې د شینکۍ ولسوالۍ مربوط سیمه بلل کیدله، خو د اسلامي امارت په وخت کې د جلا ولسوالۍ رتبه ورکړل شوه. سیوری کم نفوسه ولسوالي ده، چې خلک یې د انګورو او بادامو د باغونو له حاصله د ژوند ضروریات پوره کوي. ملا محمد عمر مجاهد له کندهاره له وتلو وروسته د پاتې ژوند ټول کلونه په همدې ولسوالۍ کې تیر کړل چې په راتلونکې صفحو کې به ورباندې وغږیږو.

## د زابل په سیوري کې لومړنۍ مشورتي مجلس

سیوري ولسوالۍ ته له رسیدو وروسته ملا صاحب ملا عبدالجبار عمري ته امر وکړ چې د زابل ولایت ټول مخکښ مجاهدین او ډلګۍ مشران را ټول کړي. په دې ډول د زابل اکثره مشران مجاهدین لکه ملا روزي خان عاکف، امیر خان حقاني، ملا عبدالسلام راکتي، ملا محمد نذیر، ملا سعدالله، ملا نیاز محمد، ملا عبدالجبار عمري، ثاقب صاحب، ملا عبدالقهار او ملا عبدالاحد جهانګیروال رایوځای شول او د ملا صاحب په ګډون یې مشورتي غونډه وکړه.

د غونډې په پای کی ملا محمد عمرمجاهد مجاهدینو ته د راتلونکي په هکله لازمي لارښووني وکړې.

په دې وخت کې د زابل ولایت له مرکزه لا طالبان نه وو وتلي خو د وتلو په حال کې و. ملاصاحب د زابل مجاهدینو ته دا هم وویل چې په کلات کې د قومندان حمیدالله د مشرۍ مخه ونیسئ، قومندان حمیدالله چې د حامد کرزي ملګری و او امریکایانو د

زابل ولایت د تصرف لپاره غوره کړي و د کندهار له لارې د زابل ارغنداب ته رارسیدلی و او اراده یې وه چې کلات تر واک لاندې راولي.

## شینکی ته تګ

د سیوري ولسوالۍ په لومړني میشت ځای کې له څو شپو تیرولو وروسته ملا صاحب په همدې کلي کې د عمري صاحب د یوه ملګري عبد الحمید آغا کور ته لاړ، د عبدالحیمد آغا د کورنۍ اعضاء بل ځای تللي وو او په کور کې یې یوازې ملا صاحب له خپلو ملګرو سره اوسیده. ملا صاحب دلته څو شپې وکړې او بیا د زابل ولایت شینکۍ ولسوالۍ ته لاړ او هلته د خپل اخبني مولوي عبدالرحمن صاحب په کور کې دېره شو چې دا د ملا صاحب د مورنۍ خور کور و، د څو شپو له تیرولو وروسته په شینکۍ ولسوالۍ کې د یوه دیني عالم (مولوي محمد اکرم صاحب) کور ته لاړ او څو شپې یې هلته تیرې کړې. دا مهال چې ملاصاحب په شینکۍ ولسوالۍ کې و، له ځینو نظامي ملګرو سره یې یوبل مجلس هم وکړ چې ملا عبدالرزاق نافذ، ملا عبدالقاهر آخند، ملا عبدالجبار عمري، ملاعبدالباري او احمد جان اخندزاده د دې مجلس برخوال وو. په دې مجلس کې هم د جهاد د تداوم په اړه سلامشورې وشوې. په کندهار کې د اسلامي امارت د انحصاراتو د ادارې مسؤل ملا عبدالباري چې په دې مجلس کې یې ګډون کړی وایي چې مجلس د شپې دائر شو. موږ هغه کور ته ورغلو چې ملاصاحب په کې اوسیده، په برنډه کې ګاز ډبه لګیدله او رڼا ته یې مجلس روان و. خبره پردې کیدله چې څه کوو؟ او جهادي عملیاتو ته باید څرنګه دوام ورکړو.

ځینو ملګرو وویل چې یو څه موده به صبر وکړو، امریکایان په جوش کې دي، وروسته به عملیات پیل کړو، خو ملا صاحب وویل چې هرڅوک دې په خپله سیمه کې د خپل توان مطابق کار پیل کړي. د مجلس له پای ته رسیدو بعد ملا صاحب ملا عبدالرزاق نافذ ته وویل چې خپلې اصلي سیمې روزګان ته مه ځه، بلکې همدلته زابل کې موږ ته نږدې اوسه. نافذ صاحب له همدې امله ډېر وخت په زابل کې اوسیده خو کله چې ملاصاحب د امنیتي خطر له امله تنها ژوند غوره کړ او یوازې د خاص استازي په توسط یې له مجاهدینو سره رابطه کوله، بیا نو نافذ صاحب هم روزګان ته لاړ.

ملا صاحب د روژې وروستۍ ورځې او اختر په شینکۍ ولسوالۍ کې تیر کړ، دا وخت د هیواد په سطحه د امریکایانو پوځي عملیات، تبلیغات او رواني جنگ خورا په زور او شور کې و. راډیوګانو پرلپسې د امریکایانو د بریا او د طالب مشـرانو د نیولـو او وژلـو خبرونه ورکول. د زابل ولایت یوه پخواني مجاهد قومندان نور الله له ملاصاحب سره د ملاقات په وخت هغه ته مشوره ورکړه چې پاکستان ته لاړ شي او پـه دې برخـه کـې بـه دی ورسره همکاري هم وکړي. خو ملاصاحب پاکستان ته د تګ خبره رد کړه او ویـې ویل چې همدلته اوسیدل غوره ګڼم.

**سیوري ته راګرځیدل**

ملا صاحب او ورسره دوه تنه ملګري یې (ملا عزیز الله او ملا عبدالباري) چې د روژې په پنځه ویشتمه شینکۍ ته تللي وو، د اختر په څلورمه چې د ۱۳۸۰ لمریز کال د قـوس د میاشتې ۲۸ سره سمون خوري د ملا عبدالجباري عمري صاحب په رهنمایـۍ بیرتـه د سیوري ولسوالۍ ته راوګرځیدل. په سیوري ولسوالۍ کې یې لومړی د خـورچ پـه کـلي کې د ملا عبدالکبیر آخند پـه کـور کـې ۱۸ شـپې ګـوزاره وکـړه او بیـا یـې پـه همـدې ولسوالۍ کې د خوړې په نامه کلي کې د یوه بل مجاهد (عبدالصمد استاد) په کور کې اقامت غوره کړ.

د سیوري په ولسوالۍ کې دغه کور چې ملا صاحب د ۱۳۸۰ لمریز کال د جدي لـه ۱٦ مې نیټې بیا تر ۱۳۸۵ لمریز کال پورې په کې واوسید. موږ یې په دې کتاب کې یوازې په (اولني کور) سره یادوو.

**اولنی کور (میشت ځای)**

په دې کور کې ملا صاحب او ورسره ملګري ملا عزیزالله اخند، ملاعبدالباري اخند او ملا عبدالجبار عمري د ۱۳۸۰ هـ ش کال د جدي په شپاړسمه ځای په ځای شول. دوی د کور یوه اړخ ته کوټو کې اوسیدل چې دروازه به د شا لخوا ورپسې کولپ وه، تر څو کور ته راتلونکي ګاونډیان ونه پوهیږي چې په دې خونه کـې څـوک شـته. پـه لومړیـو ورځو کې څرنګه چې ژمی و او هوا سړه وه، په همدې کوټه کې بخارۍ لګول شـوې

وه، خو د ورځې په کې ځکه اور نـه لګـول کیـده چې ګاونـډیان شـک وانخلي چې څرنګه د دې خالي خونې له دودکش څخه دود وځي. که بـه کـور تـه څـوک میلمانـه راغلل. نو په لوړ غږ خبرو سره هم احتیاط کیـده، تـر څـو غـږ بهـر ونـه وځـي. د ۱۳۸۰ لمریز کال ترپایه ملا صاحب او ورسره درې تنه ملګرو همدلته ګوزاره کولـه. د پسرلي په راتګ سره د ملا صاحب ملګری عمري صاحب د ملا صاحب پـه اجازه لاړ او دوه ملګري ملا عزیز الله او ملا عبدالباري له ملاصاحب سره پاته شول.

عمري صاحب وایي تر کومه چې زه وم، نو زیـاتره بـه مـو پخلـی پخپلـه کـاوه، د کـور خلکو به پخه ډوډۍ او د کتغ لپاره شیان راوړل او موږ خپله په همدې کوټه کې پخول. د هغه مزاج همداسې جوړ و چې ځان یې د ملګرو تر منځ ممتاز نه باله.

د همدې کور یوه غړي او د ملاصاحب میلمه پـال حـاجی عبدالاحـد راتـه وویـل: د امریکایي یرغل په اولو میاشتو کې ملا عبدالجبار عمري زموږ کره راغی زما مشر ورور ته یي وویل چې که د ملا صاحب په ساتنه کـې راسره همکـاري وکـړئ. مـوږ موافقـه وکړه، بله شپه ملا صاحب، ملا عبدالجبار عمري، ملا عزیز الله او ملا عبدالباري راغلل او زموږ کره یي واړول، تر څو میاشتو پورې درې واړه ملګـري هـم لـه ملاصـاحب سره وو، دوی ته مو کتابونه راوړل، مطالعې به یـي کـولې. څـه وخـت بعـد یـي یـو ملګـری رخصت کړ،پاته دوه ملګري یې تقریبا تر دوه کاله پورې همدلته ورسره وو وروسته یې هغه هم رخصت کړل او ملاصاحب یوازې پاته شو. ملا صاحب بـه تـلاوت ډېـر کـاوه، مطالعه به یې کوله، راډیو به یې اوریده او کله به یې سر په ځنګون ایښی او تر ډیـره بـه مراقبه و. کله به مو د کورکوچنیان (دغیږې ماشومان) هم وروړل ساعت بـه یـې ورسره تیر و.

ملا صاحب موږ ملا عبدالله آخند باله، لومړی مو د کور په یوه طرف کـې دوه اطاقونـه ورکړي وو چې په منځ کې یې دهلیز و او د دهلیز دروازه به د بهر لخوا کولپ وه ظاهرا د چا شک نه راتلو چې دلته به څوک وي.د دې لپاره چې څوک ډېر رانشي له خپلوانو او حتی نورو ورونو سره مو تعلقات کم کړي وو. یوازې د کـور لـوی نارینـه او ښـځینه خبر وو. مور مې چې اوس وفات شوې ده په دې کې ډیره همکاره وه او په ډېر مهارت

يې دغه راز پټ ساته، وروسته موږ په باغ کې نوی سرای جوړ کړ او ور انتقال شوو، خ
هلته مشکل دا و چې دا کور له کلي يو څه وتلی و، کله بـه چـې امريکايـان کـلي ت
راغلل نو اول به زموږ د کور سره نږدې ودريدل د همدې مشکل له امله مو کـور بيرت
زاړه سرای ته انتقال کړ او د ملا صاحب د حفاظت لپاره مو نوی ترتيب جوړ کړ.

. د کور په کونج کې د نورو کوټو ترمنځ مو ملا صاحب ته داسې کوټه جوړه کړه چې
په اسانۍ چا ته نه معلوميده، چې دلته به کوټه وي. دې کـوټې تـه يـوازې د څنګلورې
کوټې څخه په الماری کې ور ورخلاص و. ظاهرا داسې معلوميده لکه دا چې الماری
وي. خو هغه په حقيقت کې دروازه وه او د ملا صاحب کوټې ته به تـرې تـګ راتـګ
کيده.

دا چې ملا محمد عمر مجاهد د امريکايي يرغل وروسته مخفـي ژونـد اختيـار کـړ، نو
څوک يې بايد د نومـوړي پـه ويريـدلو ورحمـل نـه کـړي. هغـه پـه عامـه اصطلاح لـه
امريکايانو څخه پټ نه بلکې (ورته پټ) و. معنی دا چې هغه پوهيده چې امريکايان په
پوځي لحاظ ډير وسائل او امکانات لري او پـه مخـامخ او ښـکاره جګـړه کـې بـرلاسي
کيږي. لکه څنګه چې عامو مجاهدينو د جبهه يې مقاومت پر ځای چريکـي مقاومت
پيل کړ او د علني تهاجمونو په عوض يې مخفيانه عملياتو ته توجه وکړه. مـلا صـاحب
هم د بارز فعاليت پر ځای مخفيانه فعاليت غوره وباله. تر څو وکولای شي امريکايان په
يوه اوږده او حوصله ماتوونکي جګړه کې رانښکيل کړي.

د داسې مصالحو په خاطر ځان مخفـي کـول د پيغمبرانـو او د امـت د لويـانو سـنت او
طريقه ده. لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم چې کله له مکې مکرمې څخه د هجرت
په وخت له ابوبکر صديق رضی الله عنه سره يو ځای څو شپې په غـار ثـور کـې تېـرې
کړې. څکه کفارو يې پر سر د سل اوښانو جائزه ايښې وه. مشـرکانو هغـه تـر دې حـده
تعقيب کړ چې د غار ثور خولې ته راورسيدل. ابوبکر صديق رضی الله عنه رسـول الله
صلی الله عليه وسلم ته وويل چې که دوی خپلو پښو ته وګوري نو موږ به ورمعلوم شو.
خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په الله تعالی ټينګ باور و نو يې ځواب ورکړ چې
ستا څه فکر دی د هغو دوو په هکله چې دريم يې الله تعالی دی. يعنـی اللـه تعـالی بـه

زموږ حفاظت کوي. همداسې وشول چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه ملګري ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته د همدې مخفي کیدو او احتیاطي تدبیر په سبب نجات ورکړ.

واقعیت دا دی چې د ملا صاحب ساتنه هم د الله تعالی یو ځانګړی فضل او د دې عظیم مجاهد یو ښکاره کرامت و. ځکه نوموړی په داسې سیمه کې اوسیده چې هلته امریکایانو بیا بیا پوځي عملیات ترسره کول. د نوموړي حفاظتي تدابیر هم ډیر معمولي او یوازې د هغه کور د ښښتن ابتکار و چې ملا صاحب په کې اوسیده. امریکایان څو ځله د ملا صاحب د اوسیدو تر ځایه هم راغلل. خو الله تعالی په خپل ځانګړي فضل سره هغه د امریکایانو له شر او اذیت څخه خوندي وساته.

**په خپل عقل مکلف یم**

د امریکایي یرغل لومړني کلونه د امریکایانو د ډیر پوځي فشار او استخباراتي تلاش کلونه وو. امریکایان چې د یرغل او پوځي بریا په مستۍ کې وو، د افغانستان په ټولو ښارونو، کلیو او حتی غرنیو او صحرایي سیمو کې یې ګزمو، عملیاتو او تلاشۍ جاري ساتلې وې. له بلې خوا یې د اسلامي امارت د مشرانو په خاص ډول د ملا محمد عمر مجاهد په سر هم ستر انعام ټاکلی او د پیدا کولو لپاره یې له الوتکو څخه تبلیغاتي پاڼې شیندلې. په دې کلونو کې په افغانستان کې دننه ژوند هغه هم د داسې مطلوب شخص لپاره له خطر څخه خالي نه و. خو له دې سره سره ملا صاحب په افغانستان کې هغه هم د زابل غوندې ولایت کې چې تر نورو سیمو وړاندې په کې جهادي تحرکات پیل شول او د امریکایانو توجه یې جلب کړه پاته شو او له هیواده وتلو ته یې زړه ښه نه کړ.

د ملاصاحب ملګری او استازی ملا عزیزالله اخند چې په دې کلونو کې لومړی له ملاصاحب سره یوځای اوسیده او بیا یې هم د استازي په حیث ورسره همیشه لیده کاته کول، وایي چې موږ به ملا صاحب ته ویل چې پدې سیمه کې اوسیدل ستا لپاره خطر دی. دغه راز د خلکو تر منځ به دا خبرې ګرځیدې چې له امریکایانو سره داسې سپیان شته چې د تلاشي په وخت خلک وربانديې پیدا کوي. دا کیسې به چې موږ اوریدې نو په ملاصاحب به ویریدو چې هسې نه خدای مکړه د دښمن په لاس ورشي. خو چې

کله به مو دا خبرې ملاصاحب ته کولې، ده به ویل: ماته دا خبرې مه کوئ، زه یوازې په خپل عقل او تدبیر مکلف یم، ما ته خپل عقل وایي چې همدلته په افغانستان کې ښه په امن یم او الله تعالی به مې ساتنه کوي. زه ستاسو په عقل نه یم مکلف.

د ملا صاحب توکل خورا لوړ و. هغه دا چې په ډېر سخت حالت کې یې هم پـه څیره کې وارخطایي نه معلومیده، په الله تعالی یې کامل باور درلود چې ساتنه به یې وکړي. حتی کله ناکله به یې قسم واخیست چې امریکایان او د هغوی گوډاگیان ماتـه ضرر نـه شي رسولای. د هغه توکل هغه وخت چا ته د فهم وړ نـه و، خـو وروستـه معلومـه شـوه چې هغه الله تعالی همداسې وساته لکه ده چې څرنگه په الله تعالی توکل کړی و.

## په لومړني میشت ځای کې د امریکایانو تلاشي

د اولني کور یو تن غړی حاجي عبدالاحد وایي: ملاصاحب چې زمـوږ کـره و، څلـور واره په کلي د امریکایانو چاپه او تلاشي راغله خو په هر ځل اللـه تعـالی تـرې وسـاتلو. یوه ورځ چې سهار وختي راپاڅیدو گورو چې کلـی امریکایـانو پـه سر اخیسـتی دی. زموږ په کور کې د بوټو یوه لویه کوټه وه. موږ یې منځ خالي کړی و او د اړتیا په وخت سړی منځ ته ورداخلیدلی او په کې پناه کیدلی شوای. ملا صاحب له خپلو ملگـرو سره احتیاطا همدلته پنا واخیسته. خو امریکایانو ځینـي کورونـه تـلاشي کـړل او بیرتـه لاړل. زموږ تر کوره تلاشي را ونه رسیده.

بل وار مازدیگر راغلل، موږ په کور کې نه وو، مور مې چې زموږ په نه شتون کې یـې د کور سرپرستي کوله هم له کوره وتلې او د یوه گاونډي کره وه. هغه چې د امریکایانو په راتگ خبره شوې وه په بیړه یې ځان کور ته د رسولو هڅه وکړه. امریکایان تر څه وخته شاوخوا گرځیدل په کلي کې ځای ځای او زموږ د کور مخته یې هـم ټانگـان درولي و او بیرته لاړل ملا صاحب یې په راتگ نه و خبر شوی.

بله ورځ غرمه مهال کلي ته امریکایان راغلل او په ټول کلي کې یې تلاشي پیل کړه، ملا صاحب په خپله پټه خونه کې وه، امریکایانو د کـور ټـولې خونې وکتلـې، سـپیان هـم ورسره و. هغه ځای ته هم ورغلل او تلاشي یي وکړه چې د ملاصاحب ځانگړې خونې

ته تريې د الماري له لارې دروازه پرې وه، خو دوی پوه نه شول او نه هم سپيانو ته درک معلوم شو. بيرته لاړل چې ملا صاحب ته ورغلو وارخطاء نه و او ويل يي تاسو بيغمه اوسئ، الله تعالی به مو وساتي.

بل وار د شپې آخر سپيده چاود مهال و چې ډبلډبني طيارې په کلي راشيوه شوې، زموږ د کور له څنګ سره خوړ کې هم ۳ چينوک طيارې کيناستې د کلي له برسر څخه يي کور په کور تلاشي راشروع کړه. کوم سړي چې د سهار د لمانځه لپاره له کورو وتلي وو ټول يي بهر کينول او چاته يي کور ته د تګ اجازه نه ورکوله، موږلا جماعت ته نه و وتلي چې په کور کې را ايسار شوو، دغه وخت زموږ کور ته تلاشي رانږدې وه، د تلاشي له خلکو مخکې دوه امريکايي ښځې او يوه افغانه ترجمانه زموږ د دروازې خواته راغلې، وروسته کورته رانوتې او زموږ د کور له ښځو سره يې مجلس شروع کړ، چې دلته خو به طالبان نه وي. هغوی ويل نشته طالبان، دوی مجلس ته دوام ورکړ چې وروسته د تلاشي والا راغلل، دغه ښځې ورووتلې او هغوی ته يي وويل چې دغه کور موږ وکوت، طالبان نشته او په دې ډول تلاشي زموږ له کوره واوښته.

حاجي عبدالاحد وايي چې ملا صاحب که څه هم ټول احتياط کاوه چې له دښمن څخه ځان وساتي. خو بيا يې هم په خپل استوګنځای کې وسله هميشه له ځان سره ساتله. يو کيوبايي کله کوف، يو کلاشينکوف او يوه شل ټکه ميګاروف تفنګچه له پريمانه مرميو سره هميشه د ملا صاحب تر څنګ وو، که احتمالا امريکايان د ملاصاحب په موندلو توانيدلي وای نو ملاصاحب ورته د تسليمي اراده نه درلوده.

### د مرستيالانو ټاکل او رهبري شورې تشکيل

د امريکايانو د يرغل لومړنی کال د اشغالګرو د ډېر پوځي فشار او يو اړخيز تهاجم کال و. د اسلامي امارت مجاهدينو که څه هم په دې کال د توري بوري، شاهيکوټ، د بولدک د هلمې غر او د زابل ولايت د خورو ورو جګړو په شان د اشغالګرو په وړاندې مقاومت ته دوام ورکاوه، خو دغه جهادي عمليات د اسلامي امارت د پخواني تشکيل او ترتيب له مخې روان وو او له نوي وضعيت سره سم نوي تشکيلات نه و رامنځته شوي.

د دې تأخير يو علت که يو اړخ ته د لومړي کال سختۍ، کړاوونه او اضطراري وضعيت
و بله خبره دا هم وه چې ملا عبدالجبار عمري صاحب وايي چې ملا صاحب امريکايي
يرغل ته د اسلام او کفر د يوه لوی جنګ په نظر کتل او ويل به يې چې مسلمانان ا
ټوله اسلامي نړۍ له يوه ستر ازميښت سره مخامخ ده. نوموړي تمه درلوده چې
مسلمانان به د امريکايي يرغل په وړاندې بې تفاوته پاته نه شي، د افغانستان د مجاهد
ملت ملاتړ به وکړي او له اسلامي خاورې د صليبي تسلط د پای ته رسولو لپاره به خپلې
هڅې سره شريکې کړي.

د اشغال له پيل نه د يو کال په تيريدو سره د هيواد په بيلابيلو سيمو کې جهادي مقاومت
هم د نوې ساه اخيستو په حال کې و، داسلامي امارت يو شمير لوړپوړو پوځي او
ملکي چارواکو د ځانګړيو استازو په توسط له ملاصاحب نه غوښتنه کوله چې له
موجوده وضعيت سره سم د جهاد د رهبرۍ لپاره نوې تشکيلات منظور کړي چې
بالآخره ملا صاحب د جهادي چارو د مخامخ رهبرۍ لپاره پخواني د دفاع وزير ملا
عبيد الله اخند او ملا عبدالغني برادر مشران وټاکل. څه موده وروسته يې يو صوتي
پيغام ثبت کړاو په هغه کې يې نوي وضيعت ته په کتو سره رهبري شورى تشکيل کړه
چې لومړنی تشکيل يې ۱۱کسان وو. ملا عبيدالله اخند، ملا برادر اخند، مولوي جلال
الدين حقاني، ملا محمد حسن اخند، ملا اخترمحمد منصور، ملا دادالله اخند، مولوى
اختر محمد عثماني، حافظ عبدالمجيد صاحب، ملا ګل اغا اخند، مولوي
احمدالله(مولوي ناني صاحب) او ملا عبدالرزاق نافذ.

خو د همدې کال په وروستيو کې يې د ۸ کسانو په زياتولو سره د رهبري شورى
تشکيل نور هم پراخ کړ لکه مولوي نور محمد ثاقب، مولوى عبدالکبيرصاحب، ملا
عبداللطيف منصور، قارى دين محمد حنيف، اميرخان حقاني، ملا محمد حسن
رحماني، ملا عبدالسلام کاتب او مولوي امين الله صاحب. خو وروسته ملا صاحب
وخت په وخت پرې نوي اعضاء ور زياتول تر دې چې د ملا صاحب د ژوند تر
وروستيو يې شمير ۲۵ کسانو ته ورسيد، چې په دې لړ کې ملا امير خان متقي، ملا
عبدالقيوم ذاکر، ملا عبدالرزاق آخند، شيخ الحديث مولوى عبدالرشيد شينواری، ملا

محمد رسول او ملا عبدالرؤف خادم هم د رهبري شورى اعضاء شول. د دې سره په هغه وخت کې د سياسي کميسيون د مشر طيب اغا په پيشنهاد او د ملا صاحب په منظورۍ د سياسي کميسيون درې تنه اعضاء شير محمد عباس ستانکزى، ملا عبدالسلام حنفي او مولوي نيک محمد هم په رهبري شورى کې شامل شول.

د رهبري شورى د جوړولو په تعقيب ملا صاحب د يوه بل پيغام په ليږلو سره د جهادي چارو د ښه تنظيم او مخامخ رهبرۍ لپاره نظامي کميسيون تشکيل کړ. نظامي کميسيون دوه تشکيله درلودل، چې د افغانستان ولايات يې په شرقي او غربي حوزو ويشل. په شرقي حوزه کې ۲۲ ولايات راتلل چې د نظامي کميسيون مشر يې صدر ملا محمد ابراهيم صاحب وټاکل شو او په غربي حوزه کې ۱۲ ولايات راتلل چې مشر يې شهيد قاري فيض محمد سجاد صاحب وټاکل شو.

د نظامي کميسيون له جوړولو سره يو ځاى د ملکي خدماتو د سرته رسولو لپاره لومړى اقتصادي، فرهنگي او سياسي کميسيونونه جوړ شول، چې په مربوطه برخو کې يې خپلې چارې تعقيبولې. ورپسې د قضاء او محاکمو اداره، د صحت کميسيون، د تعليم او تربيې کميسيون، اقتصادي کميسيون، د بنديانو د چارو کميسيون، د شهيدانو، معلولينو او يتيمانو د چارو کميسيون، د دعوت او ارشاد کميسيون، د مؤسساتو کميسيون، د ملکي تلفاتو د مخنيوي اداره او نورې خدماتي ادارې هم جوړې شوې او امارت يو ځل بيا د يوه بشپړ نظام په حيث بروز وکړ.

دا چې ملاصاحب په يوه مخفي ځاى کې ژوند کاوه او له مجاهدينو سره يې يوازې د دوو استازو په توسط رابطه وه، ملاصاحب د چارو د چټک ترسره کيدو لپاره رهبري شورى ته پراخ واکونه ورکړي وو.

### د ميشت ځاى بدلون

وړاندې وويل شول چې ملاصاحب د مخفي ژوند کلونه په دوو کورونو کې تېر کړل، چې په اول کور کې يې تقريبا پنځه کاله او په دوهم کور کې يې شاوخوا اوه کاله عمر تېر کړ. لکه څنگه چې په افغانستان کې دننه پاته کيدل د ملا صاحب خپله فيصله او د

ده په خبره د خپل عقل او تدبیر په مقتضا عمل و، د میشت ځای بدلون هم د نومو
همداسې یوه ناځاپي او هیښوونکې پریکړه وه.

د ملاصاحب استازی ملا عزیز الله اخند وایي چې یوه ورځ ناځاپه د هغه کور غړو چ
ملاصاحب په کې دیره و راسره رابطه وکړه چې ملاصاحب وایي همدا نن را روان شه ا
ځان راورسوه. دې خبرې زه هک پک کړم او فکر مې کاوه چې شاید کوم عاجل کا
پیښ شوی دی. سفر مې پیل کړ او د شپې ناوخته مې د ملاصاحب تر میشت ځای
ځان ورساوه.

لومړی مې د کور له مشر سره مجلس وکړ او پوښتنه مې ترې وکړه چې څه خبره پیښه
ده چې دومره عاجل یې راوغوښتم؟ هغوی ویل: موږ هم نه پوهیږو موږ ته ملا صاحب
یوازې دا ویلي چې ملا عزیزالله اخند راوغواړئ. کله چې ملاصاحب ته ورغلم، الحمد
لله جوړ او روغ ناست و، خپل لاسي بیگ او کلاشنکوف یې مخته ایښي و. لـه حالـت
نه داسې معلومیده لکه زما راتگ ته چې منتظر وي او دستي ولاړیږي، چې روغبړ مـو
سره وکړ، دستي یې وویل: درځه چې ځو د خیره. زه ور ته وایم چیري ځو د خیره؟ الله
پاک دې خیر کړي، ولې څه مشکل خو به نـه وي؟ وای هـیڅ مشـکل نشـته،په همـدې
سیوري ولسوالۍ کې د عمرزو کلي ته ځو. زه ورته وایـم اوس بیخـي ناوختـه هـم دی،
هغه خلگ چې ورځو هغه هم ناخبره دي او زه هم ښه بلد نـه یـم، تیـاره هـم ده او لاره
ډیره اوږده ده.

بیا مې ورته وویل چې زه به ورشم د دې کـور لـه غړو سره بـه دا خـبره شـریکه کـړم.
هغوی په بله کوټـه کـې ناسـت وو او چـې کلـه زه ورغلـم او هغـو تـه مـې وویـل چـې
ملاصاحب ستاسو له کوره د تگ اراده لري نو ډیر خپه شول او پوښتنه یـې وکـړه چـې
ولې خپه شوی خو به نه وي یا څه مشکل خو به نه وي؟ ما ورته وویل چې نه هیڅ خپه
نه دی بلکې اراده یې کړې ده چې د اوسیدو ځای بدل کړي. بیا کوربنو ویل چې مـوږ
به درسره لاړ شو او په لاره کې به مو ملگرتیا وکړو خو ملاصاحب وویل چې نـه تاسـو
تکلیف مه کوئ موږ دواړه ان شاءالله لاره پیدا کولای شو.

بیا موږ خپله وسله او یو بکس چې د ملاصاحب د ضرورت سامان په کې وو، هغه مو را واخستل او روان شوو، دا ۱۳۸۵ لمریزکال و، له یوې خوا تیاره او بل زه هم پوره بلد نه وم او تر هغه کلي ښه اوږد مزل و، په لاره کې د امریکایانو اډه یا قرار گاه هم وه، د حکومت ولسوالي او پوستې هم وې، موږ کوښښ کاوه چې بې لارې ولاړ شو، خو د امریکایانو د قرار گاه بتی دومره تیزې وې چې هر څه کوښښ به مو وکړ نه به ور څخه نهامیدو (پټیدو) له لاري څخه هم ډېر نه شوای اوښتلای، د نابلدتیا په خاطر چې وابه وښتو لوړې او ژوري ډېري وې، ملا صاحب مرحوم ډېر په تکلیف شو، ډېر وخت نه وو گرځیدلی، څه کم پنځه کاله ځای پر ځای پاته شوی و، نو ځکه یې مزل نه شوای کولای، بله دا چې په لاره کې په تروږمی سربیره لوړې او ژوري، خاشې او ځوځان هم ډېر وو، په دې شپه به مو ټول تقریبا پنځه ساعته مزل کړی وي. د سفر په جریان کې یو ځل ملاصاحب دومره ستړی شو چې مزل یې نه شوای کولای. خو بیا هم په ډېر تکلیف روان و، ما به ورته وویل چې په شا به مو واخلم، خو د ده زړه نه وه او خپله هځه یې کوله، خو چې یو مخ له تگ ولوېد نو بیا به ما تر یو ځایه پورې یو وار هغه اسلحې او سامان ورساوه او بیا به مې د ملاصاحب سره په تگ کي کومک کاوه. یو څه لاره همداسې لاړو، خو وروسته ملاصاحب بیرته ښه شو او په خپلو پښو راسره روان شو.

کلي ته چې ورسیدو هغه کور ته چې موږ ورتلو د هغه تر څنگ له یوه دیوال سره، ملا صاحب کیناست (دا کور د مرحوم شیرعلي اکا و او دا هغه کور و چې ملا صاحب د کندهار څخه اول وار راغی همدلته یې د زابل مشرانو مجاهدینوسره غونډه وکړه او اولې شپې یې هم دلته وکړې) ما ویل زه به یو وار کورته ورشم معلومات به وکړم چې میلمانه څوک شته او که نه؟ او د کوټې دروازه به خلاصه کړم، ځکه که مو دروازې ټکولای شاید د شاوخوا کورونو خلک هم را خبر شوي وای. د شیرعلي اکا د میلمه ځای (کوټې) دروازه د سرای د دروازې څخه جلا وه، سرای بیا د ننه د میلمه ځای سره لار درلوده، زه چې دروازې ته ورغلم د الله پاک فضل و، هم دروازه اسانه خلاصه شوه او هم په میلمه ځای کې میلمانه نه وو، بیخي ډېر خوشحاله شوم، ملا صاحب ته چې راغلم ما ور ته وویل الحمد لله هم دروازه خلاصه شوه او هم میلمانه نشته، ملا صاحب

مرحوم هم ډېر خوشحال شو، کوټې ته ورغلو، ملا صاحب په کوټه کې کیناست،
کور والا خبر کړل، کور والا ډېر وارخطا شول، چې دا څنگه په دا نیمه شپه او بې خ
راغلاست، څه مشکل خو به نه وي؟ ملا صاحب ور ته وویل خیر دی، هیڅ مش
نشته، دوی ډېر حیران وو، بیا ملا صاحب مرحوم شیرعلي ته وویل چې ور
ملاعبدالجبار عمري را خبر کړه. بیا یې هغه را خبر کړ او ملاصاحب له هغوی سره
موافقه د هغوی په کور کې واړول چې بیا یې پاته ټول عمر په همدې میشت ځای ک
تېر کړ.

**دوهم میشت ځای**

د ملاصاحب همدغه دوهم د اوسیدو ځای هم د زابل ولایت د سیوري ولسوالی
عمرزو په کلي کې دی، په دې کور کې ملا صاحب د خپل ژوند وروستي کلونه (ا
کاله او پنځه میاشتې وخت)تېر کړي، د ملاصاحب له وفات څو کاله وروسته د همد
کتاب د موادو راټولولو په مهال زه (د دې کرښو لیکوال) دغه کور ته ورغلم او د کو
غړو راته د ملاصاحب د ژوند او اوسیدو د څرنگوالي په اړه معلومات راکړل.

دا یو له خټو جوړ پخوانی کور دی، چې د سیمې د نورو غریبانه کورونو په شان ی
ټیټ دیوالونه او په ابتدائي طریقه جوړې شوې کوټې درلودې، د مهمانخانې سرای ی
زړه دروازه درلوده،د مهمانخانې د سرای دننه شمال اړخ ته یوه اوږده او نسبتا ښه جوړ
شوې کوټه وه، دا د کور عمومي میلمه ځای دی، دلته به چې د ملا صاحب استاز
راغلل ډوډۍ به یې خوړله، د همدې سرای نه د قبلې اړخ ته دروازه خلاصه ده او دنن
کوټه ده، چې د احتیاطي مخفي کیدو ځای هم په کې جوړشوی دی، ملاصاحب اول
په همدې کوټه کې واړول او دوه کاله په کې واوسید.

وروسته کوربنو د همدې کوچنې انگړ شاته یو بل سرای جوړ کړ،چې شمال دور ته ی
دوه کوټې او مخې ته یې مامته( د پالیز کرلو ځای) جوړ کړل. په دې دوو کوټو کې د
شرق خواته کوټه د ملاصاحب لپاره جوړه شوې وه، چې مخې ته یې کوچنی برنډه،
لمر ته د ناستې ځای او یو کوچنی چمن هم درلود. دې کوټې تشناب او د احتیاطي

مخفي کیدلو خاص ځای هم درلود چې د احتمالي خطر په وخت کې به ملاصاحب هغلته تلو.

زه چې دې سرای ته ورغلم نو ومې لیدل چې د کوټو مخې ته مامته باندې نهالونه ولاړ وو. د انګورو تاکان، د بادامو نارسیده ونې او د ګلانو بوټي هم وو، مخامخ د ملاصاحب د اوسیدو ځای و، یوه کوچنۍ برنډه، چې مخ ته یې د یونیم متر په طول او عرض کوچنی د چمن ځای درلود، له برنډې نه دننه خواته دروازه خلاصه ده، دا د ملا صاحب د اوسیدو ځانګړې کوټه وه، درې په درې متره کې ختینه کوټه چې سپین رنګ ورکول شوی و، په کوټه کې د قبلې اړخ ته لرګین کټ ایښی و، دا د ملاصاحب د ناستې خاص ځای و چې د ډیرې ناستې له امله یې په شاتنې دیوال د اوږو او سر نښې تر اوسه پاته وې چې ده به تکیه ورته کوله. له کټ سره نږدې ډېر کتابونه هم ایښي و چې ملاصاحب به مطالعه کول.

کوټې یو کوچنی حمام درلود او ورسره په دیوال یوه کوچنۍ الماری جوړه وه چې ژیړ رنګ ورکول شوی. همدا الماری اصلاً د ملا صاحب د نجات ظاهري ذریعه وه. دا الماری په اصل کې کړکۍ یا دروازه ده چې شاته پورې وهل شي نو خلاصیږي او د دیوال په اړخ کې په مهارت جوړ شوي پټنځای ته د ورتګ لاره ده، کله به چې تلاشي راتله نو ملا صاحب به د همدې الماری له کړکۍ څخه مخفي ځای ته اوښت او د چا شک نه راته چې دلته دې کوم بل ځای هم وي

**په دوهم میشت ځای کې امنیتي خطرات**

هغه سیمه چې ملاصاحب د خپل ژوند وروستي شاوخوا ۷ کلونه په کې تېر کړل د سیوري ولسوالۍ مرکز ته نږدې پرته ده. د امریکا خلاف جهاد کې زابل ولایت د هغو ولایتو د جملې څخه دی چې تر نورو ولایاتو وختي په کې جهادي عملیات پیل شول. شهید ملا روزي خان آخند او ځینو نورو مجاهدینو آن له ۲۰۰۲ م کال څخه د چریکي بریدونو لپاره خپل تشکیلات منظم کړي او د زابل په جنوبي ولسوالیو کې یې کله کله په حکومتي او امریکایي اهدافو باندې بریدونه کول. همدا وجه وه چې امریکایانو په دې ولایت کې د خپلو ځواکونو د اکمال او پر وخت هوایي ملاتړ لپاره د

سیوري په ولسوالۍ کې یوه لویه پوځي اډه جوړه کړه او بیا یې د زابل له مرکز کلا
څخه پوخ سرک ورته را جوړ کړ. په دې اډه کې چې د ځرخکو میدان هم په کې
امریکایانو ترې په ټول زابل کې چاپې اچولې او د ځرخکو په واسطه یې هوای
عملیات ترسره کول.

کومه سیمه چې ملا صاحب په کې اوسیده، خلکو یې له مجاهدینو سره بشپړ
همکاري درلوده او اکثره ځوانان یې عملا مجاهدین وو، تر دې چې د امریکا ض
جهادپه لړ کې د دې کلي تر شلو زیات مجاهدین د شهادت مقام ته رسیدلي دي
همدا لامل و چې امریکایانو هم دې سیمې ته د مجاهدینو د نفوذ او ځواک د سیمې په
نظر کتل او همیشه یې عملیات ورباندې ترسره کول. د دې کلي اوسیدونکي وایي چې
امریکایان په لسګونو ځله دې کلي ته راغلي دي. خو هغه کور چې ملا صاحب په کې
مخفي ژوند درلود امریکایي او داخلي عسکر یې ۹ ځله انګړ ته ورننوتي چې کله یې
پوره تلاشي کړې او کله یې یوازې د کور له خلکو پوښتنې کړې دي. په دې لړ کې دوه
ځله د ملا صاحب د اوسیدو اطاق ته هم ورغلي دي. خو ملاصاحب به په خپل
ځانګړي مخفیګاه کې و او له عسکرو سره نه دی مخامخ شوی. البته له دې ټولو امنیتي
خطراتو سره سره الله تعالی نوموړي ته نجات ورکړ او تر پایه دښمن ونه توانید چې د
نوموړي په نیولو یا وژلو وتوانیږي. په داسې حال کې چې امریکایي اشغالګرو د
نوموړي په سر میلیونونه امریکایي ډالر انعام ایښی و او د موندلو په مقصد یې همیشه له
الوتکو څخه تبلیغاتي پاڼې خپرولې تر څو یې خلک په اړه امریکایانو ته معلومات
ورکړي.

## د خاص استازو په واسطه د امارت اداره کول

ملا صاحب له همدې مخفي میشت ځای څخه د اسلامي امارت چارې د ځانګړو
استازو په واسطه رهبري کولې، دغه استازي په پیل کې دوه کسان ملا عزیزالله اخند او
ملا عبدالباري آخند و، خو وروسته د چارو د توحید او ښه تنظیم په خاطر یوازې ملا
عزیز الله آخند استازی وټاکل شو. د جهاد په لومړیو کلونو کې چې جهادي فعالیتونه
کم و نو ملاصاحب ته د استازو تګ راتګ هم لږ و، په څو میاشتو کې به یو ځل ورته

راتلل. خو وروسته چې جهادي عمليات پراخ او د اسلامي امارت تشکيلات او فعاليتونه زيات شول نو د استازي راتگ هم ډېر و. خو دا وخت هم د استازو د راتگ کومه ټاکلې نېټه نه وه، کله به په مياشت کې څو وارې تگ راتگ و او کله به تر مياشت زيات وځنډېدل.

ملا صاحب په جهادي چارو کې ډېر واکونه رهبري شورى او خپلو مرستيالانو لکه ملا عبيدالله اخند، ملا برادر آخند او وروسته ملا اختر محمد منصور صاحب ته سپارلي و، نو ځکه ډېرو چارو تر ده پورې ارتباط نه پيدا کاوه، خو بيا هم ملاصاحب د جهاد په ټولو نظامي او ملکي چارو ځان باخبره ساته او د هرې برخې په اړه يې خپل نظر او هدايات له اړونده ادارو او مسؤلينو سره شريکول. ملاصاحب ته به زياتره هغه مسائل راجع کيدل چې په رهبري شورى کې به توافق ورباندې رانغى، يا به کومه د اختلاف يا په لوړه کچه د شکايت موضوع وه او يا به هم د کورنى يا بهرنى پاليسى په اړه کوم مهم اقدام و.

د ملاصاحب استازى وايي چې نوموړي د استشهادي عملياتو په اړه د ډېر دقت او احتياط توصيه کوله، چې دا عمليات بايد په ډېرو مهمو ځايونو باندې او په ډېر دقت سره ترسره شي. دغه راز يې د امريکايانو په اړه نظر دا و چې دوى تر ډېره جنگ ته دوام نه شي ورکولاى، دوى به ډېر زر له جنگي سيمو څخه ووځي او واک به داخلي عسکرو ته وسپاري. په دې اړه يې توصيه دا وه چې د امريکايانو له شاتگ وروسته په داخلي عسکرو بايد په داسې طريقه عمليات ترسره شي چې هغوى په کې مغلوب او د مقابلې روحيه يې ختمه شي. ځکه که په داخلي عسکرو کمزوري چريکي بريدونه کيږي نو بالاخره هغوى زړور کيږي او د مقاومت روحيه پيدا کوي. دغه توصيې چې د استازو په لاس د اسلامي امارت تر مرستيالانو پورې رسيدلې هغوى په ډېر دقت سره ياداشت کولې او نظامي مسؤلينو ته يې رسولې.

دا چې د اسلامي امارت مجاهدين ټول د ديني جذبې او عقيدې په اساس جهاد ته راوتلي وو او د اطاعت روحيه په کې موجوده وه، ملاصاحب که څه هم جسما غائب و، خو په امارت يې بيا هم بشپړ کنترول درلود او دغه لوى او وسيع جهادي صف يې د

یوې ورېږ ډلګۍ په شان رهبري کاوه، هیڅکله نه ده لیدل شوي چې د اسلامي امارت کوم فرد یا ډلګۍ به د ملاصاحب له امر څخه سرغړونه کړې وي. د ملاصاحب هره فرموده وروستۍ خبره وه چې ټولو مجاهدینو به په پوره شوق او اخلاص منله او عملي کوله.

## د اشغال پر وړاندې جهادي بهیر ته لنډه کتنه

د امریکايي یرغل په وړاندې د ملا محمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې د افغان مجاهد ولس جهاد او تر کلونو کلونو د مبارزې تداوم د معاصر تاریخ له خورا نادرو او هیښوونکو وقائعو شمیرل کیږي. دا یرغل چې د ناټو د غړو په شمول د ۴۸ کفري هیوادونو پوځیانو په کې عملا برخه درلوده او د سیمې او نړۍ د ۲۱ نورو هیوادونو استخباراتي همآهنګي هم ورسره وه، په مقابل کې یې د اسلامي امارت هغه تش لاسي مجاهدین وو چې نه خو د نړۍ هیڅ هیواد په رسمیت پیژندل او نه یې هم ورسره مالي،نظامي او سیاسي ملاتړ کاوه.

د اسلامي امارت مجاهدینو په خورا سختو شرائطو کې جهاد ته دوام ورکړ، د جهادي بهیر لومړني کلونه څکه ډېر سخت وو چې له یوې خوا د افغانستان په اکثرو سیمو د امریکایانو او د هغوی د ګوډاګیانو سلطه راغلې وه او د مجاهدینو د تعقیب، نیولو او له منځه وړلو په مقصد یې پراخ استخباراتي جالونه غوړولي وو. بل اړخ ته په ګاونډیو هیوادونو پاکستان او ایران کې هم مجاهدین په امن نه وو. د پاکستان د هغه وخت پوځي دیکتاتور پرویز مشرف چې له امریکایي ولسمشر جورج بوش سره یې په یرغل کې همکاري درلوده او حتی امریکایي پوځیانو او استخباراتي کارکوونکو ته یې په خپل هیواد کې د فعالیت اجازه ورکړې وه، د اسلامي امارت مجاهدین، ملاتړ کوونکي او هر هغه څوک چې د افغان ولس د جهادي داعیې حمایت یې کاوه یا یې ورسره مرسته کوله، د پاکستاني امنیتي ادارو لخوا نیول کیدل او بیا امریکایانو او یا هم د کابل ګوډاګي رژیم ته سپارل کیدل. دغه راز په ایران او حتی عربي هیوادونو کې هم د اسلامي امارت ملاتړي تر څار لاندې او نیول کیدل. خو له دې ټولو ستونزو سره سره مجاهدینو مورال ونه بایله او په لوړ عزم یې جهادي بهیر ژوندی وساته.

د جهاد په لومړيو کلونو کې په پکتیا، زابل، کندهار او د هیواد ځینو نورو سیمو کې له یرغلګرو سره جګړې وشوې چې ورسره د مجاهدینو روحیات لوړ شول. وروسته د چریکي عملیاتو، په دښمن د ریموټ کنترول چاودنو، میزایل توغولو او هدفي بریدونو لړۍ دوام وموند چې ورسره د مجاهدینو لخوا د شب نامو د خپرولو او د امریکا ملاتړو ته د ګواښونو په شکل رواني عملیات هم روان ول. له دې سره خال خال فدایي عملیات هم پیل شول چې په ښارو دننه یې یرغلګرو پوځیانو ته درانه تلفات اړول.

د ۱۳۸۵ هـ ش کال (۲۰۰۶م) له پیل سره د جهادي عملیاتو نوعیت هم تغیر وموند، مجاهدینو له شپنیزو عملیاتو او وړو حملو څخه ورځنیو بریدونو او لویو عملیاتو ته مخه کړه، تر دې وخته چې د هیواد په بیلابیلو ساحو او غرنیو سیمو کې د جهادي تدریب مراکز، د ریموټ کنترول ماینونو او انفجاري موادو په لاس جوړولو کارځایونه او استشهادي معسکرات جوړ شوي وو، ورسره جهادي عملیاتو هم د څرنګوالي او کمیت له اړخه تغیر وموند. مجاهدین په لومړي ځل د هلمند په جنوبي ریګزارو سیمو کې د لویو تعرضي ګروپونو په ډول سره یوځای شول او د ګرمسیر ولسوالی په نیولو سره یې ګوډاګي رژیم ته ټکان ورکړ.

په همدې مرحله کې د کونړ او نورستان له غرونو بیا د فراه او هلمند تر دښتو پورې د افغانستان په ټولو سیمو کې جهادي پاځون د بیداریدو په حال کې و چې وروسته په ټولو ولایاتو کې د اشغالګرو او د هغوی د ګوډاګیانو په مراکزو، کتارونو او لوړپوړو اشخاصو د مخامخ بریدونو، چاودنو، استشهادي عملیاتو او توغندويي ګوزارونو ناتمامه سلسله پیل شوه.

له نظامي عملیاتو سره په څنګ کې د مجاهدینو صوتي، چاپي او ویډیويي نشرات هم د جهاد له لومړیو کلونو پیل شوي وو. چې وروسته د انټرنیټي فعالیت په پیل سره د امریکا په خلاف د جهاد چوپ شوی غږ په بیلابیلو ژبو د نړۍ تر ګوټ ګوټ پورې ورسید.

په دې کلونو کې د جهادي عملیاتو فوق العاده ډیربښت د کابل د رژیم پایې ولړزولې او اشغالګر په دې وویریدل چې د جګړې په ډګر کې یې آبرو رژیدونکې ده نو ځکه یې

د جهادي بریدونو د مخنیوي لپاره د خپلو پوځیانو شمیر لـه شـل زره څخـه ۳۱
پورته کړ خو کله چې دغه شمیر پوځیان هم د جګړې پـه کـابو کولـو ونـه توانیـ
پینټاګون د خپلو پوځیانو شمیر دوچند کړ تر دې چې د ۲۰۰۹ م (۱۳۸۸ لمریز)
پایه د امریکایي عسکرو شمیر ٦٧ زرو ته ورسید.[1]

د جګړې په ډګر کې د امریکایي پوځیانو ډیربښت کـه لـه یـوې خـوا د امریکـا لپ
جګړې مصارف څو برابره زیاتول، بل اړخ ته د امریکایي پـوځ ځـاني تلفـات هـ
اندازې زیات شول او مجاهدینو ته هره ورځ په امریکایي اشغالګرو د برید کولو س
الحصول اهداف په لاس ورتلل. پـه ۲۰۰۹م کـال کـې د امریکـا نـوي ولسمشـر بـ
اوباما په داسې حال کې واکمني پیل کړه چې د افغانستان ناکامه جګـړه د سـپیني م
په وړاندې تر ټولو لویه معضله ګڼل کیده. اوباما د جورج بوش په شان د ځواک کا
تجربه تکرار کړه او د نوې ستراتیژۍ په اعـلان سره یـې پـه افغانسـتان کـې د امریکـ
ځواکونو شمیر نور هم زیات کړ، تر دې چې پـه ۲۰۱۰م کـال کـې پـه افغانسـتان ک
دامریکایي عسکرو شمیر سل زره ته ورسید په داسې حال کې چې تر څنګ یـې د

---

(۱) امریکایي اشغالګرو لکه څنګه چې د پوځیانو ډیربښت او د جنګي فشار زیاتول د فشار د حربې په س
کارول، بل اړخ ته یې د اسلامي امارت د مشرانو له منځه وړل او یا نیول هم د یو مهمې ستراتیژۍ په حیث
کار لاندې ونیول. د بوش د واکمنۍ په وروستیو او د اوباما د واکمنۍ په لومړیو کلونو کې که له یوې خو
اسلامي امارت ډیر نظامي مشـران په جهادي سیمو کې په هدفمندو بریدونو او چاپو کې شهیدان شول. بل اړ
ته ګڼ شمیر د سر کسان د پاکستاني چارواکو لخوا هم ونیول شول. د بیلګې په توګه د ۲۰۰۷ میلادي ک
دجنورۍ د میاشتې په دریمه نیټه (۱۷ / ۱۰ / ۱۳۸۵ هـ ش) د ملا محمد عمر مجاهد مرستیال الحاج م
عبیدالله اخند دپاکستاني چارواکو لخوا ونیول شو او د شهادت تر نیټې په زندان کې وساتل شو. همدا راز
۲۰۱۰ م کال د فبرورۍ په میاشت کې( دلو ۱۳۸۸ هـ ش) کې د اسلامي امارت بل مرستیال ملا عبدالغني براد
په داسې حال کې ونیول شو، چې په هلمند کې امریکایي پوځیانو په مارجه ولسوالۍ د مشترک په نوم ست
عملیات پیل کړي وو. له دې پراخو عملیاتو سره هم مهاله د اسلامي امارت د مرستیال نیول د هغو څو اړخیز
فشارونو بیلګه وه چې په مجاهدینو له بیلابیلو اړخونو واردیدل. خو د حق د لارې قهرمانو مجاهدینو له دغو
ټولو فشارونو سره سره همت ونه بایلود او په ځواکمن ایمان او لوړ عزم یې د امتحاني شرائطو مقابله وکړه.

نورو اشغالگرو غربي هیوادونو مجموعا ۲۹۴۶۹ پوځیان هم وو. خو همدا کال د امریکايي اشغالگرو لپاره تر ټولو له مرګ ژوبلو ډک کال ثابت شو او په زرګونو امریکايي او نور اشغالګر پوځیان د مجاهدینو په رسا بریدونو کې مړه او ژوبل شول.

بارک اوباما د افغانستان د جګړې د ګټلو لپاره لومړی د سټینلي مک کرسټل په نوم یو مشهور جنرال استخدام کړ، خو نوموړی له لنډې مودې دندې اجراء کولو وروسته بې اغیزې ثابت شو، چې وروسته یې دسپیني ماڼۍ او پینټاګون چارواکو ته په رسنیو کې بدرد ویل شروع کړل تر دې چې له دندې معزول کړای شو، د نوموړي په ځای په عراق کې د امریکايي ځواکونو مشر جنرال ډیویډ پیټرایس وټاکل شو، پیټرایس په افغانستان کې د اربکیانو په نوم د ملیشه سازۍ پروسه پیل کړه، چې د هیواد په ډیرو سیمو کې یې د سلګونو میلیونو ډالرو په لګولو پخواني ټوپکیان او نا اهله کسان د محلي پولیسو یا اربکیانو په نوم استخدام کړل. امریکایانو هیله درلوده چې په دې طریقه به هغه ځینې سیمې په خپل کنترول کې وساتي چې له مجاهدینو یې په درنو تلفاتو نیولي، خو اربکیان چې ظالم او جنایت کاره خلک وو له ولسي نفرت او کرکې سره مخامخ شول نو ځکه څه موده وروسته دغه پروسه هم په ناکامۍ انجام شوه او اطرافي سیمې بیرته د مجاهدینو لخوا ونیول شوې.

هغه وخت چې ملا صاحب له دنیايي ژوند سره مخه ښه لا نه وه کړې، په افغانستان راغلي غربي اشغالګر په تر ټولو بد او د تیښتې په حالت کې وو. د ۲۰۱۱م کال په وروستیو کې امریکايي ولسمشراوباما اعلان وکړ چې زیات شمیرامریکايي عسکر به له افغانستانه وباسي. له دې وروسته له امریکا سره په یرغل کې ګډونوالو ډیری هیوادونو له پوځي قرارګاوو خپل بیرغونه کوز کړل او د خپلو زیات شمیر پوځیانو په ایستلو سره یې د تیښتې لار ونیوه. تر دې چې په وروستیو کې یوازې امریکا، جرمني او د ګوتو په شمیر څو نور هیوادونه د جګړې په میدان پاته شول. خو بالمقابل مجاهدین دا وخت د هر کله په پرتله د قوت او پرمختیا په حال کې وو. جهاد د افغانستان ټولو ۳۴ ولایاتو او د هیواد ټولو پرګنو ته رسیدلی او خپور شوی و. اسلامي امارت له نوي وضعیت سره په بشپړه توګه ځان عیار کړی او د مشرتابه شورئ، کمیسینونو، ولایتي ادارو او نورو

بيلابيلو کاري اورګانونو په تنظيم سره امارت يو ځل بيا په يو بشپړ نظام بدل شوی و.
کله چې امريکايانو په افغانستان يرغل کاوه، نو طالبان يې ترهګر بلل او له هغوی سره
هيڅ نوع خبرو او تفاهم ته يې آمادګي نه درلوده. مګر د ملاصاحب د ژوند په وروستي
وخت کې نه يوازې اسلامي امارت يو ځل بيا په نړۍ کې سياسي وجاهت موندلی و
بلکې امريکايانو هم د سولې او مذاکراتو ننواتې پيل کړې وې. نو په دې سره ويلای
شو چې امريکايان که څه هم د ملا صاحب په ژوند له افغانستانه ونه وتل خو ملا
صاحب يې د شکست او ذلت ننداره وکړه، ځکه د هغه په ژوند لا امريکايان دې ته
آماده شوي وو چې د تيښتې لار ونيسي نو ځکه يې د خبرو او سياسي تفاهم زارۍ پيل
کړې وې.

## په نوې جهادي مرحله کې د اسلامي امارت اداري جوړښت

وړاندې وويل شول چې د ملا محمد عمر مجاهد د فرمانونو او هداياتو له مخې د جهاد له پيله د اسلامي امارت د نوي تشکيل کار پيل شوی و او پرلپسې د انکشاف په حالت کې و. د امريکا ضد جهادي مرحله کې که د اسلامي امارت اداري جوړښت ته نظر وکړو نو اوسنی حالت يې په لاندې نقشه کې خلاصه کولای شو.




## د سياسي چارو رهبري او د قطر دفتر

د ملاصاحب په امر د سياسي چارو کميسيون د امريکا ضد جهاد له لومړيو کلونو رامينځ ته شوی و، چې وخت په وخت يې مشران تعينيدل او بدليدل، په وروستو کې ملاصاحب خپل د دفتر پخوانی کارکوونکی سيد طيب اغا د سياسي چارو د کميسيون د مشر په حيث وټاکه چې د ملاصاحب د وفات د اعلان تر وخته يې دغه کميسيون رهبري کړ.

د سياسي چارو کميسيون چې د اسلامي امارت د بهرنی تګلارې ممثل و ملاصاحب په لاندې برخو کې اختيارات ورکړي او وظائف ورته مشخص کړي وو:

۱ـ له امريکا او نورو خارجي هيوادونو، سياسي ډلو او اشخاصو سره ليدنې کتنې او مثبت روابط پالل.

۲ــ د خارجیانو، خصوصا امریکا په لاس کې د افغان بندیانو د خلاصون په اړه مذاکرات او د تبادلې یا کومې طریقې له لارې د بندیانو د خلاصون هڅه.

۳ــ د ملګرو ملتونو له سازمان او د هغه له اړوندو ادارو سره اړیکې او تفاهم.

۴ــ د افغانستان له نادولتي مخورو سیاسي څېرو او سیاسي ډلو لیدنې کتنې.

۵ــ له خارجي مؤسساتو سره لیدل او خبرې اترې.

٦ــ د افغانستان په هکله په نړیوالو کانفرانسونو کې اشتراک او د افغانستان د اسلامي امارت داعیه او موقف د نړیوالو غوږونو ته رسول.

د سیاسي چارو کمیسیون ته ملاصاحب د خارجي پالیسۍ په تمثیل او ګټورو ارتباطاتو په راژوندي کولو کې پراخ اختیارات ورکړي وو. د ملاصاحب د استازي په وینا دغه کمیسیون یوازینی کمیسیون و چې چارې یې ملا صاحب خپله او د مستقیمو هدایاتو په توسط سمبالولې. حتی ملا صاحب رهبري شورى ته هدایت کړی و چې د سیاسي چارو کمیسیون ته چې کوم هدایت کوي لومړی یې باید له ده سره شریک کړي او د ده هدایت په کې واخلي. د استازي په وینا ملاصاحب د سیاسي چارو د کمیسیون په مشر سید طیب اغا باندې ډېر اعتماد درلود او له چارو یې راضي و. نو ځکه یې ورسره د استازي په واسطه مستقیمه رابطه ساتله او مخامخ یې د سیاسي پرمختیاوو راپور او تازه حال ترې غوښت. خو ملاصاحب همیشه په سیاسي مسائلو کې د شورى په نظریاتو هم عمل کاوه او په خپلو هدایاتو کې یې ځای ورکاوه.

د سیاسي چارو د کمیسیون په توسط د ملاصاحب د سیاسي اقداماتو یو مهم ګام له امریکایانو سره د مذاکراتو د پیل او په یوه بهرني هیواد کې د سیاسي دفتر د خلاصون موضوع وه. د دې مرحلې د پیل په اړه سید طیب اغا وایي چې ملا صاحب په ۲۰۰۹م کال کې اجازه وکړه چې له امریکایانو او نورو یرغلګرو جهتونو سره دې مخامخ خبرې پیل شي. نوموړی وایي: د لومړی ځل لپاره په ۲۰۰۹م کال کې د جرمنیانو سره د سیاسي دفتر ملاقاتونه شروع سول او د هغوی غوښتنه دا وه چې باید د کابل اداري سره خبرې وسي او په دې اړه د هغوی سره یو څو ملاقاتونه تر سره سول، بالاخره موږ

هغوی ته د کابل اداري پـه ځای د امریکـا سره پـه خـبرو موافقـه وکـړه او دا موافقـه د ملامحمد عمر مجاهد د منظوري په اساس وسوه او د قطر اسلامي هیواد وټاکـل سـو چې بالآخره د امریکا سره اولنی ملاقات په ۲۰۱۰ کی تر سره سـو. پـه هغـه وخـت کـې موږ د خبرو پروسه په ۲ برخو ویشـلې وه اول د اعـتماد سـازي مرحلـه وه ځکـه چـې د اعتماد عدم وجود د ډېر لیري والي عامل و.

د اعتماد سازي په مرحله کې درې شیان شامل و

۱- د گوانتانامو د بندیانو تبادله چی بیا وروسته ترسره سوه.

۲- تور لست، چې موږ د تورلست د یو ځایي ختمولو غوښتونکي وو او مقابل طرف په تدریجي ډول دا کار تر سره کول غوښتل خو دا کار هم که چیری خبرو دوام پیدا کړی وای حل ته رسیدونکی و.

۳- د سیاسي دفتر خلاصول.

او دوهمه د مذاکراتو مرحله وه چی په هغه کې د خارجي عسکرو د وتلو په شمول به په یو شمیر نورو موضوعاتو مذاکرات کیږي.

د ملا صاحب استازی ملا عزیزالله اخند وایي چې د سیاسي دفتر د پرانیستې او د هغه د ځای د انتخاب لپاره ملا صاحب لاندې شـرائط ایښي وو.

الف: سیاسي دفتر دې په یوه اسلامي هیواد کې پرانیستل شي داسې اسلامي هیواد چې زموږ گاونډی نه وي.

با: داسې هیواد چې په افغانستان کې عسکر ونه لري.

جیم: داسې هیواد چې پخوا یې له اسلامي امارت سره دښمنانه چلند نه وي کړی.

دهمدې شـرائطو په تناظر کې په قطر هیواد کې د اسلامي امارت سیاسي دفتر پرانیستل شو، په قطر کې د طالبانو بروز ځکه ډېر د اهمیت وړ و چې پـه افغانسـتان د امریکـایي یرغل نه وروسته له یوې لسیزې زیاته موده اسلامي امارت د سیاسي اړیکو په برخه کې کاملا مخفیانه فعالیت درلـود، خـو پـه قطـر کـې د دفـتر لـه پرانیسـتې وروسـته طالبـان

وتوانیدل چې یو ځل بیا د سیال سیاسي جهت په حیث خپل شتون ثابت کړي. په دې ډول په نړیوالو کانفرانسونو کې د سیاسي دفتر د غړو ګډون، هلته د اسلامي امارت د داعیې او موقف تشریحول او له بیلابیلو حکومتونو او ډلو سره د مثبت تفاهم په اراده لیدنې کتنې پیل شوې.

د قطر د دفتر فعال کردار د اسلامي امارت په اړه هغه تصویر د نړۍ د ډیرو هیوادونو او ملتونو له اذهانو پاک کړ چې امریکایي تبلیغاتو رامنځته کړی و، هغه دا چې اسلامي امارت یې یوه باغي او په اصطلاح ترهګره ډله بلله. د طالبانو سیاسي بروز نړۍ ته ثابته کړه چې اسلامي امارت د افغان مسلمان ملت د خپلواکۍ غوښتنې د داعیې ممثل دی او یوه پرځای او موجهه تګلاره او پالیسي لري. د سیاسي دفتر بله ستره کارنامه د ګوانتانامو له زندان څخه د اسلامي امارت د پنځو تنو مشرانو مجاهدینو لکه حاجي ملا محمد فاضل مظلوم، ملا نور الله نوري، ملا خیر الله خیرخواه، ملا عبدالحق وثیق او مولوي محمد نبي عمري راخلاصون و چې د یوه امریکایي عسکر برګډال په وړاندې تبادله کې راخوشي کړای شول.

## د مخفي ژوند په مرحله کې د ملا صاحب ورځنۍ مصروفیت

ملا عبدالجبار عمري چې د ملاصاحب د وروستي شاوخوا ۱۳ کلن مخفي ژوند په مرحله کې ډیره موده له ملاصاحب سره یو ځای پاته شوی او د هغه خدمت یې کړی وایي: ملاصاحب به چې سهار لمونځ اداء کړ، نو د خپل پخواني معمول سره سم یې سهار د خفیه اذکارو وظیفه کوله، وروسته به یې سهارنۍ ناشته وکړه، په سهارنۍ ناشته یې له خواږه شین چای سره ډوډۍ خوړله، خو د ملاصاحب خوراک بیخي کم و. چای یې په ورځ کې یوازې سهار او ماسپښین خوړ.

له سهار تر غرمې او د ورځې په نورو برخو کې مصروفیت یې زیاتره وخت تلاوت، مطالعه، ذکر او فکر و. د مطالعې لپاره د تفسیر جلالین، معارف القرآن او تفسیر کابلي په شمول بیلابیل تفاسیر، د بخاري شریف اومشکوة المصابیح په شمول د احادیثو کتابونه او د هدایې په شمول د فقهې ځینې کتابونه ورسره وو، له دې علاوه یې نور هم

بیلابیل کتابونه لکه حیات الصحابه او داسې نور کتل. خو ډېره مشغولا یې
تلاوت او د قران کریم د تفاسیرو مطالعه وه. د ورځې په جریان کې یې
اوریده او د نړۍ او افغانستان له حالاتو یې همیشه ځان باخبره ساته.

عمري صاحب وايي: په دې اوږده موده کې ماته معلومه شوه چې د ملا
امتيازي عادت دا و چې خوراک، خبرې او خوب يې خورا کم و. هيڅ
امتيازي خوراک غوښتنه او هيله نه کوله، څه چې عموما د افغانستان په غري
کې خوړل کيږي هماغه يې خوراک و. خوراک يې دومره لږ و چې زما نه ي
تر نيمي ډوډۍ زيات خوراک يې کړی و. خبرې يې هم ډېرې نه کول
ضروري مجلس په مهال به يې خبرې خورا لنډې وې او يوازې مهمه او د ک
کوله. د مجلس په مهال به يې ډېر وخت غوږ نيو، اول به يې په خبره ښه ځان
او بيا به يې خپل نظر وايه.

د ملاصاحب خوب داسې و چې سړي يې د وينښې له حالت څخه ډېر فرق
کولای. چې د هر رنګه خوب په حالت کې به غږ پرې وشو، داسې ځواب به
لکه وينښ چې وي، خوب يې له لويه سره کم و.

ملاصاحب چې له کندهاره راتلو نو له ځان سره يې يوازې دوه جوړه جامې را
وې، چې يوه يې اغوستې او بله اضافي ورسره وه، يو اندازه شخصي پيسې ه
وې چې صدقة الفطر او ځيني شخصي مصارف يې له هماغو شخصي پيس
کول. له کندهاره چې راته نو ملګرو يې د ده په ناخبرې کې په بکس کې يو
پيسې ورته ايښې وې چې د مخفي ژوند په موده کې د ده او د څو تنه ملګر
مصارف له همدې پيسو کيدل.

ملاصاحب د مخفي ژوند په مرحله کې هم د پخوا په شان اوږده کالي اغوس
پاج لويه لنګوټه يې تړله، کالي به اکثرا د کورنۍ لخوا ورته راليږل کيدل.



ړي. په دې
ي امارت د
هم په اراده

يوادونو او
ي اسلامي
ی ته ثابته
ممثل دی
کارنامه د
حاجي ملا
ق وثيق او
په وړاندې

ژوند په
ې کړی
سم يې
ی ناشته
م و. چاي

تلاوت،
ر کابلي
احاديثو
نور هم

**د کورنۍ سرپرستي يې**

وړاندې يادونه وشوه چې د امريکايي يرغل په لومړۍ شپه ملا صاحب له خپلې کور
څخه بېل شو او بيا يې د وفات تر نيټې له خپل اهل و عيال سره ونه ليدل. په دې مر
کې د ملا صاحب د کورنۍ سرپرستي د ملا عبدالمنان عمري لخوا کيدله. م
عبدالمنان آخند د ملا صاحب د مورنيو ورونړو له جملې يوازينی پاتـه ژونـدی ور
دی. چې دوه نور ورونړه يې تر دې پخوا د اسلامي امارت د حاکميت په مهال شـهيد
شوي وو.

ملا عبدالمنان آخند آن د اسلامي تحريک د پيل له وخته د ملا صاحب د کور چار
سرته رسولې، د تحريک له پيل سره د ملا صاحب وظيفـوي ضرورتونـه ډېر شـول. پ
لومړيو کلونو کې به په اونۍ کې يوازې يو ځل کور ته راتلو. دا چې ټول وخـت بـه پ
امارتي کارونو مصروف و نو ځکـه يـې د کـور چارې او ضرورتونـه سرتـه رسـول مـ
عبدالمنان آخند ته سپارلي وو. د امريکا له يرغل وروسته چـې ملاصـاحب لـه خپلـ
کورنۍ څخه بيل شو د ملا عبدالمنان عمري مسؤليت نور هم زيات شو. خـو نومـوړ
په دې مرحله کې له ټولو خطراتو او ستونزو سره سره په پوره همـت او اخـلاص د امي
المؤمنين د کورنۍ کفالت وکړ. د ملا صاحب زامنـو دينـي زده کـړې وکـړې او لـه د
سختې مرحلې په کاميابۍ راووتل.

ملا عبدالمنان آخند وايي په دې مرحله کې ملا صاحب يـوازې يـو ځـل هغـه هـم لـ
کندهاره د وتلو نه شاوخوا دوه مياشتې وروسته په سټلايټ ټيلفون لـه مـا او مشـر زو
مولوي محمد يعقوب صاحب سره خبرې وکړې او د کورنۍ حال يې وپوښت. له هغـ
وروسته يې بيا له خپلې کـورنۍ سره ټيلفـوني رابطـه نـه ده شـوې او نـه يـې هـم ورسر
مخامخ ليدلي دي. البته د قاصدانو په واسطه يې هميشه خپـل هـدايات لـه کـورنۍ سر
شـريکول او له حال يې ځان خبر ساته.

د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد مشـر زوی مولوي محمد يعقوب صاحب وايـ
چې ملا صاحب وخت په وخت زموږ د کورنيو مسائلو په اړه موږ ته هدايات را اسـتول

او مور به د کورنیو مسائلو اړوند مهمې او غټې پیښې څه بلکې په کوچنیو او عادي کارونو کې له ده څخه مشوره غوښته او هدایات به مو ځینې اخیستل.

په زابل کې د اوسیدو په وخت د ملا صاحب وروستی میشت ځای تر پخوانیو ځایونو پراخ و او د دې وړ و چې لـه ملاصاحب سره یـې کـورنۍ او اولادونـه واوسي. مـلا عبدالجبار عمري صاحب وایي چې ملاصاحب ته مو څو ځله پیشنهاد وکړ چې اهـل و عیال به یې دلته راولو. خو د ده ځواب دا و چې اول خو امنیتي شـرائط نـه دي مسـاعد او بل په دې وخت کې الله تعالی ماته ګوښه نشیني او یوازیوالی محبوب کړی دی. په دې تنهایي کې مې چې د عبادت کوم خوند او روحاني کیفیات لیدلي دي له لاسه یې نه شم ورکولای.

## ځینې عجیب خصوصیات

عمري صاحب وایي د ملاصاحب د ژوند په دې وروستۍ دیارلس کلنه مرحله کې یـې د نوموړي ځیني داسې خصوصیات لیدلي دي چې کـه یـې بیـان کـړي کیـدای شي د ډیرو خلکو زړه ته به ونه لویږي. له دې جملې د ملاصاحب یوعجیب حالـت د هغـه د تفکر او مراقبې حالت و، ملاصاحب به د ورځې او شپې ډېر وخت د مراقبې په حالت ناست و او په ذکر او فکر به مشغول و.

ملا صاحب عادتا چاته غوسه نه کوله، خو یوه ورځ چې د ماښام آذانونه شوي وو، زه د ملاصاحب اطاق ته ورغلم، ملا صاحب د مراقبې په حالـت کې و، مـا فکـر وکـړ چې ویده دی نو مې غږ ورباندې وکړ، چې د لمانځه وخت دی. خـو ملاصـاحب چې سر راپورته کړ، سخته غوسه یې راته وکړه. وروسته یې بیا راته وویل چې خدای دي وکړي زما په غوسه به خپه شوی نه یې. زه ویده نه یم. خو دغه د ذکر او فکـر پـه وخـت کې کله ناکله په ما باندې یو حالت راځي چې په هغه کې دومره لذت وي چې هغه لذت ما په هیڅ دنیوي نعمت کې نه دی لیدلی. هغه وخـت زه پـه هغـه حالـت کې وم چې تـا راباندې غږ وکړ نو ځکه غوسه راغله.

عمري صاحب وايي چې نړيوال مطبوعات او د اسلامي امارت اکثره مخالفين دا تبليغ کوي چې ملاصاحب يو توند فکره او افراطي شخص و، اما لـه هغـه سره پـه دې اوږده ملگرتيا او نږدې اوسيدلو کې ماته معلومه شوه چې ملاصاحب د معتدل مزاج خاوند و، د هغه هر څه پـه اعتـدال و، لـه عـام ژونـد او چلنـد را ونيسـه بيـا تـر عبـاداتو پـورې. د ملاصاحب هغه صفات چې زه ترې متأثر شوم د ده صبر و.

په ديارلس کاله تنهايي کې کله هم ما په ده کې بې صبري نـه ده ليـدلې او نـه يـې هـم شکايت کاوه، د خپلو اولادونو او مورکۍ يادونه يې کله کوله، خو د خپل يوازيتوب په اړه يې تأسف نه کاوه، حتی په مرض يې دومره صبر درلود چې اکثره وخت بـه مـريض و خو د ده له حالته به داسې نه معلوميده چې مريض دی او نـه بـه يـې شـکايت کـاوه، مرضونه يې زغمل او سخت ترين صبر يې کاوه.

لکه وړاندې چې وويل شول د ډيرو خبرو عادت يې نه درلود. که به يې ناجـائزه خبـره واوريده او يا به هم د کوم چا له ظلم او ناجائز کار څخه خبر شو. نو د نامناسبو خبرو او غيبت په ځای به يې نصيحت کاوه، د نصيحت په وخت به يې اکثرا غږ په زوره کيده او له( خدايه وويريږئ) جمله به يې ډيره تکراروله. ملاصاحب د آسايش او راحت مـزاج نه درلود، ساده زندگي خوند ورکاوه او له چا يې د خدمت او يا کوم خاص امتياز توقع نه کوله. رحم يې ډېر زيات درلود او اکثره وخت به يې مجاهدينو ته توصيه دا وه چې په جهادي عملياتو کې ډېر زيات احتياط وکړي تر څو بې گناه خلگـو تـه زيـان ونـه رسيږي. د ملکي خلکو د مرگ ژوبلو څخه په خبريدو به ډېر خپه کيده.

د نادرو خاطرو له جملې يې يوه دا ده، چې يو وخت په هغه سيمه کې چې ملاصاحب اوسيده واوره وشوه. واورې ځينې مارغان لاندې کړي و او يخزنې شوي وو چې الوت يې نه شوای کولای او ماشومانو ژوندي نيول. د همدې کور يوه ماشوم هم يو يخ وهلی مارغه ژوندی نيولی و او ملاصاحب ته يې ورووړ، ملاصاحب ماشوم د مارغه په ورکړه رضا کړ، بيا يې يخ وهلی مارغه بخارۍ ته تود کړ، کله يې چې وزرونه خلاص شول، په خپله يې له کوټې راويوست او پرې يې ښود چې والوځي.

## په دې مرحله کې د ملاصاحب صحي حالت

عمري صاحب وايي دمخفي ژوند په وروستيوکي د ملا صاحب بدن په تدريج سره په کمزوري کيدو و او وزن يې کمېده. د وزن بايلل، بدن کمزوري کيدل، د رنګ سپينيدل او د سينې له درده شکايت يې د دې علائم و چې د نري رنځ (سيل) ناروغي يې درلوده خو موږ نه ورسره پوهيدو چې پر خپل وخت مو د علاج هڅه کړې واى. له دې علاوه يې عموما صحت ښه و، کله ناکله به موسمي امراض لکه زکام وغيره ورته پيښيدل خو د دوا له خوړلو پرته به ښه شو. عادت يې دا جوړ و چې د مرض په وخت يې صبر او مقاومت کاوه. له مرضه شکايت يې بيخي نه کاوه، که به يې ملګري ورباندې پوه شول او د دوا به يې ورته وويل نو هم به يې ويل چې دا عادي مرض دى په خپله ښه کيږي.کله به يې غاښونو هم درد کاوه، که څه هم کله ورته بدني امراض پيښيدل خو په روحي لحاظ يو مخ ښه وه، ستونزې او يوازيتوب يې په لوړ عزم تحمل کاوه او کومه داسې نښه په کې نه معلوميده چې د ده په رواني ناروغۍ دلالت وکړي.

## وروستى مرض او وفات

د ملا صاحب کوربه حکايت کوي چې له وفات نه درې شپې وړاندې مې يوه شپه د ماخستن ډوډۍ وروړه او بيرته ترې لاړم. کله چې څه شيبه وروسته بيا ورغلم، ګورم چې ديوال ته يې اړخ لګولى دى. ما ورباندې غږ وکړ، خو ملاصاحب غږ ونکړ. چې ومې کوت، نو پوه شوم چې بې هوښي ورباندې راغلې ده. بيا مې په اړخ څملاوه.

د دې لپاره چې د دې موضوع په اړه مو سمه حل لاره موندلې وي، په همدې شپه مې په کلي کې يو همراز ګاونډى خبر کړ او د ملا صاحب د مرض د سختيدو مې ورته وويل. له هغه سره مو مشوره په دې شوه چې له دې ځانګړي ميشت ځاى څخه يې نږدې بل کور ته انتقال کړو. همدا د ۱۳۹۲ هجري شمسي کال د ثور دريمه شپه وه، چې فضا سخته باراني وه او ټوله شپه د افغانستان په جنوبي ولاياتو سخت باران او ږلۍ اوريدله. په همدې شپه د کندهار په هوايي ډګر د ډيرې غټې ږلۍ د اوريدو له امله د ناټو او امريکايي ځواکونو شاوخوا ۵۰ هليکوفتر په سطحي ډول زيانمن او له پرواز

ولویدل چې خبر یې په رسنیو کې هم راغی. ملا صاحب د ده د دریو تنو ملګرو لخوا په همدې شپه له خپل میشت ځای څخه یوه بل کور ته انتقال شو.

په سبا چې د ثور د میاشتې دریمه ورځ وه، ملا صاحب سهار مهال یو څه ښه شو، چای یې هم نوش کړ او څه خبرې یې هم وکړې، خو وروسته بیا ورباندې بې هوشي راغله. کورښو او راټولو شویو ملګرو فیصله وکړه چې د اسلامي امارت نور مشران خبر کړي، په همدې ورځ دمشرانو د خبرولو لپاره استازی ولیږل شو. ملا صاحب په همدې ورځ او را روانه شپه کې کله پر هوښ او کله هم بې هوښي ورباندې راتله، ورسره یې د سینې درد او شکایت هم زیات شوی و.

په سبا ورځ د سیمې یو ډاکټر ورته راوستل شو، هغه چې معاینه کړ، نو ویې ویل چې حالت یې وخیم دی او که شفاخانې ته انتقال نه شي نو ژوند یې له خطر سره مخ کیدلی شي. فیصله په دې وشوه چې مازدیګر به یې د یوه عام افغان ناروغ په حیث په مخفي ډول د کلات او یا کومې بلې شفاخانې ته وړو او بستر کوو. خو ماسپښین ناوخته ملا صاحب خپل روح ملک الموت ته وسپاره او د فاني ژوند له دیاره یې کډه وکړه. انا لله و انا الیه راجعون

په مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد باندې په را روانه شپه د شپې ۳ بجې شاوخوا د خپلو ورسره ملګرو او کورښو لخوا د جنازې لمونځ اداء شو او بیا یې په مخفي توګه جسد خاورو ته وسپارل شو.

**د امارت مسؤلین او کورنی یې څنګه خبره شوه؟**

د ملا صاحب استازی ملا عزیز الله اخند وایي چې د ملا صاحب له وفات څلور ورځې وړاندې زه ورغلی وم او ملاقات مې ورسره وکړ. له ملا صاحب سره مې د شپې تر یوې بجې مجلس وکړ، خو له خیرې او حالت څخه یې داسې معلومیده چې ناروغ دی. کله چې رسمي کارونه خلاص شول، ما د صحت پوښتنه ترې وکړه. ده وویل یو څه مریض یم. ما ورته وویل تبه دې وي او که بل تکلیف دی؟ ویل یې ټول بدن مې

درد لري. پخوا به ملا صاحب دوا نه غوښتله خو دا وار چې ما ورته وویل دوا به درته راوړم راسره ویې منله. په سبا سهار زه ترې راغلم.

یوه شپه وروسته د ملا صاحب تکلیف زیات شوی و. کورښو یو څه دوا ورکړې وه خو ګټه یې ورته نه وه کړې، نو یې یو ملګری ماته راولیږه او حال یې راوړ چې د ملاصاحب تکلیف زیات شوی دی، حتی خبرې نه شي کولای. موږ دلته له یو ډاکټر سره ولیدل د ملا صاحب د ناروغۍ علامې مو ورته بیان کړې، ډاکټر وویل چې دا علامې د تي بي (سیل) ناروغۍ دي. بیا هغه ډاکټر ضروري دواګانې راکړې، دا مې هغه ملګري ته ورکړل چې دا عاجل ورسوه او که ممکنه وه ډاکټر ته یې ورسوئ تر څو یې مرض مشخص شي او علاج یې وشي.

په همدې ورځ ما د ملا عبدالسلام آخند سره خبره شریکه کړه او د ملا صاحب د ناروغۍ حال مې ورته ووایه. بیا موږ په ګډه د اسلامي امارت د هغه وخت له مرستیال ملا اختر محمد منصور صاحب سره ولیدل او ټول حال مو ورسره شریک کړ. په ګډه مو موافقه وکړه چې د ملا صاحب د کورنۍ غړي په خاص ډول تره یې مولوي محمد جمعه صاحب او ورور یې ملا عبدالمنان عمري به هم له موضوع خبر کړو تر څو په ګډه یې د تداوۍ یو مناسب تصمیم ونیسو.

د ملا صاحب ورور ملا عبدالمنان عمري وایي په همدې شپه چې استازي ملا عزیز الله آخند له منصور صاحب سره لیدلي وو، ماته یې هم حال راکړ بیا ما او زموږ اکا مولوي محمدجمعه صاحب د ملا عبدالغفار[1] آخند په کور کې سره ولیدل. هغوی د ملا صاحب د ناروغۍ خبره وکړه. مشوره په دې وشوه چې ضروري دواګانې او طبي سامان الات به سبا راسره واخلو او سیمې ته به ورشو تر څو یې د علاج یا انتقال کوم ترتیب برابر کړو. سبا سهار استازی وختي روان شو او موږ یو ځل بیا له منصور صاحب

---

(۱) ملا عبدالغفار آخند د ملا صاحب د تره (اکا) زوی دی چې مولوي محمد جمعه صاحب هم د ده په کور کې اوسیده.

سره ولیدل او بیا موږ هم پسې روان شوو. استازي ملا عزیز الله آخند ته د ملا صاحب پخوانی کوربه حاجي عبدالاحد په مخه ورغلی و چې زموږ په خوا را روان و. حاجي عبدالاحد ورته ویلي و چې ملا صاحب وفات شو. نو ځکه دوی دواړه له نیمې لارې راګرځیدلي وو.

په همدې ورځ موږ ( ملا عبدالمنان آخند، ملا عبدالسلام آخند او مولوي عبدالرحمن صاحب) هم چې د ملاصاحب د اوسیدو سیمې ته پر لاره وو، په نیمه لار کې مو له استازي ملا عزیز الله اخند او حاجي عبدالاحد سره پیدا کړل. هغوی د ملا صاحب د وفات خبر راکړ چې زموږ لپاره خورا دروند غم و. ځکه له نورو ارمانونو سربیره زموږ د کورنۍ دا ځانګړی ارمان پوره نه شو چې ټولو تمنا درلوده تر څو که یوه ورځ ټول یو وار بیا په یو ټغر سره را ټول او سره ووینو. همدلته مو مشوره وکړه چې د ملا صاحب مشر زوی مولوي محمد یعقوب صاحب هم راوغواړو.

مولوي محمد یعقوب صاحب وایي د جمعې شپه وه چې ناوخته ملا عبدالمنان آخند په ټیلفون حال راکړ چې موږ درته انتظار یو سبا وختي ځان راورسوه. سهار وختي له لمانځه وروسته روان شوم او له درې ساعته مزل وروسته ور ورسیدم. هلته دوی په موټر کې راغلل چې ملا عبدالمنان آخند، ملا عبدالسلام آخند، ملا عزیز الله آخند، مولوي عبدالرحمن صاحب او حاجي عبدالاحد صاحب وو، زه هم په موټر کې ورسره سپور شم. په همدې حال کې ملا عبدالسلام کاتب صاحب را ته وویل چې ملا صاحب یو څه ناروغ شوی و نو ځکه مو ته هم راوغوښتې چې د علاج یوه طریقه یې برابره کړو. خو وروسته یې په خبرو کې وویل چې الله تعالی دې رحم ورباندې وکړي او وفات کیدلو ته یې اشاره وکړه. د دې خبرې په اوریدو زه پوه شوم چې وفات شوی دی. نو ډېر زیات غمجن شوم. خو دوی مسلسل تسلي راکوله چې د الله تعالی فیصله وه او ته صبر کوه. له لږ مزله وروسته په یوه دښتي سیمه کې له موټر ښکته شوو او همدلته مو مشورتي مجلس وکړ.

فیصله مو وکړه چې زه او ملا عبدالمنان آخند به د زابل سیوري ولسوالی ته لاړ شو تر څو د ملا صاحب جسد مبارک په خپلو سترګو ووینو او د وفات ټول تفصیل یې مؤثق کړو. په همدې ورځ د سیوري په خوا روان شوو او مازدیګر ورسیدو. لومړی د ملا صاحب هغه د اوسیدو ځای ته ورغلو چې ده په کې د عمر وروستي څو کلونه تیر کړي وو. په دې ورځ په سیمه د امریکایانو ډیرې طیارې ګرځیدې او داسې خطره و چې کیدای شي چاپه واچوي. نو ځکه کوربنو مشوره راکړه چې سبا سهار به د ملا صاحب قبر ته ورشو.

سبا سهار د ملا صاحب قبر ته ورغلو، د هغه جسدمبارک مو په خپلو سترګو ولید، د هغه د جسد په لیدو سره یو داسې کیفیت رابانديې راغی چې ټول غم مې سپک شو. د لیدلو ارمان مې وروسته له ډیرو کلونو پوره شو، داسې مې احساسوله لکه په ژوند مې چې ورسره لیدلي وي او زړه ته مې یو عجیب اطمینان او سکون حاصل شو. د ملا صاحب د جسد مبارک له لیدلو وروسته بیرته روان شوو او مازدیګر له ملا عبدالسلام آخند او نورو ملګرو سره بیا یو ځای شوو.

دلته مو یو وار بیا مجلس وکړ، ملا عبدالسلام کاتب صاحب وویل: زه نور کار نه درلرم که دا خبره پټوئ که یی نه پټوئ خو دا یوه خبره درته کوم چې دا امارت یوه دیني وجیبه ده، باید پر شریعت برابر روان شي. دلته نورمجلس نه دی شوی.

له څو ورځو تیریدو وروسته مو د اسلامي امارت مرستیال ملا اختر محمد منصور صاحب خبر کړ، دغه راز د امارت څو نور مشران او مشائخ لکه شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده صاحب، شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب او شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم صاحب مو هم خبر کړل. چې وروسته د منصور صاحب لخوا د امارت څو نور مشران لکه مولوي نور محمد ثاقب صاحب، ملا عبدالقیوم ذاکر صاحب، امیر خان حقاني صاحب او څو نور مشران هم خبر شوي وو او دوی په ګډه یوه مجلس جوړ کړی و. چې په هغه مجلس کې له منصور صاحب سره د امارت د مشر په حیث بیعت شوی و او په عین حال کې یې دا فیصله هم کړې وه چې د ملا صاحب د وفات خبره باید تر یو وخته پټه وساتل شي. ځکه په همدې وختونو کې

امریکایان د شکست په حال کې و او د خپلو عسکرو د ایستلو لړی یې پیل کړې وه. دوی ویل چې که په دې حساس وخت کې د ملا صاحب وفات اعلان شي دا به جهادي وضعیت بد اثر وکړي، امریکایان به زړور شي او د خپلو عسکرو د خروج لړ به متوقفه کړي.

****

# اتم فصل

## تأثرات او خاطرې

د عاليقدراميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله د وفات د اعلان په اړه د اسلامي امارت د رهبري شورى او د مرحوم د کورنۍ اعلاميه

بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمد لله؛ نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله؛ فلا مضل له، ومن يضلل؛ فلا هادي له. ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، ونشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم تسليماً كثيرا.

أما بعد. فقد قال الله تبارک و تعالى:

﴿وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلاَّ بِإِذْنِ الله كِتَابًا مُّؤَجَّلاً وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ الآخِرَةِ نُؤْتِهِ مِنْهَا وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ١٤٥ وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا اسْتَكَانُواْ وَاللهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ١٤٦ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلاَّ أَن قَالُواْ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾ [آل عمران/۱۴۷]

ترجمه: او هيڅ يو کس لره دا واک نشته چې مړ شي مگر دالله تعالى په حکم سره په ليکل شوې ټاکلي نيټه به مري، او څوک چې د دنيا اجر غواړي نو له همدې يې برخه ورکوو او څوک چې د اخرت اجر او ثواب غواړي نو له هماغه يعني اخرته يې ورکوو، او زر به شاکرينو ته ښه بدله ورکړو. او ډېر داسې نبيان دي چې په خوا کې يې ډېر خدای پالونکي جنگيدلي دي خو د الله په لاره کې د ور رسيدلو مصيبتونو له امله نه سست شول، نه کمزوري شول او نه يې سرټيټی وکړ او الله همداسې صابرين خوښوي.او د دوی له دې پرته بله خبره نه وه چې ويل به يې: اې زموږ ربه گناهونه مو راوبخښه او په خپلو چارو کې زموږ تيرې راوبخښه او پښې مو ټينگې کړه او پر کافرانو نصرت او بريا راکړه.

مرګ حق دی مونږ پردې ایمان لرو چې له الله تعالی پرته هر موجود د مرګ سره مخ کیږي، حتی دالله تعالی تر ټولو محبوب مخلوق د دووجهانونو سردار حضرت رسول اکرم محمد صلی الله علیه وسلم هم د مرګ څکه کړې او له دنیا څخه یي رحلت کړی دی.

همدې حقیقت ته په پام سره د افغانستان د اسلامي امارت مشرتابه او د ملامحمد عمر مجاهد کورنۍ اعلانوي چې داسلامي امارت مؤسس او زعیم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د ورپیښې شوې ناروغۍ له امله خپل روح ملک الارواح ته وسپاره او له دې فاني جهان څخه یي د ابدي نړۍ په خوا سفر وکړ. اناالله واناالیه راجعون. ورحمه الله تعالی رحمة واسعة

ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله علیه د اسلامي امت یو ویاړلی او مخلص رهبر و، چې په ډیرو سختو شرائطو کې یي د اسلامي حاکمیت لویدلی بیرغ راپورته کړ، د اسلامي امارت تر نامه لاندې یي یو بشپړ منظم او د اسلامي سیاست په اصولو برابر شرعي نظام تأسیس کړ، الله تعالی د ده په توسط نه یوازې د افغانستان په سطحه مؤمنانو ته د اسلامي نظام نعمت ورولید، بلکې درست جهان ته یي د واقعي اسلامي حاکمیت نمونه وړاندې کړه.

دا څو کرښې شاید د نوموړي د ویاړمنو کارنامو د احتوا تاب ونلري، نوځکه اصلي خبرې ته څو او هغه دا چې عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله نور له دې دنیا رحلت کړی، په دې شرائطو کې زمونږ دنده دا ده چې له نوموړي راپاتې امانت اسلامي امارت هماغسې وپالو لکه ده مرحوم چې پاللی و، هماغسې اسلامي شریعت ته التزام وکړو، هماغسې مخلص او په الله تعالی متوکل واوسو، هماغسې قربانۍ ته حاضر او د حق په لاره کې مؤمن، متعهد، متوکل، صابر، ثابت او له الله تعالی څخه ویریدونکي واوسو تر څو الله تعالی همداسې د دې ستر بار د پورته کولو او تر منزله رسولو توفیق راکړي، او همداسې مو د دنیا او اخرت په سرلوړۍ او بریا ونازوي.

مرحوم ملامحمدعمر مجاهد چې د امریکا په مشرۍ د نړیوال کفري یرغل له تړول فشار او تعقیب سره سره په هیواد کې اوسېده اوپه تیرو څوارلسو کلونو کې حتی د یوې ورځې لپاره هم له افغانستان څخه بهر پاکستان یا کوم بل هیواد ته نه دی تللی او له خپل میشت ځای څخه یي د اسلامي امارت چارې رهبري کولې چې د نوموړي په دي ستر استقامت او له هیواده په نه وتلو کره شواهد او دلایل موجود دي، څه موده وړاندې د ورپیښې ناروغۍ له امله چې د ناجوړې یې په وروستیو دوه اونیو کې سختي زیاته شوه او په حق ورسید.

عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله که جسما یو شخص و مگر په معنوي لحاظ نوموړی یو خوځښت، یوه نظریه او د یوه مقدس ارمان حامل و، که څوک غواړي د هغه روح خوشاله کړي او له هغه سره د وفا ثبوت وړاندې کړي، نوباید د نوموړي له میراث اسلامي امارت سره وفا وکړي، د اسلامي نظام د اعادې لپاره په دې شرائطو کې په حیث د مسلمان دا زموږ د فرد فرد وظیفه ده چې د اسلامي امارت د قوت، وحدت، پراختیا او بریا لپاره ټولې هڅې په کار واچوو، د دې گډ کور بنیادونه لا پاخه کړو، څکه زموږ د مسلمان ولس او مجاهد قشر عزت او سرلوړي یوازې د همدغه صف په قوت سره تضمینیدلی شي.

مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله اسلامي امارت د یوه ستر خوځښت په حیث په داسې ډول ودان کړی او روان کړی چې ترشا یي جوړ او محکم بنیادونه، مخلص او باتدبیره ملگري او منظم تشکیلات پرې ایښي دي. لهذا مجاهدین او ټول مسلمانان دي مطمئن اوسي، چې دا کاروان به د اسلامي امارت ټول مسؤلین او افراد د الله تعالی په نصرت او دمسلمانانو په ملاتړ د عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله له ارمانونو سره سم منزل مقصود ته رسوي ان شاءالله تعالی و ما ذالک علی الله بعزیز

داسلامي امارت د مشرتابه، رهبري شورا او د عالیقدرامیرالمؤمنین رحمه الله د کورنۍ له پریکړې سره سم به سر له نن یعني د ۱۴۳۶ هـ ق کال د شوال له ۱۴ څخه تر دریو ورځو پورې په ټولو سیمو کې د علماء کرامو ، د مساجدو د امامانو، قومي او جهادي

شخصـيتونو، داسـلامي امـارت د مسـؤلينو، مجاهـدينو او عـام ولـس لخـوا د مرحـ
اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله روح ته د دعاء پـه خـاطر دقـران كـريـ
ختمونو ، فاتحو او دعاگـانو مراسـم تـرسره كيـږي، او لـه اللـه تعـالى څخـه بـه مرحـ
اميرالمؤمنين ته د مغفرت او اسلامي امارت ته د استحكام او برياليتوب دعاگانې كيږې
په پاى كې بايد يادونه وكړو چې د مرحوم اميرالمؤمنين ملامحمد عمـر مجاهـد مـورنـ
ورور ملا عبد المنان اخند او د مرحوم ملامحمد عمر مجاهد مشـر زوى مولوي محمـ
يعقوب صاحب له ټولومسلمانانو څخـه خصـوصي غوښـتنه كـوي چـې د مرحـوم مـلا
محمدعمر مجاهد په مشـرى د اسلامي امـارت پـه واكمنـى كـې كـه د دوى كـوم ډول
حقوق تلف شوي وي، نو ټول دې ورته عفـو وكـړي او پـه دعاگـانو كـې دي تـل يـاد
ساتي، موږ په دې ستر غم كې ټول مسلمان امت او په خـاص ډول دافغانسـتان مجاهـد
ولس له ځان سره شـريک بولو او ټولو ته له اللـه تعـالى څخـه د تسـليت او صـبرجميل
غوښتونكي يو. والسلام

دافغانستان د اسلامي امارت رهبري شورى او د عاليقدر مرحوم ملا محمد عمر مجاهـد
كورنى

۱۴۳٦ هـ ق كال د شوال المكرم ۱۴مه

۱۳۹۴هـ ش كال د اسد ۸ مه

## د اسلامي امارت د يو شمير مشرانو او رهبري شورى د اعضاوو تأثرات

## د اسلامي امارت د زعيم امير المؤمنين شيخ هبة الله اخندزاده صاحب تأثرات

الحمد لله و كفى و سلام على عباده الذين اصطفى. اما بعد فقد قال الله تعالى فى كتابه الحكيم

﴿مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا﴾[الاحزاب]

عن ابن عمر رضي الله عنهما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذكروا محاسن موتاكم . . . رواه ابوداود و الترمذي.

حضرت عاليقدر امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد (الله پاک دې يې وبخښي او الله تعالى دې يې په ورځ د قيامت د عادلو او صالحو امراوو په ډولي کې راوپاڅوي او الله تعالى دې يې جنت الفردوس ورکړي) د اسلافو يوه نمونه وه. په داسې حال کې چې افغانستان د شوروي له ماتې وروسته د يو سخت بحران سره مخامخ و، هر ځای د قدرت پر سر جنگونه روان وو، د هيچا سر، مال او عزت په امن کې نه وو. په هر ولايت او ولسوالي کې مختلف حکومتونه وو. علماوو او نيکانو مجاهدينو يا د ملک څخه هجرت وکړی يا په خپلو کورونو کې کيناستل. شر او فساد دې حد ته ورسيد چې يو کلی او ښار هم ترې خلاص نه و. د شريعت نوم چا نه سوای اخيستلای، فيصلې او پريکړې د ټوپک په زور وې، مطلق ټوپک حاکم و، په ټولنه کې هغه ارذال، جهال، بې دينه او بې حيا خلک په واک او قدرت کې وو. مسلمانان ورځ تر بلې له سختو مشکلاتو سره مخامخ کيدل. هغه جهاد چې افغان مؤمن ولس د شوروي يرغل په مقابل کې د بې شميره شهيدانو، زخميانو او مهاجرتونو او نورو قربانيو په ورکولو سره د يوه شرعي اسلامي نظام د راتگ لپاره کړی و هغه نظام هم لاسته رانغلی. چې دې حالت په کلونو دوام وکړ. په دې سخت حالت کې الله تعالى د مظلومو مسلمانانو د تعاون او کومک او د خپل دين د احياء لپاره په انساني ټولنه کې قدرتمند انسانان د ديني علومو زده کوونکي طالبان او د هغوی استادان او مخلص مجاهدين د امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد په قيادت کې او د مخلصو او متدينو ولسونو په

حمايت کې راپورته کړل چې په کوم وخت کې يې د افغانستان ډيره حصه ( په سـ
کې ۹۵) د الله تعالی په نصرت سره فتحه کړه او د الله تعالی شرعي نظام په کې حاکـ
شرعي حدود نافذ سوه، د ښه امنيت فضا د شريعت په نافذولو سره حاکمه سو
مسجدونه په لمونځونو او شرعي تعليماتو باندې آباد سول، امر بالمعروف و نهی عـ
المنکر جاري سو، کلي او ښارونه په مدارسو آباد سول، د علم قدر زيات سو. شـرعـ
علومو ته توجه وسوه، علماوو ته د قدر په سترگه کتل کيدل، د هر سړي به دا کوښښ
چې خپل زوی د شرعي علومو طالب کړي، مظلوم قدرتمند سو، ظالم بې قدرته سـ
عدالت تأمين سو، د ښځو او نارينه وو حقوق تأمين سول، د شعائر الله تعظيم پر ځا
سو، د جاهليت رسوم له منځه يووړل سول، لکه په باميان کې د بودا بتان چې له منځ
يووړل سول، چې د امير المؤمنين صاحب په دې عمل سره ټولې نړۍ ته دا ثابته سـ
چې د امير المؤمنين صاحب د مخلوق تر رضا د الله تعالی رضا خوښه ده.

امير المؤمنين رحمه الله تعالی په دې آخر الزمان کې د شرعي احکامو په عملي کول
سره شريعت په عملي شکل خلکو ته وروښود. هغه احکام چې موږ د شريعت
کتابونو په عباراتو کې ويلي او مطالعه کړي وو او په عملي ميدان کې مو د هغو هيـ
بيلگه نه په خپل ملک نه په نورو ملکونو کې په خپل دور کې ليدلې يا اوريدلې وه،
مرحوم امير المؤمنين رحمه الله په دور کې مو په عمل کې وليدل. جزاه الله تعالـ
احسن الجزاء نور الله مرقده و جعل جنة الفردوس مأواه.

اسلامي امارت د ټولو مسلمانانو د زړونو يو ارمان و چې پوره سو او مسلمانانو په کې
آرام ساه واخيسته، چون واقعي اسلامي نظام د نړۍ کافرانو خصوصا امريکا ته چې
نړۍ د کافرانو په سر کې ده د زغملو وړ نه و، لهذا د نړۍ کافرانو قسم قسم بهانـ
لټولې، چې دغه اسلامي نظام له منځه يوسي چې بالاخره نړيوالو کفارو د امريکا پـ
مشرۍ ايتلاف جوړ کړ، ظالمانه حمله يې پر اسلامي امارت خالص د اسلام په وجـ
وکړه چې په دې وخت کې جناب امير المؤمنين رحمه الله تعالی پر خپل قوي ايمان
ودريدی، د امريکا په مقابل کې يې جهاد اعلان کړ، د کفارو سره يې د اسلام او
مسلمانانو پر سر هيڅ قسم سازش ونه مانه، تر دنيوي مفاداتو يې اسلام ته ترجيح ورکړه

چې په نتیجه کې یې الله تعالی نصرت وکړ د امریکا او ملګرو په مقابل کې مخلصو مسلمانانو د ده جهادي اعلان ته لبیک ووایه. جهاد شروع سو، چې فعلا هم ادامه لري. دا جهاد به تر هغه وخته شروع وي تر څو چې د جهاد هدف چې اسلامي شرعي نظام دی د افغانستان پر پاکه او مقدسه ځمکه قائمیږي. په دې لار کې به د امیر المؤمنین رحمه الله تعالی په شان چې د اسلامي شرعي نظام په مقابل کې یې هیڅ معامله ونه کړه، هیڅ معامله نه کیږي. الله تعالی دې موږ هم په خپل عزم کې دغسې کامیاب کړي. لکه امیر المؤمنین رحمه الله تعالی چې کامیاب سو. په آخر کې امیر المؤمنین رحمه الله تعالی او د ده د شرعي او اسلامي لارې ټولو لارویانو ته دعاء کوم چې الله تعالی ټولو ته جنت الفردوس او د دنیا او آخرت کامیابي ورنصیب کړي. آمین

### د اسلامي امارت د ریاسة الوزراء پخوانی مرستیال او د رهبري شوری غړی الحاج ملا محمدحسن آخند

ملا صاحب مرحوم د شورویانو پر خلاف د جهاد په دوره کې ډېر مشهور قومندان یا ډلګی‌مشر نه و، چې په هغه وجه دې د طالبانو د اسلامي‌تحریک لپاره مشر وټاکل شي او یا د پخوانی جهادي تجربې په وجه دې دا د طالبانو د اسلامي‌تحریک او بیا د اسلامي‌امارت دا دومره پراخ کار او نظام وچلوي، بلکې په مرحوم ملا صاحب کې یو شمیر داسې صفات وو چې د هغو په وجه الله تعالی د دې ستر خدمت د پاره غوره کړ.

ملا صاحب مرحوم، ډېره زیاته باطني سپیڅلتیا درلوده، تل یې پر دې فکر کاوه چې څرنګه له غرور او تکبر نه وساتل شي، زما یاد دي کله چې به موږ له ملا صاحب سره یو ځای شوو مجلس به مو کاوه نوموړي به دا خبره ډېره کوله او موږ به یې داسې مخاطب کړلو ( شریکانو زه تر نور هرڅه پر خپل ځان ډېره پهره داري کوم، داسي نه چې شیطان لعین می لار ووهي، د دې قدرت او واکمني په وجه لویي او تکبر راڅخه ونشي، او یوې کندې ته ونه لویږم او له مستقیمې لارې څخه مي منحرف نه کړي...) نو باطني پاکي یو ډېر غټ صفت دی او دا په ملا صاحب کې موجود و.

دوهم، د الله تعالی پر فیصله یې ډیره کلک باور او عقیده وه، په دې یې باور و چې څه چې الله کوي هغه په بله نشـي کیـدای، لـه نـورو افواهـاتو او وهمونـو څخـه هـیڅ نـه ډاریدی.

زما یاد دي، کندهار ته د حرکـت انقـلاب اسـلامي د گونـد مخکښ علـماء او مشـران راغلي وو او له ملا صاحب سره یې ملاقات و، په والي کوټی (میلمستون) کې، دې وفد ملا صاحب ته د خپل سفر موخه بیان کړه، چې موږ کابل ته ولاړو لومړی مو له ربـاني سره ولیدل او بیا له سیاف سره، تر څو له طالبانو سره صلح ته اماده شي، خو سیاف په ځواب کې راته وویل چې زه به تر هغو مقاومت کوم او له کابل نه نه وځم تر څو پر سر مي زریدار ټانگ راتیر کړي، د وفد د علماو ډېر تشویش وو چې کـه طالبـان کابـل تـه ورسیږي هغه وخت به ډېر بد حالت رامنځ تـه شي ځکـه دوي د اسـتاد سـیاف سـختو خبرو او گواښونو په تشویش کې کړي وو.

وروسته ملا صاحب ورته وویل چې، علماء کرامو خدای مو هرکله راوله، هیڅ تشویش مه کوئ، فیصلې چې کوي هغه بل ذات دی فیصلې د سیاف په لاس کـې نـه دي، کـه الله تعالی فیصله وکړي چې وځه سیافه! بس دا سیاف به تاسو وینـئ نـه بـه یـې پـر سر ټانگ تیر شوی وي او نه موټر خو له کابله به وځي، تاسو هیڅ تشـویش مـه کـوئ څـه چې الله کوي هغه به کیږي.

بیا هغسې وشول کله چې طالبان کابل ته ورښکاره شول، سـیاف او ملگـري یـې بیـا پـه پنجشیر کې گرځیدل.

نو د الله تعالی پر فیصله یقین او باور درلودل، دا صفت هم یو د دې باعث و چـې اللـه تعالی دی د دې ستر خدمت او کار لپاره انتخاب کړ.

دریم: ملا صاحب مبارک، ډېر زیات صابر و، په تکالیفو، مشـکلاتو خواریـو او تنگیـو یې ډیر صبر کاوه او مایوسي یې نه ښکاره کوله، یوه نمونه یې داده، کله چې د اسلامي امارت حکومت سقوط وکړ، ملا صـاحب ۱۳ کالـه متصـل لـه خپلـې کـورنۍ اولادو او قریبانو څخه جلا وخت تیر کړ او په وطن کې دننه اوسیده. زموږ د معلوماتو له مخې په

دې دیارلس کاله کې یو ساعت هم له هیواده دباندې نه دی وتلی، له خپلو مجاهدینو سره یو ځای اوسیدی، په دې دیارلس کاله کې به یې ضرور ډیر تکلیفونه، تنگی او خواری تیرې کړې وي، او دیارلس کاله متصل له خپلې کورنۍ جلا اوسیدل او له هرڅه سهولیاتو لرې، دا یو ډېر قوي عزم غواړي او دا د ډېر صابر کس کار دی. نو زه ویلای شم چې ملا صاحب ډېر زیات صابر سړی و، او صابر کس د الله تعالی ډېر خوښ وي.

اوس یو شمیر خلگ دا خبره تبلیغوي چې د ملا صاحب تداوي د کراچې په یوه روغتون کې کیدله، په داسې حال کې چې هغه مرحوم د مریضي له امله ډیرې خوارۍ تیرې کړې مگر پر هغو یې صبر کاوه خو د یوه ساعت لپاره د پاکستان هیواد یا کوم بل هیواد ته نه لاړ.

ځلورم: ملا صاحب ډېر غیرتي او شجاع سړی و، زه تاسو ته یو مثال درکوم، کله چې د امریکا په تجارتي مرکز کې چاودنې وشوې، له هغه وروسته امریکایانو دا تور په اسامه بن لادن رحمه الله پسې وتړی، امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد ته امریکایانو او نورو خارجیانو وویل چې اسامه بن لادن به موږ ته سپارئ، ملا صاحب ورته وویل چې که تاسو کوم ثبوت لرئ او یا اسناد درسره وي د اسلامي اصولو مطابق او که له تاسو سره اسناد نه وي او هسې یو الزام وي، په هیڅ وجه زه دې ته تیار نه یم، امریکایانو په ځواب کې ورته وویل چې بې قید او شرطه به اسامه موږ ته سپارې، کنه موږ په افغانستان حمله کوو. امیرالمومنین رحمه الله ورته وویل چې زه له اسنادو پرته کفارو ته د یوه مسلمان سپارلو ته په هیڅ وجه تیار نه یم، که مې کور خرابیږي، که اره کیږم، سر او عیال مې ټول قرباني کیږي هم ستاسو غوښتنه نشم منلای، او نه تاسو ته سر ټیټوم، ځکه که نن ستاسو دا غوښتنه ومنم، سبا به وایاست چې په افغانستان کې اسلامي نظام نشو برداشت کولای دا نظام مه پیاده کوئ، نو هغه وخت به زه څه کوم. بیا موږ او تاسو ولیدل چې په دې لار کې هرڅه قرباني ته تیار شو خو له خپل غیرته تیر نشو.

دا چې اوس خلگ خبرې کوي چې ملا صاحب د پاکستان تر اثر لاندې کس و، ایا دا کیدای شي چې یو سړی دې دومره غیرت مند وي چې ټولې کفري نړۍ ته د مقابلې

دې ديارلس کاله کې يو ساعت هم له هيواده دباندې نه دی وتلی، له خپلو مجاهدينو سره يو ځای اوسيدی، په دې ديارلس کاله کې به يې ضرور ډېر تکليفونه، تنگی او خواری تيرې کړې وي، او ديارلس کاله متصل له خپلې کورنۍ جلا اوسيدل او له هرڅه سهولياتو لرې، دا يو ډېر قوي عزم غواړي او دا د ډېر صابر کس کار دی. نو زه ويلای شم چې ملا صاحب ډېر زيات صابر سړی و، او صابر کس د الله تعالی ډېر خوښ وي.

اوس يو شمير خلگ دا خبره تبليغوي چې د ملا صاحب تداوي د کراچې په يوه روغتون کې کيدله، په داسی حال کې چې هغه مرحوم د مريضي له امله ډيرې خوارۍ تيرې کړې مگر پر هغو يې صبر کاوه خو د يوه ساعت لپاره د پاکستان هيواد يا کوم بل هيواد ته نه لاړ.

څلورم: ملا صاحب ډېر غيرتي او شجاع سړی و، زه تاسو ته يو مثال درکوم، کله چې د امريکا په تجارتي مرکز کې چاودنې وشوې، له هغه وروسته امريکايانو دا تور په اسامه بن لادن رحمه الله پسي وتړی، اميرالمومنين ملا محمد عمر مجاهد ته امريکايانو او نورو خارجيانو وويل چې اسامه بن لادن به موږ ته سپارئ، ملا صاحب ورته وويل چې که تاسو کوم ثبوت لرئ او يا اسناد درسره وي د اسلامي اصولو مطابق او که له تاسو سره اسناد نه وي او هسي يو الزام وي، په هيڅ وجه زه دې ته تيار نه يم، امريکايانو په ځواب کې ورته وويل چې بې قيد او شرطه به اسامه موږ ته سپارې، کنه موږ په افغانستان حمله کوو. اميرالمومنين رحمه الله ورته وويل چې زه له اسنادو پرته کفارو ته د يوه مسلمان سپارلو ته په هيڅ وجه تيار نه يم، که مې کور خرابيږي، که اره کيږم، سر او عيال مې ټول قرباني کيږي هم ستاسو غوښتنه نشم منلای، او نه تاسو ته سر ټيټوم، ځکه که نن ستاسو دا غوښتنه ومنم، سبا به واياست چې په افغانستان کې اسلامي نظام نشو برداشت کولای دا نظام مه پياده کوئ، نو هغه وخت به زه څه کوم. بيا موږ او تاسو وليدل چې په دې لار کې هرڅه قرباني ته تيار شو خو له خپل غيرته تير نشو.

دا چې اوس خلگ خبرې کوي چې ملا صاحب د پاکستان تر اثر لاندې کس و، ايا دا کيدای شي چې يو سړی دې دومره غيرت مند وي چې ټولې کفري نړۍ ته د مقابلې

لپاره ور وړاندې کيږي، بيا دې يوازې د يو شخص چې هغه هم له هرې نګاه کمزو
وي د هغه تر اثر لاندې دې راشي، دا د يوه غيرتمن شخص له شانه سره بعيده خبره

پنځم: د ملا محمد عمر مجاهد يو صفت او خصوصيت دا و چې په خپله واکمني پ
مسلط و، خپلو اتباعو او پيروانو ته يې خپله سپيځلتيا، قاطعيت او جديت په عملي تو
ښودلې وو، چا يې له امره سرغړونه نه کوله.

ملا صاحب د کوکنارو د کښت د بنديدو حکم او امر صادر کړ، هم مهاله په ټولو ه
ساحو کې چې د اسلامي امارت واکمني وه، په کلکه بند شو، هيچا هم بيا د تاريـاک
کښت کولو جرات نه دی کړی، په داسې حال چې نه د دې لپاره کوم کمپاين وچليد
او نه څوک ووژل شول او نه څوک وځوريدل، ټولو په خپله خوښه او رضا د خپل ا
امر ته لبيک ووايه. نو دا يو ډير ښه مثال دی چې ملا صاحب پر خپلـه واکمنـي بانـد
پوره تسلط درلودی.

ملا صاحب په خپل پوځ هم همداسې تسـلط درلـودی، د اسـلامي امـارت د دورې
مهال يو وخت يو شمير کسانو، ملا صاحب ته د اسلامي امارت د يوه مشـهور او تک
قوماندان داسې شکايت راوړ چې په ځينو امورو کـې يـې لـه شـرعي اصـولو مخالفـ
کړی و، ملا صاحب وزيردفاع مرحوم ملا عبيدالله اخند ته حال وکړ چې دا قوماندان
مازديګره پورې مکمل خلع سلاح کړي او ماته يې راوليږئ، په هغه ټاکلي وخت کې
مشهور قوماندان چې دښمن به يې لـه نامـه څخـه لا بيريـدی او امـارت هـم پـه همـد
قوماندان پوره حساب کاوه، خو ټولې ډلګۍ او ګروپونـه يـې خلـع سـلاح شـول. هيـ
سرغړونه ونکړه او نه يې مخالفت ښکاره کړ، دا هم پر خپل پوځ او مجاهدينو د تسا
يو ډير ښه مثال دی.

شپږم: ملا صاحب د علومو شـرعيه وو ډير طرفدار وو، او د احکامو شـرعيه وو يې ډ
زياته پابندي کوله، او ديوه شـرعي حکم په تعميل کې يې هـيڅ تـاخير نـه خوښـاوه
اسلامي امارت په دوره کې په ټول هيواد کې علم خپور شو، مدارس او علمي مرکزو
خلاص شول، د ديني او شـرعي علومو د زده کړې شوق او رغبت په خلکو کې زيـا
شو. او د همدې شـرعي احکامو د پابندي په وجه په ټول ملک کې بـې سـاری امنيـ

راغی او اسلامي نظام پلی شو، هیڅ بد امني نه شوای جوړولای. هر چیرته به له خپلو مالو او پیسو سره په ډېر اطمنان په شپه او په ورځ تلل راتلل.

اووم: ملا صاحب مرحوم خپله باطني سپیڅلتیا درلوده، دهغې اثر او برکت یې تر ډېره حده په خپلو ملگرو او د ادارو په منسوبینو کې هم ښکاره و.

زه چې کله په کندهار کې په لومړي ځل د والي په صفت معرفي شوم او بیا کابل ته ولاړم په وزارت خارجه او بیا د ریاست الوزرا د مرستیالی د دندې تر مهاله په دې ټوله دوره کې تر اوسه پورې داسي کس ماته نه دی راغلی او یا شخصا زه وربانـدې پوهیدلی نه یم چې، ماته دې د یوه کار د خلاصیدو لپاره د رشوت وړاندیز وکړي، دا د ملاصاحب برکت وو، چې داسې یو سوچه اسلامي نظام یې رامنځته کړی وو چې نه یو مسئول او نه عادي کس په ښکاره د دې جرأت کولای شوای چې اداري امورو کې غیر شرعي قدم واخلي. د بل چا څخه دا یوه واقعه مې په یاد ده، زما یو نږدې ملگری یوه ورځ ډېر وارخطا او تیز زما د کار دفتر ته راننوت او په وارخطا حالت کې یې راتـه وویل چې هغه فلانکي تجار حاجي صاحب پرون راته وویل چې دا زما قضیه ولې ژر نه خلاصیږي، که ستا یا خپله د حاجي ملا صاحب څه ضرورت وي ماتـه ووایاسـت زه به یې ډېره ژر ضرورت پوره کړم. ما ورته ویل ته یې دلته راوله، حاجي صاحب یې ماته مخامخ کښیناوه او مخاطب مي کړ، چې تا څرنگه دا جرات وکړ چې د رشوت وړاندیز دې کړی دی، تجار په خپل کار پښیماني ښکاره کړه او معذرت یې وغوښت بیا مې هم ملگرو ته وویل چې د یوڅه وخت لپاره یې بندي کړئ چې آینده کې نور عبرت واخلي. نور په دې اووه کاله کې ماته داسې واقعه مخ ته نه ده راغلې.

اتم: ملا صاحب مرحوم له خپل قدرت او واک څخه شخصي استفاده نه ده کړې، هیڅ څوک نشي ثابتولای چې ملا صاحب په ټول افغانستان کې چیرته یو تعمیر، پوخ کور یا مارکیټ لري، دا هیڅ نشي ثابتولی. نو دا ټول د ملا صاحب او د هغه د جوړ کړي اسلام نظام برکت وو.او اثر یې په ملگرو او منسوبینو کې هم ښه ښکاره وو.

یوه نمونه یې زه درته وایم، کله چې د اسلامي امارت حکومت سقوط وکړ، کیدای شي له ځینو مشـرانو ملگرو سره د خپلو ادارو مربوط څه نقدي پیسې پاته شـوي وي، زموږ

یو مشر ملګری چې نوم یې نه اخلم، او د امارت په مهمو وظیفو پاته شوی او اوس هم په غټه وظیفه دی، یو وخت یې راته وویل چې که کله امیر المؤمنین شیخ هبة الله اخند زاده صاحب ته ورتللي زه هم درسره ځم کار مې دی، نو موقع پیدا شوه شیخ صاحب ته ورغلو، کله چې په مجلس کې کښېنستلو، ما ورته وویل چې که ستا شخصي او پټ کار وي زه به ووځم، هغه وویل نه ستاځخه نه دی پټ، نوله جیب ځخه یې یوه تړلې غوټه را وایستله او شیخ صاحب ته یې وړاندې کړه، چې دا ځو لکه پیسې دی، کله چې موږ له کابل نه ووتلو له ماسره پاته وي، بیا په دې وجه چې دا پیسې رانه ضایع یا ورکې نه شي په یوه کار مو بندې کړې، وروسته دا پیسې بندې شوې او ماته په لاس نه راتلې، اوس دا دی وتوانیدم پیسې مي لاسته راغلې بیرته یې د امارت بودیجې ته سپارم نه کوم لیک غواړم او نه ضمانت، خو دا چې دا پیسې وځنډیدې که د دې تقصیر په وجه راته بخښنه وکړې. او شیخ صاحب ترې قبولې کړې.

نهم: ملا صاحب انتهایي خاکسار او غیر مقتضي سړی وو، د ډېر اسایش او مرفه ژوند تقاضا یې نه درلوده، هر وخت چې به موږ ورغلو په خپل ځای کې به په یوه کمزوري (کټ)باندي ناست وو، او یا به یې کوم دیواله ته فرش غوړولی وو او پر یوه کمزورې نالي او بالښت به یې ځنګ وهلی وو.

نو د پورته ذکر شویو صفاتو او خصوصیاتو په وجه چې په ملا صاحب مرحوم کې موجود و، الله تعالی ددې ستر خدمت لپاره غوره کړ او د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې یې ښه انجام کړ.

الله تعالی دې د ده قبر منور وګرځوي.

## د اسلامي امارت سیاسي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر تأثرات

**د اسلامي امارت مؤسس مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د دې عصر یو له سترو شخصیتونو ځخه و. له نوموړي سره زما تعارف او ملګرتیا له هغه وخت ځخه وه کله چې په کندهار کې د ژړې ولسوالۍ د سنګ حصار په سیمه کې مو د فیض الله اخندزاده صاحب په جبهه کې جهادي ملګرتیا درلوده او د شورویانو خلاف مو جهاد**

کاوه. نوموړی په تمامه معنی یو واقعي مؤمن، مخلص، مجاهد او خپل دین او هیواد ته ژمن شخصیت و.

د ملاصاحب د غوره صفاتو له جملې یو دا و، چې قدرت او منصب وربانديْ هیڅ منفي اثر نه کاوه، تکبر او عجب یې په کې نه پیدا کاوه، ما له ده سره د طالبی په وخت چې سخت د مسکنت او محتاجی وخت و، هم گذاره کړې ده او وروسته چې ملا صاحب امیر المؤمنین و او د افغانستان واک یې په لاس کې و، هم ورسره نږدې وم. مگر په دې دواړو حالاتو کې ما په ده کې کوم تفاوت نه دی لیدلی. چې یا یې وضعیت او چلند بدل شوی وي او یا په کې نور فرق راغلی وي. ملا صاحب تر پایه د هماغه صداقت، اخلاص او تواضع چلند له هر چا سره درلود.

د ملا صاحب بل صفت چې ما ته ډیر جالب و هغه د ده غیرت و، دا چې الله تعالی غیرتي ذات دی او غیرتي خلک خوښوي، نو ځکه غیرتي انسان هر چا ته محبوب وي. ملا صاحب ډیر زیات غیرت او ځوانمردي درلوده. دا چې هغه د فساد او ظلم په خلاف قیام وکړ هم یو علت یې دا و چې نور د هغه دیني غیرت دا نه منله چې په افغانستان کې داسې حالت روان وي او دی بې تفاوته پاته وي. په جهاد کې شجاعت خو یې موږ ته هغه وخت معلوم و چې کله افغانستان د شورویانو تر اشغال لاندې و او د هرات ـ کندهار پر لاره به شوروي کاروانونه تیریدل. هغه وخت چې زموږ مرکز په سنگ حصار سیمه کې وه، ملا صاحب به همیشه هڅه کوله چې په عمومي سرک د روسانونو کاروانو ته په کمینونو کې شرکت وکړي. نوموړي به داسې خطرناک عملیات ترسره کول چې ډیر ځلې خو به مجاهدینو ورسره په عملیاتو کې شرکت نه شوای کولای.

د ملا صاحب بل صفت سخاوت و، د اسلامي امارت له تأسیس مخکې ما او ملا صاحب د سنگ حصار په سیمه کې امامت درلود او اقتصادي حالت مو ډیر کمزوری و، دغه راز مو د خپلو مجاهدینو اطاق په مدرسه بدل کړی او پنځلس تر شل پورې طالبان په کې اوسیدل چې د خرڅ او خوراک هیڅ مدرک یې نه درلود. ملا صاحب په هماغه فقیرانه ژوند کې چې څه یې په لاس کې درلودل له همدې طالبانو یې قربانول.

وروسته د اسلامي امارت د مشرتوب په وخت کې هم هغه فوق العاده سخاوت درلود. خصوصا په مجاهدینو، زخمیانو، معیوبینو او نورو محتاجو خلکو یې ډیره پراخي کوله. ملا صاحب لکه څنګه چې په اصولي موضوعاتو کې ډیر جدي وو، په عام ژوند کې بیا بې تکلفه او خوشطبعه مزاج درلود. ځان یې له ملګرو لوړ نه باله.

له امریکایي یرغل وروسته چې کله ملاصاحب مخفي ژوند درلود. نو زموږ رابطه به د استازي په واسطه وه دا چې هغه وخت په امارت کې لوی مسؤلیت ماته سپارل شوی و، نو د استازي په واسطه مې له ملا صاحب څخه په ټولو امورو کې د بخشش غوښتنه وکړه چې وروسته ده هم په ټوله مهرباني د بخشش اطمینان راولیږه وروسته زه ګرفتار شوم او کله چې نوموړی وفات کیده زه لا بندي وم نوځکه مې بیا هیڅکله ورسره ونه لیدل.

**د اسلامي امارت د مرستیال الحاج خلیفه صاحب سراج الدین حقاني تأثرات**

الحمدلله رب العالمین، و العاقبة للمتقین، والصلاة والسلام علی خیر خلقه محمد و علی اله و صحبه اجمعین و بعد.

اسلامي تاریخ په خپلو پاڼو کې د تل لپاره د خپلو اسلافو او لوړو شخصیتونو زرینې کارنامې خوندي کړې دي.

په اسلامي تاریخ کې د حضرت ابوبکر الصدیق رضي الله عنه، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه، حضرت عثمان ذي النورین رضي الله عنه، حضرت علي کرم الله وجهه، حضرت عمر ابن عبدالعزیز رحمه الله، سلطان محمود غزنوي رحمه الله، صلاح الدین ایوبي رحمه الله او ... زریني کارنامې هغه څه دي، چې مسلمانان د خپل اسلام په ساتلو او د هغه په دفاع کې ترې د سربښندنې او فداکاري الهام اخلي.

زموږ عصر که په زماني لحاظ د صحابه کرامو، تابعینو، تبع تابعینو او د امت د نورو اسلافو له عصر څخه ډېر واټن لري، مګر په معنوي لحاظ په دې عصر کې هم ځینې داسې اشخاص شته دي، چې اخلاق، تعامل، عدالت او د اسلام د دفاع په لاره کې مواقف یې د خیرالقرون دورې اکابرو ته ورته دي.

مونږ دلته پر مسلمانانو د ترحم او له هغوی څخه په شرعي دفاع کې د اميرالمؤمنين ملا محمدعمر (مجاهد) رحمه الله موقف او تعامل د بيلګې په توګه يادوو.

اميرالمؤمنين ملا محمدعمر (مجاهد) په داسې مهال په افغانستان کې د مظلومو مسلمانانو د دفاع داعيه پيل کړه، چې دلته چا له ظالم څخه د مظلوم انتقام اخيستلو تصور نشواى کولاى. خو نوموړي د توکل محض پر اساس دا ستره داعيه د سنګ حصار له يوې خړې حجرې څخه پيل او په خپل لوړ عزم سره يې د افغانستان تر ګوټ، ګوټ پورې ورسوله.

له اسلامي احکامو څخه د دفاع په لاره کې يې داسې مواقف غوره کړل، چې په نړۍ کې د حق په جرم ځورول شوي هر مظلوم مسلمان يوازې د ده د حاکميت تر سيوري لاندې خپل ځان محفوظ او خوندي ګاڼه.

اميرالمؤمنين ملا محمدعمر (مجاهد) د معاصر دور هغه تاريخ جوړوونکى شخصيت دى، چې د مسلمانانو اوسنى او راتلونکي نسلونه به يې په تاريخي کارنامو وياړي.

اميرالمؤمنين د يوه مسلمان حاکم په حيث د ښو ټولنيزو مواصفاتو او مشخصاتو لرونکى انسان و، چې هر څوک له خپلې زاويې څخه د ده د عالي مواصفات تر بحث لاندې نيسي.

زه هم غواړم د بيلګې په توګه دلته له پوځي اړخه د نوموړي د ثبات، شهامت او لوړ پوځي مورال په اړه يادونه وکړم.

له مرحوم والد صاحب څخه مې اوريدلي دي:

پر افغانستان د امريکايي يرغل ډېرې سختې او وارخطا کوونکي لحظې وې.

د امريکايي درنو بمباريو له امله د هيواد په شمال کې د مجاهدينو جنګي کرښې ماتې شوې او مجاهدين خوندي سيمو ته د عقب نشيني په حال کې وو.

په کابل کې هم ملګرو د مجاهدينو د خونديتوب په غرض د کابل ښار د تخليې پريکړه کړې وه.

زه پـه دې نظـر وم، چـې د کابـل تـر تخليـې وړانـدې بايـد پـه شـمال کـې د محاص
مجاهدينو را ايستلو چاره وشي. مگر د کابل په جنگي کرښو او همدا راز د کابل پر ښ
د امريکايي B-۵۲ الوتکو او کروز توغنديو شدت دومره ډېر و، چې په کابـل کـې يـ
نور د مجاهدينو پاتې کېدل ستونزمن کړي وو. هماغه وه، چې د اسـلامي امـارت دف
وزارت د ولس د حفاظت لپاره د کابل ښار د تخليې پرېکړه وکړه او مجاهدينو د کاب
له شمالي کرښو څخه عقب نشيني پيل کړه. د عقب نشيني پر مهال هم له پـوځي نقط
نظره زما دا رايه وه، چې هغه بايد تدريجاً ترسره شي.

په دې ډول چې له کابل ښاره بهر د چهاراسياب او همدا راز د ميدان ښار په استقامتو
کې بايد مونږ دفاعي کرښې جوړې کړو. ترڅو دښمن ته د پر شاکيدونکو مجاهدينو
تعقيب امکانات په لاس ورنشـي، خو د ملگرو نظـر دا و، چـې بايـد لـه جنگـي کرښـ
جوړولو پرته د عقب نشيني مرحله تکميل شي.

فيصله په دې وشوه، چې په دې اړه له اميرالمؤمنين څخـه هـدايت وغوښـتل شي، چـ
هغوی څه ډول لارښوونه وکړي نو هغه به عملي کيږي.

په دې حال کې ما له خپل ځان سره دا پرېکړه وکړه، چـې کـه چېرتـه اميرالمـؤمنين هـ
همداسې په بيړه له ټولو سيمو څخه د عقب نشيني پرېکړه وکړي، بس زما ملگرتيا به
همدې ځای ورسره ختمه وي. او که اميرالمؤمنين په دې موقف و، چې حتـی الامک
بايد له يرغلگر دښمن سره مقاومت وکړل شي، بيا به مـې د ژونـد تـر وروسـتی سـلگ
پورې ملگرتيا ورسره وي.

کله مو چې په دې اړه د امارت له مقام سره رابطه وکړله، د نصرت مخابرې سبا اته بج
وخت راکـړ او ويـې ويـل، چـې ټـول مجاهـدين او مسؤلين دې پـه ټـاکلي وخـت
اميرالمؤمنين پيغام ته منتظر شي.

زه په دې انديښنه کې وم، چې يا الله اوس به په دې اړه د اميرالمؤمنين پرېکړه او موق
څه وي؟!

د دښمن د برلاسي او د مسلمانانو د ماتې زړه لړزونکي شيبې وې، سيمه ټوله د امريکايي الوتکو تر بمبار لاندې وه او هر ځای به يې بې دريغه بمونه ورول.

د سهار تر اتو بجو پورې د انتظار شيبې ډېرې اوږدې شوې.

بالاخره ټاکلی وخت راورسېد، مونږ ټول په يوه ځای کې راټول وو، چې اميرالمؤمنين مخابروي وينا پيل کړه.

له حمد او ثنا وروسته يې د جهاد او مبارزې په لاره کې د دغه ډول ازمېښتونو او ستونزو په اړه خبرې وکړې او په دې لاره کې يې ثبات او استقامت د مجاهدينو له اساسي مواصفاتو څخه ياد کړل.

وروسته يې صريحاً زمونږ د استهداء په اړه وضاحت وکړ او ټول چارواکي او مجاهدين يې داسې مخاطب کړل:

(ټولو مجاهدينو او مسؤلينو! نن امريکايانو زمونږ پر هيواد يرغل کړی دی. د کافرانو د دې يرغل مقابله کول پر مونږ فرض عين ده. لهذا تاسو که يو ياست، که دوه ياست، که يو ميل وسله درسره وي او هغه هم يوه مرمۍ لري، له يرغلگرو کفارو سره وجنگېږئ، فرار عن الحرب حرام دی، حرام دی، زما درته امر دی، چې په هرځای کې ياست ورسره وجنگېږئ. پر شا مه ترې ځئ!)

چې دا خبره يې وکړه، په زړه مې سړې اوبه توی شوې، ما وويل چې پرېکړه وشوه، اوس به د نوي کرښې ترتيبات جوړوو، ملگرو هم دا توافق وکړ، چې سمه ده سبا به پرې مجلس وکړو.

د يرغل په دغه ډول سختو او امتحاني شېبو کې د اميرالمؤمنين له ثبات او مقاومت څخه دا جوتيږي، چې اميرالمؤمنين د همدې وحشيانه يرغل په مقابل کې د جهاد په برياليتوب يقين درلود، ځکه يې د دې نړيوال کفري يرغل او د يرغلگرو د بې دريغه وحشت په مقابل کې يې د هيڅ ډول وارخطايي، تزلزل او تردد احساس نه کاوه او د شاتگ پر ځای يې له هغوی سره په مقاومت ټينگار درلود.

له نظامي اړخه د جګړې پر مهال تر ټولو بریمن قومندان هغه دی چې د دښمن د جنګي ځواک تر اغېز لاندې رانشي او ترلاس لاندې ځواک یې په پوځي مورال ډاډه وي.

امیرالمؤمنین د خپلې کلکې عقیدې او لوړ جهادي مورال له مخې له هغه نړیوال کفري ائتلاف سره چې د احزاب له غزا وروسته یې په اسلامي امت د دغه ډول پراخ کفري یرغل هیڅ بیلګه نشي لیدل کیدای په داسې موفقانه ډول مقابله وکړه چې د نړۍ ټول پوځي ماهرین او د پوځي پېښو شنونکي ورته ګوته په غاښ دي.

له صلیبي ټلوالې سره د امیرالمؤمنین د مقاومت او په دې مقاومت کې د غیرت او شهامت په اړه د عربي نړۍ د پوځي او سیاسي پېښو مشهور څېړونکی دوکتور شامل داسې وايي: ((اې د نړۍ ژبپوهه ادیبانو! راشئ د نړۍ د ټولو ژبو قاموسونه له سره ولیکئ، له هغو ټولو څخه د رجولیت (نارینتوب) لغت وباسئ او پر ځای یې یوازې د ملامحمد عمر نوم ورځای کړئ!))

همدا راز له صلیبي ټلوالې سره د امیرالمؤمنین د مدبرانه تاریخي مقابلې په اړه د اسلامي نړۍ بل مشهور عالم، څېړونکی او لیکوال دوکتور حاکم المطیري داسې وایي: ((ملا محمدعمر مجاهد په معاصر دور کې د اسلامي امت یو ستر مجاهد زعیم دی، داسې زعیم چې د یرغلګرې صلیبي ټلوالې په خلاف یې تاریخي مقابله وکړه، نوموړی په واقعي ډول د اسلامي امت لپاره داسې جهادي امام دی، چې د اسلامي امت موجود او راتلونکي نسلونه، د هغوی ټول جهادي او فکري نهضتونه او فقهي مدارس به په ملا محمدعمر مجاهد پسې اقتداء کوي.))

امیرالمؤمنین د دې ترڅنګ چې د محاربې په ډګر کې یو تر ټولو مسلط او ځواکمن قومندان و، د قراني ارشاد سره سم یې له خپلو مجاهدینو، ملګرو، علماؤ او عامو خلکو سره اخلاقي تعامل ډېر ښه او په زړه پورې و.

والد صاحب به د امیرالمؤمنین د همدې لوړ اخلاقي تعامل په اړه ویل: ((مرحوم ملا صاحب د خپلو نېکو عالي اخلاقو، جهادي بصیرت او هر اړخیزې ځیرکتیا له امله د

داسې محبوبو صفاتو لرونکی امير و، چې که مونږ ته الله تعالی د امير په توګه په اوسني عصر کې د يو چا د غوره کولو اختيار راکړی وای له ده پرته بل هيڅوک به مو د دغسې غوره صفاتو لرونکی شخصيت نه وو پيدا کړی.))

مونږ بايد څه وکړو؟

د قران کريم د ايتونو په ترتيب کې د عقايدو، احکامو، وعد، وعيد او امثالو ترڅنګ د انبياء عليهم السلام او پخوانيو امتونو د قصصو په باره کې هم د مفسرينو په قول (۱۶۰۰) آيتونه راغلي دي.

د قصصو له مبارکو آيتونو څخه اصلي هدف له هغوی څخه درس او عبرت اخيستل دي، چې الله تعالی مسلمانانو ته په قران کريم کې د همدې غرض لپاره راوړي دي.

د اميرالمؤمنين په جهادي ژوند له دې مختصر تأثر څخه هم زمونږ غرض دا دی چې بايد مونږ خپل ځانونه د هغه مرحوم په حسنه اخلاقو، په شعائر الله غيرت کولو او په جهاد کې په صبر، استقامت او ثبات باندې متصف کړو.

زمونږ مسؤليت صرف د اميرالمؤمنين د جهادي کارنامو او مواصفاتو په بيانولو سره نه پوره کيږي؛ بايد د هغه په څېر د الله تعالی د احکامو پيروي وکړو، د الله په دين غيرت وکړو، له مسلمانانو سره حسن سلوک او خپل ځوريدلي ولس خدمت وکړو، د مجاهدينو، شهيدانو، زخميانو، معيوبينو، يتيمانو او د شهيدانو له کورنيو او د هغوی له ارمانونو سره خيانت و نه کړو.

کوم اسلامي مسؤليت چې اميرالمؤمنين ته د اسلام، جهاد او خپل ولس په اړه راجع و، هغه مرحوم په ښه ډول سره ترسره، خو مونږ او تاسو ته اوس متوجه دی، بايد د هغه په ښه ترسره کولو کې هيڅ ډول تنبلي او غفلت ونه کړو.

له متعال خدای څخه غواړم چې مونږ ته د همدې مدبر، بابصيرته او شرعي مواصفاتو لرونکي قائد اميرالمؤمنين ملا محمدعمر (مجاهد) رحمه الله په جهادي نقش قدم د تللو توفيق رانصيب کړي.الله تعالی دې د نوموړي د حسنه اخلاقو صداقت، شهامت،

غیرت او له دین سره د وفا اثرات په مونږ او ټولو مجاهدینو کې پیدا کړي.الله تعالی دې د نوموړي درجې لوړې او په فردوس جنت کې ابدي خوښي ورنصیب کړي.

اللهم امین

وصل الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله و صحبه اجمعین

## د ملا صاحب د ځانګړي محرر ملا عبدالسلام کاتب صاحب تأثرات

بسم الله الرحمن الرحیم

که څوک د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ټول ژوند د امارت په وخت کې یې کړنې او ځانګړي صفات له دیني اړخه په پوره غور سره مطالعه کړي او په انصاف سره پریکړه وکړي نو هرومرو به ووایي چې ملا صاحب مرحوم د الله تعالی یو رښتینی بنده و او الله جل جلاله په دې خاص وخت کې د دین د خدمت لپاره منتخب کړی و. دلته د نمونې په ډول د ملا صاحب مرحوم د یو څو داسې عمده صفاتو یادونو کوو چې ان شاءالله د ټولو صفاتو د یادونې اړتیا به پاته نه شي.

اول: نیک نیت

نیت په اسلام کې خورا مهم ځای لري، د احادیثو په کتاب صحیح البخاري کې د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم څخه په روایت شوي لومړني حدیث کې راغي چې د اعمالو تړاو تر نیته دی. یعني په کوم کار کې چې د چا نیت سم وي هغه کار یې سم دی او که یې نیت سم نه وي هغه کار یې ناسم دی. که څه هم په اوس وخت کې اکثره خلکو نیت یو مخ له پامه غورځولی دی، په خپلو کارونو کې د نفس او زمان تابع دي. خو ملا صاحب مرحوم بیا دومره نیت ته متوجه و چې په اوس وخت کې موږ د ده په ډول بل څوک نه دی لیدلی.

د کارونو په جریان کې یې د نیت دومره زیاته یادونه کوله چې سړی ویلای شي چې هغه خپل ټول لوی او واړه کارونه لومړی پر نیت عرضول او بیا یې کول. په خپله خاصه اصطلاح به یې ویل چې په دې کار کې مې نیت برابر دی، ځکه مې وکړ او په دې کار

کې مې نیت نه برابریږي نه یې کوم. او کله خو به یې یو کار په مخکې و، اقدام به یې نه کاوه، ویل به یې نیت مې نه برابریږي. بیا چې به یې یو مصلحت په زړه شو هغه کار به یې وکړ نو ویل به یې اوس مې نیت برابر شو. نه یوازې خپله دومره د نیت پابند و، بلکې د امارت نورو مسؤلینو او افرادو ته به هم متوجه و او د نیت د سموالي توصیه به یې ورته کوله. مطلب ملا محمد عمر مجاهد د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حدیث ته په پام سره کوښښ کاوه چې خپل ټول کارونه په نیک نیت سره ترسره کړي.

دوهم: د حق په مقابل کې د نفس او هوی تر تأثیر لاندې نه راتلل.

ملا صاحب مرحوم د حق په مقابل کې د نفس او هوی تر تاثیر لاندې نه راتلی، څکه یو وخت یې په خپل دفتر کې د کار په جریان کې قسم واخیست. ویل یې چې زما په ټول ژوند کله هم داسې نه ده پیښه شوې چې زما د نفس او شریعت دې ټکر سره راغلی وي او ما دې د نفس تابعداري کړې وي.

رښتیا هم همداسې و، دغه وجه وه چې هر چا هر وخت د ملا صاحب په وړاندې په جرئت سره د حق او حقیقت بیان کولای شو، که څه هم د ده د شخصیت په اړه کومه خبره وای. څکه ټولو ته معلومه وه چې ملا صاحب د حق په مقابل کې د نفس تر تاثیر لاندې نه راځي ترڅو د انتقام او منفي عکس العمل سره مخامخ شم.

قدرت او حیثیت چې ډیر خلک یې د نفسي تقاضا له وجې په طلب کې دي خو ملا صاحب مرحوم په دې چاره کې هم د نفس پیروي نه ده کړې. څکه د لویه سره د ده مبارزه د قدرت لپاره نه وه، یوازې د دې لپاره یې مبارزه کوله چې په ملک کې مو یو اسلامي نظام او شرعي قانون نافذ وي. په هغه وخت کې یو څل موږ ملګري د ده سره د کندهار ــ هرات پر لوی سړک په موټر کې روان وو، کله چې د ده هغه د شوروي ضد جهاد د وخت سنګر (سنګ حصار) سیمې ته ورسیدو، ملا صاحب د سړک یوه طرف ته اشاره وکړه ویل یې: چې دلته مې څه څمکه (پټی) درلودای او پر اوسیدلای او په افغانستان کې یو شرعي اسلامي حکومت وای او بل چا حکومت کولای، څومره خوند به یې کړی وای.

او دا خبره چې دی د حق په مقابل کې د نفس او هوی پیروي نه کوي د امریکایانو سره په مقابل کې یې عملا هم ثابته کړه. څکه چې تر خپل ټول قدرت او هر څه تېر شو خو له خپل برحق دریځ په هیڅ وجه تېر نه شو.

دریم: پر الله تعالی ټینګ باور او اعتماد

امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد پر الله تعالی د اتکل څخه زیات اعتماد او باور درلود. که د طالبانو د اسلامي تحریک پیل راواخلو، ملا صاحب په کندهار کې د علماء کرامو هغې غونډې ته چې دی یې امیر المؤمنین وټاکه، د خپلې وینا په یوه برخه کې ویلي و چې موږ ولې او څرنګه پاڅون وکړ. ملا صاحب وایي: ما پر الله تعالی توکل محض وکړ او توکل محض ناکامي نه لري. مطلب د کامیابي لپاره مو ظاهري اسباب په هیڅ حساب وو، یوازې او یوازې پر الله تعالی اعتماد او باور و چې برحق پاڅون به مو ان شاءالله کامیابیږي.

او وروسته له ټوپکیانو سره د جګړې جریان چې رهبري یې مخامخ ده خپله کوله، په لږو نفرو او لږو وسلو به یې د نظامي اصولو خلاف ناممکنې جګړې ګټلې. دا هم د توکل ثمره وه. همدا پر الله تعالی د ده اعتماد او باور و چې تر پایه نه مایوسه شو او نه یې حوصله له لاسه ورکړه، که نه نو څو ځله طالبان دې ته اړ شول، چې نیولې سیمې بیرته له لاسه ورکړي او شاته تګ به یې وکړ. یو ځل په لومړیو کلونو کې د هرات په لور چې د طالبانو د عمومي قومندان په شمول څه مشران شهیدان شول، طالبانو تر داسې حده شاتګ وکړ، چې حتی دا ویره وه چې طالبان به خپلې ټولې نیولې سیمې له لاسه ورکړي. خو ملا صاحب پر الله تعالی ټینګ اعتماد درلود، حوصله یې له لاسه ورنکړه او جګړه یې په نوې بڼه خپله رهبري کړه. طالبانو بیرته په مقابل لوري تعرضي عملیات پیل کړل، ټوپکیان یې پر شا وتمبول، پرمختګ ته یې دوام ورکړ، چې په لږو ورځو کې تر هراته ورسیدل او هرات ولایت یې فتح کړ.

**نور هم داسې ډیر واقعات شته چې که ظاهري اسباب وسیله بلل شوي وای، هیڅکله به د هغې سیمې د نیولو او جنګ اقدام نه وای شوی. خو هغه هم پر الله تعالی د ملا صاحب د کامل اعتماد نتیجه وه چې ناممکن کارونه به ورته ممکن ښکاریدل.**

د اسامه بن لادن په موضوع کې چې د امریکایانو غوښتنو ته تسلیم نه شو، هم یې دا باور و چې موږ به کامیاب یو. د هغه یوازې دا کامیابي نه وه مراد چې امریکا به په افغانستان حمله ونکړای شي. هغه د ډیرې لویې کامیابۍ په تمه و، ولې کله چې امریکا پر افغانستان برید پیل کړ، ملا صاحب د بي بي سي راډیو د یوه خبریال سره د په راډیویي مرکه کې د اخطار په ډول خبریال ته وویل چې امریکا به اوس نو د لست د سره څخه د لست پای ته ځي. مطلب یې د نړۍ په کچه د امریکا ماته وه. چې وروسته همداسې وشول. امریکا نه یوازې په افغانستان کې ماته وخوړه، بلکې په ټوله نړۍ کې یې دبدبه او رول کمزوری شو.

او د اسامه بن لادن په نه سپارلو کې یې هم لویه کامیابي بلله. ده به خپله ملګرو ته ویل چې د اسامه موضوع تاسو سپکه مه ګڼئ، ځکه امریکا ته د ده له سپارلو او نه سپارلو سره د اسلام لوړوالی او ټیټ والی تړلی دی. مطلب که یې په لاس ورنکړو نو به اسلام لوړ او مسلمانان جرأتمند شي چې دښمن که هر څومره قوي وي بیا یې هم مقابله ممکنه ده.

او بیا د طالبانو د واکمنۍ تر سقوط وروسته چې تقریبا د نیمې نړۍ باطل قوتونه د هوایي او زمیني عصري وسلو سره یو ځای پر افغانستان راغلل، په وړاندې یې په خالي لاس سره د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ او لارښوونه د جهاد پیل چې چا یې خالي تصور هم نه شوای کولای او هم په دغه وخت کې په افغانستان کې په یوه محدوده سیمه کې په کلونو د ده مخفي ژوند او په اطمینان اوسیدل، یوازیوالی، صبر، حوصله او پر خپل دریځ ثبات دا ټول هغه څه دي چې پر الله تعالی د اعتماد او باور پرته یې څوک سر ته نه شي رسولای.

دغه وجه وه چې د هغه څه کارونه د عادت خلاف ښکاریدل. داسې نه وه چې د هغه سر نه خلاصیدی، هغه په پوره دقت سره خپل کارونه سرته رسول. ولې هغه که څه هم ډېر دلاور او جرأتمند و خو بې پروا نه و چې د کارونو عواقب ونه سنجوي. هغه د تکلیفونو او مشکلاتو احساس کاوه، د مجاهدینو په شهادت، زخمیتوب او شکست به تر نورو زیات خپه کیده. پر څیره به یې له ورایه اثر معلوم و. په خوب خوراک او وزن

کې يې د تېر په نسبت د پام وړ کموالی راغلی و. يوازې دې خبرې مطمئن کړی و چې ده به ويل په دې لاره کې مو مرگ او ژوند دواړه کاميابي ده.

**د اسلامي امارت قاضي القضاة شيخ الحديث مولوي نور محمد ثاقب صاحب**

لوی ملا صاحب عاليقدر امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله تعالی عليه رحمةً واسعةً ډير لوی او دروند شخصيت و، د هيواد د دوو سترو معرکو او جهادونو اتل، د مجاهدينو سالار، د نړۍ په کچه پېژندل شوی قائد، ستر مفکر، نوميالی روحاني، جهادي، سياسي، اجتماعي او انقلابي شخصيت و او د بنده سره يې تعلق ډير د صميميت، خلوص او اعتماد تعلق و.

راځو دې خبرې ته چې د مرحوم ملا صاحب سره زما اولنی کتنه او ملاقات په کندهار کې د چهارشنبې په ورځ د ۱۴۱۵ هـ ق کال د شعبان المعظم په څلورمه نيټه ترسره شو او موږ د پنځلس کسه علماوو وفد وو، جريان داسې و: کله چې په همدې کال ۱۳۷۳ هـ ل کې د طالبانو تحريک راپيل شو او زمونږ ډيرو شاگردانو پکې اساسي او پراخ رول اداء کړ او مونږ يې هم له هماغه پيله ټينگ ملاتړ وکړ او د تحريک د پرمخ بيولو لپاره مو هلې ځلې شروع کړې او په هماغو اوائلو کې د تحريک د مشرتابه لخوا يو خصوصي ليک هم راغلی و د بنده ( مولوي نورمحمد ثاقب ) او مولوي حاجي محمد صادق او مولوي موسی جان په نوم.

مونږ لومړی د طالبانو د تحريک په حمايت کې د چهارشنبې په ورځ د ۱۴۱۵هـ ق کال د رجب المرجب د مياشتې په شپږ ويشتمه(۲۶) په جامعه دارالعلوم حقانيه اکوړه ختک کې غونډه وکړه، په غونډه کې د تحريک په حمايت او ملاتړ کې ډيرې خبرې وشوې او په پای کې د بنده په شمول دولس(۱۲) کسيز هيئت وټاکل شو، چې يوه شوریٰ جوړه کړي چې د هر ولايت نه پکې درې درې جيد علماء کرام شامل وي.

بيا مونږ پنځه ورځې پس د جلوزو کمپ په مهاجربازار کې پراخه غونډه وکړه، په غونډه کې د تحريک په حمايت کې مفصلې په زړه پورې او هر اړخيزې ويناوې وشوې او په پای کې زما په شمول دولس (۱۲ ) کسيز وفد وټاکل شو چې دوی به د

تحریک د مشر ملا محمد عمر مجاهد سره ګوري او هم به دغه وفد د کندهار ترڅنګ ځینو نورو ولایتونو ته هم ځي، چې په هغه وخت کې د کندهار، ارزګان، زابل ولایتونه مکمل او د هلمند ولایت د مرکز په شمول د دې ولایت زیاتره برخې د طالبانو په لاس کې وې.

بیا سبا د سه شنبې په ورځ د شعبان المعظم په دریمه نیټه مونږ دغه دوولس کسیز وفد کندهار ته روان شوو، له کویټې څخه درې کسه علماء: مولوي باران آغا، مولوي قاضي نظر محمد او مولوي عبدالمنان هم راسره ملګري شول، نو دغه پنځلس نفري وفد د بولدک له لارې کندهار ته راغلو، چې بولدک ته راواوښتلو هلته مو وکتل چې تقریباً ټول طالبان زمونږ شاګردان وو، دوی زمونږ راتلو ته ډیر زیات خوشحال شول.

بیا مو د کندهار په ښار کې د طالبانو له مشر ښاغلي مجاهد ملا محمدعمر اخند سره وکتل، چې د ده ملګري مولوي احسان الله احسان، ملا عبدالستار اخند او نور هم حاضر وو، ملا صاحب ډیر د تواضع، تقوی، ترحم، توکل، عمیق فکر، متین عزم، لوړ مورال او قوي شجاعت لرونکی شخصیت راته وبرېښېد او نورې ډیرې ځانګړتیاوې راته پکې ښکاره شوې.

ملا صاحب ډیرې پخې او په زړه پورې خبرې وکړې او مونږ له خپل طرفه او د شاته پاتې ټولو علماوو له طرفه د پوره حمایت او په دې لار کې د هر راز هلو ځلو ډاډ او اطمنان ورکړ.

د خاطرې په ډول به یادونه وکړم دلته چې مونږ او ملا صاحب د ماښام ډوډۍ یوځای او په یوه دسترخوان وخوړه هغه ډوډۍ د کورونو ځیرې ( وظیفې ) وې او طالبانو ورسره یوځه ساده وریجې پخې کړې وې هغه هم شاید د میلمنو د اکرام په خاطر.

زمونږ او ملا صاحب په دې خبرو کې یوه اهمه خبره دا وشوه، چې دغه علماء دې لاړ شي د هلمند د موسی کلا سیمې ته چې هلته عبد الغفار اخندزاده په مخالفت کې ولاړ دی چې خبرې ورسره وشي ترڅو له مخالفت څخه لاس په سر او د طالبانو ملګرتیا غوره کړي، نو مونږ هلته لاړو د دې کار لپاره، بیا مشر ملا صاحب مجاهد ملا محمد

عمر اخند هلته سنگين ته راغلى و هلته مو بيا ورسره وكتل او ناسته او خبرې مو سره وكړې.

وروسته د اسلامي امارت د واكمنۍ په مرحله كې مو له ملا صاحب هميشنى تعلق درلود او ډيرې ښې خاطرې يې شته. يو وخت چې زه په كندهار كې د دارالافتاء رئيس وم او كابل تازه فتح شوى و او په كندهار كې ډير مسؤلين كابل ته تللي وو او هلته په مختلفو وزارتونو كې په خدمت بوخت وو. د ۱۳۷۵ هـ ش كال د عقرب د مياشتې په (۳۰) مه مې د امير المؤمنين ملا محمد عمرمجاهد سره ملاقات و، په ملاقات كې اميرالمؤمنين بنده ته وويل : حاجي مولوي صاحب ! زه دغه د دارالافتاء كار ډير اهم بولم، او زه د دارالافتاء څخه بغير يو قدم هم نشم اخيستى او په دارالافتاء كې خو به هم په يو چا اعتماد كيږي، نو مونږ غواړو چې ته دلته دارالافتاء كې پاته شې او مونږ غواړو چې دا مركزي دارالافتاء نوره هم فعاله كړو او چې زه چيرته يم هلته به دارالافتاء يعنى ته هم يې او كه بيا كابل ته نقل كيدو هم يوځاى به لاړشو. او ( وزارتونو او نورو ته په اشارې سره يې ) وويل يو كار به داسې وي چې هغه به منصب بلل كيږي خو اهميت به يې دومره نه وي زه خو فكر كوم چې دا ټول كارونه راغونډ شي دومره اهميت به يې نه وي لكه د دارالافتاء څكه د شريعت نفاذ او هم محاكم دې ته ضرورت لري، په آخر كې يې وويل : دا زما خوښه ده نور نو چې ستا څرنگه خوښه وي هغسې به وكړو.

بنده ورته وويل : هُو بالكل همداسې ده زه هم دغه كار ډير اهم بولم او چې ستا دغسې خوښه ده زما هم خوښه ده، نو امير المؤمنين ډير زيات خوشحال شو.

## د رياسة الوزراء پخوانى مرستيال او د رهبري شورى غړى مولوي عبدالكبير صاحب

دا چې امير المومنين ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله) په كم وخت كې د مبارزې په ميدان كې د مخكښ مبارز، د جهاد په ميدان كې د اعلى سرقوماندان، د سياست په عرصه كې د كامياب سياست دان، د استدلال او پيشبيني په ډگر كې د بصيرت او فراست د اتل، د طالبانو، مجاهدينو او مسئولينو په اعلى كيفيت روزنه كې د عظيم مرشد او د خير غوښتنې په صحنه كې د مُحسن بشريت په توگه تبارز وكړ، د دغو حيرت

انگیزو پرمختگونو، بدلونونو، نوښتونو او کرامتونو تر شا ځینې هغو ځانگړیو مواصفاتو وجود درلود چې رب العزت یې تر منصور او فاتح گرځولو مخته خپلو خوښو بندگانو ته نصیب کوي.

د ملا صاحب مرحوم له هغو ځانگړو مواصفاتو چې ما د ملگرتیا په مهال په دوی کې لیدلي ځینې یې په لنډه توگه په لاندې ډول دي:

۱ــ امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله) نیک او صالح انسان و، په هیڅ ډول حالاتو کې هم له فتوا او تقوا څخه تېر نه و، له ظلم او حرامو څخه یې په کلکه ډډه کوله، خپل ملگري او امارتي مسئولین یې هم له ظلم او حرامو څخه وېرول او دا توصیه یې ورته کوله چې موږ را پاڅېدلي د ظلم، وحشت او حرامخورۍ په خلاف یو، د دوی تقوا او په دې هکله د دوامداره مراقبت نتیجه دا وه چې امارت او امارتي مسئولینو کې د الله په فضل د امانتدارۍ گراف ډېر لوړ و، چې د اسلامي امارت مخالفین هم په دې هکله په ډاگه اعتراف کوي او هغه د امن او امانتداري یوه نادره دوره بولي.

۲ــ ملا صاحب مرحوم حق پرسته انسان و، د قوم، ژبې، او سمت د پالنې هېڅ ډول آثار په کې نه ښکارېدل، له هر ډول تبعیض او تعصب څخه پاک و، له قوم پرست اشخاصو څخه یې کرکه درلوده او په آسانه یې د ملگري په توگه ځان ته نژدې نه پرېښودل.

۳ــ ملا صاحب مرحوم په لومړي ځل د سړي د معلومولو په هکله ښه توجه کوله، چې کله به له یو چا څخه مطمئن شو نو یې بیا د هغه د بار بار وزن کولو عادت نه درلود او نه په آسانه پرې بې اعتماده کېده، د اعتماد په صورت کې یې د خپل عادت له مخې شخص ته ټول هغه واک او اختیارات ورحواله کول چې د هغه له دندې سره به اصولا مناسب و.

د مثال په توگه: ملا صاحب به چې د ننگرهار په ولایت کې یو څوک مقرر کړ موږ چې هلته د رئیس تنظیمه په حیث مسؤلیت درلود کله به مو چې هغه کس مناسب ونه

باله، ملا صاحب سره به مو خبره شریکه کړه ملا صاحب به بېرته خپله خبره یا حکم واخیست چې دا د ښه اعتماد یوه ستره نښه وه.

۴ـ ملا صاحب سره به چې څوک بلد نه و، نو په لومړي ځل یې له دې امله چې خاموشي پرې غالبه وه د هغه د ځیرکتیا او لوړ استعداد کچه نه شوای معلومولی، مګر د بحث او استدلال په مهال بیا سړي ته معلومېده چې هغه د ژورو معلوماتو، ښه بصیرت او لوړ استعداد څښتن دی.

۵ـ ملا صاحب خود خواه انسان نه و، خبرې او دلیل ته یې غوږ ایښوده، د قوي استدلال او معقول نظر په نتیجه کې له خپل نظر څخه ډېر په آسانه منصرف کېده، حتی خپله فیصله یې هم ماتوله.

د مثال په توګه: یو ځل ملا صاحب سره د ملاقات لپاره کندهار ته ورغلي وو، له ملاقات نه مخکې د ملا صاحب سکرتر را ته وویل: ملا صاحب په افغانستان کې د یو تحریک د فعالیتونو د بندولو په هکله فرمان امضاء کړی خو تر اوسه صادر شوی نه دی، که تاسو ملا صاحب سره خبره وکړئ که دا فرمان او حکم بیرته واخیستل شي ښه به وي، ملا صاحب سره مونږ خبره وکړه د هغه تحریک د بندیدو جانبي نقصانات مو ورته بیان کړل او ورته مو وویل چې د بندیدو په ځای باید د اصلاح کوشش یې وشي. ملا صاحب راسره ومنله فرمان یې معطل کړ او مونږ ته یې وویل چې تاسو او څو نور ملګري یې هم راته په ګوته کړل چې په شریکه یوه اصلاحي تګلاره ورته جوړه کړئ او دا یې هم وویل چې بیا یې عملي هم کړئ په تاخچه کې یې مهږدئ.

## د رهبري شورۍ غړی شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم صاحب

مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله یو مخلص او باعزمه مجاهد و چې ټولې دنیا ته یې د دین اصلي صورت څرګند کړی و.

مرحوم ملاصاحب یو باکرامته شخص و، یو له کراماتو یې د ټولو مجاهدینو او عامو مسلمانانو په زړونو کې د ده مقبولیت او محبوبیت و. په صحیح حدیث شریف کې راغلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا

دَعَا جِبْرِيلَ فَقَالَ إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ قَالَ فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَاءِ فَيَقُولُ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ قَالَ ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي الْأَرْضِ... رواه البخاری:
ابي هريرة رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې الله تعالی له يو چاسره محبت لري نو جبريل عليه السلام راوغواړي او ورته ووايي چې زه له فلان شخص سره محبت لرم ته هم ورسره محبت کوه، نو جبريل ورسره محبت کوي او بيا جبريل اهل السماء ملائکو ته ووايي چې الله تعالی له فلان شخص سره محبت لري تاسو هم ورسره محبت کوئ، بيا ملائکه هم له هغه شخص سره محبت لري تر دې چې وروسته الله تعالی همدغه کس په ځمکه کې هم محبوب وګرځوي.

مرحوم اميرالمؤمنين د ساده مزاج او تواضع خاوند و، متکبر نه و، زموږ کور چې هغه وخت په سنګين کې و زما يو ورور و عبدالحليم نوميده چې مشهور په صوفي و، د مرحوم امير المؤمنين د پخواني جهاد د وخت شناخته و، نو امير المؤمنين صاحب همالته زموږ کور ته راغلی و، ډېر ښه عاجزانه مجلس به يې کاوه او کله به يې مزاح هم کاوه.

مرحوم امير المؤمنين صاحب په اسلامي غيرت سمبال شخص و، هيڅکله يې د اسلام دښمنانو ته تنزل ونه کړ. د ده د اسلامي غيرت په وجه الله تعالی د وفات تر وخته د اسلام د دښمنانو له قبضې څخه محفوظ وساته، سره له دې چې ټول وخت له افغانستان څخه ونه ووت او لکه حضرت عاصم رضی الله عنه چې الله تعالی د مشرکانو د قبضې څخه د مچيو په واسطه وساته الله تعالی د مرحوم امير المؤمنين هم همداسې حفاظت وکړ.

مرحوم امير المؤمنين صاحب د اسلامي قوانينو او احکامو په اجراء کولو کې ډېر قوي عزم درلود، اسلامي احکام يې پر خپل ځان، قريبانو او عامو مسلمانانو يو شان جاري کول. الله تعالی دې ټول خدمتونه ترې قبول کړي او الله تعالی دې قبر منور وګرځوي. آمين

**[1]د رهبري شورى غړى شيخ الحديث مولوي محمد شريف حقاني**

در سال ۱۴۱۹ هـ ق عدهٔ بشمول من خاکسار ارادهٔ ملاقات امیر المؤمنین وقت مـ محمد عمر مجاهد رحمه الله را داشتند. بمن وظیفه سپردند تا بحضور وی بنمایندگ از حاضرین مشکلات را بیان کنم. بعد از اینکه مجلس ختم شد، بمن و حاضری تأثرات مخصوصه رونما گردید. از جمله:

الف: در اطاق بالای کت و توشک فقیریکه لحاف خواب پشت سرش متکا گذاشت بود، بتواضع نشسته بود. عن عابس بن ربیعه قال: قال عمر بن الخطاب رضی الله عنه عل المنبر: ایها الناس تواضعوا فانی سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: من تواضع لـ رفعه. المعجم الاوسط ۸/۱۷۲.

---

(۱) د رهبري شورى د غړي شيخ الحديث مولوي محمد شريف حقاني صاحب تأثرات

په ۱۴۱۹ هجري قمري کال کې زما په شمول خو کسانو د وخت د امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحم الله سره د ملاقات اراده درلوده. ما ته يې وظيفه وسپارله تر څو د ملا صاحب په حضور کې د حاضرينو پ نمايندګۍ د دوی مشکلات بيان کړم. کله چې مجلس ختم شو، نو ما او نورو حاضرينو له مجلس څخه ځيني تأثرات واخيستل لکه:

الف: ملا صاحب په خپل اطاق کې په خپل کټ او فقيرانه توشک په ډيره تواضع ناست و، په داسې حال کې چې خپله د خوب بستره يې شاته تکيه کړې وه.

با: هيڅکله له هغه څخه تکبر نه محسوسيده او د تقوا آثار يې په څيره کې ښکاره ول.

جيم: په ملا صاحب سکوت غالب و او يوازې مقصودي يا ضروري خبره به يې کوله.

دال: په پوره حوصله او زغم يې خبرې ته غوږ نيو.

ها: خبره يې ربښتيني او اراده او عمل يې قاطعانه و. ټول هغه کارونه چې تر ده مربوط و اجراء يې کړل.

دا تأثرات يوازې زما عاجز نه و، بلکې ټول مجلس متأثر شو او تر اوسه حق ليدونکي اشخاص د هغه له بيلابيلو کردارونو متأثر دي.

ب: هرگز به وی احساس تکبر نه می شد و آثار تقوی بچهره اش رونما بود: عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من تواضع لله رفعه الله و من تکبر وضعه الله. المعجم الاوسط ۵/۱۳۹.

ج: سکوت وی غالب بود و تنها بر مقصود لب باز میکرد. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: رحم الله من سکت فسلم. مسند الربیع بن حبیب ۱/۲۹۷

د: با حوصله تمام سخن را گوش میکرد. و من حسن الخلق أن یحسن الاستماع کما یحسن الکلام.

ه: کلامش صادق و اراده و عملش قاطع بود و همه چیزیکه به وی مربوط بود اجراء کرد.

این تأثرات در قبال وی تنها ازمن خاکسار نبود بلکه همهٔ مجلس متأثر شدند، و تا کنون افراد حقبین از کردار های مختلف وی متأثر اند.

## د رهبري شوری غړی او د سیاسی دفتر مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي

نحمده و نصلی علی رسول الکریم و علی آله و صحبه أجمعین و بعد:

د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په باره کې زما تأثر دا دی چې زما شناخت له مرحوم ملاصاحب سره د تحریک په اول کال د کندهار ښار له فتحې وروسته پیدا شو. د ملا صاحب مرحوم په وجود کې ډېر خصوصیات موجود وو. مثلا د ملا صاحب شجاعت او سخاوت دوه داسې بارز صفتونه وو چې هیڅوک ترې انکار نه شي کولای. که به یو عادي مجاهد هم درخواست ورته وکړ، ملا صاحب مرحوم کوښښ کاوه چې مشکل یې په اساسي ډول یا حد اکثر حل کړي.

د ملاصاحب بل صفت حق پالنه او حقانیت و، که به ملا صاحب ته یو شی معلوم شو چې دا د اسلامي شریعت مطابق عمل دی په ټول توان یې د هغه حمایت کاوه. د ملا صاحب بل صفت چې دی یې ډېر محبوب گرځولی و. هغه د ده مهرباني او له تکبر ځان ساتل و. بې نهایت متواضع او له تکبر او غرور څخه خالي شخصیت و. باید د ملا

صاحب دغه خصوصيات د تاريخ په زرينو پاڼو کې ثبت او د همیشه لپاره پاتې شي او باید اسلامي امارت ټول مشران او کشران د ملا صاحب مرحوم په دغو صفاتو خپل ځانونه متصف کړي.

## د هرات پخوانی والي ملا خير الله خير خواه صاحب

ملا صاحب څو ډېر ښه خصوصيات درلودل، که یو څوک قائد جوړېږي باید چې دې صفاتو ته ډېر متوجه واوسي. اول دا چې خلوص النية يې درلود. په هغه وخت کې په افغانستان کې ډېر اختلافات موجود و. حتی د همدې طالبانو او عالمانو په منځ کې یو د اختلافاتو ماحول و. ډيرو خلکو کوښښونه وکړل چې دغه اختلافات او تفرق ختم کړي خو نتيجه يې ورنکړه. خو هر چا ته معلومه ده چې دا د ملا صاحب د اخلاص النية ثمره وه. بلکې د ملا صاحب د شخصيت د لوړوالي يوه لويه نښه او دليل همدا دی چې څرنګه دومره خلک پسې روان شول. له مختلفو تنظيمونو او ډلو څخه خلک راووتل او ټول د ملا صاحب تر قيادت لاندې په متحد صف کې سره ملګري شول.

بله دا چې په ملا صاحب کې د قوميت پاللو ماده بالکل نه وه، يعني تر پايه په دې کې داسې شی احساس نه شو چې څوک ووايي چې ده قوميت پاللی وي او دا يو لوی درس دی د هر چا لپاره چې باید له دې څخه ځان وساتي.

بل دا و چې د ملګرو تر منځ يې فرق نه کاوه، هر ملګري ته په خپل ځای په قدر او اهميت قائل و. ملا صاحب په ملګرو واکمني هم درلوده او ورسره يې بې تکلفه چلند کاوه کله به يې له ملګرو سره ښه خوشطبعي هم کوله، خصوصا ما به ورسره همیشه مخامخ يا په مخابره کې په ډېر خوشطبعي مجلس کاوه.

خو په ځينو اصولي مسائلو کې به که چا اعتراض يا انتقاد درلود ملا صاحب په پوره وضاحت اوريده. يو وخت کې زه په هرات کې وم. د سپين بولدک د خلکو څه شکايتونه را ته ورسيدل. بيا ما توند او له اعتراضونو ډک خط وليکه او د طيب اغا په لاس مې ملا صاحب ته ولېږه. بيا ملا صاحب ملا محمد يونس آخند پسې راولېږلی و چې ده ته ووايه دلته راشه. بيا چې زه ورغلم، هلته متوکل صاحب هم ناست و. ملا

صاحب وویل هغه خط تا رالیږلی و. ما ورته وویل: هو. ده راته وویل په دې خط خو به له ما سره محکمې ته ځې. ما ورته وویل: سمه ده پروا نشته. چې محکمې ته لاړ شو هم همدا ټول شیان درته وایم چې دا پېښ شوي دي. بیا مې د انتقادونو په تفصیل شروع ورته وکړه او هر یو مې بیان کړ. ملا صاحب په ډېره حوصله او زغم سره زما انتقادونه واوریدل. او بیا یې وویل دا څه دې چې وویل دا ربښتیا دي. خو دا چې ما دا ځیني کارونه نه دي کړې په هغه کې دا حکمت و. بیا یې خپل دلائل وویل. یو ځای د دوو ولسوالیو تر منځ څمکه ویشل شوې وه خو په نقشه کار نه و شوی. ما چې دا خبره په تفصیل بیان کړه، ده ومنله او سمدستي یې قضایای امارت ته مکتوب ولیکه چې هلته نقشه عملي کړي. نو ملا صاحب دا مزاج درلود چې هر څومره توند انتقاد یې هم زغملی شوای او چې کله به وضاحت ورته وشو بیا یې جدي اقدام کاوه او پخپله یې موضوع تعقیبوله.

## د رهبري شورى غړی او د دعوت او ارشاد کمیسیون مشر مولوي امیرخان متقي

دا یو واقعیت دی چې ستر شخصیتونه الله تعالی د خپل فضل او کرم له مخې د لوړ ظرفیت، عمده خویونو او د عزت، نصرت، کرامت او فتحې له اسبابو څخه برخمن کړي وي

مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله) سره چې زما څومره تعلق و او د هغه کړه وړه مې له نږدې لیدلي نو څو داسي ځانګړتیاوې مې په مرحوم ملا صاحب کې لیدلي چې د راتلونکو نسلونو لپاره د مبارزې یوه ښه تګلاره تري جوړیدای شي د مثال په ډول:

۱ ــ ملا صاحب (رحمه الله) تر ډیرو خبرو ډېر عمل ته ترجیح ورکوله یعني قَوَّال نه بلکې فعال و، خبرې یې کمې مگر عمل یې زیات و.

۲ ــ د کار او عملي میدان سړي یې خوښېدل او د کار سړی ته یې توجه کوله هغه که به هر څوک و او که به د کار ډېر سړي په یوه سیمه، ولایت، ولسوالی یا قوم کي په نظر

ورغلل نو هم یې د مسئولیتونو په ور سپارلو کې دا پروا نه کوله چې بیا به د نورو سیـ
خلک پرې گیله وکړي.

۳ ـ چې په چا کې به یې د باطني خبث او ظاهري خیانت نښې ولیدې بیا یې هغه کس
مخې ته نه دی پرې ایښی که به هرڅومره لوړ او معتبرهم و.

۴ ـ له قوم پرستي نه یې سخته کرکه درلوده او چې چا به د قـوم پرسـتي مـزاج درلـود
کار اهل یې نه گاڼه.

۵ ـ د خپل ځان د آسایش، راحت طلبي او د خپلوانو د واکمنولو فکر یې نه درلود.

٦ ـ په عملي کړو وړو او داسي خبرو چې الفاظ پراني نه بلکې د زړه له تله به یې کول
په ملگرو او پیروانو کې د تزکیې او پاک سیاست او خدمت فکر پیدا کاوه.

۷ ـ د سختي او فشار په وخت کې تر رعب او ویرې لاندې نـه راتـه، د هـیڅ ډول زو
زر او تزویر په مقابل کې یې دریځ نه بدلاوه.

۸ ـ د مجاهدینو له حاله یې ځان با خبره ساته حتی د شپې به یې هم تر ناوخته مخاب
چالانه ساتله.

۹ ـ د پوخ یقین او ټینگ عزم څښتن و، فوق العاده توکل یې درلود، له وهم او تذبذ
نه خلاص و.

۱۰ ـ له خپلو ملگرو او عامو مسئولینو سره یې داسي برخورد کاوه چې هریوه بـه داس
فکر کاوه چې زه ډېر ور نږدې یم خو په عین حال کې یې دا فکر هـم درلـود چې ک
غلط پل کیږدم نو حتما به توبیخ او تهدید شم.

د ... لوړی کتابتون

## د رهبري شورى غړى قاري دين محمد حنيف[1]

وقتيكه تحريک اسلامي طالبان آغاز و مطبوعاتى گرديد همزمان طلاب مدارس دينى، جوق در جوق به اين كاروان پيوستند. هر يک از سنگر برميگشت پيام مثبتى بر ديگران داشتند كه باعث تشويق همگان شده و با سرعت تحريک اسلامى طالبان افغان شمول گرديد.

در آن وقت، طلباى اكثر ولايات كشور تحت عنوان جميعت طلبه اهل سنت والجماعة نظم و انسجام نيز داشت.

همان بود كه در ماه حوت همان سال بعد از فتح ولايت خوست،مايان (طلباءبدخشان) باتشكيل ۱۱۷ نفرى عازم ولايت مذكور شديم كه از جمله شش و يا هفت نفر آن به اساس فيصله شوراى ولايت بصفت (وفد) وظيفه داشتيم با محترم ملا محمد عمر (مجاهد) و ديگر افراد كليدى تحريک اسلامى ديدار نمائيم تا از اهداف اين جريان با خبر باشيم.

---

د رهبري شورى غړى قاري دين محمد حنيف صاحب

(۱) د رهبري شورى غړى قاري دين محمد حنيف، نو په دې وخت كې د ديني مدارسو طالبان كله چې د طالبانو اسلامي تحريک پيل او خبره يې مطبوعاتي شوه، ډلې ډلې له دې كاروان سره يو ځاى كيدل. هر طالب به چې له سنگر څخه راستنېده نورو ته يې مثبت پيغامونه راوړل، چې د ټولو د تشويق باعث جوړيدل او په ډير سرعت سره د طالبانو اسلامي تحريک افغان شموله شو.

په هغه وخت كې د اكثرو ولاياتو طالبانو د (جمعيت طلبه اهل السنة والجماعة) تر عنوان لاندې نظم او انسجام درلود. همدا و چې د هماغه كال (۱۳۷۳ هـ ش) په حوت مياشت كې د خوست له فتحې وروسته موږ (د بدخشان طالبان) چې شمير مو ۱۱۷ كسانو ته رسيدو خوست ولايت ته راغلو. د ولايت د شورى د پريكړې په اساس شپږ كه اوه نفره د هيئت په حيث وټاكل شوو تر څو د اسلامي تحريک له مشر ملا محمد عمر مجاهد او د تحريک له نورو كليدي افرادو سره ووينواو له اهدافو يې ځان خبر كړو.

در قندهار اول با حاجی ملا محمد حسن آخند که در ابتدأ والی قندهار بود، ملاقات
داشتیم. مجلس با ایشان تفصیلی و اطمنان بخش بود و فردای آن روز در مقر ولایت
به زیارت محترم جناب ملا محمد عمر (مجاهد) شرف یاب گردیدیم. جالب اینکه
تفتیش و بازجوی و نه حاجب و دربان وجود داشت. وقتیکه داخل اطاق دفتر شدیم
همه با شمول ملا صاحب خاموش نشسته، شبیه مراقبت های أهل تصوف را داشت.
این در حالی بود که دو روز قبل طالبان کنترول چارآسیاب و نواحی کابل را از دست
داده بودند و اولین باری بود که عقب نشینی چند کلومتری را تجربه میکردند. بعد از
مصافحه و تعارف ملاصاحب صحبت مختصر فرمود.

بهر صورت در طول مدت زمان تحریک و حاکمیت پنج ساله امارت اسلامی که اول
بصفت وزیر پلان و بعدا وزیر تحصیلات عالی ایفای وظیفه نمودم ملاقاتهای و دیدار
های متعدد که با محترم ملا صاحب داشتم، چندین صفات را در ایشان مشاهده نمودم
که قرار ذیل است:

---

په کندهار کې مو لومړی له حاجي ملا محمد حسن آخند سره چې په ابتداء کې د کندهار والي و، ملاقات وکړ. له هغه سره مجلس تفصیلي او ډاډ ببنونکی و. د هغې ورځې په سبا مو د ولایت په مقام کې له جناب محترم ملا محمد عمر مجاهد سره مجلس وکړ. جالبه دا وه چې نه تفتیش او پلټنې او دربان یا پیره دار شتون درلود. کله چې دفتر ته داخل شوو، نو ټول خاموش ناست وو لکه د اهل تصوف د مراقبې په شان. دا هغه وخت و چې دوه ورځې وړاندې طالبانو د چهار اسیاب او کابل په شاوخوا کې د ځینو سیمو کنترول له لاسه ورکړی و او په لومړي ځل یې څو کیلومتره شاتګ کړی و. له روغبړ او تعارف وروسته ملا صاحب مختصرې خبرې وکړې.

د طالبانو د اسلامي تحریک او بیا اسلامي امارت د پنځه کلنې واکمنی په موده کې چې ما لومړی د پلان وزیر او وروسته د عالي تحصیلاتو د وزیر په حیثب وظیفه اجراء کوله، له محترم ملا صاحب سره مې متعدد ملاقاتونه شوي او په دې موده کې مې چې د نوموړي کوم صفات لیدلي په لاندې ډول یې عرض کوم.

## زندگی فقیرانه

یقینا در دنیای معاصر زعماء و رهبران سیاسی زندگی مرفه، پرهزینه و صفره رنگین دارند، مگر صفره ملا محمد عمر (مجاهد) بحدی کمرنگ بود که اکثر اوقات سبزی، بامیه و یا کچالو با نوشابه دوغ دیده میشد. کسانیکه باایشان شناخت قبلی نمیداشت درمیان انبوه نفر برایش مشکل بود که از سر وضع ساده و عادی که داشت، آنرا از دیگران تفکیک و شناسای کند. این بود زندگی ساده و فقیرانه آن.

## انتقاد پذيري

هر گاه شکایت و یا انتقاد دلیل موجه میداشت ملا صاحب آنرا با جبین کشاده میپذیرفت. چنانچه در دو مورد جداگانه شکایت و انتقاداتیکه داشتیم یکی آنرا طور نمونه قابل ذکر میدانم که ازین قرار است. روز های اول فتح کابل کم کم بی نظمی و

---

فقیرانه ژوند

شک نشته چې په معاصره دنیا کې سیاسي رهبران او مشران بامصرفه او مرفه ژوند او رنگین دسترخوان لري. مگر د ملا محمد عمر مجاهد دسترخوان ( خوراک) تر دې حده ساده او کمرنگ و چې ډیری وخت به یوازې سبزي، بامیه او یا کچالو له شرومبو سره وربانديې لیدل کیدل. چا چې به له ملا صاحب سره پخوانی شناخت نه درلود، نو د نورو خلکو په منځ کې به ورته سخت و چې نوموړی له نورو خلکو تفکیک کړي یا یې وپيژني چې دا امیر المؤمنین دی، ځکه وضع یې ډیره عادي او ساده وه.

انتقاد اوریدل

هرکله به که چا شکایت یا موجه انتقاد درلود، ملا صاحب په پراخ تندي قبلاوه. لکه څنگه چې موږ په دوو جلا جلا مواردو کې شکایات او انتقادات درلودل، چې دلته یې د نمونې په ډول ذکر کوم. د کابل د فتحې لومړنۍ ورځې وې، څه بې نظمي او خودسری ځای ځای ښکاره شوې،همدا راز په دولتي اداراتو کې د ځینو مشکوک الحاله څیرو شتون چې له اسلامي تحریک سره یې مناسبت نه درلود د طالبانو د دلسردۍ باعث شوي وو. فیصله پر دې شوه چې همدا شکایات او اصلاحي انتقادات په مستند ډول را ټول او له محترم ملا صاحب سره به یې شریک کړو تر څو مو خپل مسؤلیت اداء کړی وي.

خودسری از اینجا و آنجا سر بلند کرد و نیز وجود بعض از چهره های مشکوک الحال در بعض از ادرات دولتی که چنین حالات با اهداف تحریک سازگاری نداشت و باعث دلسردی طلباء گردید. فیصله بر آن شد، شکایات و انتقادات اصلاحی را طور مستند جمع آوری نموده با محترم ملا صاحب از نزدیک شریک سازیم تا ادای مسئولیت کرده باشیم. همین بود که ۱۳ مورد شکایات تهیه و ترتیب دادیم. همین بودکه چند نفر باهم یکجا شده موضوعات جمع آوری شده را از نزدیک با ملا صاحب شریک ساختیم. در ابتدا مجلس ملاصاحب نسبتا لحن تند داشت مگر با ارائه دلیل لهجه اش تغیر کرده نرم شد. در نتیجه بعض ازین موارد را پذیرفت و وعده اجرأات را داد و در بعض دیگری ما را قناعت داد که مجلس با قناعت و رضایت طرفین پایان یافت.

جدیت در کار و مدیریت:

---

همدا و چې ۱۳ مورده شکایات مو تهیه او ترتیب کړل، څو نفره را یوځای شوو او را ټول شوي موضوعات مو له نږدې له ملا صاحب سره شریک کړل. د مجلس په پیل کې د ملا صاحب لهجه یو څه تونده وه، مگر زموږ لخوا د دلیل له وړاندې کولو وروسته یې لهجه بدله او نرمه شوه. د مجلس په نتیجه کې نوموړي ځینې شکایات او موارد ومنل او د اجراآتو وعده یې وکړه او په ځینو نورو کې یې موږ ته قناعت راکړ، تر دې چې مجلس د طرفینو په قناعت او رضایت پای ته ورسید.

همدا و چې ۱۳ مورده شکایات مو تهیه او ترتیب کړل، څو نفره را یوځای شوو او را ټول شوي موضوعات مو له نږدې له ملا صاحب سره شریک کړل. د مجلس په پیل کې د ملا صاحب لهجه یو څه تونده وه، مگر زموږ لخوا د دلیل له وړاندې کولو وروسته یې لهجه بدله او نرمه شوه. د مجلس په نتیجه کې نوموړي ځینې شکایات او موارد ومنل او د اجراآتو وعده یې وکړه او په ځینو نورو کې یې موږ ته قناعت راکړ، تر دې چې مجلس د طرفینو په قناعت او رضایت پای ته ورسید.

په کار او مدیریت کې جدیت

معلومه خبره ده چې په جنګي شرائطو کې په ځواک لرونکو افرادو د قانون تطبیق، د امنیت تأمین او نظم

مسلما در شرائط جنگی تطبیق قانون بالای افراد زورمند، تأمین أمنیت و آوردن نظم، کار سهل نیست. گذشته را بیاد داریم که بعض از قوماندانان جنگی وابسته به تنظیم های جهادی سابق خودسری و بی بندوباریهای داشتند که عام مردم رابستوه آوردند. و سران تنظیم های جهادی نتوانستند و یا بنا بر مجبوریت جنگی و یا مصلحت های دیگری که داشتند نخواستند آنها را مهار کنند. همین بود که باعث نفرت و انزجار مردم گردیده، در نتیجه همه ازایشان فاصله گرفتند. در صف امارت اسلامی نیز گاه گاهی افرادی سر بلند میکرد که حرکت های آزار و اذیت کننده داشتند. مگر بر خلاف دیگران ملا محمد عمر (مجاهد) با قاطعیت که داشت بهمچو افراد زیاد وقت نمیداد، هر گاه شکایات مردم بالا میشد فی الحال دست بکار شده کلا و یا قسما آنها را مهار مینمود.

همچنان دقت و احتیاط در تصامیم، همت عالی و عزت النفس و سخاوت و جوانمردی از برجسته ترین صفات مرحوم ملا صاحب بود که بهمه آشکار است.

د کتاب پلورنځی

---

راوستل آسانه کار نه دی. که تېره (تنظیمي دوره) را په یاد کړو چې له تنظیمونو سره تړلیو جنګي قومندانانو خپلسرۍ او داسې بې بندوبارۍ کولې چې خلک یې ستومانه کړي وو، مګر د جهادي تنظیمونو مشرانو نه شوای کولای او یا یې د جنګي مجبوریت او نورو مصلحتونو په اساس نه غوښتل چې مهار یې کړي. همدا و چې د خلکو نفرت ورسره پیدا شو، ترې بیزاره شول او ټولو ترې فاصله ونیوله. د اسلامي امارت په صف کې به هم کله ناکله ځینو افرادو سر پورته کاوه چې خلکو ته به یې تکلیف او اذیت رساوه. مګر ملا محمد عمر مجاهد د نورو برخلاف د خپل قاطعیت له مخې داسې افرادو ته ډېر وخت نه ورکاوه. هرکله به چې د خلکو شکایت پورته شو، داسې افراد یې په یومخیز یا قسمي ډول کنترولول.

همدارنګه په پریکړو کې دقت او احتیاط، لوړ همت، عزت النفس، سخاوت او ځوانمردي د ملا صاحب له مهمو صفاتو ښخه وو چې ټولو ته ښکاره دی.

## د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال لوی درستیز ملا محمد فاضل مظلوم صاحب تأثرات

کله چې طالبان په لومړیو کې راپورته شول، په مدارسو کې د امارت سره د طالبانو د یوځای کیدلو اړوند غونډې کیدلې، ما دغه وخت سبقونه ویل، خبر شوم چې د طالبانو تحریک راپورته شوی، هلته د حرکت انقلاب اسلامي تنظیم مدرسه وه، چې لویه غونډه په کې جوړه شوې وه، زیات طالبان راټول شوي وو موږ هم ورغلي وو، په هغه غونډه کې علماؤ تقریرونه وکړل او له تحریک سره د وصل کیدو خبرې یې وکړې.

موږ له هغې مدرسې څلورسوه طالبان راغلو بولدک ته د ماسپښین لمونځ مو په ویش کې وکړ، وروسته له هغه ځایه تخته پل او بیا کندهار ته راغلو . هغه مهال لار ټوله د هغه وخت د شر او فساد د ټوپکیانو تر لاس لاندې وه . کله چې د طالبانو تر واک لاندې سیمې ته راورسیدو، هلته یو کوچنی مسجد و په همدې مسجد کې مرحوم امیرالمؤمنین، ملا بورجان اخند، ملا محمد اخند او یو څه نور ملګري راټول شوي وو، همدا مو له مرحوم امیرالمؤمنین سره لومړی لیدنه وه او له همدغه ځایه له دې سپیڅلي تحریک سره یو ځای شوم.

له مرحوم امیرالمؤمنین سره تر لومړی لیدنې وروسته په همدغه ځای کې ټولې ټولی طالبان راټول شول او له یو مشر سره به په ډلګۍ کې یوځای کیدل، موښږ څو طالبان هم د مرحوم امیرالمؤمنین د جهاد د وخت د ډلګۍ له ملګري قاري عبدالسلام صاحب سره چې د میوند ولسوالۍ د کشک نخود اوسېدونکی و یو ځای شوو. دغه مهال د پاشمول په سیمه کې د صالح په نوم قومندان باندې جنګ شوی و، ښار د ګل اغا او ملا نقیب په لاس کې و. موږ به همدلته په مسجد کې وو. یوه ورځ ماسپښین مهال ملاصاحب راغی ، طالبانو ته یې څه خبرې او نصیحت وکړ، له طالبانو یې غوښتنه وکړه چې ترپایه له تحریک سره یو ځای پاته شي ویې ویل چې: په نیمایي کې مو ملا راماته نکړئ او د نیمې لارې ملګرتیا راسره مه کوئ.

مرحوم ملاصاحب دغه مهال له ډلگیو یو شمیر طالبان راټولول، زمونږ په ډلگۍ کې ۳۰ تر ۳۵ پورې ملگري وو له هغو یې ٦ کسه انتخاب کړل چې زه او قاري عبدالسلام صاحب هم پکې وو.

هغه مهال به ملا صاحب په سپین بایفور موټر کې گرځېده او له ملگرو سره یې ۲ ثقیلان هم وو چې د کندهار حاجي بشر ورکړي وو، زما له ثقیل سره ډیر شوق و او له ملاصاحب نه مې غوښتنه وکړه، ملا صاحب راته وویل : طالبه! چې پیدا یې کړم د یو پر ځای به دوه درکړم.

موږ ته پر دغه ځای ملاصاحب څه خبرې وکړې، داسې معلومیده لکه پر کوم ځای چې عملیات وي خو د جگړې یادونه یې ونکړه ، البته مونږ یې له خبرو وفهموله چې څه اراده لري، خو تر هغه وروسته حاجی ملا محمد اخند په خپلو خبرو کې د پروگرام یادونه وکړه او څو سپارښتنې یې وکړې.

د پروگرام عمومي مشر حاجي ملا محمد اخند ټاکل شوی و، دوه لوی موټر یې راوستي وو، د یوه موټر مشر ملا عبدالخالق اخند و او د بل ملا محمد اخند و ، خو د جگړې او پروگرام د ځای یادونه یې بیا هم ونکړه.

په دې لویو موټرو کې طالبان سپاره شول موټر له دغه ځایه روان شول بولدک ته نارسیده مو د ماسپښین لمونځونه وکړل او همدلته یې راته ښکاره کړه چې مونږ پر بولدک حمله کوو.

د حملې لپاره د ملا عبدالخالق د موټر ملگرو ته د محکمې پرسیمه د اخترجان پر اطاق د حملې پلان ورکړل شو او زمونږ د موټر ملگرو ته د غلام محمد پر قرارگاه د برید پلان راکړل شو.د جگړې سیمې ته مازدیگر مهال ورسیدلو ، د ملا عبدالخالق دوی موټر پر څنځیر ورته ودرید او مونږ پر قرارگاه جگړه پیل کړه، لږ ساعت وروسته مو دغه ځایونه له مهماتو او اسلحو سره ونیول.

یوه یادونه ضروري بولم هغه دا چې ملا صاحب مرحوم او حاجی ملا محمد اخند هغه مهال نه غوښتل چې دغه ټوپکیان مړه کړي، یوازې یې غوښتل چې سیمه ترې پاکه

کړي. موږ ته يې سپارښتنه کوله چې که په جګړه کې ورسره ښکيل شوئ نو په پښو
ولئ.

دوهمه ورځ دغې سيمې ته ملا صاحب او ملا بورجان اخند هم راغلل، زه پرې تير
يو کلاشينکوف او يو ثقيل راسره وو، ملا صاحب مرحوم راباندې غږ کړ: طالبه ثق
دې لکه چې پيدا کړی؟ ما ورته و ويل : هو کې! ثقيل مې پيدا کړ. هغه رانه د
پوښتنه وکړه، چونکې زما پتو د راتګ پر مهال له موټر څخه لويدلی وو ما ورته وو
چې هغه په لاره کې له موټره رانه ولويده، بيا يې قاري عبدالسلام صاحب ته پيس
ورکړلې چې پتو ورته رانيسه، دا د ملا صاحب يو شفقت و چې د عادي طالب د
غم يې هم پخپله کاوه، نور ملاصاحب او ملا بورجان اخند لاړل.

موږ څو ورځې همدلته تيرې کړې،وروسته د کندهار جګړه پيښه شوه او کندهار ښ
مکمل فتحه شو. له هماغه وخته مو د امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد تر مشر
لاندې په اسلامي امارت کې خدمت پيل کړ، چې وروسته مختلف مسؤليتونه راوسپار
شول.

د مرحوم ملا صاحب د وضعيت په اړه به دومره و وايم چې هغه لکه د رسول (صل
الله عليه وسلم ) د زماني غوندې هر مشر او کشر سره يې داسې اړيکه وه چې هر چ
به دا ويل چې له ما زيات څوک نه دی پر ګران، ملا صاحب د يو باتدبيره نظام
مسئول په څير هره شيبه له مختلفو لارو د جګړې ليکې څارلې، د بريا او ملګرو
ساتنې پوره پوره هڅه به يې کوله.

همداراز د ملا صاحب په اړه به د يوې خاطرې په توګه و وايم چې يو مهال زه د جبل
سراج پل متک په سيمه کې وم، مشر ملا صاحب کابل ته راغلی و، دا مهال چا زما د
مشکلاتو او زيات مصروفيت اړوند ورته ويلي و. زما په غالب ګمان چې قومندان
صاحب انور ډنګر ورته ويلي و. بيا ملا صاحب راغی د ستړياوو او تکليفونو په
مناسبت يې پوښتنه وکړه ، او له هر مسئول سره يې جلا جلا وليدل او د هر چا غږ يې
واورېد او د مجاهدينو له مشکلاتو يې په خپله ځان خبر کړ.

مرحوم اميرالمؤمنين هر چا ته د هغه د وړتيا په مناسبت مسئوليت سپاره، هغه ته هيڅ رنګ واسطه يا نور کوم مناسبتونه ملحوظ نه ول، يوازې او يوازې د هغه کس وړتيا ته به يې کتل هغه که به بيا هر څوک و وظيفه به يې ورکوله.

يوه ورځ لويه شورى وه ، هغه رحمه الله وويل : زه به له يو مسلمان سره هم بې وفايي ونکړم، که پوه شم چې يو مسلمان په بل ملک کې دى خو هغه تر تاسو د شريعت زيات پابند وي، زه به تر تاسو له هغه سره زيات محبت ولرم او هغه ته به زيات اهميت ورکړم، زمونږ او ستاسو تر مابين فقط اسلام ملحوظ دى. ملا صاحب ماده پرست او د قدرت جاه او مرتبې شوقي نه و.

د امارت د سقوط په وروستيو ورځو کې يوه ورځ کله چې د امريکا نړيوال تجارتي سنټر باندې بريد شوى وو زه، ملا برادر اخند، ملاعبدالحق وثيق او يو شمير ملګري ننګرهار ته لاړو بيا د مولوي جلال الدين حقاني صاحب ليدلو لپاره خوست ته ورغلو چې شهيد نصيرالدين حقاني او غالبا سراج الدين حقاني صاحب مو هم وليدل او زمونږ يې ډير دروند استقبال وکړ، هلته مو له حقاني صاحب سره د راتلونکي جهاد اړوند ښې او ګټورې سلا مشورې وکړې. وروسته کندهار ته راوګرځيدو. په کندهار کې زه او ملا برادر اخند مشر ملا صاحب ته ورغلو، بيا يو ځاى ته له هغه سره په موټر کې روان وو چې هغه مرحوم په لاره کې يوه پيشګويي وکړه ؛ هغه وويل چې: ځينو خلکو د طالبانو د اسلامي نظام ناشکري وکړه خداى جل جلاله به يې ترې واخلي، خو يو څه مشکلات او تکليفونه به راځي البته بيا به د هغو تکاليفو به بدل کې الله جل جلاله اسلامي نظام راکوي او اسلامي نظام به را اعاده کيږي.

د مشر ملا صاحب په اړه به دومره ووايم چې اکثر وخت د نظامي عملياتو لپاره پلان او تشکيل ملا صاحب ټاکلو او اکثر وخت به کامياب و، ډير کم به داسې و چې بريا به مو نصيب نه شوه هغه هم د ساحې د نابلدتيا له امله به يې داسې پريکړه کړې وه.

همدا راز يوه ورځ مونږ له کابله کندهار ته راغلي وو د شمال د جګړې لپاره چې تشکيل هغه ورځ هم د ملا صاحب له لوري مونږ ته راکړل شو دوه تشکيله وو، يو د

زاړه سرک له خوا دوهم د کوه صافي له لوري چې د کوه صافي له لوري ملا عبدالقیوم ذاکر صاحب مشر و او له دا دوهم لوري زه وم.

یوه یادونه باید وکړم چې ملا صاحب کله داسې ټاکل کول چې یو کشر به یې په لوړو مسئولینو مشر ټاکلو خو چا به یې هم مخالفت نه کولو، لکه په همدغه جګړه کې د رئیس الوزراء معاون مولوي عبدالکبیر صاحب د یوې قطعې د مسئول چې محترم ذاکر صاحب و تر امر لاندې راتلو خو هغه یې په تمامه معنی اطاعت کاوه.

هغه ډیر متقي انسان و، پر خلکو زړه سواندی، مشفق او رحم کوونکی انسان و، ماده پرست نه و او قوم پرست هم نه و. موږ ته به یې تل د ولس د حفاظت او له هغوی سره د ښې رویې امر کاوه او همدا به یې له موږ غوښتنه وه.

د هغه د وفاداري په اړه به دومره ووایم چې په خپل نظام کې یې تر بل هر چا زخمیانو او د شهیدانو کورنی ته زیاته توجه وه هغه مهال به که په یو عادي زخمي لکونه مصرف راتلو نو منع به یې نه کول او هغه به یې ضرور ورکول.

د مشر ملا صاحب د جګړې د کرښې له مخالفینو سره د ښه چلند او تعامل په اړه به زما د سترګو لیدلې کیسه درته وکړم، په وریښمین تنګي کې د مخالفینو یو زخمي طالبانو راخیستی و په هغه باندې ډیر زیات مصرف راغی خو بیا هم ملا صاحب هغه مصرف ورکړ او د یاد مخالف کس تداوي یې وکړه.

ملا صاحب عادي بې تکلفه ژوند درلود، هغه به کله له مونږ سره په خپل پټو (څادر) ناست و کله په عادي کټ او کله به بیا په ځمکه په سپیرو خاورو راسره کښیناست. د هغه یو ساده دفتر و، له هغه داسې نه انګیرل کیدله چې یو مشر یا یو واکمن دی بلکې د عادي خلکو په څیر بلکې لا له هغوی یې هم عادي ژوند درلودلو.

هغه ویل کفار ماته هر څه راکوي که زه د دوی په خوښه ژوند وکړم او مادیاتو ته وګورم زمونږ دغه نظام به هم وي واک او قدرت به مو هم وي خو آخرت کې به مو بیا دا شیان په ګټه نه وي. زه پوهیږم چې زمونږ نظام به ړنګیږي خو د اسلام ښکته والی نشم منلی مونږ باید دین ته وفادار اوسو.

ډیر کله به چې د نظامیانو له لوري کوم مسئول یا طالب خپه شو هغه به ملا صاحب خپله خوشاله کاوه هغه نه سمتي، نه ژبني، او نه قومي توپیر کولو، هغه ته تر ښې مسلماني او تقوا پرته بل هیڅ شی مهم او مطرح نه و. الله تعالی دې رحم پر وکړي.

## د رهبري شورى غړى ملا عبدالقیوم ذاکر صاحب

مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په اصولي موضوعاتو کې ټینګ خو په نورو چارو کې د نرم دریځ خاوند و، کله کله هغه څوک چې امیرالمؤمنین یي سم نه وي پیژندلی، وایي چې هغه سخت دریځه وو، او پر خپله خبره به په هر حالت کې ټینګ ولاړ و. خو خبره داسي نه وه، بلکه امیرالمؤمنین په دیني، اسلامي اومذهبي چارو کې (لکه د شیخ اسامه موضوع)، پر دریځ ټینګ او ترخبره نه تیریده. په نورو خبرو کې ډېر نرم متواضع، قانع، او هر ډول خبره او عذر منونکی و. یو وخت د تخار پر خواجه غار باندي جګړه وه، زه ور روان وم، پر لاره مې موټر په ماین کې وخوت، یوه پښه مې ماته شوه، کابل ته یي را انتقال او په ۴۰۰ بستریز روغتون کې تر درملنې لاندې وم، د اسلامي امارت دفاع وزیر حاجي ملا عبیدالله آخند راغی او راته ویې ویل چې امیرالمؤمنین وایي چې په کندز کې قول اردو جوړوو، ته به د هغې د جوړیدو چارې سمبال او مصارف به یي چې لوی مقدار پیسې کیدلې ورکوې او ستا پر لاس به دا کار کیږي، ما ورته وویل چې زه دا کار نه شم کولای، او همداراز مې د قول اردو له جوړولو سره مخالفت وکړ، حاجي ملا عبیدالله آخند امیرالمؤمنین ته دا خبره کړې او هغه ورسره قناعت کړی و. بیا هغه قول اردو جوړه نه شوه. همداراز یي څو ځله د لویو منصبونو د مسؤلیت منلو لپاره پر ما باندي ټینګار کړی، ما ورسره نه دی منلی، قناعت مې ورکړی او هغه زما خبره راسره منلي ده. امیرالمؤمنین د لوړو اخلاقو، عزت او شرافت څښتن و، ډېر درونده شخصیت یې و، اسلامي امارت او افغانستان یي داسي رهبري کړ چې د هغه ساری نه و، او نه به وروسته راشي. پر عالیقدر امیرالمؤمنین رحمة الله علیه باندي داسلامي امارت مسؤلین دومره ګران وو او دومره محبت یي ورسره درلود لکه خپل ګران پلار چې له خپلو ګرانو اولادونو سره مینه لري. لوی الله دي له

اميرالمؤمنين څخه راضي اوهغه ته دي اعلی جنت ورکړي. آمين

## په سعودي کې داسلامي امارت پخوانی سفير شيخ الحديث مولوي شهاب الد دلاور صاحب

د طالبانو اسلامي تحريک له شروع نه مخکې ما په پيښور کې مدرسه درلوده، اته
شاوخوا طالبان راسره وو. کله چې د مرحوم ملا صاحب لخوا تحريک شـروع شـ
موږ ته يې حقيقت معلوم شو چې دا واقعا اسلامي تحريک دی او فساد لـه منځه و
نو موږ يې کلک ملاتړ وکړ. اولنی مدرسه په پيښـور کـې زمـا وه چې بنـده شـوه. ت
طالبان په تحريک کې د شموليت لپاره کندهار ته لاړل. زما په هغو شاگردانو کې ډې
يې وروسته په اسلامي امارت کې لوی لوی خدمتونه وکړل. لکـه شـهيد امير المؤم
ملا اختر محمد منصور صاحب، د هلمند والي شهيد ملا عبـدالمنان صـاحب او داس
نور مشـران مسؤلين. کله چې تحريک پيل شـو نـو مـوږ د مدارسـو علـماوو هلتـه لو
جلسه وکړه له اسلامي تحريک څخه مو ملاتړ اعلان کړ او بيا موږ د علماء کرامو
کسيز هيئت کندهار ته لاړو. هلته مـو د اول ځـل لپـاره د اسـلامي امـارت مؤسـس م
محمد عمر مجاهد وليد. پـه لـومړني ملاقـات کـې مـوږ تـه معلومـه شـوه. مـوږ چې
نوموړي د تواضع او فقيرۍ کوم تصور کړی و تر هغه زيات متواضع او حليم شخص
د ده له ټول وضعيت څخه معلوميده چې د دين درد ورسره دی او صرف د الله تعالی
رضا او دين د لوړتيا لپاره راپورته شوی دی. ملا صاحب د پاټکونو او گډوډۍ د وخ
کيسه وکړه. چې څرنگه او ولې يې دا قيام وکړ او د طالبـانو دا تحريـک څنگـه تـر د
ځايه راورسيد؟ ده وويل: موږ قصد کړی که يوه لويشت ځمکه هم نيسو پـه هغـه بـه
الله تعالی نظام حاکموو او شـريعت به نافذوو. په هماغه لومړني ملاقـات کـې چـې
کومه خبره کړې و د مرگ تر وخته په هغه قائم پاته شو. ملا صـاحب ډيـرې خبرې ن
کولې، مختصر بيان يې وکړ. بيا نورو علماء کرامو خبرې وکـړې. مـلا صـاحب تـه يـ
توصيې وکړې چې د پخوانيـو رهبرانـو او پروفيسرانو لـه برخليـک څخـه بايـد عـبر
واخيستل شي. ځکه اوس د ملت سترگې ستاسو خوا ته دي.

په دې ډول موږ د دې کاروان ملګري شوو او بيا مو په اسلامي امارت کې مختلف خدمتونه وکړل، په اولو کلونو کې درې نيم کاله زه په کندهار کې په تميز رياست کې وم. ورسره مې په جهادي مدرسه کې تدريس هم کاوه. هلته مو له ملا صاحب سره تګ راتګ او ليدل ډېر و.

د ملاصاحب دروازه د هر مظلوم پرمخ خلاصه وه، د ملاصاحب مرحوم پيغام او نصيحت به هميشه په مختصرو ټکو کې و، دا به يې ويل چې تاسو به هميشه د اسلام او دې مظلوم ملت لپاره کار کوئ، دين او مسلمان ملت په تاسو حق لري. له دنيوي اغراضو به ځانونه پاک ساتئ. ده به علماء کرامو ته دا خبره هم کوله چې تاسو علماء ياست او زه طالب يم، زما رهنمايي به کوئ. د قيامت په ورځ به زما لاس او ستاسو ګريوان وي.

ملا صاحب ډېر صفتونه درلودل، هغه په يوه دينداره او د عالمانو کورنۍ کې پيدا شوی و. نو طبعا ديندار و. خو زما لپاره يې يو صفت چې ډېر جالب و هغه دا چې دی يتيم پاته شوی و او ټول عمر يې د غربت زندګي کړې وه. دا قسم خلک طبعا په مالي امورو کې سخت وي. خو ملا صاحب يو عجيب سخاوت درلود. زه به يو مثال درته ووايم. کله چې زه به اسلام اباد کې سفير وم نو هلته يو زخمي مجاهد راغلی و د روزګان ولايت و نوم يې ولي جان اغا و. د ده په سينه کې مرمۍ بنده و او ايستل يې دلته ممکن نه و. خو په خارج کې يې د علاج امکان و. نو موږ د جرمني له سفارت سره وليدل، تر څو که ممکنه وي په جرمني کې يې علاج وشي. د جرمني سفارت د ده معاينات او ريپوټ جرمني ته وليږه او دوه هفتې بعد ځواب راغی چې هلته په کوم روغتون کې يې علاج ممکن دی خو اول به پنځوس زره ډالر د روغتون په اکاونټ کې جمع کوئ. نو دا پنځوس زره ډالر هغه وخت ډېر شي و او امارت ډېر مالي مشکلات هم درلودل.

نو ما ملا صاحب ته ټيلفون وکړ چې دلته يو زخمي طالب راغلی دی او په سينه کې يې مرمۍ بنده ده چې علاج يې په جرمني کې ممکن دی. خو شرط يې دا دی چې تر مخ پنځوس زره ډالر غواړي. ملا صاحب بې له تأمل څخه راته وويل چې له تاسره د

سفارت په خزانه کې پنځوس زره ډالر شته؟ ما ورته وویل هو شته راسره. ده وویل بس
هسې یې ورکړه چې د دې مجاهد علاج وشي.

نو بیا هغه طالب جرمني ته لاړ، هغه عملیات یې کامیاب شول، بیا مې په کندهار کې
ولید چې روغ جوړ شوی و او ډېر چاغ شوی و نو دا د ملا صاحب د ترحم او سخاوت
یوه بیلګه وه چې په لاس کې به یې یو شی و له چا څخه یې نه دریغ کاوه.

**د رهبري شورى غړی ملا نور الله نوري صاحب**

ملا صاحب څو صفتونه زما لپاره ډېر جالب و چې غواړم دلته یې یادونه وکړم

ـ ملا صاحب له هر چا سره ډېر اخلاص درلود. یو طالب یا مجاهد به د افغانستان د
ډېرې لرې سیمې و، په ټول عمر به یې لیدلی نه و، په ژبه، قوم او هیڅ به ورګډ نه و. خو
ملا صاحب به د مسلمانۍ په خاطر داسې اخلاص ورسره درلود لکه تر ټولو نږدې
ملګری.

ـ دوهم د ملا صاحب شفقت و. په هر چا خصوصا په مجاهدینو یې ډېر زیات شفقت
درلود. زه یوه واقعه به درته ذکر کړم. مونږ په لغمان کې و نو زمونږ یو ملګری و چې په
جهاد کې معیوب شوی و. د حج ورځې وې دې ملګري ماته وویل چې ته ملا صاحب
ته پیشنهاد وکړه چې یو معیوب ملګری د حج خواهش لري ګوندې د حج امر راکړي،
ما ملا صاحب ته په مخابره کې دا خبره وکړه. ملا صاحب هم دستي راسره ومنله چې
راویې لیږه. دلته یو بل مجاهد چې د پخواني جهاد په وخت کې یې پښه پرې شوې وه،
د هغه هم شوق پیدا شو او په ډېر اصرار یې وویل چې زما عریضه هم ورته وکړه. زه
اول زړه نا زړه وم چې ملا صاحب به وایي چې که ستا ټولو ملګرو د حج غوښتنه کوله
زه به ټول لیږم. خو بیا مې زړه وکړ او ملا صاحب ته مې بیا مخابره وکړه د دې دوهم
ملګري خواهش مې ورته بیان کړي. ملا صاحب پرته له خندا وویل: بس راویې لیږه او
په دې سره د دواړه مجاهدینو د حج ارمان پوره شو.

دغه رقم یې په زخمیانو او معیوبینو سخت ډېر شفقت درلود، که ووایم نیم امارت یې
پرې مصرفاوه، زما دوه ملګري ټپیان شوي وو، په افغانستان او پاکستان کې یې علاج

ونه شو، بیا ملا صاحب د امارت په هغه غریب حال کې جرمني ته د علاج لپاره واستول. تر څو که علاج یې وشي او الله تعالی شفاء ورکړي.

ـ ملا صاحب عامو مسلمانانو، غریبانو او په خاص ډول علماء کرامو ته ډېر درناوی درلود. د عامو خلکو د شکایت اوریدلو لپاره یې با صلاحیته هیئت تاکلی و چې په ولایاتو به گرځیده او د خلکو شکایتونه به یې اوریدل. دیني علماوو ته یې دومره احترام درلود. یو وخت زموږ د ځای یو عالم چې په پاکستان کې مهاجر و هلته وفات شوی و. کله یې چې جنازه کندهار ته راوړه، د ملا صاحب په امر یې له کندهاره د زابل شاجوی ته په څرخکه کې انتقال کړه. مطلب دا چې د خپل توان تر حده یې خلکو ته سهولت برابراوه.

ـ وفاداري یې درلوده، کوم ډلگی مشر به چې شهید شو. ملا صاحب به یې په انډیوالانو او قریبانو خاصه توجه ساتله. د هغوی سره به یې مرسته کوله تر څو یې ډلگی په خپل حال پاته شي. د هغوی نوي مشر ته به یې د شفقت غیږه خلاصه کړه، ډېر پام به یې ورباندې ساته تر څو مایوسه نه شي او د کمترۍ احساس ونه کړي.

ـ تقوی یې درلوده له الله تعالی څخه وېریده. شمال چې دوهم وار فتحه شو، نو هلته د دښمن ډېر بندیان نیول شوي وو. په پلخمري او شبرغان کې ډېر بندیان وو. ملا صاحب دا نه خوښول چې څوک په بند کې وساتي. دغه بندیان ټول د ده په اجازه آزاد شول.

ـ ملگرو ته به یې تل د خیر توصیه او نصیحت کاوه، موږ ته به یي تل په خپلمنځي ښه گذارۍ امر کاوه چې گورئ په خپل مابین کې ښه اوسیږئ په خپل مابین کې شفقت کوئ یو د بل احترام کوئ. دا به یې ویل چې پر خپلو ځانو پیره داران اوسئ یعنی خپلو اعمالو ته متوجه سئ چې اعمال مو خراب نه سي چې تقوا در څخه پاته نه سي.

څکه یوه ورځ عادي سړی وي بله ورځ وزیر وي یوه ورځ عادي سړی وي بله ورځ والي وي نو حتما فرق پکښې راځي. یو وخت کې یي ملگرو ته توصیه کوله یعنی د

تقوا په رابطه يي خبر ورته کوله هغه ورته ويل ملاصاحب ته له موږ څخه ملائکي جوړوې؟

ده په جواب کې ورته وويل والله دغسې مکلف يو تر دغه هم زيات مکلف يو، بايد به ځان کې اصلاح راولو.

## د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال د استخباراتو د عمومي رياست مرستيال ملا عبدالحق وثيق صاحب

په ملا صاحب مرحوم دې الله تعالی رحم وکړي، ښه ښه صفات يې درلودل خو يو صفت چې ډېر بارز و هغه عدالت و چې په کمزوري او قدرتمند، طالب او عام سړي يې بلاتوپيره جاري کاوه. د دې مثال زه درته وايم. په اول وخت د امارت کې ما د کندهار ولايت په امنيه قومندانۍ کې وظيفه اجراء کوله. هغه وخت په هرات کې ځيني مجاهدين يا امارت ته منسوب کسان چې د ځينو څواکمنو ډلګۍ مشرانو ملګري هم په کې وو په ځينو جرمونو ګرفتار شوي وو. هغه وخت معمول دا و چې د نورو ولاياتو مهمې قضيې به هم کندهار ته محول کيدلې. نو دغه نظامي کسان راوړل شول او له موږ سره دکندهار په توقيف خانه کې بنديان وو. چې کله يې قضيې محکمې ته وړاندې شوې، نو محکمې ورباندې کومه فيصله ونه کړه. دليل يې دا وايه چې د دې کسانو جرم او دعوی مکمله نه ده واضحه، نو تر څو چې مکمل وضاحت نه وي فيصله نه ورباندې کيږي.

يوه ورځ چې مې د ملا صاحب سره ملاقات و ملا صاحب د همدې نظامي کسانو د قضيې پوښتنه وکړه، ما ورته وويل چې محکمه ورباندې حکم نه کوي. شايد ملا صاحب داسې برداشت اخيستی وي چې محکمه ترې ويريږي ځکه هغه نظامي کسان وو او قوي ملګري يې هم لرل. نو ملا صاحب ډېر خواشينی شو، غوسه ورغله او کاتب ملا عبدالسلام آخند ته يې وويل چې محکمې ته وليکه چې ضرور به په دې خلکو شريعت جاري کيږي او محکمې ته وليکه چې تر هغو دې نورې قضيې معطلې کړي اول دې ددې کسانو قضيه وڅيړي تر څو شريعت ورباندې جاري شي.

ورسته ملا صاحب ماته وويل زما نوم څه دی؟

ورته وويل: عمر

ملا صاحب وويل: له خپل نوم څخه حياء راځي . كه طالب وي، مجاهد وي كه هر څوک وي چې ظلم يې کړی وي والله كه يې پريږدم. دا به كوم عدل او انصاف وي چې پر طالب به اسلامي الهي احکام نه جاري کيږي او په عامو خلکو به جاري کيږي. دومره طالبان او علماء چې شهيدان شول ټول د دې ارمان لپاره چې اسلامي احکام بايد بدون تفاوت په هر چا نافذ شي. نو محكمه به تر هغو پورې په دې قضيه كار كوي ترڅو په دې خلكو يو حكم وکړي.

خلاصه دا چې ملا صاحب محكمې ته قاطعانه امر وليکه، خط مې ترې راواخيست چې راوتلم، غږ يې پسې راوکړ، بيرته وروگرځېدم او راته ويې ويل: زه گوره پر چا ظلم نه کوم، كه دا خلك چېرې واقعا بې گناه وي او جرم يې نه وي کړی نو محكمه دې دا ژوس خلاص کړي او كه نه وي بايد حكم وربانديې وشي، مطلب دا چې قضيه يې بايد فيصله وخيړل شي.

همداسې د ملا صاحب بل خصوصيت دا و چې د مظلوم فرياد يا شكايت به ورته ورسيده نو پر ځمكه يې نه غورځاوه، خامخا به يې يو اقدام كاوه. يو وخت كې چې ما په كابل كې د استخباراتو لوی رياست كې خدمت كاوه، كندهار ته راغلی وم. د كندهار د سرپوزې محبس ځيني بنديان يې د علاج لپاره روغتون ته راوړي وو او زه پوښتني ته ورغلم. هلته يو بندي ډېر شكايت راته وكړ. ويل يې د قيامت په ورځ به زما لاس او ستاسو گريوان وي. زه بې جرمه بندي شوی يم، په دروغو شاهدي رابانديې ويل شوي ده. ما ته يې وويل چې زما فرياد ملا صاحب ته ورسوئ. د ملا صاحب لپاره يې يو مسواک تحفه هم راكړ. ما د هغه بندي فرياد ملا صاحب ته په ډېر ښه شكل سره ورساوه او دا مې هم ورته وويل چې كه خدای مكړه څوک بې گناه بنديان شوي وي نو د قيامت په ورځ به موږ او تاسو مسؤل يو. ملاصاحب ډېر په فكر كې شو. بيا يې وويل چې په دې سرپوزه كې شاوخوا دوه زره بنديان دي، نو چې دا يو وايي چې زه ناحقه بندي يم. كيدای شي نور به هم وي. نو بيا يې ماته وويل چې ته به يو څه وخت

له کابل څخه راپاتې شي. دلته به د دې ټولو بندیانو ښه تحقیق وکړو. که څوک بې ګناه وو هغه به ازاد کړو او واقعي مجرمین به پاته شي.

بله دا چې د ملا صاحب په حقانیت او ښه مسلمانۍ باندې امریکایانو هم اعتراف درلود. د امریکا د حملې په اولو کلونو کې دا کار ډېر مشهور و چې ځینو جاسوسانو به د شخصي حسد او یا پیسو موندلو لپاره په یو چا نوم پورې کړ او امریکایانو ته به یې د مهم طالب چارواکي په نوم په لاس ورکړ. په کندهار کې د ګلالي په نوم په اولو کلونو کې د استخباراتو رئیس و. هغه یو څوک د شخصي دښمنۍ یا بل څه په اساس نیولی و او بیا یې امریکایانو ته په دې عنوان سپارلی و چې د ملا محمد عمر مجاهد ډریور او مهم انډیوال یې ګیر کړی دی. امریکایانو هم دغه کس باګرام ته راوستی و او ډېره تمه به یې شاید وه چې د ملا صاحب معلومات به ترې حاصل کړي.

نو دا کس په باګرام کې د ملا صاحب په ډرایور باندې شهرت درلود. حالانکه چې په حقیقت کې یو عام کس و، بلکې د طالبانو سره یې هیڅ تړاو نه درلود. خو څه وخت بعد دغه کس ناڅاپه آزاد شو. له موږ سره په ګوانتانامو کې یو ملګری و، د عبدالظاهر په نوم، هغه ویل چې زه امریکایانو د تحقیق لپاره بوتلم. نو ما ورته وویل چې تاسو په اصلي طالبانو کار نه لرئ او موږ بیچاره عام خلک مو دلته بندیان کړي یو. هغه پلانی کس چې د طالبانو د مشر ملګری او ډرایور و، تاسو ازاد کړ خو موږ ته آزادي نه راکوئ.

امریکایي په ځواب کې راته وویل چې هغه کس د ملا صاحب ملګری یا ډریور نه و. موږ ته په دروغو معرفي شوی و. ځکه موږ په هغه باندې تجربه وکړه چې آیا دی د ملا صاحب ملګری یا ډریور کیدای شي او کنه؟ موږ چې معلومات لرو ملا محمد عمر مجاهد یو واقعي مسلمان او ډېر متدین، له فساد او ناروا افعالو لرې سړی دی او د ده په شاوخوا کې هم بې دینه خلک ګذاره نه شي کولای. موږ چې په دې سړي تجربې وکړې. ده د مسلمانانو په دین کې ناروا کارونو لکه فحشاء ته میلان درلود او موږ پوه شوو چې دا سړی د ملا محمد عمر ډریور نه شي کیدلای نو ځکه مو آزاد کړ.

نو بناء د ملا صاحب مسلماني او دينداري د لمر غونديې روښانه وه، چې حتی دښمن هم ترې انکار نه شي کولای. الله تعالی دې ورباندې رحم وکړي او الله تعالی دې ټول خدمتونه ورته قبول کړي.

## د رهبري شورى غړى شيخ الحديث مولوي محمد قاسم صاحب(1)

شخصيت، غيرت، مردانگی، سيرت و طرز زندگی مرحوم امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ( که از تذکر آن ياد عمر فاروق رضی الله عنه می آيد)نه تنها در بين ملت افغانستان بلکه در سطح جهان معلوم و عيان است. ولی باز هم در اينجا فرصت را

---

(۱) د رهبري شورى غړى شيخ الحديث مولوي محمد قاسم صاحب

د مرحوم امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله شخصيت، غيرت، ميړانه، اخلاق او د ژوند طرز ( چې له يادونې سره يې سړي ته عمر فاروق رضی الله عنه ورياديږي) نه د افغان ولس ترمنځ بلکې د نړۍ په سطحه معلوم او ښکاره دی. مگر بيا هم دلته له فرصت نه په استفاده غواړم چې د نوموړي د افتخاراتو په اړه څو خبرې له لوستونکو سره شريکې کړم.

د مرحوم امير المؤمنين لومړنی افتخار چې ټول اسلامي امت په خاص ډول د افغانستان متدين ولس ته يې په ميراث پريښود، په ديني اساساتو د ولاړ اسلامي نظام تفکر او ابتکار دی، نوموړي د ( اسلامي امارت په نوم) هغه سنت راژوندی کړ چې له پيړيو راهيسې له مظلوم ملت څخه هير و.

د ملا صاحب دوهم افتخار د ده راسخ عزم، د کفر او الحاد په مقابل کې کلک مقاومت، او د اسلامي نواميسو ساتنې ته کلک تعهد و. د دې ښکاره مثال دا دی چې نوموړی د يوه مسلمان ( اسامه بن لادن رحمه الله) د ساتنې په خاطر له ټولو مادياتو تېر شو. دغه راز يې د امريکا په مشرۍ د کفري ځواکونو تهديدونو ته هيڅ اعتناء ونه کړه.

د مرحوم ملا صاحب دريم افتخار دنيا او اهل الدنيا ته ميلان او التفات نه کول وو، تر دې حده چې سړي ته يې د حضرت معاويه رضی الله عنه هغه قول را ياداوه چې د حضرت عمر رضی الله عنه په اړه فرمايي: اما ابوبکر فلم يرد الدنيا و لم ترده، و اما عمر فارادته فلم يردها و اما نحن فتمرغنا فيها ظهر البطن) همدارنگه د استقامت خاوند او د بيلابيلو تکاليفو او مصائبو په مقابل کې صبر کوونکی و چې دليل يې د نوموړي د وفات ( د ژوند د وروستيو کلونو) په واقعاتو کې ټولو ته معلوم دي.

غنیمت دانسته، قصد نمودم از جمله افتخارات ایشان چند کلمه را همـراه قـارِیین کـ
شریک سازم.

اولین افتخاریکه برای امت مسلمه بخصـوص بـرای ملـت متـدین افغانسـتان بـه میرا
گذاشتند تفکر و ابتکار ساخت یک نظام اسـلامی مبتنـی بـر اساسـات اسـلام، و احی
سنتی که از قرنها بدینسو فراموش این ملت مظلوم و ستمدیده شـده بـود[ بنام امار
اسلامی ] میباشد. و دومین افتخار مرحوم امیر المـؤمنین عـزم راسـخ و مقاومـت آهنـ
ایشان در برابر کفر و الحاد و تعهد محکم ایشان بر حفظ نوامیس اسلامی میباشد. مث
بارز آن گذشتن از تمام داشته ایشان و آنهم صرف بخاطر حفاظت جان یک مسلمان
اسامه بن لادن رحمه الله) و بالمقابل بی پروایی ایشان در مقابل تمام تهدید های قـو
های کفری که در رأس آن امریکای متجاوز قرار داشته بود.

و سومین افتخار ایشان عدم تمایل و عدم التفات به دنیا و اهلش به اندازه که یادآورنا
قول معاویه رضی الله عنه در حق حضرت عمر رضی الله عنه میباشد. که میفرمایند: ام
ابوبکر فلم یرد الدنیا و لم ترده و اما عمر فارادته فلم یردها و اما نحن فتمرغنا فیـه ظه
البطن ) و نیز صاحب استقامت و صابر در برابر تکالیف و مصایب گوناگون بودنـد ک
دلیلش در واقعات وفات ایشان معلوم و هویدا میباشد.

**د رهبري شوری غړی الحاج شیر محمد عباس ستانکزی**

خوشال یم چې د افغانستان د اسلامي امارت د مؤسس جنـاب عالیقـدر امیـر المـؤمنی
ملا محمد عمر مجاهد د تاریخ په رابطه لیکل شوی کتـاب چـاپ تـه تیـار شـوی دی
مرحوم امیر المؤمنین ډېر صفات درلودل خو غـواړم دلتـه د هغـه د دوو صـفتونو پـه ا
خپل تأثرات ذکر کړم.

یو دا چې امیر المؤمنین ډېر شجاع او غیرتي سـړی و، اللـه پـاک خپـل غیـرتي بنـدگا
همیشه خوښوي او دا چې الله پاک ډېر غیرتي دی او د هغه رسول صلی الله علیه وسل
غیرتي و نو په امت کې چې هر څوک غیرتي وي هغه الله پاک او د هغـه رسـول صـل
الله علیه وسلم ته ډېر نږدې وي. مشـر ملا صاحب د ځـواني د ژونـد ابتـداء پـه غیـرت

کړې وه، د روسانو او کمونیستانو په مقابل کې یې په میړانه جهاد کړی و. د جهاد له بریا وروسته چې مختلفې ډلې ټپلې د قدرت او څوکۍ پر سر په جنګونو اخته شوې، ناخوالې شروع شوې، د خلکو جایدادونه او مالونه چور شول. د خلکو په سرونو کې میخونه ټک وهل شول او د خلکو د ناموسونو سره لوبې وشوې، ټول ملت له دې مشکلاتو څخه کړېده. مګر په دې ټول ملت کې یوازینی کس چې د اول ځل لپاره راپورته شو هغه عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد و، چې دی راڅرګند شو او ټول ملت ورته لبیک وویل او تر شا یې ودریدل. هغه که ملا و، که امي و، که عالم و که طالب و که انجنیر و که معلم او که د نورو مسلکونو خلک.

بیا چې د افغانستان په پنځه نوي فیصده خاوره کې امن او شرعي نظام قائم شو. نو له دې نظام سره مخالفتونه شروع شول. هغه وخت ایران د افغانستان په مقابل کې یو قوي ګوابښ و، خو امیر المؤمنین یې په وړاندې ودرید او د ایران ګوابښونه له شکست سره مواجه شول.

وروسته امریکایانو چې نه یې غوښتل چې په دې خطه او منطقه کې یو اسلامي او شرعي نظام قائم شي تر څو هغه نورو ملکونو ته نمونه او مثال وي، نو ګوابښونه یې پیل کړل. په مختلفو بهانو یې افغانستان ته اخطارونه ورکول. خو د ملا صاحب په قیادت کې امارت اسلامي د امریکا ګوابښونو ته په ډېر میړانه ځواب ووایه او د دوی یو خواهش یې هم ونه مانه. ملا صاحب د امریکا په مقابل کې د غر غونډې ودرید په داسې حال کې چې د دنیا خلک دېته حیران و چې څرنګه د افغانستان غونډې یو وړوکی ملک د امریکا په مقابل کې دریږي او امریکا ته نه وایي. هماغه و چې ټوله کفري نړۍ له امریکا سره یو ځای شوه، په افغانستان یې یرغل وکړ، د ملا صاحب په قیادت جهاد پیل شو او تاسو نن وینئ چې لله الحمد د اته څلویښتو ملکونو د پوځونو په شمول امریکا په افغانستان کې په ګونډو شوه.

بل صفت د ملا صاحب دا و، څنګه چې هغه یو متوسط او غریب سړی و له غریبې کورنۍ سره یې تعلق درلود، دغسې یې ساده ژوند وکړ او همداسې له دنیا څخه لاړ. د ملا صاحب څخه نه په جریبونو ځمکې، نه د بانک اکاونټونه، نه بلډینګونه او نه نور

شیان پاته شول. د خدای په لار کې ببرته لاړ او په دنیا کې هیڅ شی ترې پاته نه شول. د ملا صاحب مثال په دې اوس نړۍ چې یوویشتمه پیړۍ ده بې نظیره دی. الله پاک دې د ده په زامنو او د ده په پیروانو برکت کیږدي او الله پاک دې په افغانستان کې شـرعي نظام، سوله او امنیت راولي. آمین

### د رهبري شورى غړى ملا عبداللطيف منصور

په افغانستان کې د شـرعي نظام بنیانګذار د اسلامي امارت مؤسس جناب مرحـوم امیـر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د الله تعالی له هغو خاصو بندګانو څخه یو و، چې الله تعالی ده ته د ورکړل شویو استعدادونو څخه د دین عظیم کـار واخیسـت، چې هغـه د مسلمانانو متاع ګمشده (شـرعي نظـام قـائم کیـدل) و چې مسـلمانانو تـه د څـو پیړیـو راهیسې په لاس نه و ورغلی. هغه الله تعالی د ده په واسطه مسلمانانو ته ورنصیب کړ.

د ده شخصیت له رب تعالی سره په ټولو کارونو کې مخلص او له دیانته ډک و، د ټولـو علماء کرامو، طالبانو او متدینو مؤمنانو په ده راټولیدل هـم یـو کرامتـي او حیرانـوونکي کار و. بله دا چې په عربو او عجمو کې یې محبوبیت درلود او په اسلامي تاریخ کې یې یو ځل بیا د شـرعي امارت باب را ژوندی کړ.

زما په شخصي اند هغه د الله تعالی له مخلصو بندګانو څخه و او لـه خپلـې داعیې سره چې د شـریعت نافذول دي ډېر صادق و. مشفق رهـبر و، پـه خپـل رعیـت مهربانـه او د یوې اصلاحي او شـرعي ټولنې جوړیدلو ته حریص او متمني و. الله تعالی د مصائبو او امتحاناتو د ګاللو لوی استعداد ورکړی و او د شـریعت په مقابل کې یـې د چـا پـروا نـه کوله.

### د رهبري شورى غړى او د اقتصادي کمیسیون مسؤل الحاج ملا ګل اغا بدري

د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله پـه اړه غـواړم څـو خـاطرې او تأثرات درسره شـریک کړم.

ـ ملا صاحب له قوم پرستی او قومي تعصب څخه ډېر بد وړل، نه یې خپله قوم پرسـتي کوله او نه یې د ملګرو لپاره خوښوله. د اسلامي امارت له پیل مخکې زه څلور کالـه لـه

نوموړي سره په مدرسه کې پاته شوی وم، خو ما ته د ده قوم نه و رامعلوم. کله چې اسلامي امارت پیل شو، بیا د خلکو له خبرو د ملا صاحب قوم را معلوم شو.

ـ ملا صاحب هغه وخت چې اسلامي امارت لا نه و تأسیس شوی او د ژړی ولسوالی په سنګ حصار کې یې امامت درلود، له غربت سره سره یې ډېر سخاوت درلود. که به کوم مسافر طالب په مدرسه کې بستره نه درلوده، ملا صاحب به له کوره ورته راوړه، که به یې پیسو ته ضرورت و، ملا صاحب به له نیستي سره سره چې څه پیسې به ورسره وې هغه به یې فقیرو طالبانو ته ورکولې تر څو خپل د ضرورت شیان ورباندې رانیسي.

وروسته د امارت په وخت کې چې زه د امارت د مقام مالي وم، هم ملا صاحب هماغه د سخاوت صفت ساتلی و. دغه وخت به له ماسره درې قسمه پیسې وې.

ـ یو هغه چې د امارت د خزانې مربوط پیسې وې او بیت المال بلل کیدلې.

ـ دوهم هغه پیسې چې ځینو مالداره خلکو به ملا صاحب ته د عامه مرستو لپاره ورکړې وې.

ـ دریم هغه پیسې چې مالداره خلکو به ملا صاحب ته د خپل کور د شخصي مصرف لپاره ورکړې وې.

ملا صاحب ماته ویلي و چې کله مجاهدین ملګري ملاقات ته راشي او کور ته ځي نو ماته یې را په یادوه. نو بیا به چې د امارت ملګري راغلل نو اکثرا به یې له هماغو شخصي پیسو ورسره مرسته کوله تر څو خالي لاس کور ته لاړ نه شي.

ـ ملا صاحب مرحوم زیات زغم او حوصله درلوده. حتی کله به کشرانو ملګرو د ملا صاحب په مخکې ډېرې تیزې خبرې وکړې، انتقادونه به یې وکړل خو ملا صاحب د انتقاد د اوریدو زغم درلود. یو وخت د ملا صاحب په حضور کې د امارت د دوو مشرانو ملګرو ترمنځ خبره واوښته او شخړه رامنځته شوه. خو ملا صاحب په ځای د دې چې هغوی تهدید یا توبیخ کړې په ډېر زغم سره یې د هغوی لانجه هواره کړه او په همدې مجلس کې یې بیرته سره پخلا او خوشاله کړل.

**د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال د پکتیا والي مولوي شمس الدين پهلوان**

له اميرالمؤمنين رحمه الله سره زما لومړی ملاقات هغه مهال ترسره شو چې زه کابل
د چهار اسیاب ولسوالۍ ولسوال وم، له ولسوال کېدلو يو کال وروسته چې په سيمه
څه اداري مشکلات راته پيښ شول نو د ملا صاحب رحمه الله د ملاقات اراده
وکړه، هغه مهال زموږ يوه بله دلګۍ د ملاصاحب رحمه الله د محافظت دنده پر
وړله په نساجي کې چې د ملاصاحب کور هم په همدغه سيمه کې و.

نو لومړی ليدنه مي د هغه رحمه الله په کور کې ورسره وشوه، څرنګه چې ما فکر ک
و له توقع خلاف مې ملا صاحب رحمه الله ډېر رحمدله او ډېر مينه ناک وموند، د
صاحب رحمه الله برخورد له ماسره بالکل د مدرسې د يوه انډيوال برخورد و.

کوم اداري مشکلات چې ما ځان سره راوړي وو ټول يې په سړه سينه واورېدل او
يې ډېر اسانه راته حل کړل، همدا راز څرنګه چې زموږ د مسؤليت ساحه چهار اس
د جنګ لومړی کرښه وه نو هلته يو شمير مسافرين په لارو کې بند پاته وو چې هغ
ته د لارې په پيدا کولو کې مو له ملګرو سره عمده مشکل درلود چې د ملا صاحب
ملاقات کې مي دا خبره ورته وړاندې کړه نو د ملت د خوندیتوب له امله يې څنګه
ما غوښتل مسافرينو ته د هغې لارې د خلاصولو امر هم وکړ، چې وروسته همد
وشول او ټولو مسافرو ملاصاحب رحمه الله ته ډېرې دعاګانې هم کولې.

زه هغه مهال د ملاصاحب له برخورد څخه ډېر متأثر شوم او هغه مهال ما ت
معلومېدله چې ملا صاحب رحمه الله ولې زه دومره تشويق کړم؟ او ولې يې زما دو
ډېر پيشنهادونه ومنل، وروسته زه پوه شوم چې ملا صاحب کوښښ کاوه ترڅو ټ
قومونو ته په يوه نظر وګوري او ټولو ته يوه درجه ورکړي، ملا صاحب رحمه
کوښښ کاوه چې د ټولو قومونود افرادو خبرې يو ډول واورې.

دا مي له ملا صاحب رحمه الله سره لومړی ملاقات و کله چې زه بيرته چهار آسياب
ستون شوم د شمالي ولايتونو له علماؤ او طالبانو مي يو هيئت تيار کړ چونکه ما جر
پيدا کړی و او له ملاصاحب رحمه الله سره ليدنه راته کومه عادي خبره ښکاره شو
د کاپيسا، پروان، فارياب، کندوز، تخار، مزار او بدخشان له ولايتونو څخه مي ١٦ ک

وفد تیار کړ بیرته د ملاصاحب رحمه الله ملاقات ته ولاړو، هغه مهال مو ځیني داسي غوښتني لرلې چې یواځي په جذباتو بنا وې، په ټول تحریک کې مو ځیني ملاحظې درلودلې د مثال په توګه زما یوه غوښتنه دا وه چې ولي په امارت کې ډیر خرابیلي شته دا څنګه د طالبانو تحریک دی؟ خو ځیني غوښتنې او نیوکې مو تر یوه حده پرځای وې لکه په ځینو ځایونو کې د پښتو او فارسي تر منځ سمتي توپیرونه چې مخ په زیاتېدو وو، خو د ملاصاحب رحمه الله ځواب دا وو چې زه هغه وخت ډاډه کېدای شم چې له بدخشان څخه یو کس په هرات ولایت کې والي وي او د هرات یو کس په کندهار کې والي شي، او موږ ته یې وویل چې تاسي په اطمینان خپل کار ته ادامه ورکړئ دې توپیرونو ته زه متوجه یم او په ټینګه به یې مخنیوی کوم او مثال یې داسي راته پیش کړ چې دا یو مرض دی او موږ اوس په جنګي حالت کې یو نو دا ډول یو خپرېدونکی مرض ژر تر ژره نه کنټرولیږي، موږ بوخت یو ترڅو په تدریج سره دې ستونزي ته د پای ټکی کېږدو.

زموږ یو اعتراض داوو چې بندیان ولې وژل کیږي ؟ د ملاصاحب ځواب دا و چې که ته له علمي اړخه کومه نیوکه لري نو زه مفتي نه یم چې تاته مسئله روښانه کړم له مولوي عبدالعلي دیوبندي صاحب او نورو علماؤ سره وغږیږه ترڅو یو بل ته قناعت سره ورکړئ او هره پرېکړه چې مو په ګډه وکړه هغه به زه درته عملي کوم.

له دې ملاقات وروسته موږ ټول ملګري ډېر خوشحاله له ملاصاحب څخه رخصت شولو او زه بیرته چهار أسیاب ته ولاړم.

دریم ملاقات مي له ملاصاحب رحمه الله سره د کابل له فتحي وروسته وشو کله چې زه د پکتیا د والي په توګه مقرر شوم د بغلان، بدخشان او تخار غالباً له دغو درو ولایتونو څخه بیا یو هیئت زما په ګډون تیار شو چې داخل یې بیا ځیني ملاحظې له ځان سره درلودلې چې یوه ملاحظه بیا هم هغه د قومي او سمتي ستونزي د پراخېدو وه، ښایي هغه مهال به موږ له حالاتو سم برداشت نه وي کړی دا قومي او سمتي تعصبونو ته لمن وهل د ځینو افرادو له خوا وو، خو موږ به د افرادو د کړنې په توګه نه ورته کتل

موږ ته به داسي معلومېده لکه د تحريک لـه لـوري چـې دا سـتونزه پراخيـږي او د
هيڅکله نه وه.

نو کله مو چې ملا صاحب ته دا ستونزه ياده کړه هغه له ما څخه سـوال وکـړ راتـه و
ويل ته دې تحريک ته څنگه راغلې؟ آيا څوک درغلل دعوت يې درکړ؟ ما تاته
در وليږی او ته مي راوغوښتلې ؟ او دې تحريک تـه د راتـگ علـت دي څـه وو
خپل سبقان دي پرېښودل او تحريک ته راغلې ؟

هغه مهال چې ما ځواب ورکړ دا و چې په افغانسـتان کـې فسـاد و د خلگـو سر او
خوندي نه وو پاټکونه وو او هر چا خپله پاچاهي چلوله او د مثال پـه توگـه مـي
خاطره ورته پيش کړه چې زه په ۱۹۹۲ کال کـې لـه بدخشـان څخـه روان وم پيښـور
مدرسې ته تلم پيښور ته چې ورسېدم فقط يو څو روپۍ راسره پاته وې نور ټول شته
په لاره چور شول، حتـی د لاس سـاعت مـي پـه لاره پاټکيـانو راڅخـه واخيسـت نـ
همدې فساد په ضد يو پاڅون پيل شو چې زه هم ورسره ملگرى شوم.

ملاصاحب رحمه الله ځواب راکړ. ويل تـه تحريـک تـه د فسـاد د مخنيـوي پـه مو
راغلې يې کوم شيان چې تا ذکر کړل ټول فساد دي اوس تـه د فسـاد د ورکولـو مقا
کوې او که تېښته غوره کوې او له دې مقابلې تښتې؟ که ته له دې مقابلې شاته کېږ
دا ستا ځاى به هم يو مفسد تـه پـه لاس ورشي او فساد بـه نـور هـم پسـې زيـات ش
ملاصاحب رحمه الله پسي زياته کړه چې زه به هلته تا ومنم چې تـه پـه تحريـک ک
چيري فساد ووينې او مقابله يې شـروع کړې تر دې چې زخمي شې پکې شهيد شې
سر دې پکې ولاړ شي نو بيا ته د فساد په ضد له موږ سره يوځاى شوى يې او کـه ت
فساد په ضد مقابله کې وې او ما دې ملاتړ ونه کړ او ما ستا د فساد ضـد موقـف څ
دفاع ونه کړه بيا ته حق لرې چې په تحريک نيوکه وکړې او موږ ته د فساد خورونکو
سترگه وگورې، موږ چې له ځان سره کومي ملاحظې راوړي وې تقريبـاً ۱۹ خـبرې و
او هره يوه به ما ويله بيا به مو بحث پرې کاوه بالاخره د مجلس پـه اخيـر کـې مـا ور
وويل چې يو کس کله مريض شي نو بيا د خپل بدن غړي نه غوڅـوي ډاکټـر تـه ځ
ترڅو هغه يو علاج ورته په گوته کړي نو موږ د مريضانو او ته موږ ته د ډاکتـر حيثيـ

لرې ملاصاحب رحمه الله په خپله ځانګړې لهجه راته وویل چې ډاکټر په سلو مریضانو څه کولای شي؟ مطلب یې داوو چې سل نور مریضان راځي راته زه خپله ټول څنګه سره وچلوم تاسي هم خپله پوهان یاست مبارزه وکوئ فساد له منځه یوسئ زه مو همکار یم او هرڅه همکاري درسره کوم.

له ماسره په دغه راغلو کسانو کې ځیني داسي کسان هم وو چې ملاصاحب ته تر راتګ وړاندي یې ویل چې دا مو له ملاصاحب سره اخیرني ملاقات دی که زموږ غوښتني ونه منل شوې نو بیا له موږ افغانستان پاته دی، خو له مجلس وروسته چې کله مو د ملاصاحب رحمه الله برخورد ولید او دهغه رحمه الله ځوابونه مو واورېدل د ټولو ملګرو زړونو ته یې لار وکړه او دا یې ثابته کړه چې ملاصاحب په پوره اخلاص او ټول توان د فساد په ضد درېدلی او ټول ډېر خوشحاله بیرته خپلو سیمو ته ستانه شولو ټولو ژمنه وکړه چې مقاومت به کوو او خپلو کارونو ته به ادامه ورکوو.

څلورم ملاقات مي له ملاصاحب رحمه الله سره هغه مهال وشو چې له پکتیا څخه د ځینو سمیزو ستونزو د حل په موخه ورغلم هلته د حزب اسلامي یو قومندان د انجنیر فیض محمد په نوم یو حرکت په لاره اچولی و، دغه راز د ځینو دولتي ځمکو د غصب موضوع وه او څرنګه چې په پکتیا کې عنعنه او رواج ډېر غالب و چې له یو شمیر شرعي احکامو سره مخالف و، که هلته ما اقدام کړی وای ښایي له خلګو سره به په ټکر کې راغلي وای نو مي لازمه وګڼله چې په دې هکله له ملاصاحب رحمه الله څخه مشوره واخلم نو دغه موضوعات لامل شول چې زه له ملاصاحب سره ووینم او مشوره یې ترلاسه کړم.

له ملاقات وروسته یې ګڼې مفیدي لارښووني راته وکړې او د حزبیانو د کودتاه په هکله یې راته زیاته کړه چې په سیمه کې د قومي مخورو، ملکانو او علماؤ یو وفد تیار کړه، ما هم له رسېدو سره سم تقریباً سل کسه برابر کړل چې د سیمي مخور قومي مشران او علماء پکې وو او په ډېر لنډ وخت کې مو د حزبیانو ټول پلانونه خنثی کړل، په دې کار سره هم ولس خوشحال شو او موږ نه یواځي دا چې د حزبیانو شوم پلانونه

مو شنډ کړل بلکه ګڼ نور مقاصد مو هم ترسره شول او په سیمه کې د ډاډ او امن فضاء واکمنه شوه.

له ملاصاحب رحمه الله سره په دې ملاقات کې د پکتیا د قول اردو د فعالېدو پرېکړه هم وشوه چې سرپرستي یې لومړی زما په غاړه وه وروسته یې له جلال آباد څخه بل ملګری ورته راولیږه.

ملاصاحب رحمه الله زما هغه پیشنهادونه چې د درست امارت په سطحه وو یا هم د منطقې په سطحه وو د وخت له شرائطو سره یې منل او ډېري مفیدي لارښووني یې راته کولې.

وروسته مي له ملاصاحب رحمه الله سره د مخابرې له لاري هم رابطې کولې په ټوله کې د ملاصاحب هر فرمان او هره لارښوونه دومره مفیده او ګټوره تمامېدله چې بالکل عقل یې ادراک نشوای کولی، کاشکي هغه مهال ما د ملاصاحب رحمه الله د هغو مشورو او لارښوونو په ګټو باندي څه لیکلی وای نو د لارښونو اثر به یې اوس ښه معلوم وو.

په پکتیا کې چې ما دوه کاله تېر کړل تقریباً څلور ځله مې له ملاصاحب رحمه الله سر ه ملاقاتونه وکړل، د ملاصاحب رحمه الله ټولي خبري په ظاهره ډېري ساده او عام فهمه وې خو په اصل کې په اصطلاح د کاڼي کرښې وې چې هر څوک یې د خبري تل ته نشوای رسېدلی او د وخت په تېرېدو سره یې د خبرو پوخوالی ثابتېده.

ملاصاحب رحمه الله ډېر خوش اخلاقه او خوشطبعه کس وو یوځل له یوه ملاقات وروسته زه ترې ولاړېدم پوښتنه یې وکړه چې داخلګ تاته پهلوان وایي ته څرنګه پهلوان یې؟ غېږ باز یې ؟

ماورته وویل چې زموږ په منطقه کې پهلوان خپله معنی لري خو غېږ نیول مې هم زده دي ملاصاحب راته وویل نو غېږ راسره باسې؟

ماورته وویل یو شرط لرم هغه دا چې آمریت او ماموریت به یو طرف ته کوو بیا به غېږ باسو. لکه مدرسه کې دوه طالبان. یو کندهاری ملا ته یې زه یو بدخشانی ملا یم، غېږ به

سره باسو. ملاصاحب رحمه الله قهقهه خندا نه کوله موسک شو، کله چې زه ور ولاړ شوم خدای پاماني مي کوله لاسونه مې ورکړل، لاسونه یې ټینګ کړل شاوخوا یې ملګرو ته وکتل غالباً طیب آغا او څو نور ملګري وو. ویې ویل: والله لاسونه خو یې ډېر کلک دي، موږ خدای پاماني کوله چې د ډوډۍ وخت شو او ډوډۍ راغله، ملاصاحب وویل دا ده ډوډۍ راغله ته ډوډۍ وخوره بیا به ولاړ شې، ډوډۍ له کچالو پرته نور څه نه وو ماورته وویل دا څو ورځي زه دلته راغلی یم له کچالو پرته مي نور څه نه دي خوړلي اوس زه کچالو نه خورم ملا صاحب ځواب راکړ ،زموږ خوراک کچالو دی که یې خورې ویې خوره که نه وي څه ولاړ شه هوټلونو ته روشونه وخوره.

له ملاصاحب رحمه الله سره به ما لږ ترلږه شل ملاقاته کړي وي له دې ټولو ملاقاتونو هیڅ ترخه خاطره نلرم، هیڅ مي نه یادیږي چې ملاصاحب دي له ماسره داسې برخورد کړی وي چې په ما بوج شي او د وخت لپاره په ذهن کې راسره وي بالعکس مي په هر ملاقات کې ډېر څه ترې زده کړي او ډېر خوشحاله ترې ستون شوی یم.

یوه بله مهمه خاطره چې اوس رایاده شوه، هغه داوه چې یو مهال زه د عوت او ارشاد د یوه مسؤل په حیث شمال کې وم چې له لوی درستیز ملا فاضل اخند سره مي په ځینو موضوعاتو بحث د جنجال ترحده ورسېد بالاخره پرېکړه مي وکړه چې کندهار تـه ولاړ شم او ملاصاحب ته خپله عریضه پیش کړم، زه چې کندهار ته راتلم نو ملافاضل اخند هم د الوتکي له لاري کندهار ته ځان رسولی وو، زه له ملافاضل اخند سره په جنجال سخت خسته شوی وم او د ډېري مایوسۍ په حالت کې وم نو مي له ځان سره پرېکړه وکړه چې ځیني داسي سخت نه منل کېدونکي پیشنهادونه ملاصاحب ته وکړم کله چې و نه منل شي نو زه به ځان خلاص کړم کرار به کور کښېنم، خو کله چې مي ملاصاحب ولید خپل هغه سخت پیشنهادونه مي وکړل ټول یې راسره ومنل او اجازه یې رانکړه چې زه خپل مسؤلیت پرېږدم، ما څو ځله وړاندي هم ملاصاحب تـه دحـج کولـو ویـلي وو چې زه حج ته ځم اجازه یې نه راکوله دا ځل چې مي ورتـه وویـل دستي یې اجازه راکړه.

له ملاصاحب رحمه الله سره مي وروستى ملاقات د حاجي معاون صاحب د فاتحې په مهال وو چې وروسته بيا ماته د ملاصاحب د ملاقات زمينه مساعده نشوه، او يوازې د مخابرې له لارې مي كله كله خبره ورسره كوله.

## د اسلامي امارت د كابينې غړى مولوي مخدوم عبدالسلام سعادت(۱)

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله وصحبه وسلم.

جهاد ومبارزات برحق ملت مسلمان افغانستان درمقابل كمونيستهاى بى عقيده و دين فروش يک حقيقت انكار ناپذير است. جهاد وشهادت ها وهجرت ها وبرداشت بزرگترين مصيبتهاى طاقت فرسا براى يک هدف خاص (قيام حكومت اسلامى) صورت گرفته بود متاسفانه قدرت طلبان وامتياز جويان جهادى تحت شعاع دسايس

---

(۱) د اسلامي امارت د كابينې غړى مولوي مخدوم عبدالسلام سعادت

الحمد لله رب العلمين، والصلوة و السلام على سيد المرسلين و على آله و صحبه و سلم.

د بې عقيدې او دين پلورونكو كمونيستانو په مقابل كې د افغانستان د مسلمان ملت برحق جهاد او مبارزه يو انكار ناپذيره حقيقت دى. د جهاد، شهادتونو، هجرتونو او سختو تكاليفو برداشت د يوه خاص هدف او مرام لپاره و چې هغه د اسلامي حكومت قائميدل و. متأسفانه د جهادي تنظيمونو قدرت طلبه اشخاص او امتياز غوښتونكي د اسلام او افغانستان د دښمنانو د مكارانه دسيسو ښكار شول، چې په نتيجه كې يې د دې په ځاى چې اسلامي حكومت يا الهي عادلانه نظام حاكم شي پر ځاى يې بدبختي، عياشي، فحاشي، قتل، لوټ تالان، شر او فساد منځته راغى. عاليقدر امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد د خپلې تقوى، ايمانداري او هغې خواخوږي له مخې چې له اسلام او مظلوم ملت سره يې درلوده، د طالبانو د اسلامي تحريک پاڅون يې پيل كړ او په مدبرانه او شجاعانه توګه يې د اسلامي نظام د راوستلو او د مسلمان ملت د نجات لپاره بيرغ پورته كړ.

د جناب امير المؤمنين صاحب له شخصيت څخه زما برداشت دا دى چې نوموړى د صداقت، وفا، شجاعت، سخاوت او له تعصب څخه د كركې نمونه وه. زه نوموړى د اسلامي امت قائد دغه راز د جهاد او له نړيوال استكبار څخه د ازادي غوښتونكو مبارزو رهبر ګڼم.

مکارانه دشمنان اسلام وافغانستان قرارگرفتند و بالنتیجه به جای اینکه حکومت اسلامی ونظام عدل الهی حاکم شود نظام بدبختی عیاشی، فحاشی، قتل، غارت، شر و فساد به میان آمد.عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد با آن تقوی و ایمان داری و دلسوزی که به اسلام و ملت مظلوم داشت قیام برحق تحریک اسلامی طالبان شروع و مدبرانه، شجاعانه برای آوردن نظام اسلام و نجات ملت مسلمان قد علم گذاشت.

واقعا برداشت ما از شخصیت امیرالمومنین این هست که جناب شان الگوی صداقت وفا و شجاعت بودند من بیست مرتبه باجناب ملاقات کردم و همیشه به جناب شان ملنگساری شجاعت؛ سخاوت؛ غیرمتعصب بودن را دریافت کردم و جناب شان را قائد امت اسلامی، رهبر جهاد و مبارزات آزادیخواهی علیه همه استکبار جهان میدانم.

**مولوی عبدالفتاح بدخشی صاحب[1] از منسوبین عالی رتبه امارت اسلامي افغانستان**

الله پاک فرمودند که عزت وذلت از جانب الله است

شاعر چه خوب فرمودند:

---

(۱) د مولوي عبدالفتاح بدخشي صاحب تأثرات

الله تعالی فرمایلي چې عزت او ذلت د الله تعالی له جانب څخه دي.

شاعر څه ښه ویلي:

این سعادت به زور بازو نیست

تا نبخشد خدای بخشنده

(دا نیکمرغي د مټ په زور نه موندل کیږي. تر څو یې بخښونکي الله تعالی در ونه بخښي)

غوښتل مې د د محترم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله علیه په باره کې یو څه ولیکم.

این سعادت به زور بازو نیست

تا نبخشد خدای بخشنده

خواستم در باره محترم امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله علیه چیزی مختصر بنویسم .

محترم امیر المؤمنین صاحب مرد شجاع، بهادر، با تصمیم با توکل و با دیانت بودند. از جمله عادات شان پابند بودن با وعده خود بود. هر گز خلاف وعده خود کار انجام نمی دادند (باید امیر المومنین دارای چنین صفات عالی باشند) از ایشان خیلی خاطره های فراموش ناشدنی دارم اما بطور مثال یکی از آنها را با شما شریک می‌سازم .

---

محترم امیر المؤمنین صاحب یو شجاع، میرنی، با عزمه، متوکل او بادیانت شخص و. د نوموړي له ښو عاداتو یو هم په وعده وفا کول و. هیڅکله یې وعده خلافي نه کوله. ځکه امیر المؤمنین باید د همداسې صفاتو درلودونکی وي. له نوموړي څخه ډېرې نه هیریدونکي خاطرې لرم چې دلته د مثال په توګ د هغو له جملې یوه درسره شریکوم.

زه د کندهار ښار د نساجي په سیمه کې د امیر المؤمنین له کور سره نږدې اوسیدم. یوه ورځ نوموړی د خپل کور پر خوا روان و په لاره ورسره مخامخ شوم او څه خبرې مې ورسره وکړې، د بدخشان د مجاهدینو ځیني مشکلات مې ورسره شریک کړل. ځکه زه د بدخشان د مجاهدینو نماینده وم، ده رانه وغوښتل چې سبا دفتر ته ورشم. سبا چې دفتر ته ورغلم ملا صاحب له چا سره ملاقات درلود که له کوم بهرني هیئت سره په خبرو مصروف و، ما لازمه ونه بلله چې مجلس یې اخلال کړم نو ځکه خپل ځای ته راوګرځیدم. ملا صاحب چې کله مجلس خلاص کړی و، زما پوښتنه یې کړې وه چې پلانی چیرې دی؟ ما له هغه سره د لیدلو وعده کړې وه. ملا صاحب له خپلو ډیرو مصروفیتونو سره سره په ماپسې قول اردو ته څوک راولیږل، خو هلته یې زه نه وم پیدا کړی. کله چې سبا ورغلم ملا صاحب په فارسي را باندې غږ وکړ (بردار دیروز کجا بودي، کارهایت ماند) وروسته یې د بدخشان د مجاهدینو مشکلات له ما واوریدل او ډیر ژر یې حل کړل.

خلاصه دا چې ملا صاحب په خپله شخصي زندګي کې ډېر ساده او فقیرانه ژوند درلود. یو له عاداتو یې دا و چې په مسافرو مجاهدینو ډېر زیات مهربان و، په مسؤلینو یې همیشه تاکید کاوه چې د مسافرو مجاهدینو هغوی چې له بدخشان او تخار څخه راغلي وو ډېر خیال وساتي.

له نژاد پرستي او قوم پرستي ډېر متنفر و، بردبار او باحوصله انسان و، هغه یو نه هیردونکی امیر دی، زه به یې هیڅکله هیر نه کړم او همیشه ورته دعاګانې کوم. و السلام

من در قندهار در نساجی اتاق داشتم، در نزد خانه امیر المؤمنین، یک روز ایشان بطرف خانه شان می‌رفتند من در راه با ایشان هم کلام شدم، بعضی از مشکلات مجاهدین بدخشان را با ایشان تذکره نمودم. (چون من نماینده مجاهدین بدخشان بودم) ایشان از من خواستند تا صبح در دفتر شان حاضر شوم. صبح وقت در دفتر شان رفتم با کسی ملاقات داشتند (یا مصروف با کدام مهمان خارجی بودند) من لازم ندانستم تا مزاحم شان شوم. از آنجا برگشتم. وقتي از کار فارغ شدند از کسی در باره من پرسیدند که فلانی کجاست؟ من با او وعده دیدن را کرده بودم. حتی باوجود مصروفیت های شان پشت من به قول اردو نفر روان کردند من را آنجا پیدا نکردند. من صباح نزد شان رفتم به فارسی برایم گفتند (برادر دیروز کجا بودی کارهایت ماند) بعدا مشکلات مجاهدین بدخشان را از من دریافت کرده، خیلی زود آنها را حل نمودند.

خلاصه درباره زندگی شخصی ایشان باید بگویم که خیلی زندگی ساده و فقیرانه داشتند.

از جمله عادات شان این بود که با مجاهدین مسافر خیلی مهربان بودند حتی به مسؤلین را تاکید می‌کردند تا مواظب مجاهدین مسافر (که از ولایات دیگر مثل بدخشان و تخار آمده بودند) باشند.

ایشان از نژاد پرستی و قوم پرستی خیلی متنفر بودند.خیلی انسان بردبار و با حوصله بودند. ایشان یک امیر فراموش ناشدنی هستند. من شخصا ایشان را هیچ وقت فراموش نمی کنم و برای شان همیش دعا گو هستم. والسلام

## د بدخشان ولایت د مجاهدینو یو تن مشر مخدوم عبدالحق صاحب[1]

زمانی که مایان طلباء ولایت بدخشان بتعداد ۷۰ نفردر صف تحریک اسلامی طالبان پیوستیم، چند روز را در ولسوالی سپین بولدک ولایت قندهار تیر کردیم. بعدا تشکیل شدیم. به شهر قندهار رفتیم، قرار بود بخط اول جبهه برویم. بنا بر مصلحت بزرگان (مولوی شمس الدین مشهور به حاجی پهلوان) به تعداد ۳۰ نفر تشکیل بخط اول جبهه غزنی اعزام شدند، باقی مایان ۴۰ نفردر قندهار در کماندو یک شب را سپری کردیم بعدا در تشکیلات امنیتي دروازه ورودی قندهار مؤظف شدیم.

---

(۱) د بدخشان ولایت د مجاهدینو یو تن مشر مخدوم عبدالحق صاحب

کله چې موږ د بدخشان طالبان چې شمیر مو شاوخوا ۷۰ کسانو ته رسیده د طالبانو له تحریک سره یو ځای شوو. څو ورځې مو د کندهار ولایت په بولدک ولسوالۍ کې تېرې کړې، بیا مو تشکیل وشو، کندهار ښار ته لاړو، هلته فیصله داسې وه چې لومړي خط ته لاړ شو، د مشرانو لکه (مولوي شمس الدین پهلوان صاحب) په

مصلحت شاوخوا دیرش تنه ملګري مو د غزني خوا ته لومړۍ کرښې ته لاړل. باقی موږ ۴۰ کسانو په کندهار کې یوه شپه په کماندو کې تیره کړه او بیا د کندهار ښار په ورودي دروازه کې په امنیتي چارو وګمارل شوو.

البته موږ د حوت په میاشت کې دلته راغلو، له څو میاشتو تیریدو وروسته یوه ورځ امیر المؤمنین صاحب زموږ ځای ته راغی، د مازدیګر د لمانځه له اداء کولو وروسته مې ته ملګرو امر وکړ، انار یې راوړل، کله چې انار وخوړل شول. ملا صاحب راته وویل چې زه او ته به نساجي ته لاړ شو. کله چې لاړو سیمه یې وکتله. ما ته یې وویل: که تاسو هم نساجي سیمې ته راځئ نو زه غواړم چې خپل کور له سنګ حصار سیمې څخه دلته را انتقال کړم. زه غواړم چې تاسو له ماسره نږدې یاست. ما ورته وویل: په سر او سترګو.

امیر المؤمنین صاحب ملا ګل اغا اخند ته هدایت وکړ، چې ژر تر ژره د یوه کور دروازې او کړکۍ برابرې کړي، ښیښې په کې ولګوي. د کور له اماده کیدو وروسته ملا صاحب خپل کور همالته راوست. بیا موږ څو کاله له ملا صاحب سره نږدې اوسیدو او د ملا صاحب د کور امنیتي مسؤلیت مو په غاړه و.

په دې وخت کې د امیر المؤمنین صاحب کاري دفتر د کندهار د ولایت په مقام کې و، زه څرنګه چې د یو تعداد ملګرو او خلکو لخوا د شمال ولایاتو د مجاهدینو نماینده ټاکلی شوی وم، اکثر وختونه به ملا صاحب ته ورتلم، ملا صاحب د خپل ځای د دروازې مسؤلینو ته هدایت ورکړی و چې هر وخت مخدوم صاحب راځي مانع ورته مه جوړیږئ، بې ځنډه دې راځي. هر وخت به چې ملاصاحب ته ورتلم نو انتظار کولم به یې تر څو د غرمې ډوډۍ هم ورسره وخورم. په آخر کې به یې وویل اوس دې پیشنهاد راوړه. د کارونو له پای ته

البته آن ماه حوت بود بعد از سپری شدن چند ماه یک روز محترم امیرالمومنین آمد، نماز دیگر را اداء نمود، به طلباء امر کردم، انار آوردند، وقتیکه انار خورده شد. مرا گفت ماو تو به نساجی میرویم، وقتیکه رفتیم منطقه را معاینه کرد. برایم گفت اگر به آنجا ( منطقه نساجی) میایید من فامیل خود را از منطقه سنگ حصار به اینجا انتقال میکنم، چراکه من میخواهم شمایان نزد ما باشید. من گفتم بالراس والعین.

امیر المؤمنین صاحب به ملا گل آغا آخند هدایت داد، که فورا در و کلکین یک خانه را درست کن، شیشه نصب کن، بعد از آماده شدن خانه ملا صاحب فامیل خودا را به انجا انتقال داد و ما چند سال در آنجا همرای مرحوم ملا صاحب بودیم و مسؤلیت امنیت اورا بعهده داشتیم.

---

رسولو وروسته به مو همالته د ده په دفتر کې د ماسپښین لمونځ د امیر المؤمنین صاحب په امامت اداء کاوه. بیا به یې اجازه راکړه او د خپل ځای پر خوا به راتلم.

کومه ورځ که به مې کار درلود او له ډوډۍ مخکې د تگ اجازه به مې غوښته نو راته خندل به یې او ویل به یې پوهیږم چې ولې ځې؟ ما به چې ترې پوښتنه وکړه، ده به ویل: پوهیږم زموږ د دفتر ډوډۍ کمزورې ده، ته ځان هوټل ته رسوې. د ملا صاحب مرحوم خوراک اکثر بامیه، شروم‌بې یا کومه ورځ کچالو وو، کله کله به ښوروا وه چې هر نفر ته به ډیره کمه اندازه غوښه رسیدله، زه به اکثره وخت چې د غرمې د ډوډۍ په وخت کې ورسره وم له دې زیات څه مې نه دي لیدلي.

یوه واقعه مې را په یاد شوه، لکه پرون چې تېره شوې وي. یوه ورځ له ماسپښین وروسته د ملا صاحب دفتر ته ورغلم، ډیر نور خلک هم هلته منتظر وو ، لکه د کندهار، هلمند، زابل او روزگان ډلگۍ مشران چې شمیر یې تقریبا تر ۱۳ کسانو رسیده. د مازدیگر لمونځ مو د عالیقدر امیر المؤمنین صاحب په امامت اداء کړ، وروسته یو چپرکټ راوړل شو، مرحوم ملا صاحب له خپل رئیس دفتر مولوي وکیل احمد متوکل صاحب سره ورباندې کیناست. ملا صاحب متوکل صاحب ته وویل چې د مخدوم صاحب کار تر نورو مخکې کړه ( ما ته یې اشاره وکړه) زما کارونه اجراء شول او له دفتر څخه راووتم، ومې لیدل چې د دفتر له دروازې سره قاري محمد طیب صاحب منتظر دی، راته ویې ویل چې یوه عریضه لرم. عریضه مې ترې واخیستله، له یوه کونجه مې ځان ملا صاحب ته ورساوه، چې گورم ملا صاحب په غوسه دی، لږ ځنډ مې وکړ. ملا صاحب دلگۍ مشرانو ته ویل: ستاسو هره یوه دروازه مې در تکولې، په محنت او زارۍ مې له کورونو را ایستلي یاست. اما دا کس پیژنئ، له بدخشان، د چین له سرحد څخه د هغې علاقې او مینې له مخې چې له جهاد سره یې لري، په خپله ایماني

در آن وقت دفتر کاری امیر المؤمنین در تعمیر ولایت بود. من چونکه از طرف یک
تعداد مردم به حیث نماینده صفحات شمال کشور معرفی شده بودم، اکثر اوقات نزد
امیرالمومنین صاحب تشریف میبردم، ملا صاحب به مؤظفین دروازه هدایت داده بود
هر وقتیکه مخدوم صاحب میاید برایش مانع نشوید، بلا توقف داخل شود. هر وقتیک
میرفتم مرا منتظر میساخت تا نان چاشت در دفترش صرف کنم، آخر وقت امر میکرد
حالا پیشنهاد خود را بیاورید! بعد از ختم کار همانجا در دفتر امیر المؤمنین بعد از
صرف طعام چاشت نماز ظهر به امامت امیرالمومنین صاحب اداء میکردیم و بعد مر
اجازه میداد به طرف اطاق خود می آمدم. کدام روز که کار میداشتم اجازه میخواستم
خنده میکرد میگفت من دانستم ته چرا میروی. من استبصار نمودم ملا صاحب وجه
خنده تان را بگویید! گفت: طعام ما ضعیف است تو خود را به هوتل میرسانید، طعام

---

جذبه دلته راغلی، پرته له دې چې څوک یې دعوت کړي له تحریک سره یو ځای شوی دی. آیا د اولیت حق
د هغه دی او که ستاسو؟ تاسو خپله قضاوت وکړئ. زه د شا لخوا راغلم متوکل صاحب ته مې عریضه وړاندې
کړه او له اجراء وروسته ترې راووتم.

ملا صاحب یوه ورځ په خپل موټر کې د سنگ حصار لخوا په سرعت را روان و، یوه ښځه چې یو ماشوم یې
هم له لاسه نیولی و، د څنگ له کوڅې څخه ناڅاپه سرک ته راووتل،ملا صاحب خپل موټر تاو کړ، موټر
واوښت او وروسته له رغړیدلو بیرته په ټایرونو ودرید. د موټر ښیښې ماتې شوې، موټر کپ کوپ شو، خو هغه
ښځه او ماشوم بچ شول.

کله چې ملا صاحب خپل ځای ته راغی، ځینو ورته وویل چې ملا صاحب ولې دې دا کار وکړ، یعني ځان
دې ولې د موټر چپولو له امله د مرگ له خطر سره مخامخ کړ. ملا صاحب یې په ځواب کې وویل: ما نه
غوښتل چې قاتل شم، کله مې چې په تورسرې او د هغې په ماشوم رحم وکړ، الله تعالی پر ما رحم وکړ، د موټر
له اوښتو سره سره یې زما حفاظت وکړ، ښځه، ماشوم او زه ټول سلامت پاته شوو.

کله به چې کوم طالب زخمي شو، له سنگره به یې بلا توقفه شفاخانې ته رساوه،پرته له دې چې ووایي څوک
دی، د کوم ځای دی، له کوم نژاد او ژبې سره تړاو لري. پرته له دې چې وپیژندل شي، علاج یې کیده، د
مجاهدینو زخمیان د علاج لپاره حتی جرمني او نورو ملکونو ته لیږل کیدل.

روز مره جناب شان بامیه ،دوغ ،کدام روز کچالو،گاهی گاهی شوربا که برای فی نفر به اندازه بسیار کم گوشت می رسید. من که اکثر اوقات از طرف چاشت همرای جناب بودم از آن بهتر دیگر چیز را نه دیدم .

یک واقعه به یادم می آید فکر میکنم که دیروز تیر شده باشد، در یکی از روز ها بعد ظهر رفتم، یک تعداد مردم دیگر هم در آنجامنتظر بودند از قبیل دلگی مشـران زابـل، قندهار، ارزگان و هلمند تعداد شان تقریبا ده ۱۰ الی سیزده۱۳ نفر میرسید. نماز عصر-را به امامت امیرالمومنین صاحب ادا نمودیم بعداً یک چپرکت در ما بین تعمیر گذاشته شد. مر حوم ملا صاحب همراه با رئیس دفتر اش وکیل احمد آخندزاده صاحب نشستند برای آخندزاده صاحب گفت اول مخدوم صاحب رارخصت کنید (بمن اشاره کرد) کارهای من اجرا شد، بیرون شدم، دیدم که در پشت دروازه قاری محمد طیب صاحب منتظر است، برایم گفت من یک عریضه دارم. عریضه اش گرفتم، از یک زاویه آمدم، مرحوم ملا صاحب خشمگین بود دقیقه ای مکث کردم. برای دلگی مشـران میگوید به دروازه هر یک از شما رفته دقّ الباب کردم به محنت و زاری شما را از خانه های تان بیرون کردم، این آدم را میشناسید از بدخشان هم مرز با چین با عشق و علاقه ای که با جهاد داشت به جذبه ایمانی خود بدون آنکه از طرف کسی دعوت شده باشد،خود اینجا حاضر شده. آیا حق اولیت از و است یا از شـما؟ خود قضاوت بکنید من از پشت سر آمده به وکیل احمد اخندزاده صاحب عریضه ای قاری صاحب تقدیم نمودم، و بعد از اجراء خارج شدم.

در یکی از روزها از طرف سنگ حصار به سرعت می آمد، یک زن دستِ یک طفل در دستش، از کوچه پهلو ناگهان در سرک برآمدند، مـلا صـاحب مـوتر خـود را کـات

---

د معیوبینو او معذورینو لپاره یې موټر، یا دوکان او هم د تجارت پیسې ورکولې، تر څو د خپل ژوند ضروریات ورباندې پوره کړي او چا ته محتاج نه شي. که د افغانستان تاریخ ته نظر وکړو، د افغانستان هیڅ پاچا دغه کار نه دی کړی، یوازینی شخص چې په خلکو تر دې حده دلسوز او مشفق و هغه ملا محمد محمد عمر مجاهد رحمه الله و.

کرد، موتر افتید، بعد از چند ملاق باز سر تایرها ایستاد، شیشه های موتر شکسته مو
کپ کوپ شد و زن همرای طفلش سالم ماند. وقتیکه به جایش رسید بعض ها گفتن
ملا صاحب چرا این کار کردی خود را به کام مرگ برابر کردی در جواب گفت :م
نخواستم قاتل شوم، چون بر سیاه سر وطفلش رحم کردم خداوند قدوس به من رح
کرد مرا حفاظت کرد، زن و من هر دو سر به سلامت بردیم.

زمانیکه یک نفر طالب زخمی میشد از سنگر برداشته میشد بلاتوقف به شفاخانه راند
میشد بدون آنکه گفته شود تو کی استی از کجا هستی ازکدام نژاد و زبان. بدون انک
شناخته شود زخمی های مجاهدین برای معالجه تا جرمنی حتی دیگر ملک ها برد
میشد.

برای معیوبین ومعذورین موتر، یک دربند دوکان یا پول تجارت می داد تا ما یحتا
خود را پوره کرده به کسی محتاج نه شود.

اگر به تاریخ افانستان نظر بیندازیم هیچ یک از زعمای افغانستان این کار را نکرده
یگانه شخصی که به مردم خود دلسوز و مشفق بوده باشد او ملا محمد عمر مجاهد
رَحِمَه الله) بود.

لله الحمد مرحوم ملا صاحب در مقابله ابر قدرتهای کفری همچو امریکا
دیگران

تاریخ زرین را پشت سر گذاشت ان شاء الله نسل آینده بر کارنامه هایش افتخا
خواهد کرد.

---

لله الحمد مرحوم ملا صاحب د د نړیوالو کفري زبرځواکونو لکه امریکا او نورو په مقابل کې د مبارزې زرین
تاریخ پریښود. ان شاءالله راتلونکي نسلونه به یې پر کارنامه افتخار کوي.

## حاجي خليل الرحمن حقاني

د طالبانو د اسلامي تحريک له پيل وړاندې د لويې پکتيا اکثر ساحات د مولوي جلال الدين حقانی صاحب د جبهاتو تر تسلط لاندې و، کله چې د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ اسلامي تحريک پيل شو او موږ ته معلومه شوه چې دا واقعا يو ديني او اصلاحي خوځښت دی نو له پيله مو ورسره خپل ملاتړ اعلان کړ. لومړی مو د منبع الجهاد او د خوست له مدارسو پنځوس تنه طالبان له خو موټرو وسلو او نظامي لباس سره د تحريک مرستې ته واستول. وروسته جناب حقاني صاحب خپل ټول مجاهدين، جهادي جبهات او جهادي وسائل او امکانات اسلامي امارت ته وقف کړل او له ملا محمد عمر مجاهد سره يې بيعت اعلان کړ. الحاج حقاني صاحب ويل چې: د کوم مقصد لپاره چې موږ جهاد پيل کړی و، قرباني مو ورکړې، خلګ مو هجرتونو ته اړ شول د همدغه مقصد د ترلاسه کولو لپاره د امارت ملاتړ کوم او هغه مقصد ته د رسېدلو يوازينی لار همدا ده. حقاني صاحب تر پايه له ملا صاحب سره په کړي بيعت قائم پاته و او د امريکا ضد جهاد کې يې تر همدې قيادت لاندې جهاد ته ادامه ورکړه.

د مرحوم ملاصاحب رحمه الله له ګڼو خصوصيتونو څخه دا هم يو نادر خصوصيت و، چې د جګړې له ډګرونو سره به په رابطه کوو، سره له دې چې جګړه به څو ځايه روانه وه خو ده به يې خپله حال اخيست او لازم هدايات به يې کول که به چا څه ناغيرې کوله او خپل کار ته به متوجه نه و، نو ملاصاحب به پخپله غبږ پرې کاوه او د کار تر خلاصولو پورې به يې ياد کس تعقيباوه.

د اميرالمؤمنين رحمه الله ناسته ولاړه تګ راتګ او له کسانو سره په ليدو کتو کې ډېره عاجزي موجوده وه نومړی انتهايي تواضع کوونکی او لله فی الله شخص و. څومره چې زموږ شناخت ورسره وو د کبر او غرور يوه ذره هم موږ پکې ونه ليدله بالکل خاکساره او د ځانګړی اثر ښښتن و.

ډېري کمي خبري يې کولې، خو خبري يې سره له دې چې په ډېرو ساده الفاظو وې د محتوا له لحاظه به بالکل پخې او په ټول درنې خبري وې، موږ چې کله وليد په دې ډېر خوښ شو چې الحمد لله يو طالب دی د نظر خاوند دی او له تکبر څخه ډېر ليري

شخصيت دی موږ ډېر ترې متأثر شولو ، نو له نوموړي سره مو خپل بيعت د ځان لپاره
د فخر وړ خبره وګڼله او په اتفاق سره مو د نوموړي قيادت ومانه.

## د رهبري شورى غړى شيخ الحديث مولوي عبدالرشيد صاحب

له هر څه نه مخکې دا وايم چې ( لا ازكي على الله احد) خو هغه څه چې واقعيت دي د
مرحوم اميرالمؤمنين صاحب په اړه زما تأثرات دا دي چې نوموړي څو صفات درلودل.
الله ورته محکمه عقيده او کامل ايمان نصيب کړی و، د مخلوق د خوشالۍ لپاره يې د
الله پاک حکم تر پښو نه لاندې کاوه، الله تعالى محکم توکل ورکړی و، د ملل متحد
او يا د دنيا د کافرانو د رسميت پيژندلو يا نه پيژندلو پروا يې نه ساتله. الله تعالى
شجاعت او رعب ورنصيب کړی و. د زهد يې دا حال و چې په پنځه کاله محکم
امارت کې يې نه کومه شخصي ماڼۍ واخيسته او نه يې په خارجي يا داخلي بانکونو
کې پيسې جمع کړې.
بل لوی صفت يې دا و چې هر کار يې د علماء کرامو په مشوره او فتوی ترسره کاوه او
آخري خبره دا کوم چې د اولياء کرامو دا صفت په کې و، چې له اسبابو مخکې به يې
اول مسبب ( الله تعالى) ته رجوع کوله.

## درهبري شورى غړى او د نظامي کميسيون د جنوب لويديځې حوزې مسؤل ملا محمد ابراهيم صدر صاحب

د امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد مناقب او خاطرات خورا ډېر دي، که يې ليک
شايد د کتاب تطويل ورباندې راشي. مختصرا به ووايو چې امير المؤمنين ملا محمد
عمر مجاهد يوازې د افغانستان د جهاد مؤسس نه و، بلکې د دنيا په سطحه د معاص
جهاد مؤسس و. ځکه دشورويانو له شکست وروسته چې کله د افغانستان تنظيمونه پ
خپل منځ کې په جګړو اخته شول، نو کفارو او د هغوی لاسپوڅو مجاهدين داس
بدنام کړل چې خلک د مجاهد په نوم شرميدل. خو الله تعالى د ملا محمد عم
مجاهد د جهاد په برکت يو ځل بيا مجاهدينو او ټولو مسلمانانو ته عزت ور په برخه ک

چې اوس مسلمانان د مجاهد په نوم فخر کوي او د دنیا مسلمانان همدې مجاهدینو ته د امید سترګې پر لاره دي چې ملا صاحب مبارک روزلي او تر شا پرې ایښي دي.

د امیر المؤمنین رحمه الله بل خصوصیت دا و چې د دنیا او افغانستان نیک مسلمانان او مجاهدین که یې ملا صاحب لیدلی و یا نه، خو پر ده یې اتفاق درلود. هغه که علماء وو یا هم مجاهدین او عام مسلمانان. او په مجاهدینو کې هر چا دا فکر کاوه چې له ماسره ډېر محبت لري.

## د رهبري شورې غړي الحاج ملا امیر خان حقاني صاحب

د طالبانو د اسلامي تحریک د پیل په وخت کې چې کندهار ښار تازه فتحه شوی و. زما په شمول زموږ د جبهې ملګري له ملا صاحب سره د ملاقات لپاره کندهار ته لاړو. د کندهار ښار په والي کوټې کې مو له عالیقدر امیر المؤمنین رحمه الله سره اولنی ملاقات وشو. تر دې پخوا مې ملا صاحب نه و لیدلی او تعارف مو سره نه و. ملا صاحب یو ډېر خاکسار، خاموش مزاجه، مهربانه او نوراني شخص و. په لومړني ملاقات کې یې زما او ټولو ملګرو په زړه کې ځای وموند. نو بلاتاخیره مو ورسره بیعت وکړ. له هغه وخت څخه بیا تر اوسه د فساد او اشغال پر خلاف د جهاد په اوږده مرحله کې لله الحمد په هماغه بیعت وفادار پاته شوي یو.

له مرحوم امیر المؤمنین صاحب سره زموږ دوه وروستي ملاقاتونه لومړی په کندهار کې هغه وخت و چې امریکایانو د افغانستان اکثر ښارونه نیولي وو او مجاهدین له کندهار ښاره هم د عقب نشینۍ په حال کې و او ملا صاحب له ملګرو سره وروستی مجلس وکړ. له هغه وروسته مو بیا په زابل ولایت کې ورسره ولیدل. دا هغه وخت و چې د کندهار په شمول د افغانستان تقریبا ټول ښارونه او اکثر سیمې د امریکایانو او د هغوی د اجیرانو لاسته ورغلې وې. د دې دوو ملاقاتونو ځینې خبرې غواړم دلته شریکې کړم.

ملا صاحب په وروستي ملاقات کې دا وینا کوله چې دا افغانستان ډېر ځله د کفارو لخوا نیول شوی دی خو بیا وروسته د کفارو لپاره مقبره ګرځیدلی دی. ملا صاحب په هغه سخت حالت کې چې ټول ښارونه امریکایانو نیولي وو، هم پوره مطمئن و په

ارامی، دلاوری او قاطعانه ډول یې خبرې کولې. هغه وخت چې ځمکه او فضاء ټوله اشغالګرو نیولې وه. ملا صاحب وویل چې د افغانستان نیول آسان خو ساتل یې ګران دي دا کفار به ضرور شکست خوري. موږ ته هغه وخت عجیبه ښکارېده. خو ملا صاحب په پوره یقین او اطمینان سره دا خبره کوله.

ملا صاحب نه یوازې زموږ او افغانستان لپاره سرمایه وه، بلکې د ټول امت مسلمه لپاره یو غمخور او سد سکندر و. رحمه الله تعالی و نور الله مرقده

### د رهبري شورۍ غړی ملا تاجمیر جواد

څوک چې الله تعالی ته محبوب شي الله جل جلاله په خپله لار کې ترې ستر خدمتونه اخلي. عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله، الله تعالی ته محبوب و، ځکه یې د افغانستان د جهاد د ثمراتو د احیاء، د شر او فساد د له منځه وړلو، د ګران هیواد د تجزیې د مخنیوي او د رښتیني اسلامي نظام د حاکمیت په خاطر یې د مسؤلیت د درک او عملي حرکت د پیل توفیق ورکړ او سبقت یې ور په برخه کړ. دا د الله تعالی په نزد د قبولیت وجه وه، ور نه دېرو لوړو دیني، عصري تعلیمي مؤسسو څخه سند په لاس اشخاص چې د افغانانود جهاد په رهبرۍ کې یې قرار درلود، څوک په دې ستر امتحان کې واقع او ناکام شول او څوک د غفلت په خوب ویده او یوازې د ځان، کورنۍ او ډلې په فکر کې شول.

د کابل له فتحې د مخه عالیقدر امیر المؤمنین رحمه الله لوګر ولایت ته د جګړې د لومړۍ کرښې له نظامي مسؤلینو او د شاوخوا ولایتونو له ملکي مسؤلینو سره یوې غونډې ته راغلی و. زه د نوموړي د امنیت ساتنې په برخه کې د ګزمې مسؤل وم. کله چې نوموړی د غونډې ځای ته نږدې په یو مسجد کې د لمانځه له اداء کولو څخه وروسته راووت، زه یې په ملاقات مشرف شوم. ما یو معنوي اغیز محسوس کړ او یو مخ د نوموړي شخصیت د درنښت، وقار او جلال مجموعه راته ښکاره شوه.

نوموړي رحمه الله د قیادت ډېرې ځانګړنې درلودې. لږ خبرې، بې کچې درنښت، زیات رعب، بې کچې صبر، د غره په څېر استقامت، د خواصو توکل، قاطعیت، سیاسي

ژور درایت، په پریکړو کې د تاریخي او عیني حقائقو په پام کې نیول، نظامي نبوغ، لـه وعیدونو او تهدیدونو څخه نه ویریدل، دتطمیع په جال کې نه راگیریدل، امت ته وسیع غېږه او تر هـر څـه وړانـدې د امـت وحـدت تـه ارزښـت ورکـول د نومـوړي د قیـادي شخصیت له ځانگړنو څخه وې.

عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د دنیا د نورو واکمنانو په څېر د مادي او سیاسي امتیازاتو، استخباراتي میتودونو او نظامي زور په توسط په خپـل لښـکر او خپل ولس واکمني نه کوله. نوموړي د خپل لښکر او خپل ولس پـه زړونـو واکمنـي کوله او د دوی په زړونو کې یې ځانگړی ځای درلود. د انډیوالۍ پـه څېـر تعامـل او د زړه د مینې ورکول، شخصي تقوی، اخلاص، تواضع، صداقت، په خپل لښکر او ولـس اعتماد، عدالت او په زړونو کې یې له الله جل جلاله څخه د ویرې پیدا کـول پـه خپـل لښکر د ټینگ کنترول په برخه کې غوراوي وو.

د امیر المؤمنین رحمه الله په لاس تأسیس شوی د افغانستان اسلامي امـارت د معـاصرو اسلامي او جهادي خوځښتونو په ټولي کې ځانگړی مقام لري او په تاریخي لحاظ یـې کم مثالونه موندل کیږي. د اسلامي امارت ځانگړنې په دې ډول یادولی شو.

ـ د زعامت د ټاکنې لپاره د اسلامي شورى د اصـل احیـاء کـول او د زعامـت د میـراثي کولو دود ختمول.

ـ مسلمانانو ته د اخـوت غېـږ خلاصـول، او د رښـتینو اسـلامي او جهـادي خوځښـتونو اجماع رامنځته کول.

ـ د مبارزې او جهاد د سختیو له امله له افراط او تفریط څخه ډډه کول.

ـ له خپل ولس او گرد اسلامي امت سره د ترحم او احترام چلند

ـ داسې تشکیلاتي جوړښت رامنځته کول چې د دښمن د نفوذ او د لیکو د تفرق مخـه نیسي.

ـ له مالي پلوه په خپل ځان اتکاء

ــ د مسلح جهاد تر څنګ د نبوي شرعي سياست تعقيب

ــ له پېړيو وروسته د اسلامي نظام د عملي تاريخي نمونې وړاندې کول.

ــ د اسلام په احکامو له سازش څخه ډډه او له مظلومو مسلمانانو څخه کلکه دفاع

په پای کې له لوی الله جل جلاله څخه امير المؤمنين رحمه الله ته د مغفرت، د نوموړي درنې کورنۍ او ټول امت ته د نعم البدل او د ده د شخصيت، ژوند او مبارزې په اړه کتاب ليکونکو ته د توفيق او اجر عظيم غوښتنه کوم. الله تعالی دې د ټولو سعی قبوله کړي او الله دې لويه فائده پرې مرتبه کړي. آمين يا رب العلمين.

**د امارت د مقام د مخابرې مسؤل نصرت حاجي لالا**

اميرالمؤمنين رښتيا هم له هر مظلوم او بې وزله سره ډېر زيات زړه سوی درلود. حتی که دښمن به يې هم بندي يا ټپي شو د رحم معامله يې ورسره کوله. يو وخت زه خپله په شمالي کې وم زموږ د مخالفو ځواکونو له قوماندانانو څخه يو لوړپوړی قوماندان چې د پير نظر په نوم و په زخمي حالت کې ونيول شو. اميرالمؤمنين فورا ماته حال راکړ چې مجاهدينو ته امر وکړه چې ژر تر ژره دغه زخمي شفاخانې ته ورسوي، ماهغوی ته وويل هغوی هم سمدستي د کابل ۴۰۰ بستريز روغتون ته ورساوه، هغه به تل ويل چې که کوم وخت د دښمن له افرادو څخه څوک ژوندی ونيول شو، چې ويې نه ځوروئ، او زخمي يې فورا روغتون يا کلينک ته رسوئ، دا يې په نظامي ډګر کې زړه سوی و.

اوپه عمومي ډول د وچکالۍ په کال د کندهار، هلمند او نيمروز ولايتونو د ريګونو او لرې پرتو سيمو کوچيان په ريګونو کې بند پاته وو، يوه اړخ ته وچکالي وه او بل لوري ته قدرتي آفات اومرضونه يې مالونو ته راغلي اوټول مالونه او څاروي يې مړه شوي وو.

مرحوم اميرالمؤمنين ته د دې خلګو په هکله خبر راورسيد هغه سمدستي خپلو هوايي قواوو ته امر وکړ چې هليکوپټر ورته موظف کړي، په هليکوپټرو کې ټول دغه خلک له ريګونو څخه راوړل شول او په ابادو وطنونو او اوبه خور ته نږدې سيمو کې ځای پرځای او لازمې مرستې يې هم ورسره وکړي.

بله خبره دا چې يو وخت زه خپله د کندهار د سرپوزې زندان ته ورغلم هلته مې زيات شمير کشران زندانيان وليدل چې ډيرې يې نه درلودې، هغوی په جګړو کې نيول شوي وو، طبعا په جګړوکې خلګ د خپل صف د غښتلي کولو لپاره خلګ ډيروي او لغړزني هم راکشوي تر څو د خپلو جنګياليو تعداد زيات کړي، ما مسؤل چارواکي پيدا کړل او اميرالمؤمنين ته مي په مخابره کې حال ورکړ، مسؤل کس مې هم ورسره په تماس کې کړ، اميرالمؤمنين ورته وويل: ولې؟ هغه معذرت اوبخښنه غوښته او خپل دلائل يې ورته وويل: سبا يې دستي هيئت وټاکی او هغه زندان ته ورغلی، اکثر کمسنه بنديان يې په يوه وار خوشي کړل. دا د عاليقدر اميرالمؤمنين د بې کچې زړه سوي، مرحمت، مهرباني، شفقت، او د بې وزلانو سره د خواخوږۍ څو بيلګې وې. ټولې يې له شمير نه زياتې دي. الله تعالی دې ورباندې رحم وکړي.

### د رهبري شورى غړی ملا شيرين آخند

د ملا صاحب له شخصيت څخه چې په اول ځل زه متأثر شوم، دا د شوروي اشغال او د ډاکټر نجيب د رژيم وروستي کلونه و. په دې وخت کې مجاهدينو له کندهار څخه د هلمند او هرات پر خوا تللې لاره د دښمن پر مخ بنده کړې وه او د هغوی قواوو او اکمالاتو ته يې لار نه ورکوله. دغه وخت داسې اوازه و چې يو شمير تش په نام مجاهدين له کمونيست حکومت سره رابطه لري او غواړي په دې لاره د دښمن اکمالاتي کتار ته د تيريدو زمينه برابره کړي.

يو وخت چې د مجاهدينو تر مابين مجلس دائر شوی و، همدا موضوع ياده شوه. په دې وخت کې په سيمه کې يو ځواکمن قوماندان د استاد عبدالعليم په نامه و چې هغه وخت يې ډېر قوت درلود. يو چا په مجلس کې د کمونيستانو د کاروان تېرولو خبره ياده کړه، استاد عبدالعليم په ډيره بې پروايي وويل چې کاروان زه تيروم څوک به څه راته ووايي؟ په دې خبره ټول غلي شول، سره له دې چې په مجلس کې ډېر مجاهدين او مشران ناست وو، خو د استاد عبد العليم د خبرې ځواب هيچا ورنکړ.

تر دې چې استاد عبدالعليم نور هم زړور شو او يو وار بيا يې په جوش او خروش همدغه خبر تکرار کړه، چې زه د حکومت کاروان ته لاره ورکوم او تيروم يې. په دې

وخت کې ملا صاحب تازه د فیض الله اخند زاده له جبهې راجلا شوی و او یوازې څو تنه ملګري ورسره و، چې کوم لویه جبهه یا قوت یې هم نه درلود. خو ملا صاحب په ډېر جرأت د استاد عبدالعلیم ته وویل: ته څرنګه دا وایې چې زه د کمونیستانو د حکومت کاروان تیروم. په دې لاره روسانو کاروان نه دی تیر کړی اوس یې ته تیروې. ته را میدان ته شه چې سره معلومه یې کړو چې ته یې تیرولی شې او کنه؟

د ملا صاحب له جرأت او غیرت څخه ډک ځواب عبدالعلیم هم وویراوه او بیا له دې خبرې څخه منصرف شو. له دې څخه ماته معلومه شوه چې ملا صاحب حق ګویه شخص و. هغه د حق په مقابل کې د هیچا پروا نه ساتله او نه هم له چا څخه ویریده. دا د هغه وخت کیسه ده چې استاد عبدالعلیم په کندهار کې ډېر قوت درلود او چا په آسانه ځواب نه شوای ورکولای.

د ملا صاحب یو بل ښه صفت دا و چې د خپل جهادي خدمت او کارنامو هیڅ یادونه به یې نه کوله او نه به یې هم اثر ورباندې معلومېده. که به یې په جهاد کې هر څومره لوی کار او مهمه کارنامه ترسره کړې وه خو له وضعیت څخه به یې چا ته دا نه معلومېده چې دا کار دې ده کړی وي یا دې په هغه لویه کارنامه کې دی شریک وي.

د کمونیزم ضدجهاد په وخت کې یو ځل د کندهار ښار محله جات سیمې ته لویه قوه راغلې وه او مجاهدینو سخت جنګونه ورسره وکړل. په دې جنګ کې د دښمن ۲۲ شاوخوا ټانګان او پوځي وسائط له منځه لاړل. ملا صاحب هم په دې جنګ کې فعاله برخه درلوده او له پیله تر پایه په کې شریک و. له جنګ وروسته چې کله دښمن شکست وخوړ. له جنګ وروسته په زلخان سیمه کې چې د مجاهدینو اطاق و ما ملا صاحب ولید. حال دا چې ځینو مجاهدینو به د جنګ کیسې بیانولې خو ملا صاحب چې په دې جنګ کې یې مهمه برخه درلوده، حتی له وضعیت څخه یې هم دا نه معلومېده چې په جنګ کې به یې شرکت کړی وي.

د ملا صاحب بل صفات تواضع او علماء کرامو، نیکانو او صالحانو ته احترام و. په کندهار کې هغه وخت یو صوفي عالم اوسیده چې په تقوی او دیانت یې شهرت درلود او د صلاوات به حاجي بابا مشهور و. ده په امارت څه انتقاد درلود. ملا صاحب چې

کله پرې خبر شو، نو په خپله ورغی د هغه صوفي عالم ځای ته. هلته ما ولیدل چې ملا صاحب اگر که د هیواد مشر او حاکم و خو د هغه عالم په وړاندې په ډېر ادب او تواضع سره ناست و. د هغه خبرې یې اوریدې او بیا یې په ډېر احترام ورته څواب وایه تر دې پورې چې د هغه انتقاد رفع شو.

### د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي وکیل احمد متوکل

د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر او د ملا صاحب د دفتر لومړنی منشي مولوي وکیل احمد متوکل صاحب خپلې خاطرې داسې راسره شریکوي.

امیرالمؤمنین ملاصاحب مرحوم د اختر د عامې عیدگاه د لمانځه امامت اوخطبه او نور لمنځونه په خپل امامت ورکول ښه اواز او ښه په تجوید یې قرائت وایه. زما د والد شهید ابوالفیض علامه عبدالغفار بریالي اشعار یې ډېرخوښ وو، د ده په وینا د هغه د شعرو کتاب (اهاړ) هم د اول ځل لپاره د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست لخوا کمپوز او چاپ سو.

ملا محمدعمر مجاهد په نه ستړي کېدونکي ډول ډېر کار کاوه ډېرې لیدنې یې کولې، په داخله کچه له روزمره ملاقاتو څخه علاوه یې د بهرنیو مېلمنو سره هم لیده کاته کول، د ملگرو ملتو د سرمنشي له استازي سره او د پاکستان، سعودي او اماراتو څخه علاوه د ترکمنستان او ازبکستان له خارجه وزیرانو سره یې هم ناستې درلودې، د قطر، چین او نورو پلاوو سره یې هم وکتل د ځینو عربي او پاکستاني ژورنالستانو او غربي راډیوگانو سره یې هم مصاحبې کړې وې.

یو وخت یوه لوړ پوړي پاکستاني پلاوي ورته ویل چې موږ په ځینو موضوعاتو کې د نړیوال فشار سره مخ یو او تاسې مو هم خبرې نه منئ ملا صاحب ورته وویل زموږ د هیواد پر سر نړیوال مناسبات مه خرابوئ چې تاوان در رسیږي نو زموږ سره تعلقات وشکوئ. بیا هغوی بیرته خبره واړوله چې نه موږ خو گاونډي هیوادونه یو.

د سعودي د استخباراتو مشر ترکي فیصل د پاچا فهد پیغام ملاصاحب ته ووایه چې اسامه بن لادن موږ او امریکا ته مطلوب دی. ملا صاحب ورته وویل ستاسو نیکه گانو

صحابه کرامو رضی الله عنهم چي تر موږ پوري اسلام راورساوه، اوس تاسې ولې دوم
بې غیرته سواست چي د صدام څخه ځان په امریکا ساتئ؟ هغه خپه سو چي زموږ
کورنۍ توهین دي وکړ مجلس يې پرېښوی.

مشر ملا صاحب تل د ښځو د حقوقو په اړه ډېره اندېښنه لرله ویل یې موږ د کورونو
شخصي حریم د مصؤنیت له خاطره انګړ ته نفر نه سو ورلېږلای چي د ظلم او کورني
تاوتریخوالي سملاسي مخه ونیول سي. خو پر نورو لارو چارو مو عملي کارونه روا
کړي دي لکه د منابرو او رسنیو څخه د شرعي احکامو مسلسل ابلاغول د محجب
تعلیم او جلا تحصیل زمینه برابرول د محاکمو د لاري د بېلابېلو جنايي او حقوقي
مسایلو د حل لپاره د ښځو لاسرسی، همداراز په نظامي لیکو کي د ماشومانو ن
استخدام او د موظفو کمیسونونو په مټ دوامدار تعقیب ترسره کول.

## د اسلامي امارت د لومړنۍ واکمنۍ پر مهال په پاکستان کې سفیر ملا عبدالسلام ضعیف

تر ټولو لوی صفت د مشر ملا صاحب دا و چي شریعت يې د ټول ژوند، کړنلارو ا
کارونو معیار ټاکلی و، هره فیصله او موضوع چي به ورته ورسېده، تر هر څه لومړی ب
يې د شریعت په رڼا کي پرېکړه او عمل کاوه، هغه پرېکړه او مسئله چي د شریعت
موافق به وه، هغه به يې عملي کوله اوکه به د شریعت خلاف وه هغه به يې سمدستي
ردوله.

دوېم: دهغه د ټول پرسونل او کارکوونکو انتخاب د تقوی او یا هم د لیاقت پر بنیاد و
تر هغه ځایه چي د ده علم ورته رسیدلای وای تقوی لرونکي او یا هم لایق کسان يې
ګمارل، که څه هم ډیرو خلکو ته به دا معیار د سوال خبره وه.

درېم: لکه څنګه چي عمر نومیدی همداسي هغه د حضرت عمر (رض) غوندي د پور
صداقت خوی درلود، نه يې چاته دوکه ورکوله او نه خپله تر پایه د چا له خوا څخ
دوکه سو. او دښمنانو د دوستۍ او دښمنۍ په دواړو حالتو کي پوره کوشش وکړ چي
هغه ته دوکه ورکړي، ولي ونه توانېدل.

ځلورم: هغه رښتونی او پاک انسان و، هیڅ نوعه اخلاقي او لساني کمزورتیا یې نه درلودله، هغه دروغ ویل نه خوښول، او نه یې له چا سره چل او دوکه خوښېدله، نه یې بې ځایه او بې مانا خبرې کولې او نه یې بې ځایه وخت تیراوه.

پنځم: هغه د غریبو او ساده خلکو سره مینه درلودله، د یتیمانو او معیوبو خلکو د حال څخه یې ځان خبراوه، پخپل ځاني او کورني ژوند کې ساده او هم یې ساده ژوند ته ترجیح ورکوله

شپږم: هغه د بل چا خبره په ډیرو سړو مغزو او پوره حوصله سره اوریدله، بیا یې د هو یا نه جواب مقابل لوري ته ورکاوه، په خبرو کې یې د چا سره ډیره مشاجره نه کوله، په وعده باندې یې وفا کوله، د خولې او زړه خبره یې هر وخت یوه وه. د متین عزم څښتن و، په هر کار کې به یې پریکنده عمل کاوه.

اوم: د ښو او متدینو خلکو سره یې زیاته مینه کوله، دعلماء کرامو احترام به یې کاوه، د هغوی خبرو او مشورو ته به یې ځانګړې پاملرنه کوله. تر کومه ځایه چې زه مرحوم ملاصاحب پېژنم، د یوه مؤمن مسلمان په توګه دهغه په حق کې دخدای پر وړاندې په لاندې څو شیانو شاهدي ورکوم:

اول: د الله جل جلاله سره د هغه په اخلاص او رښتنولي باندې. هغه خپل ځان هر وخت دخدای جل جلاله شریعت ته تسلیم کړی و، د دین د شرائعو او د دین د علماء کرامو عزت یې کاوه، د الله جل جلاله کتاب قران کریم یې د ځان او ملت له پاره دستور او قانون ګرځولی و، ټولو ملګرو ته یې د خیر توصیه کوله.

دویم: هغه د هر ډول قومي او منطقوي تعصباتو څخه پاک انسان و، د هر چا سره یې معامله په تقوی باندې وه.

دریم: هغه د هیچا پر وړاندې، درواغجن، دوکه باز او خاین نه و.

څلورم: هغه پاک نفس او پاک لمن انسان و.

پنځم: د هغه دوستي اودښمني په شخصي تعصب نه، بلکي د خدای جل جلاله د دي
او شـريعت پر بنياد وه.

شپږم: هغه خپله مباشـر ظالـم نه و، او نه يې بل چا ته په ظلم سره امر کاوه، نه يې د ظا
دفاع کوله.

## د نړۍ د جهادي شخصيتونو، علماء کرامو او قلموالو تأثرات

### د قاعدة الجهاد د مشر شيخ أيمن الظواهري د پيغام يوه برخه

امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد د مجاهدينو يو داسې امير او قائد و چې لـه خپ
رب سره د لقاء تر وخته پر حق ثابت مجاهد او مرابط پاته شو. موږ په دې شاهدي ادا
کوو چې هغه څه ويل هغه رښتيا و او کومه وعده يې چې کړې وه پر هغه يې وفا وکړ
هغه له خپلې عقيدې او دين څخه پر شا نه شو. هغه به د اسلام او مسـلمانانو پـه تـاريخ
کې د صدق، توکل على الله او پر دنيا د آخرت غوره ګڼلو يو مثال ياديږي. نو وياړ پ
داسې امير او داسې امارت. هغه يو داسې قهرمان و چې نړيوالو کفارو ته يې سر ټيټ ن
کړ. او پر لوی رب په توکل سره د خپلو پاکو لښکرو په ملتيا د نړيـوال کفـر مقـابلې تـ
ووت، نو الله تعالى يې نصرت وکړ او د ده مرتبه يې لوړه کړه.

ملا صاحب هغه امير و چې ويل يې: د شيخ اسامه موضوع د يوه شخص موضوع نه د
بلکـي دا اوس د اسـلام د عـزت مسـئله ګرځيـدلې ده) اللـه تعـالى د ده محبت د ټولو
مجاهدينو او مهاجرينو په زړونو کې اچولی و. دی هغه أمير و چې بت پرستو مشـرکينو
ته يې هم خپل ايمان وروښود او د ابراهيم عليه السلام په پيروۍ يې بتان مات کړل. هغه
په حق ثابت پاته شو تر څو په همدې لاره کې مرګ ورته راغی. هغه واقعـا د امـت پـه
سطحه يو (سړی) و. رحمه الله رحمة واسعة واسكنه الفردوس الاعلى.

## د دارالعلوم حقانیه مهتمم شیخ الحدیث مولانا انوار الحق صاحب[1]

الحمد لله الذي أمر بالجهاد. لتطهير الأرض من الكفر والفساد. ووعد المجاهدين بعظيم الأجر والثواب. والصلاة والسلام على رسوله محمد الذي جاهد في الله حق جهاده بالقلب واللسان. والدعوة والبيان. وبالسيف والسنان، وعلى آله وأصحابه الذين بذلوا نفوسهم وأموالهم في الجهاد في سبيل الله طاعة لله وطلبا لثوابه، وسلم تسليما كثيرا. أما بعد فقد قال الله تعالى بعد أعوذ بالله السميع العليم من الشيطن الرجيم: (من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر وما بدلوا تبديلا (سورة الأحزاب الآية ٢٣)

لقد قام الاتحاد السوفياتي السابق بالغزو لأفغانستان في ٢٥ ديسمبر/كانون الأول عام ١٩٧٩ في سياق مطامع استعمارية للغزاة الروس في المنطقة، وصراع الامبراطوريتين – الروسية

---

(۱) مولانا انوارالحق صاحب

اتحاد جماهیر شوروي په ۱۹۷۹ میلادي کال کې د دسمبر په ۲۵ مه د هغو استعماري مطامعو په سبب چې روسي یرغلګرو درلودې او یا د دوو امپراطوریو د ښکر په ښکر کیدو چې روس او امریکا وې د ساړه جنګ په درشل کې په افغانستان یرغل وکړ او هلته یې په وړاندې افغان ولس سرتاسري پاڅون او جهاد اعلان کړ، تر څو د بهرني یرغل مخه ونیسي. افغانانو ډیرې قیمتي وینې په دې لاره کې وبهولې، د جنګ په میدان کې په سلګونو زرو شهیدان شول، جنګ لا سوړ شوی نه و، چې تر شا یې په میلیونونو کسان زخمیان، معیوب یتیمان، کونډې، بورې، وراره پریښودلې او د شورویانو د یرغل نتیجه ړولوژنه او د ټول هیواد د ورانې وه.

په کال ۱۹۸۸میلادي کې یې د جهاد په برکت او د اسلامي نړۍ په مرسته روسان مات کړل، هغوی ووتل خو دغه ستره فتحه په دغه پړاو کې ونه دریده، بلکې د مظلومو وینو سیلاب هغه تر ټولو سرکښه او طاغي طاقت اتحاد جماهیر شوروي) د ځمکې د نقشې له مخه محو کړ. و لله الحمد.

خو متأسفانه هیواد ته بشپړ امن راستون نه شو او یوې ډلې تالی څټو او د پردو نوکرانو د افغانانو تر منځ جګړې اور بل کړ. (پروني) مجاهدین په خپل منځ کې سره ونښتل او هیواد د کورنۍ جګړې ښکار شو، دغ خواشینوونکي وضعیت د جهاد سمعت داغدار او زیانمن کړ. کوم چې هدف او موخه یې د اسلامي نظا راوستل وو. هغه چې د مظلومو شهیدانو او مخلصو مجاهدینو د زړه له کومې هیله ارمان وو.

هیواد دغه وخت د غلا، قتل، شوکو، وحشت او ډول ډول رذالتونو آماجګاه شو. خو الله تعالی د نیکانو ا صالحو بندګانو اجر نه ضائع کوي. نو په دغه ترینګلي وضعیت کې د مدرسو ځینو زده کوونکو ( طالبانو ) ا

والأمريكية —حول مناطق النفوذ في إطار الحرب البادرة، حينها نهض الشعب الأفغاني، صامدا وأعلن الجهاد والمقاومة ضد الاحتلال الأجنبي ، وضحى بأغلى ما يملك من دمائه الطاهرة ، فقد استشهد في ساحات الوغى مئات الآلاف من المجاهدين، ولم تضع الحرب أوزارها إلا إذا خلفت الملايين من الجرحى والمعوقين والأيتام والأرامل والثكالى، وذلك إثر الإبادة الجماعية لعامة الناس ، إضافة إلى الدمار الشامل لعمران البلاد.

وأخيرا انسحبت القوات السوفياتية من أفغانستان عام ۱۹۸۹، بفضل الجهاد من جانب الأفغان بدعم سخي من العالم الإسلامي . ولم يتوقف هذا الفتح العظيم عند هذا الحد فقط ، بل أخذ سيل دماء الشهداء الأبرياء يواصل جارفة أطغي قوة في العالم حتى انهيارها بالكامل وطي بساطها من على وجه الأرض ولله الحمد.

لكن للأسف الشديد لم يعد السلام الشامل للبلاد ، فقد قامت حفنة من المرتزقة، وعملاء الأجانب ، بإشعال فتيل الحرب الأهلية بين المجاهدين أنفسهم ، فراحت البلاد ضحية الحرب الأهلية.

ومما زاد الطين بللا، أن هذا الوضع المأساوي شوه سمعة الجهاد والحركات الإسلامية في كافة أنحاء العالم الإسلامي ، وحال دون وصول الشعب الأفغاني إلى تحقيق هدفه السامي وهو

---

ملا محمد عمر مجاهد سره بيعت وکړ او هغه يې د ځان امير وټاکه. څو اسلامي امارت په هيواد کې راولي. بالاخره هغوی وکولای شول، چې د مفسدو ټوپکيانو څخه وسله راټوله کړي او بيا يې هغه د باجګيري او شوکو پاټکونه چې غلو د کندهار په ولايت کې اچولي وو، پورته کړي.

همداسې يې د هغوی د فساد ريښې دلته او هلته وريبلې او ووهلې، تر څو په کندهار ولايت برلاسي شول او دغسې يې خپل پرمختګونه د نورو ولاياتو پر خوا وغځول، چې هغه يې يو په بل پسې لاندې کول او دغه بريالیتوبونه يې پرلپسې وو. څو چې لښکرې يې پلازمينې کابل ته ورسيدې او اسلامي امارت يې هلته اعلان کړ، کوم چې د شهيدانو ارمان وو.

دا هغه امارت و چې د حدودو نفاذ او د سولې تأمين لپاره مثال ورباندې ويل کيده او په دغه وخت کې د افغانستان غيرتمن ولسونه په امن او د خپل ځان، مال او ناموس څخه بې غمه او مطمئن شول. څو متأسفانه

إقامة الحكومة الإسلامية وفق آمال الشهداء الأبرياء والمجاهدين المخلصين. لقد أصبح البلد مستنقع الرزائل والفوضى والنهب والقتل والسرقة وغيرها من الجرائم الوحشية ، ولكن الله لا يضيع أجر عباده الصالحين ، وفي هذه البرهة العصيبة من الزمن ، فقد بايع عدد من طلبة المدارس الملا محمد عمر مجاهد – رحمه الله – أميرا لهم لإقامة الإمارة الإسلامية في البلاد.

لقد تمكنت هذه المجموعة المبايعة من طلبة المدارس الدينية بانتزاع السلاح من أيدي مجموعات من المقاتلين المفسدين ، ثم قامت بأزالة نقاط جباية الضرائب التي نصبتها اللصوص في ولاية قندهار.

وهكذا شرعت في اقتلاع جذور الفساد والفوضى هنا وهناك، ثم اتجهت لتسيطر على ولاية قندهار.

---

صليبي دښمنانو د امارت د دغه مثالي دولت زغم نه درلود، کوم چې د قدرت او ځواک راز يې په دې کې و چې دغه امارت له اسلامي شريعت څخه خړوبيده، نو ځکه يهودانو په مکر او چل د اسلامي امارت د له منځه وړلو لپاره يو له بله لاس سره ورکړ او د الله تعالى د بدترين دښمنان چې په سر کې يې امريکا او ناټو ټولواله وه په اسلامي امارت يې يرغل وکړ، په دغه بدمرغه جګړه کې يې د توغنديو، الوتکو او بمونو په شمول تر ټولو پرمختللې وسلې وکارولې او د ويلو وړ ده چې امريکايي يرغل د روس تر هغه ډير وژونکی او ورانوونکی وو. هغه څه چې د دې يرغل په پايله کې لاسته راغلل يو ګوډاګی حکومت و نو افغانانو ته بله لار پاتې نه شوه، تر څو يو ځل بيا خپله خاوره د صليبيانو له منګولو وژغوري او شيخ مجاهد ملا محمد عمر دا هر څه څارل، هغه ناهيلی يا مايوس نه شو او د يرغلګرو په وړاندې يې نفير عام جهاد اعلان کړ.

اوس دا دی الحمد لله اوسپنه ويلې شوه او عقيده بريا ته ورسيده. دښمنان له يرغل څخه پر شا شول او وروسته له شلو کلونو يې وپېيله چې خپلې لښکرې له افغانستانه وباسي او تجربو ښودلې تاريخ ليکلي چې افغانستان د امپراتوريو هديره ده.

که دغه مرغلينه مرسته (نصر مؤزر) په يو څه دلالت کوي هغه دا ده چې دغه بريا د الله تعالى نصرت او فضل دی، چې له افغان ولس سره يې کړی دی او بل دا چې دا بريا د هغه زيار او هڅو پايله ده چې شيخ المجاهد ملا محمد عمر رحمه الله په لاره اچولې وې. اللهم ارزقه جنة الفردوس

د خيبر پښتونخوا څخه د حديثو استاد او د جامعه حقانيه مهتمم شيخ انوار الحق

ثم واصلت طالبان زحفها باتجاه بقية الولاية الأفغانية وسيطرت عليها الواحدة منها تل
الأخرى ، ثم استمرت لها الانتصارات العسكرية إلى أن دخلت قواتها العاصمة - كابول
وأعلنت فيها الإمارة الإسلامية تحقيقا لآمال الشهداء. تلك هي كانت إمارة يضرب بها المث
في إقامة الحدود وترسيخ دعائم السلام في كافة نواحي البلاد، وحينها عاش الشعب الأبي آم
مطمئنا على ماله ونفسه وعرضه.

ولكن للأسف الشديد أنى للعدو الصليبي أن يسمح بوجود هذا النموذج الأمثل من الإمار
التي كانت تستمد قوتها وإرشاداتها من سماحة الشريعة الإسلامية. لذا فقد احتال صهاين
العالم بنسج المؤامرة للاتاحة بالإمارة، حيث تكالب أشرس أعداء الله على وجه الأرض بقياد
أمريكا وبالمساهمة الفعالة من حلف الشمال الأطلسي (NATO) فبدؤا بالهجوم على الإمار
الإسلامية مستخدمين في هذه الحرب ،أحدث أنواع الأسلحة من طائرات وصواريخ وقنابل
وغيرها من الأسلحة الفتاكة ، هذا وتجدر الإشارة بان الاحتلال الأمريكى كان أخطر وأكث
دمارة وشراسة من نظيره السابق على يد الجيش الأحمر الروسي.

فمما نتج من ذلك هو تاسيس الحكومة العميلة. فلم يكن للشعب الأفغاني المجاهد إلا أن
يقوم من جديد بإنقاذ بلاده الطاهرة من مخالب الصليبيين ، والشيخ المجاهد الملا محمد عمر -
رحمه الله - كان بالمرصاد فلم ييأس ويقنط من روح الله، وأعلن النفير العام ضد الصليبيين
الغاشمين، والآن ولله الحمد ذاب الحديد وانتصرت العقيدة، لقد عجزت الأعداء من مواصل
احتلالهم، وبعد مضي ما يقارب عقدين من الزمن أعلن الانسحاب الفوري من أفغانستان
حقا لقد أثبتت التجارب بان أفغانستان مقبرة الغزاة عبر القرون.

فإن كان هذا النصر المؤزر يدل على شيء فإنما يدل على فضل الله و نصرته لهذا الشعب ، ثم
على فضل الجهود المشكورة التي قام بها الشيخ المجاهد أمير المؤمنين الملا محمد عمر -رحمه الله

اللهم ارزقه جنة الفردوس بمعية سيد الشهداء حمزة رضي الله عنه، آمين يا رب العالمين

أنوار الحق / أستاذ الحديث ومدير الجامعة دار العلوم الحقانية، أكوره حتك

مضافات إقليم خيبر پختونخوا

## د دارالعلوم حقانيه استاد شيخ الحديث مولانا مغفور الله صاحب[(۱)]

حامدا و مصليا و بعد:

استلمت رسالتكم الكريمة التي أشرتم فيها أنكم تريدون إصدار كتاب عن حياة البطل الإسلامي الملا محمد عمر مجاهد - طيب الله ثراه وجعل الجنة مثواه - وقد سررت بمشروعكم المبارك الذي خطط له الإخوة الفضلاء، فلا يسعني إلا أن أشكر أولا للإمارة الإسلامية في أفغانستان الحبيبة على ثقتها الغالية بشخصي المتواضع، و بقامة قصيرة مثلي..

وقبل أن نتعرض لمآثر الراحل الكريم وبطولاته النادرة أود أن أذكر قطعة من أبيات شعرية رثي بها الشاعر طالوت اليمني لملا محمد عمر مجاهد بعد وفاته -رحمه الله-، فهي خلاصة وزبدة ما سأذكره في كلماتي البسيطة الآتية بعد:

تبكيك سانحة الأيام ياعمر

ويشكي لك منك الليل والقمر

تبكيك سانحة الأيام غربتها

قد أتعبتك ولماينقض السفر

---

(۱) د شيخ الحديث مولانا مغفور الله بابا تأثرات

حامدا و مصليا و بعد:

ستاسو ليک مې ترلاسه کړ، کوم چې تاسو په کې يادونه کړې چې تاسو د اسلامي نړۍ د قهرمان ملا محمد عمر مجاهد (طيب الله ثراه وجعل الجنة مثواه) د ژوند په هکله کتاب ليکئ او خپروئ. زه ستاسو له دې اقدامه خوښ شوم کوم چې فاضلانو ورونو يې تکل کړی. له موقع څخه په استفاده لومړی د ګران افغانستان له اسلامي امارته قدرداني او مننه کوم چې ما غوندې سړي باندې يې دومره باور کړی دی. او پخوا تر دې چې زه خپل تأثرات وليکم دغه شعري ټوټه چې يمني شاعر طالوت د ملا محمدعمر مجاهد له وفات وروسته مرثيه ويلې درته ليکم. دغه زما د تأثراتو چې وروسته راځي مغز او نچوړ دی. شاعر وايي:

وأنت تخطط فيها رسم عزتها

على قلوب ولماينمح الأثر

يا فارسا في ذرى الأفغان منبته

ومن سناه إليها النور ينتشر

يانارشاني قرى الأفغان مثبته

هذا الذي طرد الكفار يغلبهم

حتى رأين عتاة الروم تندحر

و بعد! فإن التحرير حول هذا المجاهد العظيم وزعيم الإمارة الإسلامية وفقيد الأمة الإسلامية: تشبه جعل الزفر في زافر – عصر البحر في كوزة–؛ بما أن حياته متشعبة النواحي متعددة المعاني مليئة بالإنجازات حافلة بالإسهامات العظيمة والخدمات الجليلة عصارتها السعي

---

اې عمره! تاريخ ټول درپسې ژاړي، شپې او ورځې درته ګيلې کوي او تاريخ خپله پرديسي او غربت درته بيانوي.

ته سترې ستومان شوې خو سفر پای ته ونه رسيد، تا په خپل وخت کې د امت دعزت انځور وکيښ او د دوی په زړونوکې يې لا اغيز ورک شوی نه و.

اې د افغان هيواد شهسواره! هغه ټاټوبی چې له رڼا يې ځلا خپريده، افغانان هغه څوک وو، چې کافران يې تل له خپلې خاورې شړل. آن تر دې چې ومو ليدل سرکښه روميان او يهودان هم ترې وتښتيدل. و بعد:

د دغه ستر مشر او زعيم په باب ليکل داسې دي، لکه څوک چې سيند په کوزه کې ځايوي، ځکه ژوند يې مختلفې دورې درلودې او په مختلفو پړاوونوکې د سترو لاسته راوړنو او لوړو خدمتونو جوګه و. چې مقصد يې د اسلامي امت د لوړتيا او د نړيوال کفر د سرکښو خائنانو او د يهودو له منګولو څخه ژغورل و. هغه دښمنان چې شپه او ورځ د اسلامي امت د ټوټه کولو او د هغه د اندامونو پرې کولو په لټه کې دي. الله تعالی دې په وينا کوونکي شاعر رحم وکړي چې وايي:

لتخليص الأمة الإسلامية من براثن اليهود و استعمار الكفر العالمي والطواغيت والخونة الذين يواصلون الليل بالنهار في تمزيق شمل الأمة الإسلامية وتقطيع أوصالها إربا إربا وتفريق أجزائها شلوا شلوا، ورحم الله القائل:

تكاثرت الظباء على خراش

فلايدري خراش مايصيد

ولا يختلف أحد أن الفقيد رحمه الله هو الوحيد الذي لم يتوجه إليه أصابع الاتهام طيلة حياته حتى وقد اعترف ببطولاته الأعداء، "والفضل ما شهدت به الأعداء" إلا من أنكر حسه أو غالط في حقائق نفسه حيث ان كثيرا من المصادر التاريخية أو المواقع و صفحات التواصل الاجتماعي تشير الى ان االمقر الذي اتخذه لنفسه كان بمسافة قريبة جدا من مركز تواجد

---

تكاثرت الظبأ على خراش

فلا يدري خراش ما يصيد

دومره ډيرې هوسۍ په خراش را تاو شوې چې خراش نه پوهيده کومه يوه ښکار کړي.

په دې خبره کې هيڅوک اختلاف نه لري، چې د امت دغه فقيد (عمر رحمه الله) د دې وخت هغه يوازينی تن دی، د چې د تور او تهمت په گوته ورته اشاره نه ده شوې. او دغه يې د تهول ژوند وياړ او افتخار دی. په بهادري او توره يې دښمن هم اعتراف کوي.( والفضل ما شهدت به الاعداء) مگر يوازې هغه کسان د ده ښيگڼې نه پيژني چې حواس يې سم کار نه کوي، نو د ده اتلولي او سپيڅلتيا نه شي درک کولای.

د ميډيا او خواله رسنيو له معلوماتو او تاريخي مصادرو څرگنده شوې، چې هغه ځای چې ملا محمد عمر مجاهد د اوسيدو لپاره غوره کړی و، د امريکايي قواوو کمپ ته نږدې و. که هغوی خپلو پښو ته ځير شوي وای نو د دغه قائد ځای به يې کشف کړی وای. خو دا کله هم شوني نه و، ځکه د دوی عقلي او ذهني قواوې سلب شوې وې او زړونو يې مهرونه وهل شوي وو، هغوی ورباندې کاڼه او ړانده شول. ځکه يې هغه اتل ملا محمد عمر مجاهد پيدا نه کړ. دغه حالت د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه د ملگري ابوبکر صديق رضی الله عنه حالت ته ورته دی، که کافرانو د خپلو پښو پلو او خاپونو ته کتلي وای، هغوی به يې ليدلي وای، خو الله تعالی ړانده او کاڼه کړل او په خپلو شومو اهدافو کې يې نيمه خوا او ناکام کړل.

القوات الامريكية بحيث لو رأى أحدهم موضع قدمه لشاهد مكان القائد الراحل ولكن أنى لهم ذالک؟ و قد سلبوا قواهم العقلية والذهنية و طبع على قلوبهم، فكان العميان و المشلولين عهد اليهم مهمة القاء القبض على البطل الملا محمد عمر مجاهد.

فهذه الحالة شابهت بالحالة التي كانت في غار ثور للنبي صلى الله عليه وسلم وصديقه الغار ابو بكر رضى الله عنه،لو رأى الكفار تحت اقدامهم لأبصرتهم ،لكن عمي الله أبصارهم وطبع على قلوبهم وخسروا في كيدهم.

هذا، ولم تكن رؤيته الجهادية وتطلعاته وطموحاته قاصرة على تحرير أرض الأفغان بل كانت تتعدى إلى العالم أجمع، وقد نوه بهذه الحقيقة كثير من الرؤساء والعلماء الربانيين الذين التقوا به في مناسبات مختلفة، إما في منطقة قندهار أو إما في مناطق أخرى متاخة لأفغانستان الحبيبة بالإضافة إلى أن عقيدته الراسخة وصلابته الإيمانية وغيرته الدينية تتجلى لنا من مقاطعه و

---

هوكې، د نوموړي قائد هڅې او ارمانونه يوازې د افغانستان هيواد ازادول نه و، بلكې د نړۍ د اسلامي هيوادونو د آزادۍ تلوسه يې درلوده او دغه حقيقت يې ډيرو مشرانو او رباني عالمانو ته كوم چې له ده سره ملاقاتونه كړي ويلى و. بل دا چې دغه ټينگه عقيده، پوخ ايمان او ديني غيرت په هغو ويناوو، خطبو او تقريرونو كې هم له ورايه څرگند و، كوم چې افغان ولس ته يې وخت په وخت كولې او يا يې هغو مجاهدينو ته چې له ده سره د سيورې په شان ملگري وو، توصيې لرلې، له دې جملې شيخ سليم الله خان صاحب او او مفتي محمد تقي عثمانی صاحب سره ملاقاتونه يې ستر گواه او شاهدان دي.

يهودو او امريكا ته د اسامه بن لادن د نه سپارلو په هكله يې داسې غوڅ هوډ او دريځ درلود، چې په هيڅ صورت ترې په شا كيدونكى نه و. ويل به يې كه هر څه كيږي، ودې شي. آن تر دې چې شيخ سليم الله خان صاحب كله چې د ملا محمد عمر مجاهد دغه ديني غيرت او شجاعت وليد له ډير تأثر به يې له سترگو اوښكې راوبهيدې.

شيخ الحديث محمد تقي عثماني حفظه الله وايي: موږ ته خپل ايمان د دغه تاريخي شخصيت د ملاقات په وخت كې داسې ښكاره شو، لكه د ږدن دانه (ذره) د احد د غره په وړاندې.

په دې باره كې ډيرې كيسې شته چې خلك يې بيانوي او زما دغه ليكنه هر څومره يې چې د ستاينې لپاره ښكلا لتهوم د هغه حق نه شي اداء كولاى، نو همدومره كافي بولم.

كلماته و خطبه التي ألقاها على الشعب الأفغاني أو في مجالس العلماء أو حلقات المجاهدين الذين لازموهم ملازمة الظل، وزيارة الشيخ المحدث سليم الله خان – رحمه الله–والمفتي محمد تقي العثماني لهذا البطل الجليل معروفة بهذا لصدد...

و كان بخصوص تسليم أسامة بن لادن لليهود و الطاغوت الامريكي، واتخذ موقفا صارما من هذة القضية و رفض تسليمه لهم مهما كلفه الأمر. حتى سالت دموع الشيخ سليم الله خان تأثرا و انفعالا بشجاعة الشيخ ملا محمد عمر مجاهد و حماسته الدينية الى ان قال الشيخ محمد تقى العثماني – حفظه الله – أن ايماننا عند لقائنا بهذه الشخصية التاريخية كان ذرة صغيرة أمام جبل الأحد الايماني.

والقصص من هذا الباب كثيرة جدا سارت بها الركبان وتحدث عنها الفرسان، ولكن نظرا إلى أن كلمتي مهما بلغت من القوة والبيان لا توفى قطعا لهذه الشخصية حقها من الإطراء والتبجيل فاكتفي منها بهذا القدر.

---

هغه کسان چې د ملا محمد عمر مجاهد نږدې ملګري وو، وايي چې هغه به ډېر وخت د قران کريم تلاوت کاوه، نفلي لمونځونه به يې کول او لکه د ځينو اصحابو رضی الله عنهم غونډې به مور ته ښکاريدو. او په دې کې هيڅ شک نه دی په کار، ځکه تاريخ داسې ډېر روايات لري.

زه پخپله په دې شاهدي وايم چې ملا محمد عمر مجاهد د زماني له نوموتو او نوادرو لړو اشخاصو څخه و، چې له زهد او تقوا څخه غټه برخه ورکول شوې وه، همداسې يې ايماني ځيرکتيا درلوده، چې شيان به يې ليدل او په خپل معيار به يې تلل، د هغه مهال معاصرو علماوو سپارښتنې به يې منلې، چې دغو بيا په دوو برخو کې ستر بريا او بهتري لرله چې هغه جهادي او عملي ډګرونه وو. نو په شپږو ګلورينو کلونو کې چې افغانستان ته راغلل، هلته عدل، امن، اسلامي فضاء او سوکالي راغبرګه شوه.

بايد ووايو، هغه څوک چې د ځانونو لپاره يې ځانګړې ميډيا او خبري رسنۍ او تيلويزيونونه په کار اچولي، غواړي چې دغه قهرمان او اتل شخصيت بدنام کړي او د خلکو عقيده دده په هکله واړوي. ددوی په خبرو کې له حق او حقيقت نه دومره انحراف دی چې هيڅ عقل او منطق ته د منلو او اوريدلو نه دي.

وكما يتحدث عنه ممن عاشروه من زملائه المجاهدين بأنه في أغلب الأحيان بل في معظ
أوقاته كان يكثر من تلاوة القرآن الكريم، وذكر الله عز وجل، والنافلة من الصلوات، وكأن
بعض الصحابة - رضوان الله عليهم أجمعين- يتمثل أمام أعيننا، ولا غرو في ذلك، ففي
التاريخ أمثلة كثيرة تشهد لمثل هذه الأخبارا و إن كذب الناس فالتاريخ لا يكذب.

وأشهد الله أن ملا محمد عمر من نوادر الزمان والأفذاذ القلائل الذين نالوا قسطا وافرا من
الزهد والتقى والتفرس الإيماني الحاد النفاذ، يتوسم بها الأشياء، ويزنها بمعياره الشخصي مع
استشارة واسترشاد العلماء المعاصرين الذي كان لهم فضل كبير وإسهامات بارزة في المجالين:
القتالي والعملي ، ففي ست سنوات مزهرة لدور الإمارة الاسلامية اصبحت افغانستان مليء
من العدل والامن والرخاء والقضاء الاسلامي العادل وشهد عليه الأعداء ايضا

---

بله خبره دا هم د اشارې وړ ده چې مونږ لومړی د الله تعالی په فضل او مهرباني او بیا د دغه زعیم او د امارت اسلامي د مشر ملا محمد عمر مجاهد په پیرزوینه د ۲۰۰۱ م کال د حج مراسمو کې د نورو رباني علماوو په ډله کې لکه: شیخ شهید حسن جان صاحب، شیخ محمد فرید صاحب، شیخ شیر علي شاه صاحب، اود هغه خاص ملګری شیخ محمد نعیم صاحب ( کوټ اخندزاده) او شیخ الحدیث حمدالله جان ( د ډاګی مولانا) صاحب رحمهم الله تعالی اجمعین د حج مراسمو اداء کولو لپاره حرمینو شریفینو ته لاړو او دغه سفر د الله تعالی په فضل او د دغه اتل قهرمان ( ملا محمد عمر مجاهد ) په لورینه ترسره شو.

دغه اتل ته په داسې حال کې د اجل داعي راغی، چې د اسلام له دښمنانو سره یې نه پخلا کیدونکې جګړه کوله، د هغه دښمنان نړیوال کافران او په سر کې امریکا وه، د دغه وتلي او نامتو شخصیت کارنامې به راتلونکي نسلونه یو بل ته لیږدوي او تل تر تله به د الله تعالی په خوښه د امت لپاره د ویاړ او عزت او نمونې وي، هغه چې په اسلامي امت کې یې د قرباني روح پو کړ، تر څو د ظلم، طغیان او فساد په وړاندې قیام وکړي.

**حلف الزمان ليأتين بمثله**

**حنثت يمينک يا زمان فکفر**

**زمانې خو لوړه کړې، چې خامخا به د ده په شان بل هم راځی، زمانې ته ووایه لوړه درباندې واوښته کفاره اداء کړه.**

و مما يجب التنبه له أن الذين اتخذوا لأنفسهم قنوات خاصة ناوين أن يشوهوا صورة هذا البطل و أن يفسدوا على الناس عقائدهم و أخلاقهم، ففيها اجحاف لا يستسغيه العقل و لايقبله المنطق.

وجدير بالإشارة أننا بفضل الله أولا ثم بعناية زعيم الإمارة الإسلامية الملا محمد عمر تسنت لنا زيارة الحرمين لأداء مناسك الحج والزيارة عام ۲۰۰۱م، وذلك ضمن جماعة تضم كبار العلماء الربانين أمثال الشهيد - بإذن الله - الشيخ حسن جان والشيخ محمد فريد والدكتور شير على شاه ومرافقه الخاص الشيخ العلامة محمد نعيم المعروف ب كوټ أخونزاده رحمه الله ، والشيخ المحدث حمد الله جان الداجوي رحمه الله، والفضل في ذلك كله يرجع بعد الله سبحانه إلى البطل الراحل الملا محمد عمر مجاهد.

وأخيرا وليس آخرا فقد وافته المنية وهوفي هذا الكفاح المرير والصراع المتواصل مع الأعداء الأمريكان وقوى الشر العالمي، ومآثره تتناقله الأجيال وستبقى بإذن الله مصدر فخر واعتزاز للأمة الإسلامية تبعث فيها روح الفدائية والانتفاضة ضد الطغيان والفساد والظلم والاضطهاد..

حلف الزمان ليأتين بمثله

حنثت يمينک يا زمان فکفر

و ماکان قيس هلکه هلک واحد

---

هوكي، هيڅکله به بيا داسې څوک رانه شي، زمانه دداسې اشخاصو په راوستلو کې بخل کوي.

دا هغه څه و چې ما لېه له خرواره د دغه مشهور نومیالي له کارنامو څخه یاده کړه او بیا به هم که ژوند باقي و، د ده سوانح په تفصیل یادوو. له الله تعالی څخه غواړو چې نوموړي ته د هغه څه په بدل کې چې ده د اسلام او مسلمانانو لپاره سرته رسولي، نیکه جزاء ورکړي او موږ هم له ده سره په جنت کې یو ځای کړي. آمین یا رب العلمین

و لكنه بنيان قوم تهدما

هيهات لا يأتي الزمان بمثله

ان الزمان بمثله لبخيل

هذا بعض ما جادت به قريحتي وهو غيض من فيض من سيرة هذا البطل الشامخ ولنا عودة قريبة لبسط الكلام في الموضوع اكثر - إن بقي في الأجل فسحة، سائلين المولى -جل وعلا- أن يجزي الراحل الكريم عما قدم للإسلام والمسلمين خيرا ويجمعنا به في مقعد صدق عند مليك مقتدر، إنه سبحانه ولي ذلك والقادر عليه.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته .

## د مدارسو د لوی اتحاد وفاق المدارس د مشر شيخ الحديث مولانا عبدالرزاق سكندر صاحب تأثرات[1]

لما كان مصطلح السياسة من مصطلحات الشرع و الدين فقام الأنبياء بسياسة مجتمع المسلمين على أسس الشرع و الدين و بعدهم رجال أولو العزم و النهى. و قد صح عند الامام مسلم رحمه الله انه صلى الله عليه وسلم قال: كانت بنو اسرائيل تسوسهم الانبياء كلما

---

(۱) د شيخ الحديث مولانا عبدالرزاق سكندر صاحب تأثرات

د سياست اصطلاح څرنګه چې د شريعت او دين له اصطلاحاتو څخه ده، نو انبياء عليهم السلام د اسلامي ټولنې په شريعت او دين باندې سياست کړی دی او بيا نورو اولوالعزمه او هوښيارو مشرانو دغه لار تعقيب کړې ده. امام مسلم رحمه الله يو روايت راوړی دی.

ژباړه: په بني اسرائيلو انبياوو حکومت کاوه، کله چې به کوم نبي وفات شو، نو بل نبي به دغه واک په لاس کې واخيست او دغه چارې به يې پر مخ وړلې. امام النووي رحمه الله د دغه حديث دا جمله چې (تسوسه الانبياء ) داسې تشريح کوي چې د دوی د چارو سمالښت به يې کاوه، لکه نن چې واليان او اميران دخپل ولس چارې پر مخ وړي.

هلک نبی خلفه نبی. و قال النووي رحمه الله في شرح هذا الحديث: أی يتولون أمورهم كما تفعل الامراء والولاة بالرعية و السياسة القيام على الشيئ بما يصلحه.

فكان سيدنا آدم عليه السلام اول خليفة على الارض، ثم جاءت من بعده ذريته و تعاقبت الأجيال من بعده، فكان كل حضارة و مجتمع يتخذ له حاكما يسوسه و يقوده، حتى ترى الأنبياء قائدين في أمور المملكة و تدبير المجتمع. فهذا سيدنا داود و ابنه سيدنا سليمان عليهما السلام، له المثل الأعلى في ذالک الصدد.

و يتضح هذا الأمر جليا بالحديث الصحيح الذي رواه الامام أبوداود رحمه الله في سننه عن جابر بن سمرة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: لا يزال هذا الدين قائما حتى يكون عليكم اثنا عشر خليفة كلهم تجتمع عليه الأمة، و قال الملا علي القاري رحمه الله في مرقاة المصابيح: قال بعض المحققين: قد مضى منهم الخلفاء الاربعة و لابد من تمام هذا العدد قبل قيام الساعة.

فلما انتقل رسول الله صلى الله عليه وسلم الى الرفيق الأعلى تولى الأمر أصحابه من بعده و استمر الأمر على هذا المنوال في زمن الصحابة و التابعين الى عصرنا الراهن.

---

حضرت آدم علیه السلام په ځمکه کې دالله تعالی لومړنی خیفه و، بیا یې زامن راغلل او یو په بل پسې نسلونه راغلل، زامنو یې د ځان لپاره حاکم او واکدار وټاکه، آن تر دې چې انبیاء علیهم السلام د مملکت د چارو واک په لاس کې واخیست، چې ښه بیلګه یې حضرت داود علیه السلام او له هغه وروسته یې زوی حضرت سلیمان علیه السلام دي. دغه خبره له هغه حدیث شریف څخه چې ابو داود په خپل کتاب کې رانقل کړی ښه جوتیږي.

جابر بن سمرة رضی الله عنه وايي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې ویل یې: تر هغو به دغه دین استوار وي، تر څو چې دوولس خلفاء وربانديې حکم وچلوي، هغه خلفاء چې امت وربانديې متفق او راټول وي.

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کتاب کې د دې حدیث شریف په شرح کې لیکي: ځینو محققینو ویلي څلور خلفاء تیر شوي او دغه پاتې شمیره به خامخا له قیامت مخکې بشپړیږي.

فمن الذين بذلوا الجهود لاحياء النظام الخلافة و الدين هو أمير المؤمنين المجاهد ملا محمد عمر رحمه الله، الذي بسط العدل و الانصاف في عهده ما يشهد له أرباب العلم و المعرفة.

و أبرز نواحي حياة ملا محمد عمر المجاهد هو القيام بشئون عامة المسلمين و حل مشاكلهم حتى يسهل عليه المعيشة بمقتضى الشرع و الدين، فكان من الذين بذلوا حياتهم لتنفيذ الاسلام مقتديا لسنة الأنبياء عليهم السلام.

و من ميزاته قيام الأمن و الهدنة في منطقة أفغانستان و تطهير أراضيها من كافة أنواع المخدرات خلال العشر الأخير في القرن العشرين و كان له مساهمة كبيرة في الحرب ضد السوفيتية قبل ذالک.

فأبصر العالم الاسلامي في خلال سنوات من سيرة هذا البطل:

- أن النظام الاسلامي ضامن للأمن والسلامة اليوم ايضا - و حتى القيامة - كما كان يضمن بالأمس في زمن النبي صلى الله عليه وسلم.

---

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم رحلت وکړ، نو بیا دغه د امت د چارو واک صحابه کرامو رضی الله عنهم په لاس کې واخیست او دغسې بیا تر تابعینو او زموږ تر زمانې پورې راورسیدلې. یو هغه څوک چې د دین او خلافت د نظام لپاره یې هڅې وکړې ملا محمد عمر مجاهد و هغه چې عدل او انصاف یې په خپل وخت کې خپور کړ، تر څو ورته د ژوند چارې د شریعت او دین په چوکاټ کې آسانې شي. نو دی د هغو کسانو څخه شمیرل کیږي چا چې خپل ژوند د اسلام د نفاذ لپاره وقف کړی و او په دې کار سره یې په انبیاء علیهم السلام پسې اقتداء کړې وه. د ده له ځانګړتیاوو څخه دا وه چې په ټول هیواد کې یې سرتاسري امن قائم کړ، د شلمې پیړی په وروستی لسیزه کې یې هیواد د مخدراتو له لعنت څخه پاک کړ او له دې پخوا یې د روسانو د یرغل په وخت کې په جهاد کې ستره ونډه درلوده.

اسلامي نړی د ده د واکمنی په وخت کې دا خبرې ولیدې

ـ اسلامي نظام تر قیامته د امن او سلامتی ضامن دی، لکه څنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې و.

ـ أن نشر الأمن و الطمانية لايتوقف على كون المدبر صحابيا او تابعيا بل عزم أحد في هذا الزمن أيضا، بشرط أن يكون معتمدا على ربه، كما شهد التاريخ بأن هذا الشاب الناهض من المدرسة كيف قلب العالم بعزمه حتى أذعن له و أقر به كل العالم.

ـ و نبه العالم بقيادته الشخصية الفريدة أن النجاح و الكفاح لا يتوقفان على نشر الأخبار في المذياع و الاعلام فحسب، بل باالدأب و التضحية الذاتية.

هذا، و قضى ملا محمد عمر رحمه الله كل حياته في خفاء و صمات و رغم أنه كان أمير المؤمنين عاش حياة ساذجة في البوادي و الريف و على رؤوس الجبال، و أحيى به سنة السلف في الزهد من الدنيا و الرغبة في الآخرة، و نفخ الروح في الشعب الاسلامي من جديد، و بسبب تضحياته للهدف الأرقى و وفاءه بالمقصد الأعلى يجنى العالم فوائدها و ثمراتها.

---

لکه چې تاريخ شاهد دی، د امن او سکون راوستلو شرط دا نه دی، چې چارواکی به صحابي يا تابعي وي، بلکې هر څوک چې په الله تعالی اعتماد وکړي، هغه يې وړ دی. دغه ځوان چې لا له مدرسې فارغ نه و، څرنګه يې عالم په بل مخ واړاوه، تر دې چې ټولې دنيا هغه په ميړانه ومانه او په اتلولۍ يې اعتراف وکړ.

ـ نړيوالو ته يې وښوده، چې د برياليتوب او کاميابي راز د اطلاعاتي ذرائعو په وسيله( لکه راډيو، تيلويزيون، ټولنيزو رسنيو وغيره) نه ترلاسه کيږي، بلکې د سربښندنې خصلت غواړي.

هوکې، خپل ژوند ټول په خاموشي او ګوښه توب کې تېر کړ، سره له دې چې امير المؤمنين و، خو بيا يې هم استوګنه په کليو او صحرا کې وه، غرونه رغونه يې ښه ايسيدل او د سلف صالحينو هغه سنت يې را ژوندی کړ، کوم چې د زهد او تقوا لپاره يې غوره کړی و او د آخرت رغبت يې درلود. هغه په اسلامي نړۍ کې هدف ته د رسيدلو لپاره د قربانۍ او سربښندنې نوی روح پو کړ، تر څو هدف ترلاسه، نړۍ يې ګټې وويني او ميوې يې ټولې کړي.

**الله تعالی دې په امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد باندې رحم وکړي او له هغه دې راضي شي. د هغه ګټورې او ښې سربښندنې او قربانۍ دې، د اعلاء کلمة الله سبب وګرځوي او خلف ته دې الله تعالی توفيق ورکړي چې د ده لاره تعقيب کړي. آمين**

رحم الله ملا محمد عمر المجاهد و رضی عنه، و أدار علیه من شآبیب رحماته و رضوانه، جعل تضحیاته المبذولة مثمرة و جعل دماء الشهداء سببا لاعلاء کلمة الله و وفق لخلفه أن یتبع اثره. آمین

## د بلوچستان د ستر عالم شیخ الحدیث مولانا منظور احمد مینگل تأثرات[1]

محمد عمر عامر الاسلام

لا یخفی علی أحد أن الاسلام قد عمره الله بعمر الأول و هو ابن الخطاب لم یزل الاسلام مکتوما و

مخفیا لم یعلن باشاعته أحد قط قبل عمر رضی الله عنه، و قد أعز الله الاسلام و المسلمین بعمر و تقبل دعاء نبیه صلی الله علیه وسلم فی حقه و هو قوله اللهم أعز الاسلام بعمر ابن الخطاب او بعمرو بن هشام فقد وفق الله الاول و بعد الثانی عن رحمته و أخساه في قلیب بدر، واظهر الله به الاسلام فی جمیع العالم و فتح بلاد الکفار فی زمنه المبارک و نفع به العباد و البلاد جمیعا، فلذالک قال ابن مسعود رضی الله عنه کنا أذلاء فقد أعزنا الله بالاسلام و في روایة بعمر بن الخطاب.

---

(۱) د مولانا منظور احمد مینگل صاحب تأثرات

محمد عمر د اسلام ودانوونکی

له هیچا پټه نه ده چې الله تعالی په لومړني عمر رضی الله عنه اسلام ودان کړ، هغه ابن الخطاب و. د اسلام د پټ دعوت په پړاو کې هیچا هم له عمر رضی الله عنه نه وړاندې د خپل اسلام راوړلو د اعلان هڅه ونکړه. هغه و چې الله تعالی په عمر رضی الله عنه اسلام غالب او قوي کړ او الله تعالی د خپل پیغمبر دعاء قبوله کړه چې د ده په اړه یې کړې وه.

و قد برک الله في ذريته و جعل العمر الثاني عمر بن عبدالعزيز في أولاده و جعله خلفا له مع بركات من الله فنعم السلف و نعم الخلف و قد سلک هذا الثاني مسلک الاول و حذا حذوه واقتفى بآثاره و لم يخالفه مخالفة وقد جعل العمرين سلفا للأمة الاسلامية و للسلاطين الاسلامية الى يوم القيامة يقتدى بهما الى يوم التناد.

و ما كان يظن أحد أن سيولد هنا أحدسميا للعمرين و يغلبه الله على الكفار قاطبة الروسيين و الامريكين و يذلهم الله به و يجعلهم خاسئين امامه ولا يخفى عليک أن عمرنا الثالث ملا محمد عمر مجاهد له شأن ليس لغيره لاتدرک غيرته الدينية و لاتكنه شجاعته الايمانية، أعلن الجهاد عند ما كان الكفر و أوليائه مسيطرين على الاسلام والمسلمين، أعلن الجهاد عندما كان الروس و أهله يدعون الألوهية و الربوبية و قد هزم الله به و بانصاره من الافغان الروس و اوليائه . ثم هزم الأمريكين و حواريهم و أنصارهم و خذلهم و خذل أعوانهم من الذين يدعون

---

الله تعالی له دوو عمرينو څخه يو يې ابن الخطاب کامياب کړ او هغه بل ابن هشام (ابوجهل) يې له خپل رحمته وشاړه او د بدر په کوهي کې يې هلاک وغورځاوه. په عمر فاروق باندې الله تعالی د اسلام برى راووست. د هغه د خلافت په موده کې يې د کفارو ډير ملکونه فتحه کړل اود هغه په لاس يې د هيوادونو او ولسونو گټې خوندي کړې. څکه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وايي: موږ له هغې ورځې په عزت کې يو لکه کومې ورځې چې عمر رضی الله عنه اسلام راوړی دی. بيا الله تعالی د عمر رضی الله عنه په نسل کې بل دوهم عمر بن عبدالعزيز رضی الله عنه راووست چې د ده ځايناستی شو. فنعم السلف و نعم الخلف. دغه دوهم عمر هم د لومړني عمر تگلاره تعقيب کړه، د هغه په پل يې پل کيښود او دغه دواړه عمره د اسلامي امت او پاچاهانو لپاره د اقتداء وړ وگرځيدل، چې د قيامت تر ورځې يې پيروي وکړي.

هيچا دا گمان نه کاوه چې دلته به هم د عمر رضی الله عنه يو همنامی زيږي او الله تعالی به يې په روسي او امريکايي ښکيلاک برلاسی کوي. د ده له لاسه به دښمن سرټيټی او ذليل له هيواده شړل کيږي او پټه دې نه وي، چې دغه دريم عمر ملا محمد عمر مجاهد داسې يو څوک و چې د ده شان ته په ديني غيرت او ايماني شجاعت کې بل څوک نه شي رسيدلی. داسې وخت يې جهاد اعلان کړ چې په اسلام او مسلمانانو کفار او د هغوی لاسپوڅي مسلط و، هغوی ځان ته د الوهيت دعوه لرله. د ده او ملگرو په مټ الله تعالی روسان وشړل، بيا يې د دوی په لاس امريکايان او د هغوی گوډاگيان مات کړل. هغه جنگي الوتکې، پرمختللې وسلې، پريمانه مهمات او نور هغه څه چې امريکايانو درلودل، دغه ملنگ ( عمر) هغه هيڅ هم نه درلودل، مگر د الله تعالی په تولی کې و او د الله تعالی ټولی کامیابه ده.

الاسلام و يتخذون الكفار اولياء. و لايخفى عليه أن الاسلحة و الأمتعة و الطائرات الحربية اللتي كانت عند أمريكا ما كان عند هذا الفقير و لكن قد كان في حزب الله و حزب الله هم الغالبون.

لم يكن زمان دولته و امارته الا يسيرا و لكن رسم وكتب هناک تاريخا للعالم و أرى الكفار و أوليائهم أن الامارة الاسلامية، كيف تكون و أن العالم كيف يطهر عن الشر و الفساد و الزنا و السرقة و االقتل و غير ذالک من المنكرات و المنهيات. و ناهيک من شرفه و جلالته و ورعه و تقواه أن أحدا من المسلمين الكاملين الخلص الذين عندهم حياء لم يقدح و لم يطعن فيه و كيف يقدح فيه أحد لانه لم يكن ظالما و لا شارب الخمر و لا سارقا و لا خائنا في بيت المال كسلاطين المسلمين في زماننا الذين ليس لهم حياء و لا دين و لا ايمان و لا خوف من الله.

---

د هغه د واکمني او امارت دوره ډېره لنډه وه، خو له دې سره سره يې د دنيا او دنياوالو لپاره تاريخ وليکه او د کافرانو او د هغوی ملګرو ته يې وښودله، چې اسلامي امارت څنګه راځي او نړی څرنګه له غلا، شر، فساد، قتل او نورو منکراتو او منهياتو څخه پاکيږي؟

د هغه له شرافت، زهد، تقوا او لويوالی به درته څه ووايم؟ څوک چې کامل مسلمان او د حيا خاوند وي، د هغه په باب به د پيغور ژبه ونه خوځوي. او څنګه به څوک ورباندې تور ولګوي، هغه ظالم نه و، شراب يې نه څښل، هغه د اوسنی زمانې د پاچاهانو غوندې نه و چې نه شرم لري، نه دين او ايمان او نه له الله تعالی څخه ويريږي.

کله چې امريکا پر افغانستان د يرغل تکل وکړ، نو د پاکستان ډېر علماء د ملا محمد عمر مجاهد د ليدلو لپاره هلته لاړل او په دوی کې زموږ ستر شيخ، د محدثينو رئيس او د وخت د استادانو استاد سليم الله خان صاحب هم و. دوی امير المؤمنين ته د اسامه بن لادن د سپارلو وړانديز وکړ تر څو اسلامي امارت وژغورل شي. هغه په ځواب کې ورته وويل: آيا زما ملګري د بدر له اصحابو څخه لږ دي؟ علماوو ورته وويل چې نه هيڅکله نه. نو ملا محمد عمر مجاهد وويل: اسامه بن لادن د رسول الله صلى الله عليه وسلم له هيواده را مهاجر شوی، ماته يې پناه راوړې او زه به يې امريکايانو ته سپارم؟ ان شاءالله څو چې ژوندی يم دا نه شي کيدلای.

و عندما سيطر و صال الامريكا ذهب كثير من علماء باكستان الى لقاء ملا محمد عمر و قد كان فيهم شيخنا العظيم رئيس المحدثين فى اوانه و استاذ الاساتذة سليم الله خان فتحدثوا معه حول تسليم اسامة بن لادن الى امريكا لتكون الامارة الاسلامية محفوظة فقال الملا محمد عمر مجيبا هل عدد اصحابي أقل من عدد أهل بدر فقال العلماء لا أبدا لا. فقال الملا والله أن اسامة خرج من بلاد الرسول مهاجرا الى و عائذا بي و أنا أسلم الى امريكا لم يمكن هذا ان شاءالله قبل موتي. و عند ما رجع شيخنا الكبير سليم الله خان من افغانستان قال والله أن هذ الرجل ( الملا محمد عمر) كانه قد صحب الرسول صلى الله عليه وسلم ما كان عالما كبيرا، لا شيخا للحديث و لا مفسرا و لا مفتيا ولكن ايمانه يفوق ايمان العلماء الكبار و يقينه

---

او كله چې شيخ سليم الله خان صاحب له افغانستانه راستون شو، ويل يې: په خدای قسم دا سړی ( ملا محمد عمر) د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابي غوندې و. نه ستر عالم و، نه شيخ الحديث، مفسر، يا مفتي، خو ايمان يې د سترو علماوو تر ايمان لوړ او قوي وو. او د الله تعالى په مرسته يې باور د عالمانو تر باور او يقين پورته او اوچت و. ته به وايې چې هغه د صحابه كرامو له ډلې يو صحابي پاته دی. نو هغه څوك چې د وخت رئيس المحدثين يې د ايمان تصديق كوي او د هغه په جرأت، شجاعت او ميړانه شاهدي وركوي، نو د هغه په ايمان كې بيا هيڅوك شک نه كوي.

همداسې ډېرو مجاهدينو زما په مخكې قسم كړی. ويل يې ډېر ځله به امريكايانو موږ محاصره كړو او ملا محمد عمر مجاهد به هم و، موږ به سخت ويريدلو، پښې به مو لړزيدلې، په زړونو كې به مو رعب ولويد او هغه ته به مو ويل چې چې اوس به څه كوو؟

هغه به ويل: مه ډاريږئ، په الله سوگند چې دوی موږ نه ويني، د دوی سترگې ړندې دي او هغوی به هم ملا محمد عمر مجاهد ونه موند. امريكا خو ادعاء لري چې هيڅوك تري پټېدای نه شي او هغوی يې د كيمرو په واسطه څاري، نو بيا دا ملنگ چيرې ترې پټ او الونيا شو؟ څنگه الله تعالى هغوی وربانديې ړانده او كاڼه كړل.

اسلامي امت نن ورځ ابوبكر، عمر، علي او خالد رضى الله عنه ته محتاج دي. خدايه اسلامي امت ته له فرعوني جابرو سلاطينو نجات وركړه. له الله تعالى څخه سوال كوو، چې په موږ د اصحابو كرامو پيروي ولوروي او د دغو نيكانو متقيانو لكه ملا محمد عمر مجاهد، شيخ الحديث هبة الله اخندزاده، مولوي جلال الدين حقاني او نور د دوی امثال چې ستا په لاره كې جهاد كوي او له ملا متوونكو څخه نه ويريږي موږ ته يې اقتداء را په برخه كړه. آمين يا رب العلمين.

بنصر الله يزيد يقين العلماء كانه قد تخلف أحد من الصحابة فالذي يصدق بايمانه رئيس المحدثين و يعترف بجرأته و شجاعته و اعتماده على الله و توثقه بالله لايشک في ايمانه أحد بعد تصديق هذا المحدث الكبير رحمه الله عليه.

هذا: و قد بين كثير من المجاهدين أمامي و حلفوا بالله و قالوا والله كثير احاط بنا الامريكييون و قد فينا الشيخ محمد عمر و خفنا كل الخوف و تزلزلت أقدامنا و قذف في قلوبنا الرعب فقلنا للشيخ ما ذا نفعل الآن؟ فقال: لم تراعوا لاتخافوا و الله انهم لايروننا ان شاءالله فوالله ان الامريكيين قد تعامت قلوبهم و أعينهم و لم ير أحدهم الشيخ محمد عمر. ان الامريكا يدعي انه لا يخفى عليه أحد الا أنه يراه بالكاميرات و بالآلات التصويرية فأين غاب عنه هذا الفقير و كيف أعماه الله سبحان و تعالى.

و اليوم ان هذه الامة تحتاج الى ابى بكر و عمر و على و خالد ، اللهم نج هذه الأمة من هؤلاء السلاطين الجبابرة و الفراعنة. ندعو الله سبحانه و تعالى أن يجعلنا ممن يقتدى بالصحابة بهؤلاء الأتقياء الأبرار: ملا محمد عمر مجاهد والشيخ هبة الله اخندزاده و جلال الدين حقاني و امثالهم من المجاهدين الذين يجاهدون في سبيلک و لايخافون لومة لائم. اللهم اغفر لي و لوالدي ولاساتذتي ببركة هؤلاء المجاهدين. آمين

**د عربي نړۍ لوی عالم شیخ ابو محمد المقدسي:**

خدای دې پرامام ملا محمد عمر باندې رحم وکړي، د ده امثال په اوسنۍ زماني کې ډېر کم لیدل کیږي، د الله نظام يې پر ځمکه نافذ کړ، مهاجرينو ته يې پناه ورکړه، د نصحیت گرو نصیحت يې ومانه او له کفارو سره ترهغو وجنگیدو تر څو یقین (مرگ) ورته راغی.

**د سعودي عربستان ستر محدث او فقیه علامه شیخ علوان:**

د تاريخ د کتابونو ډيرې پاڼې مې واړولې خو له ملا عمر پرته مې داسې حاکم پيدا نه کړ چې هغه دې خپله واکمني د الله تعالی له دين څخه قربان کړي وي الله دې پري ورحميږي او فردوس جنت دې ځای شي.

**دکتور حاکم المطیري الکویتي:**

د ملا محمد عمرمجاهد په وفات سره اسلامي امت یوستر مجاهد زعیم له لاسه ورکړ، داسې زعیم چې د یرغلګرې صلیبي ټلوالې په خلاف یې تاریخي مقابله پیل کړه.

اي د اسلامي امت زعیمه! ته په رښتیا د اسلامي امت لپاره داسې امام وې چې د اسلامي امت موجود او راتلونکي نسلونه، د هغوی ټول جهادي او فکري نهضتونو او فقهي مدارس به په تا پسې اقتداء کوي.

اي لویه استاذه! آیا ته په رښتیا له مونږه وکوچیدې؟!

**د عربي ژبې مخکښ عالم دکتورشامل:**

ای د ژبې ژبپوهانو ادیبانو!

راشئ د ژبې د ټولو ژبو قاموسونه له سره ولیکئ، له هغو ټولو څخه د رجولیت (نارینتوب یا میړانې) لغت وباسئ او پرځای یې یوازې د (ملا محمد عمر) نوم ورځای کړئ.

**أبو حمزة الدرعاوي:**

دا شرعي مسئله ده چې څوک له دښمن سره د مقابلې په سنګر کې د رباط په حال کې وفات شي هغه شهید دی، که څه هم په عادي مرګ وفات شوي وی. خدای تعالی دې د شهید ملا محمد عمر (مجاهد) شهادت قبول او فردوس جنت ځای کړي.

## دكتور هاني السباعي[1]

اذهبوا شرقًا وغربًا وشمالًا وجنوبًا في تاريخ الممالك الإسلامية على مدار مائة عام، ستجدون أن هذا الرجل الحاكم المسلم الوحيد الذي يستحق أن يُلقب بالمجدد فعلًا. جدّد في كل شيء، لم يأتِ على حين غرة، لم يختاروه من مغارة، تاريخه ناصع وشاهد عليه، نشأ وترعرع في بيئة الإسلام، وكان الجهاد لازمة له.

هذا المجاهد بحق اسمه الملا محمد عمر مجاهد -كانوا يلقبونه هكذا بالبشتون المجاهد محمد عمر المجاهد ابن مولوي غلام نبي-، من أسرة عريقة، مات أبوه وهو ابن خمس سنين، هو من مواليد سنة ١٩٦٠م، ونحن الآن في ٢٠١٥ يعني مات ابن خمس وخمسين عامًا. لكن هذه السنون نجوم وكواكب ودرارٍ في سماء الجهاد، صفحة منيرة في سماء المسلمين، حفر لنفسه اسمًا بين هؤلاء العمالقة بين هذه الكواكب النيرات.

وعندما تذكر الملا عمر كأنك تستحضر عبق التاريخ؛ تتكلم عن عمر بن عبد العزيز، تتكلم عن الخلفاء الراشدين، وكأنك في عصر صحابي، لكن الناس في واد وهو في واد آخر!

(١) هاني السباعي

لويديځ، ختيځ، شمال او جنوب ته لاړ شئ، په يوه پيړۍ کې د اسلامي نړۍ تاريخ وپلټئ، تاسو ته به څرګنده شي، چې يوازينی هغه څوک چې د مجدد د لقب وړ او مستحق دی، هغه تنها دغه مسلمان حاکم دی چې په هره برخه کې يې تجديد وکړ. ناڅاپه نه دی راغلی، له سمڅې څخه چا نه دی را ايستلی او غوره کړی، سپيڅلی تاريخ ورباندې شاهد دی چې په اسلامي ټولنه کې روزل شوی او جهاد يې نه بېليدونکې مشغله وه، دغه برحق مجاهد چې نوم يې ملا محمد عمر مجاهد و، دوی به پښتون مجاهد نوماوه، ملا محمد عمر مجاهد د مرحوم مولوي غلام نبي له درنې کورنۍ څخه و، پلار يې هغه وخت وفات شو چې نوموړی د پنځو کلونو په عمر و. اوس موږ په ۲۰۱۵م کال کې يو ګواکې هغه د ۵۵ کلونو په عمر له دنيا څخه وکوچېد او په حق ورسيد. خو دغه کلونه ستوري او کواکب دي چې د جهاد په اسمان ځليدلي دي. دغه موده روښانه پاڼه ده چې د مسلمانانو په تاريخ کې ثبت ده، هغه د دغو ستورو په کتار کې خپل نوم وکينده.

هل رأيتم حاكمًا بهذا الوفاء؟ هل رأيتم حاكمًا مسلمًا يحكم بالعدل في هذه الحقبة التي نعاصرها نحن أو التي مضت؟

لم نجد، فهو مجدد، جدَّد شباب الإسلام، وأثبت أن الحاكم المسلم بحق يستطيع أن يأمر فيُطاع. كلمة (من يجدد لها أمر دينها) هذه الكلمة قد تشمل العلماء، تشمل الفقهاء، تشمل المجاهدين، تشمل كل من يبرز في فن من هذه الفنون ومن العلوم، ومن الزهاد والعباد، كلمة عامة تشمل كل مائة عام من يجدد لها أمر دينها. لكن الذي يستحقها بجدارة هم السلاطين إذا عدلوا، كعمر بن عبد العزيز كان في زمانه -رحمه الله- علماء، وسبقه من كان أفضل منه، وبعده جاء من الأخيار أيضًا، ورغم ذلك كان على رأس المائة الثانية المجدد بلا منازع؛ لأنه يأمر فيُطاع، هو سلطان له السلطة والقوة، ورغم ذلك زهد في ما عند الناس، زهد في الحياة الدنيا ومتاعها.

---

د ملا محمد عمر مجاهد نوم چې اخلې لکه د تاريخ خوشبويه وږمې چې يادوي، لکه چې د عمر بن عبدالعزيز کيسې کوې او يا د خلفای راشدينو له دوره غږيږي. لکه چې د صحابه کرامو په زمانه کې اوسې، هوکې، خلک په يوه وادي (شيله) کې وو او دی په بله وادي کې.

آيا تاسو کوم بل واکمن دومره وفادار ليدلی؟ آيا تاسو په دې زمانه کې چې موږ او تاسو په کې اوسو او يا تر دې له مخه کوم بل باچا ليدلی چې داسې په عدالت يې حکم چلولی وي. نه مو دی ليدلی.

هغه مجدد و، مسلمان زلميان يې تجديد کړل او دا يې ثابته کړه چې حقاني مسلمان حاکم کولای شي، حکم وکړي او خلک يې خبره ومني، هغه خبره چې دوی ته د دوی د دين چارې تجديد کړي. دغه کلمه خو علماوو، فقهاوو او مجاهدينو ته شامله ده، چې هر سل کاله وروسته به يو څوک راځي، چې امت ته د دوی دين تازه کړي او هغه څوک چې په حقه ورسره دغه لقب ښه ايسي، هغوی عادل پاچاهان او واکداران دي، لکه عمر بن عبدالعزيز په خپله زمانه کې او تر ده له مخه بيا هغه تر ده غوره کسان صحابه کرام رضی الله عنهم وو، بيا نور غور علماء هم راغلي خو بې له شکه چې د دوهمې پيړۍ بلا منازع مجدد و، هغه داسې واکمن و چې امر به يې کاوه، خلکو به مانه، سلطه او قدرت يې درلود، خو له هغه سره سره يې د مال او دولت په باب زهد کاوه، دنيا او د دنيا متاع يې نه خوښوله.

هل رأيتم حاكمًا بهذا الوفاء؟ هل رأيتم حاكمًا مسلمًا يحكم بالعدل في هذه الحقبة التي نعاصرها نحن أو التي مضت؟

لم نجد، فهو مجدد، جدَّد شباب الإسلام، وأثبت أن الحاكم المسلم بحق يستطيع أن يأمر فيُطاع. كلمة (من يجدد لها أمر دينها) هذه الكلمة قد تشمل العلماء، تشمل الفقهاء، تشمل المجاهدين، تشمل كل من يبرز في فن من هذه الفنون ومن العلوم، ومن الزهاد والعباد، كلمة عامة تشمل كل مائة عام من يجدد لها أمر دينها. لكن الذي يستحقها بجدارة هم السلاطين إذا عدلوا، كعمر بن عبد العزيز كان في زمانه -رحمه الله- علماء، وسبقه من كان أفضل منه، وبعده جاء من الأخيار أيضًا، ورغم ذلك كان على رأس المائة الثانية المجدد بلا منازع؛ لأنه يأمر فيُطاع، هو سلطان له السلطة والقوة، ورغم ذلك زهد في ما عند الناس، زهد في الحياة الدنيا ومتاعها.

---

د ملا محمد عمر مجاهد نوم چې اخلې لكه د تاريخ خوشبويه وږمې چې يادوې، لكه چې د عمر بن عبدالعزيز كيسې كوې او يا د خلفاى راشدينو له دوره غږيږې. لكه چې د صحابه كرامو په زمانه كې اوسې، هوكې، خلک په يوه وادي (شيله) كې وو او دى په بله وادي كې.

آيا تاسو كوم بل واكمن دومره وفادار ليدلى؟ آيا تاسو په دې زمانه كې چې موږ او تاسو په كې اوسو او يا تر دې له مخه كوم بل باچا ليدلى چې داسې په عدالت يې حكم چلولى وي. نه مو دى ليدلى.

هغه مجدد و، مسلمان زلميان يې تجديد كړل او دا يې ثابته كړه چې حقاني مسلمان حاكم كولاى شي، حكم وكړي او خلک يې خبره ومني، هغه خبره چې دوى ته د دوى د دين چارې تجديد كړي. دغه كلمه خو علماوو، فقهاوو او مجاهدينو ته شامله ده، چې هر سل كاله وروسته به يو څوک راځي، چې امت ته د دوى دين تازه كړي او هغه څوک چې په حقه ورسره دغه لقب ښه ايسي، هغوى عادل پاچاهان او واكداران دي، لكه عمر بن عبدالعزيز په خپله زمانه كې او تر ده له مخه بيا هغه تر ده غوره كسان صحابه كرام رضى الله عنهم وو، بيا نور غور علماء هم راغلي خو بې له شكه چې د دوهمې پيړۍ بلا منازع مجدد و، هغه داسې واكمن و چې امر به يې كاوه، خلكو به مانه، سلطه او قدرت يې درلود، خو له هغه سره سره يې د مال او دولت په باب زهد كاوه، دنيا او د دنيا متاع يې نه خوښوله.

## تیسیر علوني د الجزیرې نړیوالې شبکې خبریال

ما د ۲۰۰۱ میلادي کال د اپریل میاشت کې لـه مـلا محمـد عمـر مجاهـدسره ولیـدل
همدغه میاشت کې مې د طالبـانو هغـه پـلاوي سره هـم د قطـر پلازمېنـې دوحـې تـه
الجزیرې تلویزون د خبریال په توګه سفر وکړ.

له دوحې د راګرځیدو پر مهال د طالبانو پلاوي باید لـه مـلا محمـد عمـر سره د سفـر
پایلو په اړه لیدلي وای، نو ما د طالبانو له یو چارواکي وغوښتل، چې مـلا صیب سره
لیدو زمینه راته برابره کړي او چارواکي هم ژمنه وکړه، چې دا کار به کوي.

دغه مهال ملا محمد عمر مجاهد له ژورنالېستانو سره خپل ملاقاتونه بند کړي و او لام
یې دا و، چې ژورنالېستانو به د ملا محمد عمر په انځور وېسـتلو ټینګـار کـاوه. پـه اول
وختونو کې د ملا محمد عمر دفتر له ژورنالېستانو ژمنې اخیستې، چې د انځور اخیس
هڅې به نه کوي، مګر یو شمېر ژورنالېستانو به بیا هم د ژمنې ماتولو هڅه کوله او ما پ
دغسې یو سخت وخت کې د ملا محمد عمر د لیدو تلوسه کولـه او مـا دا خبره وکړ
چې زه د ژورنالېستیک رسالت لپاره مـلا صـاحب سره نـه ګـورم، بلکـې زمـا یـوازې
غوښتنه د ملا صیب ژوند په اړه معلومات او د ده لیدل دي.

ملا محمد عمر مجاهد زما غوښتنه ډېره ژر ومنله او په سبا مازیګر یـې د «امیرالمـؤمنې
دفتر» ته وروغوښتم. دغه دفتر ته وروسته له هغې ورغلی وم، چې د نومـوړي پخوان
دفتر د یوې چاودنې ښکار شوی و او دغې چاودنه کې د ملا صاحب تره او ځیني نـ
خپلوان وژل شوي وو او ما په خپلو سترګو هغه کنده هم وکتله، چې د چاودنې لـه اما
رامنځته شوې وه.

د ملا محمد عمر دفتر او استوګنځای د عامو خلکو د کورونو په څېر و او د دفتر مخ
ته هر ډول خلکو او موټرو د تلو راتلو اجازه درلوده.

موږ په وړوکي رسمي موټر کې په ډېره اسانۍ د ملا محمد عمر رسمي دفتر ته ننوتلو
د هغه ځینو همکارانو موږ یوې لویې خونې ته بوتلو، چې افغاني قالینې او له پاسه پر
وړې توشکې هوارې وې.

په دغه کوټه کې هېڅ داسې ځانګړې ځای، یا څوکۍ نه وه، چې نورو هېوادونو کې د مشر لپاره کېښودل کیږي او د خونې دیوالونه هم له هر ډول زینت او ښکلا بې برخې ساده باده وو.

لږه شېبه وروسته ملا محمد عمر مجاهد له خپلو دوو ساتونکو سره خونې ته راننوت او ناست خلک ټول د نوموړي سلام لپاره په کتار ودرېدل او زه په دغه کتار کې دریم یا څلورم تن وم. د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر، مولوي وکیل احمد متوکل زه ملا صاحب ته وروپېژندم.

نرې دنګ سړی و، توره ګڼه ږیره یې وه، یو نیم سپین تکي هم په کې و، ښکلې څېره یې وه، افغاني دودیز کالي یې په تن و او توره افغانۍ لونګۍ یې پر سر وه. د سړي رعب او هیبت زه دې ته پرېښودم، چې زه ملا صاحب ته ځیر ځیر وګورم، مګر هغه مهال، چې نوموړی د خونې په ښي کونج کې کیناست، بیا مې له یو اړخه په ځیر ځیر وروکتل.

نوموړی ډېر درونږ او بارعبه مشر و، خپلو همکارانو او کشرانو سره یې تعامل د پام وړ و.

ملا محمد عمر مجاهد سره د لیدو پر مهال مې فکر وکړ، چې زه د یو رښتیني حاکم په حضور کې یم او سره له دې، چې واکمني یې ډېره ساده او له هر ډول رسمیاتو خالي وه، مګر بیا یې هم په جلسه رعب ډېر زیات و.

د دفتر دروازه تل د ټولو پر مخ خلاصه وه. داسې ځانګړې او قوي امنیتي تدابیر نه تر سترګو کېدل او زه خو له رسمي چارواکو سره ورغلی وم، نو ځکه هېچا را څخه هېڅ پوښتنه ونه کړه، مګر له عامو افغانانو مې چې پوښتنې کړې، نو راته یې ویلې، چې دروازه یې د عامو افغانانو او په ځانګړې توګه د علماوو او رسمي مامورینو لپاره تل خلاصه وي او عام ولسي وګړو سره یې هم لیده کاته په ډېره اسانه کېدل.

ملا محمد عمر مجاهد به له عامو مناسبتونو لکه د جمعې او اخترونو لمونځونو څخه هېڅکله هم نه غیبېده. ښار ته به هم په داسې وخت کې راووت، چې موټر به یې په

خپله چلاوه او چې د لمونځ وخت به راغی، نو خپله به جمعې ته وړاندې شو او لم
به یې ورکړ. ډېری وخت به مازیگر له خپلو ملگرو سره په چکر ووت، خپل ځاد
یې ویړ کړ او خبرې به یې کولې. زه فکر نه کوم، چې ملا عمر مجاهد دې کومه
په څوکۍ کیناستلی وي.

په عامه توگه ویلی شم، چې ملا محمد عمر مجاهد هېڅ سختو امنیتي تدابیرو تـه
نه درلوده، ځکه چې ده ځان ولسي سړی باله او ټول کړه وړه یې د ولسي خلکو په
وو، هېڅکلـه یـې گـڼ شـمېر سـاتونکي نـه درلـودل او نـه یـې د مـوټرو اوږده کتار
خوښېدل.

زه په لنډو ټکو ویلی شم، چې ملا محمد عمر یو رښتینی افغان و او اصولي سـړی
داسې ډېره ستونزمنه ده، چې یو وخت کې دې سړی هم اصولي وي او هم سیاستوا
زما د تجربې له مخې ملا محمد عمر مجاهد د کلمې په اصلي معنا یـو نـر سـړی و
سړیتوب ټول مثبت خویونه په کې راټول شوي وو. خو بیا هم له ټولو هڅو سره سر
دې نه توانیږم، چې د ملا محمد عمر د ستاینې حق ادا کړم او دغه الفـاظ نـه لـرم، ب
دومره وایم، چې ملا محمد عمر یو بې ساری قائد، زعیم او مشـر و.

**مصرى ليكوال، مؤرخ او ژورناليست ابوالوليد المصري [1]( مصطفى حامد)**

ومضى سادس الراشدين (الملا عمر)

الحجه الدامغة على مسلمى هذا الزمان..

عاش وحيداً وغريبا،

حتى وهو أمير،

ثم تركنا وهو مازال.. وحيداً.. وغريباً،

سبق الجميع ولم يدركه أحد،

لحق بمن كان قبله من الأفذاذ،

(۱) او شپږم د خلفاوو ( ملا محمدعمر ) هغه د اوسنی زماني په مسلمانانو کوټلی دليل، هم لاړ.

يوازې پردېس واوسيد، آن کله چې امير هم و، بيا موږ هغه يوازې پرېښود او د تل لپاره يوازې او پردېس پاته شو.

تر ټولو مخکې شو، هيڅا هم د هغه ځای او رتبې ته ځان ونه رساوه.

دی له هغو اتلانو سره يو ځای شو، کوم چې دده په شان وو او څوک چې له ده وروسته راځي ټول به ستړي کړي.

دی د پيغمبر عليه السلام په شان د مينې سمبول و، يتيم او بې وزله پيدا شو، خو بيا د داسې امت پلار شو چې بې وزلي او يتيمتوب يې گاللي وو.

هغه د غښتلي زمري غوندې قهرمان او د مهربانی د نسيم غوندې نری وږمه وه.

داسې غمجن و، لکه د لارې پيل او پای چې ويني، هغه مرحوم مو له هغه چا سره پرېښود چې له موږ غوره وو.

هغه امت د برې د لارې په اول سر کې ودراوه او بيا يې د خدای پاماني اسويلی وکيښ. تک تنها، لکه څنگه چې راغلی و هغسې رخصت شو.

وأتعب كل من يجيء بعـده.

على مثال الرسول الذي أحب،

نشأ يتيماً وفقيراً..

فكان أباً لأمةٍ عانت اليتم والضياع..

قوياً كالأسد الهصور..

رقيقاً مثل نسائم الرحمـة..

حزيناً.. شأن من يرى بداية الطريق ومنتهاه..

تركنا ملتحقاً بمن هم أفضل منـا.

وضع أمته على أول طريق النصر،

ثم شهق مودعـاً.

رحل وحيداً وحزيناً كما جاء.

الأفغان / آخر الرجال / إما أن ينقذوا أمتهم،

أو ليبحث المسلمون لأنفسهم عن كوكب آخر..

ومن يلومهم إن هم فعلوا ؟؟،

ألم يرحل عنهم.. وحيداً وغريباً وحزيناً،

" عمر".. سادس الراشـدين ؟؟

---

افغانان هغه وروستني خلک دي چې يا به خپل امت ژغوري او يا دې مسلمانان د ځان لپاره د کوم بل ستوري په لټه کې شي او څوک به يې ملامتوي که دوی يې ولټوي؟ آيا له دوی څخه د زمانې اتل يوازې پرديس ونه کوچيد؟ عمر د راشدينو خلفاوو شپږم تن.

## ليكوال او ژورنالست أحمد موفق زيدان[1]

نجح الملا محمد عمر في نقل الجهاد الأفغاني من جهاد الفصائل والحزبية الضيقة، إلى جهاد الأمة، فكانت لحظة تاريخية مفصلية، سيما فيها على الحزبية الطالبانية، فدعا كبار علماء أفغانستان ووجهاءها لتشكيل مجلس علمائي قبلي يسترشد بآرائه فاختاره أميراً، كان عاملاً بنصيحة ابن مسعود رضي الله عنه: «لا يزال الناس بخير ما أخذوا عن أكابرهم وأمنائهم وعلمائهم، فإذا أخذوا من صغارهم وشرارهم هلكوا»، واستقطب الملاّ بحنكته عديداً من النخب الأفغانية، ببعده عن آفة التكفير والتخوين والعمالة، حتى ممن كان يقاتلهم، فكان مُقلاً في الحديث، فنجح في إحداث نقلة نوعية يدركها كل من عايش تلك الفترة وما بعدها

(۱) ليكوال او ژورنالست موفق زيدان

ملا محمد عمر مجاهد په دې کې بريالی شو چې جهاد يې له ډلو ټپلو او ګوندي تنګسيا څخه راويوست او د امت جهاد يې وباله. نو دغه يوه تاريخي ځانګړې شيبه وه چې له طالباني تحريک څخه لوړ د افغانستان ستر علماء او مخور مشران يې راوغوښتل، تر څو د علماء کرامو ستر لارښود مجلس جوړ کړي او دی يې له لارښوونو ګټه واخلي. هغوی هم په يوه خوله دی خپل امير وټاکه. هغه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د نصيحت ښه اوريدونکی و هغه چې وايي: تل به خلک په خير خيرت کې وي تر څو له خپلو مشرانو، علماوو او د امانت خاوندانو څخه علم واخلي او که کله يې له شريرو او ټيټو خلکو څه واخيستل نو هغوی هلاک شول.

هوکې، په افغاني ټولنه کې ډيرو وتليو خلکو د ده په پوهه او ځيرکتيا اعتراف کاوه، ځکه هغه د تکفير له فتنې او له غلامي او خيانت څخه بيزاره و. آن د هغو کسانو سره چې ورسره جنګېده هم يې د هغوی په باب لږ وينا کوله، نو هغه په دې بريالی شو چې جهاد له يوه ټولي څخه ټول افغاني ملت ته وليږدوي او دغه حقيقت هغه څوک ښه درک کولای شي، چې هغه وخت او راوروسته موده يې ليدلې وي. هغه د افغاني ټولنې غوخ ملاتړ تر لاسه کړ، ځکه هغه پوهيده چې مشرتوب د خلکو په ملاتړ ترلاسه کيږي، نه دا چې په لويي، غرور او تکبر موندل کيږي.

ما ته اوس هغه شيبې را په ياديږي کله چې د ده لښکرې په کابل ورختلې او هغه کرې شپه خپل رب تعالی ته لمونځ کاوه،دعاګانې يې کولې، بويه چې له يو څاځکي وينې توئيدو پرته الله تعالی کابل فتحه کړي، دا هغه څه دي چې ما ته هغه چا ويلي چې ورباندې باور لرم.

حين نقل جهاده من الحزبية إلى الأمة الأفغانية؛ فوسّع حاضنته الاجتماعية مدركاً تماماً أن السؤدد مع السواد، لا بالتعالي والتكبر عليه، ولا أزال أذكر حين كانت قواته تدخل كابل وهو يصلي طوال الليل داعياً أن تُفتح بلا قطرة دم كما أخبرني من أثق به.

**په شام کې اسلامي مبارز دکتور عبدالله محمد المحيسنی**

ملا عمر وکوچيد داسې کلمه ده چې ما نه گمان کاوه او نه مې غوښتل چې د اوريدو ورځې ته يې ژوندی پاتې شم، خو دالله تعالی عادت په دې جاري دی چې کل من عليها فان..

ملا عمر وکوچيد... هو وکوچيد خو!

چې د مسلمه امت راتلونکو نسلونو ته يې په توحيد باندې د ثبات معنی ورښودله، دفداکارۍ او استقامت په معنا يې پوه کړل.

ملا عمر وکوچيد! خو له هغه وروسته چې په عملي توگه يې مسلمانانو ته دسورة کافرون او سورة ممتحنه تفسير وکړ.

ملا عمر وکوچيد! خو له هغه وروسته چې کافرانو ورتهوويل: چې بودا بتان پريږده، موږ به مالي مرسته درسره وکړو خپل جهاد پرې کوه.

لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته چې کفارو ويلي وو، يو کال زموږ دبتانو عبادت وکړه، او دا ژمنه درسره کوو چې يو کال به موږ ستا د رب عبادت کوو.

ملا عمر وکوچيد! له هغه وروسته چې د امت په حافظه کې يې دا نقش کړل چې هر مصلحت ولو که هر څومره لوی وي خو دتوحيد د عقيدې د ساتنې سره په ټکر کې شي نو هغه تش سراب دی، نو وگورئ هغه له ميليونونو ډالرو تير شو، خو شرک ته يې اجازه ورنکړه.

ملا عمر وکوچيد! وروسته له هغه چې وربانـدې د شوروي او ناټو امپراتورۍ راټولې شولې نو د هغه څواب دا وو، حسبنا الله ونعم الوکيل، نو دهغوی دځواکونو زور وخوت لکه په ابراهيم عليه السلام باندې چې اور بې وسه شوی و.

ملا عمر وکوچید! له هغه وروسته چې داسې کارنامې يې ترشا پرېښودلې چې شايد راتلونکي نسلونه وربانديې د خيالي کيسو گمان وکړي.

هغه په لسان حال سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حديث ولوست: مسلمان د مسلمان ورور دی نه به يې دښمن ته سپاري او نه بـه ظلـم وربانـدې کـوي، نـو زه هـم مسلمان يم خپل مسلمان ورور اسامه بن لادن کافر ته نه سپارم.

پدې اړه په باريکو مسئلو پسې ونه گرځيد چې د مصلحتونو په باب کې د ځان لپاره لار پيدا کړي.

ملا عمر وکوچيد! نوموړی له هغو لږ کسانو څخه و چې زما د زړه دا ارمـان و چـې تـر هغو مړ نشم چې د هغوی په ليدلو مې سترگې نه وي يخې شوې، نو ای الله! تـه مـو لـه هغوی سره په جنت الفردوس کې يوځای کړه.

ملا عمر وکوچيد! وروسته له هغـه چـې خپلـه مشـهوره مقولـه يـې وويلـه: (اللـه تعـالی دنصرت وعده راسره کړې او امريکا د ماتې، زه به وگورم چې کومه وعده ډيره رښتونې ده) ای امامه! الله تعالی رښتونی کړلې، امريکا ماتې وخوړله..

ملاعمر وکوچيد! راتلونکو نسلونو ته يې تر شا سـتر مـيراث او لويـه مدرسـه پرېښـوده، خلکو ته يې عملا وروښودله چې بريا د صف له وحدت او يو موټي کيدو پرته امکـان نه لري.

نو ای زما قومه! آيا د شام لپاره کوم ملا عمر نشته؟

ملا عمر وکوچيد! له هغه وروسته چې خلکو ته يـې وروښـودله چـې شـرعي سياسـت چې کله په ارزښتونو باندې له ثبات او قربانيو سره مل وي نو سرسخته دښمنان زمـوږ د شـرطونو منلو ته اړباسي.

په ټولو خلکو يې دا حجت قائم کړ چې د رښتوني اسلامي نظام د حاکميت لپاره (لکه څنگه يې چې الله جل جلاله غواړي) لار يوازې جهاد في سبيل الله دی، ديموکراسـی او علمانيت د شريعت د نفاذ لاره نه ده.

کوچیدلو یې غمژن کړو، خو زموږ لپاره دا کفایت کوي چې دالله تعالی دین د رجالو په فقدان نه دریږي، زموږ لپاره دا کفایت کوي چې الله جل جلاله په خپل دغه قول تربیه کړي یو. (وما محمد إلا رسول قد خلت من قبله الرسل أفإن مات....)

ملا عمر وکوچید! زموږ لپاره دا کفایت کوي چې موږ پوهیږو چې ترشا یې داسې ملګري پرې ایښي چې د هغه یون به تکمیلوي او د هغه په مسیر به روان وي، موږ د طالبانو لښکر ته وایو: تاسې زموږ د سرونو تاج یاستئ، ډیر ځلې مو ارزوګانې کړي چې کاشکې له تاسې سره وای، ثابت قدمه اوسئ، اې د الله د دین رجالو! تاسې د ثبات په لوړو درجاتو فائز یاستئ.

## د هیواد د څو لیکوالانو د لیکنو ځینې برخې

### استاد محمد زمان مزمل

ملا محمد عمر مجاهد چې افسانو ته په نړدې ژوند او جهاد یې یوویشتمه پېړۍ پیل کړه، د هغه مرګ تېره اونۍ د هغه نږدې دوستانو تسلیم کړ.

هغه د نړۍ په تاریخ کې د تر ټولو لوی نړېوال ایتلاف سره د جنګ مشر و، بلکې هغه د یو قطبه نړۍ د مخکښې امریکا سره د مقابلې چلنج او جګړې ته په هغه سادګۍ او ایمانداري ننووت چې نن یې امریکا د پیل شوې جګړې پاتې او پیچلې پړاو د آسیا د ځواکمن هېواد چین په ثالثۍ حل یا هم بلې توطیې ته سپاري.

که څه هم سیکولران، کمونستان او غرب ته پناه وړونکي افغانان به د مرحوم امیر په هکله هر څه ووایي او ولیکي، خو هغه د افغانستان د تاریخ په حساس پړاو کې د امریکا د یو قطبه نظام د اشغال سره د ټکر او جنګ حماسه د تاریخ وروستی باب کړ.

### افغان لیکوال عبدالرحیم ثاقب

که د مرحوم امیر المؤمنین په لاس تر سره شوې کارنامې ټولې دلته لیکل غواړو ښایي ډېر وخت او ډېره اوږده لیکنه وغواړي.

ځکه د نوموړي د همدغه اسلامي تحریک ځانګړتیا یواځې د امنیت تأمینول نه بلکې د هغه ترڅنګ د شرعي احکامو تطبیقول، د هیواد په ټولو قضایي، تقنیني او تنفیذي اداراتو کې مطلوب اصلاحات راوستل هم ول.

د امیر المؤمنین د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال په افغانستان کې د شرعي حدودو د تنفیذ ترڅنګ په نړۍ کې د مستضعفو مسلمانانو له حقوقو دفاع کول او د هغوي مظلومو افرادوته د خپلې واکمنۍ تر سیوري لاندې پناه ورکول هم میسر ول.

د مرحوم امیر المؤمنین شخصیت د ټولو هغو نیکو مواصفاتو متمثل و چې یو مسلمان قائد یې باید ولري. تقوی، تواضع ،خود ګذري، ایثار او خواخوږي یې د ژوند لازمه ځانګړتیاوې ولې.

د نوموړي د حاکمیت په مهال مسلمانانو د نړۍ په کچه په افغانستان کې یواځینی داسې حکومت درلود چې نړیوالو مستبدینو د ظالمانه اوامرو او غوښتنو په مقابل کې یې د اسلامي نخوت او سرلوړي له مخې د نه ویلو توان درلود.

د ده د فاتحانه قیادت په مهال د لومړي ځل لپاره د کفری نړۍ تبشیري منحرف منصرین ( د شلترنو مسیحي مؤسسې کارکوونکي) د تنصیر منحرفي عقیدې ته د دعوت په جرم ونیول شول، د زندان تورو تمبو ته واچول شول او په شرعي محکمې کې د خپلو ناروا اعمالو د ترسره کولو په جرم مجازات کړای شول.

د ده د شرعي واکمني په مهال شرعي حدود نافذ او مسلمانانو یې په ټولنې کې د تنفیذ مثبت اثرات ولیدل. او بالآخره د ده د شرعي واکمنۍ په مهال په هیواد کې په ښکاره د شرک، بدعتونو اونورو منکراتو په خلاف په دولتي سطحه هلې ځلې پیل شوې.

ربتیاهم د امیر المؤمنین په قیادت کې د اسلامي امارت د ۷ کلني واکمنۍ په مهال په ډیرو سختو شرائطو او اقتصادي ناخوالو کې د ژوند په مختلفو برخو کې د توقع خلاف ډیر کار وشو.

له اداري اصلاحاتو نيولي، تر قضايي عدلي، فرهنگي اقتصادي او تعليمي سمونو پور
د نظام په ټولو برخوکې مطلوب اصلاحات رامنځته شول، په عمراني برخه کې په ډې
نامساعدو اقصادي شرائطو کې ډېر پرمختګ وشو، د حکومتي اداراتو په بيا فعالو
کې دومره کار وشو چې د هيواد په ډيرو ليري پرتو سيمو کې ټول حکومتي ادارا
(ولسوالۍ) او علاقه دارۍ په مکمل ډول فعاله او د خپل فعاليت په سيمه يې پو
کنټرول درلود چې داخبره د معاصر افغانستان په تير ۲۷۶کلن تاريخ کې ساری نه لر

**ليکوال او مفکر استاد عبدالهادي مجاهد**

ملا محمدعمر مجاهد د يوه رښتيني مسلمان رهبر په حيث نه د کفري نړۍ له لو
ځواکونو مرعوب شو، نه يې له نوي نړيوال نظامه سترګې وسوې، نه يې (د ملګرو مل
او (د امنيت د شورى) د کفري قوانينو بندګي ومنله، نه له چا سره په کوم کفر
(نظامي) او يا کوم (سياسي) تړون کې شامل شو، نه يې د غرب او يا شرق په نزد د م
کېدلو په مقصد په خپل نظام کې پردي معيارونه مراعت کړل او نه هم د چا سياس
اقتصادي او او نظامي بنديزونو او او تهديدونو ته ورتسليم شو.

هغه دا هرڅه ځکه وکړل چې هغه (مسلمان) و او پر دې يې عقيده درلوده چې لک
څنګه چې د (مسلمان) دين او عقيده اسلامي ده همداسې بايد د هغه (سياست)
نظام هم اسلامي وي. ځينې (پردي پالو) او لنډ فکره خلکو ته به کېدی شي د هغه
لوري د د دغه ډول دريځ خپلول د هغه ساده ګي او د معاصرې نړۍ له سياسي وضعي
او حالاتو ناخبري ښکاره شي، خو حقيقت دا دی چې هغه ساده او ناخبره نه و، بلک
هغه يو رښتينی مسلمان رهبر و چې د اسلام په حقيقي روحيه سمبال او يو کلک
(شعوري مسلمان) و چې په هيڅ صورت يې په اسلام او اسلامي سياست ک
(پيوندکاري) نه منله. زه د داسې يو چا په حيث دا خو کربښې نه ليکم چې هغه يې
وي ليدلی او نه يې وي پېژندلی. ما هغه مرحوم له نيږدې ليدلی و او د هغه له فکر
نظرياتو مې له ډېرې نيږدې ځان خبرکړی وو.

د ملا محمد عمر مجاهد د فکر او د اسلامي سياست د خالصتوب راز په دې کې
چې هغه د اوسنيو نورو سياستمدارانو په څېر د معاصر غرب د سياسي فلسفې

فیلسوفانو نظریات نه لوستي و او نه یې باور پرې ورلود. د هغه د عقیدې او سیاسي تفکر سرچینه د (ژان ژاک روسو)، (مونتسکیو)، (هوبز)، (جان لاک)، (سپینوزا)، (میرابو)، (داروین)، (کانت)، (سارتر)، (ماکیاولي) (فروید)، (مارکس)، (نیچه)، (چرچل) او د (فوکویاما) له نظریاتو نه وه، بلکه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلّم او د صدیّق، فاروق، علي، عثمان، سلمان، ابوذر، بلال، خالد او عمر بن عبدالعزیز رضي الله تعالی عنهم کیسې او رېدلې وې او د هغوی ساده خو پوخ او اصیل فکر یې خپله تګلاره ګرځولي وه. او له همدې امله یې تر وروستۍ ساه د شریعت التزام ته د دنیا د خلکو پر توصیو او فرمایشاتو ترجیح ورکړه.

## د حقیقت مجلې مسؤل مدیر مولوي نعیم الحق حقاني [1] هروي:

ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله یک شخصیت فرا ملی و متعلق به همهٔ جهان اسلام بود. او درست است که زادګاهش افغانستان بود اما آرمانش جهانی بود حرکتش حرکت اسلامی بود حرکتی که ملت های مسلمان از اقصی نقاط جهان برای موفقیت و

---

(۱) مولوي نعیم الحق حقاني هروي

ملا محمد عمر مجاهد یو نړیوال شخصیت او تر ټولې اسلامي نړۍ یې تعلق درلود، دا سمه ده چې د زېږېدو ځای یې افغانستان و، اما ارمان یې نړیوال و، حرکت یې اسلامي و، هغه خوځښت چې د ټولې نړۍ مسلمانانو یې د بریا او پرمختګ لپاره دعاء ګانې کولې، په یوه جمله کې هغه د اوس زمانې د ټولو حریت غوښتونکو مسلمانانو د امید ځای و.

ملا صاحب مرحوم یو مسلمان افغان و چې له ټولې اسلامي نړۍ سره یې تعلق درلود، له مظلومانو او بې نوایانو سره یې تعلق درلود، له دردېدلو مسلمانانو سره یې تړاو درلود، د هغه چا سره یې تعلق درلود چې په نن زمانه کې د داسې چا د راتلو تنده لري چې د عمر فاروق رضی الله عنه غوندې خوی او خصلت ولري، د صلاح الدین ایوبي په شان غیرت ولري او د حضرت خالد رضی الله عنه په شان وي چې دښمنان یې د نوم په اورېدو ولړزیږي، خو مسلمانان یې د نوم له اخیستلو سره د عزتي، آرامي او غرور احساس وکړي.

پیشرفت شان دعای خیر می کردند و در یک کلام او چشم امید تمام آزادگان مس
در عصر حاضر بود.

ملاصاحب مرحوم یک افغان مسلمان بود اما متعلق به همه جهان اسلام، متعل
مظلومان و بی نوایان، متعلق به درد کشیدگان مسلمان، متعلق به آنانی که در ع
حاضر تشنهٔ کسی بودند که خوی و خصلت فاروق رضی الله عنه را داشته باشد، غ
صلاح الدین ایوبی را صاحب باشد، چون خالد رض باشد که دشمنان از بردن اس
به وحشت بیفتند و دوستان و مسلمانان از گرفتن نامش احساس عزت، آرامش و غ
بکنند...

## لیکوال او مبصر أحمد فارسي[1]

امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله رحمة واسعة، امام عادل، امی
حکمت، قائد شجاع، رهبر متقی، مجاهد مرابط وعالم با عمل و مجدد قرن خو
بود.

---

(۱) أحمد فارسي

امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله یو عادل امام، باحکمته امیر، زړور قائد، پرهیزگار رهبر،
مجاهد، باعمله عالم او د خپلې پیړۍ مجدد و. دنیا، حکومت او اقتدار د لذت او متاع په واسطه ونه
کولای چې د هغه په استقامت، استحکام، پایداري، ثابت قدمي او له خالق او مخلوق سره په کړې وعده
په وفا کې کوم خلل پیدا کړي.

یو عام انسان ته ممکنه نه ده چې خاص د شریعت په خاطر چې د ځینو ساده لوحو په نظر فرعي او ناچیز
ګڼل کیږي، نړیوالو طاغوتیانو ته سر ټیټ نه کړي او یا د هغوی پیشنهادات ونه مني. تنها د الله تعالی د
کولای شي چې د شریعت په خاطر د کفارو له پیشنهاداتو ( رسمیت پیژندل، د قیوداتو پورته کیدل
اقتصادي محاصرې ختمیدل) سترګې پټې کړي او دا ټول څه د شریعت په وړاندې ناچیزه وبولي.

بالاخره د پیړۍ دې مجدد او کلک مجاهد داسې په عزت او میړانه له دې نړۍ رحلت وکړ چې حتی دښمن
ونه کولای شول له هغه عزت او سرلوړۍ څخه چې الله تعالی ور پیرزو کړې وه انکار وکړي.

دنیا، حکومت وقدرت با لذت و متاع آن نتوانستند اندکی از ایستادگی، استحکام، پایداری، ثابت قدمی، وفا به عهد و وعده با خالق و مخلوق این پیکر آهنین بکاهند. برای شخص عادی ممکن نبود که بخاطر حکم شرع که به گمان بعضی از ساده لوحان فرعی و ناچیز بشمار می رفت سر اطاعت به طواغیت جهان خم نکند و یا در مقابل پیشنهادات آنان تسلیم نگردد. تنها ولی خداوند متعال می تواند بخاطر حکم شرع از پیشنهاد کفار مبنی بر به رسمیت شناختن حکومت وی توسط همه جهان، رفع قیودات و محاصره های اقتصادی و کمک های بی مقابل چشم پوشی کند و اینهمه را در مقابل احکام شرع ناچیز بداند.

بالاخره این مجدد قرن و مجاهد مرابط آنچنان عزیز و مردانه وار از این جهان رحلت کرد که حتی دشمن نیز نتوانست از این عزت و سربلندی که الله متعال به وی ارزانی فرموده بود انکار کند.

**د تولنیزو رسنیو فعال عبدالسلام وزیروال**

مور لار ورکې وو، زموږ هرخه لوټل شوي ول، موږ په سپیو داړل کیدو، په موږ د رقص مرده ابتکارات کیدل، زموږ له خوینډو څخه تیونه پرېکیدل، زموږ ښځې د مکروریانو له دنگو مانیو څخه غورځول کیدې، او زموږ ماشومان پوستو ته د بدعملی لپاره سوق کیدل؛ موږ په تیارو کې ورک وو، زموږ له پوهنتون څخه قصابخانه جوړه وه او له روغتونه مو زناخانه.

گرانه‌امیره

همدا ته وې چې زموږ لپاره د امید سپرغی شوې؛ ته زموږ لپاره د نجات پرښته شوې، ته زموږ د درد درمان شوې او زموږ د زخمي او پرهر پرهر وجود لپاره فضل د سبحان شوې.

تا موږ ته یو فکر را کړ؛ تا موږ ته په توره تاریکۍ کې یو مشال روښانه کړ، موږ ته دې لار وښوده او د مشال په تته رڼا کې دې د بقاء په لاره رهبري کړو.

**نویسنده و عالم دین مفتی انعام الله حبیبي سمنگانی**(۱)

حرکت ایمان آفرین ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله رحمتاً واسعا) اگـر از یـک سـو ملت ستم دیده و الم رسیده ء افغان زمین را از پنجه های خونخوران مظلوم ستیز نجات داد از سوی دیگر در بدن هزاران مسلمان آسیای میانه ( تاجکستان، ازبکستان وغیـره ) روح تازه بخشید، اهل جهان با دیده های عبرت تماشا نمودند چگونه یک بار دیگر با نعره های الله اکبر مجسمه های ننگین بودایان در خاک دلیران پارچه پارچـه شـد، بلـی امروز هم بسیاری از دیموکراتان افغان بـه یـاد آن مجسـمه هـا اشـک میریزنـد و لـیکن فرزندان اصیل اسلام به تعمیل این سـنت ابراهیمـی (ع ) صـد هـا سـپاس بـه روح مـلا محمد عمر مجاهد می فرستند. ملا محمد عمر مجاهد برای همه سیاست مـداران دیـن فروش ثابت نمود که همچون محمود غزنوی بـت شـکن اسـت نـه همچـون شـما بـت فروش، بلی بسیاری از رهبران جامعه ء اسلامی امروز با ترویج فرهنگ و عقائـد جهـان غرب به فرزندان اسلام بت می فروشند، ملا محمد عمر مجاهد در صحنه ء عمل ثابت ساخت میوزیم های ما به مجسمه های نیـاز نـدارد کـه گذشـته ء مـا را بـه بـت پرسـتان بپیوندد.

بتان شکست فراوان و بت پرستان کشت

---

(۱) مفتي انعام الله سمنگاني

د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ایمان پالونکي خوځښت که له یوې د افغانستان ستمدیده او دردیدلی ولس د خونخوارانو له پنجو څخه خلاص کړ له بلې خوا یې د منځنی اسیا د زرگونومسلمانانو په بدن کې نوی روح پو کړ. نړیوالو د عبرت په نظر کتل چې څرنگه یو ځل بیا د تکبیر په نعرو د بودا مجسمې د ننگیالو په خاوروکې ټوټه ټوټه شوې. هوکې، اوس هم ځیني دموکراتان د هماغو مجسمو په یاد اوښکې تویوي، مگر د اسلام اصیل زامن د دې ابراهیمي سنت د تعمیل له امله د ملا محمد عمر مجاهد روح ته د مننې پیغام لیږي.

ملا محمد عمر مجاهد ټولو دین پلورونکو سیاستوالو ته ثابته کړه، چې هغه د محمود غزنوي په شان بت شکن دی، نه ستاسو په شان بت فروش. هوکې، د اوسنی‌اسلامي نړۍ ډیری رهبران د غربي فرهنگ او عقائدو په ترویج سره په مسلمان نسل بتان خرڅوي. ملا محمد عمر مجاهد په عملي ډول ثابته کړه چې زموږ موزیمونه هغو مجسمو ته اړتیا نه لري چې زموږ تاریخ تر بت پرستانو وتړي.

وز آنچه کرد نجسته ست جز رضای اله

## مفتي حسن زوی د شریعت مجلې مسؤل مدیر

د ملا محمد عمر مجاهد دینداري، تقوی، جهادي اهدافو اوملي منافعوتـه وفـاداري، د شـریعت په لارښوونو استقامت او نا متزلزل قیادت او سیاست د ده د ولسي-محبوبیـت تر ټولو اساسي او اصل لامل و. د ده همدې امتیازي شان هغه داسلامي نړۍ لـوی قائـد وګرځولو، نو ځکه د نړۍ ټول مسلمانان او جهادي حرکتونه ورته دامیرالمؤمنین خطاب کوي اوپه کارنامو یې ویاړي.

زه پوره باورلرم چې تاریخ به د هغه اتلولي هېره نکړي؛ پدې اړه به سم قضاوت وکړي؛ تاریخ به هغه رحمه الله د صلاح الدین ایوبي په څېـر د اسـلام د سـترو او نـامتو اتلانـو څخه وګڼي.

## سعید بدخشانی نویسنده افغان[1]

پس از عقب نشینی امـارت اسـلامی و اشـغال کشـور توسـط کفـر جهـانی بسرکردګی آمریکا حتی یک ساعت هم از خاک وحریم کشور مجاهد پرور خویش بیـرون نشـد، در طول اشغال همه تکالیف ومشکلات را متحمل ګردید، در این سالیان متمادی یکی از اعضای خانواده و فرزنـدان مجاهـد خـویش را ملاقـات نکـرده بـود، عـلاوه بـر ایـن

(۱) سعید بدخشاني
ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي امارت له عقب نشیني او د نړیوال کفر لخوا د هیواد له اشغال نه وروسته حتی د یو ساعت لپاره هم له خپل مجاهدپال هیواد څخه بهر نه شو. د اشغال په موده کې یې ټول تکلیفونه او مشکلات وزغمل، په دې اوږدو کلونو کې یې د کورنۍ له یوه غړي او خپلو مجاهدو زامنو سره کله هم ملاقات ونه کړ. له دې علاوه مرحوم امیر المؤمنین جهادي چارې او د اسلامي امارت مشرتوب په ډېره ښه طریقه د ژوند تر آخري لحظو ترسره کړ. چې همدا فقیرانه او ماهرانه ژوند هغه هم د هیواد په دننه کې، د نړیوال کفر د تبلیغاتو او پرمختللي تخنیک ټول دسائس یې رسوا او خنثی کړل. هو کې ، من کان لله، کان الله له.

مرحوم امور جهادی و امارت اسلامی را بطور احسن تـا آخـرین لحظـه و رمـق حیـ
خویش پیشبرد که این زندگی فقیرانه وماهرانـه، آنهـم در داخـل کشـور همـه دسـای
تبلیغات وتکنالوژی پیش رفته کفار جهانی را رسـوا وخنثـی سـاخت، بلـی! من کان
کان الله له.

سلام علی روحک فی الخالدین !

****

# ضمائم

## د امیر المؤمنین ځینې ویناوې، مرکې، لیکونه او فرمانونه

## پرافغانستان دامریکا له یرغل څو ورځې وړاندې

## اسلامي امت او د افغانستان میړني ولس ته د عالیقدر امیر المؤمنین وینا

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم

اما بعد: فاعوذ با لله من الشیطن الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم. قال الله تعالی: و انتم الاعلون ان کنتم مؤمنین.

محترمو مسلمانانو او د افغانستان غیور ولسه!

په تاریخ کې دا دریمه امپراطوري ده چې پر موږ باندي تېل کیږي او تحمیلیږي، تاسو ټول په دې خبر یاست چې د انګریزانو څه حق وو چې په افغانستان باندي یي حمله وکړه یا یي تعرض کاوه؟ هلته خو اسامه نه و؟ د روسانو څه حق و چې په افغانستان باندي یي حمله کوله یا یې تعرض کاوه یا یې اشغالولو ؟ هلته خو به اسامه نه وو ؟ اوس دا دریمه امپراطوري ده چې پر موږ باندي تحمیلیږي، تاسو ټوله په دې پوه یاست چې دا یواځي د اسامه موضوع نه ده، دا د اسلام سره ضد او عناد دی چې دې خلکو را اخستی دی، دا صحیح ده چې په امریکا کې دا پیښه شوي ده، هر سړی په پوه دی چې داسي پیښه په داسي منظم ډول پیښه دا د یوه مهاجر او بي وسائلو، بي سر و سامانه سړي په وس پوره نه ده.

دا هیڅ امکان نه لري، دا چې هر څوک دي او هر څوک چې یي کوي، دوی ته ښه معلوم دي، پرهغه باندي دوی لاس نه بړدي، دوی یو واري دا موضوع سر ته رسوي

چې هلته واقعي مسلمانان دي او واقعي اسلام دی، واقعي د يو دين ړغ ځيني پورته
کيږي، دا دوی د خطر زنګ بولي او دغه د خطر زنګ ته دوی متوجه دي، نو تاسي
ټول په دې پوه سئ چې د دې بحران څخه وتل يواځي او يواځي پر خپل خدای جل
جلاله باندي اعتماد کول او صبر او ثبات دی، يوازينی ذريعه د کاميابي دغه شيان دي

دا چې امريکا کروز توغندي را غورځوي يا به بمبار کوي يا به تعرض کوي، هره خو
چې کوي دا زموږ او تاسو په مخکي ده، دا په بي غيرتيا زموږ او ستاسي د سره نه
چيږي، دا که دوی کوي او خدای جل جلاله اراده کړي وه چې داسي به پيښيږي، د
بيا زموږ له سره نه چيږي، بايد مسلمانان لږ کښته او پورته وګوري، خپل اسلام ته
وګوري، خپل غيرت ته وګوري، بايد په دې شيانو باندي وار خطا نسي، که مري ک
پايي، دا د دې څخه نا علاجي ده، ځکه چې مړ سي، خپل ايمان او اسلام خوندي
کړي، خپل غيرت خوندي کړي، نو تر دې بله يوه باچاهي چيري ده؟ تر دې بله لوي
کاميابي چيري ده؟ مرګ خو هسې هم هر چا ته ګوري، يا نن يا سبا، نو دا به ښه خون
کوي چې پر بي ايماني او بي غيرتي باندي مړ سي او که پر اسلام د غيرت کول او
اسلام په ننګه مړ سي، د مرګه څخه د هيچا چاره نسته، خو دغه تشويشونه دي خلک
مازغو وباسي، خپل ثبات دي وکړي، صبر دي وکړي، پر خپل خدای دي اعتماد او
اعتقاد وکړي.

نو تاسو فکر وکړئ. الله تعالی خو وايي: و انتم الاعلون ان کنتم مؤمنين، چې اوس
الله تعالی خبره د اعتماد وړ ده او که د امريکې خبره؟ الله تعالی وايي چې تاسو به لو
ياست، غالبه به ياست، که تاسي مؤمنان واست، نو ايمان داسي نه دی چې محض
سړی و وايي چې زه مسلمان يم او په دې به خلاص شي.

اوس به ستاسې د ايمان درک معلوميږي، چې د کفر په مقابل کې د امريکې د دغ
غرهاري په مقابل کې ته څه کوې؟ او څه وايې؟ کنه الله ته آسانه ده چې نه به
امريکي توغندي وي، نه به يي بمبار وي، نه به يي بل شی وي، هيڅ شی به پيښ ن
سي، بيا چې پيښيږي، بيا دي پيښ سي، پر چا نه دي پيښ سوي؟ په کوم وخت کې نه
دي پيښ سوي؟ انګريزانو او روسانو زموږ څو ميليونه انسانان له مينځه يووړل، خو

خدای ورک کړل، د همدي قرباني په سبب باندي خدای ورک کړل، که قرباني ور نکړئ او غیرت پر دغه خپل اسلام او ایمان ونکړئ نو تاسو ملکونه وگورئ په څه شیانو باندې یې داسي کړي دي، خو په دې غرهاري باندي یې داسي اندازې ته رسولي چې ایمانونه یي هم ځیني وړي دي، غیرت یي هم ځیني وړی دی او هر څه یي ځیني وړي دي، په موږ او تاسي څه شوي دي؟ د دوی امپراطوري په تاریخ کې د افغانستان د لاسه ړنگي سولې، در په دره سولې، ټوک ټوک سولې، افغانستان هغه افغانسان دی، هغه یي نوم دی، هغه یي غیرت دی، هغه اسلام دی، هغه ایمان دی، څه پیښه سوې ده؟ خو دا به هم داسي یوه پیښه کیږي، و دي سي، خلک به پکښې مړه کیږي، مړه دي سي، د خپل اسلام ایمان او غیرت سره خو به مړه سي، دا به څه کوې چې ایمان هم د لاسه ورکړي، غیرت هم د لاسه ورکړي او مړه هم سي، دا څه په درد خوري، څوک دي دا تشویش نه کوي، هر مسلمان دي د دغسي اقدام په مقابل کي جهاد ته آماده اوسي، دې ته تیار اوسئ چې که ما ته ضرورت سي زه ځان پر اسلام باندي قربانوم، پر خپل ایمان باندي به ځان قربانوم، پر کلمه د لا اله الا الله محمد رسول الله به ځان قربانوم، محض د ځان دغه نیت وکړئ، دا فتنه وه که دا بلا وه، که هر شی وو، دا به الله تعالی ورک کړي، او که تاسي داسي په بي ایماني زندگي کوئ، پلرونو او نیکونواو دا نړدې چې اوس یي وینئ در ته گرځي، گوډان او شلیان، څنگه توره یي وهلي، د روس امپراطوري یي د ځمکي ووهله، ړنگه یي کړه، په ټوله دنیا کې، دا خو وینئ، هغه ولي په ژوندي سر در ته گرځي؟ هغه مجاهدین، نو دا به هم داسي یوه پریکړه وي، دا به هم یوه فیصله وي چې کیږي به، که د خدای جل جلاله اراده سوي وي، داسي مه کوئ، تشویش په دې شیانو کي مه کوئ، چې یا ملامتي په طالبانو ورځي، یا ملامتي په اسامه ورځي، یا پر بل ورځي، زما د خدای پر وحدانیت قسم دی چې اسامه اوس دستي ورکړئ، بیرته دغه زوږ حال دی، دغه غرهاری دی، دغه کیسه ده چې ولي دي داسي کړي دي؟ ولي دي داسي کړي دي؟ دا به هم داسي کوئ، دا به هم داسي کوئ، نو اخیر به څه شی در څخه جوړ سي؟ اخیر به دي ایمان څه سي؟ اخیر به دي غیرت څه سي؟ اخیر به دي اسلام څه سي؟ اسامه نه دغه کار کولای سي، نه یي کړی دی، نه امکان د دغه سته چې د دغه ځایه څخه دي په هغه ځای کې منظمه

پروسه جوړوي، بیا دي هم هغه کامیابه کیږي، دا د امکان له صورته وتلي ده او بل دا بمان نه دي چې اسامه خلاص کړي دي، دا داسي کار سوی چې خلکو د سر په قرباني کړی دی، د سر قرباني څوک د اسامه لپاره نسي ور کولای، نه یي څوک ور کوي، نه پر اسامه څوک ځان وژني او نه یي د اسامه پر نامه باندي وژني، دا د سر قرباني چې څوک ورکوي دا خپل ځان ته جلا غرض لري، خپل ځان ته مطلوب لري، هغه نه د امریکي څخه ویریږي او نه د بل چا څخه ویریږي، څوک چې خپل سر قربانوي هغه دې ته ضرورت نه لري چې اسامه ماته خوښ دی یا نا خوښه دی، اسامه ماته امر کړی دی یا یي نه دی کړی، دا د امکان له صورته وتلي ده، دا یـواځي او یـواځي د دریمي امپراطوري سلسله ده په جهان کې تحمیلیږي، خلک غولوي، خلک خطا باسي، بي ایمانان چې دي هغه ور سره ملګري کیږي، ورسره شریک دي، که څه هم بد ځیني وړي، که څه هم دښمنان دي، خو ستا لپاره بس دي، د امریکې دوست دی، دوی یي تر خوا دي، نو هر مسلمان ته خپل ایمان او غیرت باید ور په یاد وي، په هره لحظه کې دي باید ثابت قدم اوسي، که ایمان او غیرت نه وو هم به په ویره کې وي او هم به یي تاب پر روی زمین باندي نه کیږي، اخیر به مري هم، خو په دغسې بې ایماني او بې غیرتي کې به مري، اول خو د ټولي نړۍ مسلمانان باید په دې خپل ایمان باندي غیرت وکړي، باید ننګه د افغانستان وکړي او باید ننګه د مسلمان وکړي، هر څه ته باید حاضر سي، د اسلام په قرباني کې، او که یي نه کوي هغه خو داسي نه کوي، هغه خو د هر چا خپل کار دی، د افغانستان خلک خو بایـد پـر خپـل تـاریخ، غیـرت او ایـمان بانـدي ودریږي، د انګریزانو او روسانو په وخت کې خو به نـه زه وم، نـه بـه طالبـان وو، نـه بـه اسامه وو، هغوی ولي راغلل؟ د افغانستان خلکو قرباني ورکړه، هغه خو به نـه مـا ور تـه ویلي وي، نه به اسامه ور ته ویلي وي، نه به یي ښوروولي وي سره چې ونیسـه دغـه کـار وکړئ، هغه د افغانستان خلکو وکړ، خو غیرت یي وکړ، ایمان یي وکړ، اوس هم هغسې یوه سلسله ده، هر مسلمان ته ثابت قدمي په کار ده، که مري که پایي، خو دغـه یـي لار ده او خامخا کامیابي په دغسي صورت کې حاصلیږي، هیڅ شک نسته پکښي، په خپل خدای باید سړی اعتماد وکړي، د خپل خدای جلا جلاله په قول او خبره یقین ولري، الله تعالی فرمایي: تاسي به کامیاب یاست که تاسي مؤمنان واست، مؤمنان خو دا نه

معنی چې بس بالا هیڅ نه سم کولای، بس زه مسلمان یم، بس محض مؤمن هستیم، په مؤمن هستیم خو نه سئ خلاصیدلای، واقعي مؤمن چې ته ځان جوړ کړې نو بیا به ته خامخا کامیابه وې، دا د خدای جل جلاله وعده ده او خدای تعالی د خپلې وعدې څخه مخالفت نه کوي. عجیبه ده زه نه وار خطا کیږم او د بې دینانو سره د دین او اسلام مخالفه لاره نه وړم، سره له دې چې قدرت مې هم په خطر کې دی، مشرتوب او چوکۍ مې هم په خطر کې دي، زندګي مې هم په خطر کې ده، ځان هم وژلو ته ورکوم، که زه اوس له کافرانو سره داسې لاره یوسم چې د اسلامه مخالفه لاره وي، جوړ جاړی وي او کار ورسره برابر کړمه، خو هر څه به مې پراخه وي، هم به مې باچاهي او سلطنت بر قراره وي او هم به زورورې پیسې، جاه و جلال برابر وي، لکه د نورو ملکونو د رئیسانو چې برابر دي، دا به ټول برابر وي، زه دې قرباني ته حاضر یم، هر څه ته حاضر یم، ځان قربانومه، تر هر څه تیر یمه، هم تر سلطنته تیر یمه، هم تر قدرت تیر یمه، هم تر طاقت تیر یمه، تر هر شي تیر یمه، د اسلام غیرت کوم، پر اسلام باندې ننګ کوم، پر دې پاک وطن ننګ کوم، یو عام فرد ته به څه د دې ضرورت پیدا شي چې دی بې ننګي کوي او بې غیرتي کوي، چې هیڅ شی یې هم په خطر کې نه دی، یواځې به دی یو وخت په جهاد کې حاضریږي یا به نه حاضریږي، او بیا هم وارخطایي کوي او یا هم په خارجي ملکونو کې ناست دی، دوی ته څه ور پیښه ده؟ دوی د څه شي څخه وار خطا دي او دلته د څه شي څخه وار خطا دي، چې هیڅ شی یې هم په خطر کې نه دي، زما ټوله زندګي، ټول قوت او قدرت په خطر کې دي او بیا هم دا ننګ او غیرت کوم، نو تا لره یې د خیره چې ته یې نشې کولای، ته یې نه کوې، خو ایمان به دې ضعیفه وي، چې نه یې کوې، که ایمان در پکښې وي یا د ایمان غاور یې، یا د ایمان غوښتونکی یې نو ته خو یې باید چې بیخي وکړې، چې زه دې قرباني ته حاضریږم او تر ټولو شیانو تیریږم، نو ته څنګه نشې تیریدلای؟ زه خو تا ته حیران یمه، نو که چیرې په تا کې ایمان او وجدان وي نو باید چې و دریږې، که ایمان او وجدان در پکښې نه وي بیا زه ستا څه پروا کوم، زه بیا ستا څه خبره ومنمه، ولې یې ومنمه، د کومې لارې یې ومنمه؟ چې ستا څخه ننګ او ایمان او غیرت ټول الوتي دي، ټول تللي دي، نو زه ستا کومه خبره او څنګه ومنمه؟ ته ما ته مشوره راکوې او یا را ته

وايي چې داسي وکړه يا داسي وکړه، نو که په تا کې قوي ايمان وي نو تـه تـر هغه شي خامخا نه شي تيريدلای چې په هغه کې د ايمان زيان وي، په هغـه کـې د اسلام زيـان وي، په هغه کې د خاوري د تماميت نقصان وي او يا په هغه کې نـور تاوانونـه وي، نـو ترهغه شي ته خامخا نشي تيريدلای، دا چې ته تر ټولو شيانو تيريږې نو په تا کې ايـمان ضعيفه دی، په تا کې اسلام ضعيفه دی، ته بايد پر ځان پيره دار اوسې، ته بايد ايـمان او اسلام قوي کړې، ته په خپله کړنلاره تجديد نظر وکړې.

دې شيانو ته خو چې ايمان او اسلام ولري او دی د دې خواهش وکړي چې زه بايـد دا خپل ايمان او اسلام خوندي کړم او دا خپل غيرت بايد خوندي کـړم نـو خامخـا داسي شي ته دی نشي حاضريدلای او نه حاضريږي چې په هغه کي د دې شيانو تـاوان وي، نو هر مسلمان دي فکر وکړي، او ښه ژور فکر دي وکړي، د خپل اسـلام او قـرآن ننگـه دي وکړي، الله جل جلاله مهربان دی چې دې خلکو ته کاميابي ورکړي، کاميابي بس دا کاميابي ده چې که پر ايمان باندي مړ سي هم غټه کاميابي ده، که هيڅ نسي پيښه هم غټه کاميابي ده، د اسلام د بيرغ لوړتيا په دغه کې ده، په دې کې نه ده چې دا ټول ختم سي، دا د اسلام ننگ او غيرت او کلمه د لا اله الا الله محمد رسول الله او بيرغ د اسلام به همدغسي لوړ او اوچت پاته سي نو که تا و نړاوه او نړول يي دغه دي چې ته دغسـې شـيانو تـه حـاضريږې چـې د دوی پـه خوښـه بانـدي وي تـه چـې دغســې شـيانو تـه حاضريږې نو تا د اسلام او د غيرت نوم و نړاوه، او تا د خاورو سره خاوري کړ، په مړينه او په قرباني د اسلام بيرغ نه کږيږي، د اسلام بيرغ په هغه شيانو کږيږي چې پـه کومـو شيانو ايمان او اسلام ته نقصان رسيږي او ته تري تيريـږې، پـه دې شـيانو کـې د اسـلام خبره ده، د اسلام د بيرغ کږتيا ده، که جهاد ته ضرورت پيښ سي بايد هر مسلمان آماده وي بايد خپلي قرباني ته آماده وي، دا د خطا ايستو خبره نـه ده، دا پخـه خـبره ده، هـر سړی چې فکر ووهي دا د دې خبره نه ده چې زه څوک او څوک پر دې باندي باعـث کوم او ور ته وايمه او يا يي خطا باسمه، د خپل قـدرت لپـاره، قـدرت خـو مـي پـه دې کښې نه دی، قدرت خـو مـې پـه دې کښـې دی چې لاره ورسره يوسـمه، لکـه دا نـور ملکونه دغسي لاري ور سره يوسمه، ښه تام حمايت به مي کوي، حتی فـوځ بـه هـم را کوي، پيسي به هم را کوي، هر څه به راکوي، نو د قدرت لحاظ خو په هغه کي دی، په

دې کې نه دی چې سر لوڅ کړه بالا و دې قرباني ته حاضر سه، قدرت خو په دې کې نه دی قدرت خو په هغه شیانو کې دی، دا خو تاسي په دې پوه شئ زه تاسي د قدرت لپاره نه خطا باسم، دا د خدای جل جلاله قرآن در ته پروت دی، را وایي ړوئ او له علماوو څخه پوښتنه وکړه چې هغه تا ته څه وايي او تا ته څه هدایت کوي، زما هدایت همدا هدایت دی چې خدای جل جلاله را ته کړی دی، دا هدایت د خطا ایستو هدایت نه دی، خپله هم پوهیږئ، نو باید هر مسلمان ویښ او بیداره اوسي او تشویش و نکړي، د را دیوګانو په خبرو و نه غولیږو نو به په ایمان او اسلام ثابت پاته وي، خدای تعالی دي و ټولو مسلمانانو ته توفیق ورکړي چې پر دا خپل ایمان او اسلام ثابت پاته سي.

و من الله التوفیق

## د امارت د مقام ځیني فرمانونه

**په تحریک کې د ناوړه او غیر شرعي اعمالو د نه کولو به هکله د امارت د مقا**
**توصیه**

ټولو نظامي او ملکي محترمو مسؤلینو او عامو طالبانو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

که په دغه پاک تحریک کې مو د قومی، قرابت او شناخت پـه اساس فاسـد خ
داخل کړي وي او یا مو سلاح غیبه کړي وي او یا مـو نـوره غـلا کـړي وي او یـا
مسلمانانو حقوق تلف کړي وي او یـا مـو ظلـم ورسره کـړی وي او یـا زنـا، لواطـ
بیلمازي کوئ او یا د امیر بې امري کوئ او په دینـي چـارو کـې د آمـر تـر امـر لا
کوښښ نه کوئ نو دا سبب د خدای تعالی د دین د خرابی دی.

نو که پورته اعمال چا کړي وو او توبه نه پر وکاږي او یـا د پورتـه نـاوړه اعمـالو آ
قصد لري او هغه غلا کړې سلاح بیرته معلومه نه کړي نو اصـلي مخـربین د دیـن
دغه خلک دي. د خدای تعالی څخه مې شـرمنده په دواړه جهانه کې غوښتي دي

او که پر دغو اعمالو باندې ثوک رسوا سي د صف څخه به مطلقا سره د جـزاء و
څکه چې د دغه دین لپاره په زرګونو طالبان په شهادت ورسیدل او یا ګوډیان، ړان
فلج سوه، نو چې اوس یې ثوک خرابوي زه دغه ښیرا ورته کوم او جزا به هم ورکو

و السلام

د اسلام خادم

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

مأخذ( رسمي جریده، فوق العاده ګڼه پرلپسې شماره ۷۸۸ )

## امارتي منسوبينو ته د سگرټ نه څکولو په هکله د اميرالمؤمنين پيغام

د افغانستان د اسلامي امارت ټولو محترمو مسؤلينو او مجاهدينو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته

ټول محترم مسؤلين دې خبر وي چې په آينده کې سگرټ څکول مطلق بند دي. په جواز او نه جواز کې به يې څوک خبرې نه کوي.

هر مسؤل بايد خپل ماتحت افراد تعقيب او نظارت کړي، جدي امر دی، مخالفت يې جواز نلري. د پورته هدايت سره به سم رفتار ترسره کيږي.

و السلام

د اسلام خادم

اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد

مأخذ( رسمي جريده، فوق العاده گڼه پرلپسې شماره ۷۸۸ )

**مخالفینو ته د ناوړه الفاظو د نه استعمال په هکله د امیرالمؤمنین توصیه**

نیټه ۲۹/۲/۱۳۷۵ هـ ش

محترمو طالبانو او ټولو مسؤلینو وروڼو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو! لکه څنګه چې تاسو تـه معلومـه ده دا تحریـک صرف او صرف د مفاسـدو د دفعې او د دې اسلامي ملت پر ټولو اقشارو باندې د اسلامي شـریعت د نفـاذ او تطبیق لپاره د مخلصو او بادرده طالبانو کرامو لخوا منځته راغلی دی.

له همدې جهته الله تعالی داسې توفیق ورکړی او فتوحات یـې ورتـه نصیب ګرځولي چې ټول یې د سر په سترګو وینو. نو په دې وجه له ټولو طالبـانو کرامـو او د هغوی لـه همسنګرانو څخه په ډېر ټینګار هیله کیږي چې د شـریعت په رڼا کې دا لاندې توصیې مراعات کړي.

اول : تاسو ته معلومه ده چې د مخالفینو په لیکو کې فساقو او کمونیستانو ځـای نیـولی، هغـوی قصـدا د طالبـانو لـه سـنګرونو سره خپلـې مخـابرې رخ کـوي، نـاوړه الفـاظ او ښکنځل کوي، دا دوی خپل فسقي عمل دی.

تاسو د دوی په مقابل کې بد الفاظ او ښکنځل مه کوئ، خپلې پاکې او سپیڅلې ژبې له ناوړه الفاظو څخه وساتئ، ځکه دا کار دوی ته هنوز په ښکنځلو جرئت ورکـوي. قـران کریـم په دې سره ناطق دی او مؤمنانو ته ارشاد کوي چې د مشـرکانو بتـانو تـه ښـکنځل مه کوئ ځکه دوی د جهل او دشمنۍ په درلودلـو سره اللـه جـل جـلا لـه تـه ښـکنځل کوي.

دوهم: دا چې موږ ټول قرآن او سنت ته تـابع یـو، د قرانکـریم آمـر دی( اطیعـوا اللـه و اطیعوا الرسول و اولی الامر منکم... الایة )الله تعالی موږ ته امر کوي چې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم او د اولوالامر متابعت وکړئ. باید د دې مقدس امر په غوږ کې نیولو سره پوره اطاعت وکـړو، بـې د امـر څخـه بـې ځایـه ټکونـه( فیرونـه ) ونکړو، تر څو د امر د مخالفت او د بیت المال د ضایع کولو په ګناه ملوث نه شو.

د الله تعالی په بندگی او د اولوالامر په اطاعت کې فتح او د خدای تعالی نصرت دی.د الله تعالی اطاعت او بندگي وکړئ تر څو مو نصرت نصیب شي.( ان تنصروا الله ینصرکم... الایة ) یعني څوک چي د الله تعالی د دین سره نصرت کوي الله تعالی د هغه سره نصرت کوي.

( و من الله التوفیق )

و السلام

د اسلام خادم

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

مأخذ( رسمي جریده، فوق العاده گڼه پرلپسې شماره ۷۸۸ )

**د الله تعالی د حدودو او احکامو د برپایه کیدو په مقابل کې د هیچا د مراعات د نه ساتلو په هکله توصیه او پیغام**

نیټه: ۲۷/٦/۱۳۷۴ هـ ش

محترمو طالبانو او د محکمو مسؤلینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

اولین ستاسو محترمینو کامیابي د الله تعالی څخه په کونینو کې غواړو و بعد: موږ او تاسو د الله تعالی د دین د خدمت او ساتنې په خاطر پاڅون کړی او ولاړ شوي یو، ځو د خدای جل جلاله پر ځمکه د خدای جل جلاله دین قائم او دائم کړو.

په همدې لحاظ او اساس موږ د خپلې ذمې د فارغ کیدو په خاطر تاسو ته دا رنګه لیکو: هر عالم چې په ولایت یا په ولسوالي کې په محکمه کې شمولیت ولري. یا د هر ولایت والي یا ولسوال وي دا ورته زموږ له طرفه امر دی چې د الله تعالی د حدودو او احکامو د برپایه کیدو په مقابل کې به د هیچا مراعات نه ساتي. صرف د الله تعالی د دین مراعات به کوي. که فرضا داسې پیښه شي چې د الله تعالی دین پر ځمکه وغورځوي د اشنا او دوست مراعات وکړي، بیا به په ورځ د حساب الله تعالی ته مسؤل یاست.

او په دې دنیا که زموږ په چا علم راشي ان شاءالله حساب به حتمي ورسره کوو. دا په دې خاطر چې موږ په ډېر پاک نیت راولاړ شوي یو، باید همداسې وکړو چې قول او عمل مو یو او موافق شي. دا حدیث شریف باید مصداق وګرځوو.( انصر اخاک ظالما او مظلوما) و السلام

د اسلام خادم

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

مأخذ( رسمي جریده، فوق العاده ګڼه پرلپسې شماره ۷۸۸ )

**د قوم پرستي د نه كولو په هكله د اسلامي امارت د مقام توصيه**

۵/۴/۱۳۷۴ هـ ش

محترمو علماء كرامو، طالبانو او خاص بيا د كار او منطقو مسؤلينو ته!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

موږ تاسو ته د خداى په خاطر يوه توصيه كوو.

په دغه مذكورو خلكو كې ډېر خلک د قوميت په بدبوى اخته دي، نور خلک خو تر تبليغ تېر دي ځكه چې قوميت يې اوس د رگو وينه گرځيدلې ده. اوس دغه خواص خلک يې پرې اخته كړي دي. نن سبا زه وينم چې دغه خلک په دې مرض اخته دي، يو د بله بد سره وړي او د مجرم واسطه گرځي، پر جرم يې سترگې پټوي او يو بل نه سره مني، د قوميت په تضاد بد سره وړي.

نو كه دا وار دين خرابيده د دغه خلكو ښخه به د دغه مرض په سبب خرابيږي نو په دغه مرض اخته خلكو ته زموږ وينا دا ده چې د خداى دين مه خرابوئ. اثر مرتب د دې مرض د خداى جل جلاله دين خرابيدل دي. يو څوک چې د خداى دين خرابوي الله تعالى دې د جهنم اوسيدونكى وگرځوي. دا خط مې درته وليكه مگر اميد مې نشته چې دا عمل به پريږدئ، ځكه يو وايي زه نه يم بل وايي زه نه يم. او يا وايي چې پلانى قوميت كوي نو زه هم مجبور يم.

موږ خپلې غاړې خلاصې كړې كه ځان نه در معلوميږي خپل زړه ته متوجه شئ چې په زړه كې مو څه دي؟ او كه هغه هم نه كوئ نو انتظار وباسئ د خداى تعالى عذاب ته.
و السلام

د اسلام خادم

اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد

مأخذ( رسمي جريده، فوق العاده گڼه پرلپسې شماره ۷۸۸ )

## د مسلمانانو په کارونو او د دین په امورو کې د پوره توجه په اړه مسؤلینو

۲/۷/۱۴۱۹ هـ ق

محترمو مسؤلینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دا چې تراوسه پورې موږ او تاسو ورسره جنگیدلو او په زرگونو قربانۍ مو ور
خلک هم مخکې مجاهدین وو څو چې د خدای تعالی په ابتلاء کې ناکامه
دوی خدای تعالی جهاد روا کړ. اوس نو زموږ او تاسو د ابتلاء وار دی.
هغو خلکو څه کول؟ هغو دغه کول چې پیسې به یې په یوه چم پیدا کولې، ه
خپل خلک ډېرول، قومیان یا نور د وړي زامن چې آخر انجام یې دغسې شو
نورو بدو اعمالو یې همدغه د قدرت او عزت محبت وگرځید. د روسانو ضد
اولو وختو کې به که د مجاهدینو مصلح مرکزونه سل وو نامصلح به شل وو. په
هغه سل شل شول او شل سل.
نو د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم روی ته وگورئ! ابتلاء را روانه ده
په دغه ابتلاء کې واقع یو او ډېر اوس بیا په کې ناکام یو. هر سړی په خپل مسؤ
پر خپلو خلکو باندې، خپلو ځانو باندې، د مسلمانانو پر کارو باندې او د ا
جلاله پر امورو باندې تر پایه باعث اوسئ. که مو بې پروایي وکړه دنیا او آخ
دواړه خرابیږي.
د بې ځایه مصارفو څخه اجتناب وکړئ، که یوه روپۍ وي که دوې پر هغ
باندې در تقسیمیږي، دغه قدر به مو اقتصادي توان وي، د کفارو غلامي مه په
د اقتدار، حیثیت او چوکۍ محبت مو په زړه کې ځای ونه نیسي.
نور مو هر کار په خیر دی ځکه چې دا شیان په سړي کې نه وي هغه خدای
عزتمند وي او په خلکو کې هم عزتمند وي. او دغه مرکزونه او اداري مو
کزونه دي، د بې لمانځۍ او نورو ناروا اعمالو څخه یې وساتئ بیا برکت ترې
تصنعون... الایة) یعني الله تعالی ستاسو په

باندې ښه عالم او خبردار دی. نور نو چې کوم هدایت درته وشي باید اطاعت وکړئ او عملي يې کړئ.

و السلام

د اسلام خادم

اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد

مأخذ( رسمي جريده، فوق العاده گڼه پرلپسې شماره ۷۸۸ )

**د علماء کرامو لخوا په اسلامي روحیه د خلکو د تربیې په هکله د امیرالمؤمنین پیغام**

د اسلام د سپیڅلي دین خادمان او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم حقیقي وار
هغه علماء کرام دي چې د څوارلس سوه کلونو په بهیر کې یې آسماني قانون
ښووني او روزنې سره تر نن نیټې پورې را رسولی دی. خو څرنګه چې د وخت امیرا
دین او ښکلي شریعت محبان نه وو معززو علماء کرامو نه شوای کولای چې په بش
توګه د مسلمه امت بچیان د قرآن کریم په نورانیت سره منور وګرځوي او هغه مسلم
ورونه چې د مقدس دین له حکمونو څخه بې برخې لوی شوي وو هغه د دین له ع
څخه برخمن کړي.

څرنګه چې نن ورځ د طالبانو د ځلاندو قربانیو په نتیجه کې علماء کرامو ته زم
مساعده شوې ده چې هر مولوي صاحب په خپل جامعه او دایره کې د امام ابوحنی
رحمه الله د روښانه مذهب په رڼا کې د بالغ او وړوکي نسل پوره تربیه په دیني قوانی
سره وکړي. څو ټول واړه او زاړه زموږ د مظلوم هیواد د اسلامي نظام په ګټورو ښیګنو
وضاحت سره پوه کړي او هم قوم له هغه څخه دیني استفاده وکړي.

نو په دې منظور ټولو والیانو، ولسوالانو او واکمنو اشخاصو ته امر دی څو دوی د خ
ولایتونو د ټولو سیمو خطیبانو او امامانو ته د نوموړي امر سره سم امر وکړي چې
ارشاد او اوقافو د مذهبي دستورونو مطابق خپلې هڅې ګړندۍ کړي، څو له دې س
مسؤلیت څخه د خلاصون لاره ومومي.

هغه دا چې لمونځونه په ټاکلیو وختونو اداء کړي او د سهار له لمانځه څخه وروسته
دقیقې د مذهب سره سم د دین هغه فرض احکام او عقائد تدریس کړي او مقتدیانو
هم امر دی چې ضرور به ورته ناست وي او پوره به پابند وي یعنې زده کړې به څن
کوي.

علماء کرامو او د کلیو مشرانو ته امر دی څو په کلیو او سیمو کې تارک الجماعت
بې دینه خلک اول پخپله اصلاح کړي او د نه اصلاح په صورت کې به اړوندې ځانګ
ته خبر ورکوي څو د محمدي غراء شریعت په رڼا کې مجازات شي. او د ارشا

اواوقافو له لارې باید په ټولو ولایاتو او ولسوالیو کې د علماء کرامو وفدونه هم د احتساب او تعقیب په هدف نوبت واره جوړ شي څو د سرغړونې په صورت کې له سرغړوونکو سره شرعي عمل وشي.

و السلام

د اسلام خادم

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

مأخذ ( رسمي جریده، فوق العاده ګڼه پرلپسې شماره ۷۸۸ )

## د رئیس الوزراء ملا محمد رباني د وفات په اړه د امیرالمؤمنین پیغام

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم

امابعد:

فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم (کل نفس ذائقة الموت.. الایة. صدق الله العظیم

زه د افغانستان مؤمن ولس ته او ټول مسلمان امت ته او په خاصه توګه د اسلامي امارت مسؤلینو او منسوبینو ته په داسې حال کې د تعزیت او خواخوږي پیغام وړاندې کوم چې خپل ډېر خوږ او مجاهد ملګری مې د لاسه وتلی یعني په حق رسیدلی دی. انا لله و انا الیه راجعون.

په حقیقت کې تر بل هر چا زیات زه خپله ډاډګیرنې ته اړتیا لرم ځکه زما لپاره د مرحوم الحاج ملا محمد رباني د وفات غمجنه پیښه ډیره دردوونکې ده. خو موږ د خدای جل جلاله په قضا او رضا ایمان لرو موږ ټول مرګ ته پیدا یو او نیکمرغه هغه څوک دی چې خپل ژوند د مرګ تر راتګه د الله تعالی په رضا کې تیر کړي. مرحوم الحاج ملا محمد رباني د الله تعالی یو نیکمرغه بنده و. هغه که په سنګر کې مجاهد و که په ممبر واعظ او که په اداره کې حاکم و ټول کردار او رفتار یې د خدای جل جلاله د رضا لپاره و. هغه یو وتلی متشرع او متدین شخصیت و د لوړ دیانت او تقوی تر څنګ د مصیبتونو او کړاوونو په مقابل کې د لوړې حوصلې خاوند او غښتلی مدبر شخصیت و د بلوغ څخه تر وفات یې ټول خوږ ژوند د الله جل جلاله د رضا په خاطر په دیني زده کړه او د اسلام او وطن د حفاظت لپاره د مقدس جهاد په سنګرونو کې کې د مظلومو هیوادوالو د سوکالۍ په هیله او د ادارو په سمبالښت کې تیر کړی دی.

خدای جل جلاله دې زموږ کشرانو ته توفیق ورکړي چې د داسې مشرانو لار تعقیب کړي او د دوی ارمانونه د خاورو سره خاورې نه کړي. زه اول ځان بیا د افغانستان

مسلمان ولس او په خاصه توگه د مرحوم متديني کورنی ته د لوی خدای جل جلاله له درباره د جمیل صبر او په نعم البدل سره ددې ژورې خلا د ډکولو غوښتنه کوم. الله جل جلاله دې رحم پرې وکړي.

آمین

د اسلام خادم

ملا محمد عمر مجاهد

(خلافت مجله پرلپسي ۲۱ مه گڼه)

**د افغانستان د اسلامي امارت د مقام خبرتیا**

څرنګه چې اوس ليدل کيږي د اسلام د مقدس دين دښمنان په ټوله نړی کې د دغه مقدس دين د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې کوي او د مسلمانانو په لباس کې په مسلمانانو کې داخل شوي دي او په ډول ډول چلونو او د نيوي مادياتو باندې غواړي چې مسلمانان د اسلام د مقدس دين څخه بې لارې کړي.

څوک غواړي چې مسلمانان د عيسويت او يهوديت په منسوخو اديانو اخته کړي، څوک غواړي چې د مسلمانانو دين يعنی اسلام تحريف کړي چې دا اوس هم يو شمير مسلمانان د پيسو او نورو مادياتو په وسيله د عيسويت دين ته اوښتي او خپل مقدس دين يې پرې ايښی دی.نو له همدې امله ټولو هيوادوالو ته جدا خبر ورکول کيږي که چيرې کوم افغان مسلمان د عيسويانو عقيده قبوله کړې وه او يا دغه منسوخ دين ته ورواوښت او يا هم په داسې حال کې ونيول شي چې د عيسويت يا يهوديت دين ته يې خلک دعوت کول او د هغه په ګټه يې تبليغات کول، يا د هغو د عقيدې کتابونه او نشرات توزيع کول هغه به د مرګ په سزا محکوم شي.

دغه راز که په کومو کتاب پلورنځيو کې داسې کتابونه چې په هغه کې د غلطې عقيدې مواد او يا هم د صحابه کرامو سپکاوی په کې موجود وو ونيول شي د هغو کتاب پلورنځيو مالکان به په پنځه کاله بند محکوم شی.

د اسلامي امارت مقام

مأخذ( خلافت مجله پرلپسې ۲۱ مه ګڼه)

بسم الله الرحمن الرحيم

۸_۸_ ۱۴۲۰ هـ ق

**د افغانستان د اسلامي امارت د مقام اعلاميه**

خرنگه چې په اوسنيو وختونو کې د امريکايانو په غوښتنه او د ملگرو ملتونو په توسط د اسلامي هيوادونو ځورونه ډيره شوي ده چې په دې لړ کې د کلنټن (دامريکا ولسمشر)او نورو اسلام دښمنه عناصرو په فرمايش ملگري ملتونه د افغانستان په مظلوم او کړيدلي ولس باندي ځيني اقتصادي بنديزونه ولگول او په همدي کار سره يي د ټول اسلامي امت احساسات او غصه را وپارول او هره ورځ په زرگونو مسلمانان پـه مختلفو ځايونو کې مظاهري کوي او د مظاهرو لړۍ په شدت سره روانه ده، داچې موږ الله پيدا کړي يو د رزق وعده يي هم را سره کړي ده نو کلنټن او د هغه ملگري خو موږ ته روزي نه را کولای شي او نه هم د الله له خوا را ټاکل شوی رزق را باندي بندولای شي او نه هم هغوی دومره بشر دوست او زړه سواندي دي چې د افغانستان په ځوريدلو او کړيدلو خلکو باندي د مظاهرو په وجه رحم وکړي.

زما هيله له تاسو ټولو نه دا ده چې نوري مظاهري مه کوئ، د صبر او زغم څخه کار واخلئ او په خپل ټينگ او اسلامي عزم او صبر سره د الله رضا حاصله کړئ او د لوی خدای څخه و دغه ظالمانو ته د يوي عبرتناکي سزا او انتقام غوښتنه وکړئ.

و السلام

**نظامي مسؤلينو ته د عاليقدر امير المؤمنين پيغام**

کابل د ذي القعدي ۳۰ـ ۱۴۱۸ هـ ق

د جهاد د لومړيو کرښو مجاهدينو طالبانو او مسؤلينو!

السلام عليکم ورحمة الله و برکاته

تاسي چې د جهاد په لومړيو کرښو کې خپله مهمه اسلامي دنده تر سره کوئ بايد اسلامي اصول په پام کې ولرئ، هغه کسان چې د جګړي په ډګر کې اسيران او يا ټپيان کيږي له هغوی سره په اسلامي اخلاقو او سلوک سره چال چلند وکړئ، هيڅوک نشي کولای چې يو جنګي اسير ووژني تر هغه وخته پوري چې د اسير له خوا ده ته د مرګ خطر متوجه نه وي، هر هغه څوک چې اسيران او ټپيان ووژني په اسلامي محکمه کې محاکمه کيږي، ځکه د دوی دغه عمل له اسلامي اخلاقو او موازينو نه ليري دی، هغه کسان چې په دغه شان عمل لاس پوري کوي د افغانستان د اسلامي امارت مخالف دي چې په موږ کې يي ځای نيولی دی، له جنګي اسيرانو سره نيک او سم چال چلند زموږ اسلامي وجيبه ده.

و من الله التوفيق

## نړیوالو خبرو اترو په هکله د افغانستا ن د اسلامي امارت روښانه دریځ

امیر المؤمنین دفتر کندهار............. ۹ـ۸ـ ۱۴۲۰ هـ ق

ځرنګه چې د افغانستان مسلمانو خلکو په هیواد کې د کمونیستي نظام او روسانو سره په جنګ کې بې ساري قرباني او بیا تر اوسه پورې د طالبانو د اسلامي تحریک په زرګونو قربانۍ او د اسلامي امارت قیام د دې لپاره دی چې په هیواد کې یو سوچه اسلامي نظام را مینځ ته شي او موږ هم د الله پاک او د افغانستان د ولس سره دا وعده کړې او کوو چې زموږ هره کړنه به د هیواد والو او نړیوالو سره د شریعت مطابق وي، نو په همدې خاطر زموږ سره چې د هر چا هره موضوع مطرح وي موږ ګورو که د اسلام د قوانینو سره کوم ټکر و نه لري موږ حاضر یو چې هره مسئله د هر چا سره په ډېره اسهله او آسانه طریقه خلاصه کړو او که چیرې د اسلام له قوانینو سره ټکر ولري تر هغه خبرې موږ نه شو تیریدلای که څه هم په ډېر غټ قیمت را تـه تمامیږي او که مجبور کړل شوو نو پر داسې کار باندې د هر چا له خوا د هر قسم مشکلاتو په مقابل کې که لږ وي او یا ډېر مقاومت او د هر چا مقابلې ته که زورور وي که کمزورې تیار یو ځکه چې د اسلام زیان موږ نه شو قبلولای او نـه د اسلام زیان د قبول وړ دی او دا زموږ اختیار هم نه دی بلکې یو خدایي مکلفیت دی، هر څوک دې زموږ سره په خپلو معاملاتو کې و دغه ټکي ته وګوري، که و نه ګوري څه کوچ نه شي تر لاسه کولای.

و السلام

## د امریکي د ولس په نامه د عالیقدر امیر المؤمنین پیغام

۲۱ ـ ۱۰ ـ ۱۹۹۹ میلادي

د افغانستان اسلامي امارت چې په هیواد کې د ظلم، وحشت او فساد له یوې ناوړه دورې وروسته د طالبانو د اسلامي تحریک د قربانیو په نتیجه کې را مینځ ته شوی دی، چې د افغانستان ملت یې ملاتړ او هرکلی کړی دی دا په دې خاطر چې د افغانستان اسلامي امارت په هیواد کې د افغانانو د خوښې حکومت جوړ کړی، امنیت یې را وستلی، ظلم او بربریت یې له مینځه وړی، د ښه او آرام ژوند لپاره یې زمینه برابره کړې ده، خو بیا هم د امریکي حکومت د دې پر ځای چې د افغانانو هغه ښېگنې چې په خپلو قربانیو سره یې د وخت شوروي اتحاد دړې وړې کړ او نړیوال یې د هغوی د گواښ څخه خلاص کړل په پام کې نیولي وای او د غم ځپلو افغانانو د ستونزو د حل په لار کې یې هلې ځلې کړي وای زموږ په ضد یې په یو او بل نامه ډول ډول تورونه ولگول او دښمني یې را سره پیل کړه، له دې ټولو سره سره موږ بیا هم د تفاهم لاره خپله کړې او تل مو خبرو ته چمتو والی ښودلی دی خو د امریکي حکومت د زور لار خپله کړې او افغانانو ته په سپک نظر گوري چې دا به د دوی په زیان وي ځکه روسانو هم داسې فکر کاوه خو انجام یې څه شو.

څرنگه چې موږ ستاسې واکدار حکومت ته د روان ۱۹۹۹ میلادي کال د سپتمبر په ۶ نیټه سپیني مانۍ ته یو لیک ور استولی دی او دا مو په کښې لیکلي وو چې پر واقعي ملامت باندې دې خدای جل جلاله زلزلې او طوفانونه نازل کړي له هغه را هیسې ـ دوه ځلې طوفانونه او یو وار زلزلې در باندې شوي دي، که یې نه منئ تاسې هغه خط ځیني طلب کړئ چې په کوم تاریخ لیکل شوی دی او په کومه نیټه زلزلې او طوفانونه در باندې راغلي دي، نو زه گمان کوم چې د امریکي حکومت په موږ ملامت دی، زموږ ملت یو ځلې روسانو ټوټې ټوټې کړ او اوس امریکا دښمني را سره کوي او بندیزونه را باندې لگوي، نو خلاصه دا ده که امریکا پر موږ باندې بندیزونه ولگوي گمان کوم چې

بیا به طوفانونه او زلزلي در باندي راځي ځکه د افغانستان ملت ډېر مظلوم دی او لوی خدای جل جلاله د مظلومانو مرسته کوي او د خدای تعالی سره مقابله د چا په توان کې نشته، نو تاسي د امریکا ولس په خپل حکومت فشار را وړئ چې له موږ سره دښمني و نه کړي او که تاسي په دې باب اقدام و نه کړئ نو بیا به حیرانېږئ چې څه پېښېږي او هیڅ به مو په وس هم نه وي پوره.

**د افغانستان لپاره د هجري قمري تاریخ د رسمي ګرځولو په اړه د عالیقدر امیر المؤمنین د مبارکې پیغام**

مسلمانو او مجاهدو هیواد والو !

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

دا چې د نبوي سنت سره سم قمري سنه د افغانستان رسمي سنه وټاکل شوه زه ټولو مسلمانو او متدینو هیوادوالو ته د زړه له کومي مبارکي وایم، لوی خدای جل جلاله دې د افغانستان اسلامي امارت ته لا توفیق ور نصیب کړي چې د نورو نبوي سنتونو په احیاء کې هم زیات موفق شي تر څو د زرګونو هغه قربانیو چې د طالبانو د اسلامي تحریک په دوران کې مو ورکړي او د سلګونو زرو هغو قربانیو چې د روسانو په وړاندې په مقدس جهاد کې مو ورکړې، نتیجه یې نوره هم مثبته را ووزي.

مسلمانو ورونو او خویندو!

پاک الله جل جلاله شپې ورځې او فصلونه د دې لپاره پیدا کړي چې موږ او تاسو د خپل رب بنده ګي پکښې وکړو او ټول کړه وړه مو خاص د الله جل جلاله لپاره وي او په هر څه کې مو نیت د الله جل جلاله رضا او د هغه د دین ساتل وي د ناکامي ستر علت د نیت خرابیدل دي، د اسلام د مقدس دین ساتل په کار دي نه د ځان ساتل، که څوک د دنیا او اخرت سرلوړي غواړي په هر څه کې دي نیت پاک ولري، خصوصا مجاهدین کرام باید ټول ژوند د خدای جل جلاله په دین برابر کړي او هر کار چې د امیر له لوري ور سپارل شوي وي په هغه نقشه یې سر ته ورسوي او یو د بل سره پوره محبت وساتي ځکه چې اسلام د مینې او محبت دین دی، محترم هیواد وال باید د کفري ممالکو او د هغوی د مزدورانو تر اغیزې لاندې را نشي، مسلمانانو ته په کار دی چې د کفارو تبلیغات ور سره بدرګه نه کړي.

د افغانستان اسلامي امارت تعلیم او تربیې ته پوره توجه لري او غواړي چې د اسلام د مقدس دین په رڼا کې تعلیم ته وده ورکړي ځکه په پخواني حکومتونو کې چې تعلیم

د اسلام د مقدس دین مطابق نه وو جوړ شوی د هغه نتیجه وه چې زموږ هیواد وال تر اوسه لا ځوریږي.

محترمو هیواد والو! د نوي کال د را رسیدو له امله لوی خدای جل جلاله ته زاری او دعاوي وکړئ چې زموږ په هیواد کښې په بشپړه توګه اسلامي نظام حاکم کړي او ټول هیواد وال باید د اسلامي امارت د مجاهدینو لا ننګه او ملاتړ وکړي او د پاکو او نازکو طالبانو د قربانیو شکر ګذار شي، تر څو لوی خدای جل جلاله ته مسؤل نه شي، صبر او حوصله چې د مسلمانانو ابدي توښه ده باید په ټولو چارو کې صابر و اوسو، د ا د خدای جل جلاله هغه امر دی چې که چیري عملي شي ناکامي نشته، ځکه خدای جل جلاله وعده کړي چې تاسو غم او سستي مه کوئ تاسو به کامیابه یاست، که چیري پوره ایمان ولرئ.

په اخیر کې ټولو مسلمانانو ته اخروي خوشحالي غواړم، تر بله همدغه شرعي کال پوري مو په ټولو شرعي کارونو کې خدای جل جلاله کامیابه لره.

ستاسي د اسلامي ژوند په هیله

ستاسي عقیدوي ورور ملا محمد عمر مجاهد

**د طالبانو د لوی سالار محترم ملا محمد عمر مجاهد پیغام**

**محترمو علمای کرامو، جهادي قومندانانو، سپینږیرو، قومي مشـرانو، روشـنفکرانو او طالبانو ورونو!**

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

داچې د افغانستان په تیر اوولس کلن دور کښې هر څه وشول ټولي نړۍ ته او خلکو ته معلوم دي، د تبصرې کولو ضرورت یې نشته، خو په اوسنیو حالاتو کښې زموږ عـرض او پیشنهاد دا دی چې د الله جل جلاله پـه خـاطر او همـدې مظلـوم ملـت د تقاضـا پـه منظور باید ټول مسلمانان خاص هغه کسان چې د دین او اسـلام څخـه پوهـه ولـري او خپل کورونه، ورونه، پلرونه او میندې یې د الله تعالی د قرباني میدان ته وړاندې کـړي، له دین (اسلام) څخه په دفاع کولو کښې یې هر قسم سر ښندنه کړې، په طول د جهـاد کښې نه تنها د روس سره ښامار ته ماته ور کړه بلکې د نړۍ د استعمار سـور لـوی خـط یې چې د وارسا په تړون باندې یادیږي دړې وړې کـړ، د اروپا لویه وچه یې د ټـانگونو او پوځې تمریناتو څخه چې د اسلام سره د مقابلې په خاطر تربیه کیدل خلاصه کـړه او د الله اکبر کفر ځپونکې نعره یې د مسکو او د ده د انډیوالانو په هـر کـور کښـې پورتـه کړه، تاسې به اوریدلې وي د افغانسـتان اسـلامي جهـاد د مسـکو اوسـیدونکو تـه داسې درس ورکړ چې نور به په هیڅ وخت کې ان شاء الله تعالی د کمونیزم نعره پورته نکړي، تاسو اورئ چې نـن کمـونیزم پـه دنیـا کـې یـو پیغـور گرځیـدلی، د کمـونیزم د فلسـفي مؤسسین په ټوله نړۍ کې وټکول شول او قوتونه یې تجزیه شول، دا ټـول د اللـه تعـالی نصرتونه او کومکونه وو چې وشول. خو متاسفانه چې د کمونیزم د بقایاوو د فعالیت پـه نتیجه کښې بیا هم زموږ مسلمان قهرمـان ملـت پـه جنگونـو بانـدې اختـه شـوی، داسې حالات راغلل چې خلکو به جهاد او مجاهدینو ته بـد ویـلې، خـدای نخواسـته خلـک ناپوهانه د غټې گناه مرتکب شول ځکه د جهـاد او مجاهـدې عظمـت پـه قـرآن کـریم کښې ثابت دی په همدې خاطر موږ یو تعداد طالبانو د علمای کرامو څخـه پـه مشـوره اخستلو د اسلامي حکومت د را وستلو، د مسلمانانو د امنیت ساتلو او د همدې وطـن د استقلال په منظور قیام وکړ، تـاسې تـه معلومـه ده او مـوږ ښـه پیژنـئ چې مـوږ ستاسـو

مخلص همسنگره ورونه وو، په جهاد کې مو قرباني ورکړي وه خو بیا هم په موږ پسي څومره تبلیغات وشول، موږ ټولو خلکو خاص قومندانانو ته زیات دعوت ورکول او زارۍ به مو ورته کولې چې د الله تعالی په خاطر د بدو افعالو، بې ځایه محصولونو څخه لاس واخلئ او دغه مظلوم ملت له خانه جنگي څخه خلاص کړئ، خو له دې سره سره به هم کفري تبلیغاتو موږ یوه جنگجویه ډله معرفي کولو، خلاصه عرض مو دا دی الله تعالی په موږ علم لري، الله تعالی را باندې شاهد دی په ورځ د قیامت چې الله تعالی قاضي وي او (یوم یفر المرء من اخیه و امه و ابیه و صاحبته و بنیه) ورځ تحقق ومومي موږ به همدغه څه چې و مو کړل او تاسو ولیدل وړاندې کوو، له تاسو څخه مو هیله او خواهش دا دی چې د حق ملاتړ وکړئ، خپل ځانونه قرباني او ایثار ته اماده کړئ او د هر قسم تبعیض په مقابل کښې قیام وکړئ، هر هغه څوک چې د اسلام او مسلمانانو په گټه کار کوي هغه زموږ ورور دی، له موږ سره د یوې خاصې طبقې د لوړولو فکر نشته او نه د یوې خاصې طبقې د حکومت کولو په خاطر جنگیدلي یو، خو ارزو مو دا وه او دا ده او هم به وي چې د اسلام په تاریخ کښې انبیاء علیهم السلام اولین قرباني ورکړي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په عصر کښې طالبان چې په هغه وخت کښې د اصحاب صفه په نوم یادیدل غټه قرباني ورکړي، موږ هم په همدې تکل کړې دی چې هوسا او آرام ژوند دې آینده خلک وکړي موږ که ټوکر ټوکر شو هیڅ باک نه لري، تاسي ته معلومه ده او الحمد لله په ډیر جرآت سره باید ووایو چې موږ د هیڅ طاغوت سره سازش نه دی کړی او نه یې کوو، یوه مکمله بودیجه او سرمایه نه لرو، موږ لازمه وگڼله چې داسې صابرین کسان له موږ سره ملگري شي چې مادي تقاضا و نه لري په همدې حصه کښې هر څوک چې مسلمان، متدین، صالح انسان وي موږ ته منظور دي او خاص دغه ورونه چې په څوارلس کاله جهاد کې یې خپل کور د روسانو د ټانگونو هدف گرځیدلی و، په تیرو دریو کلونو کې یې هم له ملت سره هیڅ قسم خیانت نه وي کړی، په اخیر کې بیا وایو چې موږ اول هم د علماؤ په شرعي فتوی باندې کار شروع کړی و اوس به هم خپلو کارونو ته په هم هغې فتوا دوام ور کوو او د دې آیت ( وشاورهم في الامر فاذا عزمت فتوكل على الله ) د عملي کولو په خاطر هر څوک چې د مشورې قابل وي او ور څخه مشورې اخستلو ته

ضرورت پیدا شي موږ ته سالمه اسلامي مشوره راکړي موږ به یې خپله تګ لار
ګرځوو.

په ټوله نړۍ کښي د کفري طاغوتي قوتونو د سر نګوني او د اسلام د عالي کولو پ
هیله

و من الله التوفیق

**د ملا محمد عمر مجاهد توصیه**

محترمو مجاهدينو !

السلام عليکم ورحمة الله و برکاته

۱ ـ ځرنګه چې يو کار شروع کوئ تر هر څه مخکې بايد نيتونه اصلاح کړئ، نيت خاص الله جل جلاله وګرځوئ، ځکه اصل د اعمالو نيت دی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي ( انما الاعمال بالنيات )

۲ ـ په دوهم قدم کې د شرعي آمر په شرعي امورو کې خاص په اوسني وخت کې د خپل امير اطاعت وکړئ، د صحابه کرامو رضي الله عنهم تاريخ ثابته کړي چې په اطاعت سره د الله تعالی نصرت او کومک کيږي، صفونه محکم کيږي، زموږ له خوا ځخه چې کوم اميران در ته تعين شوي خاص اطاعت يي وکړئ، حتی تر ډلګيو پوري، د هري ډلګی افراد بايد د خپل ډلګی مشر اطاعت وکړي ځکه الله فرمايي: ( و اطيعوا الله و اطيعوا الرسول و اولي الامر منکم ) د اختلاف د بدی په حصه کې الله تعالی فرمايي: ( و لا تنازعوا فتفشلوا و تذهب ريحکم )

۳ ـ هوش وکړئ، متوجه شئ چې د بيت المال په مال کې هيڅ خيانت و نکړئ، کوم ځای چې د بيت المال د مالونو د تجمع لپاره تعين شوي وي د بيت المال ټول مالونه هلته ورسوئ، موټر، سلاح هر څه چې وي، ځکه الله تعالی فرمايي ( و من يغلل يأت بما غل يوم القيمة ).

۴ ـ په خپل ما بين کې ښه سلوک په ښو اخلاقو سره ګذاره وکړئ ځکه د مسلمانانو دا لوی صفت دی چې په خپل مابين کې به ترحم سره کوي، الله تعالی فرمايي: ( رحماء بينهم ).

۵ ـ د جنګ حالات اضطراري دي مايوسي به نه کوئ، صبر، حوصله به کوئ، د جنګ حالات اضطراري دي خدای نکرده په اکمالاتو کې ضعف راشي خو تاسو مايوسه کيږئ مه، ځکه خدای تعالی فرمايي : ( و لا تهنوا و لا تحزنوا و انتم الاعلون ان کنتم

مؤمنين ) په بل ځای کې فرمايي : ( و لا تهنوا في ابتغاء القوم ان تكونـوا تـألمون فـانهم يالمون كما تألمون و ترجون من الله ما لا يرجون ).

٦ ـ كه كامياب شوئ غرور، تكبر و نكړئ ځكه الله تعالى فرمايي( و ما رميت اذ رميـت و لكن الله رمى ) د خپلي فتحي تفويض به الله ته كوئ.

٧ ـ د خلكو د شخصي مالونو مراقبت وكړئ، كوشش و كړئ د خلكو شخصـي مالونـه محترم و گنئ، هيڅ غير شـرعي تصرف په شخصي مالونو كې و نه كړئ.

دغه ( اوه /٧ ) مادې مو د دې لپاره ولـيكلي چـې قـول او عمـل مـو سره موافـق شي او څرنگه چې ټولو خلكو ته موږ د شـريعت د عملي كولو وايو دغه قول به هـم پـه عمـل كې تمثيل او عملي شي، څه چې مو در ته وليكل دا زموږ ويـل نـه، بلكـي د اللـه جـل جلاله او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم فرمـوده ده، دغـه زمـوږ ليكـل كـه عملـي كړئ د دې آيت شـريف مصداق به تاسو ياسـت: ( و اطيعـوا اللـه و اطيعـوا الرسـول و اولي الامر منكم ).

د اسلام خادم

ملا محمد عمر اخند

## د سرې میاشتې د ځانګړې اونۍ په مناسبت د محترم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد پیغام

میزان ۱۹ ـ ۱۳۷۵ هـ ش

الحمد لله رب العلمین و العاقبة للمتقین و الصلوة و السلام علی خیر خلق الله محمد رسول الله حبیبنا و حبیب رب العالمین و علی آله و اصحابه اجمعین

اما بعد: فاعوذ با لله من الشیطن الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم (و احسن کما احسن الله الیک) صدق الله العظیم.

مؤمنو هیواد والو !

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

زیرې درکوم چې د سولې او سوکالۍ لمر به د لوی الله جل جلاله په فضل او نصرت د هیواد ټولې تیارې سیمې هم روښانه کړي، نور به په هیـواد کـې د ژبې، سیمې او نـورو تعصباتو په نوم بې وزله هیواد وال نه ځورول کیږي، نور به وران او ویجاړ شـوی هیـواد په یو او بل نوم په کنډرونو او کنډوالو نه بدلیږي، نور بـه زمـوږ مـؤمن ملـت د پښـتون، تاجک، ازبک و هزاره، پشه اي، نورستاني او..... په نومونو زندانونو او د ربړولو ځایونو ته په یو او بل راز تورونو نه بیول کیږي.

مؤمنو افغانانو!

له دې وروسته افغانان ټول افغانان دي او په هیواد کې له یو شانته برابـرو حقوقـو څخـه برخمن دي، یو افغان پر بل افغان هیڅ راز لوړوالی او برتري نه لري مګـر د اللـه جـل و علا شانه د حکم مطابق لوړوالی او برتري د تقوا او پاکوالي په اساس ده.

ربړیدلو ورونو! تاسو ته معلومه ده چې هیواد ویجاړ، ملت بیمار او ولس ډېر ځوریدلی او زړونه ټپي ټپي دي، اوس پر موږ او تاسو ټولو فرض دي چې د دې رنځور ملـت پـه ټپونو باندې د زړه سواندۍ مرهم پټۍ کیږدو.

سره میاشت په هیواد کې یواځنۍ ملي خیریه ټولنه ده او شپه ورځ په هـر راز حـالاتو او شـرائطو کې یې له خپلې وسې سره سم د بې وزلو او ربړیدلو د لاس نیوني لپاره خپلې هلې ځلې نه دي سپمولي او د کونډو، رنډو او یتیمانو اوښکې یې هر وخت پاکې کړې دي، اوس چې د سرې میاشتې ځانګړې اونۍ ده، سره میاشت پـه هیـواد کـې ځـانګړې عائداتي سر چینې نه لري، د دغې خیریه ټولنې اقتصادي بنسټ د مؤمنو بشـر پالو هیواد والو په مرستو سره پیاوړۍ کیدا ی شي.

زه د مسلمانو هیواد والو په نماینده ګې د سرې میاشتې د حقوقـو د حـامي پـه توګـه لـه ټولو هیواد والو څخه غواړم چې په هر وخت او هر ځای کې له سرې میاشتې او د ددې ټولنې کار کوونکو سره خپلې مرستې و نه سپموي، سره میاشت او کار کوونکې یې زما او د اسلامي دولت له حمایت او ځانګړې پاملرنې څخه برخمن دي او پـه ډاډ سره دې خپل کارونه وکړي، په دې ځانګړې اونۍ کې ټولو هیـواد والـو تـه بلنـه ورکـوم چـې د سرې میاشتې عالي خیریه ټولنه په خپلو مادي او معنوي مرستو پیاوړې کړي، الله جل و علا شانه فرمایلي : نیکي وکړه لکه څرنګه چې الله جل جلاله له تا سره نیکي کـړې ده دا فرمان ومنئ او په نیکو او خیریه کارونو او چارو کې هلې ځلې وکړئ.

و السلام

امیر المؤمنین

ملا محمد عمر مجاهد

**د خپلواکۍ د یواتیایمې کلیزې په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین پیغام**

نحمده و نصلي على رسوله الكريم امام الاحرار والمجاهدين محمد و على آله و اصحابه المجاهدين، الفاتحين، الغانمين. امابعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم. قال الله تبارک و تعالی فی کتابه الکریم: وقاتلوا المشركين كافة كما يقاتلونكم كافة واعلموا أن الله مع المتقين. التوبة ۳٦

و عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: والذي نفسي بيده لولا أن رجالا من المسلمين لا تطيب أنفسهم أن يتخلفوا عني، ولا أجد ما أحملهم عليه ما تخلفت عن سرية تغزو في سبيل الله والذي نفسي بيده، لوددت أن أقتل في سبيل الله، ثم أحيا، ثم أقتل، ثم أحيا، ثم أقتل، ثم أحيا، ثم أقتل. متفق عليه.

درنو هیوادوالو او زړور مجاهد ولسه!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

نن ورځ چې د زمري د میاشتې له اته ویشتمې نیټې سره سمون خوري، زموږ غونډې او ټولیدنه له نن څخه یو اتیا کاله مخکې د اسلامي جهاد او سربښندنې په برکت زموږ د ویاړلي او مؤمن ولس د سترې فتحې، حریت او استقلال یاد تازه کوي.

کله چې په همدغه ورځ د دې سرلوړي او آزاد هیواد مسلمان او پر دین مین ولس د اسلام د مقدس دین د ارزښتونو په رڼا کې، د تودو ولولو په لرلو سره د هغه وخت د ستر او جابر استعمارګر قوت په مقابل کې جهاد تر بریا ورساوه. که څه هم د دوی لاسونه خالي، امکانات ضعیف او نظامي وسائل بیخي کم وو خو ایمان یې قوي و. دوی د دوو میاشتو په دننه کې د الله تعالی په فضل او نصرت سره وکولای شول چې په هغه وخت کې چې په اصطلاح د نړۍ ستر طاقت چې د نړیوال جنګ د فتحې غرور یې لا هم په ماغزو کې و له سختې ماتې سره مخامخ کړي او د خپل اسلامي او ازاد هیواد استقلال او حریت ترلاسه کړي.

د افغانستان په استقلال او جهاد کې د هیواد ټول اقشار، ټول قومونه، نر او ښځې، واړه او زاړه شریک او په ګډه یې د خدای جل جلاله په نصرت د خپل اسلامي او ملي

یووالي په برکت انگلیسانو ته سخته ماتې ورکړه. څرنگه چې موږ هم د هغو مجاهدو او
قهرمانو نیکه گانو اولادونه یو او د خپل هیواد د اسلامي او ملي حاکمیت ساتنه موږ ته
په میراث پاتې شوې ده نو په دې اساس زموږ اوسنی ولس او د نړۍ خلک زموږ پر
پاکه او اسلامي خاوره باندې د یوه بل جابر او خونخواره استعمارگر روس او فقید
شوروي د بي رحمانه یرغل شاهدان دي. څرنگه چې د افغانستان مسلمان او پر دین او
استقلال مین ولس ته اسلامي جهاد او حریت له خپلو نیکه گانو څخه په میراث پاتې
دی، نو په دې اساس نړیوالو ولیدل چې څرنگه سرلوڅو او پښې لوڅو افغانانو بې له
دې چې د مادي وسائلو او نظامي تجهیزاتو نشتوالی یې په عزم او اراده کې بدلون
راولي، یوازې د لوی خدای جل جلاله په توکل او خپل غیرت او میړانه د خپلو نیکه
گانو په اسلامي تاریخ باندې اتکاء وکړه او په تشو لاسونو یې د وخت د سترنظامي
قوت چې ټوله نړۍ د امریکا په شمول ورڅخه په ډار کې وه په مقابل کې د جهاد
اعلان وکړ او د علماء کرامو له فتوی سره سم ټول هیواد د سره استعمار لپاره سور اور
وگرځېد.

سره له دې چې روسانو د نړۍ پرمختللې وسلې، ذروي قوت، لیري واټن ویشتونکي
توغندي او زهر جن کیمیاوي بمونه د افغانستان پر مجاهد ولس او ازاده خاور
استعمال کړل، خو د ایمان او ټینگ عزم په مقابل کې یې څه ونشوای کړای او ن
یوازې دا چې په افغانستان کې یې نظامي ماتې وخوړه بلکې د نړۍ په نقشه کې د هغ
شوروي اتحاد ټغر چې د ټولې نړۍ د هضمولو اراده یې کړې وه ټول او امپراتوري یې
ړنگه شوه. موږ بې له تردده ویلای شو چې دا د افغانانو اسلامي او ملي سوک و چې
نړۍ دغه تر ټولو لوی مستکبر یې راوپرځاوه ( ذالک فضل الله یؤتیه من یشاء )

د افغانستان مجاهد ولس چې غوښتل یې د شورویانو او د هغوی د گوډاگیانو له ل
منځه وړلو وروسته یو منظم او مستحکم اسلامي او ملي حاکمیت رامنځته شي،
شهیدانو ارمانونه پوره، د کونډو او یتیمانو هیلې او ارزوگانې پرځای شي. خو متأسفان
بیا هم د پردیو د لاسوهنې په نتیجه کې زموږ ارمانونه او هیلې پر ځای نه شوې او زمو
غریب هیواد یو ځل بیا د خپل منځي ناروا او د قدرت پر سر د جگړې شاهد و. پ

زرهاوو بې گناه انسانان قتل، چور او چپاو، پاټکونه، قطاع الطریقي، قومي، نژادي او سمتي نفرتونه ورځ په ورځ زیاتیدل. په سلهاوو زره میله ډول ډول خطرناکې وسلې په هیواد کې خپرې شوې وې او په یوه هیواد کې په سلهاوو خپلسري حکومتونه رامنځته شوي وو او زمونږ د هیواد تاریخي دښمنانو دا ګډوډي د افغانستان د تجزیې د شوم پلان د عملي کولو لپاره ښه زمینه بلله.

د هیواد دې غمجن او له درده ډک وضعیت کې د هیواد اصیلو بچیانو طالبانو د علماء کرامو په فتوی او د مجاهد او زړور ملت په ټینګ ملاتړ خپل کتابونه کت کړل، مدرسې او حجرې یې وتړلې او په ډیرو قربانیو او د ډیرو تنکیو ځوانانو، د قران کریم د حافظانو، د حدیثو، تفسیر او فقهې د علماء کرامو په سر ورکولو سره یې د هیواد تقریبا پنځه نوي فیصده خاوره د شر، فساد، ظلم، بي عدالتي، ډول ډول وسلو او د پردیو له غلامانو خلاصه او ازاده کړه.

طالبانو په هیواد کې هغه څه چې په نړیواله سطحه یې کیدل ناشوني بلل کیدل ترسره کړل، د هغو له جملې څخه په افغانستان کې د ټولو خودسرو پاچاهیو له منځه وړل، یو قوي مرکزي اسلامي حکومت رامنځته کول، د افغانستان له بیلابیلو سیمو څخه په لکونو میله درنه او سپکه خپره شوې وسله راټولول او بالاخره د افغانستان لپاره د تجزیې د خطرناکې دسیسې شنډول شامل دي.

د افغانستان اسلامي امارت چې د هیواد ټولو پرګنو او د ملت له پوره ملاتړ څخه برخمن دی د یوه آزاد، اسلامي او مستقل افغانستان لپاره و هرې قربانۍ ته تیار دی. اسلامي امارت د نړۍ له ټولو سوله غوښتونکو هیوادونو څخه غواړي چې په افغانستان کې موجوده واقعیتونه په نظر کې ولري او د هغو په بناء له اسلامي امارت سره خپلو اړیکو ته پام وکړي.

اسلامي امارت د اسلام او افغانستان د ټولو اسلامي او ملي اصولو په نظر کې نیولو سره د نړۍ له ټولو هیوادونو سره په متقابل احترام مبنی اړیکي غواړي. اسلامي امارت نور چاته اجازه نه ورکوي چې د مظلوم او غیور ملت، استقلال او ملي منافعو ته په بده سترګه وګوري. اسلامي امارت د اسلامي اصولو د ساتنې او د افغانستان د استقلال او

ملي حاکمیت د دفاع لپاره پر ټول اسلامي امت غږ کوي چې په دې برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي. په پای کې یو ځل بیا دا یادونه ضروري بولم چې افغانستان درې واره فرنګي استعمار او په آخر کې روسي استعمار ته چې د نړۍ د نیولو اراده یې لرله سختې ماتې ورکړې او ټوله نړۍ د افغانانو د دې احسان پوروړې ده.

د افغانستان مسلمان او میړني ولس اوس هم د خپل اسلامي او ملي استقلال د بقاء لپاره د هر هغه چا چې په افغانستان کې ناروا مداخله کوي بې له دې چې مادي وسائل او نورځه په نظر کې ولري، د خپلو پلرونو او نیکونو په شان یوازې د لوی خدای جل جلاله په توکل او د غیور ملت د سربښندنې په مټ ورته غاښ ماتوونکی ځواب وایي.

په پای کې د افغانستان د مخکني او اوسني استقلال د ټولو شهیدانو او غازیانو پاکو روحونو ته دعاء کوم او د هیواد د سالمیت، ترقۍ او سرلوړۍ هیله د رب العزت و دربار ته وړاندې کوم.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د اسلام خادم

امیرالمؤمنین

ملا محمد عمر مجاهد

۲۸/۵/۱۳۷۹ هـ ش

مأخذ( کندهار مجله، پرلپسې اتمه ګڼه ۷۱ مخ )

**د دار العلوم دیوبند د یونیم سل کلنو خدمتونو د یاد غونډې ګډون کوونکو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین پیغام**

الحمد لله رب العلمین و الصلوة والسلام علی قائد المجاهدین و علی آله و صحبه أجمعین.

محترمو علماکرامو، د دې پرتمينې غونډې ګډون کوونکو او د نړۍ ټولو مسلمانانو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د محمدي امت په دې حساسو او بوږنوونکو شرائطو کې د دا ډول لويو غونډو جوړول سره له دې چې ګټور او په زړه پورې ګام دی، مسلمانانو ته دا موقع ورکوي چې په خپلو ربړو او مشکلاتو سره خبرې وکړي. الله تعالی دې د جمعيت علماء اسلام منسوبينو ته د دغې سترې کارنامې اجرونه ورکړي.

فعلي شرائط ایجابوي چې د مسلمانانو په موجوده ستونزو باندې بايد داسې نړيوالې غونډې وشي. د دارالعلوم دیوبند خدمتونه له چا څخه پټ نه دي. د هند په نيمه وچه کې له ډيرو خنډونو او موانعو سره سره د دارالعلوم دیوبند په برکت ديني علوم او اسلامي اقدار تراوسه ژوندي پاته شوي دي او اسلامي نړۍ ته يې داسې د کار او لوړ همت شخصيتونه وړاندې کړي دي چې د هغو علمي، اصلاحي او دعوتي کارنامې د هيرولو نه دي.

د غونډې برخوالو مسلمانانو ورونو!

د کفري نړۍ تيرى او له مسلمانانو سره له کبره ډک چلند اوج ته رسيدلى دى او د نړۍ په هره برخه کې له مسلمانانو سره له تبعيضه ډک چلند کيږي. کفري نړۍ د ملګرو ملتونو تش په نامه نړيواله اداره د خپلو اهدافو لپاره استعمالوي، دغې ادارې که کله هم د مسلمانانو په ګټه کومه پريکړه کړې وي هغه په کلونو کلونو د کاغذ پر مخ پاته وي او نه عملي کيږي خو د دوی په ګټه مسائل په ډيره چټکه توګه عملي کيږي. د مسلمانانو نړيوال سياسي موقعيت تقريبا د تحت الحمايه ګۍ درجې ته رسيږي او د نورو تر سيوري لاندې ژوند کوي.

دا په داسې حال کې ده چې د مسلمانانو جغرافیوي موقعیت له اقتصادي نقطه نګاه نه ډېر په زړه پورې دی اود خامو موادو بې شمیره زیرمې لري خو له دې سره سره یې په ملل متحد کې دومره کمزوری حیثیت دی چې هیڅکله هم د دوی ستونزو ته نه شي درمل کېدلی.

د کفري نړۍ اهداف او مقاصد څرګند دي.هغوی اوس په نړۍ کې له اسلامي نظام پرته بل سیال نه ویني او له دې کبله خو دوی په افغانستان کې اسلامي امارت په هیڅ صورت نه شي زغملای او اسلامي امارت د هیواد د پنځه نوي په سلو کې خاورې له ولکې سره سره بیا هم د حکومت پر ځای د ډلګۍ په نامه یادوي.

د افغان مجاهد ولس په زور او همت سره شوروي اتحاد رانسکور شو. هغه شوروي اتحاد چې د امریکا او غربي نړۍ تر پولو پورې یې ځان نږدې کړی و. هغه شوروي اتحاد چې په ویتنام کې یې امریکا ته شرموونکې ماتې ورکړې وه. هغه شوروي اتحاد چې منځنۍ آسیا یې هضم کړې وه او هغه شوروي اتحاد چې تودو اوبو ته د رسیدو لپاره یو ګام څمکه ورته پاتې وه. په هغو شپو کې د نن په اصطلاح پیاوړې امریکا وجود په لړزېدو و، هلته یې د شکست په ترخو حلق تریخ و او زبون وهلی ناست و.

خو دې بې وسه ولس د خپل ځواکمن ایمان په برکت هغه کمونیزم په ګونډو کړ او شکست نه منونکی شوروي اتحاد یې د نړۍ له نقشې څخه محو کړ او هغه انسانخوره بلا همدې افغانانو نابوده کړه او ګردې نړۍ ته یې نجات ورکړ.

د اسلام او کمونیزم په دې جګړه کې زموږ هیواد وران شو او له ډېرو درنو ستونزو او ربړو وروسته دې مظلوم ولس په خپله خاوره کې د خپلې خوښې اسلامي نظام پلی کړ. خو دې بې انصافې او جفاکارې نړۍ زموږ ټولې کارنامې هیڅ وبللې او اوس غواړي چې له خپلې دغې یوازینۍ موخې څخه مو هم واړوي.

هغوی په دې جهادي ټاټوبي افغانستان کې اسلامي حکومت په هیڅ صورت نه شي زغملای. په افغانستان باندې د هغوی بې رحمانه بندیزونه او هغه هم د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې دا راښیي چې کفري نړۍ په ډېره سرتمبګۍ او تکبر سره د اسلامي امارت

مخالفت ته ملا تړلې ده. له اسلامي امارت سره د هغوی ټول مخالفتونه په هیڅ منطق نه دي بنا. د دلیل او منطق د نړۍ دعوه لرونکي د اصولو او پرنسیپ تش په خوله پلویان یوازې د زور په نیلي سپاره ده.

موږ له ټولې نړۍ سره د متقابلې همکارۍ او له اسلامي نړۍ سره د اخوت او وروروللی په فضا کې اړیکي ټینګول غواړو او هر چاته مو د سولې لاس اوږد کړی دی.

زموږ په هیواد کې د همدې نړیوالو استعمار ګرو په لاس د یو څه وخت لپاره د کورني جنګ او ورور وژنې اور په غرغړو شوی و، دلته هغه پیښې رامنځته شوې وې چې زموږ د هیواد څمکنۍ بشپړتیا یې په خطر کې اچولې وه. دلته ناروا او بې معنی جګړې روانې وې، خو همدې امریکا او غربي نړۍ چې نن یې په افغانستان کې د جنګ د ختمولو او د افغانانو د بشري حقوقو د ساتلو دروغجنه چیغه پورته کړې ده، مسلمانان ښه پوهیږي چې دا یوازې د خولې خبرې دي، دوی و چې د افغانستان په سخته بده ورځ باندې یې غوږونه کاڼه کړي وو.

اما نن چې موږ اسلام په واقعي او اصلي بڼه عملي کړی او اسلامي امارت مو رامنځته کړی، امنیت مو ټینګ کړی او وروروژنه مو له منځه وړې ده، د سولې د تامین لپاره مو زیاتې سپیڅلې وینې قربان کړي او په دې هیواد کې مو یو داسې حکومت قائم کړ چې ټول ولس پرې خوښ دی او زیاته مینه او خواخوږي ورسره لري، نو نړیوال یې کله د سخت دریځه اسلام او کله هم د طالبانو د تعبیر د اسلام په نامه د بدنامولو لپاره ډول ډول تبلیغات کوي.

موږ په ډاګه ویلای شو چې اسلامي امارت د افغانستان د خلکو د خوښې حکومت دی چې زموږ د دې ادعاء لپاره د مخدره موادو بندیز چې ټوله نړۍ یې مخنیوي ته حیرانه وه او شکایت یې کاوه ښه دلیل دی. سره له دې چې زموږ د هیواد ډیرو بزګرانو کوکنار کرل او په دې رنګ هیواد کې یې همدا د عائداتو لویه سرچینه وه خو چې کله اسلامي امارت د هغو په کرلو بندیز ولګاوه، ټولو په یوه خوله زموږ خبره راسره ومنله. نړیوالو د دې پر ځای چې زموږ دغه اقدام وستایي او په عوض کې یې له بزګرانو سره مرستې وکړي خپل زهرجن تبلیغات یې نور هم پسې زیات کړل.

په هیواد کې زموږ امرونه او احکام په ډیره تیزۍ سره منل کیږي او زموږ د نظام هرې خبرې ته زموږ ولس لبیک وایي او یو څه بې لارې او غرب پلوه افغانان که مخالفت کوي هغه یو یا دوه فیصده هم نه دي خو اوازه او پروپاگنده یې ځکه دومره لوړه او تیزه ده چې هغوی د همدې غربي نړۍ په غېږ کې ناست دي، غرب او امریکا خپله میډیا ورته وقف کړې ده.

موږ خپلو خلکو ته هغه نظام پلې کړی چې په هغه دوی ایمان لري. زموږ اساسي قانون قرآني اصول دي او دا اصول د مؤمنانو ایمانیات دي. اسلامي امارت د هیواد او سیمې د سولې لپاره ډیرې وینې تویې کړې دي او له نړۍ سره په اړیکو ټینګولو کې یې له هرې ممکنې لارې کار اخیستی دی. موږ په زغرده وایو چې اسلامي اصول هیڅکله هم تر پښو لاندې کولای او په قرآني پریکړو باندې له هیچا سره سازش نه شو کولای.

زموږ مظلوم ولس روسي یرغلګرو ډېر ځورولی دی. انسانخوره کمونیزم زموږ هیواد په کنډواله بدل کړی، زموږ هیواد ویجاړ او کنډر پروت دی. زموږ ولس شل کلنو جګړو زیات ځپلی دی. زموږ مظلوم هیوادوال له ډیرو اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي. موږ غواړو چې خدای جل جلاله دا جګړې ختمې کړي او د هیواد په بیا جوړولو لاس پورې کړو او خپلو مظلومو هیوادوالو ته دا رنګ کورګی بیرته ودان کړو.

موږ تر هر چا زیات سولې ته اړ یو ځکه نړیوال استعمارګر تروریزم موږ ته هیڅ نه دي راپرې ایښي. نړیوال کفري ځواکونه موږ د خپلو هیوادوالو خدمت ته نه پریږدي. موږ دې ته نه یو خلاص چې د خپلو یتیمانو اوښکې پاکې کړو. موږ دې ته نه پریښودل کیږو چې خپلو کونډو او بورو ته سرپناه جوړه کړو. موږ له اسلامي نظام، ازادۍ او حریت سره مینه لرو.د اسلامي حکومت او ازادۍ لپاره موږ د سرونو ورکولو ته تیار یو خو نړیوال کفر غواړي چې موږ له خپل دغه هدف څخه تیر شو. هغوی په خپلو دغو دښمنانه او بې رحمانه پلانونو سره غواړي چې زموږ له سرونو څخه د آزادۍ مفکوره وباسي نو ځکه ویلای شو چې په اصطلاح د وخت زبرځواکونه زموږ خلاف سره یو شوي دي او په ډول ډول بهانو سره یې پر موږ ناروا بندیزونه لګولي دي.

د تروريزم په تور او د بشرد حقوقو د نه مراعتولو په پوچو نعرو سورو سره يوازې موږ نه بلکې هر ځای مسلمانان کړوي او سپکوي. تر پرونه پورې دې تش په نامه لويو ځواکونو د نړۍ کمزوري او مستضعف ولسونه ځبېښل، د هغوی هيوادونه يې مستعمرې ګرځولې وې، پرون لا روسانو ډېر هيوادونه تر خيټه لاندې کړي وو. او اوس يې هم د منځنۍ آسيا هيوادونه تر واک لاندې دي. څه موده وړاندې لويې برتانيا په نړۍ کې خپل استعماري جال غوړولی و او د هند نيمه وچه يې تر ځبېښاک لاندې کړې وه. نن امريکا پر ټوله نړۍ د واک چلولو پلانونه جوړوي او موږ په خپلو هيوادونو کې د خپلې خوښې حکومتونو جوړولو ته نه پرېږدي او د نړۍ د ايل کولو په فکر کې يو ځای هم ولسونه په ارام نه پرېږدي او د مسلمانانو په نابودۍ پسې خو يې له يوې مخې را اخيستي ده. اسلامي نظام او جهاد له منځه وړل غواړي او د همدې هدف لپاره اوس هغوی ټول يو موټی شوي دي او تش په نامه د ملګرو ملتونو اداره د خپلو ګټو لپاره استعمالوي.

په ملګرو ملتونو کې غړيتوب اسلامي هيوادونو ته څه ګټه رسولې ده؟ د هغوی کومه ستونزه د ملګرو ملتو له لارې حل شوې ده؟

نو د مسلمان امت په دې ويرژلي حالت باندې يو څه کول په کار دي. په دې سختو حالاتو کې د مسلمانانو وحدت او يووالی ضروري دی او له دې بحران څخه د وتلو لپاره څه لارې چارې لټول په کار دي. د مسلمانانو لپاره دا ډول غونډې او اجتماعات ډېر ضروري دي څو په خپلو مسائلو، ستونزو او دردونو باندې سره وغږيږي.

نن چې د نړۍ پر مخ مسلمانان د يوه امت په حيث اوسي بايد خپل اسلامي تشخص وساتي او په دې پوه شي چې مسلمانان ولې آرام ژوند ته نه پرېښودل کيږي. مسلمانانو د هيچا په هيواد تيری نه دی کړی همدا نور حکومتونه دي چې په دوی تيری کوي. دا جګړې او شخړې چې رواني دي د مسلمانانو په هيوادونو کې دي او پردي هيوادونه راغلي دي دوی په ارام نه پرېږدي. زموږ په هيواد روسانو تيری وکړ، موږ په هغو پسې نه يو ورغلي هغوی په موږ پسې راغلل. همداراز امريکا هم زموږ خاوره په کروز توغنديو وويشته. د فلسطين مسلمانان همداراز په خپل هيواد کې کړول کيږي. يهوديان

د دوی سیمو ته ورغلي دي.په چیچنیا او کشمیر کې هم همدا حال دی او هم په ن
گرده اسلامي نړۍ کې همداسې چلند کیږي.

نو په داسې حالاتو کې تر هرڅه مخکې د مسلمانانو وحدت او یووالي ته اشد ضرو
دی خو له بده مرغه چې مسلمانان په خپلو منځونو کې سره لاس او گریوان دي. په
هیواد کې د جزئي اختلافاتو په وجه په لسگونو اسلامي گوندونه جوړ شوي وي
تقسیماتو او جلاوالي په موړ کې د امت د یووالي او د مسلمانانو د ستونزو د حل ک
فکر وژلی دی د یووالي لپاره د پخو گامونو پورته کول په کار دي.

په پای کې یو ځل بیا هیله کوم چې زموږ مسلمان، مظلوم، ستړی او محصور ولس
د نړیوالو بدمعاشانو له گواښونو سره مخامخ دی او د ایمان او اسلام په جرم ک
کیږي له خپله دعاگانو مه هیروئ.

په نړۍ کې د مسلمانانو د لازیات بریالیتوب په هیله

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ستاسې ورور

داسلام خادم

ملامحمد عمر مجاهد

(مأخذ کندهار مجله پرلپسې څوارلسمه گڼه)

****

## د ملاصاحب ځينې مرکې

**له عاليقدر اميرالمؤمنين سره د الامارة الاسلاميه (عربي) او خلافت ( پښتو ) مجلې مرکه**

پوښتنه

اسلامي امارت په افغانستان کې څه ډول نظام چلول غواړي؟

ځواب

موږ له هغه اول سر نه داسې کړنه غوره کړې، چې هغه سل په سلو کې په اسلامي شرعي نظام باندې ولاړه وي. او د ژوند په ټولو اړخونو کې د الله تعالى له لورې نازل شوي احکام حاکم وي او په راتلونکې کې به مو هم دا تګلاره وي چې مکمل اسلامي نظام حاکميت ولري او ټولې پريکړې مو د خالق رب په قانون سره وشي، ځکه اسلام د الله تعالى په نزد غوره دين دى او اسلام دى چې انسانانو ته د دنيا او اخرت د نيکمرغۍ لارې چارې ورښيي.

پوښتنه

د نړۍ له هيواونو سره څه ډول روابط غواړئ؟

ځواب

زموږ اړيکې به د نړۍ له هيوادونو سره په بشري معيار د متقابل احترام په بناء وي، خو له اسلامي نړۍ سره د اسلامي اخوت او ورورلۍ په بناء مناسبات غواړو او له ګاونډيو هيوادونو سره د نيکې همجوارۍ او د يوه بل په چارو کې د نه مداخلت غوښتونکي يو.

پوښتنه

ځيني هيوادونو دا خبره کوي چې په افغانستان کې دې د خلکو د خوښې حکومت
جوړ شي. نه دا چې په خلکو په زور حکومت وشي؟

ځواب

موږ په ډاګه ويلی شو چې اسلامي امارت د افغانستان د ملت د ارادو ممثل او د دوی په
خوښه جوړ شوی حکومت دی. همدا وجه ده چې موږ په ډېر لږ وخت کې د
افغانستان ۹۰٪ برخې ونيولې، تاريخ ثابته کړې ده چې پر افغانانو باندې کله هم چا په
زور سره حکومت نه دی کړی نو طالبان چې پر افغانستان حکومت کوي دنياوال دې
وپوهيږي چې د ملت رضايت موږ ته حاصل دی. که د خلکو رضايت حاصل نه وي
طالبان نه شي کولای چې حکومت پرې وکړي، نو په دې مورد کې د بهرنيو هيوادونو
مخالفتونو او اعتراضونه بې ځايه او نامناسب دي. اصلي خبره د ملت د عامو خلکو د
چې له موږ سره ملګري دي، نه د هغو څو قمار بايلونکو څخه چې په ساده فکر سر
ځانونه د ملت نماينده ګان بولي دا خبره حقيقت ده، که څوک سترګې پرې پټوي نو
ډېر سپک پرې معلوميږي.

پوښتنه

غربي هيوادونه د ځينو اسلامي هيوادونو په شمول دا خبره کوي چې اسلامي امارت
دې په خپل دريځ کې بدلون راولي او نرمي دې غوره کړي آيا د امکان لري؟

ځواب

څرنګه چې زموږ په هغو کارونو کې چې د اسماني دين دلائل موجود دي په هغ
کارونو کې زموږ د دريځ بدلون د امکان له صورت څخه وتلی ښکاري، نو همدا وج
ده چې يوازې او يوازې پر موږ باندې د امريکايانو فشار دی که د ملل متحد يا د کو
بل چا لخوا وي هغه هم د امريکا د فشار له کبله دی. نو په همدې خاطر د نړۍ
مسلمانانو څخه زموږ غوښتنه ده چې په ټينګه زموږ ننګه او ملاتړ وکړي. موږ هغ
خلک يو چې د الله تعالی په مرسته مو نړۍ له روسي ښکيلاک څخه خلاصه کړه نو ک

څوک مرسته او تعاون راسره کوي او که نه، زموږ توکل په يوه خالق او قادر لايزال رب جل جلاله باندې دی او بس.

پوښتنه

ملګري ملتونه او ځيني نور هيوادونه د پراخ بنسټه حکومت خبرې کوي په دې هکله ستاسې څه نظر دی؟

ځواب

که له پراخ بنسټه حکومت څخه مطلب دا وي چې د افغانستان د ټولو پرګنو برخه په کې وي نو دغه خو اسلامي امارت دی چې د هيواد د ټولو قومونو استازی، چې د تقوی په معيار غوره شوي دي په کې موجود دي. او که يې مطلب دا وي چې زاړه کمونيستان او د هيواد ورانوونکي او د بيت المال لوټوونکي هم په کې شريک شي نو داسې کله هم نشي کيدلای. ځکه موږ دری عمده اهداف په مخکې لرو چې عبارت دي.د اسلامي شرعي نظام د ټينګولو. د تجزيې څخه د هيواد ژغورلو او په ټول هيواد کې د مکمل امنيت راوستلو څخه. چې البته دغه اهداف د واحدې قومندې په صورت کې ترلاسه کيدلای شي. که هغو خلکو ته چې کمونيستان او يا هم د هيواد ورانوونکي او د بيت المال لوټوونکي دي په حکومت کې برخه ورکول شي نو بيا د پورتنيو اهدافو تحقق غير ممکن بريښي.

پوښتنه

د چيچنيا د په رسميت پيژندلو علت څه و؟ او ځيني خلک دا وايي چې اسلامي امارت په خپل دغه کار پښيمانه دی. په دې هکله څه واياست او اسلامي امارت له چيچنيا سره څه ډول مرستې کوي؟ که په دې هکله معلومات راکړئ؟

ځواب

د چيچنيا په رسميت پيژندل زموږ شرعي مسؤليت و. چيچنيا له پخوا څخه يو مستقل هيواد و چې روسانو هم د خپل يوه تړون په ترڅ کې د هغوی په خپلواکۍ اعتراف

کړې دی. په دې کار موږ پښیمانه ځکه نه یو چې دا کار مو د شرعي مسؤلیت پـه
کړی او مسلمان ته د شـرعي حکم په اداء کولو ندامت نه دی په کـار. مـوږ لـه چې
سره یوازې سیاسي او اخلاقي ملاتړ کوو. په اوسنیو شـرایطو کې زموږ نور څه پـه
کې نشته. ځکه افغانستان په خپله له داخلي او خارجي ستونزو سره مخامخ دی.

پوښتنه

نړیوال او او ملګري ملتونه وایي چې د اسلامي امارت په ساحه کې کوکنار کرل ک
او د مخدره موادو تولید کیږي که مهرباني وکړئ دغه موضوع یوڅه روښانه کړئ

ځواب

د افغانستان اسلامي امارت د مخدره موادو له تولیـد، اسـتعمال او قاچـاق سره مخا
لري او په دې لار کې یې وخت په وخت مثبت ګامونه پورته کړي دي د مثال په
د بنګو او چرسو د مخنیوي په هکله فرمانونه، د هیواد په سرحدي سیمو کې د هیر
د تولید د فابریکو له منځه وړل او په تیر کال کې د کوکنارو د فصل دریمه برخه
او بالاخره ۲۴/۴/۱۴۲۱ هجري قمري نیټه د ۱۹ګڼه فرمان په اساس په ټول هیواد ک
کوکنارو د فصل د بیخي نه کرلـو پـه هکلـه اقـدامات د یـادونې وړ دي. مـوږ پخ
نړیوالو مرستندویه ټولنو او ملګرو ملتونو ته ویلي وو چـې کـه د هیـواد لـه بزګرانـ
مرسته وشي نو د کوکنارو فصل به ختم کړو خو هغوی په دې هکلـه هـیڅ ډول مر
ونه کړې او بالاخره موږ په دې هکله په خپله تصمیم ونیـو چـې لـه دې وروسته
افغانستان کې نور د کوکنارو فصل نه کرل کیږي.

پوښتنه

د ښځو د حقوقو او تعلیم مسئله هم یو له هغو مسئلو څخه ده چې نړیـوال یـې اس
امارت په نه مراعتولو متهموي. په دې هکله ستاسو څه نظر دی؟

ځواب

د افغانستان اسلامي امارت ښځو ته د خپلو اسلامي حقونو په ورکولو کې ګټور ګامونه اخیستي دي چې هیڅوک سترګې نه شي پرې پټولی چې له هغه جملې څخه یو هم ۱۸/۵/۱۴۱۹ هـ ق نیټې د (۱۰۴) ګڼه فرمان دی چې ښځو ته د میراث او خپلې خوښې ازدواج حق ورکول شوی دی چې د افغانستان په تاریخ کې ساری نه لري. همدا راز موږ د ښځو له تعلیم سره مخالفت نلرو په دې شرط چې له شرعي اصولو سره برابر وي او د شرعي حجاب مراعات په کې شوی وي.

پوښتنه

ملګري ملتونه په دې ټینګار کوي چې که اسلامي امارت اسامه بن لادن محکمې ته ونه سپاري نور بندیزونه به پرې ولګوي. ددې ګواښونو په اړه مو نظر څه دی؟

ځواب

د ملګرو ملتونو او یا کوم بل چا ګواښونه به په اسلامي امارت باندې هیڅکله دا ونه مني چې اسامه بن لادن له افغانستان څخه وباسي او یا د خپلو اسلامي پالیسیو څخه تیر شي ځکه موږ په دې باور یو چې اسامه بن لادن یو مسلمان دی چې افغانستان ته یې هجرت کړی دی او د افغانانو میلمه دی. د هغه پر سر معامله کول به د اسلامي اصولو او افغاني عنعناتو خلاف کار وي. حقیقت دادی که چیرې اسلامي امارت او د افغانستان مسلمان ولس د اسامه بن لادن په هکله خپل اوسني دریځ ته تغیر ورکړي نو هرومرو به تاوانیان شي او له سختو کړاوونو سره به مخامخ شي. اسامه بن لادن ته امر شوی دی چې د افغانستان له خاورې څخه د چا پر خلاف سیاسي فعالیت ونه کړي. او نه د افغانستان د خاورې څخه د چا پر ضد ګټه واخلي او هغوی هم له موږ سره وعده کړې او ډاډ یې راکړی دی چې هغه به کله هم داسې خبرې او عمل ونه کړي چې د هغو له امله له نورو نړۍ سره د افغانستان اړیکي خرابې شي. هغوی همدا اوس هم له افغانستان څخه کوم فعالیت نه کوي دا هسې یوه پلمه ده چې امریکا او ملګري ملتونو

**يې د افغانستان د اسلامي امارت په خلاف په کار اچوي. دوی په دې اړه تراوسه**
**شواهد نه دي وړاندې کړي.**

**پوښتنه**

**ځينې حلقې داسې تبليغ کوي چې ګواکې پرويز مشرف ته تاسو ويلي چې هغه**
**اسامه بن لادن پر موضوع افغانستان ته د خبرو کولو لپاره نه راځي.**

**ځواب**

دا خبرې بې اساسه دي موږ کله هم هغه ته نه دي ويلي چې هغه دې د خبرو
لپاره افغانستان ته نه راځي. هغوی تل دا ويلي چې د اسامه موضوع بايد د اس
امارت او امريکا د مستقيمو خبرو د لارې حل شي. پاکستان نه موږ ته د اسامه د س
خبره کوي او نه يې هم بايد وکړي. ځکه دا موضوع د افغانستان د اسلامي امار
امريکا موضوع ده.

پوښتنه

که ملګري ملتونه نور بنديزونه لکه ګواښونه چې کوي، ولګوي اثر به يې څه وي؟
ځواب

افغانانو د روسانو د مداخلې په وخت کې ډېر څه د لاسه ورکړل او هيواد يې ويج
لويې لارې خرابې او د زارعت سيستم يې له منځه تللی. له بلې خوا په هيواد ک
وچکالي له امله هم ډېر هيوادوال د ستونزو سره مخامخ دي. نو په داسې حال کې ب
له افغانانو سره بشري مرستې وشي نه دا چې بنديزونه پرې ولګوي. نو زه فکر نه ک
چې ملګري ملتونه به د افغانستان پر خلاف نور بنديزونه ولګوي او ستونزې به
نورې هم ورزياتې کړي. په داسې حال کې چې د بنديزونو لګولو لپاره کوم مجوز
نشته. خو په هر حال موږ له دې ستونزو څخه شکايت هم نه کوو. ځکه چې دا هر
د الله تعالی له طرفه يو امتحان دی او الله تعالی به دا ستونزې يو وخت په خپل رحم
سره پای ته ورسوي.

پوښتنه

د افغانستان د مسئلې د حل په اړه مو څه نظر دی؟

ځواب

موږ هم مطمئن یو چې د افغانستان اسلامي امارت مخالفین به ماتې خوري. زه پیشگویي نه شم کولای خو زموږ رښتینوالي موږ د دې قابل کړو چې د هیواد ۹۵٪ برخې فتحه کړو، اسلامي نظام په کې پیاده کړو او هیوادوالو ته د هوسا او ډاډه ژوند زمینه برابره کړو. زه باور لرم چې اسلامي امارت به مخالفینو ته ماتې ورکوي او ټول افغانستان به تر یوې واحدې رهبرۍ لاندې متحد کړي. او د دې هدف ترلاسه کولو لپاره زموږ لومړنی کوښښ دا دی چې موضوع له جګړې پرته حل شي. څکه دا اوس د مخالفینو د لیکو څخه ډېر قومندانان رابیل شوي دي او له اسلامي امارت سره یوځای شوي دي او امید دی چې نور قومندانان هم ورڅخه بیل شي.

پوښتنه

په دې وروستیو کې د هیواد په مرکز کابل کې یو لړ چاودنې شوي دي. آیا دا به امنیتي ستونزې راپیدا نه کړي؟

ځواب

دا ډول پیښې د نړۍ په پرمختللیو هیوادونو کې هم کیږي. سره له دې چې د مخنیوي لپاره یې ډېرې ادارې کار کوي. موږ یقین لرو چې په افغانستان کې امنیت ډېر ښه دی. خو زموږ دښمنان ډول ډول سازشونه کوي او کومې کوچنۍ پیښې چې وشي د هغو په تبلیغ کې مبالغه کوي او منفي تاثر ورکوي خو هیوادوال له دا ډول تبلیغاتو سره عادت لري او هیڅ ډول تشویش نه ورته پیدا کیږي. موږ امنیتي مقاماتو ته لارښوونه کړې ده چې د دا ډول پیښو د مخنیوي لپاره خپلې هڅې نورې هم تیزې کړي او هیچا ته اجازه ورنه کړي چې هیوادوال له تشویش سره مخامخ کړي. همدا راز ځینې هغه کسان چې دغه چاودنې یې کړې نیول شوي او د تحقیقاتو په ترڅ کې یې په خپلو جرمونو

اعتراف کړي دی. موضوع تر څېړني لاندې ده. د تحقیقاتو له بشپړیدو وروسته بـ
محاکمه شي. تر څو په راتلونکي کې څوک د امنیت د خرابولو جرئت ونه کړي.

پوښتنه

ځینې خلک دا سې وایي چې د اسلامي امارت په ځینو ادارو کې بعضـي چارواکي
رشوت اخلي. دا خبره څنګه ده؟

ځواب

دا خبره ځکه بې اساسه ده چې تراوسه هم موږ ته چا په دې اړه شواهد نه دي راکړي
ځکه موږ مخکې هم ویلي او اوس هم وایو چې که هر څوک داسې شواهد حاضـ
کړي چې هغه د رشوت اخیستلو ثبوت وکړي نو به هرومرو رشوت اخیستونکی د قانو
منګولو ته وسپارو او لازمه جزا به ورکړو. هر چا چې له قدرت څخه ناوړه ګټه اخیستې
او یا د خیانت ثبوت پرې شوی دی موږ له له خپلو دندو څخه ګوښه کړي او مجازات
کړي مو دي.

پوښتنه

د کشمیر موضوع چې څه د پاسه پنځوس کاله کیږي جریان لري خو د حل لپاره یـ
تراوسه کومه لاره نه ده لټول شوې په دې هکله مو څه نظر دی؟

ځواب

موږ مخکې هم ویلي دي چې په کشمیر کې دې په مسلمانانو باندې ظلمونو بند کـ
شي او دا مسئله دې د کشمیر د مسلمانانو له غوښتنو سره سم او یا هم د ملګرو
ملتونود پریکړو په اساس حل شي. ځکه دغه کار د هند او پاکستان دواړو په ګټه د
کشمیري مسلمانان د ازادۍ حق لري او دا حق باید ورکړل شي.

منبع : خلافت مجله پرلپسې اوولسمه ګڼه.٦-۵-۴ مخونه )

## تربيتي غونډې ته د عاليقدر اميرالمؤمنين پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلي على رسوله الكريم. امابعد:

درنو علماء كرامو او محترمو طالبانو او د قدر وړ حاضرينو!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته وبعد

د هر څه نه مخكې ستاسو راتلو ته ښه راغلاست وايم او له لوى خداى جل جلاله څخه د دغه تكليف او خدمت په عوض كې درته اجر عظيم غواړم.

محترمو ورونو!

تاسو د اوسنيو روانو جرياناتو څخه ښه خبر ياست. چې له يوې خوا د الله تعالى د دين د حاكميت په خاطر په هيواد كې دننه د داخلي دښمنانو سره چې د مجاهدينو د جهاد ضد دي او له بلې خوا د اسلام د مقدس دين دښمنان له هيواد نه دباندې د دين او اسلامي نظام په خلاف دسيسې جوړوي. او داسلام دښمنان وينئ چې د اسلام د مقدس دين په خلاف يو بل ته لاسونه وركوي.

درنو حاضرينو!

دا چې اوس د الله تعالى په ستر كرم او نصرت سره د افغانستان په يوه لويه برخه كې د الله تعالى دين حاكم شوى د اسلام دښمنان الله رب العزت ذليل كړل. اهل حق ته قدرت په لاس ورغى الله رب العزت عزت وركړ، د شهيدانو وينو رنګ راووړ، د لكونو شهيدانو، كونډو، يتيمانو او ستمزده مؤمنانو ارمانونه الله رب العزت ستاسو د متو په بركت پوره كړل. خو ګورئ چې مغرور نه شئ د الله تعالى ددين خدمت تر همدې ځايه پوره ونه بولئ. په دې پوه شئ چې اوس تر بل هر وخت په زيات امتحان كې لويدلي ياست، ځكه چې مخكې به يوازې د خپل كور او مسجد مسؤليت در په غاړه و نن د ټول مظلوم امت د اميد سترګې ستاسو په لور كږې دي. نن د سنګر، ممبر او دفتر

مسؤلیتونه ټول ستاسو پر غاړه دي. د درانه مسؤلیت لپاره باید ټینګه اراده او کلک عزم وکړو، د بې ځایه بهانو او عذرونو په ځای خدمت ته ملاوتړو او زه خپله هغه خبره یو ځل بیا تکراروم چې که هر چا توان او طاقت درلود او په دغه مقدسه لاره کې یې له خدمت څخه ځان وکیښ د محشر په ورځ کې به یې د الله تعالی په حضور کې له ګریوان نیسم او دغه شاهدي به پرې وایم چې دغو کسانو ته د خدمت زمینه مساعده وه خو دوی غفلت وکړ.

ورونړو!

زه یو سر لرم او له تاسو سره وعده کوم چې د دین په مقدسه لار کې به یې هیڅکله ونه سپموم او هم به په دغه لاره د الله تعالی له رضا څخه بغیر د بل هیڅ کوم ظالم او جابر قوت په مقابل کې له خپل عزم او داعیې څخه ونه ګرځم. خو په دې لاره کې ستاسو مسلمانانو مرستې ته هم اړ یم. موږ او تاسو باید هیڅکله د نبي علیه السلام هغه قول له یاده ونه باسو چې فرمایي: زما امت که هر وخت جهاد ته شا کړه او جهاد یې پریښود نو الله تعالی به یې ذلیل کړي. او دا خبره د اسلام په تاریخ کې ښه ثابته شوه هر چا چې په هر وخت کې جهاد پرې ایښی، الله تعالی بې عزته کړي. موږ او تاسو په دې نبرد ي وخت کې، الله تعالی یو ځل له روسانو سره په جهاد کولو عزتمن کړو او بیا یې د فساد په مقابل کې په جهاد کولو سره عزتمند کړو.

درنو علماء کرامو!

موږ جهاد ستاسو په فتوی پیل کړی، زموږ طالبانو خپل سرونه ستاسو په فتوی د قربانۍ میدان ته وړاندې کړي. بیا یې خپلې ټولې پریکړې ستاسې د فتوی په رڼا کې عملي کړي. نن هم طالبان ستاسو رهنمایي ته ضرورت لري. تاسو به یې اخلاقي تربیه کوئ، د دیني، سیاسي، اداري، نظامي او اقتصادي چارو لارې به تاسو ورته روښانه کوئ. د کبر، غرور او بې باکۍ د مخنیوي لارې به یې تاسو سنجوئ. او د اسلام د دشمنانو دسیسې به تاسو رسوا کوئ. خو موږ او تاسو په دې هم باید پوه شو چې طالبان د شکردرې، ګلدرې، نجراب، بنګي، خنجان او بامیان څخه موږ ته نه شي راتلای. ځکه چې د دښمن په مقابل کې یې سنګرونه نیولي. په کار داده چې موږ او تاسو پسې

ورشو. نن ستاسې ډيرو شاګردانو ته الله رب العزت داسې عزت ورکړ چې تر څو شهيد يا زخمی نه شي نه راځي. نو هلته به يې پوښتنه کوو.

محترمو!

په آخر کې يوه خبره چې ضرور راته ښکاريږي غواړم چې تاسو ته يې وکړم. هغه دا چې نن ځيني کسان د تحريک نه شکايت لري. او زياتې خبرې پسې کوي چې په نتيجه کې يې د تحريک ځيني مخلص کسان د نه معلوماتو له امله په دغه مشکل ورسره اخته شي. د دې په هکله زه دا يوه خبره کوم چې له هغې ورځې نه چې الله رب العزت بشريت دنيا ته راوستی، د حق او باطل ترمنځ مقابله روانه ده او هيڅکله هم باطل له حق نه نه خوشاله کيږي. نو مقصد دا دی چې فساق او فجار به هميشه د اسلامي نظام مخالفت کوي او د بدنامولو کوښښ به يې کوي. نو موږ او تاسو ته په کار ده چې د اسلامي امارت په مقابل کې د داخلي او خارجي تبليغاتو په مخنيوي کې کوښښ وکړو او د اسلامي امارت نه کوم فرد يا مسؤل کوم نامناسب کار کوي تاسو يې مشرانو ته خبر ورکوئ. تر څو عام مسلمانان مايوسه نه شي. په عامو مجالسو کې د اسلامي امارت او اسلامي نظام شکايت کول، عام مسلمانان له مايوسی سره مخامخ کوي. نور نو په آخر کې يو ځل بيا له تاسو نه مننه کوم. او د لوی خدای جل جلاله له دربار څخه درته لوی اجر غواړم

والسلام

د اسلام خادم

اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد

**د ولسوالانو او ښاروالانو تربیوي سمینار ته د عالیقدر امیرالمؤمنن د وینا لنډیز یادونه :**

د اسلامي امارت د مشرتابه په هدایت د بیلابیلو ولایاتو او ولسوالیو د ښاروالانو، ولسوالانو او امنیه قومندانانو د دیني او اخلاقي روزنې په مقصد په کندهار کې لس ورځني سمینارونه ترسره کیدل، ددې سمینارونو د دریمې دورې غونډې ته د عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد لخوا د ایراد شوې وینا لنډیز او مهم ټکي په لاندې ډول و.

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم امابعد: اعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

و من لم یحکم بما انزل الله فاولئک هم الظلمون. الایة

محترمو مسؤلینو! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

تاسو او نورو مسؤلینو ته زما توصیه دا ده چې تر وسه وسه کوښښ وکړئ، چې خدای نخواسته له ولس سره ظلم او تیری ونشي او هره فیصله د خدای جل جلاله په کتاب، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په سنت او د دین په احکامو برابره وکړئ.

وروڼو! د خلکو مشکلات په غور واورئ او له خلکو ځانونه مه پټوئ. په دې عمل سره ښایي ځیني مسؤلین د ځان د عزتمند کولو نیت لري. حال دا چې دا بیرته د دوی بې عزتي ده. ځکه د ولس خپگان او قلبي نفرت تر هر څه لویه بې عزتي ده. او الله تعالی هغه چا ته عزت نه ورکوي چې په خپله د ځان لپاره د عزت پیدا کولو کوښښ کوي. تر هر څه لوی معنوي عزت د مسلمانانو قلبي محبت دی. د مسلمانانو قلبي محبت له حکومتي مسؤلینو سره هغه وخت زیاتیږي چې مسؤلین یې مشکلات په غور واوري او تر ځان یې تېر نه کړي.

ستاسې اصلي مسؤلیت د ولس اواز اوریدل دي، د ولس زیاته راشه درشه له ولسوالانو سره ده، تاسو ولسوالان نور کوم مهم مصروفیت نلرئ، په آساني سره د خلکو مشکلات حل کولای شئ او مشروع غوښتنې یې اوریدلی شئ.

باید ووایم چې د الله تعالی ویره په زړونو کې وساتئ او د الله تعالی د دین نفاذ او حفاظت لومړنی هدف وټاکئ. تاسو وینئ چې د کفري نړۍ د څومره زیاتو فشارونو سره سره موږ تر خپل دریغ هیڅ نه تیریږو. دا یوازې د دې لپاره چې د الله تعالی دین ته صدمه ونه رسیږي او دا هم ومنئ چې د دومره زیاتو داخلي او خارجي فشارونو سره سره له هیچا څخه د یوه مچ د وزر په قدر ویره هم نلرم. ځکه چې دا مې عقیده ده چې په دې لاره کې مې مرګ او ژوند دواړه په ګټه دي. که مړ شم د الله تعال د دین د حفاظت په لاره کې به مړ یم او که ژوندی یم هم د الله تعالی د دین په خدمت به بوخت یم. په ژوند کې هیڅ داسې شی نه وینم چې پریښودلو ته یې د الله جل جلاله په لاره کې اماده نه یم. که نن مړ شم که سبا داسې څه نه رانه پاته کیږي چې ارمان پسې وکړم.

نو په آخر کې یو ځل بیا تاسو ته وایم چې د الله تعالی له مخلوق سره بې غوري مه کوئ، ځکه په دې سره الله تعالی درنه ناراضه کیږي. له خلکو سره په معاملاتو کې له ښو اخلاقو کار واخلئ.

له ولس سره بې پروایي مه کوئ او پام چې د دیانت او تقوی لاره پرې نږدئ.

والسلام

مأخذ (خلافت مجله پرلپسې اتلسمه ګڼه، ۱۱ مخ)

## دنیکمرغه کوچني اختر درارسیدو په مناسبت دعالیقدر امیرالمؤمنین پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم :الله أكبر الله أكبر، لاإله إلا الله و الله أكبر، الله أكبر و لله الحمد

الحمد لله الذي نصر عبده، وأعزّ جنده، وهزم الأحزاب وحده, والصلوة والسلام على من لا

بعده و بعد!

د افغانستان مجاهد ولس او ټول اسلامي امت ته د نیکمرغه کوچني اختر له مبار
سره یوځای په افغانستان کې د مسلسلو بریاوو تبریکي وایم، الله تعالی مو روژ
جهاد، او د حق په لاره کې ټول تکلیفونه قبول کړه. غواړم له دغه سپیڅلي فرصت نه
استفادې سره د ځینو اهمو موضوعاتو په اړه درسره په لاندې توگه خپل نظر شري
کړم.

د روان جهادي وضعیت په اړه:

د اسلام او افغانستان دښمنانو سږ کال د مجاهدینو د ماتې او خپل شوم هدف ت
رسیدو یو پریکنده پړاو گڼلی ؤ. ان تردې چې خپل ولسونه او نړیوال یې همدې بنس
بدلون ته په تمه کړي وو، خو الحمد لله په عمل کې د دوئ ټول پلانونه د دوئ د اټک
برعکس ثابت شول، او سږ کال دښمن د تیرکال په نسبت د سر او مال ډیر زیانو
ولیدل. مجاهدین اوس تر پخوا زیات د دښمن له تاکتیکونو سره بلد شوي،هغه وسا
چې دښمن ته زیات تلفات اړولی شي، د هرې ورځې په تیریدو د مجاهدینولاس ن
ورځي چې اوس دا دي ټول خلک د دښمن د زیاتې مرگ ژوبلې او د هغوئ د الوټ
د راغورځولو شاهدان دي، بل لور ته د ولس بې کچې زیاتیدونکې همکاري، د دښم
په لیکو کې د مجاهدینو ډیریدونکی نفوذ، د هیواد گوټ گوټ ته د جهادي ساحې
پراخیدل، د ورځنیو عملیاتو او نویو تکتیکونو بې سابقې ډیربښت، او د هیواد په شم
او جنوب کې د دښمن د سترو چارواکو له منځه وړل، دا ټول هغه څه دي، چې مو
د چټک بري او روښانه مستقبل زیری راکوي.

که د بدر په نامه د سږنیو عملیاتو لاسته راوړني له تیرو کلونو سره پرتله کړای شي او
دښمن پرله پسې شکستونه او بې سابقې متزلزل حالت ته په غور وکتل شي نو یو خوا

مجاهدینو د ځواکمنو روحیاتو او لوړ مورال او بل پلو ته د دښمن د هر اړخیز زوال یو روښانه تصویر زموږ مخې ته ږدي.

همدارنګه په نړیواله کچه د امریکا لپاره اوس وضعیت هغسې نه دی لکه پخوا چې و. د امریکا اقتصاد د بل هر وخت په نسبت له اساسي ستونزو سره مخ دی، د ناټو د غړو هیوادونو ولسونه ورځ په ورځ د افغانستان دجګړې په اړه حقایق درک کوي او په عامه اذهانو کې د دې بې هدفه جګړې په ضد دریځ پیاوړی کیږي، په یرغلګر ائتلاف کې شامل هیوادونه یو په بل پسې پوځونه باسي،د سیمې هیوادونه او ولسونه د امریکایي سرزوري سیاست له امله سخت بې حوصلې شوي، چې په مجموع کې دا حالت زموږ د مقدس جهاد د بري زیری راکوي.

له افغانستان څخه د امریکایي محدودو ځواکونو د ایستلو په اړه:

تر ټولو د مخه باید ووایم چې د یرغلګرو ځواکونو محدود ایستل په کلي توګه د افغانستان د ستونزې حل نشي کیدی، بلکې جهاد به په خپل قوت سره جاري وي، ځکه دغه ډول نمایشي اقدامات د افغانستان مسئله نوره هم پیچلې کوي او زیان لرونکې پایلې لري. یرغلګر قوتونه باید د ټولو پوځونو په سملاسي ایستلو سره نور دغې مسئلې ته یو دائمي او قناعت بخش حل ولټوي.

په افغانستان کې د امریکایي دائمي اډو په اړه:

د افغانستان ملت په هیڅ ډول دې ته تیار نه دی چې دلته دې امریکایان دائمې اډې ولري. افغانان دلته د یرغلګرو لږ یا ډېر پوځي موجودیت د اجنبي اشغال په معنی بولي. که امریکایان په دې هکله هم له سرزورۍ نه کار اخلي، د جهادي مقاومت او افغان ولس غوښتني په پام کې نه نیسي، نو له دې څخه دې هم داسې توقع ولري لکه د افغانستان له لس کلن اشغال څخه چې د ملیاردونو ډالرو له مصرفولو او زرګونو پوځیانو له وژل کیدو وروسته هم په کابل کې د یوې لحظې لپاره د آرامۍ او سکون احساس نشي کولای.

ټول ولس او په خاص ډول د هیواد علمي، سیاسي او مخور شخصیتونه باید د اسلامي امارت سره په تفاهم کې د یرغلګرو د اډو په وړاندې یو مشترک ملي موقف خپل کړي او امریکایانو ته دې دا ښکاره کړي چې زموږ په هیواد کې د بهرنیانو د دایمي اډو په اړه ټول ملت په اتفاق سره مخالف نظر لري.

د دایمي اډو د ملاتړ په بهیر کې برخه اخیستل هغه که د جرګې په نامه وي او که د پارلمان، یوازې او یوازې به له خپل دین او خپلې خاورې سره خاین او وفادار سره بیل کړي.

د هیواد د راتلونکې په اړه:

زموږ تګ لاره دا ده چې په راتلونکي افغانستان کې داسې واقعي اسلامي نظام وي چې د هیواد د ټولو اوسیدونکو لپاره د باور وړ وي، د هیواد ټولې پرګنې پکښې ځای ولري او کار اهل کار ته وسپارل شي. د نړۍ او سیمې له هیوادونو سره د متقابل احترام، اسلامي او ملي ګټو په دریځ ولاړې اړیکې ولري، او ټوله توجه یې دیته وي چې هیواد ته له څه باندې دیرش کلنې جګړې وروسته مادي اومعنوي زیانونه جبیره کړي. دا چې افغانستان د زراعت لپاره پراخې ځمکې، غني معادن او د انرژۍ پراخ منابع لري، نو یوازې د سولې او ټیکاو په حالت کې کولی شو په دغو برخو کې پانګونه وکړو. او د فقر، بیکارۍ، وروسته پاتې والي او ناپوهي له ناورین نه چې د نورو اجتماعي او اقتصادي ستونزو عامل بلل کیږي، ځان خلاص کړو.

د دښمنانو د تبلیغاتو پر خلاف اسلامي امارت د واک او قدرت په موضوع کې کله هم انحصار طلبه پالیسي نه لري، افغانستان لکه څنګه چې د ټولو افغانانو کور دی همداسې یې ټول افغانان په ساتلو او سمبالولو کې د مسؤلیت د ادا کولو حق لري، راتلونکي بدلونونه باید داسې نه وي لکه دکمونیزم تر شکست وروسته چې د هیواد هرڅه لوټ او دولتي ادارې په هر لحاظ تخریب شوې. بلکې د دې لپاره به کلک تدابیر نیول کیږي، چې د مجاهدینو د برې په صورت کې د ټولو ملي شتمنیو، دولتي دوایرو او په خصوصي سکتور کې د رامنځته شویو پرمختګونو ساتنه وشي او د هیواد مسلکي

کدرونه او ملي تجاران له کوم تبعیض پرته د دین او وطن خدمت ته لا نور هم زیات وهڅول شي.

د مذاکراتو په اړه :

اسلامي امارت د هیواد د رواني لانجې عامل، په هیواد کې د بهرنیو یرغلگرو عسکرو موجودیت، د هغوئ ړندې بمبارۍ، د شپې حملې، ظلمونه، شکنجې او زورواکي بولي، او د مسائلو حل د دغو ناروااوو په پای ته رسیدو کيویني. همداراز، د هیواد او هیوادوالو د دیني او دنیوي مصالحو تأمین د واقعي خپلواک اسلامي نظام په قیام کې گڼي. دغه هدف ته د رسیدو لپاره په هره مشروعه لاره غور او تامل کیدای شي. د اسیرانو د تبادلې په اړه چې تر اوسه پورې له کومو لوریو سره تماسونه ټینگ شوي هغه هیڅکله هم د هیواد د رواني لانجې د پای ته رسولو په برخه کې هر اړخیز مذاکرات نشي بلل کیداي. البته اسلامي امارت د یوه منظم سیاسي او نظامي ارگان په توگه پدې برخه کې تاکلې او خپلواکه اجندا لري چې وخت په وخت یې څرگنده کړې هم ده.

د بن د راتلونکي کانفرانس په اړه:

دا کانفرانس به د لس کاله مخکې کانفرانس نه توپیر ونلري، ځکه چې د افغان ولس ریښتیني استازي پکښې برخه نلري، او نه هم د افغانستان د مشکلاتو اساسي او واقعي حل ته توجه پکښې کیږي، د تیرو نورو کانفرانسونو او جرگو غوندې دا کانفرانس هم یوازې تبلیغاتي او نمایشي اهداف لري، غواړي چې د یو څه وخت لپاره د نړیوالو توجه د افغانستان د مسئلې له واقعي حل څخه بلې خواته واړوي او هغه څه به پکښې ویل کیږي کوم چې له وړاندې نه لاپه سپینه ماڼۍ او پنټاگان کې فیصله شوي وي.

موږ ټولو هغو نړیوالو ته چې د افغانستان په موضوع کې دخیل دي، مشوره ورکوو چې د افغانستان د مسئلې د مصنوعي او نمایشي حل په ځای دې د دې مسئلې د واقعي او عملي حل په لټه کې شي. دوئ دې په افغانستان کې عیني واقعیتونه درک کړي، افغانان د خپلو مسائلو د حل او خپلمنځي تفاهم خورا ښه تاریخ لري، خوچې بهرنۍ مداخله بنده شي. د افغانستان اسلامي امارت د خپل یوه اصولي حق په توگه له خپل

دین، وطن او خاورې نه د دفاع روا مبارزه پرمخ بیایي چې علت یې په دې خاوره کې د بهرنیو یرغلګرو شتون دی. که نړیوال یرغلګرائتلاف زموږ د خاورې اشغال پای ته ورسوي اسلامي امارت حاضر دی چې د یوه سوله خوښي او مسؤل نظام په حیث د سیمې او نړۍ له هیوادونو سره مثبتې اړیکې وساتي.

مونږ د ګاونډیو هیوادونو په ګډون له ټولو هیوادونو نه غوښتنه کوو چې د افغانستان د راتلونکي په اړوند د استعماري لوبو برخه ونه ګرځي، ځکه دغه کار د هیچا په ګټه نه دی. د افغانستان اسلامي امارت تصمیم لري چې د دوو میلیونو افغانانو د وینو د وارث په توګه به د افغانستان د راتلونکې په هکله د نورو له مداخلې پرته خپلواکې فیصلې کوي، چې په هغه کې به زموږ د شهیدانو ارمانونه، زمونږ ملي او اسلامي ګټې، د افغانانو وقار او عزت نغښتی وي. موږ ټولو خواوو ته څرګندوو چې افغانان تپل شوي رژیمونه نه مني او نه دغه شان رژیمونه دلته دوام کولی شي.

د کابل د ادارې د چلوونکو په اړه:

د کابل په اداره کې ولاړو افغانانو ته یو ځل بیا بلنه ورکوو چې نور د یرغلګرو له ملاتړه لاس واخلئ! د اسلامي امارت له مجاهدینو سره اوږه په اوږه د اسلام او وطن د دښمنانو په مقابل کې ودریږئ! له مجاهدینو سره ستاسې یو ځای کېدل به نور هم اشغالګر ځواکونه زموږ د خاورې لا ژر پرېښودلو ته اړکړي، چې په دې کارسره به زموږ د مظلوم ملت قرباني رنګ راوړي او هیواد به مو د خپلواکۍ، سوکالۍ او اسلامي نظام په ګانه ښکلی او سمسور شي او دا د ټولو په ګټه ده.

د حق د سنګر ساتونکو مجاهدینو ته:

الف: د شرائطو حساسیت ته په پام سره لازمه ده تربل هروخت زیات خپلو جهادي دندو ته متوجه واوسئ! ستاسو په هڅو اوس د هیواد ډیرې سیمې د دښمن له ناپاک وجود څخه پاکې شوې دي. کوشش وکړئ چې د هیواد پاته سیمې هم د دښمن له وجود څخه پاکې شي او په جهادي امورو کې هیڅ ډول غفلت مه کوئ! په خپلو

پوځي فعالیتونو کې له قوي عزم، لوړ تدبیر او منظم پلان نه کاراخلئ! په هر کار کې خپل نصب العین د الله (ج) رضا وګرځوئ!

ب: د جهاد د یوه مهم رکن په توګه د خپل امیر او درکړل شوې لائحې د اطاعت اصل په بشپړه توګه په پام کې ونیسئ!، د هیواد په ګوټ ګوټ کې زمونږ لخوا تعین شوي جهادي مسؤلین ستاسو شرعي آمرین دي، تاسو باید د دوئ پوره اطاعت وکړئ.

ج: کوم احتیاطي تدابیر چې وخت په وخت تاسو ته د خپلو مشرانو لخوا وړاندې کیږي تاسو یې باید په کلکه عملي کړئ، او که په دې برخه کې غفلت کوئ او د خپل وس په اندازه احتیاط نه کوئ، نو کیدای شي چې هم په دنیا کې د دښمن لخوا زیان در ورسیږي او هم به عندالله مسئول یاستئ.

د: له عام ولس سره د چلند په برخه کې باید ډیر هوښیار واوسئ، په ښو اخلاقو او نیک چلند سره د خلګو زړونه لاس ته راوړئ، زمونږ ولس مسلمان او مجاهد ولس دی او د اسلام په خاطر یې تر هر چا ډیرې قرباني ورکړې او ډیر ځوریدلی دی، تاسو باید د دې ولس هر عام وګړی، سپین ږیری، ځوان، ماشوم او ښځې ته په درنه سترګه وګورئ! کله چې د چا په هکله راپور درته رسیږي، نو لومړی ښه تحقیق پکښې کوئ، په غلطو او غرضي راپورونو چاته تکلیف مه ورکوئ. د ولس د نیکو مشورو او نظریاتو پوره خیال وساتئ! تاسو چې له عامو خلکو سره برخورد کوئ، نوله ځان سره دا فکر وکړئ چې که چیرې له ما سره وسله نه وای او یو عام سړی وای له خلکو سره به مې چلند څنګه وو؟ یا هغه څوک چې زه ورسره مخامخ یم که مي پلار، ورور، یا بل نژدې قریب وای نو څه ډول برخورد به مې ورسره کاوه؟ مجاهدین دې په هر حال له خلکو سره همداسې له عطوفت او مهرباني ډک چلند وکړي، او په هیڅ وجه دې ځان له خلکو لوړ او پر هغوئ برلاسی نه بولي.

هـ: ترڅو چې د امارت د مشرتابه لخوا درته د کوم کار په باره کې امر نه وي شوی، یا خپلو ولایتي مسؤلینو اجازه نه وي درکړې، په خپل سر په خلکو امرونه او بندیزونه مه تحمیلوئ! دغه کار جهاد او مجاهدین بدناموي، دښمن ته د منفي تبلیغاتو موقع په لاس ورکوي او د ولس او مجاهد ینو تر مینځ درز پیدا کوي. دغه راز تروسه وسه

درکول شوي اوامر باید د سیمې له خلکو او سیمیزو علماء کرامو سره په مشوره عملي کړئ.

و: د اسلامي امارت مربوط هیڅا ته دا اجازه نشته چي په زور له چا څخه پیسې واخلي، نو که د مجاهد یا په کوم بل نامه څوک لـه ملي تجارانو، زمینـدارانو او شتمنو خلکو څخه د ټوپک په زور پیسې اخلي او د پیسو لپاره خلک تنبتوي په کلکه یې مخنیوی وکړئ! او که مو لاس پرې برشو نو لازمه شرعي سزا ورکړئ! د خلکو د سر او مال ساتنه د جهاد له سترو اهدافو څخه ده.

ز: په پای کې باید ووایو چې په جهادي عملیاتو سربیره علمي مطالعه او زده کړه، دیني دعوت، مأثوره اذکار او وظائف، بدني تربیه او جهادي تدریب تـه هـم خـاص وخـت ورکوئ، صورت او سیرت مو باید په مقدس شریعت برابر وي او د ولس په منځ کې د سپیڅلیو، خداپالو، مصلحو، او خیرخواه انسانانو په توګه ژوند غوره کړئ!

ح: د مجاهدینو لائحه اوس هرې جبهې او ولایت ته رسیدلې ده، د هر ولایـت مسئول باید یقیني کړي چې مجاهدین یې د لائحې په موادو پوه شوي او عمل پرې کوي.

د هیواد په دننه او بهرکې د پوهنتونونو استادانو، محصلینو، منورینو او لیکوالو ته:

درنو! زموږ مستقبل زموږ په هر اړخیز استقلال پورې تړلی دی، که موږ یو مستقل هیواد ونه لرو زموږ مستقبل به غلامي وي او بادار هیڅکله غلام ته هغه څه نـه غـواړي کـوم چې ځان ته یې غواړي، بلکې یوازې د یوې حربې او وسیلې په توګه یې استعمالوي، له همـدې املـه خو پـه تـیره یـوه لسیزه کې راغلـو یرغلګـرو دې خـاورې تـه سترې او ستراتژیکې پروژې چې په هغو کې د اوبو لوی بندونه، د برق د تولید ملي نظام او ستر صنایع شامل دي نه دي بشپړې کړې چې هغـه زمـونږ د هیـواد د اقتصـاد لپـاره حیـاتي اهمیت لري، بلکې برعکس یې د سمتي او قومي توپیرونو اور ته په پټه او ښکاره لمن وهلې او ځوانان یې د ژبنیو او سـمتي جګـړو لورتـه هڅولي، چې دا زمـوږ د هیـواد د مستقبل د تباهۍ په معنا ده، دا زموږ او تاسو ګډه اسلامي او ملي فریضه ده، چې خپـل نوی نسل د دښمن د مغرضو تبلیغاتو له تاثیره وساتو.

لکه څنګه چې زموږ مجاهد ولس د سپیڅلي جهاد په برکت د غربیانو له لوري د هیواد د سیاسي او نظامي اشغال مخه ونیوله همدارنګه په کار ده چې په ټول جدیت سره په دې مسلمان او غیرتي هیواد کې د غرب د بې لارې او مفسد فرهنګ او د هغه ورانوونکو فکري تاثیراتو د خپریدو مخه هم ونیول شي او په پوره مینه، اخلاص او افغاني لوړ همت د خپلو راتلونکو نسلونو ژوند د اسلام د سپیڅلي فرهنګ په غیږ کې خوندي کړو او که داسې ونه شي خدای مه کړه زموږ غیّور ولس به هم د غرب زهرجن فرهنګ د تاثیر له امله له خپلې ځلانده اسلامي ماضي څخه پردی شي. استادان، محصلین، لیکوال او روڼ اندي ټول باید په فردي او اجتماعي ډول د هیواد د بشپړ استقلال، د ملي او اسلامي ارزښتونو د ساتلو او د افغانانو د متحد کولو لپاره عملي مبارزه وکړي، موږ تاسو ټول باید د یوه مشترک هدف لپاره یو موټی واوسو، او ترمینځ مو هر ډول فرضي او مصنوعي فاصلې ختمې کړو. یوازې اسلامي ارزښتونه کولی شي چې د افغانانو تر مینځ هر ډول، سمتي او ژبني توپیرونه له مینځه یوسي، خو د دې کار لپاره عملي قرباني ته اړتیا ده.

د افغانستان او نړۍ ولسونو ته:

د افغاني ټولنې مختلف قشرونه چې روان اسلامي جهاد یوه دیني وجیبه بولي، ترهرڅه وړاندې ترې مننه کوو چې له تیرو لسوکلونو راهیسې یې د جهاد او مبارزې په لاره کې ډیرې سترې او ستومانۍ وګاللې، له مجاهدینو سره یې هر اړخیزه همکاري کړې او جهادي فریضه یې ادا کړې ده، خو د دې لپاره چې د تیرو لسوکلونو قرباني مو نه وي ضایع شوې، باید نور هم خپلو همکاریو ته دوام ورکړئ! که د چا په لاس او ټوپک سره جهاد په وس پوره وي، باید خپله فریضه سرته ورسوي، د قلم څښتن باید خپل قلم د خپل دین د دفاع په لاره کې وکاروي او د مال خاوندان باید خپله شتمنۍ په جهادي ضروریاتو مصرف کړي.

د نړۍ له مسلمانانو څخه غوښتنه لرو چې په خپلو مادي او معنوي مرستو د مجاهدینو همکاري وکړي، او همداراز د نړۍ له خپلواکو ولسونو او شخصیتونو څخه هیله لرو چې د افغانانو له دغې برحقې دفاعي مبارزې څخه حمایت وکړي او پرې نږدي چې

مستبد زورواکان د خپل زور او تشدد په مټ د نړۍ مستضعف ولسونه د خپ
استبدادي ناوړه عزائمو ښکار کړي.

په آخر کې یو ځل بیا د نړۍ ټولو مسلمانانو، ټولو ځوریدلو افغانانو، د سنګر غازیا
زنداني مجاهدینو، د شهیدانو کورنیو او د جهاد دلارې ټولو یتیمانو، کونډو او نو
متأثرینو ته د اختر مبارکۍ وړاندې کوم، او د ټولنې په شتمنو ږغ کوم چې په دې ور
کې محتاج او اړ کسان هیر نه کړي. په پای کې دعا کوم چې الله تعالې مو راتلونک
اخترونه د سولې، خپلواکۍ او اسلامي شرعي نظام تر سیوري لاندې نصیب کړي.

والسلام

د اسلام خادم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

۲۹/۹/۱۴۳۲ هـ ق

۱۳۹۰/٦/۸هـ ش

۲۸/۸/۲۰۱۱ م

## د مرحوم امیر المؤمنین شخصي ځانګړنې

نوم

د ملا صاحب اصلي نوم محمد عمر و، په څوانی کې او د روس ضد جهاد په کلونو کې د ملا محمد عمر آخند په نوم یادېده، د اسلامي امارت له تأسیس وروسته یې (مجاهد) تخلص هم د نوم برخه شو او په ملا محمد عمر مجاهد یې شهرت ومونـد. د پلار نوم یې مولوي غلام نبي، د نیکه نوم یې مولوي محمد رسول او د غور نیکه نوم یې مولوي محمد ایاز و.

ترونه یا اکاګان

ملا صاحب څلور ترونه یا اکاګان درلودل: مولوي محمد انورصاحب، ملا محمد ولي صاحب، ملا محمد حنیفیا او مولوي محمد جمعه صاحب، چې د دې متن د لیکلو تر وخته یې یو اکا مولوي محمد جمعه صاحب ژوندی او نور وفات شوي دي.

ورونه

ملا صاحب یو سکنی او درې مورني ورونه درلودل. سکنی ورور یې شیر علي نومیده چې په ماشومتوب وفات شوی دی. مورني ورونه یې شهید ملا عبدالخالق آخند، شهید ملا عبدالسلام آخند اود اسلامي امارت د رهبري شوری غړی ملا عبدالمنان عمري دی. ملا عبدالخالق آخند او ملا عبدالسلام آخند په کندهار ښار کې د ملا صاحب پر کور په لویه چاودنه کې په شهادت ورسیدل.

اولادونه

ملا محمد عمر مجاهد ته الله تعالی اتلس اولادونه ورکړي چې څلور یې لونې او ۱۴ زامن دي. دوې لونې او یو زوی یې په کوچنیوالي وفات شوي دي او نور اولادونه یې ژوندي دي. د زامنو نومونه یې په ترتیب سره په دې ډول دي:

مشر زوی یې د اسلامي امارت مرستیال او د نظامي کمیسیون مشر مولوي محمد یعقوب مجاهد دی. ورپسې حافظ محمد ادریس، مولوي محمد یونس، حافظ محمد

ابراهیم، ملا محمد اسرائیل، مولوي محمد اسحاق، ملا محمد یوسف، حافظ محمد هارون، ملا محمد داود، ملا محمد الیاس، ملا محمد موسی، ملا محمد ایوب او ملا احمد.

شخصي سرمایه او مصارف

ملا محمد عمر مجاهد په ټول افغانستان کې کومه شخصي سرمایه لکه بانکي حساب، ځمکه، شخصي کور، دوکان یا کوم بل جایداد نه درلود او نه یې تر پایه د شخصي پانګې موندلو هوس وکړ. کومه ودانۍ چې په وروستیو کې په کندهار کې جوړه شوه او اوس د ملا صاحب په کور شهرت لري، هغه یوه امارتي ودانۍ او د بیت المال ملکیت و چې امیر المؤمنین په کې اوسیده.

ملا صاحب له امارت څخه معاش نه اخیست، د کور مصارف یې د ځینو اهل خیر او مخلصو مسلمانانو له هغو شخصي مرستو څخه پوره کیدل چې له ملا صاحب سره به یې د ده د کور د مصرف لپاره کولې، ملا صاحب له دې جملې هغه پیسې چې د امیر په حیث یې ده ته اخیستل جائز نه و بیت المال ته سپارلې او هغه هدایا چې مصرف به یې ورته جائز و په کورنیو ضروریاتو لګولې. دا چې د نوموړي کورني لګښتونه د نورو حاکمانو په شان ډیر نه و، بلکې د عامو هیوادوالو په شان درمیانه ژوند یې درلود نو ځکه یې د کور چلښت کومې ځانګړې یا فوق العاده بودیجې ته اړتیا نه درلود.

کورنی ژوند

ملا صاحب د ژوند د نورو اړخونو غوندې په کورني ژوند کې هم د اعتدال پیرو و. خپلو ورونو، اولادونو او قریبانو ته یې د عیش او هوس امکانات نه برابرول. د کورني خدمت لپاره یې ځانګړي خادمان نه درلودل، بلکې کور یې د عامو افغانانو په شان یو عادي کور و. حتی کله به یې خپله هم په کورنیو کارونو کې د کورنی له غړو سره مرسته کوله، خصوصا کله چې به یې میلمانه درلودل. له اولادونو، میرمنو او د کور له ټولو اعضاوو سره یې د نرمي او مهرباني چلند کاوه. د قریبانو او خپلوانو د حال پوښتنه

به يې کوله او کورونو ته به يې ورتلو، د امارت له درنې وظيفې سره سره يې د صله رحمۍ رشتې پالنې ته متوجه و.

لباس

ملا صاحب د لوی کندهار د عامو وګړو په شان نسبتا د پنډ ټوکر څخه جوړ اوږده کالي اغوستل چې کميس به يې ترخزي جوړ شوی و. کالي به يې اکثر له خړ يا تور ته نږدې رنګ ټوکر څخه جوړ شوي وو. کندهارۍ صدرۍ او څادر يې هم هميشه اغوست او د تور پاچ نسبتا غټه لنګوټه يې تړله. زياتره وخت يې بوټونه په پښو کول. لباس يې د شوروي ضد جهاد په مهال په کندهار کې د مجاهدو طالبانو لباس ته ورته و، چې وروسته همدې لباس د اسلامي امارت له پراختيا سره ډېر شهرت وموند او تر اوسه ډېر مجاهدين همدا ډول لباس اغوندي.

نورې ځانګړنې

ملا صاحب هميشه لمونځ په جماعت کاوه او په جماعت کې به يې پخپله امامت کاوه. که به په دفتر کې و يا په کور کې لمونځ يې په مسجد کې اداء کاوه.د جمعې لمونځونه به يې ډېر ځله د کندهار ښار په مختلفو مساجدو کې اداء کول او د اختر لمونځ به يې د کندهار په مرکزي عيدګاه کې په خپل امامت اداء کاوه.

دفتر ته د رسيدو سره سم يې لومړنی کار د عامو خلکو د عريضو کتل او اجراء کول وو. د غرمې له ډوډۍ وروسته يې لږ شيبه قيلوله (غرمنی خوب) کوله. راډيو يې په مواظبت اوريده، خصوصا د هغه وخت دوه مشهورې راډيوګانې بي بي سي او امريکا غږ يې هميشه اوريدې.

ملا صاحب په موټر کې د ګرځيدو په وخت هميشه خپل موټر پخپله چلاوه، چې څو نور ملګري به هم ورسره په موټر کې و. عموما يې لنډکروزر موټر استعمالاوه او هيڅکله يې مرمۍ ضد موټر نه دی کارولی.

د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير مولوي وکيل احمد متوکل چې ډيره موده د ملا صاحب د دفتر مسؤل پاته شوی د ملا صاحب په اړه خپل خاطرات داسې بيانوي.

لوی ملا صاحب به کله کله مازدیگر مهال څو شیبې د خپلو ملګرو سره د تفریح لپاره بېلابېلو شنو ځایونو ته وتی هلته به يې سیمه ییزې لوبې کولې لکه غېږ نیونه، ډېره غورځونه یا داسې نور او ښه پکښې تکړه و. همداراز يې وخت ناوخته د نورو مروجو لوبو ننداره کوله لکه پهلوانې او کراټه. یوه ورځ يې د شهید مولوي اخترمحمد عثماني سره د تېزوالي په مسابقه کې وړاندیوالی وګاټه.

زما په یاد دي چې یوه ورځ له لوی ملاصاحب او نورو انډیوالانو سره په پسرلي کې شنه دښت ته ووتو، د ځان سره مو د پخو غوښو بخاردیګ، ګرمه د تناره ډوډۍ، تازه میوه او پلاستیکي فرشونه هم وړي وو، هلته یو اړخ ته د کوچیانو کیږدۍ هم وې، کوچیان هم راغلل وروسته يې خپل تیار خوراکونه لکه مستې او سوړسکونه راوړل، په ګډه مو ډېر ښه مجلس وکړ او تیار شوي خوراکونه مو وخوړل، د ملا صاحب برخورد دومره عادي و چې هغوی تر پایه پوه نه شول چې دا کوم لوړ رتبه حکومتي شخص دی، ملا صاحب له دوی سره عادي مجلس وکړ او د هغوی له حاله يې ځان خبر کړ. چې رخصتېدلو ما د کوچیانو مشر ته ویل دا عام طالبان نه دي. دا د افغانستان پاچا دی. د کوچیانو مشر وویل: دا څومره ښه پاچا دی چې پر موږ يې د نږدې پوښتنه وکړه نو ملاصاحب بیا یوه اندازه نقدي کومک هم ورسره وکړ او په خوشحالۍ ورڅخه ستانه سوو.

د ملا صاحب یو مهم صفت بې تکلفي وه، عموما معاصر سیاسي مشران ډېر تشریفات او آرګاه بارګاه لري، هغوی هر څه د یوه پروټوکول له مخې کوي. خو ملا صاحب د صدر اسلام د خلفاوو په شان ډېر ساده ژوند درلود. هغه په دفتر کې د کار پر مهال په تخت یا څوکۍ نه کیناست بلکې پر ځمکه او یا کټ کې به ناست و. د تشریفاتو کومه قطعه يې نه درلوده.

مفتي عبدالحکیم صاحب کیسه کوي چې یو وخت د پاکستان څخه علماء کرام د ملاصاحب ملاقات ته راغلي وو په دوی کې د پاکستان د مدارسو د لویې اتحادیې وفاق المدارس مشر شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان صاحب هم و. کله چې دوی د ملا صاحب ځای ته ورغلل، دا وخت ملا صاحب له خپل ځای څخه راوتلی و. له

روغبړ وروسته ملا صاحب د دفتر مخته پر ځمکه خپل څادر وغوړاوه او له میلمنو یې غوښتنه وکړه چې پر څادر کیني. ملا صاحب هم همدلته کیناست او له میلمنو سره یې مجلس وکړ. له مجلس وروسته کله چې علماء راووتل نو د وفد د ځینو اعضاوو له حالته داسې معلومیده چې د ملا صاحب دې ساده او بې تکلفه چلند خوند نه و ورکړی. خو مولانا سلیم الله خان صاحب چې لوی عالم و، ویې ویل: ملا صاحب عجیب کار وکړ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو سنت چې له موږ څخه هیر و نه یوازې موږ ته یې را په زړه کړ بلکې عملي یې هم کړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم چې په حنین کې و، کله یې چې رضاعي خور (شیماء) ورته راغله، نو نبی علیه السلام ورته خپل څادر په ځمکه وغوړاوه او هغه پرې کیناسته. په دې کې دا تعلیم دی چې میلمه ته پر ځمکه له کیناستو مخکې باید څادر وغوړوو، چې نن ملا صاحب هم همداسې وکړل.

ملا صاحب چې د افغان ولس په سوچه ماحول کې را ستر شوی و، فطري ځوانمردي یې درلوده او کله به یې د خپلې ځوانمردی له امله داسې چلند کاوه چې په مروجو قاعدو کې به نه ځاییده.

په هلمند کې د طالبانو په وړاندې جنګیدونکي د غفار اخندزاده او شیر محمد اخندزاده کورنۍ وه. د دې کورنۍ وروستی مشر شیر محمد اخندزاده چې په هلمند کې یې شکست خوړلی و طالبانو د روزګان د چارچینو ولسوالۍ په سراب سیمه کې له ۳۰ کسانو سره ونیو او د بندیانو په شکل یې کندهار ته انتقال کړل. خلکو فکر کاوه چې دې مهم مخالف مشر ته به ملا صاحب سخته سزا ورکړي خو ملا صاحب دغه ټول کسان آزاد کړل، د هغوی مشر شیر محمد اخندزاده ته یې یو موټر او یو څه مقدار پیسې هم ورکړې او ورته ویې ویل چې ورځه د خپلو ماشومانو ساتنه او پالنه دې وکړه. شیر محمد اخندزاده څه موده په کور ناست و خو وروسته بیا مخالف شو او ایران ته وتښتید.

برتانوی خبریاله ایوان ریډلي په داسې حال کې افغانستان ته په پټه راغلې او نیول شوې وه چې د برتانیې حکومت له امریکا سره په ګډه د افغانستان پر خلاف جګړه اعلان

کړې وه او وروسته يې په بمباريو کې مهمه برخه درلوده. نړيوالو رسنيو اټکل کاوه چې
ملا صاحب به د ايوان ريډلي د اعدام فيصله وکړي. اما ملا صاحب ته چې کله معلوم
شوه چې ايوان ريډلي واقعا خبرياله ده او جاسوسي ماموريت نه لري، نو بلا قيد او
شرطه يې د نومو ړې د خلاصون فيصله وکړه. دې له ځوانمردۍ ډکې فيصلې دومره
اغيز درلود چې ايوان ريډلي له خلاصون وروسته د اسلام مطالعه شروع کړه، بالاخره
يې د اسلام مقدس دين ومانه، نوم يې مريم شو او اوس په غربي دنيا کې د يوې
مشهورې دعوتګرې په حيث ديني وظيفه اجراء کوي.

ملا عبدالسلام محبور چې د اسلامي امارت د واکمنۍ په وخت کې يې د هوايي
ځواکونو په برخه کې مسؤليت درلود وايي: کله چې احمد شاه مسعود ووژل شو او په
پنجشير کې يې د جنازې مراسم ترسره کيدل، دې مراسمو ته د مخالفينو ټول مهم
مشران او قومندانان را يوځای شوي وو. د اسلامي امارت هوايي ځواک د دې تياري
نيولې وه تر څو په دې مراسمو درنه بمباري وکړي او د مخالفينو مهم مشران له منځه
يوسي. خو کله چې دا خبره له ملا صاحب سره شريکه کړه. ملا صاحب وويل: بس
دی په مرګ يی لاهم نه پريږدئ، نور کارمه په لرئ او مه جنازه بمباروئ.

له قومي، سمتي او لساني تعصب څخه د کرکې په اړه عبدالشکور مطمئن چې د کابل
اوسيدونکی دی او د اسلامي امارت د واکمنۍ په وخت کې د اولمپيک د ملي کميټې
مسؤل و، وايي: زه په لومړي ځل د دې لپاره کندهار ته لاړم او د ملا صاحب دفتر ته
ورغلم تر څو د ورزشي پروګرامونو په اړه ورسره خپل نظر شريک کړم. د ورتګ په
وخت يو چا راته وويل چې د ملا صاحب تر مخ په فارسي ژبه خبرې مه کوه ځکه
فارسي ژبه خوند نه ورکوي. عبدالشکور مطمئن وايي زما سره له دې چې پښتو زده وه،
خو قصدا مې ځکه له ملا صاحب سره فارسي ژبه شروع کړه تر څو وپوهيږم چې آيا
واقعا ملا صاحب ژبنی تعصب لري او که څنګه؟

ما ملا صاحب ته وويل چې زه غواړم له تا سره په فارسي خبرې وکړم. ملا صاحب راته
وويل: که په فارسي خبرې کوې يا په ازبکي، بلوچي، پښتو، عربي او يا بله هره ژبه، زما
مسلمان ورور يې، زموږ ميلمه يې او بل ځل دلته د ژبني توپير خبره مه کوه. ما ورته د

ځینو خلکو د خبرې یادونه وکړه چې ملا صاحب له نورو ژبو سره نه دی جوړ. ملا صاحب وویل هر چا چې دا خبره کړې، هغه د اسلام او مسلمانانو دښمن دی او غواړي زموږ اسلامي صف بدنام کړي. دلته دا مسائل قطعا مطرح نه دي.

ملا صاحب چې کله د کندهار په نساجۍ کې میشت و، نو د کورامنیتي ساتونکې یې د بدخشان او تخار ولایتونو طالبان وو چې اکثره یې له تاجک او ازبک قومونو سره تړلي وو. هغه وخت د امارت یوه چارواکي ملا صاحب ته ویلي وو چې ساتونکي دې له خپل قوم څخه تعین کړي. په ملا صاحب دا مشوره دومره درنه تمامه شوې وه چې له ملاقات څخه وروسته یې د دې خبرې کوونکي په باب خپلو ساتونکو ته ویلي و چې بل وخت دغه کس دلته مه راپرېږدئ.

ملا صاحب طبعا خبرې ډېرې نه کولې، خو که به غږېده خبرې یې د زړه له تله، لنډې او مؤثرې وې. د شهید ملا سیف الرحمن منصور د خولې حکایت دی چې یو وخت په جهادی صف کې د ځینو منکراتو له لیدو سره ډېر مایوس شوم، کلکه اراده مې وکړه چې ملا صاحب ته به ورځم او خپله استعفاء به ورته تقدیموم او نور به د اسلامي امارت په صف کې له خدمت څخه لاس اخلم. کله چې کندهار ته لاړم، د ملا صاحب ملاقات ته ورغلم او په ډېر تفصیل مې خپل بیان ورته وکړ. چې په امارت کې ځینې فاسد افراد ننوتي او ځینې ناروا کارونه کوي نور زه دا حالت نه شم برداشت کولای او له دې صف څخه وځم. ملا صاحب زما خبره واورېده او په ځواب کې یې راته وویل چې اخندزاده صاحب! که د اسلام په صف کې دې ناروا لیدله نو ترې غورځه مه، بلکې پرې ورغورځه او مخه یې نیسه. د منصور صاحب له قوله د ملا صاحب دا لنډه خبره دومره له معنی ډکه وه چې د تل لپاره زما قناعت ورباندې وشو او بیا هیڅکله د صف د پرېښودو فکر راسره پیدا نه شو.

ملا عبدالمنان عمري حکایت کوي چې یو وخت د امارت د محاکمو یو لوړرتبه قاضي ورته راغی او ورته ویې ویل چې د قاضي لپاره په صورت دعوا او ځینو تحریراتو اجرت اخیستل جائز دي. ملا صاحب ورته وویل چې آیا نه اخیستل یې جائز

دي او كنه؟ هغه قاضي ورته وويل هو نه اخيستل يې هم جائز دي. ملا صاحب ور
وويل بس په همدې نه اخيستلو عمل كوئ.

دا څو لنډې خاطرې د ملا صاحب د شخصيت هغه ځانګړنې راښيي چې هغه يې
ورو بيلاوه.

الله تعالى دې ورباندې ورحميږي او د دين لپاره ترسره كړې خدمتونه دې الله تعا
ترې قبول كړي.

آمين يا رب العلمين

# د اميرالمؤمنين د پيغامونو څو نمونې

دافغانستان اسلامي امارت

ISLAMIC EMIRATE OF AFGHANISTAN

No

Date

دامیرالمؤمنین دفتر

The Amir ul-Momineen's Office

۱۴

۱۰ - ۴ - ۱۴۲۲

دافغانستان د اسلامي امارت په قلم رو کې دبهرنيو اتباعو داستوګنې دلاربښوونو په هکله

فرمان

اول بهرني اتباع مکلف دي چې دافغانستان داسلامي امارت قلمرونه دننوتلو په وخت کې به دغه لارښود پاڼه کې درج شوي مواد په کلکه په پام کې ونيسي

دوهم بهرني اتباع مکلفيت لري چې دافغانستان داسلامي امارت په قلمروکې به داستوګنې په وخت کې دغه لاندې اعمال نه کوي

۱ دممنوعه ملونو قاچاق به نه کوي

۲ دافغاني ښځو سره به ملاقات او مصاحبه نه کوي

۳ د ذي الروح ساډونکي، شيانو عکسونه به نه اخلي

۴ غير اخلاقي جامې به نه اغوندي او برېنډ به نه ګرځي

۵ ناقوس او سرود به په زوره نه ږغوي

۶ په ښکاره سره به د خنځير او نورو مردارو حيواناتو غوښې نه خوري، په ښکاره سره به شراب نه څښي، چرس به نه څکوي او نور مخدره مواد به نه استعمالوي او نه به يې پلوري (البته په دې مورد کې دمسلمان حکم له نا مسلمان سره فرق لري)

۷ داسلام اواسلامي امارت دپاليسو پر خلاف مجلې، ورځپاڼې، کتابونه، کيسټونه او نور پرهنګي مواد به نه توزيع کوي نه به يې تکثيروي او نه به يې پلوري

۸ افغاني اتباع به له اسلام څخه پرته نوروباطلو اديانو ته نه دعوت کوي

۹ له افغاني ښځو سره به ناروا جنسي قرابت نه کوي

۱۰ دبهرنيو اتباعو په اړه دافغانستان داسلامي امارت نافذه قوانين به کلکه رعايت کوي

۱۱ دافغانستان دخلکو مذهبي عقيدتي ملي او فرهنګي دودونو ته به پوره پوره احترام کوي او دهيواد دملي مصلحتونو او ديني حکمونو بر خلاف به فعاليت نه کوي

دريم کچيرې يې لاندې اعمال تر سره کړل نو دافغانستان داسلامي امارت مسئول مقامات کولې شي د (۴۸) ساعتونو په ترځ کې دبهرنيو چارو دوزارت له لارې دافغانستان له قلمرو څخه خارج کړي

۱ الحاد ته د دعوت په صورت کې

۲ داسلامي حکمونو او ديني اخلاقو دنه درناوي په صورت کې

۳ دامنيت او عمومي نظم دګډوډولو او جاسوسۍ داشتباه په صورت کې

۴ که چېرې دبو مصلحت په خاطر يې او سيدل دافغانستان په قلمرو کې منع شي

څلورم داسلامي امارت مسئول مقامات کولی شي ددې لارښود ليك په (۱.۲.۳.۴.۵ او ۶) اجزاو کې دسرغړونې په صورت کې يې له لسو ورځو څخه تر يوې مياشتې پورې بندي کړي

پنځم امارتي مسئول مقامات کول شي ددې لارښودليك په (۷.۸.۱۰ او ۱۱) اجزاو کې دسرغړونې په صورت کې يې له درې ورځو څخه تر لسو ورځو پورې بندي کړي او بيا يې د (۴۸) ساعتونو په ترځ کې دبهرنيو چارو وزارت له لارې له هيواد څخه وشړي.

شپږم که چېرې يې پرافغاني يا غير افغاني ښځې باندې جنسي تيرې وکړ هره سزا چې اسلامي شريعت تعين کړې وي هغه به ورباندې تطبيقيږي

اووم (دمسلماني ښځې لپاره) که يې سفر يا اوسيدنه دورسره محرم په ملتيا نه وي اخراجيدلای شي.

پورته لارښودليك دې دهغه زمنليك په عوض چې دامر بالمعروف اونهي عن المنکر وزارت په مقرره کښې وو ابلاغ شي.

والسلام

داسلام خادم اميرالمؤمنين

ملامحمد عمر (مجاهد)

# د افغانستان اسلامی امارت

د امیرالمؤمنین حفظه الله خصوصي دفتر

گڼه: [redacted]۳۵ No:......................

نېټه: ۲۵/۱۱/۱۴۲۰ هـ ق Date:......................

## فرمان

محترم ریاستالوزراء ته

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

داسامه بن لادن دموضوع دحل په غرض ز مونږ مخکنی موقف همداسی وو چه دافغانستان داسلامی امارت سعودی اویو بل اسلامی هیواد علماء دی غونډه وکړی اوپه دی هکله دی شرعی پریکړه صادره کړی دریم هیواد تاسی تعین کړی ترڅو د بهرنیو چارو وزارت له لوری هغوی ته بلنه لیکونه واستول شی اوهغوی خپل علماء کرام معرفی کړی په دی هکله دی مناسبه طریقه ترتیب اومنظوری دی ترسره شی

والسلام

داسلام خادم امیرالمؤمنین

ملامحمدعمر(مجاهد)

دافغانستان اسلامي امارت

ISLAMIC EMIRATE OF AFGHANISTAN

دامیرالمؤمنین حفظه الله دفتر

The Amir-ul-Momineen's (May Allah Protect Him) Office

No. ________ | کنه : ________

Date ________ | نیټه : ________

له ۱۳۵۷ ه ش کال څخه تر ۱۳۷۱ ه ش کال پورې دنيول شوو سياسي بنديانو او ورکو شوو مجاهدينو
دسر نوشت دټاکنې په هکله دافغانستان داسلامي امارت دمقام

## فرمان

څرنګه چې محترمو هیواد والو ته معلومه ده چې دثور له کمونیستي کودتا وروسته خلقیانو او پرچمیانو دخپلو روسي بادارانو په امر زمونږ په زرګونو مجاهدین، علماء کرام ،مشایخ او نور مسلمان هیواد وال، له خپلو کورونو څخه ویستلي او یا په جنګونو او کمینونو کې لادرکه شوی د ۱۳۷۱ ه ش کال دثور دالمي نیټی څخه راپه دی خوا دمسلسلو څېړنو وروسته دراجحو قرائینو او بینو دلائلو په نتیجه کی داثابته شوه چې څه شمیر یې دلارو په اوږدو کې شهیدان کړي او څه شمیر بیا زندانونو ته لیږل شوی او له یو څه مودی وروسته په شهادت رسېدلی دي خو ددغو شهیدانو دکورنی،یالی کسانو ته لاتر اوسه پورې هم ددوی دشهادت یا ژوند پته پوره نده معلومه ، چې په دې خاطر کونډی لي بې سر نوشته او مال او جایدادونه ئې هم دورثه وو تر منځ شرعاً لاتر اوسه هم ندي ترکه شوی .

اګر چې د ذکر شوبو څېړنو په نتیجه کي داثابته شوه چې د ۱۳۵۷ ه ش کال دثور داومې نیټې دکودتا څخه د۱۳۷۱ ه ش کال دثور تر اتمي نېټي یعنې دمجاهدینو تر کامیابی پورې چې زمونږ کوم مسلمان ورونه تسری تم شوېدی ، هغه دخلقیانو ، روسانو او پرچمیانو لخوا په شهادت رسېدلی دي خو بیا هم احتیاطاً دافغانستان اسلامي امارت دهدایت په اساس څه موده مخکې ستري محکمي دهیواد دټولو ولایتونو څخه جید جید علماء کرام کابل ته راوغوښتل تر څو له کمونیستي کودتا څخه دمجاهدینو تر کامیابی پورې دورکو شوو کسانو دقیقه څېړنه داسلامی شریعت په رڼاکې وکړي ددغه هیئت دڅېړنو په نتیجه کي جوته شوه چې زمونږ دغه مسلمان ورونه په شهادت رسېدلي دي او ددوی دژوند هیڅ امید نشته نو په دې خاطر چې زمونږ ددغو شهیدانو کونډې بې سر نوشته او جایدادونه یې له شرعی ترکې او تقسیم څخه او نور شرعي حکمونه معطل پاتې نه وی، لاندی مراتب منظوروم:

لومړی ماده : د ۱۳۵۷ ه ش کال له کمونیستی کرغېړني کودتا څخه د ۱۳۷۱ ه ش کال دثور تر اتمي نیټي پورې زمونږ هغه مسلمان ورونه چې ترې تم شوي او دژوند او مرګ پته ئې نده معلومه ، هغه ټول شهیدان بلل کیږی .

دویمه ماده : ددې فرمان په لومړی ماده کې درج شوي دشهیدانو کونډې کولی شي دشریعت دحکمونو مطابق په خپله خوښه نکاح وکړي .

دریمه ماده : ددی فرمان په لومړی ماده کې درج شوي دشهیدانو جایدادونه او ملکیتونه دشریعت دحکمونو مطابق ددوی پر ورثه وو باندې دترکې او تقسیم وړ بلل کیږي .

څلورمه ماده : دغه فرمان دهیواد دجیدو علماء کرامو دشرعي فتوی او دخپلو معلوماتو او څېړنو په اساس ابلاغوو که څوک دخپلو قربانانو دژوند په هکله موثق معلومات ولري هغوی ددغه فرمان څخه مستثنی دي .

پنځمه ماده : دهیواد ټول محاکم او نوري حقوقي اداري دي ددغه فرمان دحکمونو مطابق اجراآت وکري .

شپږمه ماده : دغه فرمان دتو شیح له نېټي څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي .

والسلام

داسلام خادم امیرالمؤمنین

ملامحمدعمر(مجاهد)

د افغانستان اسلامي امارت

ISLAMIC EMIRATE OF AFGHANISTAN

د اميرالمؤمنين خاصه دفتر

[illegible]

۲ ۱۰

۱۴۲۲/۲/۲۳

د اسلامي امارت ... د خپرو غير شرعي اعلامو او احساسو ... او ... خپره محيطونو او په کمرکونو کې د هغو د منځه وړلو په هکله.

فرمان

څرنګه چې د اسلامي امارت ... وظيفه د منکراتو ازاله او د معروف اقامه ده، نو د دغه شرعي حکم ... منظور ... [illegible]

او ... د اسلامي امارت په قلمرو کې: ۱ بنګ او نشه‌يي توکي ۲ د خوګ غوښه ۳ د خوګ غوړي ۴ ... ۵ په طبيعي صورت ... ۶ ... ۷ د سينما کرافي ... ۸ ... ۹ ... موسيقي ... ۱۰ ... ۱۱ ... ۱۲ ... ۱۳ ... ۱۴ ... ۱۵ ... ۱۶ ... ويډيو او تلويزيون ... ۱۷ ... ۱۸ ... ۱۹ ... ۲۰ ... ۲۱ ... ۲۲ د سينما توګرافي په فلمونه ... ۲۳ ... ۲۴ د خياطۍ ... ۲۵ ... ۲۶ ... ۲۷ ... ۲۸ کارتوسه ۲۹ ... ۳۰ د نيکټايي ... [illegible]

دوهمه ماده: د سرحدي امنيتي مسئولين مکلف دي چې د دغه ... لومړۍ ماده کې درج ... اجناسو او اعلامو له واردېدو او ... مخه ونيسي او محصول ... [illegible]

درېيمه ماده: ۱. ګمرکي د دغه فرمان په لومړۍ ماده کې درج شوي اجناس او اعلام د ... مربوطه مسئولينو مکلف دي چې هغه د ولايت مرکز ته د امانت په طور انتقال کړي.

۲. د هر ولايت والي مکلف دي چې نوموړي اجناس او اعلام د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ... په ذريعه چې په ترکيب کې ... د ولايت مقام ... ثبيت کړي او د انسداد ... اجراآت تر سره کړي.

څلورمه ماده: دا فرمان د توشيح له نيټې څخه نافذ دي او په رسمي جريده کې دې خپور شي.

والسلام

د اسلام خادم اميرالمؤمنين

ملا محمد عمر (مجاهد)

۱۴۲۲-۴-۲۶

۱۶ - ۱۱ - ۴۲۰

# د افغانستان اسلامی امارت

No: ....................

Date:... .... ..........

نمبر:

نیټه:

## فرمان

د دارالافتاد علماو د ۱۴۲۰/۱۰/۲۴ نیټې دفتوی او دستری محکمې د ۴۲۴ . ۱۴۲۰/۱۱/۸ نیټې تصویب په تائید چه داسلامی امارت دقضائیه قوی داستقلال په هکله صادراو په شرعی مسائلو ناوولاندی مراتب منظوردی.

۱- د افغانستان د اسلامی امارت قضائیه قوه داجرائیه قوی (ریاست الوزراء) او نوروقواوو په ردیف کی د اسلامی امارت یومستقل رکن دی چه خپلی مربوطه چاری سرته رسوی او یواځی دامارت مقام ته خپل گذارش وړاندی کوی.

۲- د مظنون قاضی یادمحکمی د نورپرسونل گرفتاری به دامارت دمقام په هدایت اویاد هدایت سره سم دستری محکمی لخوا کیږی او بل هیڅوک حق نه لری چه هغه توقیف یااذیت کړی .

۳- د کورنیوچارووزارت امنیتی ارگانونه مکلفیت لری چه دمحاکمواوقضاتوامنیت تامین کړی .

پورتنی فرمان د توشیح له نیټی څخه منظوردی فرمان ، ۴۲۴ -۱۴۲۰/۱۱/۸ تصویب او د ۱۰/۲۴ ۱۴۲۰ فتوی دی په رسمی جریده کی خپاره شی.

والسلام

داسلام خادم امیرالمومنین

ملا محمد عمر (مجاهد)

# د افغانستان اسلامی امارت

د امیرالمؤمنین حفظه الله خصوصي دفتر

گنه: ۴۴ No: ١٤٢٠-٩-١٨

نیته: ۵-۹-۱۴۲۰ هـ ق Date:

## فرمان

دکانواوصنائعو محترم وزارت ته

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

په افغانستان کی دی دتیلو دتصفیی فابریکی جوړی شی اوددغوفابریکو دماشین آلاتودخریداری لپاره دی دهغوعوائدوڅخه کارواخستل شی چه د هیواد په ځینو سیموکی دکورونواومارکیتونودجوړیدلوپه خاطر کومی ځمکی پلورل کیږی که ترکمنستان خپلی تصفیه خانی لیری کوی اوپه ارزانه بیه یی پلوری تاسو باید غورپری وکری که دغو مستعملوماشینانومونږته دځه وخت لپاره کارکاوه ورڅخه خریداري یی کړی اویاکه ترکمنستان دی ته حاضرشی چه دسنګ رخام اویاکوم بل مناسب توکی په بدل کی اسلامی امارت ته دتیلوکومه نوی عصری تصفیه خانه ورکوی نوسودادی وشی .

والسلام

داسلام خادم امیرالمؤمنین

ملامحمدعمر(مجاهد)

( ... )

# د افغانستان اسلامی امارت

د امیرالمؤمنین حفظه الله خصوصي دفتر

گڼه: ۴۳
نیټه: ۵-۹-۱۴۲۰ هـ ق

No: ۱۴۲۰-۹-۱۸
Date:

## فرمان

دوزیرا نو شورا ته

السلام علیکم ورحمت الله وبرکا ته

دتیلودفابریکودخریدارۍ په خاطر د ی دبناروالیو حڅکی دکوروںو اومارکیتونو دجوړولوپه خاطر په خلکو وپلورل شي او ددی کارلپاره دی ستا سو لخوا یوخاص هیئت تعین شی نو موړی هیئت دی ددی کارلپاره پروګرام جوړ کړی اوچه په کوم ځای کی یی عملی کوی دامارت مقام ته به داجراآتو مشخصا ت وراندی کو ی اومنظوری به یی اخلی

والسلام

داسلام خادم امیرالمؤمنین

ملامحمدعمر(مجاهد)

د سیف الدین لودین کتابتون
د کتاب پرلپسې شمېره

# فرمان

دافغانستان داسلامی امارت دسر پرستی شوری پرځای به ریاسة الوزراء وی
اودپخوانی سرپرستی شوری رئیس به رئیس الوزراوی
همداراز څنګه چی سرپرست وزیران وواوس به هغه وزیران وی
له پورتنی فرمان سره سم دی احرات ترسره شی

والسلام

داسلام خادم امیرالمؤمنین

ملامحمدعمر(مجاهد)

# د افغانستان اسلامی امارت

د امیرالمؤمنین حفظه الله خصوصي دفتر

No:......................

Date:....................

گنه: ......................

نیته: ۱۸/ ۷/ ۱۴۲۰ هـ.ق

## فرمان

دافغانستان داسلامی امارت دسر پرستی شوری پرځای به ریاسة الوزراء وی

اودپخوانی سرپرستی شوری رئیس به رئیس الوزراوی

همداراز څنګی چی سرپرست وزیران وواوس به هغه وزیران وی

له پورتنی فرمان سره سم دی اجرات ترسره شی

والسلام

داسلام خادم امیرالمؤمنین

ملامحمدعمر(مجاهد)

## د افغانستان اسلامی امارت

د امیرالمؤمنین حفظه الله خصوصي دفتر

گڼه: ............ No:....................

نیټه: ............ Date:..................

### حکم

د چارو د ښه نظم او سمون په خاطر دی د ټولو ولایتونو د اداری شعبو اداری چاری دی د اداره امور دعمومی ریاست تابع و گرځی او ددی کار دتنظیم په غرض دی دچارو د اداری عمومی ریاست په کابل کی د ولایتونو داداری شعبو د مسئولینو غونډه (سیمینار) ترتیب کړی تر څو اړوند د چارو ته مناسبه کړنلاره جوړه شی.

والسلام

داسلام خادم امیرالمؤمنین

ملامحمد عمر(مجاهد)

( )

بسم الله الرحمن الرحيم

# طلباء کرامو ته د عاليقدر امير المؤمنين

# پيغام

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته . وبعد :

شر که لوي مسؤليت لری ؛ که کوچنی چی د طالبانو اکمالات ، اعاشه
رت ورشيان يی ترلاس لاندی وی که يی د ډلی د غټهولو يا نورو م
ه مجاهدينو کی فرق کړی وی او يا يی کوی ماته به اطلاع راکوئ چ
م تاسی دا فکر ونکړئ چی يو څوك سبه شهرت لری او يا جنگی وی
کولای شی زه د حق په مقابل کی د چا هيڅ پروا نلرم واقعی مسل
ی که فرد ، څرنگه چی خدای (ج) ته معتبر دی ؛ ماته هم اعتبار لری
وری ده چی ناحقه شکايت به څوك نکوی . شکايت به سره له ثبوته وی
، اصولي چارو کی به د مشرانو مکمل اطاعت کوی

والســــــــــــــــلام

د اسلام خادم ملامحمد عمر «مجاهد»

( [signature] )

۴/۱۲/۱۴۱۸ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

## طلباء کرامو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین

# پیغام

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته . وبعد :**

هر مشر که لوي مسؤلیت لری ؛ که کوچنی چی د طالبانو اکمالات ، اعاشه او نور د ضرورت وړشیان یی ترلاس لاندی وی که یی د ډلی د غټولو یا نورو مقاصدو لپاره په مجاهدینو کی فرق کړی وی او یا یی کوی ماته به اطلاع راکوئ چی چاره یی وکړم تاسی دا فکر ونکړئ چی یو څوك ښه شهرت لری او یا جنگی وی هغه به هر څه کولای شی زه د حق په مقابل کی د چا هیڅ پروا نلرم واقعی مسلمان که مشر وی که فرد ، څرنگه چی خدای (ج) ته معتبر دی ؛ ماته هم اعتبار لری او دا هم ضروری ده چی ناحقه شکایت به څوك نکوی . شکایت به سره له ثبوته وی او په مُربوطه اصولي چارو کی به د مشرانو مکمل اطاعت کوی

والســـــــــــــلام

**د اسلام خادم ملامحمد عمر «مجاهد»**

(                    )

۱۴۱۸/۱۲/۳ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت
ISLAMIC EMIRATE OF AFGHANISTAN

د اميرالمؤمنين حفظه الله دفتر
The Amir-ul-Momineen's (Hafizahullah) Office

گڼه : ۷۳ ۲۰۶ ۲
نېټه : ۲۸/ ۱۴۲۲٫۶

No. ............
Date ............

پر افغانستان باندي د امريکا د متحده ايالاتو د احتمالي بريد په اړه
دافغانستان داسلامي امارت دمقام

## اعلاميه

سره لدې چه د افغانستان اسلامي امارت خپل رغنده او پر حقيقت ولاړ مثبت موقف روښانه کړي دی، خو بيا هم د نيويارك او واشنګټن د تروريستي پيښو په هکله د ځيني امريکائي مقاماتو څرګندوني او اشارات د اسامه بن لادن پر نوم تمرکز کوي. په داسي حال کي چه د افغانستان اسلامي امارت د امريکي د استخباراتو د ځان خلاصولو دغه بې اساسه تورونه څکه د منلو وړ نه بولي چي دغه حملی د امريکا په دننه کي ترسره شوي دي او اسامه بن لادن په هيڅ ډول دومره امکانات او وسائل په واك کي نلري چي پيلوټان وروزي اوبيا داډول حملی تر سره کړي او نه داسي ستره پروسه له شرقه څخه په غرب کي په کار اچولاي شي.
داچی ځينی امريکايی مقامات په افغانستان بندی دحملو ګواښ کوی سره له دی چی نه يوازي مونږ ته بلکي د نړي ډيرو هيوادونو ته په ډاګه ده چي داسي ظالمانه احتمالي اقدام به د يوه آزاد هيواد پر استقلال تيري وي نو که ګاونډي يا د سيمي نور هيوادونه په تيره بيا اسلامي هيوادونه د امريکا د نظامي اډو و غوښتني ته مثبت ځواب ورائي دا به فوق العاده خطر وي.
همدا راز که هر ګاونډي هيواد زمونږ د خاوري پر خلاف خپل مځکني يا هوائي قلمرو امريکايانو ته په واك کي ورکړي نو مونږ به په يوه تحميلي جګړي کي له ځانه سره ښکيل کړی، نا ممکنه نه ده چه د لاره ورکوونکي ملك په خلاف به د مجبوريت له مخي هجوم ور وړو ، او مجبوراً به مجاهدين د هغوي خاوري ته ننوځي او د ناوړو عواقبو او د سيمي د بي ثباته کيدلو مسوليت به هم د هغوي په غاړه وي.

**دملګروملتونوسرمنشی ښاغلی کوفی عنان**

دایوحقیقت دیچه په دنیاکی په مختلفوځایونوکی قسم قسم واقعات پیښ شوی اویاروان دی اوتاسی په داسی یو مقام کی قرار لری چه ددنیاحکومتونوپه تاسی باندی اعتمادکړی دی اوتاسی ئی ددومره لوی حیثیت خاوندان کړی یاست ترڅوتاسی ددنیا دمسائلو په اړه یوشان اوبی طرفه موقف ولری اودنیاته دهمدی مسائلوحقائق بیان کړی خواوس مونږوینواوروچه دافغانستان په اړه ستاسی موقف دهغه موقف څخه چه دچچنیا فلسطین او کشمیر په اړه ئی لری فرق لری دچچنیا فلسطین او نورو په اړه تاسی یاخو بلکل خاموش یاست او یا مو داسی معتدل موقف غوره کړیدی چه هیڅ اصرار اوخواشنی پکښی نشته خو دافغانستان په اړه ستاسی موقف د اصرار اوشدت څخه ډك دی تاسی هغه بی اساسه راپورونه چه زمونږ دمخالفینو ( ربانی اومسعود) لخوا درکول کیږی بیله تحقیق څخه نشر کو ی او هغه داسی یو پیښه وی چه یاخو هیڅ حقیقت نلری اویا داچی تش په نامه پیښه وی لکه ستاسو دکال (۱۹۹۹) په راپور کی چه مو کوم تور په اسلامی امارت لګولی وو چه هغه د طالبانو جنګیالیانو کی دماشوما نو موجودیت وو چه ستاسی هغی خبری هیڅ حقیقت نه درلودی او په کابل کی ستاسی د خپل نماینده لخوا رد شول اویا داچه په شمال کی په ملکی خلګود بمباری راپورونه دی د داسی تش په نامه پیښو داعلان څخه چه تاسوئی کوی داسلامی امارت سره ستاسی خصوصی بد بینی څرګندوی اودغه قسم بیانونه ستاسی طر فداری ښیی اوستاسی دحیثیت دلوروالی پر ځای ستاسی دبی حیثیتی سبب ګرځی تاسی باید دنړی په مسا ئلو کی د دوومعیارونو او جانبداری څخه کاروانخلی اوحقایق معلوم او وروسته ئی ملا تړ اویاغندنه وکړی ځکه چه ستاسی دحیثیت اومقام تقاضاهمدغه ده

والسلام

داسلام خادم امیرالمؤمنین

ملامحمدعمر(مجاهد)

۱۴۲۰/۱۱/۱۶ هـ ق 2000\2\21

د افغانستان اسلامي امارت د امیرالمؤمنین دفتر

**دملګروملتونوسرمنشی ښاغلی کوفی عنان**

داېوحقیقت دی‌چه په دنیاکی په مختلفوځاېونوکی قسم قسم واقعات پېښ شوی
اویاروان دی اوتاسی په داسی یو مقام کی قرار لری چه ددنیاحکومتونوپه تاسی باندی
اعتمادکړی دی اوتاسی ئی ددومره لوی حیثیت خاوندان کړی یاست ترڅوتاسی ددنیا
دمسائلو په اړه یوشان اوبی‌طرفه موقف ولری اودنیاته دهمدی مسائلوحقائق بیان کړی
خواوس مونږوینواووروچه دافغانستان په اړه ستاسی موقف دهغه موقف څخه چه
دچچنیا فلسطین او کشمیر په اړه ئی‌لری فرق لری دچچنیا فلسطین او نورو په اړه
تاسی یاخو بلکل خاموش یاست او یا مو داسی معتدل موقف غوره کړیدی چه هیڅ
اصرار اوخواشنی پکښی نشته خو دافغانستان په اړه ستاسی موقف د اصرار اوشدت
څخه ډك دی تاسی هغه بی اساسه راپوورونه چه زمونږ دمخالفینو ( ربانی اومسعود)
لخوا درکول کیږی بیله تحقیق څخه نشر کو ی او هغه داسی یو پیښه وی چه یاخو هیڅ
حقیقت نلری اویا داچی تش په نامه پیښه وی لکه ستاسو دکال (۱۹۹۹) په راپور کی
چه مو کوم تور په اسلامی امارت لګولی وو چه هغه د طالبانو جنګیالیانو کی
دماشوما نو موجودیت وو چه ستاسی هغی خبری هیڅ حقیقت نه درلودی او په کابل
کی ستاسی د خپل نماینده لخوا رد شول اویا داچه په شمال کی په ملکی خلکود
بمباری راپوورونه دی د داسی تش په نامه پیښو داعلان څخه چه تاسوئي کوی
داسلامی امارت سره ستاسی خصوصی بد بینی څرګندوی اودغه قسم بیانونه ستاسی
طر فداری ښیی‌اوستاسی دحیثیت دلوړوالی پر ځای ستاسی دبی حیثیتی سبب ګرځی
تاسی باید دنړی په مسا ئلو کی د دوومعیارونو او جانبداری څخه کاروانخلی
اوحقایق معلوم او ورروسته ئی ملا تړ اویاغندنه وکړی خکه چه ستاسی دحیثیت
اومقام تقاضاٴهمدغه ده

والسلام

داسلام خادم امیرالمؤمنین
ملامحمدعمر(مجاهد)
*2000\2\21* هـق ۱۴۲۰\۱۱\۱۶

# د افغانستان د اسلامي امارت د مقام خبرتيا

څرنګه چې اوس ليدل کيږي داسلام د مقدس دين دښمنان په ټوله نړۍ کې ددغه سپيڅلي دين د له منځه وړلو دپاره هلي ځلي پيل کړي او د مسلمانانو په لباس کې په مسلمانانو کې داخل شوي دي او په ډول ـ ډول چلونو او دنيوي مادياتو باندي غواړي چې مسلمانان د اسلام د مقدس دين څخه بې لاري کړي ځوك غواړي چې مسلمانان د عيسويت او يهوديت په منسوخو اديانو اخته کړي . ځوك غواړي چې د مسلمانانو دين يعني اسلام نورو لارو ته تحريف کړي چې دا اوس هم يو شمير مسلمانان د پيسو او نورو ماديانو په وسيله د عيسويت دين ته اوښتي او خپل مقدس دين يې پريښى دی نو له همدې امله ټولو هيوادوالو ته جدا خبر ورکول کيږي که چيري کوم افغان مسلمان د عيسويانو عقيده قبوله کړي وه او يا دغه منسوخ دين ته ور واوښت او يا هم په دسي حال کې ونيول شي چې د عيسويت يا يهوديت دين ته يې خلګ دعوت کول او د هغوی په ګټه يې تبليغات کول يا يې د هغوی د عقيدي کتابونه او نشرات توزيع کول هغه به د مرګ په سزا محکوم شي او دغه راز که په کومو کتاب پلورنځيو کې داسي کتابونه چې په هغه کې د غلطي عقيدي مواد او يا هم د صحابه کرامو سپکاوی پکښې موجود وو ونيول شي د هغو کتاب پلورنځيو مالکان به په پنځه کاله بند محکوم شي .

## دافغانستان لپاره دهجری قمری تاریخ درسمي
## گرځولو په اړه دعالیقدر امیرالمومنین
## دمبارکي پیغام

مسلمانو او مجاهدو هیوادوالو ترهرڅه مخکې

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :

داچي دنبوی سنت سره سم قمری سنه دافغانستان رسمي سنه وټاکل شوه زه ټولو مسلمانو او متدینو هیوا
دزړه له کومي مبارکي وایم لوي خدای (ج) دی دافغانستان اسلامي امارت ته لا توفیق ورنصیب کړي چ
نبوی سنتونو په احیاء کي هم زیات موفق شي . ترڅو دزرگونو هغه قربانیو چی دطالبانو داسلامی تحریك
کی مو ورکړي او دسلگونو زرو هغو قربانیو چی دروسانو په وړاندی په مقدس جهاد کی مو ورکړي نتیجه
هم مثبت راووزي مسلمانو ورونو او خویندو ! پاك الله (ج) شپی ورځی میاشتی او فصلونه ددي لپاره پیدا
موږ او تاسو دخپل رب بنده گي پکښي وکړو او تول کړه وړه مو خاص دالله (ج) لپاره وی او په هر
مونیت دالله (ج) رضا او دهغه ددین ساتل وي دناکامي سترعلت دنیت خرابیدل دی داسلام دمقدس دی
پکار دی نه دځان ساتل.که څوك ددنیا او اخرت سرلوړي غواړي په هر څه کي دی نیت پاك ولري
مجاهدین کرام باید تول ژوند دخدای (ج) په دین برابر کړي او هر کار چی دامیر له لوري ورسپارل شو
هغه نقشه یي سرته ورسوي . او یو دبل سره پوره محبت وساتی ځکه چی اسلام دمینی او محبت دین دی .
هیوادوال باید دکفری ممالکو او دهغوی دمزدورانو تر اغیزی لاندی رانشي مسلمانانو ته په کار ده چی
تبلیغات ورسره بدرگه نکړی . دافغانستان اسلامی امارت تعلیم او تربیی ته پوره توجه لری او غواړی چی
دمقدس دین په رڼاکي تعلیم ته وده ورکړي ځکه په پخوانی حکومتونو کي چی تعلیم داسلام دمقدس دین م
وو جوړ شوی دهغه نتیجه وه چی زموږ هیوادوال تر اوسه لا ځوریږی . محترمو هیوادوالو دنوی کال د راره
امله لوی خدای (ج) ته زاری او دعاوي وکړي چی زموږ په هیواد کبیي په بشپړه توگه اسلامی نظام حاک
او تول هیوادوال باید داسلامی امارت دمجاهدینو لاتنلی او ملاتړ وکړي او د پاکو او نازکو طالبانو دقربا
گذار شي . ترڅو لوي خدای (ج) ته مسؤل نشي . صبر او حوصله چی دمسلمانو ابدی توښه ده باید
چارو کی صابرواو سو . دا دخدای (ج) هغه امر دي چی که چیری عملی شي ناکامی نشته ځکه خ
وعده کړې چی تاسو غم او سستی مه کوی تاسو کامیا به یاست که چیری پوره ایمان ولري .
په اخیر کی ټولو مسلمانانو ته اخروي خوشحالی غواړم تربله همدغه شرعی کال پوری مو په ټولو شرعی کا
کی خدای (ج) کامیابه لره .

ستاسی داسلامی ژوند په هیله

ستاسی عقیدوی ورور ملامحمد عمر ( مجاهد)

بسم الله الرحمن الرحيم

# امیرالمؤمنین مجاهد ملامحمد عمر آخند توصیه او نصیحت نامه

محترمو طالبانو !

دغه ټوله ناکامي دبې اعتمادۍ څخه پیښې دي یو اوبل ته نه ګوري اوداګناه کبیره ده . ددې بعد چه هر تکلیف پیښ سي که هرڅوا خپل اندیوالان دجنګ دځایه څخه راویستل بیله مشورې دهغه به سلاح او موټر ټولني اخلي اوبندي کوي به ئې مطلقاً .زما دغه امر دی اول باید ددی کاره څخه جداً . اجتناب وسي داتفاق په صورت کې دونه تکلیف نه راځي .

**نوټ** : *دغه نصیحت نامه باید هرې دلګۍ ته ورسیږي .*

والسلام:

داسلام خادم امیرالمؤمنین (مجاهد) ملامحمد عمر آخند

# د افغانستان اسلامی امارت

د امیرالمؤمنین حفظه الله خصوصي دفتر

No:......................
Date:....................

گڼه: ۱۱
نېټه: [illegible]

د کوکنارو دکښت دمخنیوی په هکله دافغانستان داسلامی امارت دمقام

## فرمان

لومړی ماده :

۱ په ټول هیواد کی دکوکنارو کرل مطلقا منع دی .

۲ کوم اشخاص چی دکوکنارو په کرلو لاس پوری کوی او له پورتنی امر څخه سرغړونه وکړی سخته شرعی سزابه ورکړل شی .

دوهمه ماده :

اړونده امارتی مسئولین مکلف دی چی په خپلو مربوطه سیموکی دکوکنارو دکرلو دمخنیوی په خاطر لازم تدابیر ونیسی .

دغه فرمان دتوشیح له نیتی څخه نافذ دی او په رسمی جریده کی دی خپورشی .

والسلام

داسلام خادم امیرالمؤمنین

ملامحمدعمر(مجاهد)

(signature)

بسم الله الرحمن الرحيم

# دامير المؤمنين مجاهد ملا محمد عمر آخند

# (توصيه)

محترمو عامو طالبانو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

وبعد: اول:- داخبره ده چه يو څه تقوا وکړی په متاعو پسی ددنيا مه گرځی. الله يادوی.

دوهم:- دهرچا چه مشر زخمی شی يا شهيد شی بيانه جنګ کوی او نه بيا دچا په قول کوی. آيا دغه جهاد تاسو دچا دپاره کوی؟ او په محشر به هم دغه خبره کوی ؟ چه زموږ مشر نه ؤو او تاسو چه يو څه کوشش کولای مشران به ډير نه تاوانيان کيدلای. يو څه ايمانی غيرت پکار ردی.

محترمو داجهاد دی بايد دجهاد په طريقه وشی. په هر وطن، هر قوم اوهره موقع کی چه ياست بايد هرڅه مو دشريعت مطابق وی او دهر نوع ظلم څخه بايد ځان وساتی او دنفس په تقاضا ولاړ نه شی. خو مقصد می دادی چه په داخپل تجارت(جهاد) کښی تاوانيان نه شی .يو څه فکر خو ووهی چه شپه او ورځ مرګ ته ولاړ ياست.دغه علټونه ټول په اکثرو کی موجود دی.خدای دی داصلاح توفيق راکړی.

وما علينا الا البلاغ کفا بالله حسيبا.

والسلام:

داسلام خادم مجاهد ملا محمد عمرآخند.

## د کتاب معلوماتي منابع

**الف: هغه اشخاص چې د دې کتاب لپاره ورسره مرکې شوي دي.**

ـ مولوي محمدجمعه صاحب د مرحوم ملا صاحب اکا

ـ د مرحوم ملا صاحب والده شریفه

ـ ملا عبدالمنان عمري د رهبري شورى غړى د ملا صاحب ورور

ـ مولوي محمد یعقوب مجاهد د اسلامي امارت مرستیال، د ملا صاحب مشر زوى

ـ مولوي عبدالرحمن د ملا صاحب استاد او اوښى

ـ مولوي عبدالحبیب د ملا صاحب استاد

ـ ملا عبدالغني برادر د ملا صاحب نږدې ملګرى او د اسلامي امارت مرستیال

ـ ملا محمد حسن آخند د اسلامي امارت د ریاسة الوزراء مرستیال

ـ ملا محمد فاضل اخند د اسلامي امارت لوى درستیز

ـ مولوي نور محمد ثاقب صاحب د اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات

ـ ملا عبدالسلام کاتب د ملا صاحب د دفتر ځانګړى محرر

ـ ملا نور الدین ترابي د اسلامي امارت دعدلیې وزیر

ـ مولوي عبدالکبیر د اسلامي امارت د ریاسة الوزراء مرستیال او د ننګرهار والي

ـ ملا خیر الله خیرخوا د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزیر او د هرات والي

ـ مولوي امیر خان متقي د اسلامي امارت د معارف وزیر

ـ قاري دين محمد حنيف د اسلامي امارت د پلان وزير

ـ ملا عبدالقيوم ذاکر د اسلامي امارت د رهبري شورى غړى

ـ مولوي شهاب الدين دلاور په رياض کې د اسلامي امارت سفير

ـ ملا نور الله نوري د شمال ولاياتو تنظيمه رئيس

ـ ملا عبدالحق وثيق د استخباراتو د عمومي رياست مرستيال

ـ ملا عبداللطيف منصور د اسلامي امارت د زراعت وزير

ـ مولوي شمس الدين پهلوان د پکتيا والي

ـ حاجي خليل حقاني جهادي قوماندان

ـ ملا عبدالجبار عمري په وروستيو دوولسو کلونوکې د ملا صاحب کوربه او هميشنى ملگرى

ـ ملا عزيز الله آخند په مخفي ژوندکې د ملا صاحب قاصد

ـ حاجي عبدالاحد په مخفي ژوند کي د ملاصاحب لومړنى کوربه او ساتونکى

ـ ملا شيرين آخند د امارت د مقام د امنيتي چارو مسؤل

ـ ملا حيات الله حاجي لالا د امارت د مقام د مخابرې عمومي مسؤل

ـ ملا مير حمزه د روس ضد جهاد په وخت په روزگان کې د هغې جبهې قوماندان چې ملا صاحب په کې جهاد پيل کړ.

ـ ملا عبدالرحمن د روس ضد جهاد په وخت کې د ملا صاحب ملگرى

ـ ملا يارانه د روس ضد جهاد په وخت کې د ملا صاحب ملگرى

ـ ملا هدايت الله بدري د ملا صاحب د دفتر د مالي چارو مسؤل او د اسلامي امارت د اقتصادي کميسيون مشر

ـ ملا جمعه خان د تنظيمي دور خخه د ملا صاحب ملگرى

ـ ملا محمد غوث آخند د اسلامي امارت د بهرنیوچارو سرپرست وزیر

ـ مولوي وکیل احمد متوکل د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر

ـ ملا عبدالرزاق آخند د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزیر

ـ مفتي محمد معصوم افغاني د علماوو شورى گانو د مرکزي دفتر مشر

ـ ملا سعدالله د روس ضد جهاد له وخته د ملا صاحب ملگرى

ـ ملا عبدالاحد جهانگیروال د ملا صاحب د دفتر کارکوونکى

ـ ملا محمد آخند د اسلامي امارت د واکمنى په مهال د کندهار لومړنى امنیه قو

ـ ملا عبدالخالق آخند د قشله جدید مسؤل

ـ ملا غازي د روس ضد جهاد له وخته د ملا صاحب ملگرى

**با: کتابونه او کلکسیونونه**

د شریعت اونیزې کلکسیون

د هیواد ورځپاڼې کلکسیون

د انیس ورځپاڼې کلکسیون

د طلوع افغان ورځپاڼې کلکسیون

د خلافت مجلې کلکسیون

د کندهار مجلې بیلابیلې گڼې

د افغانستان اسلامي امارت د رسمي جریدې بیلابیلې گڼې

د افغانستان پیښلیک، لیکوال حاجي ولي محمد

د افغانستان معاصر تاریخ، لیکوال محمد ابراهیم عطایي

افغانستان پیژندنه، لیکوال اورنگزیب ارشاد

طالبان - پیلامه - واکمني- او د یرغلگرو په وړاندې جهاد. ناچاپ کتاب
افغانستان و پنج سال سلطه طالبان، لیکوال وحید مژده
جنگ اشباح، لیکوال ستیو کول
بوش په جنگ کې، لیکوال باب ووډ وارډ
سي آی اې په پنجشیر کې، لیکوال گري شرون
۸۸ روز تا قندهار، لیکوال رابرت گرینیر
نړۍ د توپان پر اوږو، لیکوال محمد الله کمال
طالبان چگونه آمدند؟ لیکوال ظاهر عظیمي
افغانستان طالبان و سیاست های جهانی، ویلیام میلی
او بیلابیلې ویب پاڼې

د کتاب له مقدمې څخه

د ملا محمد عمر مجاهد په اړه له دې وړاندې هم ځینو کورنیو او بهـــرنیو لیکوالو کتابونه لیکلي دي. خو اکثر دغه کتابونو د تبلیغاتي مقاصـدو او دښمنانه سیاسي اغراضو په اساس لیکل شوي دي. ځینو په لوی لاس د ملا صاحب د واقعي شخصیت د تشویه او ناسم معرفي کولو هڅه کړې او ځیني بیا د کره معلــوماتو او مستندو منابعو د نه شتون له امله په غلطه تللي دي.

د دې کتاب د لیکلو مقصـد دا دی تـر څـو د اســـلامي امارت د زعیم ملا محمد عمر مجاهد ځانګړې دیني او سیاسي کـرنې د اوسنـي او راتلونکـي مسلمان نسـل لپاره یوه ښه بیلګه او د اقتداء نمونه وکرځي. دغه راز د مـرحوم ملا صاحب په اړه لومړي لاس، واقعي او موثق معلومات تر لوستـونکـو ورسول شي. تر څـو د تاریخي پیښـو څیرونکي او عام لـوستونکي په خپلـو قضاوتونو کې له همـدې موثقو معلـوماتـو استفاده وکړي.

**د کتاب له مقدمې څخه**

د ملا محمد عمر مجاهد په اړه له دې وړاندې هم ځینو کورنیو او بهرنیو لیکوالو کتابونه لیکلي دي. خو اکثر دغه کتابونو د تبلیغاتي مقاصدو او دښمنانه سیاسي اغراضو په اساس لیکل شوي دي. ځینو په لوی لاس د ملا صاحب د واقعي شخصیت د تشویه او ناسم معرفي کولو هڅه کړې او ځیني بیا د کره معلوماتو او مستندو منابعو د نه شتون له امله په غلطه تللي دي.

د دې کتاب د لیکلو مقصد دا دی تر څو د اسلامي امارت د زعیم ملا محمد عمر مجاهد ځانګړې دیني او سیاسي کړنې د اوسني او راتلونکي مسلمان نسل لپاره یوه ښه بیلګه او د اقتداء نمونه وګرځي. دغه راز د مرحوم ملا صاحب په اړه لومړی لاس، واقعي او مؤثق معلومات تر لوستونکو ورسول شي. تر څو د تاریخي پیښو څېړونکي او عام لوستونکي په خپلو قضاوتونو کې له همدې مؤثقو معلوماتو استفاده وکړي.